د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ ﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزيز التفاسير

د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير

د "آل عمران" [۱۸۱] ايت څخه د "المائدة" تر [۵۰] ايت پورې

دریم ټوک

مولوي سلطان عزيز (عزيز) أبو حذيفه عفى الله عنه

حسن خيل مومند. د نجم المدارس پخواني استاذ

ناشر: دار الكنوز العلمية

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

بسم الله الرحمن الرحيم


- د دې كتاب ليكنه د الله ﷻ په توفيق په دار الهجرة (پېښور - پاكستان) كې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نېټه د جمعې د شپې په دوه بجو پيل، او په ۱٤۲۶/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نېټه پای ته ورسيده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸۶/۱۰/۲۰ هـ ش نېټه يې بيا كتنه، تصحيح او ډيزاين ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه ورباندې اوولس كاله. څلور مياشتې او اوولس ورځې تېرې شوې، البته په دې حساب كې هره مياشت د ديرشو ورځو په لحاظ نيول شوې ده.
- كمپوز: مولوي تبيان الحق عزيز حقاني. تصحيح: قاضي اسامه عزيز، د (دكتور اظهار الحق عزيز، نبراس الحق عزيز او حذيفه عزيز) په همكارى. ډيزاين: نبراس الحق عزيز، د حذيفه عزيز په همكارى.

# څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش



## د دې كتاب ټول حقوق محفوظ دي



د اړيكو پتې:

۱) برېښناليك azizultafasir@gmail.com

۲) گرځنده تلفون (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشيديه كتب خانه، كابل، افغانستان
گرځنده تلفون (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشيديه كتب خانه، صدف پلازه، محله جنگي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاكستان
تلفون: (۰۹۱۲۵۶۵۵۳۸)


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

بسم الله الرحمن الرحيم

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ لَقَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا۟
وَقَتْلَهُمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٨١﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ
وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَآ أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ
حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ ٱلنَّارُ ۗ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِى بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِى قُلْتُمْ
فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٨٣﴾ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ جَآءُو
بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿١٨٤﴾ ﴾

[۱۸۱] بې شکه الله ﷻ د هغو خلکو (یهودانو) خبره اورېدلې ده چې وايي: يقيناً الله ﷻ فقير دی او موږ غنيان یاستو. ژر دی چې موږ به هغه خبرې ولیکو (جزا به يې وټاکو) چې دوی يې وايي او (هم به) په ناحقه سره د دوی د پیغمبرانو د وژنې (جزا هم وټاکو)، او (ورته) وبه وايو چې د سوزوونکي (اور) عذاب وڅکئ؛

[۱۸۲] دا (عذاب) په دې سبب (تاسو ته درکول کېږي) چې ستاسو لاسونو (تاسو) مخکښې استولې وه. او (هم په دې سبب چې) بې شکه الله ﷻ په بندګانو هیڅ ظلم کوونکی نه دی.

[۱۸۳] (د ذکرې شوې خبرې ویونکې) هغه کسان دي چې وايي: یقیناً موږ ته الله ﷻ (په تورات کښې) توصیه کړې ده چې موږ تر هغې هیڅ پیغمبر ته عقیده ونه کړو (ایمان پرې رانه وړو) ترڅو چې موږ ته داسې قرباني (معجزه) راوړي چې (اسماني) اور يې وخوري (وسوزوي).

(ای پیغمبره! په جواب کښې ورته) ووايه چې: يقيناً تاسو ته خو زما څخه وړاندې ډېرو پیغمبرانو په ډېرو معجزاتو سره او په هغې (فرمایشي معجزې) سره هم درتګ کړی وه چې تاسو اوس ووېلې (او وموغوښتله). نو هغوی (پیغمبران علیهم‌السلام) مو ولې ووژل؟ که تاسو رښتیا ویونکي یاست (چې موږ به فرمایشي معجزې باندې ایمان راوړو).

[۱۸۴] نو که دوی (بیا هم) ستا تکذیب وکړ نو (ډېر غمژن کېږه مه خکه چې) په تحقیق سره ستا څخه وړاندې ډېرو داسې پیغمبرانو ته (د خپلو خپلو قومونو له خوا) د دروغو نسبت کړی شوی دی چې د معجزاتو او صحیفو او روښانه کتاب سره به ورغلي وه.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د یهودانو د بخل حالت بیان شوی وه او دلته يې خپنې نور ناکاره اخلاق بیانېږي چې

الف. دوی دومره سپین سترګي دي چې الله ﷻ د فقیر په نامه یادوي او خپلو ځانونو ته غنیان وايي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دوی دومره بې حیا دي چې د الله ﷻ په اجرونو او عوضونو باندې (چې خیرات کوونکو ته يې ورکوي) د سود نوم ږدي او وايي چې الله ﷻ سود حرام کړی دی حال دا چې خیرات کوونکو ته سود ورکوي.

ج: دوی د پیغمبر علیهم السلام په وژلو دریغ نه دی کړی چې د دوی خیر به يې غوښت.

د: دوی په الله ﷻ باندې دروغ تړي چې مونږ ته يې د پیغمبر په قبلولو کښې دا معجزه شرطه کړې ده چې په خیرات باندې غیبي اور راښکته شي او هغه وسوزي.

٢ـ بالآخره، نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده چې د دوی په ایمان نه راوړلو باندې مه غمژن کېږه په نورو پیغمبرانو علیهم السلام باندې هم دغسې حالت تېر شوی دی، انډیوالان دې ډېر دي.

## شان نزول

ټول مفسرین کرام متفق دي چې ذکر شوي ایتونه د یهودانو په باره کښې نازل شوي دي. کله چې الله ﷻ دا ایت نازل کړ چې: ﴿ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَـٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ﴾ [البقرة: ٢٤٥] هغه کس څوک دی چې الله ﷻ لره نېک قرض ورکړي نو ډېر چندونه به ورته تري جوړ کړي زېښت ډېر چندونه. یعنې هر څوک چې د الله ﷻ په لار کښې په اخلاص سره خپل څه مال مصرف کړي نو الله ﷻ به په زېښتو ډېرو چندونو سره عوضونه ورکړي. نو یهودانو لاندې دوه خبرې وکړې چې:

الف: د دې ایت څخه لازمېږي چې مونږ غنیان یاستو او الله ﷻ فقیر دی، ځکه چې فقیران د غنیانو څخه قرض غواړي.

ب: مونږ سود خواره یاستو او الله ﷻ سود ورکوونکی دی، ځکه چې مونږ ته د لږ مال په عوض ډېر چندونه مال راکوي او په قرض باندې څه اضافه کول خو بل شی نه دی مګر سود دی. نو عجیبه ده چې الله ﷻ سود حرام کړی دی او پخپله سود ورکوي.

نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او د یهودانو خبرې يې رد کړې.

هو! ځینو مفسرینو کرامو د خاصو یهودانو نومونه اخستي دي[1] چې هغوی ذکر شوې خبرې کړې دي. لکه فنحاص الیهودي، حُیَي بن اخطب، النَّباش بن عمرو.

علاوه په دې، په ځینو کښې يې لا یوه اوږده قیصه هم روایت شوې ده چې د ابو بکر الصدیق رضي الله عنه او د فنحاص الیهودي په منځکښې واقع شوې وه. چې مونږ د اوږدوالي د کبله رانقله نه کړه.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې په ذکر شوو خبرو کښې ټول یهودان شریک وه خو د ځینو د خولو څخه يې نقل راغلی او د ځینو څخه نه دی راغلی. نو ځکه الله ﷻ ذکر شوې خبرې د دوی یوه ټولګي ته نسبت کړې.

---

(١) الدر المنثور ج٢ ص٣٩٦، تفسير الطبري ج٣ ص١٩٤؛ زاد المسير ج٢ ص٦٥؛ في ظلال القرآن ج١ ص٥٣٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

١ـ یعني ای پیغمبره! په یقین سره الله ﷻ د یهودانو هغه خبرې هم اورېدلې دي چې د زیات بخل د کبله الله ﷻ ته فقیر وایي او خپلو خانونو ته د غنیانو لقب ورکوي. نو ضرور به مونږ دوی ته د همدې مسخره آمېزو خبرو جزا ورکړو او د قیامت په ورځ به د دوزخ خازنانو ته د دوی په باره کښې تاکلی شوی عذاب ولیکو چې فلانی-فلانی ډول عذاب ورکړئ. دا وه د یهودانو د قبیحو اقوالو یوه نمونه.

٢ـ او د قبیحو افعالو یو مثال یې دا دی چې د یهودانو اسلافو د الله ﷻ پیغمبران وژلي دي چې د دوی د خیر او ښېګڼې دپاره وراستول شوي وه. حال دا چې دغه وژنه دوی ته هم ناحقه ښکارېده، دوی دا کار قصدي او عنادي کړی دی، په سهوه او خطا سره یې نه دي مرتکب شوي. حتی د دوی وروستني او ژوندي یهودان هم په ذکر شوي قتل باندې خوشاله دي او د دې سره-سره چې ناحقه ورته ښکاري په خپلو اسلافو باندې وياړي او بد پرې نه وایي چې دا کار یې ښه نه دی کړی. آن تردې چې که ستا په وژنه باندې یې لاس بر شي (ای پیغمبره!) هم صرفه به درباندې ونه کړي.

نو د دوی اسلافو په باره کښې به خازنانو ته تاکل شوی عذاب ډېر ژر ولیکو او بیا به وړاندېنیو او وروستنیو ټولو ته د تحقیر په توګه امر وکړو چې د حریق (سوزېدلو) عذاب نوش جان کړئ چې په دنیا کښې مو د خپلو خانونو دپاره ګټلی وه. که دا خبره نه وی نو الله ﷻ خو په خپلو بندګانو باندې په هیڅ وجه د ظلم او تېرې خاوند نه دی.

٣ـ ای پیغمبره! کله چې د یهودانو سپین سترګي د الله ﷻ سره په هاغې اندازه کښې ده او د پیغمبرانو علیهم السلام کړنلاره یې په دغې اندازه کښې وه، نو د دوی د حالت سره هیڅ لرې نه ده چې په الله ﷻ باندې دروغ وتړي او ستا د نه منلو دپاره بهانه جوړه کړي چې مونږ ته الله ﷻ توصیه کړې ده چې هیڅ پیغمبر به د قربان (خیرات) د معجزې څخه په غیر نه منئ چې د اسمانه غیبي اور راښکته شي او د پیغمبر د تصدیق دپاره قربان وسوزي.

دوی تاته وایي چې که همدا ډول فرمایشي معجزه دې راوړه نو د الله ﷻ د حکم په مطابق به درباندې ایمان راوړو که نه نو مونږ دې د پیغمبر په صفت نه پېژنو.

۴ـ نو ای پیغمبره! د یهودانو ذکر شوې بهانه داسې جواب کړه چې:

الف: اول خو تاسو ذکره شوې خبره په الله ﷻ باندې دروغ ترلې ده، ایا ستاسو پیغمبرانو ته نورې معجزې نه وې ورکړی شوې؟.

ب: ټول معجزات د یوه پیغمبر په تصدیق کښې یو برابر دي نو ستاسو غلطي دا ده چې په یوې مشخصې معجزې پورې د ایمان راوړل موقوفوئ. رښتیا ووایئ چې تاسو په خپله زمانه کښې د ذکر شوې معجزې څخه په غیر نورې زرګونې معجزې نه ګورئ؟!

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځ. الله ﷻ قادر دی چې همدغه فرمایشي معجزه هم دربنکاره کړي خو تاسو به بیا هم ایمان رانه وړئ. او دا ځکه چې تاسو هغه پیغمبران علیهم السلام برسېره په تکذیب وژلي هم دي چې هغوی درته خپلې پیغمبرۍ په ټولو معجزاتو سره حتی په فرمایشي معجزې سره تثبیت کړې وې.

نو که ربښتیا تاسو ایمان راوړل په ذکر شوې معجزې پورې تړلی وي او بس، نو د همدې معجزې خاوندان مو ولې د تکذیب څخه علاوه وژل هم؟ نو معلومه شوه چې تاسو په الله ﷻ باندې دروغ تړئ او دا خبره مو محض پلمه نیولې ده.

۵_ نو ای پیغمبره! د هر غمژن کېږه مه چې د دومره قوي دلایلو سره- سره ولې ایمان نه راوړي او د دروغو پلمې جوړوي. او دا ځکه چې ستا څخه وړاندې هم په ډېرو پیغمبرانو علیهم السلام باندې همدا ستا غوندې د تکذیب حالت ورغلی دی، چې پرېمانه معجزې، صحائف او بالآخره روښانه کتابونه به ورسره وه خو امتونو یې تکذیب کړی دی او بلکې لا وژلي یې هم دي. ستا همدا مسئولیت دی چې خپل رسالت دې ابلاغ کړ نور نو الله ﷻ پوهېږي او دوی.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: تاسو د "سَمْع" دپاره د [البقرة:۹۳] ایت لاندې دوه معناوې ذکرې کړې دي. یوه معنی یې اورېدل ده چې په مقابل کښې یې کونوالی استعمالېږي او بله معنی یې قبلول ده چې په مقابل کښې یې عدم قبول او نه منل استعمال مومي. او په دې مقام کښې یوه معنی هم صحت نه لري. او دا ځکه چې د اولې معنی عدم صحت خو واضحه دی ځکه چې یهودان خو اهل کتاب وه او پوهېده چې الله ﷻ یې ټول اقوال اوري، نو دوی ته د اورېدلو خبر ورکولو څه فائده نه درلوده. او دوهمه معنی یې ځکه نه جوړېږي چې دا په سوال پورې اختصاص لري او دلته خو د یهودانو قول سوال نه وه بلکې پروپاګند او چټیات وه؟.

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې اوله معنی مراده ده _والله ﷻ اعلم_ چې حاصل یې داسې کېږي یهودان د الله ﷻ په باره کښې دومره سپین سترګي کوي ته به وایې چې دوی هیڅ عقیده نه لري چې الله ﷻ اورېدونکی دی، که دا عقیده یې درلودی نو دومره لویه بې ادبي به یې نه کوله.

خو الله ﷻ دوی پوه کړل چې زه ستاسو ټولې افتراګانې او چټیات اورم. نو ضرور به یې بده نتیجه دربنکاره کړم، د عذاب تاخیر په نه اورېدلو باندې بناء نه دی بلکې دا د حکمت غوښتنه ده.

بلا تشبیه د دې مثال داسې دی لکه چې یو قاضي یو جنایتکار ته ووایې چې ما ستا اقرارونه اورېدلي دي، ماته ستا لوی جنایت ډېر ښه تثبیت دی، تاته به ضرور جزا تاکم.

## الله ﷻ ته د فقیر لقب ورکول کفر دی

۲_ په دې کښې خو شک نشته چې الله ﷻ ته _چې د هر شي خالق دی او هر ژوندي ته روزي ورکوي_ د فقیر لقب ورکول کفر دی. خو پوښتنه دا ده چې د دې سره-سره اهل الکتابو خپل خانونه څنګه په حقه باندې ګڼل چې مونږ مسلمانان یاستو حال دا چې ذکره شوې خبره یې هم کوله؟!

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځینو مفسرینو کړامو ویلي دي چې دا خبره دوی د عقیدې د مخې نه کوله بلکې د استهزاء او مسخرو په ډول یې وړباندې خولې ښوروله[١]، امکان لري چې دوی به په الله ﷻ باندې ملنډې وهل کفر نه ګڼل. او ځینې نور وایي چې دوی په همدې خبره باندې معتقد وه، د همدې کبله یې د "إنّ" په کلمه باندې تاکیده کړې ده چې: "إِنَّ اللهَ فَقِيرٌ"[٢] یقینًا الله ﷻ فقیر دی.

مونږ ته په ذکرو شوو دوارو وجوهو باندې برسېره دا هم بده نه ښکاري چې دوی به نوموړې خبره د نبي کریم ﷺ او د مسلمانانو د زوروللو دپاره کړې وي ترڅو ښه غمژن شي او په غُصه کېنې وسوزي. ځکه چې د دوی د همدې خبرې څخه د قرآن کریم د تکذیب بوی هم پورته کېده.

## په ګناه باندې راضي کېدل ګناه ده

٣ـ مونږ د [البقرة: ٩١] ایت لاندې دا سوال جواب کړی دی چې د نبي کریم ﷺ د زمانې یهودانو خو پیغمبران نه وه وژلي، د دې سره-سره د قتل نسبت دوی ته هم شوی دی.

مګر دلته پرې دا اضافه کوو چې په ګناه باندې راضي کېدل سړی په ګناه کېنې شریکوي که څه هم عملاً یې پکښې ګډون نه وي کړی.

یوه ورځې د امام الشعبي عليه الرحمة په حضور کېنې یوه سړي د عثمان رضي الله عنه وژنه وستایله چې دا ښه کار شوی دی، نو نوموړي امام ورته وویلې چې "شَرِكْتَ فِيْ دَمِهِ"[٣] یعنې: د عثمان رضي الله عنه په قتل کېنې ته هم شریک شوې. یهودانو خو د خپلو پلرونو په پیغمبر وژنه باندې ویاړ او افتخار کاوه نو ځکه پکښې شریک وګڼل شوه.

## سوال جواب

٤ـ که څوک وایي چې: د هر بنده ټول کړه وړه خو ګړی په ګړی لیکلی کېږي او په اعمالنامو کېنې درج کیږي، نو په دې کېنې څه حکمت دی چې الله ﷻ ﴿ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا ﴾ نازل کړ، یعنې ډېر ژر به د دوی خبره ولیکو. او "قد كتبنا ما قالوا" یې نازل نه کړ، چې مونږ یقیناً د دوی خبره لیکلې ده؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کېنې ـوالله اعلمـ د کرام الکاتبین لیکنه مراده نه ده ترڅو پرې ذکر شوی اعتراض وارد شي، بلکې دلته د عذاب ونډه مطلب ده. یعنې ډېر ژر به د دوزخ خازنانو ته د نوموړو سپین سترګو د عذاب ونډه وټاکو چې دوی ته فلانی- فلانی ډول عذاب ورکړئ.

مونږ ځکه دغه معنی واخستله چې:

الف: ﴿ سَنَكْتُبُ ﴾ د کتابة څخه اخستلی شوې ده او کتابة د تقدیر (اندازه کولو) په معنی هم استعمال شوی دی[٤].

---

(١) تفسیر تبصیر الرحمن ج١ ص١٣٥
(٢) البحر المحیط ج٣ ص٤٥٥
(٣) تفسیر القرطبي ج٣ ص٢٩٤
(٤) مفردات الراغب ص٤٤٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د ایت وروستۍ برخې هم په همدې مضمون باندې رڼا اچولې چې د یو پلوه وړباندې ﴿ وَقَتْلَهُمُ الْأَنبِيَاءَ ﴾ عطف شوی دی چې د دوی د عملي جنایتونو یوه برخه ده یعنې د پیغمبرانو ناحقه وژنه به هم د عذاب په توګه ورته ښکاره د نظر لاندې ونیوله شي. او د بله پلوه وړباندې ﴿ وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴾ معطوف دی یعنې کله چې د قیامت په ورځ د دوی د جنایت د سزا ونډه وټاکله شي، نو بیا به دوی ته وویل شي چې تاسو اوس هم خوښ ځان کړئ چې په دنیا کښې مو د همدې دپاره کار کاوه او همدا مو د ځانو دپاره ګټلی دی

## الله ﷻ ظلام نه دی

۵. په دې مقام کښې الله ﷻ د ځېله ځانه د مبالغې په کلمه (ظلّام) باندې ظلم نفي کړی دی. نو د معنی حاصل به داسې کېږي چې الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ډېر ظلم کوونکی نه دی، په کار خو دا وه چې د خپله ځانه به مطلق ظلم نفي کړی وی چې په خپلو بندګانو باندې بالکل ظلم کوونکی نه دی.

نو د همدې مشکل د حل دپاره ځینو مفسرینو لاندې جوابونه کړي دي چې[1]

الف. د "ظلّام" کلمه دلته د مبالغې دپاره نه ده چې اعتراض وارد شي بلکې د ظالم په معنی سره ده. د همدې مطلب دپاره یې په یوه عربي شعر باندې استدلال کړی دی.

ب. د "ظلّام" کلمه د نسبت دپاره ده لکه "عطّار، بزّاز" او داسې نور.

ج. کوم کثرت چې د "ظلّام" د کلمې څخه څرګندېږي هغه د "عبید" په کثرت باندې وېشلی شوی دی چې د "عبد" جمعه ده. نو الله ﷻ د خپله ځانه د هر یوه بنده ظلم نفي کړی دی.

د. دلته نفي قید او مقید دواړو ته متوجه ده. یعنې الله ﷻ هیڅ ډول ظلم کوونکی نه دی، نه وړوکی ظلم کوي او نه لوی[2].

مګر موږ ته دا ښه ښکاري چې د "ظلّام" کلمه په خپله متبادره معنی باندې پرېښودله شي. او د اعتراض د جوابولو دپاره بل ایت شریف ولوستلی شي چې: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ﴾ [النساء: ۴۰] یعنې: یقیناً الله ﷻ د یوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي. نو لوی او وړوکی ظلم دواړه ایتونو په مجموعي توګه نفي کړی دی چې الله ﷻ د عدل خاوند دی، نه وړوکی ظلم کوي او نه لوی.

## قُربان څه معنی؟

۶ـ که څه هم "قُرْبَان" ـ لکه "غُفْرَان" ـ اصلاً مصدر دی مګر هغه شي ته قُربان ویل کېږي چې الله ﷻ ته د ثواب په نیت وړاندې کېږي[3]. برابره خبره ده چې هغه بدني یا مالي عبادت او یا بل نېک عمل وي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج ۴ ص ۳۰۹

(۲) نشر المرجان من مشکلات القرآن ص ۲۳۶

(۳) لسان العرب ج ۱ ص ۶۶۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو وروسته یوازې د هغې ذبیحې دپاره نوم ګرځولی شوی دی چې بني اسرائیلو به په هغې سره خپل خانونه الله ﷻ ته ورنژدې کول او د ده ﷻ رضا به یې پرې حاصلوله چې جمعه یې "قرابین" اوربدله شوې ده.

## د بني اسرائیلو قرابین

٧ـ بني اسرائیلو ته د قرابینو او غنیمتونو خوراک حلال نه وه[١]، دا د محمدي (ﷺ) امت خاصه ده چې هم ورته د غنیمت خوراک حلال دی او هم هر ډول خیرات او صدقات. د هغوی قرابین په لاندې دوه ډولونو باندې وېشل شوي وه[٢]:

الف: چې د ګناهونو د کفارې په توګه به ترې کار اخستل کېده، کله به یې چې پسه یا اوزه او یا بل څاروی د ګناهونو د بښنې په غرض ذبحه کړ او په داسې ځای کښې به یې واچاوه چې اسمان به ورته ښکارېده او سر پټی به نه وه. نو که د اسمانه به اور رابښکته شو او مذبوحه به پرې وسوزېدله او ایرې به شوه نو د عاصي ګناه به ښنل شوې وه. او که نه نو د الله ﷻ په حضور کښې به ذکر شوی قربان مقبول نه وه.

ب: چې صرف د الله ﷻ د شکرانې په توګه به په ذکر شوي ډول باندې کوم پسه یا بل څاروی ذبحه کړی شو، نو که اور به یې واخست شکریه به مقبوله وه او که نه نو مقبوله به نه وه.

## زمونږ نظر

٨ـ مونږ ته داسې ښکاري ـوالله ﷻ اعلمـ چې لاندې دوه ډوله قرابین د شکرانې په ډول کښې هم شامل دي:

الف: د غنیمت قرابین، چې د مجاهدینو په اخلاص باندې به یې دلالت کاوه البته په هغه صورت کښې چې اور به یې واخست.

ب: د پیغمبرانو قرابین چې د دوی په نبوت باندې یې د معجزې په توګه دلالت کاوه. یعنې لکه چې د غنیمت په صورت کښې به مجاهدینو خپل اخلاص د قرابینو په سبب معلوموﻟﯽ شو همدارنګه به عوامو خلکو د پیغمبرانو علیهم السلام پیغمبري هم د قرابینو په سبب پېژاندلې شوه. او په بني اسرائیلو کښې خینو پیغمبرانو ته همدا ډول معجزې ورکړی شوې هم وې.

مګر بني اسرائیلو دا خبره په الله ﷻ باندې افتراء او دروغ تړلې وه چې مونږ ته په تورات کښې دا توصیه شوې ده چې هیڅ پیغمبر د قرابینو د معجزې څخه په غیر قبول نه کړو[٣].

(١) تفسیر المظهري ج٢ ص١٨٨

(٢) تفسیر القاسمي ج٤ ص٢١١

(٣) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج١ ص٦٩٢؛ البحر المحیط ج٣ ص٤٥٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله به ورځ د نبي کريم ﷺ حضور ته د يهودانو غټه جرګه ورغله چې په غټان- غټان بې پکښې شامل وه او د ذکر شوې قرابينې معجزې فرمايش يې ورکړ چې که دغه ډول معجزه دې راوړه نو مونږ به درباندې ايمان راوړو[١].

څه لږ نه ده چې د همدغې يهودي جرګې به دا مطلب هم وه چې په خپل شريعت کښې د نظر تجديد وکړه. زمونږ د شريعت په شان به فقيرانو باندې صدقات حرام وګرځوه او په اسماني اور باندې يې وسوزوه. نو که دا کار دې وکړ مونږ به تصديق وکړو چې بې شکه ته په حقه پيغمبر يې.

خو الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته د ذکر شوې جرګې جواب ورزده کړ چې اى يهودي جرګې! اول خو مو دا خبره دروغ ده چې الله ﷻ تاسو ته توصيه کړې ده چې د قرابينو د معجزې څخه په غير هيڅ پيغمبر قبول نه کړئ. که داسې وي نو ستاسو پيغمبرانو عليهم السلام د همدې معجزې څخه په غير نورې معجزې نه درلودې حال دا چې يوازې موسى عليه السلام ته بې شماره معجزې ورکړى شوې وې.

او بله دا خبره هم دورغ واياست چې د قرابينو په معجزه به ايمان راوړئ. ايا تاسو نه ګورئ چې ستاسو پلرونو د قرابينو په خاوندانو باندې هم ايمان رانه ووړ؟ او بلکې لا وژلي يې هم دي، نو که بالفرض همدغه فرمايشي معجزه هم درکړى شي ايمان به رانه وړئ بلکې هڅه به وکړئ چې نبي کريم ﷺ شهيد کړئ، تاسو خو د خپلو پلرونو حلالي اولادونه او وفادار شاګردان ياست.

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَۗ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ لَتُبْلَوُنَّ فِىٓ أَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ أَذًى كَثِيرًاۚ وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ وَٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًاۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾﴾

**[١٨٥]** هر نفس د مرګ څکونکى دى. او خبره دا ده بله نه ده چې تاسو ټولو (مومنانو او کافرانو) ته به د قيامت په ورځ پوره بدله درکړى شي. نو څوک چې (په دغې ورځ کښې) د اور څخه خلاص کړى شي او جنت ته ورداخل کړى شي نو يقيناً همغه کامياب دى (او که نه نو همغه ناکام دى) او دا حقير ژوند بل شى نه دى (د کافرانو دپاره) مګر د غولېدلو متاع (سبب) دى (او بس).

(١) الدر المنثور ج٢ ص٢٩٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٨٦] قسم دی چې تاسو به ضرور په خپلو مالونو او په خپلو نفسونو کښې امتحان کړی شئ. او هم به ضرور د هغو کسانو څخه چې ستاسو څخه وړاندې کتاب ورکړی شوی دی او هم به د هغو کسانو څخه چې هغوی (د الله ﷻ سره) شریک نیسي ډېرې بدې (سپکې سپورې) خبرې واورئ.

او که تاسو صبر وکړئ او پرهېزګاري وکړئ نو (کامیاب به شئ ځکه چې) یقینًا دا کارونه د مضبوطو کارونو څخه دي (چې ګټې او فائدې یې فیصله شوې دي).

[١٨٧] او هغه وخت (یاد کړه ای پیغمبره!) چې الله ﷻ د هغو کسانو څخه کلک عهد واخست چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی وه (داسې عهد چې) ستاسو دې قسم وي چې خامخا به دا (کتاب) خلکو ته په داسې حال کښې بیانوئ چې نه به یې پټوئ (د دوی څخه). نو دوی هغه (کتاب) شاته ګوزار کړ (او عهد یې مات کړ. نه یې وړاندې پخپله عمل وکړ او نه یې خلکو ته بیان کړ) او لږ پیسې یې وړاندې واخستې.

نو هغه شی ډېر بد دی چې دوی وړاندې پیسې اخستې (چې هغه عهد ماتول او د کتاب شاته ګوزارول دي).

## ارتباطونه

١ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې وه چې په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې ستا غوندې د تکذیب حالت تېر شوی دی نو په تاباندې به هم تېرېږي، حوصله ورته مه خرابوه. دلته هم ذکر شوی مضمون تائید شوی دی چې د دنیا هیڅ حادثه باید په تاسو باندې زیات تاثیر وانچوي، ځکه چې نن سبا د دنیا څخه هرڅوک تلونکی دی تاسو ته به د صبر او استقامت اجر درکړی شي او دښمنان به مو د کړاوونو سره مخامخ شي.

٢ـ هلته د مسلمانانو د زړورتیا په اړه الله ﷻ باندې د فقیر نوم ایښودلی شوی وه، او دلته توصیه شوې ده چې د دښمنانو زوروني اختتام نه پیدا کوي بلکې په راتلونکي کښې به د دوی څخه ډېرې سختې سپورې خبرې واورئ خو پام کوئ چې حوصله خرابه نه کړئ (خپل عزم او ثبات قائم وساتئ).

## د مطلب خلاصه

١ـ یعنې: دنیا دوامداره کور نه دی هرڅوک ترې تلونکی دی خو د قیامت په ورځ به هرڅوک د خپلې کړنلارې د پس منظر سره مخامخ شي او د هر چا سره به دقیقه محاسبه وکړی شي. نو هرڅوک چې د همدې محاسبې څخه بریالی اووت همغه کامیاب دی.

که څه هم په ښو او بدو باندې په دنیا کښې الله ﷻ څه ښه یا بد اثر مرتبوي مګر پوره جزا یا سزا به په نومورې ورځ کښې هر چا ته ورکړی شي، څوک چې د دوزخ څخه نجات ومومي او جنت ته داخل شي نو د دوی دپاره دنیا متاع الغرور (د غولېدلو متاع) نه ده بلکې دوی ته متاع البلوغ (مطلب ته د رسېدلو وسیله) ده.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالمقابل څوک چې د جنت څخه په ابدي توګه محروم شي او دوزخ ته داخل شي همغه سړی ناکام دی که څه هم په دنیا کښې ورته خانونه کامیاب ښکارېږي، دوی ته دنیا په حقیقي توګه متاع الغرور ده.

٢ـ څرنګه چې دنیا ابدي کور نه دی چې تاسو پکښې د تکالیفو او امتحاناتو څخه بچ پاتې شئ نو ضرور به تاسو د سر او مال تاوان سره هم مخامخ شئ او د اهل الکتابو او مشرکانو څخه به ډېرې سنغې سپورې خبرې هم واورئ ترڅو صبر وکړئ او تقوی مو لا قوي شي. نو که ربښتیا خپلې حوصلې خرابې نه کړئ دا به ډېر لوی کار وي. ځکه چې دا کار د ډېرو مضبوطو او محکمو کارونو څخه دی او ستاسو دښمنان غواړي چې د دغو با عزمه کارونو څخه تاسو واړوي او اراده مو کاواکه کړي.

٣ـ د اهل الکتابو د اذیتونو څخه یو دا دی چې خلکو ته ربښتیا نه وایي او حقائق ورڅخه پټوي حال دا چې الله ﷻ د دوی څخه کلک عهد اخستی وه چې ستاسو دې قسم وي چې دا کار به نه کوئ خو دوی همدغه عهد شا ته ګوزار کړ او پیسې یې ورباندې واخستې نو دوی ډېر ناکاره کار وکړ چې عهد ته یې شا کړه او د دنیا څخه یې د خانونو دپاره متاع الغرور جوړ کړ، په کار خو داسې وه چې په سر او سترګو سره یې عهد قبول کړی وی او د دنیا څخه یې د متاع البلاغ استفاده کړې وی.

٤ـ نو ای پیغمبره! اهل الکتابو ته فقط د کلک عهد د اخستلو وخت وریاد کړه چې نور ټول حالات هغوی ته په خپله وریادېږي چې په څه تاکیداتو سره ترې عهد اخستل شوی وه او دوی د عهد سره څه وکړه. نو تاسو ته به د دوی د اذیتونو ښه واضحه مثال په لاس درشي.

## توضیحات

١ـ که څه هم د اجر کلمه په ثواب کښې استعمالېږي مګر په دې مقام کښې ترې مطلقه جزا مطلب ده چې ثواب او عذاب دواړو ته شامله ده[1]، دا ځکه چې د ایت شریف وراندېنی ټکره ﴿ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِ ﴾ عامه ده چې مؤمن او کافر دواړو ته شامله ده.

٢ـ الله ﷻ مؤمنان په تاکید سره خبر کړه چې په دنیا کښې به تاسو ضرور د مشکلاتو سره مخامخ کېږئ ترڅو دوی خپلو پوره اجرونو ته په دنیا کښې په تمه نه شي چې مونږ خو په حقه ایمان راوړی دی نو باید چې د هیڅ مشکل سره لاس او ګرېوان نه شو.

او ترڅو دوی د مصیبتونو د زغم دپاره خانونه چمتو کړي او د مخامخ کېدلو په وخت کښې یې ورته پښې ونه ښویېږي او بالآخره ترڅو دوی پوه شي چې د جنت څخه مصیبتونه چاپېر دي او د دوزخ څخه خوندونه او لذتونه راتاو دي.

---

(١) البحر المحيط ج٣ ص٤٦٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د کافرانو د سپکو سپورو خبرو څو مثالونه

٣_ الله ﷻ ربښتیا ویلي دي کافرانو د مؤمنانو په هکله د سپکو سپورو خبرو څخه په یوه زمانه کښې هم سکوت نه دی کړی او نه به یې وکړي. د نبي کریم ﷺ د زمانې څو مثالونه یې ولولی:

الف: مشرکانو به نبي کریم ﷺ همېشه د جادوګر او شاعر او په نورو نومونو باندې یاداوه.

ب: یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللهَ وَرَسُولَهُ»[١] یعني: څوک دی چې کعب بن الأشرف (یهودي) ووژني څکه هغه الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ته سپکې سپورې خبرې کوي؟. نوموړی کعب شاعر وه چې په نبي کریم ﷺ پسې به یې ناکاره اشعار جوړول او هم به یې په خپلو اشعارو کښې د مسلمانانو ښځو ښکلا او جمال یاداوه او داسې نور.

ج: همدارنګه نبي کریم ﷺ یوه ډله مجاهدین د ابو رافع الیهودي په وژنه وګمارل څکه چې:«وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُؤْذِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُعِينُ عَلَيْهِ»[٢] او ابو رافع نبي کریم ﷺ ته اذیت رساوه او نور کافران یې ورباندې راپارول.

د: همدارنګه رئیس المنافقین د مومنانو مور (عائشې رضی الله عنها) پورې بهتان وتاړه چې په نتیجه کښې د "النُّور" سورت اتلس (١٨) ایتونه د همدغې بي بي رضی الله عنها په پاکلمنۍ کښې نازل شوي دي.

## زمونږ د زمانې څو مثالونه

هـ: مونږ د افغاني کمونستانو څخه اورېدلي دي چې ملایان (د دین داعیان) به یې د انګریزانو لاسپوڅي او ایجنټان بلل او په مسخرو سره به یې ویلې چې دوی د ږیرې لاندې لیکلی شوي دي چې: (Made in England) په انګلستان کښې جوړ شوی دی.

و: د جهاد په اولو کلنو کښې به دوی مجاهدینو ته د اشرارو لقب ورکاوه او مهاجرین به یې د سود خورو په نامه یادول.

ز: د هغه څخه وروسته چې د افغانستان څخه روسان ویستلی شوه، امریکایان (اهل الکتاب) مجاهدین د تروررستانو (ترهګرو) په نامه یادوي. او دا څکه چې د دوی مطلب حاصل شو او د روسانو ککرۍ ماتې شوې نو اوس د دوی سره خطر پیدا شوی دی چې که جهاد دوام وکړي نو د مسلمانانو څخه به سوپر قوت جوړ او د دوی په وړاندې به خنډ واقع شي.

خو الله ﷻ ته امید دی چې اسلام به په ټولو ادیانو باندې غالب کړي که څه هم د امریکایانو دا کار ډېر بد ایسي. ﴿ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ [الصف: ٨] یعني: او الله ﷻ خپلې (دیني) رڼا لره پوره کوونکي دي اګر که کافران یې نه خوښوي.

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٥٧۶

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٥٧٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



## عزم څه معنی؟

۴ـ په ﴿ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴾ کښې د "عَزْم" کلمه مصدر ده خو د "مَعْزُوم" (اسم مفعول) په معنی سره ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په مصیبتونو کښې صبر کول او ډېر ثبات او استقامت ټینګ ساتل د هغو کارونو څخه دي چې باید هرڅوک وربانديې کلکوالی وکړي ځکه چې په دې کښې ډېر عزت او شرف پټ دی، او یا د هغو کارونو څخه دي چې الله ﷻ په بندګانو باندې واجب ګرځولي دي[١]. او یا په بل عبارت: دا هغه کارونه دي چې د هغو ګټورتوب فیصله شوې دی.

## یادونه

۵ـ مونږ د "نَبْذُ الْكِتَابِ" معنی د [البقرة:١٠١] ایت لاندې لیکلې ده، بیا لیکلو ته یې ضرورت نه ګورو. دلته فقط همدومره وراضافه کوو چې په محاوراتو کښې د نبذ الکتاب په مقابل کښې "اَلْوَضْعُ عَلَى الرَّأْسِ وَالْعَيْنِ" استعمالېږي. یعني په سر او سترګو منل او عمل وربانديې کول.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ لَتُبَيِّنُنَّهُ ﴾ د جملې څخه وروسته یې وفرمایل چې: ﴿ وَلَا تَكْتُمُونَهُ ﴾، حال دا چې د دواړو جملو مطلب یو دی، چې ستاسو دې قسم وي چې خلکو ته یې په داسې حال بیان کړئ چې دا به ترې نه پټوئ. او بیان خو د نه پټولو څخه په غیر بل شی نه دی؟.

مونږ وایو چې: د دې پوښتنې دپاره لاندې جوابونه ولولئ:

الف: د بیان معنی دا ده چې سکوت پرې مه کوئ او د عدم کتمان معنی دا ده چې فاسد تاویلونه مه ورکوئ"[٢]. مګر مونږ ته دا جواب کمزوری ښکاري، ځکه چې د فاسدو تاویلونو کول خو د عدم بیان څخه په غیر بل شی نه دی، نو د اعتراض مخه ونه نیوله شوه.

ب: د اولې جملې معنی دا ده چې په ژبه یې بیان کړئ او د دوهمې جملې معنی دا ده چې عملاً یې واضحه کړئ"[٣]. مګر دا جواب هم متبادر نه دی.

ج: نو زمونږ په نظر د اولې جملې معنی دا ده چې حقائق د ډېر عهد په اساس خلکو ته بیان کړئ، مه پرې سکوت کوئ او مه یې سرچپه کوئ. او د دوهمې جملې معنی دا ده چې په حقائقو باندې په هغه وخت کښې هم سترګې مه پټوئ چې ستاسو څخه یې غوښتنه وشي او بیانولو ته یې سخت ضرورت پېښ شي.

---

(١) روح المعاني ج۴ ص۱۴۸
(٢) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۶۹۳
(٣) روح المعاني ج۴ ص۱۴۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا جواب د راتلونکي ايت څخه هم سړي ته ذهن ته ورځي چې د يهودو څخه نبي کريم ﷺ د کوم يو حقيقت پوښتنه وکړه خو دوی حقيقت سرچپه بيان کړ او لا د آفرين په تمه هم وه.

## عجيبه قيصه

٥ـ د علم د کتمان (پټولو) په باره کښې د [البقرة:١٥٩] ايت لاندې مفصل بحث تېر شوی دی هيله ده چې علاقمندان يو ځل هلته مراجعه وکړي. مګر په دې مقام کښې ورباندې فقط لاندې يوه عجيبه قيصه اضافه کوو(١):

يوه ورځې يو سړی په جومات کښې يوې ناستې جرګې ته ورغی چې عبد الله بن مسعود ﷺ هم پکښې شامل وه او ويې ويلې چې کعب ﷺ تاسو ته د سلام څخه وروسته زېری درکوي چې دغه ايت: ﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ ﴾ الآية په تاسو کښې نه دی نازل شوی (بلکې د يهودو په باره کښې نازل شوی دی).

نو عبد الله بن مسعود ﷺ ورته وويل چې ته هم ورته د سلام څخه وروسته ووايه چې کله ذکر شوی ايت نازلېده نو دی يهودي وه. يعنې په هغه وخت کښې لا کعب ﷺ ايمان نه وه راوړی نو هغه ته معلومات نشته بلکې ماته معلومات دي چې ايت شريف عام دی، مونږ مسلمانانو ته هم شامل دی چې بايد خلکو ته حقائق بيان کړو او خولې ورباندې پټې نه کړو.

﴿ لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أَتَوا۟ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا۟ بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا۟ فَلَا تَحْسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٍ مِّنَ ٱلْعَذَابِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٨٩﴾ ﴾

[١٨٨] (ای پيغمبره!) ته هيڅکله په هغو کسانو باندې چې د داسې کار په کولو خوشالېږي چې دوی کړی دی (چې حقائق يې سرچپه کړي دي او يا يې پټ کړي دي) او د داسې کار په ستايلو باندې خوښېږي چې هغه يې نه دی کړی (حقايق يې نه دي بيان کړي) هيڅکله ګومان مه کوه. نو (بيا وايم) هيڅکله ګومان مه کوه چې دوی د عذاب څخه په خلاصې کښې دي. او همدوی لره دردناک عذاب دی.

[١٨٩] او خاص الله ﷻ لره د اسمانو او ځمکو پاچاهي ده او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت خاوند دی.

## شان نزول او ارتباط

د ذکر شوو ايتونو په شان نزول کښې مفسرينو کرامو تقريباً نهه روايتونه ليکلي دي(٢)، که څوک يې د ټولو د لوستلو شوق لري نو هيله ده هملته مراجعه وکړي. خو مونږ دومره ليکو چې د نهو واړو روايتونو مرجع لاندې دوه حادثو ته کېږي:

---

(١) تفسير الطبري ج٣ ص٢٠٣

(٢) البحر المحيط ج٣ ص٤٦٥؛ تفسير الطبري ج٣ ص٢٠٥؛ زاد المسير ج٢ ص٦٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف د نبي كريم ﷺ په زمانه كښې به منافقان د غزا څخه په قصدي توګه پاتې كېده، خو چې نبي كريم ﷺ به د غزا څخه راستون شو نو دوى به ورته د دروغو بهانې جوړولې چې د دې كبله او د دې كبله د غزا څخه پاتې شوي ياستو، او د دې سره-سره تمه به يې هم درلوده چې نبي كريم ﷺ ورباندې شاباس ووايي او ستاينه يې وكړي!. نو ذكر شوي ايتونه نازل شوه[1].

ب: يوه ورځې يهودانو نبي كريم ﷺ ته غلط معلومات وركړه او حقيقت يې پټ كړه خو د دې سره-سره د شاباس او ستاينې اميد يې ترې درلود چې خلكو ته ښه جيد علماء ورمعلوم شي. نو الله ﷻ د دوى دغه كړنلاره رد كړه او ذكر شوي ايتونه نازل شوه[2].

## تبصره

موږ ته داسې ښكاري چې ايت شريف خو د مفهوم په اعتبار سره عام دى چې ډېر صورتونه يې د نبي كريم ﷺ په زمانه كښې تېر شوي دي او ډېر به يې وروسته راشي.

خو د كلام د سوق په اعتبار سره د يهودانو سره ښه مناسب برېښي. او دا ځكه چې وړاندېني ايتونه د همدوى په باره كښې نازل شوي وه چې خپل كتاب (تورات) يې شاته ګوزار كړى وه او په تحريف باندې يې د خلكو څخه ناچيزه پيسې اخستې.

په ذكر شوي ايت كښې همدغه مضمون تعقيب شوى دى چې دوى حق پټوي خو د دې سره-سره د شاباس او آفرين تمه هم لري. نو دا ايت د تېرو شوو ايتونو دپاره د يو شاهد او مثال حيثيت لري، چې خلاصه يې لاندې لوستلى شي:

## د مطلب خلاصه

يعنې: اى پيغمبره! يهودان خو په حقائقو باندې سكوت كوي او خلكو ته يې نه څرګندوي، په دې باندې علاوه، په هغه وخت كښې هم پرې سترګې پټوي او سرچپه بيان درته كوي چې كله تاسو ترې څه معلومات وغواړئ. په كار خو دا وه چې د خپلو عهدونو په اساس يې درته حقائق بيان كړي وى او ستاسو د غوښتنې په وخت كښې خو ورته دا كار ډېر ضرور وه.

مګر دوى برسېره په دغه لوى جنايت چې حقائق پټوي، په دنيا كښې د ستاينې تمه هم لري چې دوى ډېر ښه كار كړى دى او په آخرت كښې د دوزخ څخه د نجات په تمه دي.

نو هيڅكله په دوى باندې دا ګومان قدرې هم ونه كړې چې د الله ﷻ د عذاب څخه به نجات ومومي، بيا وايم چې هيڅكله پرې دغه ګومان قدرې هم ونه كړې. بلكې دوى لره دردناك عذاب دى.

دوى ځكه نجات نه شي موندلى چې د اسمانونو او ځمكو پاچاهي د الله ﷻ ده، څه چې كوي اختيار لري. نو په دې بناء دوى به نه نجات وركوونكى ومومي او نه به د تښتېدنې ځاى مونده كړي. دوى به مرګ او خاورې كېدلو باندې هم د عذابه نه شي خلاصېدلى ځكه چې الله ﷻ په هر

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٥٦

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٣١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي باندې قادر دی نو بېرته به يې خاورې شوي بدنونه راغونډ کړي او د دوهم ځل دپاره به پکښې روح پو کړي او راژوندي به يې کړي.

## توضیحات

۱ــ په دې مقام کښې سړي ته يوه پوښتنه ذهن ته ورځي چې په دې کښې به څه حکمت وي چې الله ﷻ اهل کتاب مخاطب نه کړه چې د نجات ګومان مه کوئ، بلکې نبي کريم ﷺ يې مخاطب کړ چې دا ګومان مه کوه او د تاکيد دپاره يې بيا ورته وفرمايل چې دا ګومان مه کوه. سره د دې چې د کافرانو د نجات ګومان خو عوام مسلمانان هم نه کوي پاتې خو لا د الله ﷻ پيغمبر ﷺ؟.

مونږ وايو چې: دا ځکه ترڅو اهل الکتاب په غوږ ووهي چې تاسو نه په واقع کښې د عذاب څخه نجات موندلی شئ او نه نبي کريم ﷺ تېر ويستلی شئ، چې يا درباندې د نجات ګومان وکړي او يا مو ستاينه وکړي ځکه چې الله ﷻ ته حقائق څرګند دي او خپل پيغمبر ﷺ پرې موقع په موقع خبروي.

که بالفرض الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته خطاب نه وی کړی نو د دوی تمه به نه وی شکېدلې او د ده زوررولو ته به يې ادامه ورکړې وی.

## دلته "اتيان" د کولو په معنی دی

۲ــ که څه هم په ﴿ بِمَآ أَتَوا ﴾ کښې د "أَتَوا" کلمه د "إِتْيَان" څخه اخستله شوې ده او "إِتْيَان" د راتګ په معنی سره دی. مګر په دې مقام کښې "إِتْيَان" د فعل (کولو) معنی ورکوي[1].

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: په هغو خلکو باندې د عذاب څخه د نجات ګومان مه کوه چې دوی په هغه شي باندې خوشاله دي چې دوی کړي دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ــ که څوک وايي چې: هغه څه شی وه چې يهودان يې په کولو باندې په عذاب سره تهديد شوه؟ يا په بل عبارت: دوی د څه کار په کولو خوشاله وه؟

مونږ وايو چې: د همدغه شي په تعين کښې مفسرينو کرامو تقريباً اته قوله کړي دي[2]، خو په دقيق نظر سره د ټولو اقوالو مرجع يوه شي ته کېږي چې هغه د حقائقو سرچپه کول او د نبي کريم ﷺ غولول دي.

## هېر مو نه شي!

۴ــ هېر مو نه شي که څه هم ذکر شوی ايت شريف د اهل الکتابو په باره کښې نازل شوی دی مګر د مفهوم د عاموالي په اعتبار سره ټولو هغو خلکو ته شاملېږي چې د يو پلوه غلطه خبره کوي او د بل پلوه په همدې غلطو معلوماتو باندې د ستاينې غوښتنه هم کوي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۵۰

(۲) زاد المسير ج۲ ص۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې يو ملا چا ته غلطه مسئله بيان کړي او د دې سره-سره يې زړه غواړي چې د لوی تکړه او جيد عالم په لقب ياد کړی شي.

ب: چې څوک چا ته په دروغو ووايي چې زه ستا په خوشالۍ خوشالېږم او په غم دې غمژن کېږم، ترڅو هغه ورته شاباس او آفرين ووايي. او داسې نور ډېر مثالونه لري.

## ماثور تفسير

۵ـ همدا ايت شريف په لاندې حديث شريف کښې ډېر ښه تفسير شوی دی چې:

يوه ورځ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ»[1] يعني: په هغه شي باندې چې چا ته نه وي ورکړی شوی خپل ځان موړ معرفي کوونکی (چې وايي راکړی شوی دی) د دوه وو دروغينو جامو (کميس، پرتوګ) د اغوستوونکي په څېر دی. يعني دومره غټ دروغژن دی چې د سر څخه تر پښو پورې په دروغو کښې پټ دی. نو هيڅکله به د عذاب څخه نجات ونه مومي.

هو! دا ښه خبره ده که همدغه سړی کافر وي نو په عذاب کښې به همېشه وي او که مسلمان وي نو په موقته توګه به معذب او بيا به جنت ته لاړ شي. په هر تقدير، ايت شريف دواړو ډولو ته شامل دی.

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾
الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾ رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ
تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿١٩٢﴾ رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا
يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ۚ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا
وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ إِنَّكَ
لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ
أُنْثَىٰ ۖ بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ ۖ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي
وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا
مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾﴾

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۸۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

[۱۹۰] بې شکه د اسمانونو او ځمکو په پيدا کولو کښې او د شپې او ورځې په پرلپسې راتللو کښې د عقل د خاوندانو دپاره (د الله ﷻ) ډېرې نښې (علامې) دي.

[۱۹۱] هغه (د عقل خاوندان) چې په ولاړه او ناسته او هم په خپلو اړخونو باندې الله ﷻ يادوي. او هم د اسمانونو او ځمکو په پيدايښت کښې تفکر کوي (چې) ای زمونږ ربه! دا (دنيا) تا عبث نه ده پيدا کړې، تا لره پاکي ده، نو مونږ د اور (دوزخ) د عذابه وساتې.

[۱۹۲] او ای زمونږ ربه! بې شکه ته چې څوک اور ته داخل کړې نو يقينًا هغه دې رسوا کړ. او ظالمانو لره (د قيامت په ورځ) هيڅ کومک کوونکی نشته.

[۱۹۳] ای زمونږ ربه! مونږ (د) اواز کوونکي (اواز) واورېده چې د ايمان دپاره يې اواز (دعوت) کاوه چې په خپل رب باندې ايمان راوړئ نو (مونږ د هغه دعوت قبول کړ او) ايمان مو راوړ.

ای زمونږ ربه نو مونږ ته (لوی) ګناهونه وبښې او (وړې) ګناهونه مو ورژوې او د نېکانو سره مو وفات کړې (چې د مرګ څخه وروسته د هغوی په ډله کښې شامل شو).

[۱۹۴] ای زمونږ ربه! او مونږ ته هغه څه راکړې چې د خپلو پيغمبرانو په خولو باندې دې راسره وعده کړې ده. او د قيامت په ورځ مو شرمنده مه کړې. بې شکه چې ته په خپله وعده کښې خلف (بې لوظي نه کوې).

[۱۹۵] نو د دوی رب دوی لره استجابت وکړ (سوالونه يې ورته قبول کړه) چې بې شکه زه ستاسو څخه د يوه عمل کوونکي عمل هم نه ضائع کوم (که عمل کوونکی) د نارينه وو څخه عبارت وي او که د زنانه وو څخه. (او دا ځکه چې) ستاسو ځينې د ځينو نورو څخه دي، (ټول د يوه پلار اولاد ياست).

نو هغه کسان چې هجرت يې کړی وي او د خپلو کورونو څخه ويستلي شوي وي او زما په لاره کښې ورته اذيتونه رسول شوي وي او وسلوال جهاد يې کړی وي او وژل شوي وي، نو خامخا به ضرور د هغوی څخه ګناهونه پټې کړم (ورژم) او خامخا به ضرور دوی داسې جنتونو ته ورداخل کړم چې د (ونو) لاندې يې (ځلور) ويالې بهېږي.

(دوی ته اجر ورکول کېږي) داسې اجر چې د الله ﷻ د پلوه دی. او الله ﷻ چې دی د ده ﷻ په نزد (لا) ښائسته اجرونه (نور) هم شته.

## شان نزول او ارتباط

۱ـ که څه هم مفسرينو کرامو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت د ذکر شوو ايتونو شان نزول داسې بيان کړی دی چې د مکې معظمې قريش يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته ورغله او غوښتنه يې ترې وکړه چې د معجزې په توګه مونږ ته صفا غونډۍ سره زر جوړه کړه. نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه، چې په اسمانونو او ځمکو کښې لږ دلايل دي چې تاسو لا د نورو دلايلو فرمايش هم ورکوئ؟!.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مکر مونږ ته داسې برېښي چې که ذکر شوی شان نزول د ایتونو یو مصداق وګڼو څه لرې نه ده خو په حقیقي معناوو کښې یې شان نزول څکه نه شي جوړېدلی چې دا سورت مدني دی. رښتیا ده چې قریشو به نوموړې فرمایشي معجزه غوښتې وې خو جواب به یې هم په مکي ایتونو کښې ورکړی شوی وي.

۲ـ په هر تقدیر، د ایتونو د ارتباط وجهې په لاندې ډول د نظره تېرې کړئ:

الف: وړاندېنی ایتونه په دې تمام شوې وه چې الله ﷻ د ټولې دنیا واکدار دی او په هر شي باندې قدرت لرونکی دی. او په دې ایتونو کښې همدغه مطلب ښه روښانه شوی دی چې ټول موجودات ورباندې دلالت کوي.

ب: هلته یهودانو په الله ﷻ باندې د فقیر نوم ایښی وه او خانونه یې غنیان ګڼلي وه او دلته دوی متوجه کړی شوي دي چې ایا هغه چا ته د فقیر نسبت کول صحت لري چې ټول موجودات د هغه په اراده باندې څرخېږي؟ او ایا هغه څوک غني ګڼلی شي چې د هیڅ شي واک نه لري حتی د خپل خان په باره کښې هم فیصله نه شي کولی؟.

ج: د سورت د اول څخه تردې ځایه پورې د اسلام دښمنه پرګنو په مقابل کښې مختلف قولي دلایل وړاندې کړی شوه خو په دې ایتونو کښې ټول وګړي متوجه کړی شوي دي چې د اسلام حقانیت تاسو په سترګو لیدلی شئ. او یا په بل عبارت: هلته سمعي دلایل بیان شوي دي او دلته بصري دلایل بیانېږي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای خلکو! که تاسو صرف د خپلو سترګو او عقل څخه کار واخلئ نو نه به د الله ﷻ په وحدانیت او نه به د پیغمبر ﷺ په نبوت باندې څه فرمایشي معجزې وغواړئ او نه به مو څه سوال جواب او ناندریو ته حاجت پاتې شي. او دا څکه چې:

الف: د اسمانونو منظم نظام او عجیبه خلقت د ورایه ناري وهي چې الله ﷻ یو دی او شریک نه لري. که بالفرض المحال شریک یې درلودی نو نه به هغه عجیبه نظام د اوله موجود شوی وی او نه به یې دومره عمر درلودلی وی لکه چې اوس یې لري.

ب: همدارنګه د ځمکې موجودیت او عجیبه خلقت هم شاهدي وایي چې د الله ﷻ څخه په غیر بل په حقه معبود نشته، د ځمکې ټول عجائب او غرائب همغه چا پیدا کړي دي چې انسان یې پیدا کړی دی نو څکه یې پکښې د انسان ټول احتیاجات او ارتیاوې پوره کړې دي.

ج: د ورځې او شپې اوږدول او لنډول (د ورځې څه برخې شپې ته ورکول او د شپې ځینې توري تیارې برخې د روښانه ورځې جزء ګرځول) هم د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نه شي کولی.

همدارنګه هیڅوک دعوه نه شي کولی چې زه لمر یا راخېژولی شم او یا یې پرېوستلی شم، که څوک خوښ وي او که ناخوښ وي شپه او ورځ ورباندې تېرېږي او راتېرېږي، نه څوک د لمر په

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راخېژولو کښې تادي کولی شي او نه يې څوک په پرېوتلو کښې ټال واقع کولی شي.

٢ـ په دې باندې علاوه، په خپله عقل هم يوه معجزه ده چې هر هوښيار انسان ته الله ﷻ ورکړې دی او د موجوديت څخه يې هيڅوک انکار نه شي کولی خو د دې سره-سره څوک يې د انسان په بدن کښې موندلی هم نه شي اګر که د اپرېشن (جراحي عمليات) په مېز باندې يې هر غړی معاينه کړي.

٣ـ همدارنګه په ټولو موجوداتو کښې نه څوک د الله ﷻ د موجوديت څخه انکار کولی شي او نه يې څوک په سترګو باندې ليدلی شي مګر هغه څوک به ترې منکر شي چې صرف عناد نيولي وي او په قصدي توګه د تکبر په غونډۍ باندې کښيني.

که الله ﷻ انسان ته عقل نه وی ورکړی نو د موجوداتو عجائبو او غرائبو ته به يې نه وی متوجه کړي او د اسماني کتابونو او د پيغمبرانو عليهم السلام د لېږلو سلسله به يې هم نه وی جاري کړې. د همدې کبله صرف هوښياران خلک د موجوداتو څخه د استدلال په توګه استفاده کوي او په ناسته ولاړه بلکې په هر حالت کښې الله ﷻ نه هېروي خکه چې د الله ﷻ د وحدانيت دلايل دومره ډېر دي چې په هيڅ حالت کښې د سړي د سترګو څخه نه پنا کېږي او نه يې نشتوالی راځي.

هوښياران په اسمانونو او ځمکو کښې په لاندې ډول فکر کوي:

الف: هيڅوک او هيڅ شی خپل خان ته وجود نه شي ورکولی. که نه نو د خپل موجوديت څخه وړاندې به موجود وی او دا محاله خبره ده.

ب: هغه څوک او هغه شی چې د خپل خان په موجوديت کښې بل چا ته احتياج وي هغه هم څه شی نه شي موجودلی.

ج: نو ذکر شوو دواړو مقدمو څخه دا خبره راووتله چې د ټول عالم پيدا کوونکی ضرور د ټول عالم (ټولو ممکناتو) څخه بېرون دی، چې ازلي او ابدي موجود دی او هر شي ته يې وجود ورکړی او لا ورکوي يې.

د: په موجوداتو کښې د علم خاوندان شته، نو معلومه شوه چې پيدا کوونکی يې علم لري. د ارادې خاوندان پکښې شته نو اراده لري. که بالفرض پخپله يې علم او اراده نه درلودی په مخلوقاتو کښې به يې اثار نه وی ښکاره شوي.

هـ: کله چې د عالم خالق علم او اراده لري نو ضرور د عالم پيدا کول بې حکمته نه دي، يوه ورځ راشي چې د دنيا پروژه به تصفيه شي او د هيچا حساب به جرپر پرېنښودل شي.

و: کله چې د دنيا خالق د دنيا والو د مادي ژوند دپاره دومره نظم پيل کړی دی نو ضرور ده چې د دوی د معنوي ژوند دپاره به يې هم د پيغمبرانو عليهم السلام سلسله جاري کړې وي او داسې به يې نه وي کړي چې ما خو فقط پيدا کړئ نور نو چې څه کوئ هغه کوئ، نه درڅخه پوښتنه شته او نه حساب کتاب.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د تفکر نتیجه

۴ ـ نو کله چې هوښیاران په ذکر شوي طرز سره په دنیا کښې فکر وکړي نو ټول حقائق به ورته تثبیت شي او بې اختیاره به چیغه کړي چې:

الف: ای زمونږ ربه! دا دنیا تا عبث نه ده پیدا کړې او څوک چې دربانديې همدا ګومان کوي نو ته د هغوی د اقوالو څخه پاک او منزه یې. مونږ معتقد یاستو چې د مکافات او مجازات ورځ راتلونکې ده چې څوک به دوزخ ته ځي او څوک جنت ته، نو ای زمونږ ربه! مونږ د دوزخ څخه وساتې.

ب: ای زمونږ ربه! دوزخ ته داخلېدل برسېره په عذاب باندې، رسوايي هم ده نو مونږ لکه چې د عذاب څخه د نجات سوال کوو همدارنګه د رسوایي څخه هم په تاباندې پنا غواړو. دا دواړه خو د ظالمانو دپاره ټاکلي شوي دي، مونږ ته په دنیا کښې توفیق راکړې ترڅو د دوی په ډله کښې شامل نه شو، چې په دغې ورځ کښې دوی ته هیڅ کومک کوونکی نشته، یوازې همدا ته یې چې نجات بښونکی یې.

ج: ای زمونږ ربه! د قیامت په ورځ څوک دا عذر نه شي وړاندې کولی چې مونږ په دنیا کښې خبر نه وو چې داسې ورځ به هم راځي. او دا څکه چې ستا د پلوه اوازکوونکو په لوړ اواز سره ټول خلک وربللي دي چې ایمان راوړئ، نو دا دی مونږ ستا د داعیانو خبره هم ومنله او برسېره په هغه ایمان چې مونږ د دلایلو د کبله راوړی وه د همدوی په دعوت باندې مو ادامه ورکړه څکه دوی بل شي ته دعوت نه کاوه بلکې دوی صرف الله ته داعیان وه.

خو د دې سره‌سره مونږ د شاید او باید په مطابق عمل نه دی کړی او خای په خای راڅخه خطاوې واقع شوې دي. او تاته ښه معلوم یاستو چې په کامله توګه مونږ د بندګۍ دپاره نه شو وتلی.

د: نو ای زمونږ ربه! مونږ ته کبیره ګناوې وبښې او صغیره ګناوې مو ورژوې ترڅو په نېکانو کښې وشمېرل شو او د مرګ څخه وروسته د هغوی سره یو ځای شو، او بلکې ټول سیئات مو په حسناتو باندې بدل کړې.

هـ: ای زمونږ ربه! تا خو د خپلو پیغمبرانو علیهم السلام په ژبه د نېکانو دپاره ډېرې وعدې کړې دي نو مونږ د همدوی د ډلې څخه حساب کړه ترڅو مونږ ته هم خپلې وعدې راپوره کړې او د قیامت د ورځې د رسوائي څخه نجات راکړې.

و: ای زمونږ ربه! ته یقیناً په خپلو وعدو کښې صادق یې مګر مونږ شکمن یو چې مونږ به په هغې ډله کښې شامل شو او که نه کومه چې ستا د وعدو د پوره کېدلو مستحقه ده، نو څکه الحاح کوو چې مونږ پکښې شامل کړه.

## د سوالونو اجابت

۵ـ نو هوښیاران چې په ذکر شوي طرز د ذکر سره فکر ملګری کړي او د خپل رب په ښودلې شوې طریقې سره سوالونه وکړي نو د دوی رب به یې اجابت وکړي، چې یقیناً ستاسو ذکر شوي سوالونه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مې قبول کړه او برسېره په دې، دا زېرى هم درکوم چې زه د هيڅ عمل کوونکي عمل نه ضائع کوم چې بې عوضه يې پرېږدم. زما دا وعده هم درسره په ياد ولرئ چې د نر او ښځې دواړو دپاره مې په خپل خان باندې منلې ده، او دا ځکه چې کله تاسو متقيان جوړ شئ نو زما په نزد په قدرداني کښې ستاسو يو جنس په بل جنس باندې څه تفاوت نه لري نو لکه څنګه چې سړيو ته د دلايلو څخه عبرت اخستل په کار دي همدارنګه بايد چې زنانه هم ترې خپل خانونه بې برخې پرېنږدي.

## د اعمالو څو نمونې

۶ـ نو د هوښيارانو هر يو نېک عمل زما په نزد مقبول او منظور دى، که څه هم هغه عمل درونډ وي او يا خفيف (سپک). خو د سختو اعمالو لاندې څو مثالونه په ياد وساتئ چې د هوښيارانو څخه په غير يې بل څوک نه شي ترسره کولی:

الف: نو د هغو هوښيارانو عمل قبول دى چې د الله ﷻ د رضا دپاره د خپل وطن څخه هجرت وکړي ترڅو يې دين د خطر څخه بچ شي.

ب: د هغو عمل هم نه ضائع کېږي چې د الله ﷻ د رضا دپاره د کورونو څخه وويستلی شي.

ج: او د هغو عمل هم چې زما په لار کښې ورته اذيت ورسول شي او سپکې سپورې خبرې ورته واورولی شي.

د: او د هغو هم چې د دين دښمنانو سره وسلوال جهاد وکړي.

ه: بالآخره د هغو عمل هم نه ضائع کېږي چې هغوى په دين باندې ووژلی شي.

نو د دغو ټولو سره زما وعده ده چې ګناهونه به ترې ورژوم او داسې جنتونو ته به يې داخل کړم چې د ونو لاندې به يې ويالې بهېږي. دا اجر دوى ته د الله ﷻ د پلوه ټاکل شوى دى او د الله ﷻ سره لا برسېره په دې ډېر اجرونه نور هم شته.

## توضيحات

۱ـ مونږ د [البقرة:۱۶۴] ايت لاندې د معجزاتو په باره کښې څه ناڅه ليکلي دي که لوستونکي يې دلته يو ځل بيا وګوري نو بده به نه وي.

## "البّاب" څه معنى؟

۲ـ "البّاب" د "لُبّ" جمعه ده، "لُبّ" او "لُبَاب" د يو شي مغز ته ويل کېږي لکه چې غوز سپين کړى شي او صرف چغزى يې پاتې شي. اما "لُبّ الرَّجُل" د سړي د عقل څخه عبارت دى(۱)، ځکه چې عقل د انسان دپاره د مغز مثال لري، او هوښيار سړي ته "لَبِيب" هم وايي.

(۱) لسان العرب ج۱ ص۷۲۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ايت شريف کښې هغه قوه چې سړی د پوهې دپاره چمتو کوي په خپل نامه (عقل) او يا په نورو نومونو باندې ياده نه کړی شوه لکه حجر، نُهى او داسې نور؟

مونږ وايو چې: همدغې قوې ته (چې د عقل په نامه يادېږي) په هغه وخت کښې "لُبّ" ويل کېږي چې د شبهاتو څخه بچ پاتې وي[١]. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: په دنيا کښې د سوچه عقل خاوندانو ته واضحه دلايل شته اما هغه څوک چې عقل يې په شبهاتو او ماديا تو کښې راتاو کړی شوی وي نو د هغه عقل د دلايلو درک نه شي کولی. همدغې ډلې ته الله ﷻ اشاره کوي چې فرمايي: ﴿وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ﴾ [يوسف:١٠٥] يعنې: او څومره ډېرې معجزې په اسمانونو او ځمکو کښې دي چې دوی ورباندې تېرېږي حال دا چې دوی ترې اعراض کوونکي دي. نو کافران د عقل خاوندان دي چې ذکره شوې قوه لري چې د څارويو او ليونيانو څخه پرې جدا کېږي، مګر "لُبّ" نه لري. يعنې د دوی عقل شبهاتو راچاپېر کړی دی او سمه سيده لاره پرې نه شي درک کولی. نو په کومو ځايونو کښې چې د دوی څخه عقل سلب کړی شوی دی او د څارويو په څېر ګڼل شوي دي نو هلته د عقل څخه همدغه "لُبّ" مراد دی.

## ذکر څه معنى؟

٤_ د ﴿يَذْكُرُونَ﴾ کلمه د "ذِکر" څخه اخستله شوې ده او ذکر د هغو معلوماتو حاضرولو ته وايي چې د سړي په ذهن کښې ساتلي شوي وي چې د "حِفظ" په نامه يادېږي، او په مقابل کښې يې "نِسيَان" راځي. نو که په نومړو معلوماتو باندې تلفظ وکړی شي د لساني ذکر په نامه يادېږي او که نه نو بيا ورته قلبي ذکر ويل کېږي[٢].

په دې مقام کښې د ذکر په تفسير کښې مفسرين کرام دوه ډلې شوي دي:

الف: اکثره مفسرينو کرامو ذکر په تهليل، تحميد او تکبير او نورو اذکارو باندې تفسير کړی دی او درې حالات (ولاړه، ناسته، په اړخ) يې د ټولو حالاتو څخه کنايه اخستې دي. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې هوښياران خلک په ټولو حالاتو کښې الله ﷻ يادوي[٣].

همدې تفسير ته بي بي عائشې رضي الله عنها اشاره کړې ده چې: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ»[٤] يعنې: نبي کريم ﷺ وه چې په خپل هر وخت کښې به يې الله ﷻ ياداوه.

---

(١) مفردات الراغب ص٤٦٦

(٢) مفردات الراغب ص١٨١

(٣) البحر المحيط ج٣ ص٤٦٨

(٤) صحيح البخاري ج١ ص٨٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې تفسیر باندې په کار دي چې ذکر عام واخستل شي ترڅو لساني ذکر او قلبي ذکر دواړه پکښې شمولیت ولري.

نو د بیت الخلاء په حالت او بیت الخلاء ته په ورته حالاتو کښې په کار دي چې په قلبي ذکر باندې اکتفاء وکړه شي او دا ځکه چې قلبي ذکر په اتفاق سره په ټولو حالاتو کښې جائز دي او په ځینو حالاتو کښې څوک د بې ادبۍ لقب نه شي ورکولی.

ب: ځینې مفسرین کرام وايي چې دلته ترې لمونځ مراد دی[1]، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴾ [طه: ١٤] یعني: او لمونځ زما د ذکر دپاره ودروه.

نو ذکر شوي درې حالات د لمونځ کوونکي په حالاتو باندې حملوي چې باید سړی لمونځ په ولاړه اداء کړي او که نه نو په ناسته، او که د ډېر مریض وه نو په اړخ باندې دې وکړي.

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې ایت شریف مطلق دی، ټولو اذکارو ته شامل دی او لمونځ هم د اذکارو یوه مجموعه ده. نو په کار نه ده چې یایې د ژبې په ذکرونو پورې خاص کړو او یا د لمانځه پورې. اما د مریض لمونځ د فقهې په کتابونو کښې شرحه شوی دی، هملته دې وکتل شي.

## فکر څه معنی؟

۵_ د ﴿ وَيَتَفَكَّرُونَ ﴾ کلمه د تفکر څخه اشتقاق شوې ده چې اصل یې "فکر" دی، فکر هغې قوې ته وايي چې د هغې په ذریعه سړی د خپلو معلوماتو څخه څه مجهولات لاس ته راوړلی شي[2].
او یا د منطقیانو په اصطلاح، د معلوماتو څخه چې صغری او کبری جوړه کړی شي نو بیا د فکر په نامه یادېږي.

اما کله چې ذکر شوې قوه په معلوماتو کښې ژوره لاړه شي او د صغری او کبری د ترتیبولو دپاره تاند ووهي نو دې ته بیا تفکر وايي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: هوښیاران خلک د اسمانونو او ځمکو په معلوماتو کښې تعمق کوي چې الله ﷻ دنیا عبث نه ده پیدا کړې، پیغمبران علیهم السلام یې په حقه را استولي دي او د قیامت ورځ حقه ده.

## د دې ایت ارشاد

۶_ الله ﷻ د ذکر په ځای کښې یوازې خپل مبارک نوم یاد کړ چې: ﴿ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ ﴾، او د تفکر په ځای کښې یې یوازې مخلوقات وښودل چې: ﴿ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾. نو د دغو دواړو هدایتونو څخه سړی په اسانۍ سره پوهېږي چې د زړه د اطمنان دپاره باید یوازې د الله ﷻ نوم یاد کړی شي او بس. او د تفکراتو په هکله یوازې په مخلوقاتو کښې تاند ووهل شي او بس.

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٤٣٨
(٢) مفردات الراغب ص٣٩٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدا مضمون په لاندې حدیث شریف کښې ښه واضحه شوی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «تَفَكَّرُوا فِي آلاءِ اللهِ وَلا تَفَكَّرُوا فِي اللهِ»[١] یعني: تاسو د الله ﷻ په نعمتونو کښې تفکر وکړئ او د الله ﷻ په اقدس ذات کښې تفکر مه کوئ.

## یادونه

٧ـ ځینو تفاسیرو د سلفو صالحینو د اذکارو او تفکراتو ډېر مثالونه بیان کړي دي او هم یې د اذکارو په فضائلو کښې زیات احادیث راغونډ کړي دي[٢]، خو مونږ د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه. که څوک یې شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

## د قیامت په ورځ څوک شرمنده دی؟

٨ـ د ﴿ أَخْزَيْتَهُ ﴾ کلمه د "إِخْزَاء" څخه اشتقاق شوې ده چې اصل (مجرد) یې "خِزْيٌ" یا "خِزَايَةٌ" دی. "خزي" هغې رسوائي او شرمندګۍ ته وایي چې د بل چا د پلوه سړي ته متوجه شي او "خزاية" د هغې څخه عبارت دی چې څوک پخپله داسې کار یا وینا وکړي چې د هغې په سبب شرمنده او خجالت شي[٣].

ظاهره دا ده چې په دې مقام کښې به د ﴿ أَخْزَيْتَهُ ﴾ کلمه د "خِزْيٌ" څخه اخستل شوې وي ځکه چې دوزخ ته ورداخلول د الله ﷻ د پلوه دي. او دا هم لرې نه ده چې د "خِزَايَةٌ" څخه واخستله شي ځکه چې دوزخیانو په دنیا کښې داسې کړنلاره غوره کړې وه چې د دوی د شرمندګۍ سبب جوړه شوه، نو په وایې چې خانونه یې پخپله شرمنده او خجالت کړي دي.

نو ځینې مفسرین کرام وایي[٤] چې په دې مقام کښې یوازې هغه دوزخیان مراد دي کوم چې په دوزخ کښې په ابدي توګه اچول کېږي. او عاصیان مؤمنان په عارضي ډول باندې د څه وخته پورې ورداخلېږي نو هغوی ته ایت شریف شامل نه دی. او دا ځکه چې:

الف: همدا ایت شریف په ﴿ وَمَا لِلظَّـٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴾ باندې ختم شوی دی او ښکاره ده چې د ظالمانو څخه خو دلته کافران مطلب دي نو شرمندګي هم یوازې همدوی پورې خاصه شوه.

ب: د مؤمنانو په باره کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ يَوْمَ لَا يُخْزِى ٱللَّهُ ٱلنَّبِىَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ ﴾ [التحریم ٨] یعني په دې ورځ کښې به الله ﷻ پیغمبر ﷺ او هغه کسان چې د ده سره یې ایمان راوړی دی شرمنده نه کړي.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې دوزخیان ټول شرمنده او خجالت دي البته چې د کافرانو رسوائي دائمي ده او د عاصیانو مؤمنانو ـ که دوزخ ته داخل شي ـ رسوائي موقته او لنډ مهاله ده.

---

(١) شعب الایمان للبیهقي ج١ ص١٣٦، المعجم الاوسط للطبراني ج٦ ص٢٥٠
(٢) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٤٣٨، تفسیر القرطبي ج٤ ص٣١١
(٣) مفردات الراغب ص١٤٧
(٤) تفسیر الطبري ج٤ ص٢١١، تفسیر البغوي ج١ ص٣٨٦

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ځکه دا معنی واخستله چې:
اول: په همدې ایتونو کښې الله ﷻ د مؤمنانو د خولو څخه حکایت کوي چې ﴿ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَـٰمَةِ ﴾ او مونږ د قيامت په ورځ مه شرمنده کوه (ای زمونږ ربه!). که بالفرض د قيامت شرمندګي کافرانو پورې مختصه وي نو الله ﷻ به مؤمنانو ته ذکر شوی سوال نه وی تلقين کړی.
دوهم: ګناهونه هم په ظلم کښې شامل دي، لکه چې صحابه وو کرامو ﷺ ويلي دي: «أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ»[1] زمونږ کوم يوه ظلم نه دی کړی. مګر کفر لوی ظلم دی چې: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ [لقمان:١٣] يعني: بې شکه شرک خامخا لوی ظلم دی.
هو! د قيامت په ورځ هيڅ ظالم کومکيان (انصار) نه لري، مګر دا ببله خبره ده چې الله ﷻ د يو مؤمن ګناهګار په باره کښې د چا شفاعت قبول کړي او يا يې بې له شفاعته د خپل بې نهايته فضل څخه مستفيد وګرځوي.
دريم: همدارنګه الله ﷻ د قيامت په ورځ مؤمنان نه شرمنده کوي مګر دا ببله خبره ده چې کوم يو ګناهګار په عارضي توګه د شرمندګی سره مخامخ شي. د دې نظير داسې دی چې الله ﷻ خو دوزخ د کافرانو دپاره تيار کړی دی ﴿ أُعِدَّتْ لِلْكَـٰفِرِينَ ﴾ [البقرة: ٢٤]. مګر په عارضي توګه عاصي مؤمن هم ورداخلبدلی شي. او يا داسې دی چې الله ﷻ مؤمنانو سړيو او مؤمنانو ښځو ته د جنتونو وعده ورکړې ده چې: ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ﴾ [التوبة: ٧٢] يعنې: الله ﷻ دواړو ډلو ته د ښهدونکو ويالو درلودونکو جنتونو وعده ورکړې ده. مګر کله چې د دوی د ايمان په کيفيت کښې څه نقصان واقع شوی وي په عارضي توګه دوزخ ته ورداخلول هم ورسره څه منافات نه لري.

## ايمان ته رابلونکی څوک دی؟

٩ـ ځينې مفسرين کرام وايي[2] چې په ايت شريف کښې د الْمُنَادی (اواز کوونکي) څخه قرآن کريم مطلب دي چې د قيامت د ورځې پورې ټول خلک ايمان ته رابلي، او نبي کريم ﷺ ترې نه شي مطلب کېدلی چې د ډېرو لږو خلکو يې دعوت اورېدلی دی.
اکثره مفسرين وايي[3] چې که څه هم په اصل مطلب کښې څه تفاوت نه واقع کېږي مګر بهتره دا ده چې نبي کريم ﷺ مراد شي، ځکه چې ټولو خلکو يې ايمان ته دعوت مستقيماً او يا بالواسطه اورېدلی دی او د قيامت د ورځې پورې يې لا اوري. د همدې کبله الله ﷻ د داعي (بلونکي) په نامه باندې ياد کړی دی چې فرمايي: ﴿ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ ﴾ [الأحزاب: ٤٦] يعني: ای پيغمبره! مونږ ته د داعي (بلونکي) په صفت استولی يې.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦۶۶
(٢) تفسير الطبري ج٣ ص٢١٢
(٣) تفسير البغوي ج١ ص٣٨۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د غفران او تکفیر تر منځ فرق

۱۰_ د ﴿ فَٱغْفِرْ لَنَا ﴾ کلمه د "غَفْر" څخه اخستله شوې ده او غفر پټولو ته وايي. د همدې کبله د اوسپنې خولۍ (خول) چې د مجاهد سر د ضرباتو او ګوزارونو څخه ساتي، د "مِغْفَر" په نوم يادېږي. او "غفران" او "مغفرة" دې ته وايي چې الله ﷻ خپل بنده د عذاب څخه وساتي[۱].

همدانګه د "كَفِّرْ" كلمه د تکفير څخه اشتقاق شوې ده چې مجرد يې "كُفْر" دی. او کفر هم پټولو ته وايي. دهقان ته ځکه "کافر" وايي چې د تخم دانې په ځمکه کښې پټوي[۲].

نو اوس پوښتنه دا پيدا کېږي چې په دې مقام کښې د دواړو سوالونو مطلب يو دی او که نه هر يو سوال بېل-بېل مطلب لري؟. نو مفسرينو کرامو پکښې لاندې تفسيرونه کړي دي:

الف: ځينې وايي چې دا د سوال مقام دی، د دې مقام سره دا مناسبه ده چې دواړه په يوه معنی باندې حمل کړی شي ترڅو په زياتې عاجزۍ او خوشامندو باندې دلالت وکړي[۳].

ب: او ځينې نور وايي چې غفران د هغې بښنې څخه عبارت دی چې الله ﷻ يې په خپل فضل باندې وکړي او د بنده د پلوه يې څه بدله نه وي ورکړه شوې. او تکفير هغې بښنې ته وايي چې بنده د خپلې ګناه څخه بدله اداء کړي[۴]، لکه د قتل کفاره، د قسم کفاره او داسې نور.

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې ښکاري چې د اصل وضعې سره زيات تناسب لري.

## ايا د "ذنوب" او "سيئات" څه فرق شته؟

۱۱_ "ذُنوب" د "ذَنْب" جمعه ده، ذنب په اصل کښې لکۍ ته وايي، ګناه ته ځکه دغه نوم ايښودل شوی دی چې ګناه د سړي دپاره د لکۍ مثال لري چې وروسته وروپورې نښتې ده او ترې نه جدا کېږي[۵].

"سَيِّئَات" د "سَيِّئَة" جمعه ده چې په اصل کښې د "سُوْء" څخه اخستله شوې ده، هر شی چې سړی په دنيا يا آخرت کښې خپه کوي هغه د سُوء په نامه يادېږي[۶]. د همدې کبله ګناه ته "سيئة" وايي چې ګناهګار بې غمه نه پرېږدي.

په ايت شريف کښې دواړه کلمې استعمالې شوې دي. نو مفسرين کرام يې لاندې تفسيرونه کوي:

الف: "ذنوب" د هغو ګناهونو څخه عبارت دی چې په حقوق الله کښې واقع شوې وي او "سيئات" هغو ګناهونو ته وايي چې په حقوق العباد کښې يې تحقق موندلی وي[۷].

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۴
(۲) مفردات الراغب ص۴۵۱
(۳) التفسير الكبير ج۹ ص۱۴۶
(۴) زاد المسير ج۲ ص۷۳
(۵) مفردات الراغب ص۱۸۴
(۶) مفردات الراغب ۲۵۲
(۷) تفسير المنار ج۴ ص۳۰۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: "ذنوب" د کبائرو څخه او "سيئات" د صغائرو څخه عبارت دي.

همدغه دوهم تفسير د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی[١]، نو د همدې کبله مونږ ته همدغه قول راجح ښکاري، اما خاص په همدې مقام کښې، چې دواړه کلمې استعمالې شوې دي. که نه نو هره يوه ټولو ګناهونو ته هم شاملېږي چې کله يوازې ذکره شي.

## سوال جواب

١٢_ که څوک وايي چې: د الله ﷻ څخه خو هيڅوک په خپله وعده باندې زيات ټينګ نه دی چې ضرور به خپلې وعدې پوره کوي نو بيا دا غوښتنه څه معنی چې ای زمونږ ربه! مونږ ته هغه څه راکړې چې د خپلو پيغمبرانو عليهم السلام په ذريعه دې راسره وعدې کړې دي؟!

مونږ وايو چې: د دې سوال دپاره لاندې جوابونه شوي:

الف: دا د سوال او زاريو مقام دی، په دې مقام کښې که څوک د خپل عجز د ښه څرګندونې په غرض په وعدو باندې وفا کول وغواړي څه باک يې نشته. ځکه چې دلته مطلب دا کېږي چې که په مونږ کښې د وعدو د پوره کولو څه شرائط نه وي هم مونږ ته په خپلو وعدو باندې وفا وکړه او د نواقصو څخه راتېر شه[٢].

ب: د ذکر شوې غوښتنې مطلب دا دی چې ای زمونږ ربه! مونږ ته توفيق راکړه چې د وعدو د پوره کولو جوګه شو. مونږ يقين لرو چې ته په خپله وعده باندې ډېر کلک يې مګر شک مو په دې کښې دی چې مونږ به په هغې ډله کښې شامل کړې چې ته ورسره خپلې وعدې عملا پوره کوې او که نه[٣]. په دې تقدير د غوښتنې خلاصه داسې راځېژي چې: مونږ درڅخه خاص د خپلو ځانو په باره کښې د وعدو پوره کول غواړو.

ج: دلته په دښمنانو باندې د برې غوښتنه مراده ده چې ای زمونږ ربه! مونږ په دښمنانو باندې په عاجله توګه بريالي کړې. او دا ځکه چې د قرآن کريم د نزول په وخت کښې به صحابه وو کرامو ﷺ همدا ډول غوښتنې کولې[۴]، چې د دښمنانو څخه ورته زيات خطرات متوجه وه او د دوی حوصلې يې راتنګې کړې وې.

مګر مونږ ته منځنی جواب په زړه پورې ښکاري چې د يو پلوه پکښې تاسيس دی نو د لومړي جواب څخه بهتر دی چې هلته تاکيد وه. او د بله پلوه مطلق دی نو د درېم جواب څخه بهتر دی ځکه هلته بې دليله مقيد ګرځول شوی دی.

---

(١) روح المعاني ج۴ ص١۶۴
(٢) تفسير کشاف ج١ ص١۵۵
(٣) التفسير الکبير ج٩ ص١۴٨
(۴) تفسير القرطبي ج۴ ص٣١٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "إجابة" او "استِجابة" څه فرق لري؟

١٣ـ ځينې مفسرين وايي چې "إجابة" مطلق جواب وركولو ته وايي، برابره خبره ده چې د منلو جواب وي او كه د نه منلو جواب. اما "استِجابة" چې ﴿ فَٱسۡتَجَابَ﴾ تري اخستله شوې ده، په هغه جواب كښې استعمالېږي چې د سوال په قبول باندې دلالت كوي[١].

## يادونه

١۴ـ په دې مقام كښې مونږ ته داسې برېښي چې هرڅوک په ذكره شوې طريقه باندې د الله ﷻ څخه سوالونه وكړي نو هغه به قبول شي. او دا څكه چې:

الف: ځرنګه چې د ذكرو پنځو سوالونو څخه وروسته الله ﷻ په ﴿ فَٱسۡتَجَابَ﴾ سره جواب وركړ نو معلومه شوه چې ټول سوالونه قبول شوي دي.

ب: ذكر شوي پنځه سوالونه الله ﷻ مونږ ته تلقين كړه چې زما څخه داسې-داسې سوالونه وكړئ نو ځرنګه چې د عريضې مضمون الله ﷻ پخپله راته توصيه كړ نو ظاهره داده چې همدغه توصيه شوې عريضه به مو بې قبوله پرېنږدي.

## سوال جواب

١٥ـ كه څوک وايي چې: د سوالونو د قبول مضمون خو په ﴿ فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ ﴾ سره پوره كېږي نو په دې كښې څه حكمت دی چې الله ﷻ همدغه مضمون د ايت د آخره پورې بنه اوږد بيان كړ؟

مونږ وايو: شايد چې لاندې نكاتو ته به اشاره وي، والله ﷻ اعلم:

الف: نېک عمل د سوالونو د قبول دپاره مونډ واقع كېږي نو بنه دا ده چې سړی يوازې په قول باندې اكتفاء ونه كړي او عمل هم ورسره ملګری كړي.

ب: د الله ﷻ په نزد اعزاز او اكرام د هيڅا ذاتي صفت نه دی چې يا سړيتوب پورې اړه ولري او يا ښځيتوب پورې، بالآخره يا د نسب پورې ارتباط پيدا كړي چې د فلاني خېلو سوالونه او نېک اعمال به د نورو څخه بنه قبلېږي. بلكې دلته فقط تقوی اعتبار لري او بس. په نسب كښې خو ټول انسانان يو برابر دي او د يوې مور (حواء رضي الله عنها) او د يوه پلار (آدم ﷺ) زوزات دي.

ج: هرڅوک كولی شي چې خپل سوالونه الله ﷻ ته نېغ په نېغه بدون د واسطې څخه وړاندې كړي، حتی زنانه هم په همدې باره كښې د نارينه وو څخه كمې نه دي.

د: په نېكو اعمالو كښې الله ﷻ يوازې د دغو پنځو (هجرت، د كور څخه وېستل، د الله ﷻ په لار كښې اذيت ګالل، وسلوال جهاد كول، بالآخره شهيد كېدل) نومونه څكه واخستل چې ترڅو مونږ په غوږ باندې ووهي چې په نېكو اعمالو كښې جهادي اعمال ډېره بهتري لري او د سوالونو په قبول كښې بې اثره نه دي.

---

(١) روح المعاني ج۴ ص١٦٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه. د سوالونو قبول په هغه شي پورې حصر نه دی چې سوال کوونکي يې نوم اخستی وي. په ذکر شوو پنځو سوالونو کښې د جنت نوم نه وه اخستل شوی خو په اجابت کښې جنتونه او ويالې هم ذکرې شوې او اجمالاً څه نورو نعمتونو ته هم اشاره وکړه شوه چې: ﴿ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ﴾ يعنې: د الله ﷻ په نزد نور ډېر ښه-ښه نعمتونه شته دي چې خپلو مقبولو بندګانو ته يې ساتلي دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

١٦_ که څوک وايي چې: ايا هجرت کول او د کور څخه اخراج يوه معنی نه ده؟

مونږ وايو چې: هجرت دې ته وايي چې سړی د خپلې اصلي وطن څخه لاړ شي او په بل فرعي وطن کښې ځای ونيسي. اما د کور څخه اخراج عام دی چې په بل فرعي وطن کښې يې ځای نيولی وي لکه چې عام صحابه کرام ﷺ په مدينه منوره کښې استوګن شوي وه، او يا نه وي استوګن شوي لکه ابو جُندل ﷺ چې د مکې معظمې څخه ويستل شوی وه خو بل چرته يې وطن نه وه نيولی او دربه در ګرځېده.

﴿ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١٩٦﴾ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۚ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٩٧﴾ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ﴿١٩٨﴾ ﴾

[١٩٦] (ای پیغمبره!) تا دې په ښارونو کښې د هغو کسانو ګرځېدل راګرځېدل تېر نه باسي چې هغوی کافران شوي دي.

[١٩٧] (حکه چې دا) ډېره لږه متاع ده (ژر تېرېدونکې ده) بيا (د مرګ څخه وروسته) د دوی استوګنځای دوزخ دی او (دا) ډېره ناکاره ارامګاه ده.

[١٩٨] مګر هغه کسان چې دوی د خپل رب څخه ډارېږي خاص دوی لره داسې جنتونه دي چې د ونو لاندې يې (څلور) ويالې بهېږي. په داسې حال کښې چې دوی به پکښې همېشه اوسېدونکي وي (دا مېلمستيا ده) مېلمستيا دالله ﷻ په نزد.

او هغه څه چې د الله سره دي هغه د نېکانو دپاره بهتر دي (د دنياوي قليلې متاع څخه).

## شان نزول او ارتباط

١_ د هجرت په اولو وختونو کښې مسلمانان په تنګسه کښې وه او د مکې مشرکانو په خوشالۍ کښې ژوند تېراوه او بې غمه په دنيا کښې تلل راتلل او تجارتونه يې کول نو ځينو مسلمانانو وويلې چې د الله ﷻ دښمنان څومره خوشاله دي او مونږ د لوږې مره کېږو. نو ذکر شوي

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایتونه نازل شوه(۱)، چې نبي کریم ﷺ یې مخاطب کړ او نور ټول مسلمانان یې په غوږ ووهل چې د کافرانو دا دبدبه څو ورځې ده، پام کوئ چې ورته وارخطا نه شئ.

۲ـ د ذکر شوي شان نزول څخه د ارتباط وجه هم د ورایه ښکاري چې په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د مسلمانانو دپاره صرف د آخرت د نعمتونو بیان کړی وه او د نیا نعمتونه یې د بې ارزښتۍ د کبله هیڅ نه وه ذکر کړي.

او په دې ایتونو کښې د دنیاوي نعمتونو همدغه بې اهمیتي بیانه شوې ده، چې لنډ مطلب یې لاندې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! پام کوئ چې د کافرانو په ډول او سنګار باندې ونه غولېږئ چې آباد ښارونه لري او په ډول-ډول وسائلو باندې د یو ښار څخه بل ښار ته انتقالات کوي، بازارونه یې په تجارتي اموالو باندې ډک دي او په رنګارنګ مزو چړچو لګیا دي. دا ټول ساز او سامان د څو لنډو ورځو څخه زیات پایښت نه لري. ځکه چې:

الف: الله ﷻ اراده لري چې د اسلام دین ته په ټوله دنیا باندې فوقیت ورکړي، نو ډېر ژر به دغه ټول ساز او سامان ستاسو دپاره غنیمت جوړ کړي.

ب: د دنیا ټول عمر د آخرت په نسبت د ډېر ناچیز شي څخه په غیر بل شی نه دی.

ج: په اوسني عصر کښې د وګړو عمرونه هم ډېر کم دي چې په عمومي توګه د شپېتو او اویا کالو په شاوخوا کښې اختتام پیدا کوي.

په هر تقدیر چې د کافرانو دغه لنډه تنګه استفاده ختمه شي نو د دوی خوشالي به هم پای ته ورسېږي او د اوسېدانې ځای به یې دوزخ وګرځي چې ډېر بد او ناکاره ځای دی.

۲ـ نو تاسو ته په کار دي چې د دنیا څخه متاع الغرور جوړ نه کړئ لکه څنګه چې ترې کافرانو جوړ کړی دی. او دا ځکه چې دنیا ستاسو دپاره متاع البلاغ ده چې په دغو څو ورځو ژوندون باندې خپلو ځانونو ته دائمي ژوند ګټلی شئ، او دا هله چې د خپل رب څخه وډار شئ او احکامو ته یې په ښه صورت عملي بڼه ورکړئ.

نو په آخرت کښې به تاسو ته الله ﷻ داسې جنتونه درکړي چې د ونو لاندې به یې ویالې بهېږي. او علاوه په دې، تاسو به هلته د الله ﷻ په نزد د میلمنو په حیث پالل کېږئ او پرېښتې به درته ځي او راځي او سلامونه به درباندې اچوي.

۳ـ نو اوس پوه شوئ چې تاسو ابرار (نېکان) څومره بهتر یاست او کوم شی چې تاسو ته د الله ﷻ په نزد درکول کېږي هغه تاسو ته د دنیاوي ساز او سامان څخه څومره افضل دی.

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۹۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١ ـ په اوسني عصر کښې ښېنې خلک د کافرانو په وسائلو باندې غولېږي چې الوتکې جوړوي، موټرې جوړولی شي، مخابراتي وسائل یې فعال دي، بالآخره ـ په اصطلاح ـ په ګېډه ماړه او په جامه پټ دي. بالمقابل مسلمانان نه ذکر شوي وسائل جوړولی شي او نه خپلواک سیاسي موجودیت لري چې د بل مملکت د اغېز لاندې نه وي.

د دوی دا خیال دی چې ـ العیاذ بالله ـ کفري دولتونه د کفر د کبله مخ په وړاندې تللي دي. خو خبره داسې نه ده، هغوی خپل عقلونه په دنیاوي کارونو کښې په کار اچولي دي او د مسلمانانو عقلونه معطل پاتې دي، نه ترې دنیاوي کار اخلي چې اختراعات وکړي او نه ترې اُخروي استفاده کوي چې اختلافات د منځه یوسي او متفق او متحد شي او بالآخره ټول اسلامي دولتونه یو مشر وټاکي او د یو بیرغ لاندې سره راټول شي.

## سوال جواب

٢ ـ که څوک وایي چې: د "لَکِنْ" کلمه په عربي ژبه کښې د دې دپاره استعمالېږي چې د تېر شوي کلام څخه مخاطب ته څه توهم وړاندې شوی وي چې د هغه مخه پرې ونیوله شي. نو په ﴿ لَكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ ﴾ کښې هغه توهم کوم یو دی؟

مونږ وایو چې: په تېر کلام کښې دنیا د قلیلې متاع په نامه یاده شوې وه شاید چې چا توهم کړی وي چې د هر چا دپاره به دنیا قلیله متاع وي، نو الله ﷻ دغه توهم دفعه کړ چې د متقیانو دپاره ژر تېرېدونکې متاع نه ده بلکې دوی د همدې دنیا په ذریعه دائمي جنتونو ته داخلېږي. یا په بل عبارت، دنیا د کافرانو دپاره متاع الغرور ده مګر د مؤمنانو دپاره متاع البلاغ ده چې دائمي کور ته وړباندې رسېږي.

همدا مضمون لاندې دوه شاعرانو څومره په ښه نظم کښې ځای کړی دی:

الف: مَا أَحْسَنَ الدِّيْنُ والدُّنْيَا إِذَا اجْتَمَعَا :: وَأَقْبَحَ الْكُفْرُ وَالْإِفْلَاسُ بِالرَّجُلِ[١]

یعني: څومره ښه ښکاري چې یو سړي ته دین او دنیا دواړه ورکړی شي. او څومره بد ښکاري چې کفر او خواري په سړي باندې راچاپېر شي.

ب: ښـه ده ښـه ده دا دنیـا :: چې توښه ده د عُقبیٰ
په دنیا کښې بدي نشته :: چې بدي نه وي له تا
د دنیـا پـه بـازار کـېږي :: د هغه جهان سودا[٢]

---

(١) مختصر المعاني ص٣٤٧

(٢) د عبد الرحمن مومند دیوان

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَمَن يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشْتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٩٩﴾ ﴾

[۱۹۹] او بې شکه د اهل الکتابو څخه ضرور هغه څوک هم دي چې په الله ﷻ باندې (په سمو معناوو کښې) ایمان راوړي او په هغه کتاب باندې هم چې تاسو ته نازل شوی دی او په هغه باندې هم چې دوی ته ورنازل شوی دی (لکه تورات، انجیل، زبور) په داسې حال کښې چې دوی خاص الله ﷻ لره عاجزي کوونکي دي.

دوی د الله ﷻ ایتونه په ناچیزه پیسو نه خرڅوي. همدغه اهل الکتاب چې دي همدوی لره د دوی د رب ﷻ په نزد د دوی اجر دی. یقینًا الله ﷻ تونډ حسابي دی.

## شان نزول

که څه هم مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت شریف د شان نزول په باره کښې متعدد روایتونه لیکلي دي[۱]، خو مونږ یوازې په لاندې یوه روایت باندې اکتفاء کوو:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله د حبشې پاچا (النجاشي) وفات شو نو جبرائیل امین ﷺ نبي کریم ﷺ ته په همغې ورځ کښې خبر ورکړ نو نبي کریم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته امر وکړ چې: «أخْرُجُوا فَصَلُّوا عَلَى أخٍ لَكُمْ مَاتَ بِغَيْرِ أرْضِكُمُ النَّجَاشِيّ» یعنې: بهرون لاړ شئ او په خپل مسلمان ورور باندې د جنازې لمونځ وکړئ چې ستاسو د ځمکې څخه په غیر په بله ځمکه کښې وفات شوی دی چې په نجاشي باندې شهرت لري.

نو نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ﷺ د بقیع مقام ته ووتل او الله ﷻ ورته د نجاشي جنازه ښکاره کړه او څلور تکبیره لمونځ یې ورباندې وکړ. نو منافقانو پروپاګند شروع کړ چې ده (نبي کریم ﷺ) ته وګورئ چې په تور حبشي نصراني باندې د جنازې لمونځ اداء کوي چې هیڅکله یې نه لیدلی دی او نه د ده په دین باندې دی. نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو[۲].

همدغه ذکر شوی مضمون د ابو هریره ﷺ په روایت کښې لږ څه مفصل روایت شوی دی[۳].

## ارتباطونه

۱ـ په دې سورت کښې زیات بحث د اهل الکتابو په باره کښې تېر شو چې دوی د الله ﷻ په ایتونو باندې ناچیزه پیسې اخلي او د اسلام د پرمختګ په لاره کښې خنډ واقع کېږي او داسې نور.

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۷۵
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۸۸
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۱۷۸، صحیح مسلم ج۱ ص۳۰۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د دې دپاره چې د يو پلوه په هغو اهل الکتابو باندې څوک طعن ونه وايي چې هغوی په ايمان باندې مشرف شوي وه، او د بله پلوه د همدغو مؤمنانو اهل الکتابو قدرداني وشي چې نور اهل الکتاب هم ايمان راوړلو ته ترغيب شي. نو الله ﷻ په قرآن کريم کښې د دوی تذکر وکړ چې د قيامت د ورځې پورې به يې مسلمانان په لمونځونو کښې لولي.

۲ـ په وړاندې ايتونو کښې د مهاجرينو فضيلت بيان شوی وه او دلته د هغو انصارو فضيلت ته اشاره شوې ده چې هغوی ته په لومړي خل مسلمانان ورمهاجر شوي وه چې د حبشې پاچا نجاشي وه.

۳ـ هلته مؤمنانو ته لوی اجرونه ښودل شوي وه او دلته واضحه شوې ده چې دغه اجرونه يوازې دوی پورې مختص نه دي بلکې هرڅوک چې د دوی کړنلاره تعقيبوي هغوی ټول ورسره پکښې شريک دي.

## د مطلب خلاصه

يعني: يقيناً ټول اهل الکتاب يو برابر نه دي، په دوی کښې داسې خلک هم شته چې په الله ﷻ او په ټولو اسماني کتابو باندې په واقعي توګه ايمان راوړي، دوی الله ﷻ ته عاجزي کوي، هر کتاب چې ورواستوي هغه مني او نه پکښې تحريف کوي او نه پرې پيسې اخلي.

دوی د منافقانو په شان نه دي چې محض په خوله يې ايمان راوړی دی خو په زړونو کښې يې عقيده نشته چې يا په نبي کريم ﷺ پسې پروپاګند کوي او يا د مسلمانانو پورې پوچ او پاش وايي.

نو څرنګه چې د اهل الکتابو ذکر شوې ډله واقعاً مؤمنان دي نو ضرور دوی لره هم د خپل رب په نزد لوی اجرونه ساتل شوي دي چې ډېر ژر به ورکړی شي څکه چې حساب کتاب په چالاکۍ سره راروان دی.

## توضيحات

۱ـ د حبشې پاچا چې هر يو نوم ولري هغه د نجاشي په نامه يادېږي، لکه د مصر پاچا ته چې فرعون وايي. د هغه پاچا (چې ذکر شوی ايت يې په حق کښې نازل شوی دی) "اصحمه" نوم وه چې په حبشي ژبه کښې د عطيه (ورکړی شوي) معنی ورکوي[1].

## يادونه

۲ـ د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې کله نجاشي مړ شو نو مونږ (صحابه کرامو رضي الله عنهم) به دا خبره سره کوله چې د نوموړي په قبر باندې نور (رڼا) ليده کېږي[2]. لکه چې نن ورځ مونږ (د دې زماني مسلمانان) دا خبره کوو چې د شهيدانو په قبرونو باندې انوار (رڼا ګانې) ليدلې کېږي.

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۷۳

(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۴۴۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریع الحساب څه معنی؟

٣_ الله ﷻ توند حسابي دی چې د قیامت ورځ ډېر ژر راتلونکې ده، او دا څکه هر شی چې راروان وي هغه نژدې وي چې سات په سات نژدې کېږي او هر شی چې تېر شي هغه کړی په کړی لرې کېږي.

او یا دا معنی چې د الله ﷻ علم کامل دی، معلومات یې ټول غونډ کړي دي، حاجت نشته چې د دوستی د تکمیل دپاره وخت ته ارتیا پاتې شي. او هم یې قدرت پوره دی، د سترګو په رپ کښې د هر چا د حساب کتاب تصفیه کولی شي او هیڅ شی ترې بې حسابه نه شي پاتې کېدلی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟ وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾﴾

[۲۰۰] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو صبر وکړئ او مصابره وکړئ (چې ستاسو صبر په دښمنانو باندې د پاسه شي) او مرابطه وکړئ (چې ستاسو د سرحد ساتنه د دښمنانو په سرحد ساتنه باندې د پاسه شي). او د الله ﷻ څخه وډار شئ شاید چې تاسو فلاح (کامیابي) ترلاسه کړئ.

## ارتباط

په دې سورت کښې الله ﷻ ډېر احکام او ډېر هدایات بیان کړي دي چې ټولو ته عملي جامه وراغوستل د دې پورې متوقف دي چې همدغه ذکر شوي ایت شریف د هر څه څخه مخکښې عملي کړی شي. او دا څکه چې دلته په څلورو مهمو شیانو باندې توصیه شوې ده چې تقریبًا د ټول شریعت عملي کول ورپورې تړلي دي. هغه څلور شیان دا دي: صبر، مصابره، مرابطه او تقوی. چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای مومنانو! د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ د احکامو منونکي جوړ شئ نو د هر څه څخه وړاندې ثابت قدمه اوسئ، تکالیف وګالئ او د ګناهونو څخه ځېل ځانونه اداره کړئ. ستاسو دښمنان د خپلو باطلو ادیانو دپاره زښت ډېر مشقتونه ګالي او هم په زیات قوت سره ستاسو په مقابل کښې تیاری نیسي. نو باید چې تاسو د هغوی څخه ډېر تکلیفونه تېر کړئ او هم ترې ډېر وسائل برابر کړئ ترڅو په هغوی باندې د پاسه شئ.

په دې ټولو باندې د پاسه د الله ﷻ څخه وډار شئ شاید چې تاسو فلاح حاصله کړئ او په الهي امتحاناتو کښې کامیاب شئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ مونږ د [البقرة:٤٥] ايت لاندي د صبر دپاره دري معناوي ذكري كړي دي، خو دلته ورباندي د شرعي حكم په اعتبار سره د صبر ډولونه وراضافه كوو چي په لاندي پنځو ډولونو ويشل كېږي[1]:

الف: واجب صبر دا دى چي په واجبي احكامو باندي سړى خپل خان كلك كړي او د قطعي حرامو څخه خپل خان اداره كړي او بالآخره چي په هغو مصيبتونو باندي يې پښې ونه ښويږي كوم چي د الله ﷻ د پلوه پري نازلېږي.

ب: مستحب صبر دې ته وايي چي د مكروهاتو څخه خپل خان وساتي.

ج: حرام صبر دا دى چي خپل خان يا د لوږي مړ كړي او يا د تندي، لكه چي په نني عصر كښې ورته "بوک هرتال" وايي. يا د مخمصي په حالت كښې قطعي حرام (د خنزير غوښه، وينه، مرداره) ونه خوري ترڅو مړ شي، يا د هلاكت په موقع كښې خپل خان تم كړي چي يا وسوزي، يا يې مار او لړم وچيچي او داسي نور.

د: مكروه صبر دې ته وايي چي خوراک او څښاک پرېږدي تردي چي بدن ته ضرر ورسي.

هـ: مباح صبر دا دى چي د داسي فعل څخه خپل خان وساتي چي د هغه كول او نه كول دواړه يو برابر وي.

### مصابره څه معنى؟

٢ـ د ﴿ وَصَابِرُواْ ﴾ كلمه د "مُصَابَرَة" څخه اخستله شوي ده، مصابره دې ته وايي چي سړى په صبر كښې په مقابل لوري باندي غالب شي.

نو په دې خاى كښې يې معنى داسي كېږي چي: تاسو د اسلام په لاره كښې دومره قوي اوسئ چي د كافرانو صبر مات كړئ او په هغوى باندي ستاسو صبر دپاسه شي چي د هغوى څخه زيات تكاليف وګالئ او د هغوى څخه زياتې لوږي تندي تېري كړئ.

### د مُرابطې معنى

٣ـ د ﴿ وَرَابِطُواْ ﴾ كلمه د "رِبَاط" ـلكه "ظِهَار"ـ څخه اخستله شوي ده چي اصل مصدر (مجرد) يې "رَبْط" دى. "ربطُ الفَرَس" په يو خاى كښې د اس تړلو ته وايي چي د هغه خاى حفاظت او ساتنه پكښې مطلب وي[2].

دلته تري يوازي د آس تړل مراد نه دي بلكې د هغو ټولو وسائلو برابرولو ته شاملېږي چي په وسلوال جهاد كښې ورته ضرورت پېښېږي[3].

---

(١) نشر المرجان من مشكلات القرآن ص٢٣٧

(٢) مفردات الراغب ص١٩٠

(٣) تفسير الطبري ج٣ ص٢٢٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د جهادي وسائلو په برابرولو کښې په دښمن غلبه پيدا کړئ، نو د دښمن د اسونو، توپونو، الوتکو او نورو وسائلو په پرتله بايد تاسو اسونه، توپونه، الوتکې او نور وسائل زيات ولرئ. هغوی چې د خپل مملکت د پولو په ساتنه کښې څومره زيار وباسي تاسو مکلف ياست چې تاسو پکښې لا زياتې هلې ځلې وکړئ او ډېرې بې خوبې پکښې تېرې کړئ. هغوی چې د خپل باطل مسلک حفاظت کوي ايا تاسو ته په کار نه دي چې د خپل حق مسلک زيات حفاظت وکړئ؟.

## په ياد ولرئ!

۴ــ په ياد ولرئ څومره تخنيکي او ساينسي علوم چې د جهادي وسائطو جوړول ورپورې توقف لري، ټول په مسلمانانو باندې فرض کفائي دي. که دوی دغسې انجينران ونه لري نو د ټولو غاړې بندې دي ځکه چې الله ﷻ د جهادي وسائطو په تيارولو باندې امر کوي چې: ﴿ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ ٱلْخَيْلِ ﴾ [الأنفال: ۶۰] يعني: او تاسو د کافرانو د مقابلې دپاره هغه څه تيار کړئ چې وسه مو کېږي، چې هغه د هر ډول قوت او په پولو کښې د اسونو د تړلو څخه عبارت دي.

خو افسوس چې په نني عصر کښې اسلامي دولتونو ذکره شوې دنده تر پښو لاندې کړې ده او پخپله جهادي وسائط نه شي جوړولی او کفري دولتونو ته احتياج دي. که بالفرض نبي کريم ﷺ ژوندی وی او يا راشده خليفه ګان ژوندي وی نو نن به مسلمانان د اتوم بم خاوندان وی او ټول اسلامي دولتونه به يو اسلامستان وی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ــ که څوک وايي چې: په يوه حديث کښې د لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول د رباط په نامه باندې ياد شوی دی چې: «فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ»[١] نو دغه رباط دی، نو دغه رباط دی، نو دغه رباط دی. يعني هغه رباط دی چې په ﴿ وَرَابِطُوا ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده. حال دا چې تاسو ﴿ وَرَابِطُوا ﴾ په جهادي انتظار او د وسائلو برابرولو سره تفسير کړ، ايا د ماثور تفسير پرېښودل جواز لري؟

مونږ وايو چې: په حديث شريف کښې بليغه تشبيه ده چې د تشبيه حرف ترې حذف شوی دی نو تقدير يې داسې کېږي چې: "فَذَلِكُمْ كَالرِّبَاطِ"[٢] يعني: د يوه لمانځه څخه وروسته بل لمانځه ته انتظار ويستل داسې دي لکه چې يو مجاهد په مورچه کښې ناست وي او د دښمن د مقابلې انتظار وباسي. نو بنا په دې ذکر شوی تفسير، د حديث شريف سره څه منافات نه لري.

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص١٨

(٢) روح المعاني ج۴ ص١٧۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برسېره په دې، خینو مفسرینو کرامو[١] هغه ټول احادیث راغونډ کړي دي چې رباط يې په جهادي انتظار باندې تفسیر کړی دی او د همدې رباط فضائل پکښې بیان شوي دي، زمونږ په ګومان چې د څلوېښتو احادیثو څخه به زیات وي. مونږ د دې کبله رانقل نه کړه چې دا کتاب د ډېرو اوږدو بحثونو حوصله نه لري. فقط په لاندې یوه حدیث باندې اکتفاء کوو:

امام البخاري علیه الرحمه د رباط في سبیل الله دپاره یو باب اېښی دی او اورد حدیث يې پکښې روایت کړی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا»[٢] یعنې: یوه ورځ د الله ﷻ په لار کښې انتظار ویستل د دنیا څخه او د هغه څه څخه بهتر دي چې په دنیا کښې دي (یعنې که خیرات کړی شي).

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په توفیق د "آل عمران" سورت پښتو ترجمه او تفسیر پای ته ورسېد

وَالحَمدُ للهِ ﷻ والنِعمةِ والشُكر

اللّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمُرَابِطِينَ فِيْ سَبِيْلِكَ وَمِنَ الدَّاعِيْنَ إِلَى سَبِيْلِكَ. آمِيْنَ.

تقریباً ١٣٧٢/٧/١٩ هـ ش.

(١) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٤٤٢؛ الدر المنثور ج٢ ص٤١٨؛ تفسیر القرطبي ج٤ ص٣٢٣

(٢) صحیح البخاري ج١ ص٤٠٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

# النساء (٤)



Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

١ـ ددې سورت اعداد په لاندې ډول دي[١]:

الف: دا سورت یو سلو شپږ اویا (١٧٦) ایتونه لري.

ب: د کلماتو شمېر یې درې زره او پنځه څلویښت (٣٠٤٥) دي.

ج: د حرفونو شمېر یې شپاړس زره او دېرش (١٦٠٣٠) دي.

٢ـ دا سورت مدني دي چې د هجرت څخه وروسته نازل شوی. او خکه ورباندې دا نوم (النساء) ایښودل شوی دی چې:

الف: ترڅو د ښځو هغه بې عزتي د منځه لاړه شي چې د جاهلیت په زمانه کښې به خلکو کوله؛ چې په میراث کښې به یې لورگانو ته برخه نه ورکوله او هره مېرمن به د مېړه د مرگ څخه وروسته د ترکې (پاتې شوي مال) څخه شمېرل کېده، نو د مېړه وارثانو به اختیار درلود چې پخپله یې په نکاح واخلي او یا یې بل چا ته په نکاح ورکړي او مهر یې پخپله واخلي.

او دا خکه چې په قرآن کریم کښې د سورة الرجال (د سړیو سورت) په نامه سورت نشته او د سورة النساء (د ښځو سورت) په نوم یو دغه سورت دی ـ چې اوس د بحث لاندې دی ـ او بل د قرآن کریم پنځه شپېتم (٦٥) سورت دی[٢] چې "سورة الطّلاق" هم ورته وایي.

ب: په دغه سورت کښې زیات بحثونه زنانه وو پورې مربوط دي[٣]، لکه نکاح، طلاق، میراث او داسې نور. هو! دا پکښې مطلب نه دی چې ټول بحثونه یې همدغه دي.

## د دې سورت محتویات

٣ـ د قرآن کریم د سورتونو عناوین د بشري کتابونو په څېر نه دي چې د هر عنوان لاندې د همغه مربوط بحثونه ذکر کېږي او بس، بلکې په قرآن کریم کښې د هر عنوان لاندې مختلف موضوعات شرحه کېږي خو د دې سره‌ـسره د موضوعاتو په منځو کښې یې هیڅ اختلاف او ضدیت نه لیده کېږي، ته به وایې چې مختلفې ملغلرې دي او په یوه مزي کښې پېیلې شوې او یو لاړ ترې جوړ شوی دی. دا کار هم د قرآن کریم د معجزاتو څخه شمېرل کېږي او سړی پوهېږي چې دا کار د بشر د قدرت څخه وتلی دی. نو د همدې کبله مونږ د ذکر شوي سورت ټول محتویات د انحصار په توگه نه شو لیکلی فقط د مثال په توگه د لاندې محتویاتو نمونه اخلو:

الف: دا سورت په عمده توگه په دوه برخو وېشل شوی دی، په لومړۍ برخه کښې یې د رعیت احکام بیان شوی دی، لکه میراث او نور. او په دوهمه برخه کښې یې د آمر پورې اړوند مسائل توضیح شوي دي، چې د آمر اطاعت کول او داسې نور.

---

(١) تفسیر الخازن ج٢ ص٢

(٢) صحیح البخاري ج٢ ص٧٢٩

(٣) تفسیر تیسیر الرحمن ج١ ص١٣٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې سورت کښې نهه مهم مقصدونه بيان شوي دي(۱)، لکه صله رحمي، د ميراث وېشل، د جهاد مربوط احکام او داسې نور.

ج: د اهل الکتابو او منافقانو پورې مربوط مسائل.

د: د قرابت او مصاهرت احکام او داسې نور.

مګر دغو ټولو مهمو مطالبو ته د دې سورت لومړنی ايت اشاره کوي، ته به وايې چې دغه يو ايت د دې ټول سورت دپاره يو عنوان دی او ذکر شوي محتويات يې بابونه او فصلونه دي.

## د "النساء" او "آل عمران" د سورتونو ارتباط

۴ـ ذکر شوي دواړه سورتونه د لاندې وجوهو د کبله سره يو تربله ارتباط لري:

الف: په دواړو سورتونو کښې د اهل الکتابو (يهودو او نصاراوو) بحث شوی دی.

ب: په دواړو کښې د منافقانو په هکله څېړنه روانه ده.

ج: په دواړو کښې د جهاد احکام بيان شوي دي.

د: په دواړو کښې د اسلام د مخالفينو سره مباحثې ذکر شوې دي او داسې نور.

هـ: هلته د احد د غزا بيان وه چې ډېرې ښځې پکښې کونډې او ډېر ماشومان پکښې يتيمان شوه. او دلته د همدغو کونډو او يتيمانو په هکله هدايات نازل شوي دي چې د دوی سره داسې کوئ او داسې مه کوئ.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا (۱) ﴾

د بې اندازې مهربان (او) بې اندازې رحم والا الله ﷻ په نامه.

[۱] ای خلکو! د خپل هغه رب څخه ودار شئ (عصيان ترې مه کوئ) چې تاسو يې د يو نفس (آدم ؑ) څخه پيدا کړي ياست او د همدغه نفس (آدم ؑ) څخه يې د ده جوړه (بي بي حواء رضي الله عنها) هم پيدا کړې ده. او د دوی دواړو څخه يې ډېر نارينه او (ډېرې) ښځينه خواره واره کړي دي.

او د هغه الله ﷻ څخه ودار شئ چې تاسو يې په نامه باندې په خپلو منځو کښې يو تربله سوالونه کوئ، او هم د خپلويو څخه ودار شئ (چې پرې يې نه کړئ) بې شکه الله ﷻ په تاسو باندې خارونکی دی (ستاسو ټول کړه وړه څاري).

(۱) العوامر ج۲ ص۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په دې مقام کښې مونږ ته د تېر شوي سورت د آخرنيو ايتونو او د دې سورت د لومړنيو ايتونو ارونډ د لاندې وجوهو د کبله په نظر راځي:

۱ـ د هغه سورت په آخرنيو ايتونو کښې اشاره شوې وه چې الله ﷻ د نارينه وو او د زنانه وو په منځکښې د اجر په ورکولو کښې په څه امتياز باندې قائل نه دی، او د دې سورت په لومړني ايت کښې د همدې مطلب تاکيد شوی دی چې ولې به په امتياز باندې قائل کېږي چې دوی ټول د يو نفس څخه خلق کړی شوي دي.

۲ـ هغه سورت په تقوی باندې پای ته رسېدلی وه او دا سورت په تقوی باندې پيل کېږي، ته به وايې چې دا سورت د هغه دپاره تکميلوونکی دی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې ای خلکو! د خپل رب څخه ووار شئ، هغه رب چې تاسو يې د نشت څخه پيدا کړي ياست، حق يې وپېژنئ او په ربوبيت سره يې ومنئ، نافرمانی ترې مه کوئ، خصوصاً په هغو احکامو کښې چې د حقوق العباد (د بندګانو د حقوقو) په باره کښې يې درنازل کړي دي. او دا خکه چې تاسو ټول د يو اصل څخه ياست او ټول د آدم اولاد (زوزات) ياست، حتی ستاسو مور (حواء رضي الله عنها) يې هم د همدغه يو اصل څخه جوړه کړې ده، ترڅو تاسو په يو بل باندې زړه سوی او ترحم ولرئ او په ښه مينه او محبت سره ژوند وکړئ. نو په حقيقت کښې نارينه د ښځو څخه بېل نه دي او ښځې د نارينه وو څخه، که څه هم هره يوه ډله په خپل ذات کښې پرېمانه افراد لري ته به وايې چې هره يوه ډله د بلې څخه بېله ده خو واقعيت داسې نه دی.

۲ـ نو ای خلکو! د الله ﷻ د احکامو منه په هر وخت کښې وکړئ که څه هم تاسو ته د تاوان په بڼه څرګندېږي هسې نه چې کله مو خپل مطلب وي نو د الله ﷻ زيات تعظيم کوئ او حتی يو تربله سره د همده ﷻ په نامه باندې سوالونه کوئ چې ستا دې په الله ﷻ قسم وي چې زما د مال پورې غرض مه کوه او د الله ﷻ په خاطر فلانی څيز راکړه، خو کله چې درته همدغه الله ﷻ هدايت وکړي چې حقدارانو ته حقوق ورکړئ نو بيا پرې سترګې پټوئ او خپلې غاړې نه خلاصوئ.

۳ـ ای خلکو! همدارنګه د خپلوليو څخه هم ووار شئ او صله رحمي مه پرېکوئ او په يتيمانو باندې ظلم او تېری مه کوئ، څکه چې يقيناً الله ﷻ په تاسو باندې څارونکی دی چې ستاسو هيڅ کره وړه ترې پټ نه دي او د قيامت په ورځ به درسره محاسبه وکړي.

## توضيحات

۱ـ دا د الله ﷻ ډېر لوی نعمت دی چې ټول انسانان يې د يوه پلار او يوې مور څخه زېږولي دي چې په اول وخت کښې يوه کورنۍ وه او د وختونو په تېرېدلو سره ترې په ملياردونو کورنۍ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوړې شوې او لا لګيا دي ترې جوړېږي، كه دغسې نه وي نو دغه مينه او محبت، ترحم او زړه سوى چې په انسانانو كښې شته دا به نه وي، او يو به په بل باندې دومره نه دردېدلى څومره چې اوس پرې دردېږي. ذكر شوى ايت شريف مونږ همدغه لوى نعمت ته متوجه كوي چې د دې نعمت شكريه وكړئ، په يو بل باندې ظلم او تېرى مه كوئ، حقوق يې د پښو مه لاندې كوئ او په احترام ورته قائل شئ.

## يادونه

۲ـ د [البقرة:۳۵] ايت لاندې مونږ د بي بي حواء رضي الله عنها د پيدايښت په باره كښې څه ليكلي دي، هيله ده هغه دلته يو ځل بيا وكتل شي، بيا ليكلو ته يې ضرورت نه ګورو.

## سوال جواب

۳ـ كه څوك وايي چې په دې مقام كښې خو د "رِجَال" څخه "ذُكُور" (نارينه) او او د "نِسَاء" څخه "اِنَاث" (ښځينه) مراد دي[۱]، چې صغار او كبار (واړه او لويان) ټول پكښې شامليږي. نو په دې كښې څه حكمت دى چې "ذُكُورًا كَثِيْرًا وَاِنَاثًا" نازل نه كړى شو ترڅو په مراد باندې صراحت كړى شوى وى؟

مونږ وايو چې: د آدم عليه السلام او د بي بي حواء رضي الله عنها د اولادې سلسله په ماشومانو باندې نه ساتله كېږي بلكې د سړيو او ښځو په ذريعه باندې ترقيامته پورې دوام پيدا كوي، نو د اولاد څخه په داسې كلماتو باندې تعبير ونه كړى شو چې ماشومانو ته هم شامل شي، دا خكه چې د ﴿ وَبَثَّ مِنْهُمَا ﴾ سره ښه مناسبت نه لري.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ كه څوك وايي چې: په دې كښې څه حكمت دى چې د سړيو تولنه يې په ﴿ كَثِيرًا ﴾ سره تاكيد كړه او د زنانه وو د تولنې سره يې د كثرت او زياتوالي صفت ذكر نه كړ؟

مونږ وايو چې: د زنانه وو د تولنې سره هم د كثرت صفت مراد دى خو ذكر ته يې خكه حاجت نه وه چې:

الف: د سړيو كثرت او ډېروالى بالكل څرګند او واضحه دى چې بازارونه ورباندې ډك دي، او د ښځو كثرت پټ دى نه به وايي چې دوى ډېرې نه دي، لږې دي[۲].

مګر دا جواب كمزورى دى خكه چې په دې مقام كښې خبره په ليدلو باندې بنا نه ده بلكې په واقعيت باندې بنا ده او په واقع كښې خو زنانه هم ډېرې دي.

ب: ښه جواب دا دى چې د مېرمنو ډېروالى د سړيو د ډېروالي څخه په واضحه توګه معلومېده. او دا خكه چې په هره يوه كورنۍ كښې د يوه سړي څخه اضافه تحقق نه شي موندلى او مېرمنې خو

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۱۸۲
(۲) التفسير الكبير ج۹ ص۱۶۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پکښې آن د څلورو پورې تحقق موندلی شي، لکه چې لږ وروسته يې بيان راځي. نو کله چې سړي ډېر شوه نو مېرمنې خو ښې ډېرې شوې.

## أرحام څه معنی؟

۴ــ "أرْحَام" د "رَحِم" ــ لکه "فَخِذ" ــ جمعه ده او "رَحِم" د زنانه وو د ګېډې هغې برخې ته ويلی شي په کوم کښې چې جنين (ماشوم) تغذيه کېږي[1].

دا نوم ورته څکه ايښودل شوی دی چې د خپلوۍ سلسله په همدغه ځای کښې د اشتراک څخه پيل کېږي، او خپلوي خو د درجو په تفاوت سره د رحمت باعث جوړېږي. د همدې کبله الله ﷻ د انسانانو په خلقت کښې همدغه طريقه غوره کړه ترڅو دوی يو تربله خوږې اړيکې ولري او خوږ ژوند وکړي که نه نو الله ﷻ خو کولی شو چې هر څوک يې مستقل- مستقل پيدا کړی وی، خو بيا به يې اوسنۍ مينه او محبت نه درلودی.

## خپلوي ټينګول واجب دي

۵ــ د ايت شريف څخه د ورايه څرګندېږي چې د خپلوانو سره خپلوي ټينګول واجب دي. همدغه مضمون په ډېرو احاديثو کښې هم روايت شوی دی، نو څرنګه چې د ټولو رانقلول دروند کار دی، مونږ دلته په لاندې يوه حديث شريف باندې اکتفاء کوو چې:

نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ»[2] جنت ته به د خپلوۍ پرې کوونکی داخل نه شي. يعنې تر هغه چې د دغه بد عمل جزا ونه ګوري.

﴿وَءَاتُوا۟ ٱلْيَتَـٰمَىٰٓ أَمْوَٰلَهُمْ ۖ وَلَا تَتَبَدَّلُوا۟ ٱلْخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِ ۖ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَٰلِكُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا ﴿٢﴾ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا۟ فِى ٱلْيَتَـٰمَىٰ فَٱنكِحُوا۟ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثْنَىٰ وَثُلَـٰثَ وَرُبَـٰعَ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ فَوَٰحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُوا۟ ﴿٣﴾﴾

[۲] او يتيمانو ته خپل مالونه ورکړئ، او پليت (حرام) مال په پاکيزه (حلال) مال سره مه بدلوئ (چې پليت مال د پاکيزه مال په بدل کښې وخورئ). او د دوی (يتيمانو) مالونه د خپلو مالونو سره (ضميمه کړی شوی) مه خورئ. بې شکه دا کار کبيره ګناه ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۹۶

(۲) صحيح البخاري ج ۲ ص ۸۸۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٣] او که تاسو دارېدلی چې په یتیمانو کښې به انصاف ونه کړئ (او تقوی به مو خرابه شي نو د خپلې تقوی خیال په خپلو مېرمنو کښې هم وساتئ) نو هغه په نکاح واخلئ چې تاسو ته د ښځو څخه سپېځلې ښکاري، دوه-دوه، درې-درې، څلور- څلور.

نو که تاسو (د متعددو مېرمنو په باره کښې هم) دارېدلئ چې عدالت به ونه کړئ نو یوه ښځه (په نکاح واخلئ او د تعدد څخه صرف نظر شئ)، او یا هغه وینځې (غوره کړئ) چې ستاسو ښي لاسونه یې مالکان شوي وي (په همدوی اکتفاء وکړئ).

دا (ذکر شوې کړنلاره دې ته) نژدې ده چې تاسو ظلم ونه کړئ (او د بې عدالتۍ څخه بچ پاتې شئ).

## ارتباط

په وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ دوه حکمونه نازل کړي وه چې یوه تقوی وه او بل د خپلوانو سره اړیکې ټینګول. په دې ایتونو کښې د همدغو دواړو حکمونو تفصیل پیل کېږي چې د ټولو په اول سر کښې د یتیمانو او زنانه وو حقوق د بحث لاندې نیولي شوي دي، او دا ځکه چې همدغه دواړه ډلې د خپلو حقوقو څخه دفاع نه شي کولی، هرڅوک یې په ډېرې اسانۍ سره په حقوقو باندې پښې اېښودلی شي، د همدې کبله د جاهلیت په زمانه کښې دغه دواړه ډلې د خپلو حقوقو څخه بې برخې وې او بوازې اسلام وه چې د دوی حقوق یې راژوندي کړه. نو ځکه الله ﷻ په دې مقام کښې د دواړو ډلو حقوق په متعددو ایتونو کښې خلط ملط بیان کړه لکه څنګه چې دواړه ډلې په مظلومیت کښې خلطې ملطې وې.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مسلمانانو! څرنګه چې د احد غزا تازه تېره شوې ده او د اویا تنو شهیدانو څخه ډېر یتیمان ماشومان او ماشومانې پاتې دي نو تاسو د هر څه څخه وړاندې د همدوی په هکله د الله ﷻ څخه وډار شئ او د دوی په باره کښې لاندې احکام عملي کړئ:

۱ـ ذکرو شوو ماشومانو ته خپل مالونه پوره په اخلاص سره ورکړئ، بهانې انې پکښې مه کوئ او په همدې اړه هیڅ ډول خنډ مه پېښوئ.

هو! دا بېله خبره ده چې هغوی د ورکړې د قبول صلاحیت نه لري، او د مالونو د ضائع کېدلو د کبله یې څو موده د خانه سره وساتئ ترڅو هغوی خپل رشید عمر ته ورسېږي.

۲ـ پلیت مال (د یتیمانو مال) په پاکیزه مال (په خپل حلال مال) باندې مه بدلوئ. داسې چې:

الف: خپل ردي (کم ارزښته) مال د یتیمانو په مال کښې ورواچوئ او په بدل کښې یې د هغوی د مالونو څخه غوره او ښه مال ترلاسه کړئ. مثلا د خپل ردي اوښ په عوض د هغوی څخه ښه او غوره اوښ واخلئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چې کله مو د مال مصرفولو ته ارتیا پېښه شي نو د یتیمانو په مالونو باندې (چې تاسو ته حرام دي) خپلې ارتیاوې پوره کړئ، نو په دې تقدیر به د یو پلوه په حرامو کښې واقع شئ او د بله پلوه به د خپلو حلالو مالونو ـ چې د الله ﷻ لوی نعمت دی ـ شکریه اداء نه کړئ او د ناشکرانو څخه به شمېر شئ. ستاسو دغه کړنلاره داسې ده لکه چې الله ﷻ درته حلال مالونه نه وي درکړي.

ج: چې د یتیمانو سره د وېش په وخت په قرعه (پچه) اچولو کښې چل وکړئ او خپلو خانونو ته غوره برخه ترلاسه کړئ او د یتیمانو قرعه په ناغوره باندې ورواچوئ.

۳ـ همدارنګه د یتیمانو مالونه په چل سره هم مه خورئ، داسې چې:

الف: د خپلو مالونو سره یې د خوړلو په نیت ګډ کړئ؛ که بالفرض تاسو یتیمان وغولوئ او عام خلک خطا کړئ نو الله ﷻ خو په ټولو پټو او ښکاره وو باندې عالم دی او مصلح او مفسد پېژني. نو غټو- غټو ګناهګارانو ته به مطابقه سزا ورکړي.

ب: چې یتیمانې انجنکیانې پرېنږدئ چې په خپله خوښه مېړونه وکړي او صرف د مال د کبله یې پخپله په نکاح واخلئ او یا یې خپلو زامنو ته په نکاح ورکړئ، ترڅو د یو پلوه د هغوی ملکیت د خپل ملکیت سره خلط ملط او خوړلو ته یې چل جوړ کړئ او د بله پلوه د هغوی په مهرونو کښې کمبود راولئ او مهر المثل ورنه کړئ او د زوجیت د حقوقو څخه یې محرومې کړئ.

۴ـ نو ای مؤمنانو! کله چې تاسو ته یتیمانې انجنکیانې سپېڅلې نه ښکاري او د ذکر شوې بې عدالتۍ په نیت یې په نکاح اخلئ او یا یې د بې عدالتۍ څخه ډارېږئ، په دوارو صورتونو کښې د هغوی د نکاح څخه صرف نظر شئ او داسې ښځې په نکاح واخلئ چې تاسو ته سپېڅلې ښکاري خو بې عدالتي مه کوئ.

په دې باره کښې الله ﷻ په تاسو باندې پوره پراخي راوستلې ده چې په شرعي چوکاټ کښې یې درته د خپلې خوښې دوه-دوه، درې-درې او حتی څلور- څلور ښځې جائزې ګرځولې دي چې په نکاح یې واخلئ؛ نو د شرعي قانون څخه بده استفاده مه کوئ او د یتیمانو انجنکیانو د مالونو دپاره حیله او بهانه مه جوړوئ.

۵ـ هو! که د مېرمنو د تعدد په صورت کښې هم د بې عدالتۍ څخه ډارېدلئ چې د یوې طرف ته به ډېرې ووهئ او د بلې حقوق به د پښو لاندې کړئ، نو دلته هم د دې خطر مخه په لاندې دوه طریقو سره ونیسئ چې:

اول: د خپلې خوښې صرف یوه ښځه په نکاح واخلئ او د بې عدالتۍ د ګناه څخه خانونه بچ کړئ.

دوهم: متعددې وینځې خانو ته غوره کړئ، چې د دوی په باره کښې په تاسو باندې نوبت او مساوات واجب نه دی. نو که د یوې طرف ته ډېرې ووهئ هم د بې عدالتۍ په ګناه به اخته نه شئ.

الله ﷻ پوهېږي چې تاسو خپل خانونه پوره نه شئ کنټرولولی نو د بې عدالتۍ د مواقعو څخه خانونه به څنګ وساتئ. لکه چې وړاندې درته واضحه کړی شو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم ذکره شوې طريقه نژدې ده چې تاسو د بې عدالتۍ د ګناه څخه په امن کښې وساتې او په انصاف باندې ولاړ پاتې شئ مګر په عين صورت کښې هم درته د يو بل ډول بې عدالتۍ خطر شته چې همغې يوې مېرمنې ته خپل حقوق ورنه کړئ او يا په وينځو باندې په خوراک او څښاک کښې تنګي راولې. نو دغه خطر ته هم متوجه اوسئ ترڅو په بشپړه توګه په عدل او انصاف باندې موصوف پاتې شئ.

## توضيحات

۱ـ د جاهليت په زمانه کښې به زنانه وو ته بالکل مېراث نه ورکول کېده او همدارنګه نابالغه هلکان هم د مېراث څخه محروم وه[١]، دوی به ويل چې ميراث هغه څوک اخستلی شي کوم چې توره وهلی او جنګ کولی شي.

کله چې الله ﷻ ټوله دنيا په اسلام باندې رڼا کړه نو په ډېرو تاکيداتو سره يې د ذکر شوي دود (دستور) مخه ونيوله، لکه چې ذکر شوي ايتونه ورته اشاره کوي.

## يتيم څوک دی؟

۲ـ د "يَتِيْم" کلمه د "يُتْم" څخه اخستله شوې ده او يُتم د انقطاع په معنی سره دی. په ځارويو کښې هغه ځاروي ته "يَتِيْم" ويل کېږي چې مور يې مړه شوې وي او په انسانانو کښې چې څوک د پلار څخه منقطع شي (پلار يې مړ شي) د يتيم په نامه يادېږي[٢]، برابره خبره ده چې بلوغ ته رسېدلې وي او که نه. مګر کله چې بالغ شي شرعاً ورته يتيم نه ويل کېږي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايي: «لَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ»[٣] يعني د بلوغ څخه وروسته يتيموالی نشته.

هو! "يَتَامَى" د "يَتِيْم" او "يَتِيمَة" (مذکر او مؤنث) دواړو جمعه ده. او "أَيْتَام" يوازې د يَتِيْم (مذکر) جمعه کېدلی شي او بس[۴].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ذکر شوي ايت شريف کښې الله ﷻ امر کوي چې يتيمانو ته په هر حال کښې د هغوی مالونه ورکړئ، او په راتلونکي شپږم ايت کښې يې د ورکړې دپاره هوښياري شرطه کړې ده، ايا دا تطبيق ارتيا نه لري؟

مونږ وايو چې:

---

(١) تفسير الطبري ج۳ ص۲۲۹
(٢) مفردات الراغب ص۵۷۵
(٣) سنن ابي داود ج۲ ص۴۱
(۴) التفسيرات الاحمديه ص۲۱۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دلته هم ورسره د رُشد (هوښیاری) قید مراد دی، نو د دواړو ایتونو مضامین یو د بل تاکید دي. او په لغت کښې خو بې پلاره بالغان هم حقیقتاً د یتیمانو د اطلاق لاندې راځي. اما شرعًا دوی د مجاز په توګه یتیمان ګڼل کېږي. یعنې مالونه دومره په چالاکۍ ورکړئ ته به وایې چې لا صغارت (ماشومتوب) څخه نه دی وتلي[1].

مګر دا جواب ځکه مزه ناک نه دی چې د یو پلوه په ذکر شوي قید باندې دلته څه دلیل نشته او د بله پلوه د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

ب: دلته د مالونو د ورکړې څخه هغه ورکړه مطلب ده چې خپله د یتیمانو د ارتیاوو د پوره کولو دپاره وي، لکه جامه، نفقه او داسې نور. لکه چې راتلونکی پنځم ایت ورباندې دلالت کوي[2].

مګر دا جواب هم په زړه پورې نه دی. او دا ځکه چې د ایت شریف سیاق دا دی چې حرام مه خورئ او یتیمانو ته د هغوی د ضروریاتو د پوره کولو دپاره مالونه نه ورکول خو حرام خوري نه دی که څه هم ناجائز کار دی.

ج: مونږ ته دا ښه ښکاري چې دلته شرعي یتیمان مطلب دي چې لا بالغ شوي نه وي. او د مضمون خلاصه یې دا ده چې باید دوی ته د مالونو په ورکړه کښې ستاسو د پلوه مانع نه وي او تاسو باید په ورکړه کښې پوره اخلاص کوونکي یاست.

هو! دا بیله خبره ده چې د هغوی د پلوه د ورکړې څه موانع موجود وي چې د رُشد (هوښیاری) حالت ته نه وي رسیدلي، لکه چې شپږم ایت ورباندې لاربنودانه کوي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف د شان نزول څخه خو د لومړي جواب غوره والی معلومېږي، هغه دا چې د غطفان د قبیلې د یو سړي سره د یوه یتیم وراره ډېر مال وه خو کله چې یتیم هلک بالغ شو او د خپل مال غوښتنه یې وکړه نو تره یې ورته مال نه ورکاوه، نو دواړه نبي کریم ﷺ ته ورغله، چې په نتیجه کښې ذکر شوی ایت شریف نازل شو. کله چې ذکر شوی غطفاني سړي ایت واورېده نو ویې ویلې چې د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ حکم مې منلی دی او د الحوب الکبیر (لویې ګناه) څخه په الله ﷻ باندې پناه غواړم. نو په خپل وراره باندې یې مال وسپاره.

کله چې ځوان مال قبض کړ نو ټول یې د الله ﷻ په لار کښې مصرف کړ، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «ثَبَتَ الْأَجْرُ لِلْفَتَى وَبَقِيَ الْوِزْرُ» اجر ځوان ته ثابت شو او ګناه باقي پاتې شوه. صحابه وو کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چې ای د الله ﷻ پیغمبره! مونږ په دې پوه شوو چې اجر ثابت شو، خو ګناه څنګه باقي پاتې شوه حال دا چې ځوان خو ټول مال د الله ﷻ په لار کښې ورکړاوه؟! نبي کریم ﷺ وفرمایل

(۱) تفسیر الکشاف ج۱ ص۴۶۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې «نَبَتَ الْأَجْرُ لِلْفَتَى وَبَقِيَ الْوِزْرُ عَلَى وَالِدِهِ»[۱] يعني: اجر د دغه هلک (ځوان) دپاره ثابت شو او ګناه بې د پلار په غاړه کښې پاتې شوه، چې مشرک وه[۲].

مونږ وايو چې: په نصوصو کښې مفاهيمو ته اعتبار دی او د مواردو خصوص ورباندې څه تاثير نه اچوي، نو په دې مورد کښې چې يتيم هلک ځوان شوی وه څه باک بې نشته. د ايت شريف مفهوم ته تقيد نه شي ورکولی.

## خوف څه معنی؟

۵ـ خوف (ډار) دې ته وايي چې سړي ته د ظني يا يقيني معلوماتو د کبله د يوه ناخوښه شي واقع کېدل په خيال کښې ورشي[۳]. لکه چې رجا (تمه) دې ته وايې چې سړي ته د ظني يا يقيني معلوماتو د امله د يوه خوښ شوي ځيز پېښېدل متخيل شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وايي چې: ناخوښه (غير شرعي) شی خو په دې مقام کښې بې عدالتي ده، نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! که تاسو د يتيمانو په باره کښې د بې عدالتۍ څخه دارېدلئ چې درڅخه به واقع شي نو هغه ښځې په نکاح واخلئ چې تاسو ته سپېڅلې ښکاري. نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې د شرط ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ﴾ او جزا ﴿فَانكِحُوا﴾ په منځ کښې په څه ډول سره ارتباط تحقق موندلی شي؟

مونږ وايو چې: همدغې پوښتنې ته مفسرينو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي[۴]، مګر مونږ په لاندې جوابونو اکتفاء کوو:

الف: د بي بي عائشې رضي الله عنها د روايت په مطابق[۵] د ايت شريف د نزول په وخت کښې ځينو خلکو هغه پلار مړې انجنکيانې په نکاح کولې چې د دوی د خپلوانو څخه به وې، خو پوره مهر به بې نه ورکاوه او تېری به بې ورباندې کاوه. او ځينې خلک داسې هم وه چې پلار مړې انجلۍ به بې صرف د دې پلاره پخپله په نکاح اخستله چې د هغې مال ترې پردی نه شي او يا به بې د همدې کبله خپل زوی ته په نکاح ورکوله، خو په دواړو صورتونو کښې به بې د هغې د زوجيت حقوق پوره نه ورکول. نو الله جل جلاله ذکر شوی ايت نازل کړ.

نو په دې تقدير بې د معنی حاصل داسې کېږي چې: که تاسو دارېدلئ چې د نکاح په صورت کښې به بې پلاره انجنکيانو باندې تېری وکړئ چې يا به پوره مهر ورنه کړئ او يا به بې د زوجيت

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۹۴؛ تفسير الخازن ج۲ ص۵
(۲) الاصابه في تمييز الصحابه ج۳ ص۴۵۹
(۳) مفردات الراغب ص۱۶۱
(۴) زاد المسير ج۲ ص۸۰
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۶۵۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حقوق د پښو لاندې کړي. نو د دوی د نکاح څخه صرف نظر شي، ښځې خو نورې هم ډېرې دې آن تر څلورو پورې خو الله ﷻ درته جائزې کړې دي کومې چې درته سپېڅلې ښکارې همغه په نکاح واخلئ او د بې عدالتۍ په خطر کښې خپل ځانونه مه اچوئ.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روایت په مطابق، کله چې د یتیمانو په باره کښې ډیر کلک وعیدات نازل شوه نو خلکو د دوی د مالونو په هکله د زیات احتیاط څخه کار اخست، تر دې چې د نبي کريم ﷺ څخه به يې پوښتنې کولې چې ایا مونږ د دوی سره خوراک او څښاک شریک کړو او که څنګه؟

دا د یو پلوه، او د بل پلوه په هغه وخت کښې د مېرمنو تعدد منحصر نه وه، داسې خلک هم وه چې متعددې ښځې به يې په نکاح کښې پرتې وې خو د هغوی د زوجیت حقوق به يې پوره نه ورکول او بې عدالتي به يې پکښې کوله. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ[1].

نو په دې تقدير يې د سنتى حاصل يې داسې کېږي چې: تقوی او دینداري یوازې د یتیمانو په مالونو کښې مه خلاصه کوئ بلکې ټول اسلامي احکام په پښو باندې ودروئ حتی هغې بې عدالتۍ ته هم خاتمه ورکړئ چې تاسو يې د خپلو مېرمنو په منځکښې مرتکب کېږئ.

که د مېرمنو د ډېروالي د کبله يې حقوق نه شئ پوره کولی او د وسې مو نه کېږي چې هره یوه په خپل حق باندې ورسوئ، نو د خپل توان په اندازه یوه-یوه، دوه-دوه، درې-درې، څلور- څلور په نکاح واخلئ خو د څلورو څخه وړاندې تجاوز مه کوئ.

او که په یوه ښځه کښې هم د کوم یوه سره خطر پیدا شو چې حقوق به يې پوره ورنه کړي نو بیا د وینځو څخه استفاده وکړئ.

لنډه دا چې په هر صورت کښې مه اسلامي احکام د پښو لاندې کوئ او مه په داسې موقع کښې ځانونه اچوئ چې هلته د ظلم او تېري کولو خطر موجود وي.

## تبصره

۷ـ مونږ ته د رئيس المفسرين رحمه الله تفسير غوره ښکاري ځکه چې عام دی، او د (أم المؤمنين) عائشې رضي الله عنها تفسير ته هم شامل دی. مګر د دې سره- سره د أم المؤمنين رضي الله عنها د تفسير څخه هم سترګې نه شو پټولی چې د کلام سوق يې غوښتنه کوي او د مخکښې څخه په یتیمانو کښې بحث راروان دی، نو د همدې کبله مو په خلاصه مطلب کښې همدغه تفسير په نظر کښې نیولی دی.

## د ایت شریف ارشاد

۸ـ څرنګه چې الله ﷻ خلکو ته اجازه وکړه چې هغه ښځې په نکاح واخلئ کومې چې تاسو ته سپېڅلې ښکاري خو بې عدالتي او ظلم مه کوئ او دا هم څرګنده ده چې ځینې سپېڅلتوب د لیدلو

---

(١) البحر المحيط ج٣ ص٥٠٣.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پورې اړه لري، نو معلومه شوه چې پوې ښځې ته د نکاح کولو په موخه کتل جائز دي. لکه چې په همدې مضمون باندې لاندې حدیث شریف هم دلالت کوي:

جابر بن عبد الله ﷺ وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ»[۱] يعني: کله چې ستاسو څخه څوک غواړي چې يوه ښځه په نکاح کړي نو که وسه يې کېږي چې د ښځې هغه صفت ته کتل وکړي چې نوموړی د هغې نکاح کولو ته وربلي (لکه جمال، علم او داسې نور) نو دا کار دې وکړي.

ذکر شوی صحابي ﷺ وايي: ما غوښتل چې يوه انجلۍ په نکاح واخلم نو هغې ته به پټ پټ کېدلم ترڅو چې هغه څه مې په سترګو وليده کوم چې په ماباندې د هغې د نکاح کولو باعث جوړ شوی وه، نو په نکاح مې واخستله.

## معجزانه عبارت

۹ـ الله ﷻ په دې مقام کښې د زوجاتو تعدد په ډېر عجيبه عبارت سره بيان کړی دی. او دا ځکه چې دلته د اعدادو د ذکر څخه لاندې دوه حکمونه مطلب دي.

الف. يو حکم توزيع ده: چې څوک دوه ښځې په نکاح کړي، څوک درې او څوک څلور. او جمعه پکښې مراد نه ده چې دوه، درې، څلور (چې ټولې نهه کېږي) په نکاح کړي.

نو که بالفرض د ﴿ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾ په ځای ـ چې په معناګانو کښې تکرار پروت دی ـ "اِثْنَيْنِ وثلاث وأربع" نازل شوی وی چې په تکرار باندې دلالت نه کوي، نو دغه مطلب به د لاسه وتلی وي.

ب. دوهم حکم اختيار ورکول دي: چې خوښه مو دوه ـ دوه ښځې په نکاح اخلئ او که درې ـ درې او که څلور ـ څلور.

نو که بالفرض د "وَ" په عوض "أَوْ" نازل شوی وی نو دا مطلب به هم د منځه تللی وی، چې تاسو ته اجازه ده چې د ذکر شوو اعدادو څخه فقط يو عدد اختيار کړئ او بس. ځکه چې د "أَوْ" کلمه په انفصال (جدا والي) باندې دلالت کوي.

## يوه سړي ته پنځمه نکاح جائزه نه ده

۱۰ـ که څوک وايي چې: د احنافو مېږو په نزد په يو شي باندې صراحت کول د بل شي څخه د همغه حکم د نفې کولو معنی نه ورکوي[۲]. لکه چې الله ﷻ د ملائکو د وزرونو په باره کښې عين عبارت نازل کړی دی چې ﴿ أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾ [فاطر: ۱] يعني: الله ﷻ ملائک داسې رسولان جوړ کړي دي چې دوه ـ دوه او درې ـ درې او څلور ـ څلور وزرونه لري.

(۱) سنن ابي داود ج۱ ص۲۸۴
(۲) الحسامي في الاصول ص۲۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ په یوه خاص مقام کښې جبرائیل امین ولید چې «وَلَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ»[1] شپږ سوه وزرې یې درلودې.

نو پوښتنه دا ده چې ایا په دې مقام کښې یوه سړي ته د څلورو مېرمنو جواز دا معنی نه ورکوي چې پنځمه مېرمن به ورته جائزه وي؟ او په څه دلیل پنځمه مېرمن حرامه ګڼله کېږي؟

مونږ وایو چې د پنځمې مېرمنې د نکاح تحریم د یو پلوه په اجماع باندې په اثبات رسېدلی دی[2]، او د بله پلوه د همدغې پنځمې مېرمنې په تحریم کښې ډېر احادیث روایت شوی دی[3] چې د همدې جملې څخه یو حدیث دا دی چې کله قیس بن الحارث ﷺ مسلمان شو او اته مېرمنې یې درلودې، نو نبي کریم ﷺ ورته امر وکړ چې: «اخْتَرْ مِنْهُنَّ أَرْبَعًا»[4] د دوی څخه فقط څلور مېرمنې غوره کړه یعني نورې درته جائزې نه دي.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وایي چې دغه ټول احادیث آحاد دي او په آحادو احادیثو باندې خو د کتاب الله تخصیص تحقق نه شي موندلی، نو معلومه شوه چې د پنځمې مېرمنې تحریم په احادیثو نه شي ثابتېدلی؟

مونږ وایو چې دا اعتراض خو به په هغه وخت کښې په ځای وی چې د پنځمې مېرمنې جواز نه ایت شریف شامل وی. خو خبره داسې نه ده، بلکې د څلورو مېرمنو څخه علاوه په نورو کښې ساکت دی او احادیث یې بیان واقع شوي دي.

یا په بل عبارت، احاد احادیث د کتاب الله نسخه کوونکي نه واقع کېږي خو بیان یې واقع کېدلی شي مونږ ورباندې په دې مقام کښې د بیان نوم ایښی دی، نسخه کوونکي ورته نه وایو.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

که څوک وایي چې: اجماع خو هله تحقق مومي چې مخالف ونه لري او په دې مسئله کښې خو مخالفین شته دي، حتی چې یو سړي ته تر نهو پورې جائزې ګڼي[5]؟

مونږ وایو چې په همدې مسئله باندې د صحابه وو کرامو ﷺ په زمانه کښې اجماع شوې ده چې په هغه وخت کښې هیڅوک مخالف نه وه.

هو! بدعتیانو د اجماع څخه په وروستنۍ زمانه کښې مخالفت کړی دی او په څلورو باندې یې زیادت جائز ګڼلی دی. او په اجماع کښې خو دا شرط نه ده چې د قیامت د ورځې پورې دې مخالف ونه لري بلکې دا پکښې شرط ده چې د انعقاد په وخت کښې باید ترې هیڅوک مخالف نه وي.

---

(۱) جامع الترمذي ج ۲ ص ۱۶۳

(۲) روح المعاني ج ۴ ص ۱۹۳

(۳) تفسیر ابن کثیر ج ۱ ص ۴۵۰

(۴) سنن ابي داود ج ۱ ص ۳۰۴

(۵) تفسیر القاسمي ج ۵ ص ۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برسېره په دي، مخالفت هم د هغه چا اعتبار لري چې هغه د مجتهدينو (اهل العلم) څخه شمېرل کېږي. او د بدعتيانو مخالفت (چې د صحابه وو کرامو اجماع د پښو لاندې کوي) څه اعتبار نه لري.

## تبصره

۱۲ـ مونږ ته داسې ښکاري چې د ايت شريف څخه د مقام په اعتبار سره هم په څلورو کښې حصر معلومېږي، ځکه چې په هغه وخت کښې خو غير متناهي (بې نهايته) تعدد د هيچا څخه پټ نه وه او د ملانکو د وزرونو په څېر نامعلومه نه وه بلکې خلکو په عمل کښې پياده کړي وه چې ځينو لا آن تر لسو مېرمنو پورې درلودې[1]. نو که بالفرض د ايت شريف حصر مطلب نه وی نو په کار وه چې "فَانْكِحُوا مَا شِئْتُمْ" نازل شوی وی او اعداد بالکل نه وی ذکر شوی ځکه چې ګڼه او فائده به پکښې نه وی.

## د جاهليت نکاح

۱۳ـ په دې مقام کښې لازمه ګڼو چې محترمو لوستونکو ته د جاهليت د زمانې نکاحګانې شرحه کړو ترڅو دوی ته ښه څرګنده شي چې اسلام په نکاحګانو کښې څومره ښه او په زړه پورې ترميم کړی دی، خو افسوس چې اسلام دښمنه ټولنې غواړي چې مسلمانان بېرته د جاهليت په امراضو باندې اخته کړي او په اسلامي انتخاب باندې اعتراض وکړي.

بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې[2] په جاهليت کښې نکاح په لاندې څلورو ډولونو سره وه:

الف: يوه نفر به خپلې مېرمنې ته اجازه ورکړه چې فلانې سړي ته لاړه شه او د هغه سره جنسي ارتباط ونيسه ترڅو زه او ته هم يو داسې اولاد ولرو چې د پلانې په څېر نجيب او باشرفه وي.

ښځه به د خپل مېړه په امر لاړه او دا کار به يې وکړ، خو مېړه به ورته تر هغې لاس نه وروړ ترڅو به چې څرګنده شوه چې د فلانې څخه يې حمل اخستی دی. دا کار به هغوی کښې څه عار نه وه، په دې کار باندې يې د "نِكَاحَ الِاسْتِبْضَاعِ" نوم ايښی وه يعنې هغه نکاح چې د بل چا څخه وربانديې څه توته راجدا کولی شي!

ب: يوه ډله نارينه به (چې شمېر به يې لسو ته نه وه رسېدلی) د يوې ښځې سره په زنا باندې اخته وه خو چې کله به هغه اميدواره شوه او د ماشوم د پيدايښت څخه به څو شپې تېرې شوې نو ماشوم ته به يې قائف (قيافه پېژاندونکی) راوغوښت، نو په نوموړې ډله کښې به يې چې په هر چا پورې وتاړه هغه به ترې خان نه شو خلاصولی او د همده اولاد به ګڼل کېده.

ج: په هغه وخت کښې به ځينو فاحشو په کوړونو باندې سره بيرغونه درولي وه ترڅو ټولو علاقمندانو ته څرګندې وي، خو چې کله به دوی حاملې شوې او ماشوم به يې وزېږاوه نو د همدغې

---

(۱) تفسير الطبري ج۳ ص۲۳۴

(۲) سنن ابي داود ج۱ ص۳۰۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کچنۍ مور په خوښه پورې‌یې تعلق درلود، چې په هر یوه زناکار باندې به یې ګوته کېښوده ماشوم به د هغه اولاد ګڼل کېده.

د. څلورم ډول داسې نکاح مروجه وه چې یو چا به د بل چا څخه خور یا لور غوښته او د مهر په مقابل کښې به یې هغه په نکاح کوله، لکه څنګه چې نن ورځ رواج ده.

نو کله چې ټوله دنیا په اسلام باندې منوره شوه د نکاح مخکنې درې ډولونه یې باطل اعلان کړه او د زنا ښاخونه یې وبلل، او یوازې څلورم ډول یې تائید کړ. او مناسب حدود یې ورته وټاکل چې د څلورو څخه وړاندې تجاوز ونه کړي او همدارنګه دې د محرماتو څخه نه وي، لکه چې وروسته تشریح کېږي.

## د زوجاتو تعدد او اسلام دښمنه ټولنې

۴ـ اسلام دښمنه ټولنې تل هڅې کوي چې په اسلامي قوانینو کښې څه د ګوتې د ایښودلو ځای پیدا کړي، ترڅو پرې د یو پلوه د هغو خلکو د ایمان د راوړلو مخه ونیسي کوم چې په حقائقو پسې ګرځي او د بله پلوه پرې ځینو سادګانو مسلمانانو ته څه شک او اشتباه ورواچوي چې په نتیجه کښې یې د اسلام څخه واړوي او مرتد یې کړي، العیاذ بالله.

نو د هغو قوانینو څخه چې دوی ورته ګوته نیسي، د مېرمنو تعدد هم دی. دوی په دې مقام کښې په لاندې ډول باندې اشتباګانې راپورته کوي، مثلا:

الف: اسلام د ښځو حقوق د پښو لاندې کړي دي چې څلور ښځې یې یوه سړي ته جائزې کړې دي خو یوې ښځې ته لږ تر لږه دوه مېړونه هم ناجائز بولي، ایا دواړه (نارینه او ښځینه) په التذاذ کښې یو برابر نه دي؟

ب: اسلام د یو پلوه حسد او کینه حرام کړي دي او د بله پلوه یې د عداوتونو بنسټ ته رسمي بڼه ورکړې ده او ترڅلورو زنانه وو پورې یې یوه سړي ته روا کړي دي چې په نکاح یې واخلي. او یا په بل عبارت، دا یې هم جائزه کړې ده چې څلور زنانه په جنګ واچوي، ایا دا کار تناقض نه دی؟

ج: همدارنګه د بنو اولادونه په دښمنۍ اخته کوي چې همېشه یو بل ته غاښ چیچې کوي ته به وایې چې دوی پلارني ورونه نه دي بلکې دښمنان دي. د پښتو متل دی: چې نه دې وي د موره، هغه ته مه وایه چې وروره.

## یادونه

۱۵ـ زمونږ د دغسې اعتراضاتو په جوابولو کښې دا مطلب نه دی چې معاندینو ته به قناعت ورکړو ځکه چې په عنادیانو باندې د حقائقو بیانول څه اثر نه شي اچولی. او دا مو هم مطلب نه دی چې مسلمانانو ته قناعت ورکړو ځکه چې دوی د الله ﷻ قوانینو ته په دائمي توګه غاړه ایښودونکي دي، دوی پوهېږي چا چې انسانان پیدا کړي دي او په نر او ښځې باندې یې وېشلي دي هغه ته د دوی ټول غرائز ښه معلوم دي او په ټولو زمانو او په ټولو احوالاتو کښې یې ورته ضروریات او اړتیاوې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښې څرګندې دې نو د دوی دپاره يې چې څه قوانين را استولي دي دغه ټول قطري شيان يې پکښې د نظره نه دي غورځولي. بلکې مطلب مو صرف دا دی چې مسلمانان مطمئن کړو لکه څنګه چې ابراهيم ﷺ د الله ﷻ څخه د مړو په ژوندي کولو کښې خپل اطمنان غوښتی وه چې د [البقرة: ۲۶۰] ايت شريف لاندې يې بيان تير شوی دی. نو په همدې منظور د لوستونکو پام لاندې نکاتو ته را اړوو:

## د زوجاتو په تعدد کښې اسلام مؤسس نه دی

۱۶ـ د مېرمنو په تعدد کښې اسلام مؤسس نه دی بلکې تحديدونکی دی، لکه چې په اومه توضيح کښې تير شوه چې د ايت د نزول په وخت کښې خلکو متعددې مېرمنې درلودې. نو معترضينو ته په کار دي چې په اسلام باندې شاباس ووايي چې غير متناهي تعدد يې خلورو ته راټيټ کړ، نه دا چې اعتراض ورباندې وکړي.

## د زوجاتو تعدد اجتماعي ضرورت دی

۱۷ـ څرنګه چې د زوجاتو تعدد اجتماعي ضرورت دی نو اسلامي قوانينو فقط محدود کړ او بالکل يې د منځه يونه وړ. او دا څکه چې په ټوله نړۍ کښې د نارينه وو او زنانه وو نسبت تقريباً يو برابر دی، البته د هغې سرشميرنې له مخې چې په ۱۹۸۱م کال کښې يې صورت نيولی وه[۱].

خو د دې سره‌سره کوم قتل قتول چې په نارينه وو کښې تحقق مومي هغه په زنانه وو کښې تحقق نه شي موندلی، خصوصاً په اوسنی زمانه کښې خو د نارينه وو وژنې دومره ډيرې شوې دي چې روزمره د هرې راديو څخه اوريدل کيږي، او ترڅو چې وخت تيريږي همدا عمليه په زياتيږي. او دا څکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې ستاسې مخې ته داسې ورځې راتلونکې دي چې علم به پکښې کم او هَرج به پکښې ډير شي. صحابه وو کرامو ﷺ وويل چې يا رسول الله! هَرج څه شی دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې «اَلْقَتْلُ»[۲] يعني: هرج په معنی د وژلو دی.

په افغاني جهاد کښې تقريباً يو نيم مليون خلک شهيدان شوه خو ګومان نه کوم چې په سلو کښې به پنځه زنانه وي.

نو د همدې کبله ويلی شو چې د حوادثو په اعتبار سره د زنانه وو شمير د نارينه وو په نسبت زيښت ډير دی. په همدې بنا بې مېړه ښځې عموماً او کونډې ښځې (چې څوک يې عادتاً د لومړنۍ ښځې په صفت نه قبلوي) خصوصاً مجبورې دي چې د لاندې لارو څخه يوه لاره غوره کړي[۳]:

اوله: چې په خپل ټول عمر کښې د نارينه وو څخه محرومې پاتې او غرائز يې د پښو لاندې شي او بالآخره د اجتماع دپاره د اوړو بار جوړ شي.

---

(۱) د بي بي سي (BBC) راديو، ۱۳۶۸/۱۰/۱ هش نېټه
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۴
(۳) في ظلال القرآن ج۱ ص۵۷۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهمه: چې همدغه بې مېړه ښځې د خپلو غرائزو د اشباع دپاره په ناجائزه توګه د هغو نارینه وو سره چې فقط د یوې ښځې په لومه کښې نښتي اِي، جنسي ارتباط ونیسي او په نور ضررونو باندې علاوه، د ایډز (AIDS) ناروغۍ دپاره سرچینې جوړې شي.

دریمه: چې دوی هم د دوهمې، دریمې او بالآخره د څلورمې بي بي په توګه د نارینه وو په نکاح کښې شاملې شي.

نو اسلامي قانون خو د ذکرو شوو بې مېړه ښځو دپاره دریمه لاره غوره کړې او د قانون په صفت یې مسلمانانو ته وربښودلې ده او د څلورو واړو زنانه وو خیال یې ساتلی دی چې د ټولو څخه یې بیبیانې جوړې کړې دي. خو اسلام دښمنه جنایان صرف د یوې ښځې خیال ساتي او د نورو درې واړو ښځو یا د غرائزو اختناق کوي، چې همېشه یې د بې کورۍ په اور کښې سوزوي او یا یې د نارینه وو دپاره ملعبه جوړوي چې په ټول عمر کښې د عزت یوه شپه هم ونه ګوري.

همدا حقیقت د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته اروپایانو زنانه وو درک کړ چې د زوجاتو په باره کښې یې د اسلامي قانون غوښتنه وکړه چې باید یو سړي ته تر څلورو مېرمنو پورې جواز ولري[1]، او نژدې وه چې غوښتنه یې عملي شوې وی خو د کلیسا پاپانو ونه منله او د فحاشۍ دروازه یې پرانستې پرېښودله، مګر څینو مملکتونو وربانډې عمل وکړ او تعدد یې مباح کړ[2]، او دا ځکه چې په دغه وخت کښې د زنانه وو شمېر دومره زیات شو چې د یوه نارینه په مقابل کښې څلورو یا شپږو تنو زنانه وو ته پورته شو[3].

## د زوجاتو تعدد فطري شی دی

۱۸ـ مونږ غواړو چې په ذکر شوي مطلب باندې د ښه پوهېدلو په غرض لاندې مقدمات محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو:

الف: الله ﷻ دنیا پیدا کړې ده او اراده یې کړې ده چې د قیامت د ورځې پورې به ودانه وي نو کومو شیانو ته چې الله ﷻ اوږده عمرونه ورکړي دي، لکه غرونه او کانې، په هغو کښې یې د توالد سلسله نه ده جاري کړې. او کوم شیان چې ډېره موده نه شي پاتې کېدلی، لکه نباتات او حیوانات، نو هغو ته د بدلیت په طریقه د قیامت د ورځې پورې ادامه ورکوي، چې یوه طبقه تېره شي په عوض کښې یې بله طبقه په ځای ودرېږي، نباتات د تخمونو او نهالونو په سلسله او حیوانات د توالد او تناسل په ذریعه د زمانې د اوږدوالي سره اوږدېږي.

د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «تَزَوَّجُوا الْوَلُودَ الْوَدُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمْ»[4] یعني:

---

(۱) تفسیر المنار ج۴ ص۳۵۹
(۲) الجواهر ج۲ ص۱۲
(۳) الفقه الاسلامي وادلته ج۷ ص۱۶۹
(۴) سنن النسائي ج۲ ص۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



محبت ناکې زېږوونکې ښځې په نکاح باندې واخلئ ځکه چې یقیناً زه ستاسو (د ډېروالي) په سبب (په نورو پیغمبرانو علیهم السلام باندې د قیامت په ورځ) مکاثر یم. یعنې زه غواړم چې زما امت د هغوی په امتونو باندې زیات شي او زه د هغوی ځخه ډېر پیروان ولرم.

ب: طبعي میلان یا التذاذ (لذت) په دواړو جانبو کښې د دې امله اینبودلې شوي دي چې القاح صورت ونیسي، که نه نو د ځاروبو نسل خو به بالکل د منځه تللی وی او په انسانانو کښې به یې هم دغسې وده نه وی کړې لکه چې اوس یې کړې ده او لا نور هم مخ په وده روان دي.

ج: که بالفرض په جنسي ارتباط کښې التذاذ یا لذت ذاتي مطلب وی نو د بل هر حیوان ځخه به په انسان کښې د ذکر شوي ارتباط قوت زیات وي ځکه په دنیا کښې انسان خلیفه دی او خوندور شیان خاص د همده په برخه دي او نور شیان د همده د گټو دپاره خلق شوي دي [البقرة: ۲۹]، حال دا دی چې په نوموړي قوت کښې انسان یوه چرگ یا چرچن ته هم نه شي رسېدلی.

د: په نارینه وو کښې د القاح (تخم اچونې) استعداد د ډېره عمره پورې پاتې کېږي او د زنانه وو په شان ژر د منځه نه ځي[1].

ه: برسېره په دې، په زنانه وو باندې د حیض او نفاس مرحلې هم تېرېږي راتېرېږي چې په دغو مرحلو کښې د جنسي ارتباط صلاحیت بالکل د لاسه ورکوي، او د حمل ارضاع (تې ورکولو) په حالاتو کښې یې هم د جنسي ارتباط طبعي میلان د پخوا په شان پوره نه پاتې کېږي او نواقص پکښې واقع کېږي. بالمقابل نارینه د دغو ټولو مرحلو او حالاتو ځخه بې غمه دي، نه یې په طبعي میلان باندې موانع ورځي او نه پکښې نواقص پېښېږي.

## نتیجه

۱۹ـ د ذکر شوو پنځو مقدماتو ځخه دا نتیجه لاس ته راځي چې د زوجاتو تعدد د فطرت غوښتنه او د دنیا د ابادۍ او ودانۍ بهتره طریقه ده چې په یوه کال کښې ممکنه ده چې د یو سړي په ذریعه ځلور ماشومان تولد او دنیا وربانديې اباده شي او د دې سره‌سره د زنانه وو آبرو هم وساتله شي او ماشومان هم ضائع نه شي. او دا ځکه چې حرامیان ماشومان اکثره ضائع کېږي چې په لارو او کوڅو کښې پراته وي او یا حتی د خپلې مور د پلوه وژل کېږي ترڅو کچنیتوب ته اوزگاره شي.

برسېره په دې، زنانه د خپلو هغو ماشومانو سره چې حرامیان وي او پلار یې معلوم نه وي، دومره مینه نه لري لکه څومره چې د حلالیانو او بانسبه ماشومانو سره یې لري.

د همدې کبله اسلامي قوانینو تعدد جائز کړی او کچنیتوب یې حرام کړی دی، بالمقابل اسلام دښمنه ټولنې د فطرت مخه نیسي او د فحاشۍ دروازه خلاصوي.

همدا حقیقت ځینو انصاف غوښتونکو خلکو هم درک کړی دی. لاندې یې مثالونه ولولئ:

---

(۱) تفسیر المنار ج۴ ص۳۵۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د اروپا یو مشهور فیلسوف (گوستالوبون) د زوجاتو تعدد بهتر گڼلی دی چې دا د اجتماع دپاره په گټه تمامېږي(١).

دوهم: یوه جرمنۍ ښځه اقرار کوي چې یقیناً زه د خپل خان دپاره بهتره گڼم چې د یوه عادل سړي دپاره لسمه مېرمنه شم خو دا مې خوښه نه ده چې د غیر عادل سړي لومړۍ مېرمنه جوړه شم او یا هیڅ ملگرې ونه لرم(٢).

دریم: ماته دوه ښځې معلومې دي، اوس هم ژوندۍ دي، چې خپلو مېړونو ته یې دوهمې ښځې په نکاح کړې او دا ځکه چې یوه بالکل شنډه وه او د بلې یو زوی وه خو د څه ناروغۍ د کبله یې توالد قطعه شوی وه. دغو دواړو ښځو په خپلو مېړونو باندې ترحم وکړ چې هغوی نه د ابتداء څخه شنډ وه او نه یې د توالد قوت قطعه شوی وه.

## د کور ریاست نارینه وو ته سپارل شوی دی

٢٠ـ که بالفرض یوه زنانه د متعددو نارینه وو دپاره مېرمن جوړه شي نو طبعي ده چې د کور مشري به هم د همدغې زنانه په غاړه وي. یا په بل عبارت، د ماشومانو نسب به هم د زنانه څخه ثابت شي. لکه چې په موجوده زمانه کښې هم په اروپا کښې داسې کورنۍ شته چې مشري یې د یوې زنانه په غاړه وي. او دا ځکه چې همدغه ډول زنانه مشخص مېړه نه لري او په هره کچنې خانه کښې چې حمل واخلي خپل کور ته یې راوړي.

د دې عملیې نتیجه دا کېږي چې د ماشومانو روزنه او تربیه ټوله د زنانه په غاړه پرېووځي او زناکاران نارینه د پشیانو حیثیت خپلوي، کله چې پشیان په یوه پیشو باندې خپلې خواوې سړې کړې نور نو بیا د پیشو او پیشوگیو په غم کښې نه وي، ټول غم یې د همدغې پیشو غاړې ته ورلوېږي، په اصطلاح نران پشیان د پیشو سره هیڅ کومک نه کوي چې اقلاً پیشوگي ورسره په خولو کښې ونیسي او کور په کور یې ورسره وگرځوي.

لنډه دا چې په دې تقدیر به ټول ماشومان اخیافي خویندې او وروڼه جوړ شي او د اعیاني او علاتي خپلوۍ (چې د قربت او ترحم لوی منابع دي) بېخ به بالکل ووځي او د منځه به لاړې شي.

## د زوجاتو په تعدد کښې عدل واجب دی

٢١ـ د څلورو پورې د مېرمنو تعدد اسلامي قوانینو مباح گرځولی دی ترڅو ترې د ضرورت په وخت کښې کار واخستل شي. خو د دوی په منځکښې یې په پوره عدل او انصاف سره چال چلند واجب کړی دی او څوک چې بې عدلي کوي هغه ته یې دروند وعید ټاکلی دی. لاندې احادیث ولولئ:

(١) الجواهر ج٢ ص١٢
(٢) روائع البیان في ایات الاحکام ج١ ص٤٣٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نبي كريم ﷺ فرمايي چې: «إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ»(١) كله چې د يوه سړي په واندې (په نكاح كښې) دوه ښځې وي او د دوی دواړو په منځكښې عدل ونه كړي نو د قيامت په ورځ به په داسې حال كښې راشي چې يو اړخ به يې ساقط وي. يعنې د محشر په ميدان كښې به د ګوزڼ وهلي په څېر په يوه اړخ باندې كوږ وي.

ب: بي بي عائشه (د مؤمنانو موز) رضي الله عنها وايي چې: نبي كريم ﷺ د خپلو بيبيانو رضي الله عنهن په منځكښې په نوبت سره چال چلند كاوه او په انصاف به چلېده، خو د دې سره‌سره به يې ويلې چې «اللَّهُمَّ هَذِهِ قِسْمَتِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ»(٢) ای الله! دا زما وېش دی په هغه شي كښې چې زه يې مالک يم (چې زما په اختيار كښې دي)، نو ته ما مه ملامته كوې په هغه شي كښې چې ته يې مالک يې او زه يې مالک نه يم. يعنې د زړه په مينه باندې مې مه ملامته كوې چې د بي بي عائشې رضي الله عنها سره زياته ده، خو زړه زما په ولكه كښې نه دی.

ج: په اجماع سره ثابته ده چې نبي كريم ﷺ د خپلو بيبيانو رضي الله عنهن په باره كښې په انتهاء درجه عدل كاوه، تردې چې په مرض الموت كښې تري هم نه دی فوت شوی(٣) ترڅو امت وريسې اقتداء وكړي او بې عدلي ونه كړي.

## د بې عدلۍ مفاسد

٢٢_ الله ﷻ د متعددو زوجاتو په هكله څكه عدل واجب ګرځولی دی چې په بې عدالتۍ كښې لاندې مفاسد پراته دي:

الف: د زوجاتو (ښځو) په منځكښې كينه او عداوت زياتره د دې څخه سرچينه اخلي چې خاوند يې بې عدلي وكړي او د يوې ښځې خوا ته يې ميلان زيات شي.

مونږ په خپله زمانه كښې داسې متعددې مېرمنې ګورو چې مېړه يې د انصاف څخه كار اخلي نو د ښځو په منځكښې يې هيڅ كينه وجود نه لري، ته به وايې چې دوی بنې نه بلكې خويندې دي.

ب: د بې عدالتۍ څخه د اولادونو عداوت او دښمني هم نشئت كوي، څكه چې د هر ماشوم دپاره د خپلې مور غېږ اولنۍ مدرسه ده نو د چا سره يې چې مور دښمني لري په لاشعوري توګه يې اولادونه هم ورسره عداوت اخلي، او بالآخره د ناسكه وروڼو او خويندو په منځكښې د دښمنۍ ونه شنه كېږي او د دواړو ښځو خپلوان هم په همدې مرض باندې اخته كېږي.

ج: همدارنګه د هرې يوې طرف ته چې شريک مېړه زيات ميلان وكړي د بلې ښځې د طرف څخه ورته د عداوت دروازه خلاصېږي حتی چې په څينو اوقاتو كښې لا د مېړه د وژنې او يا د ښځې د طلاقولو سبب جوړېږي.

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص٢١٧
(٢) جامع الترمذي ج١ ص٢١٧
(٣) تفسير المنار ج٤ ص٣٦٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي!

۲۳_ لاندې نکات په پام کښې ولرئ:

الف: څرنګه چې د زوجاتو تعدد ډېره پراخه موضوع ده نو زمونږ څخه پکښې بحث اوږد شو، اوس هم د دې موضوع په شاوخوا کښې څه نکات پاتې دي، که څوک د نور بحث شوق لري نو خپلو اوږدو کتابونو[1] ته دې مراجعه وکړي.

ب: د نبي کريم ﷺ د ازواجو مطهراتو رضي الله عنهن د تعدد مباحثه د احزاب سورت ته پرېښودله شوه، که الله ﷻ توفيق راکړ هملته به يې مطرحه کړو.

## د عربيت يو بحث

۲۴_ ځينې مفسرين کرام وايي چې د ﴿أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ﴾ سره "انكِحُوا" مقدر دی[2] لکه چې د عربيت قواعد يې غوښتنه کوي. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې که د تعدد په صورت کښې د بې عدالتۍ څخه ډارېدلئ نو بيا يوه ښځه په نکاح واخلئ او يا وينځه په نکاح کړئ.

او ځينې نور وايي چې "فَاخْتَارُوا" ورسره مقدر دی[3]. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې که د تعدد په صورت کښې د بې عدالتۍ څخه ډارېدلئ نو يوه ښځه په نکاح واخلئ، او يا بالکل د اصيلو څخه صرف نظر شئ او وينځې د خانو دپاره غوره کړئ چې ښځې د بې عدالتۍ د خطر څخه بچ شئ، د وينځو په منځکښې عدالت کول ضرور نه دی ځکه چې منکوحې نه دي.

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې ښکاري چې د بحث د سياق سره موافق دی.

## سوال جواب

۲۵_ که څوک وايي چې: د "فَاخْتَارُوا" جمله خو مخکښې ذکر نه ده حتى چې دلته مقدره شي نو بايد چې دوهم تفسير په زړه پورې نه شي؟

مونږ وايو چې: د "فَاخْتَارُوا" جمله که څه هم په صراحت سره ذکره نه ده مګر د ﴿فَانكِحُوا﴾ د جملې په ضمن کښې ذکره ده. او دا ځکه چې نکاح تر هغه پورې تحقق نه شي موندلی ترڅو چې نکاح کوونکی هغه غوره نه کړي.

﴿وَءَاتُوا۟ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَـٰتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَىْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا ﴿٤﴾﴾

---

(۱) تفسير المنار ج۴ ص۳۴۴_ ۳۷۵

(۲) تفسير احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۵۵

(۳) روح المعاني ج۴ ص۱۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] او میرمنو ته د هغوی مهرونه په داسې حال کښې ورکړئ چې (په تاسو باندې) فرض کړی شوي دي (او خپله دینداري وربانديې تازه کړئ) نو که چیرې دوی ستاسو دپاره د کوم شي څخه د زړه نه تیرې شوې (او په اخلاص او خوشالۍ سره یې درته سپیځلی وګڼه) چې هغه د مهرونو څخه عبارت دی. نو هغه شی په داسې حال کښې خورئ چې (هم) برکتناک دی (او هم) ښه تیریدونکی (هضمیدونکی) دی.

## ارتباط

په وړاندېني ایت کښې توصیه شوې وه چې په تاسو باندې لازمه ده لکه څنګه چې د یتیمانو په باره کښې د بې عدالتۍ څخه ځانونه ساتئ؛ همدارنګه د زنانه وو په هکله هم د بې عدالتۍ څخه ځانونه بچ کړئ. په دې ایت کښې حکم کیږي لکه څنګه چې په تاسو باندې یتیمانو ته خپل مالونه ورکول لازم دي همدارنګه دربانديې واجبه ده چې زنانه وو ته د دوی مالونه (مهرونه) هم ورکړئ او په یوه او بله بهانه سره یې ترې ونه خورئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! لکه څنګه چې تاسو ته د زنانه وو په باره کښې توصیه وشوه چې د هغوی معنوي حقوق مه ضائع کوي همدارنګه درته توصیه کیږي چې هغوی ته مالي حقوق هم ورکړئ چې:

الف: باید میرونه ترې په مهرونو باندې خپټه وانچوي چې یا یې بالکل ورته ونه تاکي او یا یې په چل یا زور او غابن چیچي سره بیرته ورکړې ته مجبوره کړي حال دا چې خوښه یې نه وي.

ب: باید د زنانه وو خپلوان هم د خپلې خور او لور په مهر باندې سترګې خړې نه کړي، چې هغه یې د حیا د کبله ترې غوښتلی نه شي او دوی یې د میرونو څخه واخلي او په خپلو شخصي مصارفو کښې یې ولګوي.

د جهالت په زمانه کښې عادت وه چې د ښځو خپلوانو به مهرونه دوی ته نه ورکول بلکې دوی ته د ثروت سرچینې ښکاریدې او د "نافجه" په نامه به یې بللې، نو د لور پلار ته به خلکو ویلې چې نافجه (مال ډیروونکې) دې تبریک شه چې په مهر باندې به یې خپل ثروت غټ کړي[۱].

ج: باید زنانه وو ته ضرور مهر وټاکلی شي، هسې نه چې خپلوان یې د مهر په بدل کښې د میرړه د زنانه وو خپلوانو څخه کومه یوه زنانه په نکاح واخلي او یوه د بلې مهر جوړه کړي (چې په عربي کښې ورته "شغار" وایي)[۲].

۲ـ هو! که پخپله زنانه وو خپل ټول مهر یا د مهر څه برخه تاسو ته، یعنې میړونو یا خپلوانو ته، د زړه د اخلاصه دروبښله او تاسو پوه شوئ چې دا کار یې په خوشالۍ سره کړی دی نو په دې

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۹
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۹۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صورت کښې درته نه د الله ﷻ د پلوه عذاب شته او نه درته په دنیا کښې د ملامتی کوته نیوه کېږي. نو نوش جان یې کړئ هیڅ باک یې نشته، هغه دې درته مبارک او ګټه رسوونکي جوړ شي.

## توضیحات

۱ ــ مفسرین کرام اختلاف لري چې زنانه وو ته د مهر په ورکړه باندې په ﴿ وَءَاتُوا﴾ کښې څوک مخاطب دي (مېړونه یا خپلوان)؟.

الف: ځینې وایي چې دا خطاب مېړونو ته متوجه دی، لکه څنګه چې په تېر شوي ایت کښې همدوی په عدالت باندې مخاطب کړی شوي وه[١].

ب: ځینې نور وایي چې دلته د خبرو مخ د زنانه وو خپلوانو ته اوښتی دی چې دوی به کله-کله د مېړونو ورکړی شوی مهر په امانتداری نه سپاره او کله-کله به یې د بلې ښځې په مهر کښې د هغې خپلوانو ته د شغار په توګه په نکاح ورکوله چې د دواړو ښځو مهرونه به د هغوی خپلوانو ته په جیب کښې پاتې کېده[٢].

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې په ایت شریف کښې ټول مؤمنان مخاطب کړی شوي دي چې مېړونه، خپلوانو او بالآخره هغو ملکانو ته هم شامل شي چې په نکاحګانو کښې د مهرونو څخه د لونګۍ په نامه باندې څه ناڅه ترلاسه کوي، او یا د رهبارۍ په بهانه مهرونه کنډو کوي.

## یادونه

۲ــ د زنانه وو په نکاحګانو کښې أجرت اخستل جائز دي او رشوت پکښې حرام دی. لاندې مثالونه ولولئ:

الف: که یو سړی د خبر رسوونکي په حیث په منځکښې ګرځي راګرځي چې محض سوال جواب وړي راوړي او په همدې کار باندې څه أجرت یا شیرني واخلي څه باک یې نشته، خو په دې شرط چې د زنانه د مهر څخه ونه شمېرل شي او په هغه کښې محاسبه نه شي.

ب: او که په عقد کښې اغېزمن او موثر وي او په هو، یا نه، کښې یې خبره اعتبار لري نو نوموړې ته پیسې مېسې اخستل حرام کار دی او رشوت ګڼل کېږي، لکه د ځینو ملکانو او ماماګانو لونګۍ ګانې او یا نور شیان اخستل.

ج: همدارنګه حکم په هغو دواړو نفرو کښې هم دی چې د عقد څخه وروسته د واده په ورکړه کښې ګرځي او راګرځي. نو که محض سوال جواب وړي راوړي او څه شی واخلي باک یې نشته خو چې خبره یې څه اثر ونه لري. بالمقابل، که خبرې یې اثر درلود او څه شی یې واخستل نو هغه رشوت دی.

(١) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۴
(٢) رد المختار المشهور بالشامي ج۲ ص۳۶۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: کومې پیسې میسې چې د زنانه وو خپلوان یې په واده یا کوژدن کښې اخلي، چې د ولور په نامه یادېږي او د مهر څخه په غیر دی، هغه هم رشوت دی (ناجائزې او حرامې دي)[1].

## صَدُقات څه معنی؟

۳ـ ټول مفسرین کرام وايي چې "صَدُقات" د مهرونو څخه عبارت دی او دا نوم ورباندې ځکه اېښودلی شوی دی چې په دې باندې د مېرونو صداقت څرګندېږي چې دوی رښتیا د مېرمنو سره مینه او محبت لري. د همدې کبله خیراتونو ته هم صدقات وايي چې د ایمان په رښتینولۍ باندې دلالت کوي.

## "نِحْلَة" څه معنی؟

۴ـ مفسرینو کرامو د ﴿ نِحْلَةً ﴾ کلمې دپاره ګڼ شمېر معناوې کړې دي چې تقریبًا څلورو ته رسېږي[2]، مګر رئیس المفسرین ﷺ په "فریضة" باندې تفسیره کړې ده[3]. چې د معنی حاصل یې داسې کېږي: ښځو ته په داسې حال کښې مهرونه ورکړئ چې په تاسو باندې فرض کړی شوي دي، چې نه ورکول یې ګناه ده او حلال ګڼل یې کفر دی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ نِحْلَةً ﴾ په ځای "فریضة" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: د ﴿ نِحْلَةً ﴾ کلمه د هغو تورو څخه جوړه شوې ده د کومو څخه چې د شاتو د مچیو دپاره نوم (نَحْل) هم جوړ شوی دی، او شات هم حلال دي او هم خواږه. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ښځو ته د حلالو مالونو څخه مهرونه ورکړئ او په ورکولو کښې یې مه زوروئ. هسې نه چې دا متل درباندې صادق شي چې: اوزې شوده خودې راکړه مګر د پچو ډک.

## د عربیت یو بحث

۶ـ مفسرینو کرامو د ﴿ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا ﴾ په عربیت کښې په زړه پورې بحثونه کړي دي[4]، خو مونږ فقط همدومره لیکو چې ﴿ مِّنْهُ ﴾ د متعلق په اعتبار سره د "عَنْ شَيْءٍ" دپاره صفت واقع شوی دی او مفرد ضمیر یې (صدقات) جمعې ته د "مذکور" (مفرد) په تاویل سره راجع دی او ﴿ نَفْسًا ﴾ د ﴿ طِبْنَ ﴾ د نسبت دپاره تمیز دی.

---

(۱) الفتاوی الخیریه لنفع البریه ج۱ ص۴۸؛ الشامي ج۲ ص۳۹۷
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۸۳
(۳) روح المعاني ج۴ ص۱۹۸
(۴) البحر المحیط ج۳ ص۵۱۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: که چېرې د زنانه وو زړونه ستاسو دپاره کوم یو شی (چې د مهرونو څخه عبارت دی) سپېڅلی وګڼي او په اخلاص او خوشالۍ سره یې دروبخښي چې مجبوره شوې نه وي، نو هغه نوش جان کړئ، هیڅ باک یې نشته، هغه ستاسو دپاره "هني" او "مري" دی.

"هَنيء" دې ته وايي چې سړي ته بې تکلیفه لاس ته ورشي او هیڅ مشقت پکښې ونه ګوري[١].

"مَرِيء" دې ته وايي چې د ستوني څخه ښه تېرېږي او په اسانۍ سره هضمېږي[٢]. یعنې د بخښل شوي مهر په خوړلو کښې ستاسو دپاره نه په دنیا کښې ملامتیه راجع کېږي او نه په آخرت کښې.

## د سختو ناروغیو تداوي

٧ـ یوه ورځې علي رضي الله عنه ته یو سړی راغی او د ګېډې د درد څخه یې سر ټکاوه. نو هغه ورته یو علاج بیان کړ هغه دا چې د خپلې میرمنې د مهر څخه د هغې په پوره اخلاص سره څه مال واخله چې ﴿ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا ﴾ دی، او شات ورباندې خریداري کړه چې الله جل جلاله په ﴿ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ﴾ لقب باندې یاد کړي دي، او د باران اوبه ﴿ مَآءً مُّبَٰرَكًا ﴾ ورباندې وراضافه کړه، کله چې "هَنِيئًا، مَرِيئًا، شِفَآءً، مُبَارَكًا" څلور واړه سره راټول شي نو ـ ان شاء الله جل جلاله ـ ګېډه به دې روغه شي. نو نوموړي سړي دا کار وکړ او د ګېډې د درد څخه خلاص شو[٣].

زمونږ امید دا دی چې په همدې دوايي باندې به د هغو ناروغیو چې معالجه یې ستونزمنه وي، تداوي وشي ـ ان شاء الله تعالی.

﴿ وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ قِيَٰمٗا وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ۝٥ وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ۝٦ ﴾

**[٥]** او تاسو سادګانو ته خپل (د هغوی) هغه مالونه مه ورکوئ چې هغه الله جل جلاله ستاسو دپاره په پښو باندې د ودرېدلو اسباب ګرځولي دي (او ژوند مو ورپورې مربوط دی).

---

(١) لسان العرب ج١ ص١٨٤

(٢) مفردات الراغب ص٤٨٥

(٣) روح المعاني ج٤ ص٢٠٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دوی (سادګانو) ته په همدې (مال) کښې روزي ورکړئ او لباس هم ورته (پکښې) وکړئ. او دوی ته نېکه (معروفه) وینا هم وکړئ.

[۶] او یتیمان (وروزئ او) تر هغه پورې یې د ازموینې لاندې ونیسئ چې د نکاح (بلوغ) وخت ته ورسېږي، نو که د دوی څخه مو (بیا) څه هوښیارتیا ولیده نو دوی ته خپل مالونه ورکړئ.

او د دوی مالونه د شرعي څخه د تجاوز د امله مه خورئ او د هر عمرې څخه د چالاکی د امله ورباندې خېتې مه اچوئ (چې راځخه به یې واخلي).

او هر څوک چې مالدار وي نو هغه دې ترې ځان وساتي او څوک چې نادراه (فقیر) وي نو په معروفه طریقه باندې دې (ترې) څه وخوري، نو کله چې تاسو هغوی ته د هغوی مالونه وسپارئ نو شاهدان ورباندې ونیسئ. او الله ﷻ د حساب د حیثه بس دی (محاسبه به درسره وکړي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې توصیه شوې وه چې یتیمانو ته خپل مالونه او زنانه وو ته خپل مهرونه ورکړئ. او په دې ایتونو کښې هدایت راکول کېږي که چېرې دوی د مالونو حفاظت نه شو کولی او د مالونو د ضائع کېدلو خطره وه نو بیا یې مه ورکوئ او تاسو یې ورته وساتئ. خو هسې نه چې خپل موتې ورباندې په دائمي توګه کلک کړئ، بلکې دوی (سادګان) د تربیې لاندې ونیسئ او د مال ساتنه ورزده کړئ بیا ورباندې خپل مالونه وسپارئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! سادګانو ته د هغوی هغه مالونه مه ورکوئ کوم چې په تاسو باندې یې د خپلو مالونو په شان ساتنه لازمه ده، کوم چې ستاسو دپاره الله ﷻ په ژوند کښې د قیام (په پښو باندې د ودرېدلو) اسباب جوړ کړي دي چې بې ماله ژوند نه شئ کولی. نو لکه د خپل ژوند د قیام خیال چې ساتئ چې ضائع نه شي، همدارنګه د سادګانو د قیام خیال هم وساتئ. که تاسو پوهېږئ چې دوی د مالونو ساتنه نه شي کولی نو مه یې ورکوئ، خو د لاندې هدایتونو مراعات وکړئ:

۱_ د سادګانو په مالونو کښې تجارت وکړئ ترڅو د دوی روزمره خوراک او څښاک او هم یې لباس او نورې ارتیاوې، لکه دارو درمل،د مفاداتو (ګټو) څخه صورت ونیسي. یا په بل عبارت، تاسو خو هوښیار یاست، په سادګانو باندې اصلي پانګه مه خورئ او سبا ورځ یې په نظر کښې ونیسئ بلکې تجارت پکښې وکړئ چې په تجارت کښې برکت دی. هو! دا بېله خبره ده چې پانګې خرڅ کولو ته مجبور شئ.

۲_ دوی ته نېکې خبرې وکړئ، چې د یو پلوه د سادګی څخه د راویستلو په لار روان شي او د بله پلوه خپه نه شي او یا یې کوم شیطان خپه نه کړي چې تاته خو پلانی خپل مال نه درکوي او غواړي چې په دائمي توګه یې درڅخه وخوري.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ همدارنگه سادګان تربیه کړئ چې سادګي یې دوام ونه کړي او ترڅو چې بلوغ ته رسیږي چې ښه هوښیار بنیادم ترې جوړ شوی وي، چې د مال د ورکړې جوګه شوی وي.
د قولي او عملي تربیه کولو ډېره ښه لاره دا ده چې د ژوند په وړو- وړو معاملاتو کښې ورته په ګډون قائل شئ ترڅو ارزان بیه شیان واخلي او خرڅ کړي. یا په بل عبارت، سادګان د معاشرې څخه په انزوا (یوازېتوب) کښې مه ساتئ.
۴_ نو کله چې تاسو د سادګانو څخه څه ناڅه هوښیاري ولیده او پوه شوئ چې مالونه نه ضائع کوي نو هغوی ته خپل مالونه ورکړئ خو د نګرانۍ لاندې یې ساتئ او پام ورباندې کوئ چې که څه غلطیا ترې واقع کېدله هغه وراصلاح کوئ.
۵_ د سادګانو د سادګۍ څخه بده استفاده مه کوئ چې په هوښیارۍ باندې یې خانونه رانده واچوئ چې مونږ خو لا د هغه په هوښیارۍ باندې پوه نه یو، او په همدې بهانه باندې د شرعي حد څخه تجاوز وکړئ او د هغوی مالونه د خانو سره تال کړئ.
۶_ همدارنګه د هغو سادګانو مالونه هم مه خورئ چې هغوی په بلوغ سره د مالونو د ورکړې مستحق نه ګرځي بلکې هغوی ته د مال ورکړه د ډېر عمرۍ (پنځه ویشت کلنۍ) پورې ځنډېدلې وي. هسې نه چې تاسو یې په خوراک باندې چالاکي وکړئ که ذکر شوي عمر ته ورسېږي او شرعا د هوښیارانو په ډله کښې وشمېرل شي نو د هغوی مالونه به مو د لاسه ووځي او د خوراک بهانه به مو ورکه شي.
۷_ هو! د سادګانو د مالونو په باره کښې لاندې قانون په نظر کښې ونیسئ:
الف: هرڅوک چې الله ﷻ په خپلو مالونو باندې غني ګرځولی وي نو هغه دې ترې ځان وساتي.
ب: څوک چې فقیر وي نو هغه دې په معروفه توګه وخوري، څنګه خوراک او څښاک چې په اولس کښې رواج وي هغه ورته جواز لري چې د اجرت په حیث ترې استفاده وکړي.
۸_ کله چې سادګان حقیقتاً او شرعًا د رُشد (هوښیارۍ) حالت ته ورسېده او مالونه مو ورته وسپارل نو شاهدان ورباندې ونیسئ، ترڅو د یو پلوه هغوی مطمئن شي چې ستاسو سره یې نور څه پاتې نه دي او د بل پلوه تاسو بې غمه شئ چې هغوی د شیطانانو په لمسون د مالونو د تسلیمۍ څخه انکار ونه کړي او دوستي مو په دښمني بدله نه شي.
۹_ ذکر شوي هدایات د دې دپاره درکړی شوه چې د خپلو خانونو سره محاسبه وکړئ او د سادګانو د مالونو په سبب خانونه ګناهګار نه کړي. که نه نو الله ﷻ خو درسره د قیامت په ورځ محاسبه کوي چې هیڅ کره وړه به مو بې حسابه پاتې نه شي او هر څه به هلته حاضر وګورئ.

## توضیحات

۱_ د ﴿ٱلسُّفَهَآءَ﴾ کلمه د "سَفِیه" جمعه ده چې د "سَفَه" څخه اخستله شوې ده او د سفه لغوي معنی مونږ د [البقرة: ۱۳۰] ایت لاندې واضحه کړې ده. اما په دې کښې اختلاف دی چې د سُفَهاء

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(سادګانو) څخه دلته څوک مراد دي؟ چې تقريباً ټول اقوال پکښې پنځو ته رسېږي[١]، لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې په دې مقام کښې د سادګانو څخه د سړي خپلې مېرمنې او خپل ماشومان اولادونه مطلب دي[٢].

نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: خپل مالونه د دوی په ولکه کښې مه ورکوئ چې تاسو د هغوی لاس ته کښېنئ، بلکې د خپلو مالونو قبضه په خپلو لاسونو کښې وساتئ او هغوی ته د ضرورت په اندازه نفقه ورکړئ لکه چې درباندې فرض ده.

په همدې تفسير باندې د ﴿ أَمْوَٰلَكُم ﴾ کلمه ظاهراً دلالت کوي، يعنې خپل مالونه.

ب: د سعيد بن جبير عليه الرحمه څخه روايت دی چې د سادګانو څخه دلته يتيمان مراد دي ځکه چې د سورت د سر څخه اصلاً همدغه موضوع مطرح ده او راتلونکي ايتونه هم همدا موضوع تعقيبوي[٣].

## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې: په دې تقدير خو د ﴿ أَمْوَٰلَكُم ﴾ په عوض "أَمْوَالَهُمْ" په کار وه چې نازل شوی وی؟ يعنې د يتيمانو مالونه.

مونږ وايو چې: د يتيمانو مالونه ځکه وليانو ته نسبت کړی شوه ترڅو دوی وهڅوي چې د دوی مالونه په ساتنه کښې د خپلو مالونو څخه کم ونه ګڼي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ [النساء: ٢٩] تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، يعنې نور مسلمانان مه وژنئ چې د هغوی وژنه داسې ده لکه چې تاسو خپل ځانونه ووژنئ.

## تبصره

٣ـ مونږ ته دوهم تفسير ښه ښکاري ځکه چې بحث په پرديو مالونو کښې روان دی، نه په خپلو مالونو کښې. مګر ځرنګه چې پردي مالونه يوازې د يتيمانو پورې اختصاص نه لري نو بايد چې د ﴿ ٱلسُّفَهَآءَ ﴾ څخه عام سادګان مراد کړی شي ترڅو سادګانې مېرمنې او سادګان اولادونه هم پکښې شامل شي. شايد چې سعيد بن جبير عليه الرحمه به د يتيمانو ذکر د مثال په توګه کړی وي، نه د حصر په توګه.

## حلال مال ته قيام ويل شوی دی

۴ـ الله ﷻ په دې مقام کښې د مسلمانانو مالونه د قيام په نامه ياد کړي دي. يعنې مال هغه شی دی چې سړی پرې په دنيا کښې په پښو باندې ودرېږي او هم ورباندې آخرت ګټل کېږي. خو د دې

---

(١) زاد المسير ج٢ ص٨۴
(٢) احكام القرآن للجصاص ج٢ ص٦٠
(٣) تفسير البغوي ج١ ص٣٩٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تولو سره-سره د زیر بنا (اساس) په نامه یې نه دی یاد کړی لکه چې کمونستان (ملحدان) ورته همدا لقب ورکوي. د الله ﷻ په نزد باندې اساس روغه عقیده ده او بس.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: ظاهره خو داسې ښکاري چې په ﴿ وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا ﴾ کښې د "فيها" په ځای "منها" نازل شوی وی، نو په دې کښې څه حکمت دی چې دغسې نازل نه شو؟

مونږ وايو چې: په ﴿ فِيهَا ﴾ کښې لاندې نکاتو ته اشاره ده، والله ﷻ اعلم:

الف: چې سادګانو ته د هغوی د مالونو څخه تاسو پخپله خوراک او څښاک تهیه کړئ، هسې نه چې تاسو ورته د مالونو څخه د همدغه غرض د پوره کولو دپاره څه ورکړئ خو هغوی پرې خپل ضروریات پوره نه کړي او بې ځاي یې ولګوي.

ب: چې تاسو د دوی په مالونو کښې تجارت وکړئ چې اصل سرمایه یې په ځای پاتې شي او ضروریات یې د ګټو څخه پوره شي، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «أَلَا مَنْ وَلِيَ يَتِيمًا لَهُ مَالٌ فَلْيَتَّجِرْ فِيهِ»[1] یعني: خبردار! څوک چې د داسې یتیم متولي شي چې هغه مال ولري نو په مال کښې دې ورته تجارت وکړي.

نو که بالفرض د ﴿ فِيهَا ﴾ په عوض "منها" نازل شوی وی نو ذکر شوي دواړه مطلبونه به بې اشارې پاتې شوي وی.

## معروف قول څه معنی؟

۶ـ په دې مقام کښې الله ﷻ امر کوي چې یتیمانو ته معروفه وینا وکړئ خو نور تفصیل یې نه دی ورکړی. دا د دې دپاره چې هغو ټولو وینا وو ته شامل شي چې یتیمانورباندې داده کېږي او په متولي باندې د ظالم ګومان نه کوي.

څه لرې نه ده چې دغه ویناګانې د عرف او عادت او یا د حالاتو په بنا فرق وکړي چې چا ته به یو ډول وینا ګټوره وی او چا ته به بل ډول، خو د ښه وضاحت دپاره یې لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: زه شرعًا مکلف یم چې ستا د مال ساتنه وکړم، په تاباندې زما څه احسان نشته.

ب: زه ستا د مال دعوه ګیر نه یم، ستا مال په ماباندې حرام دی.

ج: ستا تجربه کمزورې ده، او په خلکو کښې چلیان ډېر دي، که تا ته یې دستي دروسپارم مال به درڅخه ضائع او خوار پکړ به درڅخه جوړ شي.

د: کله چې ستا تجربه زیاته شوه او ځوانئ ته ورسېدې نو ډېر ژر به درته خپل مال تسلیم کړم.

هـ: د مال حفاظت او تنمیه (ډېرول) دې زما په غاړه دي، ته تکره شه علوم زده کړه، تقوی او دینداري دې زیاته کړه، خوشې او بې ځایه وخت مه تېروه. او داسې نور.

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۳۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د يتيمانو روزنه

٧ـ الله ﷻ روزنه څکه ضرور کړه چې د دوی ولیانو او وصیانو ته بهانه په لاس ورنه شي چې هغوی خو لا اوس (د بلوغ څخه وروسته) هم د مال د ورکړې جوګه نه دي، نو باید چې د دوی په روزنه کښې لاندې مواد په پام کښې ونیولی شي:

الف: باید روزنه په طفولیت (ماشومتوب) کښې صورت ونیسي ترڅو چې د بلوغ وخت ته ورسېږي چې څه ناڅه هوښیاري ورته پیدا شوې وي. هسې نه چې د بلوغ څخه وروسته یې په روزنه پیل وکړي.

ب: روزنه باید په دقت او زیات کوښښ سره وي، ترڅو چې د نورو تعلیماتو په شان ازموینه هم ولري او خان ورباندې پوه کړي چې څه یې زده کړي دي، هسې نه چې فقط د روزنې لاندې یې ونیسي او نور یې غم نه کوي چې څه یې زده کړه او که نه.

ج: باید د یتیمانو روزنې ته په هغې برخه کښې زیاته پاملرنه وشي د کوم سره چې د دوی مالونه نېغ په نېغه ارتباط لري. که تجارتي مالونه وي باید چې دوکانداري وزده کړي، که زراعتي ځمکې وي باید چې دهقاني ورزده کړي او داسې نور.

همدارنګه د یتیمانو انجنکیانو روزنه هم باید د هلکانو څخه فرق ولري، څه چې دوی ته ضرور وي په همغه کښې دې ورسره کوښښ وکړی شي.

د: روزنه باید عملي بڼه هم ولري چې د تجارت په برخه کښې باید لږ ناچیزه مال د هغوی په لاس کښې واچوي چې هغوی ورباندې پلورل او پیرودل وکړي او دوی یې نتیجه د څېړنې لاندې ونیسي[1].

هـ: په دې ټولو باندې د پاسه باید د یتیمانو او سادګانو اخلاقي روزنه او اسلامي ښودانه په جدي توګه په نظر کښې ونیسي، خصوصاً په داسې وخت کښې چې د جهاد څوارلس کلنه دوره تېره شوې ده او ډېر لږ کورونه د یتیمانو څخه خالي دي. هسې نه چې ولیان خپل ماشومان د تعلیم دپاره لیرو دولتونو ته واستوي او د شهیدانو د ماشومانو د تعلیم څخه بالکل غافله شي.

## د بلوغ علامات

٨ـ الله ﷻ یتیمانو یا سادګانو ته د مالونو ورکړه په دوه شیانو پورې مربوطه کړې ده، چې یو بلوغ (د نکاح وخت) ته رسېدل دي او بل رُشد (هوښیاري) ده. په هوښیارۍ کښې دا ضرور نه ده چې پوره هوښیار شي. د همدې کبله الله ﷻ د ﴿ رُشْدًا ﴾ کلمه نکره ذکره کړه چې هر ډول هوښیارۍ ته شامله شي.

او بلوغ په دوه ډوله دی: یو بلوغ په علاماتو سره دی او بل بلوغ په عمر سره.

په علامو سره بلوغ دې ته وايي چې د نهه کالو څخه وروسته په نارینه ماشوم کښې د نارینتوب

---

(١) تفسیر المنار ج۴ ص۳۸۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نښې څرګندې شي، لکه احتلام او داسې نور. او په زنانه ماشومه کښې د زنانه وو علامې ښکاره شي، لکه حیض، امیدواره کېدل او داسې نور[1].

او په عمر سره بلوغ دې ته ویل کېږي چې د بلوغ نښانې په یوه کښې هم ونه موندلی شي خو عمر یې پنځلس کالو ته ورسېږي، نو همدغه ماشوم او ماشومه دواړه شرعاً بالغ ګڼل کېږي البته د امام محمد او ابو یوسف رحمهما الله په نزد باندې چې یو-یو روایت د ابو حنیفه رحمه الله څخه هم راغلی دی او په همدې باندې فتوی ده[2].

د ابو حنیفه رحمه الله څخه په یو روایت کښې د ماشوم د بلوغ دپاره اتلس (۱۸) کاله او د ماشومې د بلوغ دپاره اولس (۱۷) کاله هم ښودل شوي دي خو فتویورباندې نه ده ورکړه شوې.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: که په ماشوم یا ماشومه کښې د بلوغ نخښې څرګندې شي او یا په عمر سره بالغ وګڼل شي خو د دې سره-سره رشید نه وي جوړ شوی چې هوښیاري پکښې ونه موندله شي، نو په دې صورت کښې ایا مال ورکړی شي او که څنګه؟

مونږ وایو چې: د جمهور علماوو کرامو په نزد دوی تر هغه پورې د مالونو د ورکړې مستحق نه ګرځي ترڅو چې رُشد ته ونه رسېږي که څه هم سپین ږیری شي او بوډا ترې جوړ شي[3]. همدا مضمون د ایت شریف د ظاهر څخه څرګندېږي.

اما ابو حنیفه رحمه الله وایي چې که د سادګۍ په حالت کښې پنځه ویشتو کلونو ته پورته شو نو باید چې خپل مالونه ورباندې وسپارل شي که څه هم رشید نه وي. او دا څکه چې:

الف: سادګانو ته خو الله ﷻ د دې کبله د مال ورکړه ممنوعه ګرځولې ده چې دوی هوښیار شي، د دې کبله خو یې نه ده ممنوعه کړې چې بل څوک ورباندې قبضه وکړي او د دوی د لاسه یې په دائمي توګه وباسي. نو کله چې یو ساده د پنځه ویشتو کالو عمر ته ورسېږي او په بلوغ باندې یې لس کاله نور هم وراضافه شي، په اصطلاح نیکه ترې جوړ شي، مګر بیا هم د هوښیارۍ څخه محروم پاتې شي نو معلومه ده چې هغه نور نه هوښیارېږي، که بالفرض هغه ته د دې څخه وروسته هم خپل مال نه سپارل کېږي نو معنی یې دا ده چې په مال باندې د بل چا قبضه ولګېده او په دائمي توګه د هغه د قبضې څخه ووت او دا کار خلاف المراد دی.

ب: د اصول الفقه قانون دی چې د شرط د موجودیت سره د مشروط موجودیت لازم دی مګر د شرط د عدم موجودیت سره د مشروط عدم موجودیت څه ملازمه نه لري، ممکنه ده چې مشروط د بل علت د کبله موجود شي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۹۴
(۲) الفقه على المذاهب الاربعه ج۲ ص۳۵۰
(۳) روح المعاني ج۴ ص۲۰۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې د عين ايت ﴿ وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُوا ﴾ څخه څرګندېږي چې دلته مشروط (د مال ورکړه) د بل علت د کبله موجوده شوې ده چې هغه د عمر اوږدوالی دی، لکه چې په خلاصه مطلب کښې وربانديې پوره رڼا اچولې شوې ده. او دا څکه چې که د عمر اوږدوالي بالکل موثر نه وي لکه چې جمهور علماء يې وايي، نو داسې "وَبِدَارًا أَنْ يَرْشُدُوا" به نازل شوی وی، يعنې د دوی د مالونو په خوراک باندې د دې کبله چالاکي مه کوئ چې دوی به هوښيار شي او مال به مو د لاسه ووځي.

## يوه مسئله

١٠ ـ که د يتيمانو وليان غنيان وي او خپلې ګوزارې يې رواني وي نو بهتره دا ده چې د هغوی د مالو وړيا خدمت وکړي او څه ترې وانخلي. او که نه نو د خپلې ګوزارې په اندازه چې د عرف او رواج سره مطابقه وي او په مال کښې ګنجائش هم وي، ترې اخستلی شي البته د اجرت په توګه.

هو! که د هغوی مالونه زيات وي او غنيان يې د خپلو مالونو په ضمن کښې خدمت ته رسيدګي نه شي کولی نو ترڅو چې د هغو په خدمت باندې مستقيماً مشغول نه شي نو دوی ته هم رواجي أجرت جائز دی[١]. په دې مسئله کښې مختلف اقوال نور هم شته[٢]، مګر د احنافو عليهم الرحمة په نزد غنيانو ته په هيڅ صورت کښې د أجرت اخستل جواز نه لري[٣].

## يوه بله مسئله

٨ـ کوم وليان چې يتيمانو ته د شريعت مطابقت مالونه وسپاري نو بايد چې شاهدان پرې ونيسي ترڅو په راتلونکي کښې څه زره بداوی پيدا نه شي او دوستي په دښمنۍ باندې بدله نه شي. اما دا اشهاد (شاهدان نيول) استحبابي دی، وجوبي نه دی. څکه چې دا د معاملاتو څخه يوه معامله ده او په مالي معاملاتو کښې خو شاهدان نيول واجب نه دي، لکه چې د [البقرة:٢٨٢] ايت لاندې يې بيان تېر شوی دی.

﴿ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ۝٧ وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُو۟لُوا۟ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝٨ ﴾

[٧] خاص نارينه وو لره (بالغان وي او که ماشومان) د هغه مال څخه برخه شته چې هغه مور او پلار او خپلوانو (په مرګ سره) پرېښي وي. او خاص زنانه وو لره (بالغې وي او که ماشومانې) د هغه

---

(١) تفسير القرطبي ج٣ ص٤٤؛ تفسير المراغي ج٤ ص١٨٩
(٢) البحر المحيط ج٣ ص٥٢١
(٣) احكام القرآن للجصاص ج٢ ص٦٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مال څخه برخه شته چې هغه مور او پلار او خپلوانو (په مرګ سره) پرېښې وي (البته) د هغه څه څخه چې لږ وي او یا ډېر. (د الله ﷻ د پلوه) ټاکې شوې برخه.

[۸] او کله چې د وېشلو موقع ته د خپلوۍ خاوندان (چې د مېراث څخه بې برخې وي) او یتیمان او مسکینان حاضر شي نو څه ناڅه ترې دوی ته (د ثواب دپاره) ورپېرزو کړئ (که مانع ونه لري). او دوی ته وینا وکړئ معروفه وینا (ترڅو دوی دلسرده نه شي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانو ته توصیه کړې ده چې یتیمانو او سادګانو ته خپل مالونه ورکړئ او هم د زنانه وو څخه مهرونه مه ایساروئ. او په دې ایتونو کښې د همدوی حقوقو ته د یوه بل طرف څخه کتل شوي دي چې باید د پښنو لاندې نه کړی شي او د میراث څخه محروم ونه ګرځول شي.

## شان نزول

د دې ایتونو په شان نزول کښې متعدد واقعات روایت کړی شوي دي چې د ټولو روایتونو مرجع یوه شي ته کېږي، هغه دا چې د جاهلیت په زمانه کښې زنانه وو او ماشومانو ته میراث نه ورکول کېده، دوی به ویلې څوک چې جنګ نه شي کولی او مال نه شي ګټلی هغه په میراث کښې برخه نه لري. نو نبي کریم ﷺ ته په همدې موضوع کښې شکایتونه وشوه چې په نتیجه کښې ذکر شوي ایتونه رانازل شوه[۱].

## د مطلب خلاصه

یعني: ای مؤمنانو! د مور او پلار یا نورو اقاربو څخه چې هرڅومره مال پاتې وي لږ وي او که ډېر وي په هغه کښې نارینه او زنانه دواړه ډلې برخه لري، داسې برخه چې د الله ﷻ د پلوه فرض کړی شوې ده. نو تاسو ته په کار دي چې د ورکړې التزام یې وکړئ. پاتې شوه دا خبره چې د هغوی برخې څومره-څومره دي، نو هغه به درته وروسته واضحه شي.

د برخو د وضاحت په وخت کښې به درڅرګنده شي چې ځینې خپلوان د ځینو نورو د میراث اخستلو مخه نیسي. نو کله چې تاسو میراث وېشه او همدغه خپلوان چې د میراث څخه بې برخې ګرځول شوي دي او یا نور یتیمان او مسکینان هلته حاضر وه نو هغوی ته څه بخشش ورکړئ ترڅو هغوی د میدان څخه خالي لاس لاړ نه شي او ترڅو تاسو ته دعاوې وکړي او وېش مو برکتي شي. برسېره په دې هغوی ته نېکې خبرې وکړئ چې په لږ شي باندې قناعت وکړي او زړونه یې مطمئن شي.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضيحات

١ـ په دې ايتونو کښې الله ﷻ د ماشومانو او زنانه وو ميراثي برخه په اجمالي توګه لازمه کړه، ترڅو ورته ميراث خواره زړه ونيسي او پوه شي چې برخه نه ورکول د جاهليت د رواجونو څخه يو رواج دی، ډېر زر به د نورو جاهلي رواجونو په شان د منځه لاړ شي. خو تفصيل يې د راتلونکي [النساء: ١١] ايت څخه پيل کېږي. او په زړه کښې هغه تفصيل ښه کښېني چې د ابهام څخه وروسته واقع شي.

## يادونه

٢ـ که څه هم "رِجَال" نارينه وو ته وايي چې بالغان وي او همدارنګه "نِسَاء" زنانه وو ته ويل کېږي چې روږې ورباندې اوړي، مګر مونږ دلته داسې تفسير وکړ چې ماشومان هلکان او ماشومانې او انجنکيانې هم پکښې شاملې شي. ځکه چې په راتلونکو ايتونو کښې يې تفصيل په همدې عام ډول باندې راروان دی، او دا قانون دی چې ابهام او تفصيل يوازې په عباراتو کښې تفاوت لري او بس.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې ذکر شوی مضمون په لنډ عبارت باندې نازل نه کړی شو چې "لِلرِّجَالِ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ" تر آخره پورې؟

مونږ وايو دا ځکه چې:

الف: ترڅو واضحه کړی شي چې زنانه په اصل استحقاق کښې د نارينه وو څخه کمې نه دي، دوی داسې حقدارې دي لکه چې هغوی حقدار دي.

ب: ترڅو مسلمانان د اول وخت څخه په غوږ ووهل شي چې د نارينه او زنانه وو برخې سره يو برابرې نه دي، تفاوت لري.

## لږ وي او که ډېر

٤ـ که څه هم پوره واضحه ده چې هغه مال ته ميراث ويل کېږي کوم چې د مړي څخه وروسته پاتې شي برابره خبره ده چې لږ وي او که ډېر، منقولي وي او که غير منقولي او داسې نور. مګر الله ﷻ په دې مقام کښې ورباندې صراحت وکړ چې ﴿ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ﴾ لږ وي او که ډېر، ترڅو مسلمانان پوه کړي چې د ناجائزو رواجونو څخه خانونه بچ وساتي او يا ترې لاس واخلي. د مثال په توګه:

الف: ځينې خلک د مشرانې په نامه څه مال اخلي او نورو وارثانو ته پکښې برخه نه ورکوي.

ب: ځينې خلک په اوسني زمانه کښې هم زنانه د ميراث څخه محروموي او يا ورته په غير منقولي مالونو کښې برخه نه ورکوي.

ج: ځينې خلک د متروکه مال څخه رواجي خيراتونه کوي او د ټولو وارثانو رضايت پکښې نه حاصلوي، او نه د يتيمانو خيال ساتي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دلته معروف قول څه معنی؟

۵_ په دې مقام کښې هم الله ﷻ هغو ټولو خبرو ته په اجمالي توګه اشاره وکړه چې د میراث د وېشلو په وخت کښې یې برخې خپلوانو او یتیمانو ته باید ورکړی شي او د "قول معروف" په نامه باندې یې یادې کړي. او دا ځکه چې نیکې او د خوشالۍ خبرې د اشخاصو او اوقاتو په اعتبار سره فرق کوي نو باید چې مسلمانان عند الموقع ترې مناسبه استفاده وکړي. دا لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: میراث الله ﷻ پخپله وېشلی دی، زمونږ په لاس باندې د برخو ټاکل نه دي، که نه نو ستاسو برخه به مو هم کړې وی.

ب: دغه لږ څه مال تاسو واخلئ او په همدې باندې اکتفاء وکړئ.

ج: ځینې وارثان غائب دي او یا ځینې یتیمان دي، مونږ ته روا نه ده چې د هغوی د اجازې څخه په غیر تاسو ته څه درکړو تاسو مه خپه کېږئ. او داسې نور.

## یوه مسئله

۶_ د احنافو علیهم الرحمة وو په نزد په ﴿فَارْزُقُوهُم﴾ کښې امر د استحباب دپاره دی او د وجوب دپاره نه دي[1]. د دې مثال مونږ ته داسې ښکاري لکه کله چې د غلو دانو درمند اخستل کېږي او یا د یوه باغ میوه راغونډېږي نو چې مالک او دهقان یې په خپلو منځو کښې وېشي، باید چې ذکر شوی ارشاد د ثواب دپاره عملي کړي او شاوخوا راغونډ شوو خلکو ته څه ناڅه ورکړي.

﴿ وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا۟ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَـٰفًا خَافُوا۟ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ۝ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلْيَتَـٰمَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ۝ ﴾

[۹] او هغه (مسلمانان) دې (د یتیمانو په هکله د الله ﷻ څخه) وډار شي چې که چېرې هغوی (فرض کړي چې) د خپل (مرګ څخه) وروسته کمزوري ماشومان پرېږدي نو په دوی باندې به ووېرېږي (چې حقوق یې د پښو لاندې نه شي) نو هغوی دې د الله ﷻ (د عذاب) څخه خانونه وساتي او سمې وینا وې دې وکړي.

[۱۰] بې شکه هغه کسان چې په ظلم سره د یتیمانو مالونه خوري یقینًا دوی په خپلو ګېډو کښې اور خوري (ګېډې وریاندې ډکوي) او ژر به سوزوونکي دوزخ ته ورداخل شي.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۷۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

د سورت د سر څخه الله ﷻ په متعددو ایتونو کښې د یتیمانو په باره کښې احکام بیان کړه چې دا کوئ او دا مه کوئ. او په دې ایتونو کښې د ذکرو شوو احکامو د ښه تعمیل دپاره يې لاندې دوه نور هدایتونه هم نازل کړه، ترڅو هرڅوک د یتیمانو په باره کښې د یو پلوه د انساني عاطفې څخه کار واخلي او د بله پلوه د أخروي عذاب څخه وډار شي او الهي احکامو ته عملي بڼه ورکړي.

## د مطلب خلاصه

١ـ یعنې: څوک چې سمدستي د یتیمانو متولیان دي او یتیمانو همدوی ته د أمید سترګې نیولې دي چې ترحم ورباندې وکړي او حقوق يې د پښو لاندې نه کړي، دوی دې د الله ﷻ څخه وډار شي او په هغوی دې ظلم او تیری نه کوي. او دا خکه چې:

که بالفرض بله ورځ د همده اولادونه یتیمان جوړ شي او د بل چا په حضور کښې ولاړ وي او خپل حقوق ترې غواړي ایا د ده په خپلو اولادونو باندې پېرزو کېږي چې حقوق يې د پښو لاندې کړی شي؟

نو څرنګه چې په خپلو اولادونو باندې يې دا حالت نه لوربېږي نو په کار دي چې د نورو خلکو (مړو یا شهیدانو) په اولادونو باندې يې هم پېرزو نه کړي. او د داسې نېکې طریقې اساس کېږدي چې د ده د مرګ څخه وروسته د ده د اولادونو سره هم وریاندې تک وکړی شي. او څه لرې نه ده چې د همدغه نېک عمل په برکت به د ده یتیمان هم ښه وروزل شي او خلک به ورته درنوند نظر وکړي چې دوی د فلاني صالح سړي اولادونه دي.

٢ـ هو! که د چا زړه سخت وي او په یتیمانو باندې يې زړه نه سوزي او یا دومره هم نه شي کولی چې خپل خان مړ او خپل ماشومان یتیمان فرض کړي چې عاطفه يې راژوندۍ شي، نو د داسې سړي دپاره اور (دوزخ) مناسب دی.

نو یقیناً دغه ظالمان چې د یتیمانو مالونه خوري په حقیقت کښې خپلې ګېډې د دوزخ د اور څخه ډکوي، ډېر ژر دی چې ورداخل به شي او د ګېډو څخه به يې تنوروونه جوړ شي.

## توضیحات

١ـ مفسرینو کرامو په ﴿ وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ ﴾ الآیة کښې متعدد تفسیرونه کړي دي[1]، خو موږ ته هغه تفسیر غوره ښکاري چې د رئیس المفسرین ﷺ څه يې یو روایت کړی شوی دی چې د وراندې بېرته ایتونو سره په ډېر ښه ډول سره سمون خوري. هغه دا چې د ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ موصول د یتیمانو د أولیاء څخه عبارت دی[2]. موږ ته داسې ښکاري چې د یتیمانو اولیاء به د مثال په توګه ذکر شوي وي او موصول به ټولو مسلمانانو ته شامل وي.

---

(١) تفسیر القاسمي ج٥ ص٤٥
(٢) زاد المسیر ج٢ ص٨٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ لَوْ تَرَكُوا ﴾ كښې د "لَوْ" كلمه د ماضي دپاره نه ده بلكې د "إنْ" په معنى سره ده چې په استقبال كښې استعمالېږي[1]، نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې:

څوک چې د خپل مرګ څخه وروسته د خپلو كمزورو يتيمانو دپاره ظلم او تېرى نه خوښوي، بلكې د خلكو څخه ورته د ښه سلوک تمه لري، نو هغه دې په خپل ژوند كښې د يتيمانو سره همدغه رويه (تګلاره) غوره كړي.

نو په ټولو مسلمانانو باندې لازمه ده چې د يتيمانو په كمزوري حالت باندې پاملرنه وكړي. كه په چا باندې يې حقوق وي هغوى ته دې حقوق وركړي او كه نه نو د سمو خبرو حق خو په هر چا باندې لري. يتيمان لكه چې د مالونو حفاظت ته احتياج دي همدارنګه د خير او نصيحت خبرو او د آدب ښودلو ته هم اړتيا لري.

## د دې ايت ارشاد

۲ـ د ذكر شوي ايت شريف څخه لاندې اشارات هم د سړي ذهن ته ورځي:

الف: د مور او پلار ديانتداري او تقوى د اولادونو دپاره هم ګټوره واقع كېږي، لكه چې الله ﷻ په يوه پخوانى قيصه كښې فرمايي: ﴿ وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا ﴾ [الكهف: ۸۲] يعني: او هر چې ديوال وه نو د ديوال څخه لاندې د دواړو دپاره خزانه (دفن كړى شوې) وه، او د دواړو پلار صالح سړى وه.

ب: د والدينو د ظلم او تېري څخه دا خطره شته چې د دوى په اولادونو باندې همدارنګه ظلم او تېرى وكړى شي لكه چې دوى په خلكو باندې كړى وه.

## سوال جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: د مور او پلار په جنايت باندې خو اولادونه نه نيول كېږي نو د هغوى دواړو ظلم به د دوى دپاره څنګه سبب جوړ شي؟

مونږ وايو چې: د دنيا مشقتونه د اعمالو جزاګانې نه دي چې په جنايتكارانو پورې اختصاص لري بلكې دا زواجر دي چې بايد خلک ترې عبرت واخلي. د همدې كبله د ظالمانو د ظلم د وجې په دنيا كښې كله-كله لوى آفت نازلېږي او بې ګناه خلک هم پكښې سوزي لكه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ ﴾ [الروم: ۴۱] يعني: په وچه او په لمده كښې د هغوم جنايتونو د كبله چې د خلكو لاسونه يې مرتكب شوي دي فساد څرګندېږي.

نو هر چا ته په كار دي چې ظلم ونه كړي ترڅو د ده په اولادونو باندې ظلم او تېرى ونه كړى شي.

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص۲۱۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۴_ د اور د خوراک په هکله مونږ د [البقرة:۱۷۴] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا (١١) ۞ وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ أَزۡوَٰجُكُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٞ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡنَۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡتُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّكُمۡ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَكُمۡ وَلَدٞ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكۡتُمۚ مِّنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۗ وَإِن كَانَ رَجُلٞ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمۡرَأَةٞ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٞ فَلِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُۚ فَإِن كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمۡ شُرَكَآءُ فِي ٱلثُّلُثِۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصَىٰ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ غَيۡرَ مُضَآرّٖۚ وَصِيَّةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٞ (١٢) ﴾

[۱۱] الله ﷻ تاسو ته ستاسو د اولادونو په باره کښې په کلکه حکم کوي چې یو نارینه لره د دوه زنانه وو د برخې په مثل برخه ده (د هلک برخه د انجلۍ په نسبت دوه چنده ده).

نو که اولادونه ټول یوازې زنانه وه، د دوه تنو څخه اضافه، نو دوی ټولو ته د هغه مال چې مړي پرېښی دی دوه .. درېمې برخي (۲/۳) دي. او که اولاد صرف یوه انجلۍ وه نو خاص دغې لره (د ذکر شوي مال) نیمایي برخه ده.

او د مړي د مور او پلار دپاره (بلکې) د دوی دواړو د هر یو دپاره د هغه مال څخه چې مړي پرېښی دی شپږمه برخه ده (خو په دې شرط) که مړی کوم یو (نارینه یا ښځینه) اولاد ولري. او که مړي لره هیڅ اولاد نه وه او وارثان یې یوازې د ده مور او پلار وه (چې نه یې مېرمن وه او یا نه یې مېړه وه) نو خاص مور لره یې درېمه برخه ده (او پاتې د پلار دي). نو که مړي لره وروڼه وه نو مور لره یې شپږمه ده (او پاتې د پلار دي).

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(خو دا ټولې برخې) د داسې وصیت (د اداء کولو) څخه وروسته (صورت نیسي) چې مړي وربانديې وصیت کړی وي، او (هم) د دَین (د قرض د ورکړې څخه وروسته).

ستاسو پلرونه او ستاسو زامن، تاسو (د دوی په باره کښې) نه پوهېږئ چې کومه یوه ډله تاسو ته د ګټې رسولو د حیثه نژدې ده (نو خکه تاسو ته د برخو وېش ونه سپارل شو).

(ذکر شوي برخې ټاکلې شوې دي) د الله ﷻ د پلوه ټاکل. یقیناً الله ﷻ پوه دی (او) د حکمت خاوند دی (تاسو نه علم لرئ او نه د حکمت خاوندان یاست).

[۱۲] او تاسو لره د هغه مال نیمایي برخه ده چې ستاسو مېرمنو پرېښی دی (خو په دې شرط) که هغوی هیڅ اولاد ونه لري. نو که دوی لره اولاد وه (لور یا زوی) نو تاسو لره د هغه مال څلورمه برخه ده چې دوی پرېښی دی. (خو) د داسې وصیت (د پوره کولو) څخه وروسته چې (ستاسو مېرمنو) وربانديې وصیت کړی وي، او (هم) د دَین (د ورکولو څخه وروسته).

او خاص دوی (مېرمنو) لره د هغه مال څلورمه برخه ده چې تاسو پرېښی دی (خو په دې شرط) که تاسو لره په هیڅ ډول بانديې اولاد نه وي، نو که تاسو لره اولاد وه (نارینه وي که ښځینه، د همدې مېرمنې څخه وي که د بلې څخه) نو دوی لره د هغه مال اتمه برخه ده چې هغه تاسو پرېښی دی، (خو) د داسې وصیت د پوره کولو څخه وروسته چې تاسو وربانديې وصیت کړی وي او (هم) د دَین (د اداء کولو څخه وروسته عملي بڼه ورکوله کېږي).

او که یو سړی یا یوه ښځه په داسې حال کښې میراثه شوه چې نه یې پلار درلود او نه زوی، حال دا چې هغه لره (مورنی) ورور یا خور وه، نو د دغو دواړو څخه هر یوه ته شپږمه برخه ده. نو که چېرې دوی (مورني ورونه یا خویندې) د ذکر شوي معیار (یوه) څخه زیات وه، نو دوی ټول دریمه برخه کښې سره (یو برابر) شریک دي (نارینه یې په زنانه وو بانديې څه بهتري نه لري).

(خو) د داسې وصیت د پوره کولو څخه وروسته چې وصیت کړی شوی وي او (هم) د دَین (د خلاصولو څخه بعد باید ذکرې شوې برخې ووېشل شي).

(ذکر شوي وصیتونه او قرضونه باید په داسې حالت کښې ثابت شوی وي) چې (وصیت کوونکی او په دَین بانديې اقرار کوونکی) ضرر رسوونکی نه وي.

(تاسو ته په ذکر شوي تفصیل سره په کلکه حکم کېږي) د الله ﷻ د پلوه حکم کېدل. او الله ﷻ پوه دی (حکم منونکی پېژني او هم) د حلم والا دی (په چالاکۍ سره چا ته جزا نه ورکوي نو د جزا ټالول د عفوې معنی نه ورکوي).

## ارتباط

یو حکم چې د څومره انتظار څخه وروسته بیان شي په هماغې اندازه په ذهن کښې ښه کېني. د [النساء: ۷] ایت کښې الله ﷻ مسلمانان منتظر کړي وه چې نارینه او زنانه دواړه په میراث

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې برخه لري خو د برخو بیان یې تال کړی وه. په دې ایتونو کښې د تالو شوو برخو تفصیل بیل شوی دی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: الله ﷻ تاسو ته د میراث څخه د اولادونو برخې داسې بیانوي:

الف: که مړی نارینه او ښځینه دواړه ډوله اولادونه ولري نو د هر یوه زوی برخه د لور په نسبت دوه چنده ده، برابره خبره ده چې زامن ډېر وي یا لورګانې او یا دواړه سره سم په سم وي.

ب: که مړي یوازې ښځینه اولادونه (لورګانې) درلودې نو د دوه وو او د دې څخه د ورپورته عدد، هرڅومره چې وي، د ټولو میراث دوه دریمې (۲/۳) برخې دي.

ج: او که یوازې یوه لور یې درلوده نو هغه د ټول میراث نیمایي برخه (۱/۲) اخلي او بس.

## د مور او پلار برخې

۲ـ د مړې مور او پلار لاندې حالات درلودلی شي:

الف: که مړي یوازې نارینه اولاد درلود، برابره خبره ده چې یو تن وي او که اضافه وي نو مور او پلار هر یو د ټولې ترکې (میراث) شپږمه برخه (۱/۶) اخلي او نور نارینه اولاد ته پاتې کېږي.

ب: او که یوازې ښځینه اولاد یې درلود نو د مور او پلار په شپږمو برخو کښې څه تغیر نه پرېوزي خو چې لورګانې خپلې برخې واخلي او څه پاتې شي هغه هم د پلار د شپږمې برخې سره یو ځای کېږي.

۳ـ که مړي هیڅ اولاد نه درلود نو د لاندې درې حالتونو څخه به خالي نه وي:

الف: چې فقط یوازې مور او پلار یې وارثان وي، نو په دې صورت مور ته د ټول مال یو ثلث دی او ټول متباقي (دوه ثلثه) د پلار برخه رسېږي.

ب: چې د مور او پلار سره یا د مړي مېړمن او یا د مړې خاوند هم په وارثانو کښې شامل وي، نو په دې صورت کښې قانون دا دی چې مېرمن یا خاوند به لومړی خپله برخه واخلي او په متباقي کښې د مور دریمه برخه رسېږي، نور چې څه پاتې دي هغه پلار ته تکیه کوي.

ج: چې د مور او پلار سره د مړي دوه تنه یا زیاتې خویندې یا وروڼه ژوندي وي، برابره خبره ده چې سکه وي، یا ناسکه او بالآخره یا مورنې وي، نو په دې صورت کښې د مور یوازې د مجموعه مال شپږمه برخه رسېږي او متباقي ټول مال د مړي پلار ته پاتې کېږي.

هو! که د خویندو او وروڼو څخه یو تن ژوندی وه نو بیا د مور په برخه باندې څه اثر نه اچوي او د "الف" صورت عملي بڼه اختیاروي.

خو د مړي ترکه (میراث) په هغه وخت کښې د وېش لاندې راځي چې د هغه دَین (قرض) پرې خلاص شي او هم د هغه وصیت ـچې دریمې برخې څخه اضافه نه وي ـ هم ترې پوره کړی شي. دا هله چې په هغه باندې یا قرض وي او یا یې وصیت کړی وي، که بالفرض د قرض او وصیت څخه څه پاتې نه شوه نو بیا خو وېش ته حاجت نشته.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## په یاد ولرئ!

۴ـ په یاد ولرئ چې الله ﷻ په تاسو باندې لوی فضل وکړ چې ستاسو د وارثانو برخې یې پخپله درته بیانې کړې چې په هر شي باندې علم لري او ستاسو ګټه او تاوان هم ورته پوره څرګند دی. که بالفرض ستاسو د وارثانو برخې یې پخپله نه وی رانازلې کړې او ستاسو اجتهاد ته یې پرېښې وی نو تاسو به هیڅکله په ذکر شوي ډول باندې نه وي معلومې کړې. او دا څکه چې تاسو څه پوهېږئ چې پلرونه به درته ژر په درد وخوري او که زامن به مو په عاجل ډول په ښه درشي. نو څرنګه چې ستاسو سره ذکر شوي معلومات نشته نو د ترکې (مېراث) برخې تاکل هم ستاسو د لاسه پوره نه وه. الله ﷻ د خپل کامل علم او کامل حکمت په بناء برخې ټاکلې دي نو تعمیل یې په تاسو باندې فرض دی، هاغه او دغه پکښې مه کوي او بهانو انو څخه خانونه بچ وساتئ.

## د مېرمن او خاوند برخې

۵ـ د مېرمنې برخه د خاوند په میراث کښې، او د خاوند برخه د مېرمنې په میراث کښې په لاندې ډول ده:

الف: د مېرمنې په ترکه (میراث) کښې خاوند نیمایي (۱/۲) برخه اخلي خو په دې شرط چې مېرمن هیڅ ډول اولاد ونه لري. نه نارینه، نه ښځینه، نه د اوسنې مېړه څخه او نه د بل څخه.

ب: که مېرمنې یو اولاد یا ډېر درلوده نو په دې صورت کښې یې خاوند د ترکې (مېراث) څلورمه (۱/۴) برخه اخستلی شي او بس.

خو دلته هم په یاد ولرئ چې د ترکې وېشلو څخه وړاندې باید د مړو شوو مېرمنو قرضونه او شرعي وصیتونه ورکړئ څکه چې دغه دواړه د میراث خورو د برخو څخه د اولیت حق لري.

ج: د خاوند په میراث کښې مېرمن د څلورمې (۱/۴) برخې مستحقه ده خو په دې شرط چې خاوند یې په هیڅ ډول اولاد ونه لري، نه د ژوندۍ مېرمنې څخه او نه د مړې یا مطلقې مېرمنې څخه، نه یو تن او نه ډېر، نه نارینه او نه ښځینه.

د: او که خاوند یې یو ډول اولاد درلوده نو مېرمن یې په ترکه کښې د اتمې (۱/۸) برخې مستحقه ده او بس.

خو دلته بیا هم ذکره شوې خبره په غوږ کښې ونیسئ چې د میراث وېشل د قرض او د شرعي وصیت د پوره کولو څخه وروسته صورت نیسي.

## هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي چې یوه مېرمن د خپل خاوند د میراث څخه صرف څلورمه یا اتمه برخه اخلي او که مېرمنې د یوې څخه اضافه وې نو هغوی ټولې په څلورمه یا اتمه برخه کښې شریکېږي او بس.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د اخیافي خویندو او ورونو برخې

۷ـ د مورنیو خویندو او ورونو په برخو کښې دا شرط ده چې مړی دې "کلاله" وي، چې نه پلار ولري او نه یې اولاد ژوندی وي، یعنې نه زوی ولري او نه لور. که نه نو دوی د میراث څخه بې برخې کېږي. په هر تقدیر د برخو تفصیل یې دا دی:

الف: یو تن اخیافي ورور یا خور د میراث شپږمه برخه (۱/۶) اخلي.

ب: دوه یا د دې څخه اضافه اخیافي خویندې او ورونه ټول د ترکې په درېمه (۱/۳) برخه کښې سره یو برابر شریک دي، نارینه په ښځینه باندې په برخه کښې څه غوره والی نه لري.

دلته هم دا ضرور ده چې باید د ترکې څخه د مړي قرض خلاص او شرعي وصیت پوره کړی شي او د دې څخه وروسته دوی خپلې برخې واخلي.

دا څلورم ځل دی چې تاسو ته د قرض او وصیت په باره کښې لارښوونه کېږي نو په کار دي چې سستي پکښې ونه کړئ.

۸ـ برسېره په دې، باید تاسو د خپلو وارثانو خیال وساتئ، نه په قرض کښې په هغوی تېری وکړئ چې په دروغو باندې چا ته د قرض اقرار وکړئ او نه په وصیت کښې د هغوی حقوق د پښو لاندې کړئ چې د خپل مال د درېمې برخې څخه اضافه په وصیت کښې شامل کړئ.

په دغو دواړو صورتونو کښې ستاسو د وارثانو برخې ورې کېږي او مال یې د لاسه اوځي چې دا کار دوی ته ضرر دی.

## توضیحات

۱ـ د تاریخ په اوږدو کښې د مړي متروکه مال وېشلی شوی دی خو د وراثت سببونو اختلاف درلود. نو د جاهلیت په زمانه کښې، چې دنیا په تیاره کښې پرته وه، د وراثت دپاره لاندې اسباب ټاکلي شوي وه[1]:

الف: هغه چا په میراث کښې برخه درلوده چې د مړي سره به یې نسبي اړیکه وه، مګر دا پکښې شرط وه چې زنانه او ماشوم به نه وي ځکه چې دوی نه توره وهلی شي چې غنیمت راټول کړي او نه څه ګټلی شي.

ب: هغه څوک هم مستحق وه چې مړي به په خپل ژوند کښې په زوی ولی سره نیولی وه، چې په دري ژبه کښې ورته "بچه خوانده" وایي، په عربي کښې دا کار په "التّبنّي" سره یادېږي.

ج: هغه دواړه کسان هم یو د بل وارثان ګڼل کېدل چې یو به بل ته دا عهد ورکړ چې غم او ښادي مو سره شریکه ده، که ته مړ شوې زه به دې میراث وړم او که زه مړ شوم ته به مې وارث یې چې دې ته "عقد الموالاة" وایي.

---

(۱) تفسیر المراغي ج۴ ص۱۹۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د میراث اسلامي اسباب

۲ـ کله چې نړۍ په اسلام باندې رڼا شوه نو په ذکرو شوو درې اسبابو باندې څه نور اسباب هم ورزیات شوه چې ټول دغو لاندې اسبابو ته ورسېده[1]:

الف: "النَّسَب"، نسبي اړیکه.

ب: "التبني"، په زوی ولی سره نیول.

ج: "عقد الموالاة"، د دوستي ترون او معاهده.

د: "الزوجية"، نکاحي ارتباط.

هـ: "وَلاءُ العِتاقة"، یعنې چې ازاد کړی شوی سړی مړ شي او نسبي وارث ونه لري نو د میراث مستحق یې هغه څوک دی چا چې ازاد کړی وي.

و: "الهجرة"، یعنې کله چې مسلمانانو هجرت وکړ نو هغه چا یې میراث وړلی شو چې هغه به هم هجرت کړی وه او د مړي سره به یې دوستي درلوده او کوم خپلوان به یې چې د هجرت څخه محروم وه نو هغوی به د میراث څخه هم محروم وه.

ز: "المواخاةُ الإسلامية"، یعنې کله چې نبي کریم ﷺ په مدینه منوره کښې د یوه انصاري او یوه مهاجر ورورولي قائمه کړه نو همدغو دواړو به یو تربله سره میراث هم ووړ.

مګر کله چې اسلامي حکومت جوړ شو نو الله ﷻ د ذکر شوو اوه اسبابو څخه درې سببونه (التبني، الهجرة، المواخاة الإسلامية) لغوه کړه او پاتې (النسب، الزوجية، ولاء العتاقة، عقد الموالاة) څلور سببونه یې ثابت پرېښودل.

### یوه مسئله

۳ـ که بالفرض یو مړی د ذکر شوو وارثانو څخه یووارث هم ونه لري نو باید چې د هغه پاتې شوې دارایي بیت المال ته وسپارله شي ترڅو ضائع نه شي. او دا څکه که بالفرض ذکر شوي مړي هیڅ دارایي نه درلودی نو تکفین او تجهیز به یې ضرور د بیت المال څخه کېده نو اوس چې څه پاتې دي دا هم باید په بیت المال کښې شامل کړی شي.

همدارنګه د هغه مړي متروکه مال هم بیت المال ته اړول کېږي چې وارثان لري مګر دوی ته شریعت اجازه نه ورکوي چې په خپلو منځو کښې یې ووېشي، لکه د پیغمبرانو علیهم السلام ترکه، چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «لَا نُورَثُ» الحديث[2] زمونږ (د پیغمبرانو د ټولګي) څخه میراث نه وړل کېږي. یعنې زمونږ ترکه ټولو مسلمانانو ته صدقه ده. په همدې باندې د اهل التشیع څخه په غیر د نور ټول امت اجماع ده او پوره بیان یې څینو مفسرینو کړامو لیکلی دی[3].

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۷۸

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۹۹۵

(۳) روح المعاني ج۴ ص۲۱۷؛ التفسیر الکبیر ج۹ ص۲۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ترکې څلور حقوق

۴ـ کله چې څوک مړ شي د هغه د پاتې شوي مال (ترکې) پورې لاندې څلور حقوق په ترتیب سره تعلق نیسي[1]:

لومړی حق: د هر څه څخه وړاندې د مړي کفن ضرور دی، البته د هغسې کېږي څخه چې هم په کیف او هم په عدد کښې د افراط او تفریط څخه خالي وي چې فقهاؤ کرامو واضحه کړې دي.

همدارنګه د مړي هغه ټول ضروریات د لومړي حق څخه ګڼل کېږي چې په دفنولو کښې ورته ضرورت وي، لکه د غسل ورکولو مزدوري، د قبره د خمکې قیمت، یا یې د کیندلو اجرت، یا د انتقال کرایه او داسې نور.

دوهم حق: که څه پاتې شي نو باید چې د مړي قرضونه ورباندې خلاص کړی شي.

دریم حق: که څه پاتې شوه نو باید د مړي وصیتونه پوره کړی شي. البته هغه وصیتونه چې مجموعه یې د پاتې شوي مال د دریمې برخې څخه اضافه نه شي.

څلورم: که د دې څخه وروسته هم څه ناڅه مال پاتې شو هغه باید د وارثانو په منځکښې ووېشل شي.

## د وارثانو عمده ګروپونه

۵ـ وارثان په عمده توګه په دري ګروپونو وېشل شوي دي: اصحاب الفرائض (د برخو خاوندان)، عصبه او ذوو الأرحام. چې څه تفصیل یې دا دی:

الف: "اصحاب الفرائض" د هغو وارثانو نوم دی چې په شریعت کښې ورته برخې ټاکلې شوې وي. برخې دا دي: نیمه، څلورمه، اتمه، یا شپږمه، دریمه او دوه ، دریمې (۲/۳).

ب: "عصبه" د هغو وارثانو لقب دی چې دوی هغه څه اخلي کوم چې د "اصحاب الفرائض" د برخو څخه پاتې شي او که څه ترې پاتې نه شي نو بیا دوی ته صبر دی او بس. لکه تره، وراره او نور.

ج: "ذوو الأرحام" هغو وارثانو ته وایي چې د مړي سره نسبي اړیکه ولري خو په أصحاب الفرائض او عصبه وو کښې شامل نه وي. لکه خاله (مورنۍ تروړ) او خوریونه.

## د میراث د علم اساسات

۶ـ کوم علم چې د ترکې (پاتې شوي مال) او د وارثانو بحث پکښې کېږي هغه ته د میراث علم وایي، چې د فقهې په کتابونو کښې مشرح بیان شوی دی. نوموړی علم په لاندې اساساتو باندې ولاړ دی:

الف: ذکر شوي دواړه [۱۱، ۱۲] ایتونه.

---

(۱) الرسالة السراجيه ص۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د همدې سورت وروستنی [۱۶۷] ایت.

ج: د [الأحزاب: ۶] ایت.

د: هغه ټول احادیث چې د ذکر شوو ایتونو دپاره تفسیر واقع شوي او فقهاء کرامو ترې استنباطات کړي دي.

دا کتاب دومره حوصله نه لري چې د فرائضو علم دلته هو بهو رانقل کړي، علاقمندان دې هلته مراجعه وکړي چې خانونه ورباندې ښه پوه کړي خکه چې دا ډېر مهم علم دی او نبي کریم ﷺ یې په زده کړه باندې زیات تاکید کړی دی، لکه چې فرمايي: «تَعَلَّمُوا الفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهَا فَإِنَّهُ نِصْفُ العِلْمِ وَهُوَ يُنْسَى وَهُوَ أَوَّلُ شَيْءٍ يُنْزَعُ مِنْ أُمَّتِي»[۱] یعنې: د میراث علم زده کړئ او هم یې نورو ته ورزده کړئ، خکه چې دا نیمايي علم دی او دا به هېر کړی شي او دا هغه اولنی شی دی چې زما د أمت څخه به واخستل شي. یعنې په دې اعتبار نیمايي علم دی چې د مرګ پورې اړه لري او نور ټول علوم په ژوند پورې مربوط دي، او خکه به هېر کړی شي او څوک به ورباندې نه پوهېږي چې خلک به ورته اهمیت نه ورکوي چې نه به یې زده کوي او نه به ورباندې عمل کوي، دا هم د قیامت د علاماتو څخه یوه علامه ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وايي چې: په ایت شریف کښې د یوې لور او د درېوو یا زیاتو لورګانو برخې ښودلې شوې دي. نو پوښتنه دا ده چې ایا د دوه لورګانو برخه هم دوه ثُلثه (۲/۳) ده او کنګه؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو د ذکر شوي سوال دپاره زښت ډېر جوابونه کړي دي[۲]، مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې په لاندې یو حدیث شریف باندې اکتفاء وکړو، چې دوه لورګانې یې د دېرو لورګانو په څېر ګڼلې دي:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د "سعد بن الربیع" ښځه ورغله او ورته یې وویلې چې ای د الله ﷻ پیغمبره! دا دواړه د سعد لورګانې دي چې پلار یې ستا سره د أحد په غزا کښې شهید شو، د دوی دواړو کاکا سعد ټول مال واخست، دغو دواړو ته یې هیڅ شی پرېنښود، حال دا چې دوی دواړه خو بدون د مال څخه نه شي ودېدلی. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې په دې کښې به الله ﷻ فیصله وکړي. نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه.

نو نبي کریم ﷺ د انجنکیانو کاکا راوغوښت او هدایت یې ورته وکړ چې: «أَعْطِ ابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ وَأَعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ»[۳] یعنې: د سعد دواړو لورګانو ته دوه ثُلثه ورکړه او د دوی دواړو مور (کونډې) ته اتمه برخه ورکړه او څه چې پاتې شوه نو هغه ستا شوه.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۹۵

(۲) احکام القران للجصاص ج۲ ص۸۰؛ تفسیر القرطبي ج۵ ص۶۳؛ روح المعاني ج۴ ص۲۲۳

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا په اسلام کښې لومړنی ترکه وه چې نبي کريم ﷺ وویشله[١].

لنډه دا چې په ذکر شوي حدیث سره ایت شریف تفسیر شوی دی، بل تفسیر یا بله وجه بیانول چندان مزه نه کوي.

## یادونې

٨ـ په دې مقام کښې باید لاندې ټکي په یاد وساتل شي:

الف: الله ﷻ د اولادونو په برخو کښې داسې عبارت رانازل کړ چې د لورګانو برخې یې مشبه به واقع کړې او د زامنو برخې یې ورسره تشبیه کړې. یا په بل عبارت: د اولادونو د برخو په بیان کښې یې د لورګانو برخې معیار وټاکلې ترڅو مسلمانان په غوږ ووهي چې د لورګانو په برخو کښې سستي مه کوئ، دا سې وګڼئ لکه چې دوی اصلي وارثانې وې او زامن، چې تاسو میراث هغوی پورې خانګړی کړی دی، په میراث کښې عارضي (وي). او دا څکه چې په تشبیه کښې مشبه به اصل وي او مشبه فرعه.

ب: د ذکر شوي عبارت ﴿ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾ څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې که مړی یوازې زوی ولري نو هغه د ټول مال مستحق دي، څکه چې د یوې لور دپاره نیمايي برخه ټاکلې شوې ده: ﴿ وَإِن كَانَتْ وَٰحِدَةً فَلَهَا ٱلنِّصْفُ ﴾، او نیمايي چې دوه چنده کړی شي واحد (یو) تشکیلوي.

## په میراث کښې دوه او درې یو حکم لري

٩ـ د میراث په علم کښې دوه تنه او د دې څخه اضافه په حکم کښې تفاوت نه لري[٢]. د همدې کبله لکه څنګه چې درې تنه خویندې او ورونړه د مړي مور د دریمې برخې څخه شپږمې برخې ته رابنکته کولی شي همدارنګه دوه تنه هم دا کار کولی شي، که څه هم د پلار په موجودیت کښې دوی پخپله بې برخې کېږي.

## الله ﷻ علیم او حکیم دی

١٠ـ الله ﷻ د خپلو جلیله صفاتو د جملې څخه په دې مقام کښې علیم او حکیم رانازل کړ ترڅو چې د هغو ټولو سوالونو دپاره جواب شي چې د میراث د وېشلو په هکله د چا په ذهن کښې تاوېږي راتاوېږي. د ټولو جوابونو حاصل دا دی چې هر یو وارث ته الله ﷻ د خپلې پوهې او د حکمت د غوښتنې په مطابق برخه ټاکلې ده، په څینو برخو کښې چې ستاسو په ذهن کښې څه سوال ګرځي راګرځي د هغو ټولو سوالونو منشا صرف یوه ده چې ستاسو علم ناقص دی او هم د الله ﷻ په

(١) تفسیر البغوي ج١ ص٤٠٢
(٢) روح المعاني ج٣ ص٢٢٦؛ تفسیر المظهري ج٢ ص٢٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې شمېره حکمتونو باندې خبر نه یاست. نو ښه دا ده چې په خپل قصور اعتراف وکړئ او د بې ځایه سوالونو څخه خانونه وژغورئ او هم د دښمنانو عنادي سوالونه رد کړئ.

د سوالونو څه مثالونه په لاندې کرښو کښې ولولئ:

الف: د مړي دپاره خو نارینه اولادونه او ښځینه اولادونه یو نسبت لري نو د دوارو په برخو کښې ولې نیم په نیمه فرق واقع شو؟

دا ځکه چې الله ﷻ ته د دوارو ډلو ارتیاوې معلومې دي چې نارینه اولادونه د واده په وخت کښې خپلو مېرمنو ته مهر ورکوي خو ښځینه اولادونه مهرونه اخلي، په نارینه وو باندې د خپل خان او د خپل کور کهول نفقه لازمه ده خو په ښځینه باندې نه د خپل خان نفقه شته او نه د خپلو اولادونو، بلکې دغه ټول د هغې د پلار یا خاوند په غاړه دي، او داسې نور.

ب: د مړي دپاره پلار او زوی یو نسبت لري چې یو یې اصل دی او بل یې فرعه، په کار وه چې په برخو کښې یې تفاوت نه وی واقع شوی؟

دا ځکه چې الله ﷻ ته ښه څرګنده ده چې د سړي دپاره به په دنیا کښې پلار ښه ګټور جوړ شي او که زوی. او یا به د مړي دپاره په آخرت کښې پلار په درد وخوري چې د ده په ذریعه لوړو درجو ته پورته شي او که د زوی په ذریعه به دا کار صورت ونیسي، او داسې نور.

ج: خویندې او وروڼه چې د پلار په موجودیت سره څه برخه نه شي اخستلی نو مور ته ولې ضرر رسوي چې د دریمې څخه یې شپږمې ته رانښکته کوي؟

دا ځکه چې الله ﷻ ته معلومه ده چې د مړي د خویندو او وروڼو نفقه د مړي د پلار په غاړه ده چې د ده اولادونه دي، او د مړي مور ترې بې غمه ده.

د: څه ضرورت وه چې سړي ته حق ورکړی شو چې د خپل مال په دریمه برخه کښې د خپل مرګ څخه وروسته هم د وصیت په ذریعه تصرف وکړي؟ په کار وه چې د وصیت کول بالکل باطل اعلان شوي وی؟.

دا ځکه چې الله ﷻ ته د مړي ارتیا ښه معلومه ده. مثلا که یو سړی څو زامن ولري او د ده په ژوند کښې یې یو زوی مړ شي او اولادونه یې پاتې شي نو کله چې نوموړی سړی پخپله وفات شي ټول مال یې ژوندیو زامنو ته میراثېږي او لمسیان یې پکښې برخه نه شي اخستلی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه به ضرور د نوموړي زړه غواړي چې بېچاره لمسیان تش لاس پاتې نه شي، خصوصاً چې پلار یې په جهاد کښې شهید شوي وي. لکه چې په افغاني ټولنه کښې یې بې شمېره مثالونه شته.

نو الله ﷻ لطف وکړ او هر چا ته یې حق ورکړ چې د خپل متروکه مال د دریمې حصې څخه ذکر شوي بې برخې لمسیان د برخې خاوندان جوړ کړي او غمونه یې د خانه سره قبر ته یونه سي.

د دې کبله چې وصیت د مړي د هغو آرزوګانو د پوره کولو دپاره مشروع کړی شوی دی چې هغه د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



میراث په ویشلو باندې نه پوره کېږي، چا ته اجازه نشته چې برخوال وارث ته وصیت وکړي او نه ورته اجازه شته چې د درېمې برخې څخه په وصیت کښې تجاوز وکړي چې په وارثانو باندې تېرى راشي.

## یادونه

۱۱ـ څرنګه چې د مړي دَین (پور) خلاصول او د وصیت پوره کول په وارثانو باندې درانه تمامېږي چې تیاره مړی یې د لاسه وخي، نو الله ﷻ ورباندې زیات تاکید وکړ چې په دواړو ایتونو کښې یې څلور کرته ذکر کړ، ترڅو ورته وارثان زړه نازړه نه شي او په اخلاص سره پرې عمل وکړي.

که څه هم د ټولو فقهاء کرامو اتفاق دی چې د قرض خلاصول د وصیت په پوره کولو باندې وړاندې دي(۱)، خو الله ﷻ د قرض څخه وصیت وړاندې ذکر کړ ترڅو مسلمانان په غوږ ووهل شي چې د وصیت پوره کولِ د قرض د خلاصون څخه په فرضیت کښې څه کم نه دی، ته به وایې چې د وصیت څخه لا د قرض ورکړه مخکښې فرضه شوې ده.

او څرنګه چې د دې خبرې خطر هم وه چې څوک د ذکر شوي قانون څخه په لاندې ډول بده استفاده وکړي:

الف: چې خان په دروغو سره پوروړی معرفي کړي او یا په درانه قرض باندې د دروغو اقرار وکړي.

ب: چې په چا باندې یې قرض وي او په دروغو اقرار وکړي چې ما ترې اخستی دی، څه ورسره پاتې نه دي.

ج: چې غیر وارث ته د الله ﷻ د رضا دپاره وصیت نه کوي بلکې په خپلو وارثانو باندې د میراث د څه برخې د کمبدو په موخه دا کار وکړي او یا داسې نور.

نو الله ﷻ د دَین (پور) او وصیت د څلورم ځل سره د ﴿ غَيْرَ مُضَآرٍّ ﴾ کلمه زیاته نازله کړه چې باید نه څوک په دَین کښې په وارثانو باندې ظلم وکړي او نه په وصیت کښې.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ غَيْرَ مُضَآرٍّ ﴾ کلمه د وصیت او دَین په څلورم ځل کښې نازله شوه او تېرو شوو درې ځلو سره نازله نه شوه؟

مونږ وایو چې: په څلورم ځل کښې ورباندې ځکه صراحت وکړی شو چې دلته د اخیافي خویندو او ورونو برخې بیانې شوې دي، ځکه چې د ټولو فقهاء کرامو اجماع ده چې د ﴿ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٌ ﴾ څخه مورنی ورور او مورنۍ خور مطلب ده(۲)، او ښکاره ده چې دوی د تېرو شوو ګروپونو (اولادونه، مور او پلار، مېرمنې او خاوند) څخه لږ څه خلکو ته لږ ښکارېږي، نو دلته دا خطره ډېره وه چې څوک

(۱) تفسیر القرطبي ج۵ ص۷۳

(۲) تفسیر المظهري ج۲ ص۳۴؛ تفسیر القرطبي ج۵ ص۷۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وریاندې په وصیت یا قرض کښې تیری وکړي. نو څکه دلته په صراحت سره ذکر شو او هلته عین کلمه په ضمني توګه مراده ده.

## "کَلَالَة" څه معنی؟

۱۳ـ د ﴿ كَلَٰلَةً ﴾ کلمه په اصل کښې مصدر ده چې د "کَلال" په معنی سره ده، کلال هغې کمزورۍ ته وایي چې سړي ته د ستومانتیا د کبله وربېښه شوې وي. خو دلته ترې هغه خپلوي مراده ده چې د پلاروليٰ او ولدیت (زوېتوب) څخه پرته یې تحقق موندلی وي. او دا ځکه چې دا خپلوي څه اندازه کمزوري او ضعیفه ده[١].

د دې کبله چې ﴿ كَلَٰلَةً ﴾ مصدر دی نو هغه مړي ته کلاله ویل کېږي کوم چې پلار او زوی ونه لري، او پخپله همدغو وارثانو (پلار، زوی) ته هم د کلاله لقب ورکول شوی دی.

په دواړو معناګانو سره یې په حاصل کښې فرق نه پرېوزي، خو موږ لومړنی اطلاق خوښ کړی دی چې حاصل یې داسې کېږي:

که چېرې د یو سړي یا یوې ښځې څخه په داسې حال کښې میراث پوورل شي چې هغه کلاله وي چې نه یې پلار ژوندی وي او نه اولاد ولري، زوی وي او که لور... (تر اخره پورې).

﴿ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٣﴾ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدْخِلْهُ نَارًا خَٰلِدًا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۳] دغه (ټول احکام) د الله ﷻ (ټاکلی شوي) حدونه دي (د بل چا حدونه نه دي). او هغه څوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د لېږلي شوي اطاعت وکړي نو داسې جنتونو ته به یې داخل کړي چې د ونو لاندې یې (څلور) ویالې بهېږي. په داسې حال کښې چې دوی به پکښې همېشه وي. او دا لویه کامیابي ده.

[۱۴] او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده د لېږلي شوي څخه عصیان وکړي او د ټاکلو شوو حدونو څخه یې تجاوز وکړي نو اور (دوزخ) ته به یې داخل کړي په داسې حال کښې چې په (اور) کښې به همېشه وي. او ده لره سپکوونکی عذاب شته دی.

## د مطلب خلاصه

په دې دواړو ایتونو کښې مسلمانان ترغیب او ترهیب شوي دي چې په تېرو شوو ټولو احکامو باندې عمل وکړي او خصوصاً د میراث حکمونه د پښو لاندې نه کړي لکه څنګه چې د جاهلیت په

---

(١) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۱۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمانه کښې د پښو لاندې وه. نو د مطلب خلاصه یې دا ده چې:

ذکر شوي ټول احکام د الله ﷻ حدود دي چې باید تاسو ترې تجاوز ونه کړئ او د بندګانو د حدودو په خبر نظر ورته مه کوئ. لکه څنګه چې په دنیا کښې عزت او ذلت د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دی همدارنګه په آخرت کښې هم د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک څه اختیار نه لري.

نو په آخرت کښې قانون دا دی چې په دنیا کښې څوک د الله ﷻ او د ده پیغمبر اطاعت کوي هغه به جنتونو ته داخل کړي چې دا لویه کامیابي ده، او څوک چې ترې عصیان کوي او برسېره په دې د مقررو شوو حدودو څخه یې داسې تجاوز کوي چې حتی عقیده هم ورباندې نه لري نو هغه به اور ته داخل کړي چې هلته به همېشه وي او د سپکوونکي عذاب سره به مخامخ شي.

## توضیحات

۱ـ ﴿ حُدُودُ ﴾ د "حَدٌ" جمعه ده، حد هغه فاصل (جدا کوونکي) ته وايي چې دوه شیان سره بېلوي[1]، لکه د یوه مملکت څنډې، چې د بل مملکت څخه یې جدا کوي.

الله ﷻ خپل احکام د حدودو په نامه باندې یاد کړه ځکه چې همدا احکام مطیع او عاصي یو د بل څخه جدا کوي، لکه چې په همدې ایتونو کښې ورباندې ښه رڼا اچوله شوې ده.

## د حدودو څخه تېرې

۲ـ د شرعي حدودو څخه تجاوز او تېرېدنه لاندې ډولونه لري:

الف: چې بالکل ترې انکار وکړي او د حدودو په نظر ورته ونه ګتل شي.

ب: چې عقیده ورباندې لري خو یا پکښې زیادت وکړي او یا پکښې نقصان. لکه د فرض لمانځه رکعتونه، چې هم پکښې زیادت ناجائز دي او هم پکښې کمبود.

ج: چې یوازې زیادت پکښې جواز نه لري. لکه د څلورو ښځو څخه اضافه بله ښځه په نکاح کول.

د: چې یوازې نقصان پکښې روا نه وي. لکه د زکات مقدارونه، که زیادت پکښې وکړی شي باک یې نشته، ثواب دی، خو چې د فرضیت عقیده ورباندې ونه لري.

په دې مقام کښې د ﴿ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ ﴾ څخه اول ډول تېرې مطلب دی. او دا ځکه چې:

اول: مونږ د [آل عمران: ۲۵] ایت لاندې تحقیقي حکم لیکلی دی چې مؤمن په دوزخ کښې په دائمي توګه نه پاتې کېږي او دلته د ﴿ خَلِدًا ﴾ کلمه رانازله شوې ده.

دوهم: د عاصي مؤمن دپاره دوزخ شته که د الله ﷻ رحم یې ملګری نه شي، مګر دوزخ ورته مطهر (پاکوونکی) دی چې د جنت د ننوتلو دپاره یې تیار کړي. او دلته د ﴿ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ د سپکوونکي عذاب جزا ښودله شوې ده چې دا د کافرانو دپاره ده.

[1] مفردات الراغب ص۱۰۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ أَرۡبَعَةٗ مِّنكُمۡۖ فَإِن
شَهِدُواْ فَأَمۡسِكُوهُنَّ فِي ٱلۡبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلۡمَوۡتُ أَوۡ يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلٗا ﴿١٥﴾
وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ تَوَّابٗا رَّحِيمًا ﴿١٦﴾ إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ
يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١٧﴾
وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي
تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۵] او ستاسو هغه زنانه چې زنا ته ورتګ وکړي نو ستاسو (مسلمانانو) څخه ورباندې څلور نفره شاهدان ولټوئ. نو که دوی (څلورو نارینه وو) پرې شاهدي ورکړه (چې په ربښتیا سره یې زنا کړې ده) نو دوی په کورونو کښې تر هغې بندیانې کړئ چې یا دوی لره مرګ پوره واخلي (مړې شي) او یا ورته الله ﷻ لار جوړه کړي (چې د دوی په باره کښې څه تازه احکام رانازل کړي).

[۱۶] او ستاسو هغه دواړه نارینه (یو متاهل او بل غیر متاهل) چې هغه کار (زنا) ته ورتګ وکړي (او شاهدان ورباندې تېر شي) نو هغوی ته اذیت ورسوئ (خپه یې کړئ).
نو که دوی دواړو توبه وویستله او دواړو خانونه اصلاح کړه (د زنا څخه یې لاس واخست) نو د دوی دواړو (د اذیت) څخه مخونه واړوئ. یقینًا الله ﷻ توبه قبلوونکی مهربان دی.

[۱۷] بې شکه هغو کسانو لره الله ﷻ د توبې قبول په خپل ځان باندې (لازم) ګرځولي دی چې دوی په ناپوهۍ سره بد کار وکړي او بیا په نژدې وخت کښې توبه وباسي. نو دغه کسان چې دي الله ﷻ په دوی باندې په رحمت سره رجوع کوي. او الله ﷻ هم پوه دی، هم د حکمت خاوند دی.

[۱۸] او هغو کسانو لره توبه نشته (نه قبلیږي) چې تر هغه بد کارونه کوي ترڅو چې د دوی یو نفر ته مرګ ورحاضر شي (او یقین یې راشي چې ضرور مرم، نو په دغه وخت کښې) ووایي چې: یقینًا زه همدا اوس توبه وباسم.
او نه هغو کسانو لره (توبه شته) چې هغوی د کفر په حالت کښې مړه شي، دغه کسان (دواړه ډلې) دوی ته مو دردناک عذاب تیار کړی دی.

## ارتباط

په تېرو شوو ایتونو کښې مسلمانانو ته هدایت شوی دی چې د زنانه وو سره بې عدالتي مه کوئ، مهرونه ورکړئ او بالآخره په میراثونو کښې یې هم بې برخې مه پرېږدئ. په دې ایتونو کښې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته هدايت كېږي چې د حقوقو د وركولو سره‌سره د بد اخلاقۍ مخه یې ونیسئ او ادب ورزده کړئ چې دا کار دوی ته په غیر مستقیمه توګه خیر رسول دي چې د دنیا د بې عزتۍ او د آخرت د عذاب څخه وربانديې نجات مومي.

یا په بل عبارت: هلته هم د جاهلیت د زمانې د ناپاکو رواجونو مخنیوی شوی وه او دلته هم همدغه مطلب تعقيبېږي چې فحاشي د جاهلیت د زمانې د هر لوی کرغېړن عمل وه.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای مؤمنانو! څرنګه چې د جاهلیت دوره تاسو ته نژدې تېره شوې ده نو زیات کوښښ وکړئ چې د هغې زمانې د رسوباتو (خیرو) څخه خپله اسلامي جامعه پاکه جوړه کړئ. ستاسو هغه زنانه چې د زنا د شنیع عمل مرتکبې شي او تاسو وربانديې د ښه تثبیت د کبله څلور شاهدان هم تېر کړئ نو د دې دپاره چې د دغه بد عمل مخه ونیوله شي دوی سمدستي په کور کښې بندیانې کړئ، ترڅو د یو پلوه دا عمل نورو خلکو ته سرایت ونه کړي او د بله پلوه ټول خلک په غوږ ووهل شي چې دې عمل ته په اسلام کښې ډېر په کرکه کتل کېږي، ډېر ژر دی چې الله ﷻ په دې باره کښې دائمي فیصله نازله کړي. نو ذکرې شوې زنانه د هغه پورې په زندان کښې وساتئ چې یا مړې شي او یا الله ﷻ دائمي فیصله نازله کړي.

۲_ او که همدغه شنیع عمل ستاسو د سړیو څخه دوه نارینه (چې واده لري یا یې نه لري) مرتکب شي نو دوی دواړو ته هم څه اذیت ورسوئ، سپورې ستغې خبرې ورته وکړئ، ناسته ولاړه ورسره کمه کړئ ترڅو دوی دواړه او نور خلک پوه شي چې دا کار د مسلمانانو سره هیڅ مناسب نه دی.

نو که په دوی دواړو باندې ستاسو وضعیت څه تاثیر وکړ او د تېر عمل څخه یې توبه وکړه او د راتلونکي دپاره یې خانونه اصلاح کړه نو تاسو هم خپلې رویې ته تغییر ورکړئ او وضعه ورسره ښه کړئ. ځکه چې الله ﷻ توبه قبلوونکی او مهربان دی نو تاسو هم باید د دوی توبه ومنئ او مهرباني وربانديې وکړئ.

۳_ الله ﷻ یوازې د همدوی دپاره توبه قبلوونکی نه دی بلکې په دې باره کښې د الله ﷻ قانون دا دی چې هر څوک چې په سادګۍ سره د یوه بد عمل مرتکب شي (هر ډول بد عمل چې وي) خو بیا دستي په لنډ وخت کښې ترې توبه تائب او په خپلو کړو باندې پښېمانه شي نو الله ﷻ د دوی د توبې قبلول د مهربانۍ د مخې په خپل ځان باندې ضرور کړي دي.

الله ﷻ پوه دی، ستاسو کمزوري هم ورته معلومه ده او په دې هم پوهېږي چې څوک ګناه ته په ناپوهۍ سره اقدام کوي او څوک یې په عناد سره مرتکب جوړېږي. همدارنګه الله ﷻ د حکمت خاوند دی، که بالفرض تاسو یې په ګناه باندې کافر ګڼلی او د توبې د قبول چانس یې نه وی درکړی نو ډېر لږ خلک به مؤمنان پاتې شوي وی. د همدې کبله یې تاسو ته د توبې د قبول وخت اوږد کړی دی چې د مرګ د وخته پورې ستاسو توبه د قبول وړ ګرځي، اګر که غوره توبه هغه ده چې د ګناه د کولو سره متصله صورت ونیسي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ هو! لاندې کسان د توبې د قبول چانس د لاسه ورکوي:
الف: چې د مرګ د وخته پورې يې ټال کړي او کله يې چې سا مرۍ ته ورسېږي او د دې دنيا سره يې علاقه پرې کړې شي نو په هغه وخت کښې وايي چې اوس توبه وباسم.
ب: چې د کفر په حالت کښې مړ شي او د دنيا څخه کافر انتقال شي، نو په هغې دنيا کښې نه د کوم کافر ايمان قبلېږي او نه توبه. دغو کسانو لره هلته د دردناک عذاب څخه په غير بل شی نشته.

## توضيحات

۱ـ ټول صالحين سلف متفق دي چې د زنا کوونکو (ښځو او سړيو) دپاره ذکر شوي تعزيرات د اسلام په ابتداء کښې په موقته توګه نازل شوي وه ترڅو چې بالآخره د دوی دپاره دائمي حدود رانازل شوه[١]. او تقريبًا ټول متقدمين مفسرين کرام په اجماع سره د ﴿ ٱلْفَـٰحِشَةَ ﴾ څخه زنا مرادوي[٢]. مګر ﴿وَٱلَّذَانِ﴾ په تفسير کښې ګڼ شمېر اقوال روايت شوي دي چې ټول تقريبًا شپږو ته رسېږي[٣]. لاندې اقوال د مثال په توګه ولولئ:
الف: د ﴿ وَٱلَّذَانِ ﴾ څخه هغه دوه نارينه مراد دي چې په خپل منځکښې کرغېړن عمل ترسره کړي.
دا قول د مفسرينو کرامو په نزد د اعتبار وړ نه دی[٤]، چې دلايل يې مونږ د اوږدوالي د کبله نه شو رانقلولی.
ب: د ﴿ وَٱلَّذَانِ ﴾ څخه يو نارينه او يوه زنانه مطلب ده چې يو هم متاهل (د اهل خاوند) نه وي، دواړه مجرد وي، خو د زنا په شنيع عمل باندې مبتلا شي[٥]، که څه هم نوموړې کلمه د دوه نارينه وو دپاره وضعه شوې ده مګر تغليبًا دلته زنانه هم د نارينه په شان ګڼله شوې ده، لکه څنګه چې په تېر شوي ايت ﴿ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ ﴾ کښې د مور څخه هم په "اب" سره تعبير کړی شوی دی.
مګر په د ⁻ ه تفسير لاندې نواقص شته:
اول: متاهل زناکار سړی بالکل د جزا څخه بچ پاتې کېږي ځکه چې د ﴿ وَٱلَّـٰتِى يَأْتِينَ ٱلْفَـٰحِشَةَ ﴾ جمله خو د زنانه وو څخه عبارت ده، برابره خبره ده چې متاهله وي او که مجرده[٦]. نو که د ﴿ وَٱلَّذَانِ يَأْتِيَـٰنِهَا مِنكُمْ ﴾ د جملې څخه مجرد سړی او مجرده ښځه مراد شي نو متاهل نارينه ته يو ايت هم شامل نه شو.
دوهم: په دې مقام کښې تغليبي معنی مرادول غير متبادر دي چې نر او ښځې دواړو ته شامل شي

(١) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۰۶
(۲) البحر المحيط ج۳ ص۵۵۵
(۳) التفسير الکبير ج۹ ص۲۳۵
(۴) روح المعاني ج۴ ص۲۳۶
(۵) تفسير الطبري ج۳ ص۲۹۵
(۶) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۰۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خکه چې د ﴿ مِنكُمْ ﴾ کلمه يې مانعه ښکاري. خکه چې په دې کښې نارينه وو ته خطاب دی او بس.

درېم: د ﴿ وَٱلَّذَانِ يَأْتِيَٰنِهَا مِنكُمْ ﴾ سره د تجرد قيد اضافه کول بې دليله خبره ده.

ج: دا قول عين دوهم قول دی مګر د تجرد (غير متاهل) قيد ورسره نشته. نو په دې قول کښې د ذکر شوو نواقصو څخه صرف درېم نقصان نشته، البته چې د زنانه وو دپاره د لومړني ايت په غوښتنه حبس (بند) لازم وه او د دوهم ايت په غوښتنه ورته ايذاء ضرور وه، نو د زنانه وو به دوه جزاګانې وې او د نارينه وو دپاره به صرف يوه جزا ټاکلې شوې وه.

## تبصره

۲ـ مونږ ته دا ښه ښکاري ـوالله ﷻ اعلمـ چې د ﴿ وَٱلَّذَانِ يَأْتِيَٰنِهَا مِنكُمْ ﴾ څخه صرف هغه دواړه نارينه مراد دي چې يو متاهل دي او بل غير متاهل. لکه څنګه چې د ﴿ وَٱلَّٰتِى يَأْتِينَ ٱلْفَٰحِشَةَ ﴾ څخه دواړه ډوله زنانه مطلب دي چې يوه متاهله ده او بله غير متاهله ده. نو په دې تقدير نه نواقص شته، نه څوک بې جزا پاتې کېږي او بالآخره نه په چا باندې دوه جزاګانې واقع کېږي.

## ايذاء د څه شي څخه عبارت ده؟

۳ـ د السدي عليه الرحمة څخه روايت دی چې "ايذاء" د رټلو او پيغور ورکولو څخه عبارت ده، او رئيس المفسرين (عبد الله بن عباس) ﷺ وايي چې "ايذاء" د ستغو سپورو خبرو او په پڼو باندې د وهلو په معنی ده"[1]. مونږ ته داسې ښکاري چې "ايذاء" به هغو ټولو اقوالو او افعالو ته شامله وي چې هغوی به ورباندې په خفيفه توګه خپه کېدل.

## دائمي حدود څه شی دي؟

۴ـ الله ﷻ د زناکارانو دپاره په لاندې ډول دوامداره حدود نازل کړه[2]:

الف: د غير متاهل (مجرد) زناکار دپاره يې سل دُرې مقررې کړې، نارينه وي او که زنانه. لکه چې فرمايي: ﴿ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى فَٱجْلِدُوا۟ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِا۟ئَةَ جَلْدَةٍ ﴾ [النور: ۲] يعنې: زناکاره ښځه او زناکار سړی د دوی دواړو څخه هر يو سل دُرې ووهئ.

ب: او د متاهلو زنا کارانو دپاره يې رجم وټاکه، لکه چې فرمايي: «الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ»[3] يعنې: متاهل سړی او متاهله ښځه چې کله زنا وکړي نو دوی دواړه ضرور رجم کړئ. که څه هم دغه ايت شريف د تلاوت په لحاظ منسوخ دی مګر حکم يې نه دی منسوخ شوی، لکه چې مونږ د [البقرة: ۱۰۶] ايت لاندې ليکلي دي.

(۱) تفسير القرطبي ج۵ ص۸۶
(۲) اضواء البيان ج۱ ص۲۷۶
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۸۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برسېره په دې ذکر شوي دواړه حدود نبي کريم ﷺ په قولي او فعلي احاديثو باندې پوره تفسير کړي دي چې په ماعز ؓ او د هغه په مزنيه باندې يې (چې دواړه متاهلان وه) د رجم حکم اجراء کړ.

## يادونه

۵_ مونږ د توبې په باره کښې د [آل عمران:۸۹] ايت لاندې مفصل بيان ليکلی دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه وينو، خو د مقام په لحاظ سره دلته لاندې څو مطلبونه نور هم ذکر کوو:

## ايا د توبې قبول شرطونه لري؟

۶_ په دې ايت شريف کښې الله ﷻ د توبې د قبول دپاره دوه شرطونو ته اشاره وکړه، يو دا چې ﴿ بِجَهَٰلَةٖ ﴾: په ناپوهۍ سره يې ګناه ته اقدام کړی وي. او بل دا چې ﴿ مِن قَرِيبٖ ﴾: په نږدې وخت کښې د ګناه څخه توبه تائب شي.

نو پوښتنه دا ده چې ايا د هغه چا توبه نه قبلېږي چې سره د پوهې ګناه وکړي او يا ژر توبه ونه باسي او ډېر وخت وروباندې ووځي؟

مونږ وايو چې: جهالت په دوه ډوله دی، د يوه په مقابل کښې علم استعمالېږي او د بل په مقابل کښې عقل (هوښياري) استعمال مومي.

په دې مقام کښې د "جَهَالَة" څخه دوهم ډول مراد دی چې مونږ ترې په (سادګۍ) سره تعبير کوو. لکه چې الله ﷻ د يوسف ؑ د خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴾ [يوسف: ۳۳] يعني: او که ته زما څخه د دغو ښځو چلونه تاو نه کړې نو ضرور زه به دوی ته اصابت وکړم (په زنا کښې به واقع شم) او د جاهلانو څخه به وشمېرل شم (د سادګانو په لار به روان شم).

برسېره پر دې هغه څوک چې په خپل علم باندې عمل ونه کړي داسې ګڼل کېږي لکه چې بالکل جاهل وي، نو که څوک هغه چا ته چې لمونځ نه کوي ووايي چې: "الصَّلَاةُ فَرِيْضَةٌ" يعني: لمونځ فرض دی. نو ډېره په خای خبره ده، ته به وايې چې نوموړی يې په فرضيت باندې علم نه لري[1].

## "مِنْ قَرِيبٍ" څه معنی؟

۷_ مفسرين کرام وايي چې دلته د "قريب" څخه هغه ټوله زمانه مراده ده چې د ځنکدن څخه راپه دې خوا وي. او دا ځکه چې:

الف: د ايت شريف وروستنی ټکړه وروباندې دلالت کوي چې هغو کسانو لره د توبې قبول نشته چې د مرګ د وخته پورې توبه ونه کړي. نو د دې څخه څرګندېږي چې د مرګ څخه وړاندې ټول وختونه د توبې دپاره مساعد دي.

---

(۱) مختصر النعاني ص۴۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. د توبې د قبول په باره کښې بې شماره احادیث روایت کړی شوي دي[١]، چې د دې ټولو د جملې څخه لاندې یو حدیث د مثال په توګه ولولئ:

د ابو هریره په روایت نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا قُبِلَ مِنْهُ»[٢] هرڅوک چې د هغه څخه وړاندې توبه وباسي چې لمر د مغرب څخه راوخېژي نو توبه به یې قبوله کړی شي.

## تبصره

٨_ مونږ ته داسې ښکاري چې د ﴿ مِن قَرِيبٍ ﴾ څخه هغه زمانه مراده ده _والله ﷻ اعلم_ چې د ګناه سره متصله وي. لکه چې همدا مضمون الله ﷻ په بل ځای کښې فرمایلی دی چې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴾ [الأعراف: ٢٠١] یعني: یقینًا هغه کسان تقوی داري کوي چې کله هغوی ته د شیطان د پلوه څه وسوسه ورسېږي (ګناه وکړي) نو دوی (الله ﷻ) دستي رایادوي نو ناڅاپه دوی لیدونکي جوړ شي (او په خپلو کړو باندې پښېمانه شي).

خو په دې کښې دا مطلب نه دی چې د قریبې زمانې څخه وروسته یې توبه نه قبلېږي بلکې مطلب پکښې دا دی چې دغه صورت د توبې دپاره بهتر صورت دی چې د یادونې وړ دی، او د دې لیاقت پکښې شته چې الله ﷻ یې د قبول دپاره التزام وکړي او په قرآن کریم کښې وړباندې صراحت وکړي.

لنډه دا چې الله ﷻ هغه چا ته چې د ګناه څخه متصله توبه وباسي د قبول وعده ورکوي که نه نو د مرګ د ګړۍ پورې ټول د توبې وخت دی او توبه پکښې قبلېږي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُواْ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴿١٩﴾ وَإِنْ أَرَدتُّمُ ٱسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَءَاتَيْتُمْ إِحْدَىٰهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُواْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ أَتَأْخُذُونَهُۥ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٢٠﴾ وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُۥ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴿٢١﴾ ﴾

(١) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٤٦٣
(٢) مسند احمد بن حنبل ج١٤ ص١٢٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۹] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسو ته حلاله نه ده چې زنانه (کونډې ښځې) په ناخوښۍ سره د میراث په توګه واخلئ. او نه درته دا جواز لري چې په خپلو ماندینو باندې د دې دپاره تنګسه ورولئ چې د هغه شي څه برخه (یا ټول) ترې یوسئ چې تاسو هغوی ته (د مهر په توګه) ورکړی وه.

مګر (د مهر بېرته اخستل درته په هغه وخت کښې جواز لري) چې دوی (زنانه) په ښکاره بد اخلاقۍ سره راتنګ وکړي (چې تاسو ته ښه ثابته شي).

او (ای مؤمنانو!) د خپلو ماندینو سره په معروفه (شرعي طریقې) سره ګوزاره وکړئ (په ورو-ورو خبرو باندې ترې مه خپه کېږئ ځکه) چې که چېرې دوی نه خوښوئ نو شاید چې تاسو به یو شی نه خوښوئ او په همغه شي کښې به درته الله ﷻ ډېر خیر (او برکت) واچوي (نو د طلاق په صورت کښې به د لوی خیر څخه محروم شئ).

[۲۰] او که تاسو غواړئ چې یوه ماندینه د بلې ماندینې په ځای عوض کړئ (او هغه ناشزه هم نه وي) حال دا چې یوې د هغوی ته مو ډېر مال (په مهر کښې) ورکړی وي نو د هغه څخه هیڅ شی بېرته مه اخلئ. ایا تاسو هغه (مهر بېرته) اخلئ په بهتان تړلو او په ښکاره ګناه سره؟.

[۲۱] او څنګه هغه (مهر بېرته) اخلئ حال دا چې ځینو ستاسو ځینو نورو ته (په بې پردې ځای کښې پیوستون موندلی دی او دوی (ماندینو) درڅخه کلک عهد هم اخستی دی.

## ارتباط

د جاهلیت په زمانه کښې برسېره په دې چې زنانه وو ته به میراث کښې برخه نه ورکوله کېده پخپله کونډې زنانه به هم د ترکې جزء ګڼل کېدې تا به ویل چې دوی هم د مړو پاتې شوي مالونه دي.

په تېرو شوو ایتونو کښې د زنانه وو اولنی حق راژوندي کړی شواو په میراث کښې ورته برخه وټاکله شوه. بیا د څه ارتباط د کبله د زناکارانو او د توبې په متعلق څه هدایات نازل کړی شوه. په دې ایتونو کښې د زنانه وو دوهم حق راژوندی کېږي چې دوی په ترکه کښې مه شاملوئ او د یو انسان په نظر ورته وګورئ.

## شان نزول

د ذکر شوو ایتونو د شان نزول په باره کښې متعدد واقعات روایت شوي دي[۱]. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

۱ــ د جاهلیت په وخت کښې داسې کېده چې یوه سړي به خپله میرمنه طلاقه کړه خو په هغې باندې به یې شرط کړ چې زما د اجازې څخه په غیر به بل څوک په نکاح نه اخلي. په همدې شرط

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۸، سنن ابي داؤد ج۱ ص۲۸۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې به یې شاهدان ودرول او په اصطلاح سند به یې لیکه. نو که نوموړي طلاقي ته به څه ورکړی شوه د نکاح اجازه به یې ورته کوله او که نه نو ښځې به په تجرد کښې عمر تېراوه[۱].

۲ـ د مدینې منورې په خلکو کښې د جاهلیت د زماني څخه آن د اسلام د ابتداء پورې رواج وه چې کله به څوک مړ شو نو که د هغه مېرمنې (کونډې) به چالاکي وکړه او خپلو اقاربو ته به یې ځان ورساوه نو د خپل اختیار خاونده به شوه او که د مړي کوم وارث به ورباندې څادر درواچاوه په اصطلاح په جال کښې به یې راګیره کړه نو د هغې غریبې څخه به خپل واک د لاسه وتلی وه او د مړي وارثانو به ورسره لاندې چال چلند کاوه[۲]:

الف: یا به د مړي کوم یوه وارث په نکاح کړه خو د مهر څخه به محرومه وه.

ب: یا به د مړي وارثانو بل چا ته په نکاح ورکړه خو مهر به یې وارثانو اخست او کونډې ته به یې نه ورکاوه.

ج: یا به یې د تجرد په حال کښې ساتله او غیر انساني سلوک به یې ورسره کاوه ترڅو چې یا مجبوره شي او هغه مهر، چې مړه شوې مېړه ورته ورکړی وه، ترې بېرته واخلي او یا ترڅو چې مړه شي او دوی یې میراث واخلي.

۳ـ ځینو خلکو به کونډه د مړي یوه ماشوم وارث ته کېښوله ترڅو به چې هغه زلمی کېده نو کونډه به یا بوډۍ جوړه شوې وه او یا به مړه شوې وه او دوی به یې په متروکه مال باندې ښتې اچولې[۳].

د ذکرو شوو بدو رواجونو او همدارنګه د نورو بدو عادتونو د رد دپاره الله ﷻ لوستلي شوي ایتونه نازل کړه.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! تاسو ته جائزه نه ده چې کونډې ښځې په جبر سره د مړي د متروکه مال څخه وشمېرئ او اختیار ورنه کړئ چې په خپله خوښه نکاح وکړي، هغوی خو انسانانې دي، په انساني کرامت باندې یې پښې مه ږدئ او خوښې او رضایت یې په نظر کښې ونیسئ.

او همدارنګه په خپلو مېرمنو باندې تنګي مه راولئ چې هغوی خلعې ته مجبورې کړئ چې ستاسو د بدې ګوزارې څخه د خلاصون په غرض مهر بېرته درکړي او په عوض کښې درڅخه طلاق ترلاسه کړي.

هو! که ستاسو مېرمنې بدګوزاره وې او ستاسو اطاعت یې نه کاوه او اخلاق یې د شریعت په چوکاټ باندې برابر نه وه او هرڅوک پوهېده چې تجاوز د هغوی د طرف دی، نو بیا د ذکر شوي صورت پیاده کول څه باک نه لري چې د مهر په بدل کښې طلاق ورکړئ او یا ورسره خلعه وکړئ.

---

(۱) تفسیر المنار ج۴ ص۴۵۴
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۰۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۶۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ ای مؤمنانو! که ستاسو مېرمنې بدګوزاره وې هم تاسو د صبر او حوصلې څخه کار واخلئ او
بنه ګوزاره وسره وکړئ حتی الوسع مه ورسره بالمثل ګوزاره کوئ او مه یې د پیسو په بدل کښې
خوشې کوئ، که څه هم د هغوی د بد اخلاقی په صورت کښې په تاسو باندې څه ګناه نشته.
مګر څه لرې نه ده چې الله ﷻ تاسو ته د صبر د هر اجرونه درکړي او د هر خیر درته پکښې واچوي
چې د یو پلوه د هغوی بد اخلاقي ستاسو د ښې رویې د تاثیر لاندې راشي او بااخلاقه مېرمنې ترې
جوړې شي او د بل پلوه الله ﷻ تاسو ته د همدغو بدګوزاره وو زنانه وو څخه صالح اولادونه درېه
نصیب کړي چې د وخت په تېرېدو سره همدغه اولادونه ستاسو د روغې جوړې تکفل وکړي. او دا
خکه چې تاسو په خپل خیر باندې نه پوهېږئ، ممکنه ده چې تاسو ته به یو شی شر ښکاري خو هغه
به درته خیر وي. لنډه دا چې د خپلو مېرمنو خوشې کولو ته په عجله سره مه وردانګئ.
٣_ ای مؤمنانو! که بالفرض تاسو کلکه اراده کړې وه چې د خپلې مېرمنې په عوض کښې څه هم په
هغې کښې څه ښکاره بد اخلاقي هم وجود ونه لري، بله جدیده نکاح وکړئ نو هغې ته مو چې هر
څومره د هر مهر ورکړی وي هغه ټول ورخوشې کړئ او بېرته یې هیڅ شی مه ترلاسه کوئ. که تاسو ترې
ورکړی شوی مهر بېرته واخلئ نو د یوې خوا به په خپلې مېرمنې پورې څه بهتان تړئ ترڅو د مهر د
بېرته رانیولو دپاره بهانه جوړه کړئ چې څکه مې ورسره خلعه وکړه چې دا (مېرمن) ښکاره بد اخلاقه
ده. او د بلې خوا تاسو د ښکاره ګناه متحمل شئ چې په پاک لمنې مېرمنې پورې مو تهمت وتاړه.
٤_ ای مؤمنانو! په دې صورت کښې چې په مېرمنه کښې مو څه بد اخلاقي هم وجود ونه لري،
ایا د مهر بېرته اخستل ستاسو د نارینتوب سره مناسبت لري؟ ایا هغه شی یې، چې ستاسو مېرمنې
د هغه مسئولې وې، تاسو ته نه دی سپارلی؟.
نو ستاسو څنګه وجدان مني چې د پوره استفادې څخه وروسته هم تاسو مهر بېرته اخلئ؟ حال دا
چې ستاسو څخه یې کلک عهد هم اخستی وه چې د نکاح په عقد کښې شاهدان موجود وه او تاسو
په مېرمنتوب سره قبوله کړې وه او د هغې د حقوقو د ورکړې التزام مو کړی وه. ایا د حقوقو ورکړه
همداسې وي؟ ایا دا بد عهدي نه ده؟.

## توضیحات

١_ احتمال لري چې په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ کښې وارثانو ته خطاب وي. نو د معنی حاصل به
یې دا شي چې ای د مړو وارثانو! نه تاسو ته دا حلاله ده چې کونډې ښځې د ترکې جزء وګڼئ او نه
دا چې دوی د خپلې خوښې د مېړه کولو څخه منعه کړئ.
مګر په دې تفسیر سره د ﴿ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ ﴾ ټکړه بې پیونده پاتې کېږي. دا څکه چې
وارثانو ته خو شریعت هیڅکله اجازه نه ورکوي چې د بد اخلاقې کونډې څخه هغه څه بېرته واخلي
چې د وارثانو یوه قریب (وفات شوي مېړه) د مهر په طریقه ورکړی وي.
او دا هم محتمله ده چې ذکر شوی خطاب د ښځو خاوندانو ته متوجه وي. او دا څکه چې په هغه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وخت کښې به چې د چا خپله مېرمن خوښه نه وه نو هغې ته به يې نه د زوجيت حقوق ورکول او نه به يې طلاقوله، ترڅو به چې يا مړه شوه او خاوند به يې میراث واخست او يا به تنګه شوه او د طلاق په بدل کښې به يې مهر بېرته ورمسترد کړ. نو الله ﷻ دواړه شقونه ناجائز وګرځول.

مګر په دې تفسير سره په کونډو باندې د وارثانو ظلم په ايت شريف کښې مسکوت عنه پاتې کېږي. حال دا چې په هغه وخت کښې يې مخنيوي ته أشد ضرورت وه.

نو ښه دا ده چې ذکر شوی خطاب ټولو مؤمنانو ته متوجه دی. اما د ايت شريف د اولنی ټکړې ﴿ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ﴾ په لحاظ سره وارثان مخاطب شوي دي، او د دوهمې ټکړې ﴿ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ ﴾ په لحاظ سره د ښځو خاوندانو ته خطاب متوجه دی. يا په بل عبارت: هر يو مؤمن د هغه ناجائز عمل څخه منعه شوی دی چې پکښې اخته وه او هر يوه ته هدايت شوی دی چې د دغسې ناجائزو اعمالو څخه خانونه بچ وساتي.

## "فَاحِشَة" څه معنی؟

۲ـ که څه هم د "فَاحِشَة" کلمه هغه شي ته ويل کېږي چې ډېر لوی قباحت ولري، برابره خبره ده چې وينا وي لکه پوچې خبرې، او يا فعل وي لکه زنا او داسې نور[١].

په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو نوموړې کلمه د زنا څخه عبارت اخستې ده[٢]، خو ښه خبره دا ده چې عامه پرېښودله شي ترڅو هغو ټولو ويناګانو او کارونو ته شامله شي چې نارينه ورباندې د خپلې ماندينې څخه زړه بدی کېږي او شريعت پرې د ناشزې لقب ږدي. نو په دې صورت کښې که نارينه هم ورسره د ناکاره ګوزارې څخه کار واخلي ترڅو د مهر بېرته ورکولو ته مجبوره شي څه باک يې نشته ځکه چې دا وضعه پخپله مېرمنې په خاوند باندې تحميله کړې ده او په حدود الله باندې يې پښې ايښې دي، لکه چې په [البقرة:١٢٩] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

## د دې ايت ارشاد

۳ـ د ايت شريف څخه معلومېږي چې نارينه بايد د خپلو ماندينو سره په وړو وړو شيانو باندې ګوتې ماتې نه کړي، په اصطلاح پيشوګان ورسره ونه تلي، ترڅو چې د "فَاحِشَة" اندازې ته نه وي رسېدلې، چې سړی يې د تحمل حوصله ونه لري.

همدا مضمون نبي کريم ﷺ د ډېرو قولي او فعلي احاديثو په ذريعه بيان کړی دی لکه چې فرمايي: «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ»[٣] مؤمن سړی د مؤمنې ماندينې سره بغض نه کوي (ځکه چې) که د هغې يو خوی (خاصيت) يې خوښ نه شي بل به يې خوښ شي. يعنې

---

(١) مفردات الراغب ص٣٨٧

(٢) تفسير المنار ج٤ ص٤٥٥

(٣) صحيح مسلم ج١ ص٤٧٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باید چې په بدیو باندې یې د خپلې وسې په اندازه سترګې پټې کړي او نېکۍ یې په نظر کښې ونیسي، او کینه ورسره ونه کړي چې خبره طلاق ته ونه رسېږي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د غیر ناشزې ښځې څخه د طلاق په بدل کښې مهر بېرته اخستلو ته د څه دپاره د بهتان لقب ورکړی شوی دی؟

مونږ وایو چې: ترڅو د هغو خلکو مخه ونیسي چې په خپله ماندینه باندې د بد اخلاقۍ تهمت تړي او د مهر بېرته اخستلو بهانه جوړوي، چې دا کار هم بهتان دی او هم لويه ګناه ده. د جاهلیت په زمانه کښې به په زنانه وو باندې همداسې تهمتونه لګول کېده[۱].

## افضاء څه معنی؟

۵ـ د ﴿ أَفْضَىٰ ﴾ کلمه اصلاً د "فضا" څخه اشتقاق شوې ده، فضا هغه پراخه میدان ته وایي چې هیڅ حائل او پرده پکښې نه وي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! څنګه ستاسو نفس مني چې د خپلې مېرمنې څخه ورکړی شوی مهر بېرته اخلئ؛ حال دا چې تاسو دواړو په داسې فضا کښې سره ملاقات کړی دی چې په منځکښې مو هیڅ پرده او حائل نه وه تردې چې یو د بل دپاره مو د لباس او جامو حیثیت درلود؟ ایا د داسې کلکې اندیوالۍ څخه وروسته هم مهر بېرته په بهانو انو اخلئ؟ ایا دا ډېره ناخواني نه ده؟.

## مسئله

۶ـ ابو حنیفه رحمه الله علیه د ﴿ أَفْضَىٰ ﴾ لغوي معنی ته کتلي دي چې د صحیحه خلوة څخه وروسته هم مطلقې ته ټول مهر لازم ګڼي که څه هم د دواړو په منځکښې جنسي ارتباط صورت نه وي نیولی[۲].

صحیحه خلوة دې ته وایي[۳] چې ماندینه او خاوند دواړه په داسې ځای کښې سره ملاقات وکړي چې هلته نه شرعي مانع موجود وي لکه حیض، نفاس، فرضي روژه او داسې نور، او نه حسي مانع موجودیت ولري لکه سخته ناجوړي او داسې نور. بالآخره نه هلته طبعي مانع وجود ولري لکه د لويې لارې سر او یا بیابان، چې څه پرده او حجاب نه وي.

﴿ وَلَا تَنكِحُوا۟ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَمَقْتًا وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٢٢﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَٰتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَٰتُكُمْ وَعَمَّٰتُكُمْ

(۱) تفسير ابي السعود ج۲ ص۱۵۹
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۱۱
(۳) بدائع الصنائع ج۲ ص۲۹۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَخَٰلَٰتُكُمْ وَبَنَاتُ ٱلْأَخِ وَبَنَاتُ ٱلْأُخْتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِىٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِى فِى حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِى دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا۟ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَٰٓئِلُ أَبْنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُوا۟ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾

[۲۲] او د زنانه وو څخه هغه زنانه مه په نکاح کوئ چي ستاسو پلرونو په نکاح کړي وي (چي یا کونډې شي او یا یې طلاقې کړي) مګر هغه چي یقیناً پخوا تېرې شوي دي (په هغوی باندې نه نیول کېږئ).

بې شکه دا ډېر بد کار دی. او د بغض کار دی او د لارې د حیثه ډېر کرغېړن کار دی.

[۲۳] (ای مؤمنانو!) په تاسو باندې خپلې میندې حرامې کړی شوي دي او خپلې لورګانې (هم) او خپلې خویندې (هم) او د خپلو پلرونو خویندې (هم) او د خپلو میندو خویندې (هم) او د خپل ورور لورګانې (وریرې هم) او د خپلې خور لورګانې (خورزې هم) او ستاسو هغه میندې (هم) چي تاسو ته یې تی درکړی وي او ستاسو (هغه) خویندې (هم) چي د تي رودلو د کبله (ستاسو خورګانې جوړې شوې وي).

او ستاسو د ماندینو میندې (خواښې ګانې هم) او ستاسو هغه پرکتیانې (هم) چي ستاسو په غېږو کښې پاللې کېږي (خو چي) ستاسو د هغو ماندینو څخه (زېږېدلې وي) چي تاسو د هغوی سره جنسي ارتباط نیولی وي. نو که چرته نه یاست چي د هغوی سره مو جنسي ارتباط نیولی وي نو په تاسو باندې (د هغوی په نکاح کولو کښې) څه باک نشته.

او (په تاسو باندې) د خپلو هغو زامنو حلالې کړی شوې (ماندینې حرامې کړی شوې دي) چي هغوی ستاسو د شاګانو څخه دي (چي یا رضعي وي او یا نسبي، نه په زوی توب نیولې شوې).

او (دا خبره هم درباندې حرامه ګرځولې شوې ده) چي تاسو دوه خویندې جمع کړئ مګر هغه چي یقیناً پخوا تېرې شوې دي (په هغوی باندې نه نیولی کېږئ). بې شکه الله ﷻ بښونکی مهربان دی.

## ارتباط

د ذکر شوو ایتونو ارتباط د نږدې ایتونو سره دا دی چي هلته د دې خبرې یادونه شوې وه چي څوک د خپلې مېرمنې په عوض وغواړي چي بله زنانه په نکاح واخلي خو د دې خبرې یادونه نه وه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي چې بله زنانه باید د کومو-کومو زنانه وو د جملې څخه وي؟. همدارنګه الله ﷻ په تېرو شوو ایتونو کښې اجازه وکړه چې یو سړی تر څلورو ماندینو پورې درلودلی شي خو دا نه وه واضحه شوې چې دغه څلور ماندینې باید د کومو-کومو زنانه څخه پوره کړی شي؟. په دغو ایتونو کښې همدا موضوع ښه شرحه شوې ده چې کومې زنانه حلالې دي او کومې حرامې.

## شان نزول

یوه ورځې آبو قیس ﷺ وفات شو او د ده زوی (قیس) غوښتل چې د خپل پلار په ماندینه باندې نکاح وتړي (چې د ده میاره کېده). نو هغې ورته وویلې چې ما خو ته د زوی په شان ګڼلې او ته په قوم کښې صالح سړی یې خو زه به د نبي کریم ﷺ سره مشوره وکړم چې هغه راته څه امر کوي. نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «ارْجِعِي إِلَى بَيْتِكِ»[1] ته خپل کور ته لاړه شه. یعنې ترڅو چې الله ﷻ ستا په باره کښې فیصله وکړي، نو همدغه ایت شریف نازل شو.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای مؤمنانو! تاسو د ښځو څخه هغه ښځې مه په نکاح کوئ چې هغوی ستاسو پلرونو په نکاح کړې وې، که څه هم واده کړې یې لا نه وي چې کونډې پاتې شي، او یا ستاسو پلرونو طلاقې کړې وې.

هو! د نن څخه پخوا مو چې د پلرونو ماندینې په نکاح کړې دي په هغوی باندې نه نیولی کېږئ خو په راتلونکي کښې پام کوئ چې دغه ناوړه او قبیح عمل ته ورنژدې نه شئ ځکه چې دا کار عقلاً، عادتاً او بالآخره طبعًا هم قبیح دی او دا دی اوس شرعًا هم قبیح وګرځول شو.

ای مؤمنانو! د دې پاره چې تاسو ته د نکاح په هکله جائزې او ناجائزې ښځې څرګندې شي نو لاندې شرحې ته متوجه شئ:

۱ـ لکه څنګه چې په تاسو باندې د میارې نکاح حرامه ده همدارنګه مورګانې هم درباندې حرامې دي.

۲ـ لورګانې درته جواز نه لري.

۳ـ خورګانې درته روا نه دي، سکه وي او یا ناسکه، لکه مورنۍ خور یا پلارنۍ خور.

۴ـ د پلرونو مختلفې خویندې هم درباندې حرامې دي.

۵ـ د مورګانو درې واړه ډوله خویندې هم درته جائزې نه دي.

۶ـ د سکه او ناسکه وروڼو لورګانې درباندې حرامې کړی شوې دي.

۷ـ د مختلفو خویندو لورګانې هم همداسې وګڼئ.

۸ـ هغه مورګانې هم په نکاح نه شئ اخستلی چې هغوی درته تی درکړی وي.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۹۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٩_ همدارنګه د رضاعي (د تي) مختلفې خويندې هم وګڼئ.

١٠_ په تاسو باندې خپلې خوابنې حرامې دي.

١١_ د پرکتيو نکاح کول هم درته جواز نه لري. ايا ستاسو طبائع به دوی څنګه ومني حال دا چې هغوی ستاسو د خپلو اولادونو غونډې ستاسو د پالنې لاندې ژوند کوي؟.

هو! د پرکتيو سره د نکاح په تحريم کښې دا شرط ده چې د هغوی مور مو واده کړې وي که نه نو باک يې نشته يوازې نکاح تړل ورباندې څه موثريت نه لري.

١٢_ تاسو ته خپل انګورګانې هم ناجائزې دي البته د هغو زامنو ښځې چې هغوی مو حقيقتاً زامن دي، برابره خبره ده چې نسبي زامن مو وي او که رضعي. مګر د هغو خلکو ښځې درباندې حرامې نه دي چې ستاسو حقيقتاً زامن نه وي خو په زوی ولی باندې مو نيولي وي.

١٣_ دا خبره هم په تاسو باندې حرامه کړی شوې ده چې دوه خويندې (هر ډول خويندې چې وي) په نکاح کښې يو ځای کړئ چې دواړه په يوه زمانه کښې ستاسو منکوحې جوړې شي.

هو! که د نن څخه پخوا مو دغه کار کړی وي په هغه باندې مو الله ﷻ نه نيسي ځکه چې يقيناً الله ﷻ ښونکی مهربان دی چې د ښښې د کبله يې په تېرو شوو چارو باندې ونه نيولئ او د مهربانۍ د مخې يې درته په آينده کښې لاره صافه کړه او روا او ناروا ښځې يې درته شرحه کړې.

## توضيحات

١_ هره يوه ښځه چې د چا پلار په نکاح واخلي که څه هم جنسي ارتباط يې ورسره نه وي نيولی، په اصطلاح واده کړې يې نه وي، نو په زوی باندې هغه حرامه ده چې پلار يې يا وفات شي او يا ذکر شوې ښځې ته طلاق ورکړي. دا حکم اجماعي دی او څوک پکښې مخالف نشته[١]، الله ﷻ د ذکر شوي حکم د زيات تاکيد په بنا لاندې درې وجې هم نازلې کړې:

الف: دا کار فاحشه کار دی. يعنې هر هوښيار سړی ورباندې پوهېږي چې د پلار اهانت پکښې نغښتی دی.

ب: دا کار مَقت دی. يعنې په غضب باندې د ککړېدلو موجب دی، د همدې کبله به د جاهليت په زمانه کښې د دغې ډول نکاح کوونکي ته "مَقتی" (په غضب باندې ککې) لقب ورکول کېده[٢].

ج: دا ناکاره طريقه ده چې د سليم طبيعت خاوندان ورباندې د جاهليت په زمانه کښې هم نه تلل، چې مياره به ورته د مور غونډې ښکارېده.

په دې ټولو باندې د پاسه الله ﷻ تري په ﴿ وَلَا تَنكِحُواْ ﴾ سره منعه کړې ده، نو اوس پکښې څلور قباحته (عقلي، عادي، طبعي، شرعي) تحقق مومي.

---

(١) تفسير ابن کثير ج١ ص٤٦٨

(٢) تفسير القاسمي ج٥ ص٨٤

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د حرامو ښځو ډولونه او ګروپونه

۲_ حرامې ښځې په دوه ډوله دي: ابدي حرامې او موقتې حرامې. ابدي حرامې ښځې د سببونو په اعتبار سره درې ګروپونه لري. نسبي حرامې، رضاعي حرامې، صهري (خیښي) حرامې چې په لاندې کرښو کښې شرحه شوي دي:

## نسبي حرامې ښځې

۳_ نسبي حرامې ښځې لاندې اوه ګروپونه لري:

الف: مورګانې حرامې دي. په دې ګروپ کښې ټولې نیاګانې هم شاملې دي، د پلار د طرفه وي او که د مور د طرفه ، لرې وي او که نژدې.

ب: لورګانې حرامې دي. چې ټولو لمسیانو ته شاملې دي که د لور د طرفه وي او که د زوی.

ج: ټولې خورګانې حرامې دي. سکه وي او که ناسکه، لکه پلارنۍ خور یا مورنۍ خور دي.

د: د پلار هر ډول خویندې (سکه وي او که ناسکه) حرامې دي. همدارنګه د نیکه خویندې، د غور نیکه خویندې او پسې وروړته ټولې حرامې دي.

ه: د مور هر ډول خویندې (سکه وي او که ناسکه) حرامې دي. همدارنګه د نیا، غورې نیا او پسې وروړته نیاګانو خویندې پکښې ټولې شاملې دي.

و: د هر ډول وروڼو (سکه وي او که ناسکه) لورګانې حرامې دي. همدارنګه د وروڼو لمسۍ او کړوسۍ او پسې وروړته ټولې حرامې دي.

ز: د هر ډول خویندو (سکه وي او که ناسکه) لورګانې حرامې دي، د دوی لمسۍ او کړوسۍ او پسې وروړته هم د خورزو څخه کمې نه دي.

## رضاعي حرامې ښځې

۴_ ذکر شوي اوه ګروپه زنانه لکه څنګه چې د نسب په اعتبار سره په سړي باندې حرامې ګرځولې شوې دي همدارنګه دوی ټولې د رضاع (تي رودلو) په ذریعه هم حرامې دي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې خو د رضاع (تي رودلو) د کبله صرف دوه ګروپونه حرام ښودلي شوي دي چې رضعي مورګانې او رضعي خویندې دي، نو په څه دلیل باندې تاسو ذکر شوي اوه واړه ګروپونه د رضاع په سبب باندې هم حرام وښودل؟

مونږ وایو چې:

الف: الله ﷻ تی ورکوونکې ښځې د "اُمَّهَات" په نامه یادې کړې او د هغوی لورګانو ته يې د "اَخَوَات" لقب ورکړی دی، لکه څنګه چې دغه دواړه لقبونه په رضاع سره اثبات ته ورسېده نو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه په رضاع سره د "عمّات، خالات، بَنَاتُ الأخ، بَنَاتُ الأخت" القاب هم بالاشاره په ثبوت رسېږي. نو ذکر شوي دواړه لقبونه د مثال په توګه ذکر شوي دي، نه د حصر په توګه.

ب: همدغه مضمون نبي کریم ﷺ په ښه توګه تمثیل کړی دی چې فرمايي: «يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ»[1] يعني: د رضاع د کبله ټولې هغه ښځې حرامېږي کومې چې د نسب د کبله حرامې ګرځي.

## د رضاع په هکله څو مسائل

۶ـ که څه هم د رضاع په باره کښې د فقهې کتابونو مکمل بحث کړی دی او مونږ يې دلته لیکلو ته اړتیا نه وينو مګر لاندې څو مسائل د مثال په توګه ترې رانقلوو[2]:

الف: د تې رودل په هغه وخت کښې د تحريم موجب ګرځي چې په خپله موده کښې تحقق ومومي. د تې ورکولو د شرعي مودې اندازه د [البقرة:۲۳۳] ایت لاندې شرحه شوې ده.

ب: د تې رودل په تحريم کښې لږ او ډېر فرق نه لري، يو ځل کشول هم تحريم راولي.

ج: په تحريم کښې د زنانه وو شوده موثر دي، که يو ماشوم تی ونه روي او په کاشوغه يا پياله نومورې شوده وخوري هم تحريم ورباندې راځي.

د: د پیغلې زنانه شوده هم تحريم واقع کوي.

ه: د زنانه وو د تیونو څخه چې بهرون شي په هغه باندې تحريم واقع کېږي، که څه هم زيړې اوبه وي او د شودو شکل ونه لري. نو په کار دي چې هره زړه بوډۍ پام وکړي او د خپلو زېړو اوبو په ذريعه سره خپل لمسيان ونه تړي، او که يې وتړي نو بايد چې په ياد يې ولري.

## صهري (خېښۍ) حرامې ښځې

۷ـ د هغو زنانه وو، چې د خېښۍ په سلسله په سړي باندې حرامې ګرځي، ډولونه دا دي:

الف: په هر چا باندې خپله خواښې (د مانديني مور) په ابدي توګه حرامه ده، برابره خبره ده چې خپله ماندينه يې واده کړې وي او که نه (جنسي ارتباط يې ورسره نيولی وي او که نه). همدارنګه دا حکم د خپلې مانديني د نيا، غورې نيا او نورو نياګانو هم دی.

ب: په هر سړي باندې د خپلې مانديني لور هم ابدي حرامه ګرځي خو په دې شرط چې خپله ماندينه يې واده کړې وي او ذکر شوی ارتباط يې ورسره قائم کړی وي. او که نه نو په محض نکاح کولو سره ورباندې نه حرامېږي. او دا حکم د خپلې مانديني لمسيو او کړوسيو ته هم شامل دی.

ج: خپله انګور (د زوی ماندينه) هم په سړي باندې ابدي حرامه ده، نو د زوی په وفات يا طلاق

---

[1] صحيح البخاري ج۱ ص. ۳۶۰

[2] فتح القدير على الهدايه ج۳ ص۳۰۴؛ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۴ ص۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره ورته نه حلالېږي، برابره خبره ده چې نوموړي زوی نسبي وي او که رضعي. همدارنګه دا حکم د لمسیانو او کړوسیانو د ماندینو هم دی.

د: د پلار منکوحه هم په سړي باندې په ابدي توګه حرامه ده، همدارنګه د نیکونو او غورو نیکونو منکوحې هم دړواخلي، دلته صرف نکاح حراموونکې جوړېږي، د جنسي ارتباط نیول پکښې شرط نه دي[١].

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې په ایت شریف کښې خو د ماندینې د لور (پرکټۍ) نکاح په دوه شیانو مشروطه ګرځولې شوې ده، چې یو دخول (جنسي ارتباط نیول) دي، بل دا چې هغوی د پلندر په عائله کښې شاملې وي. حال دا چې تاسو صرف د جنسي ارتباط شرط ذکر کړ او بس؟

مونږ وایو چې: د ﴿ فِي حُجُورِكُم ﴾ تکی د قید په لحاظ نه دی ذکر شوی بلکې د عادت په لحاظ پکښې زیات شوی دی او مسلمانان په غوږ وهلی شوي دي چې تاسو ته په کار دي چې خپلې پرکټیانې د خپلو اولادونو څخه کمې ونه ګڼئ او په روزنه کښې یې زیات کوښښ وکړئ.

د همدې کبله د نکاح د جواز په صورت کښې یوازې عدم دخول ذکر شوی دی چې: ﴿ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ﴾، او داسې "فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ وَلَمْ تَكُنَّ فِي حُجُورِكُمْ فَلا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ" نه دي نازل شوي.

## یادونه

۹_ لکه څنګه چې په نکاح سره ذکر شوي څلور واړه کړیونه د ابد په توګه حرام ګرځي همدارنګه د ابو حنیفه رحمه‌الله علیه په نزد په زنا سره هم نوموړی تحریم صورت نیسي. د زیات تفصیل دپاره دې د فقهي کتابونو ته مراجعه وکړی شي[٢].

## موقتې حرامې ښځې

۱۰_ موقتې حرامې ښځې صرف دوه ګروپه دي، لومړی ګروپ یې دا دی چې د یوه سړي په نکاح او یا د نکاح په عدت کښې یوه ښځه موجودیت ولري نو هغه ته جائزه نه ده چې د هغې خور په نکاح سره واخلي. یا په بل عبارت: د خپلې ماندینې د ژونده پورې سړي ته د خپلې ښینې نکاح کول روا نه دي او نه ورته د هغې په عدت کښې دا کار جواز لري.

همدارنګه چا ته جواز نه لري چې عمه د ورېرې سره یو ځای کړي او یا خاله د خورزې سره جمعه کړي. په دې باره کښې د صحابه وو کرامو رضي‌الله‌عنهم څخه یوه عمومي قاعده روایت شوې ده[٣] هغه دا چې:

---

(١) روح المعاني ج۴ ص۲۴۶
(٢) کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج۴ ص۶۲
(٣) تفسیر القرطبي ج۵ ص۱۲۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه دواړه ښځې یوه سرې ته په یو وخت کښې په نکاح کښې جمع کول جواز نه لرې چې که د هغوی دواړو څخه هره یوه ښځه بالفرض نارینه وګڼله شي نو هغه بله ورباندې حرامه ګرځي. مثلا که د دوه خویندو څخه یوه نارینه فرض کړی شي نو د هغې بلې به ورور جوړ شي چې ورور ته د خور نکاح کول جواز نه لرې.

که ذکر شوی تحریم د یوې ښځې په نارینه فرضولو باندې متحقق کېده خو د بلې ښځې په فرضولو باندې نه متحقق کېده، نو په دې تقدیر جائزه ده چې دواړه د یوه سړي په نکاح کښې جمعه شي.

د همدې کبله یوه سړي ته روا ده چې میاره او بنزۍ دواړه په نکاح کښې جمع کړي. او دا څکه چې که بنزۍ نارینه فرض کړی شي نو میاره ورته جائزه نه جوړېږي څکه چې د پلار ماندینه یې ده. اما که میاره نارینه فرض کړه شي نو د بنزۍ نکاح کول ورته څه ممانعت نه لري[1]، په محرماتو کښې نه شاملېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ذکر شوو ګروپونو څخه صرف د دوه ګروپونو د تحریم په بیان کښې د ﴿ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ﴾ جمله اضافه کړه او بس. چې یو ګروپ د پلار د منکوحې دي او بل ګروپ د دوه خویندو په نکاح کښې جمع کول دي؟

مونږ وایو چې: دغه دواړه ډولونه نکاح ګانې د ایت د نزول په وخت پورې په خلکو کښې رواج وې که څه هم څینو هوښیارو خلکو ورته په ښه نظر نه کتل.

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وایي چې: قانون خو په تېرې شوې واقعه باندې موثر نه واقع کېږي نو د ذکرې شوې جملې په نازلولو کښې څه حکمت وه؟

مونږ وایو چې: که څه هم د همدې سوال دپاره مفسرینو کرامو تقریبًا شپږ جوابونه لیکلي دي[2]، مګر مونږ ته داسې ښکاري لکه څنګه به چې د کعبې د بدلون په وخت کښې منافقانو مؤمنانو ته شکونه وراچول چې ستاسو پخواني لمونځونه ضائع شوه نو الله ﷻ وفرمایل چې: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْ ﴾ [البقرة:۱۴۳] یعنې: او الله ﷻ داسې نه دی چې ستاسو ایمان (لمونځونه) ضائع کړي چې بیت المقدس ته مو اداء کړي دي.

همدارنګه به منافقانو په دې مقام کښې هم ذکره شوې شبه راپورته کړې وې او یا به یې د راپورته

(۱) شرح فتح القدیر ج۳ ص۱۲۶
(۲) تفسیر زاد المسیر ج۲ ص۱۰۳؛ تفسیر الکشاف ج۱ ص۴۹۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کولو خطره، وه نو الله ﷻ د دوارو سره وفرمایل چې: ﴿ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ﴾ یعنې: مګر هغه چې پخوا تېر شوي دي په هغو باندې نه نیول کېږي.

ترڅو د یو پلوه د مسلمانانو تشویش د منځه یوسي او د منافقانو دسیسې شنډې کړي او د بله پلوه هغه اولادونه چې په ذکرو شوو ودونو باندې تولد شوي وه او ژوندي وه، د حرامیانو په نامه یاد نه شي، او بالآخره د میراث څخه محروم ونه ګڼلی شي.

## د موقتو حرامو ښځو دوهم ګروپ

۱۳ـ د موقتو حرامو ښځو دوهم ګروپ په [النساء: ۲۴] ایت ﴿ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ ﴾ الآیة کښې راروان دی چې بیا به هملته به ان شاء الله تعالی توضیح شي.

څلورمه سپاره د الله ﷻ په توفیق ختمه شوه

۱۳۷۲/۸/۱۹ هـ ش نېټه، د چهار شنبې ورځ، تقریبًا ۸:۰ بجې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ كِتَابَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا (٢٤)﴾

[۲۴] او (په تاسو باندې) د ښځو څخه مېړه دارې ښځې (حرامې کړی شوي دي) مګر هغه وینځې (درباندې حرامې نه دي) چې ستاسو ښي لاسونه یې مالکان شوي وي، په تاسو باندې (لازم کړی شوي دي) د الله ﷻ لازم کول.

او تاسو ته په غیر د دغو (ذکر شوو حرامو ښځو) څخه (ټولې ښځې) حلالې کړی شوي دي. خو چې په خپلو مالونو باندې یې (د نکاح) مطالبه وکړئ (مهر وټاکئ او ایجاب او قبول د شاهدانو په وړاندې ترسره کړئ). په داسې حال کښې چې تاسو (په دوامداره توګه) د خپل عفت ساتونکي یاست، نه شهوت پرستي کوونکي.

نو د (نوموړو) ښځو د جملې څخه چې تاسو په هرې یوې باندې څه نفعه واخستله (چې یا مو ورسره جنسي ارتباط ونیوه او یا مو ورسره صحیحه خلوت وکړ) نو هغوی ته خپلې اجورې (مهرونه) ورکړئ (اګر که سمدستي طلاق ورکړئ او نوره استفاده ترې ونه کړئ. دا مهرونه په تاسو باندې فرض ګرځول شوي) فرض ګرځول.

او په تاسو باندې په دې کښې څه ګناه نشته چې د مهر د ټاکنې څخه وروسته دواړه جانبه درباندې راضي شئ (چې یا یې کم کړئ او یا یې زیات).

بې شکه الله ﷻ پوه دی (او) د حکمت خاوند دی (د تحریم او تحلیل چوکاټ یې په پوهه او حکمت ولاړ دی).

## شان نزول

د ابو سعید الخدري ﷺ څخه روایت دی چې مونږ د اوطاس په غزا کښې څه زنانه د بندیانو په حیث ونیولې چې زمونږ وینځې وګرځېدلې، نو مونږ د دې څخه کرکه کوله چې جنسي ارتباط ورسره ونیسو، او دا ځکه چې هغوی په کفرستان کښې مېړونه درلوده. د نبي کریم ﷺ څخه مو په دې باره کښې پوښتنه وکړه نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو، چې جنسي ارتباط یې درته جائز دی خو «إذا انقضت عدتهن»[۱] کله چې د دوی عدت تېر شي. د دوی عدت صرف یو حیض دی.

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۴۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې د موقتو حرامو ښځو دوهم ګروپ مړوښې زنانه دي چې یا د بل چا د نکاح لاندې وي او یا د بل چا په عدت کښې وي. نو ترڅو پورې چې د بل چا د نکاح او عدت څخه نه وي فارغې شوې تاسو ته د دوی نکاح جواز نه لري. مګر د وینځو په باره کښې دا قید نشته، البته هغه وینځې چې هغوی په دار الحرب کښې مېړونه لري او ستاسو د ملکیت لاندې راشي، نو دغه ډول وینځې خپل اصل مالک ته جائزې دي چې د یوه حیض څخه وروسته ورسره جنسي ارتباط ونیسي، همدارنګه دا هم روا ده چې بل کوم یو مسلمان یې په نکاح باندې واخلي.

د زنانه وو ذکر شوي حرام ګروپونه ټول د الله ﷻ د پلوه په تاسو حرام کړی شوي دي نو تاسو ته په کار دي چې په کلکه پرې عمل وکړئ.

۲_ د نوموړو حرامو ګروپونو څخه په غیر نورې ټولې زنانه تاسو ته جائزې دي چې ترڅلورو پورې په نکاح واخلئ او مهرونه ورته ومنئ.

نو څرنګه چې ستاسو دپاره ستاسو مالونه د ژوند قیام ګڼلي کېږي او دنیا او آخرتورباندې ګټلی شئ، نو تاسو ته په کار دي چې په خپلو مالونو باندې خپل عفت او پاک لمنې حاصله کړئ، هسې نه چې مطلب مو پکښې یوازې او یوازې د خپلو شهوتونو سړول وي او بس.

نو د کومو ماندینو څخه چې تاسو حقیقتاً یا حکمًا استفاده وکړه چې یا ورسره جنسي ارتباط ونیسئ او یا ورسره په داسې موقع کښې خلوت وکړئ چې د جنسي ارتباط څه موانع موجود نه وي، نو هغوی ته منلي شوي ټول مهرونه ورکړئ.

۳_ هو! په دې کښې درباندې څه باک نشته چې د مهرونو د مقررولو څخه وروسته دواړه جانبه په څه شي باندې راضي شئ چې یا ورباندې څه نور هم وراضافه کړئ او یا ترې څه کم کړئ.

۴_ بې شکه الله ﷻ پوه دی، نو د زنانه وو د تحریم او تحلیل په باره کښې یې چې څه حدود نازل کړي دي په هغو کښې یې ستاسو ټول ضروریات او کړه وړه د نظره نه دي ویستلي. او هم د حکمت څښتن دی، که حدود یې نه وی ټاکلي نو هرو مرو به ستاسو ژوند تریخ شوی او ګډوډي به درمنځنه شوې وی.

## توضیحات

۱_ د "اَلْمُحْصَنَات" کلمه اصلا د "حِصْن" څخه اخستله شوې ده، "حِصْن" هغه مضبوط، قوي کلي ته وایي چې دښمن ورباندې د ورپورته کېدلو توان نه لري. او "اِحْصَان" همدغې مضبوط کلي ته د ورننوتلو یا ورننویستلو څخه عبارت دی.

په قرآن کریم کښې لاندې څلور شیان (نکاح، عفت، حُریت، اسلام) د مضبوطو کلاګانو سره تشبیه شوي دي چې تفصیل یې دا دی:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مېروښو ښځو ته "مُحْصَنَات" وايي ځکه چې دوی خپلو مېړونو د خلکو د نظره ساتلې دي او څوک نه شي کولی چې د نکاح کولو تمه ورته وکړي او نه دوی د بل چا د نکاح خيال کولی شي. ته په وايې چې په قوي کلا کښې بندیانې دي او د کلا کنجي يې د مېړونو په لاس ده.

ب: هغه سړي ته هم "مُحْصِن" ويل کېږي چې هغه په نکاح کولو باندې خپل عفت او پاک لمنې ساتي او هم د خپل نسل حفاظت يې په نظر کښې وي. د همدې معنی په مقابل کښې "مُسَافِح" استعمال مومي. "مُسَافِح" هغه چا ته وايي چې هغه خپلې اوبه (مني) ضائع کوي، نه د خپل عفت خيال ساتي او نه د راتلونکي نسل غم کوي بلکې مطلب يې فقط شهوت پرستي وي او بس. په ﴿ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ﴾ کښې همدغې معنی ته اشاره ده.

ج: په حُريت باندې هم بنیادم د بل چا د غلامۍ څخه ازادېږي، ته به وايې چې کور يې په مضبوط کلي کښې دی چې هيڅوک يې د تسلط لاندې نه شي راوستلی. همدا معنی د راتلونکي ايت په ﴿ أَن يَنكِحَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ﴾ کښې مطلب ده.

د: د ټولو څخه لوړ او دنګ کلی اسلام دی چې سړی پرې د هر ډول غلامۍ څخه نجات پيدا کوي. همدا معنی د راتلونکي ايت په ﴿ فَإِذَآ أُحْصِنَّ ﴾ کښې راروانه ده چې لږ وروسته به ـ ان شاء الله تعالی ـ ښه واضحه شي.

په دې مقام کښې د "حِصْن" اولنۍ معنی مراده ده. د همدې کبله په ﴿ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ﴾ کښې د ﴿ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ﴾ کلمات اضافه نازل شوي دي، ترڅو کافرو مېړوښو ښځو ته هم شامل شي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: په تاسو باندې د مېړوښو ښځو نکاح کول حرام ګرځول شوي دي که څه هم هغوی (کتابيانې کافرې وي)، مګر د وينځو نکاح درته حلاله ده که څه هم د هغوی مېړونه په دار الحرب کښې ژوندي وي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ذکر شوي تقدير سره خو د صحابه وو کرامو ﷺ اشتباه په ايت شريف باندې نه جوابېږي ځکه چې دوی ته د يميني ملک په بنا په جنسي ارتباط کښې اشتباه پېښه شوې وه، نه په نکاحي ملک کښې، لکه چې ذکر شوی شان نزول ورباندې دلالت کوي؟

مونږ وايو چې: ايت شريف ذکره شوې اشتباه په دلالة النص سره جواب کړې ده. او دا ځکه کله چې د مېړوښو وينځو څخه په نکاحي ملک سره استفاده روا وګرځوله شوه نو د وينځو مالکانو ته خو ترې په يميني ملک سره په طريق اولی استفاده جائزه ده. ځکه چې دوی خو نکاح ته ضرورت نه لري او د قوي ملک خاوندان دي.

## د حرامو ښځو ګروپونه لږ دي

۳ـ څرنګه چې د هغو ښځو ګروپونه لږ دي چې د هغوی نکاح کول په سړي باندې حرام دي او د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حلالو ښځو ګروپونه ډېر دي، نو الله ﷻ حرام ګروپونه په مشخصه توګه بیان کړه او حلالو ګروپونو ته یې په ﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ ﴾ سره اشاره وکړه چې د بیان او ضبط ډېره موثره طریقه ده، یعني: تاسو ته د ذکر شوو حرامو ګروپونو څخه په غیر نور ټول ګروپونه حلال کړی شوي دي. خو باید لاندې څو نکاتو ته په نظر کښې ونیول شي:

الف: که څه هم په لوستلو شوو ایتونو کښې د حرامو ښځو لاندې څوارلس ګروپونه په عبارة النص سره ذکر شوي دي:

۱ـ مورګانې ۲ـ لورګانې ۳ـ خورګانې ۴ـ د پلار خورګانې ۵ـ د مور خورګانې ۶ـ وریرې ۷ـ خورزې ۸ـ رضعي مورګانې ۹ـ رضعي خورګانې ۱۰ـ خواښې ګانې ۱۱ـ پرکتي ګانې ۱۲ـ انګورګانې ۱۳ـ د دوه خویندو جمعه کول ۱۴ـ مروښې ښځې.

مګر په دلالة النص، احادیثو او بالآخره د امت په اجماع سره څه نورې زنانه هم په نومړو حرامو ګروپونو کښې شاملې دي چې مونږ ورته د ایتونو په توضیحاتو کښې اشارې کړې دي او تفصیل یې د فقهې په کتابونو کښې ذکر دی. لکه نیاګانې او غورې نیاګانې، یا لکه لمسۍ، کړوسۍ او داسې نورې.

ب: د ځینو نصوصو په بناء او د ځینو عوارضو د کبله د زنانه وو څخه نور ګروپونه هم شته چې په سرې باندې یې نکاح کول حرام دي، لکه:

اول: د مشرکو ښځو نکاح په [البقرة: ۲۲۱] ایت سره حرامه ده.

دوهم: کومې ښځې چې په دریو طلاقونو باندې طلاقې شوې وي، ترڅو چې بل مېړه ونه کړي په اولني مېړه باندې په [البقرة: ۲۳۰] ایت سره حرامې دي.

دریم: څوک چې د خپلې ښځې سره ملاعنه وکړي نو په هغه باندې همدغه ښځه په ابدي توګه حرامه ګرځي.

د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یوه سړي خپله ښځه په زنا باندې متهمه کړه او د [النور: ۶] ایت په مطابق دواړو ملاعنه وکړه، نو نبي کریم ﷺ متهم ماشوم مور ته انتساب کړ «وَفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ»[۱] یعني: او د دواړو لعنت کوونکو په منځکښې یې په جدایی باندې حکم وکړ.

څلورم: د څلورو ښځو څخه وروسته ښځې په نکاح کول هم د [النساء: ۳] ایت په ذریعه حرامې ګرځولې شوې دي.

پنځم: د هغو ښځو نکاح کول هم حرام دي چې هغوی د بل چا په عدت کښې وي چې د [البقرة: ۲۲۸، ۲۳۴] ایتونو لاندې یې بحث تېر شوی دی.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۹۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مهر شرعي حق دی

۴_ د ﴿ أَن تَبۡتَغُواْ ﴾ جمله د حرف جر په تقدير په ﴿ وَأُحِلَّ لَكُم ﴾ پورې تعلق نيسي، نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې د حرامو ښځو څخه په غير د نورو ښځو نکاح تاسو ته په دې سبب باندې حلاله کړی شوې ده چې تاسو يې د نکاح مطالبه د خپلو مالونو په ذريعه وکړئ.

د دې بيان څخه لاندې مطالب په لاس راځي:

الف: مهر شرعي حق دی، که څوک يوه ښځه په دې شرط نکاح کړي چې مهر په منځکښې نه وي هم نکاح صحت لري او مهر المثل ورباندې واجب دی. هو! دا بېله خبره ده چې د ثبوت څخه وروسته بيا د منکوحې حق دی، کولی شي چې مېره ته يې هبه کړي او يا پکښې بل څه تصرف وکړي.

ب: د مهر لوړه درجه منحصره نه ده اما کمه درجه يې د ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد بايد د لسو روپو څخه لږ نه وي ځکه چې دا مقدار په شريعت کښې اهميت لري او د غله لاس ورباندې پرېکېدلی شي. او هم په عرف کښې ورته د مال لقب ورکول کېږي.

## متعه د کومې نکاح نوم دی؟

۵_ د اهل التشيع په نزد متعه د هغه عقد څخه عبارت ده چې يوه ښځه په ايجاب او قبول سره په معين مهر باندې د ټاکلي وخت پورې د يوه نارينه د استفادې صالحه وګرځي، کله چې ټاکلی شوی وخت تېر شي نو ذکره شوې ښځه بدون د طلاق څخه د نارينه څخه جدا کېږي[۱].

احناف عليهم الرحمة وايي چې که نوموړی عقد د نکاح په لفظ سره اجراء شي هم د متعې حکم اخلي خو چې وخت پکښې ټاکلی شوی وي، ځکه چې په عقودو کښې معنى ته اعتبار دی، او دغه ډول نکاح د متعې په معنى سره ده[۲].

## ايا متعه جائزه ده؟

۶_ اهل التشيع د ايت شريف د ﴿ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ﴾ ټکړې څخه داسې معنى اخلي چې: ای مسلمانانو! د کومو زنانه وو څخه چې تاسو د موقتې نکاح په ذريعه استفاده وکړئ نو هغوی ته ټاکلې شوې اجرتونه ورکړئ. دوی همدغې نکاح ته متعه وايي او دا د دوی په نزد باندې جائزه ده.

څرنګه چې زموږ (أهل السنة والجماعة) د احاديثو کتابونو[۳]، د فقهې کتابونو[۴] او بالآخره د

---

(۱) تفسير المظهري ج۲ ص۷۴

(۲) الهدايه کتاب النکاح

(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۴۵۰؛ شرح معاني الآثار ج۲ ص۱۵

(۴) کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ج۴ ص۹۰؛ احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۴۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیر کتابونو[١] د موقتي نکاح د تحریم په هکله پوره څېړنې کړې دي چې د اوږدوالي د کبله دلته ټولې نه شو رانقلولی، نو صرف په لاندې څو نکاتو باندې اکتفاء کوو چې د دې مقام سره قوي ارتباط لري:

الف: د ایت شریف ذکره شوې ټکړه د اهل التشیع په متعې سره تفسیرول غلط کار دی ځکه چې:

اول: د سورت تقریبًا د اول سر څخه د شرعي نکاح په هکله بحث راروان دی چې وروستنی بحث هم همدغه مضمون تعقیبوي، نو که په منځکښې د ایت شریف د یوې برخې تفسیر د وړاندې او ښېرته څخه مخالف کړی شي نو داسې مثال به ولري لکه څوک چې د ملغلرو امیل وشکوي او ملغلرې دانه وانه شي. ښکاره ده چې دا ډول کار د فصیح کلام سره مناسب نه دی.

دوهم: په همدې سورت کښې د منکوحو شماره په څلورو پورې حصره شوې ده، که بالفرض دلته د اهل الشیع تفسیر مراد کړی شي نو د منکوحو شماره په څلورو کښې نه حصرېږي. او دا ځکه چې دوی د یو پلوه همدغه متعه د نکاح په نوم یادوي او د بله پلوه ورته په ټاکلي شوي عدد باندې قائل نه دي او د متعو عدد نه حصروي.

دریم: په همدې سورت کښې زیات تاکید شوی دی چې خپلو منکوحو ته په میراث کښې برخه ورکړئ، نو که دلته د هغوی متعه مراده کړی شي نو معنی به دا وي چې خینو منکوحو ته په میراث کښې برخه مه ورکوئ. او دا ځکه چې اهل التشیع ورته په میراث قائل نه دي[٢].

څلورم: د نکاح په اهدافو کښې الله ﷻ عفت او پاک لمني د دوام په توګه شامله کړې ده، د همدې کبله یې په ﴿ مُحۡصِنِينَ ﴾ د اسم فاعل صیغه نازله کړې ده، او د اهل التشیع په متعې باندې خو دوامداره پاک لمني نه ساتله کېږي ځکه چې په هغې کښې وخت ټاکلی وي.

پنځم: د ﴿ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم ﴾ جمله په ﴿ أَن تَبۡتَغُواْ بِأَمۡوَٰلِكُم ﴾ باندې تفریعه ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په نکاح کښې د مال (مهر) ورکړه واجبه ده خو ترڅو پورې چې د منکوحې څخه استفاده نه وي شوې نو نیمایي مهر یې په خطر کښې دی، اما کله چې تاسو د هغوی څخه استفاده وکړئ نو بیا ضرور ټول مهر ورکړئ او چونکې ترې مه ستنوئ.

که د اهل التشیع متعه مراده کړی شي نو ذکره شوې تفریع معنی نه ورکوي ځکه چې وړاندې خو د دوی د متعې هیڅ بحث نه دی تېر شوی ترڅو دغه جمله ورباندې تفریع شي.

شپږم: په راتلونکي ایت شریف کښې الله ﷻ هغه خلکو ته چې د اصیلې ښځې نکاح ته یې وسه نه کېږي هدایت کړی دی چې دوی دې کم اصیلې په نکاح واخلي چې د یو طرفه یې عادتاً مهر خفیف وي او د بل طرفه یې د نفقې بوج په مالک باندې وي کله چې هغوی د خپل استخدام څخه فارغه نه کړي.

---

(١) تفسیر القاسمي ج٥ ص ١٠٠؛ تفسیر القرطبي ج٥ ص ١٣٠؛ تفسیر المظهري ج٢ ص٧٥

(٢) تفسیر نمونه ج٣ ص٣٤٤ (د اهل التشیع تصنیف)

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که بالفرض د اهل التشیع متعه شرعي کار وی نو الله ﷻ به ضرور همدغو بې وسې خلکو ته د متعې تجویز نازل کړی وی، څکه چې د خپلو خواوو د سړولو دپاره د کم اصلو د نکاح څخه هم متعه کول ډېر اسان دي چې د دوی په اصطلاح نکاح ده او د نکاح لوازم نه لري (خوره او ښنه او حساب مه منه).

اوم: اهل التشیع وایي چې متعه کول اجتماعي ضرورت دی، خصوصاً په دې زمانه کښې د تحصیل دوره اوږد وخت ته اړتیا لري که دوی په رښتیانی نکاح باندې مصروف شي نو تحصیل به بې ناتمام پاتې شي[1]. نو مونږ د دوی څخه د لاندې پوښتنو جوابونه غواړو:

- ایا محصلینو ته دا بهتره نه ده چې جنسي غرائز یې په متعه باندې راوبښ نه شي؟.
- ایا د تحصیل د پای پورې هر یوه ته په اصطلاح دوه سوه متعې په کار نه دي؟ ایا دا کار د دوي د وسې پوره دی؟
- ایا د دوی تشویشونه په متعو نه اضافه کېږي چې یو اولاد یې په امریکا کښې وي او بل په اروپا کښې؟ که بالفرض په متعه نسب ثابت شي[2].
- او که ثابت ونه ګڼلی شي نو ایا د نوموړو اولادونو مور دوی ته نفقه ورکولی شي، په داسې حال کښې چې پخپله یې د نفقې دپاره د متعې لاره غوره کړې ده؟.
- ایا په متعې باندې استعمال شوې زنانه څوک په دائمي شرعي نکاح اخلي؟.
- ایا د دوی د ګذران دپاره کچني خانې جوړول ضرور نه دي، لکه چې د انقلاب څخه وړاندې د ایران په جمهوریت کښې د وخت پاچا (رضا شا پهلوي) دا کار کړی وه؟.

ب: د پورتني بیان څخه ثابته شوه چې د اهل التشیع د متعې د ثبوت دپاره په قرآن کریم کښې کوم ایت نشته، حال دا چې د اسلام په ابتداء کښې یې په سفرونو کښې تحقق موندلی دی نو ثبوت به یې په احادیثو باندې شوی وي، اما بالمقابل د نوموړي نکاح په نسخې کښې زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې تقریباً د معنوي تواتر درجې ته رسېږي[3]. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: د علي ﷺ څخه روایت دی چې: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ»[4] یعني: نبي کریم ﷺ د ښځو د متعې څخه د خیبر د غزا په ورځ منعه وکړه او هم یې د کورنیو خرو د غوښو څخه منعه وکړه (دواړه یې په همدې ورځ باندې حرام وګرځول او نسخه یې کړه).

دوهم: سَبْرَة بن مَعْبَد وایي چې مونږ د نبي کریم ﷺ سره (د مکې د فتحې په ورځ) ملګري وو چې اعلان یې وکړ چې: ای خلکو! ما خو تاسو ته د ښځو څخه په استمتاع کښې اجازه کړې وه (چې د

---

(١) تفسیر نمونه ج٣ ص٣٤١ (د اهل التشیع تصنیف)
(٢) تفسیر نمونه ج٣ ص٣٤٣ (د اهل التشیع تصنیف)
(٣) الدر المنثور ج٢ ص٤٨٥
(٤) صحیح البخاري ج٢ ص٦٠٦، ٨٣٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



متعې په عقد کښې یې شاملې کړې) خو یقیناً الله ﷻ دغه استمتاع د قیامت ورځې پورې حرامه وګرځوله. نو هر څوک چې د نومړو ښځو څخه څه شی لري (په عقد کښې شاملوي) «فَلْيُخَلِّ سَبِيلَهَا وَلَا تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا»[۱] نو هغه دې خوشې کړي او څه مو چې ورکړي دي د هغه څخه ترې هیڅ شی بېرته مه اخلئ.

دریم: د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه روایت دی چې متعه د اسلام په ابتداء کښې رواج وه، چې سړی به کوم ښار ته ورغی او هلته به یې څه معرفت نه درلود نو یوه ښځه به یې د دومره وخت دپاره په نکاح واخستله چې هلته به یې د څومره وخت د اوسېدانې نیت درلود، هغې به ورته د سامان حفاظت کاوه او د شیانو (مالونو) اصلاح به یې ورته کوله تردې چې دا ایت شریف نازل شو چې: ﴿إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ﴾ [المؤمنون: ۶] یعني: مؤمنان هغه خلک دي چې خپل عورتونه د بل هر ډول زنانه وو څخه ساتي مګر د خپلو ماندینو څخه او یا د هغو وینځو څخه چې دوی یې مالکان ګرځېدلي دي. نو نومړی صحابي ﷺ وایي چې د دغو دوارو څخه په غیر نورې ټولې ښځې حرامې دي[۲].

د اهل التشیع متعه خکه په ذکر شوي ایت باندې حرامه شوه چې په دغه کښې یوازې دوه ډوله ښځې سړي ته حلالې شوې دي چې یا د سړي وینځه وي او یا منکوحه وي. او ذکر شوې متعه نه وینځه ده او نه منکوحه، که منکوحه وي نو د منکوحې لوازم به یې درلودی. لکه مېراث، نفقه او داسې نور.

څلورم: امیر المؤمنین عمر ﷺ یوه ورځې د ډېرو صحابه وو کرامو ﷺ په وړاندې د ممبر د پاسه د متعې د تحریم اعلان وکړ، یوه صحابي ﷺ هم د ده اعلان رد نه کړ او په سکوت سره یې ورباندې اجماع وکړه. که بالفرض دوی ته یې د اباحت نسخه څرګنده نه وي نو ضرور یوه نفر خو به پرې خپله خواشیني ښکاره کړې وی[۳] لکه چې د مهر د تقلیل په باره کښې ورباندې یوې ښځې اعتراض وکړ او دستي د خپل نظر څخه صرف نظر شو او په جهر سره یې وویلې چې: «أَصَابَتْ امْرَأَةٌ وَأَخْطَأَ عُمَرُ»[۴] ښځه حق ته ورسېده او عمر خطا شو.

## یادونه

۷ـ الله ﷻ د زنانه وو د تحریم او تحلیل د قوانینو په آخر کښې د خپلو پاکو صفاتو د جملې څخه د «عَلِيمٌ» او «حَكِيمٌ» دوه صفات نازل کړه ترڅو هغو ټولو شبهاتو او اعتراضاتو ته د اشارې په

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۴۵۱
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۱۳
(۳) تفسیر کبیر ج۱۰ ص۵۱
(۴) تفسیر القرطبي ج۵ ص۹۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترڅو جواب ورکړي چې په همدې هکله د اسلام دښمنو ټولنو د پلوه د ساده لوحو مسلمانانو د غولونې دپاره مطرح کېږي، چې دوی پرې تېر باسي او د اسلام سره يې بد بين کړي.

د جواب حاصل دا دی چې: ذکر شوي قوانين هغه چا نازل کړي دي چې هم يې علم کامل دی، د انسان ټول کره ورته څرګند دي. او هم د حکمت څښتن دی چې هر يو کار يې د بې اندازې ګټو او حکمتونو څخه ډک دی، هو! دا بېله خبره ده چې څوک وربانديې پوهېږي او څوک وربانديې نه پوهېږي.

که بالفرض ذکر شوي قوانين يې نه وی نازل کړي نو د هرې يوې زنانه دپاره به خپل کور دوزخ جوړ شوی وی بلکې خپل کورونه به ورته پردي کورونه ګرځېدلي وی او په هرې يوې پيغلې باندې به د هر چا څخه وراندې د خپلو ورونو په منځکښې بزکشي جوړه وی، نه به د خپلوی مينه محبت پاتې وی او نه به د اقاربو زړه سوی او ترحم وجود درلودی، بلکې دا ټول به د عشق سيلاب وړي وی.

مونږ په دې باره کښې خبره نوره نه شو اوږدولی چې لوستونکي زړه تنګي نه شي خو ځينو علماوو عليهم الرحمة پکښې اوږده بحثونه کړي دي[1]، د چا چې اوږد بحث ته زړه نه په تنګېږي نو هيله ده هلته مراجعه وکړي.

﴿ وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِكُم ۚ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ ۚ فَإِذَآ أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَٰحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى ٱلْمُحْصَنَٰتِ مِنَ ٱلْعَذَابِ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ ٱلْعَنَتَ مِنكُمْ ۚ وَأَن تَصْبِرُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٥﴾ ﴾

**[۲۵]** او ستاسو څخه چې هرڅوک د مالدارۍ د حيثه نه توانېږي چې مؤمني اصيلې ښځې په نکاح واخلي نو (دوی دې) د هغو څخه (په نکاح کړي) چې ستاسو ښې لاسونه يې مالکان شوي دي چې ستاسو د مؤمنو وينځو څخه عبارت دي.

او الله ﷻ ستاسو په ايمان باندې ښه پوهېږي (چې څوک ښه مسلمان دی) ستاسو (انسانانو) ځينې نفر د ځينو نورو څخه دي (په اصل کښې ټول متحد ياست که څه هم څوک وينځه وي) نو دوی (وينځې) د دوی د مالکانو په اجازه په نکاح واخلئ او مهرونه يې ورته په معروفه (شرعي طريقه)

(۱) حجة الله البالغة ج۲ ص۱۳۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړئ، په داسې حال کښې چې (دوی) پاک لمنې وي، نه علني زناکارانې وي او نه (په پټه سره) د يارانو نيوونکې وي

نو کله چې دوی (نکاح شوې وينځې) مسلمانې شوې (البته په هغه صورت کښې چې دوی د نکاح په وخت کښې کتابيې وې) نو که دوی په زناکارۍ سره راتګ وکړي نو په دوی باندې د هغه شي نيمايي لازم دی چې هغه په اصيلو (مجردو زناکوونکو) ښځو باندې لازم دی چې هغه د تعذيب (حد) څخه عبارت دی.

دغه (د وينځو د نکاح اباحت) ستاسو د جملې څخه د هغه چا دپاره دی چې په خپل ځان باندې د زناکارۍ څخه داريږي (چې چرته پکښې واقع نه شي).

او چې تاسو صبر وکړئ (خپل عزم قوي کړئ او د تجرد په حالت کښې هم خپل عفت وساتئ نو دا کار) درته ډير بهتر دی. او الله ﷻ ښښونکی مهربان دی (نااُميده کيږئ مه).

## د مطلب خلاصه

۱_ يعني: ای مؤمنانو! څرنګه چې نکاح د يو پلوه ستاسو د نسل د بقا دپاره ضرور ده او د بله پلوه د پاک لمنۍ او عفت ساتنې د کبله هم ورته اړ ياست، نو که د اصيلو مسلمانو د نکاح کولو وسه مو نه کيږي چې مالي توان مو لږ وي او د هغوی د مهر او نفقې دپاره نه شئ وتلی نو د مؤمنو وينځو څخه دغه ضرورت پوره کړئ مګر تاسو مکلف نه ياست چې په زړونو باندې يې خانونه پوه کړئ، بلکې ظاهري اقرار د هغوی د مؤمنو ګڼلو دپاره کفايت کوي، ستاسو ټول ايمانونه الله ﷻ ته ښه معلوم دي، څه لرې نه ده چې په وينځو کښې داسې ايمان داره وينځې موجودې وې چې ستاسو د اصيلو څخه د هغوی ايمان قوي وي. نو د همدې کبله د وينځو د نکاح کولو څخه نفرت مه کوئ، تاسو ټول په انسانيت کښې يو شی ياست، ټول د آدم ﷺ اولاد ياست.

۲_ نو وينځې د خپلو مالکانو په اجازه په نکاح واخلئ او په شرعي معروفه طريقه باندې ورته مهرونه مستقيماً او يا يې د مالکانو په سلسله ورکړئ.

۳_ د وينځو په نکاح کولو کښې لکه څنګه چې ستاسو عفت ساتل کيږي همدارنګه د وينځو دپاره هم ګټور دي چې د پټو او ښکاره فحاشيو څخه بچې پاتې کيږي. نو که بالفرض وينځو د ذکر شوي حالت سره- سره پټې يا ښکاره زنا ته لاس واچاوه چې هم مسلمانې وې او هم ميړه دارې وې نو په هغوی باندې د مجردو اصيلو ښځو نيمايي حد اجراء کيږي. يا په بل عبارت: د وينځو په حد باندې نکاح کول څه اثر نه غورزوي، په دواړو حالاتو کښې ورته پنځوس دُرې تاکلې شوې دي.

۴_ مګر دا په ياد ولرئ چې د وينځو نکاح د هغو بې وسې مسلمانانو دپاره تجويزه شوې ده چې هغوی په خپل ځان باندې داريږي چې د تجرد په حالت کښې چرته په زنا باندې اخته نه شي چې د دنيا او آخرت مشقاتو سره به مخامخ شي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ په هر تقدير، تاسو ته دا خبره غوره ده چې خپل خانونه د تجرد په حالت کښې هم اداره کړئ او خپل عفت وساتئ او د وينځو د نکاح څخه صرف نظر شئ چې نه مو اولادونه د بل چا غلامان جوړ شي او نه مو نواميس (مانديني) د نورو خدمتګاراني وګرځي. او د وينځو په نکاح کښې دغه دواړه عيبونه شته.

مګر الله ﷻ بښونکی دی، په دغو دواړو عيبونو باندې درته ګناه نشته، او هم مهربان دی چې ستاسو د عفت ساتنې دپاره يې درته پوره لارې چارې درنازلې کړې دي چې نه مو انساني غرائز زندي شي او نه مو د ژوند نظام ګډوډ شي.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ طَوْلاً ﴾ کلمه په اصلي حرفونو (ط، و، ل) کښې د "طَوْل" (اوږدوالي) سره متحده ده چې په مقابل کښې يې قصر (لنډون) استعمالېږي، خو اکثرو علماوو عليهم الرحمة په دې مقام کښې "طَوْل" په غنی او د مال په پراخوالي باندې تفسير کړی دی[1].

که څه هم د وينځو په نکاح کولو کښې هم د مهر ورکړه واجبه ده مګر د لاندې وجوهو د کبله د دوی مصارف د اصيلو ښځو څخه اسان دي:

الف: د کم اصلې ښځې مهر د اصيلې ښځې په نسبت خفيف دی.

ب: ترڅو چې کم اصله مېرمن د خپل مالک خدمت کوي او د خپل مېړه په اختيار کښې ورنه کړی شي، نفقه يې په مېړه باندې نشته[2].

ج: د وينځې د اولادونو نفقه هم په پلار باندې نه واجبېږي ځکه چې دوی د وينځې د مالک دپاره غلامان جوړېږي[3] او د غلام نفقه خو په خپل مولی باندې واجبه وي.

## څو مسائل

۲ـ د ذکر شوي ايت شريف څخه د احکامو په استنباط کښې مجتهدين عليهم الرحمة په لاندې ډول اختلاف لري:

الف: امام الشافعي رحمة الله عليه وايي چې د وينځې په نکاح کولو کښې د اصيلې ښځې د نکاح کولو بې وسي شرط ده، نو توانا سړي ته د وينځو نکاح جواز نه لري. اما ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې توانا ته هم جائزه ده خو بهتره نه ده. دا ځکه چې د ﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ ﴾ جمله عامه ده، اصيلو او کم اصلو ټولو ته شامله ده.

ب: امام الشافعي رحمة الله عليه وايي چې بې وسې سړي ته هم د کافرې (کتابيې) وينځې نکاح کول

---

(۱) تفسير القرطبي ج۵ ص۱۳۶
(۲) کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ج۴ ص۵۱۷
(۳) کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ج۴ ص۵۸۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



روا نه دي ځکه چې الله ﷻ وينځې په مومنانو سره مقيدې کړې دي ﴿ فَتَيَٰتِكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾ او د قيد په نشتوالي سره د مقيد نشتوالی راځي. اما ابو حنيفه رحمه الله وايي چې د کافرې کتابيې وينځې نکاح هم روا ده لکه څنګه چې د اصيلې کافرې کتابيې نکاح روا ده، او د قيد د نشتوالي د کبله د مقيد نشتوالی ضرور نه دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗ ﴾ [آل عمران: ۱۳۰] يعني: تاسو په چندونو چندونو سره سود خوري مه کوئ. ښکاره ده چې غير مضاعف سود خوري هم جائزه نه ده.

د ذکرو شوو دوارو مسئلو زياته شرحه فقهي کتابونو ليکلې ده[۱]، او د اختلاف مبنی يې د أصول الفقه په کتابونو کښې کتلی شی[۲].

ج: ابو حنيفه رحمه الله هم په اصيلې باندې د پاسه د کم اصيلې ښځې نکاح کول جائز نه ګڼي. لکه چې د علي ﷺ[۳]، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه يې هم عدم جواز روايت شوی دی[۴].

## د وينځو په نکاح باندې مه شرمېږئ؟

۳ـ په هغه وخت کښې د وينځو نکاح کولو خلکو ته شرم او عار ښکاره کېده، تردې چې د وينځې زوی ته به يې د "هَجِيْن" (عيبجن) لقب ورکاوه[۵]، نو الله ﷻ ذکرې شوې نکاح ته په لاندې وجوهو باندې ترغيب نازل کړ:

الف: ستاسو بهتري د الله ﷻ په نزد په انسابو او احسابو باندې نه ده بلکې په تقوی او قوي عقيدې سره ده، او عقيده خو صرف همده ﷻ ته ښه معلومه ده تاسو څه خبر ياست چې که د وينځو عقيده د اصيلو څخه قوي وي.

ب: تاسو ټول د يو اصل څخه ياست چې آدم ؑ دی، نو په نسب کښې ځيني په ځينو نورو باندې مه خانونه درانه ګڼئ؛ او مه وينځو او غلامانو ته په سپک نظر ګورئ.

ج: که تاسو وينځې په نکاح واخلئ؛ نو د يو طرفه به خپل عفت وساتئ؛ او د بله طرفه به وينځې هم د بې عفتی او کچنيتوب څخه بچې کړئ چې دا هم ستاسو دپاره اجر او ثواب دی.

## د زنا ډولونه

۴ـ د جاهليت په زمانه کښې فحاشي په دوه ډوله رواج درلود[۶]:

---

(۱) فتح القدير على الهدايه ج۳ ص۲۳۴
(۲) الحسامي (الوجوه الفاسدة).
(۳) بدائع الصنائع ج۲ ص۲۶۶
(۴) موطا الإمام مالک ص۵۰۴
(۵) البحر المحيط ج۳ ص۵۹۵
(۶) تفسير المنار ج۵ ص۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځینو زناکارو ښځو به په کور باندې د فحاشۍ سور بېرغ ودراوه چې د یوه زناکار څخه یې هم د اوسېدانې ځای پټ پاتې نه شي او هر چا ته به د ورننوتلو اجازه وه، مګر دا ډول فحاشي خلکو نه عار ښکارېده.

ب: ځینو ښځو به عامو خلکو ته د زناکارۍ اعلان نه کاوه بلکې د یو نفر سره به یې په پټه فحاشي کوله او یارانه به یې ورسره درلوده، چې دا ډول زناکاري خلکو ته بده نه ښکارېده او څوک پرې نه شرمېده.

الله ﷻ اول ډول زناکارۍ ته په ﴿ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ ﴾ سره اشاره وکړه او دوهم ډول یې په ﴿ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ ﴾ سره تعبیر کړ. دا ځکه چې "أَخْدَان" د "خَدِيْن" جمعه ده او خدین پټ آشنا او اندېوال ته وایي.

## په وینځه باندې رجم نشته

۵ـ د ﴿ فَإِذَآ أُحْصِنَّ ﴾ کلمه د "اِحْصَان" څخه اشتقاقه شوې ده. او "اِحْصَان" په دې ځای کښې په معنی د اسلام سره دی[1]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: وینځه ښځه اګر چې د چا دپاره منکوحه جوړه شي د زنا په حد کښې نه رجمه کېږي، بلکې د زنا کوونکې وینځې حد فقط پنځوس دُرې دي چې د مجردې اصیلې د حد (سلو دُرو) نیمایي کېږي. برابره خبره ده چې متزوجه وي او که مجرده، خو دا پکښې شرط ده چې مسلمانه دې وي ځکه چې کافره وینځه نه په حد کېږي[2].

## عَنَت څه معنی؟

۶ـ مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د "عَنَت" د کلمې تقریبًا پنځه معناوې کړې دي[3] مګر رئیس المفسرین ﷺ په زنا سره تفسیره کړې ده[4].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د وینځو نکاح کول د هغو مؤمنانو دپاره تشریع شوې ده چې په خپل ځان باندې ډارېږي چې د عدم نکاح په صورت کښې به په زناکارۍ باندې مبتلا شي. نو که څوک خپل استقامت د لاسه ورنه کړي او د اصیلې د نکاح څخه د ناتوانۍ په صورت کښې هم خپل عفت په تجرد کښې وساتي او د وینځې د نکاح څخه صرف نظر شي نو دا ورته بهتره ده ځکه چې:

الف: په وینځه باندې د سړي کور چندان نه ابادېږي ځکه چې هغه د خپل مالک په واک او اختیار کښې وي که اجازه ورکړي نو کور ته به تشریف راوړي که نه نو کور ته نه شي راتلای.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۴ ص۲۲
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۶۹
(۳) زاد المسیر ج۲ ص۱۱۱
(۴) البحر المحیط ج۳ ص۵۹۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په وینځې ماندینې باندې خپل خاوند څه اختیارات نه لري چې د بې خایه ګرځېدلو څخه یې منعه کړي، نو څه لرې نه ده چې په ځینو ځایونو کښې به ورباندې خاوند خپه کېږي خو منعه کولی به یې نه شي.

ج: د وینځې اولادونه که څه هم ثابت النسبه دي خو د مالک دپاره غلامان ګرځي چې د دوی د مملوکي حاصلات دي. او دا ډېره سخته خبره ده چې سړی خپل اولادونه د بل چا دپاره غلامان جوړ کړي.

﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾ وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُوا۟ مَيْلًا عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾ ﴾

[۲۶] الله ﷻ غواړي چې تاسو ته (د ژوند لارې چارې) بیان کړي، او د هغو (صالحو خلکو) طریقې درته وښایي چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي دي. او په تاسو باندې په رحمت سره رجوع وکړي. او الله ﷻ پوه دی (او) د حکمت څښتن دی (ستاسو کمزوري ورته معلومه ده).

[۲۷] او الله ﷻ غواړي چې په تاسو باندې په رحمت سره رجوع وکړي او (بالمقابل) هغه کسان چې شهوت پرستۍ پسې ګرځي (دا) غواړي چې تاسو (د الهي حدودو څخه) کاږه شئ په لوی ګوډوالي سره.

[۲۸] (د حدودو په نازلولو کښې) الله ﷻ (په تاسو باندې د اسانۍ) اراده لري چې (درانه احکام) درڅخه تخفیف کړي او انسان خو کمزوری خلق کړی شوی دی (که تخفیف پرې نه وی نو حتمي د ناکامۍ سره مخامخ کېده).

## ارتباط

څرنګه چې الله په تېرو شوو ایتونو کښې د نکاح په باره کښې څه محدودیتونه نازل کړي دي بلکې د سورت د اول سر څخه د جاهلیت د بدو رواجونو زښت ډېر ډولونه د منځه یووړل شوه، او ښکاره ده چې دا ټول احکام شهوت پرستان او اسلام دښمنې ټولنې نه خوښوي او څومره توان یې چې رسېږي د پیاده کولو مخه یې نیسي. دا د یو پلوه، او د بله پلوه الله ﷻ د لطف او مهربانۍ د مخې تشریعي قوانین جبراً په خلکو باندې نه تحمیلوي بلکې اسرار او ګټې یې ورته بیانوي ترڅو د دوی سرونه ورباندې خلاص شي او د مینې او محبت د لارې څخه یې په تعمیل باندې پیل وکړي. نو ځکه الله ﷻ د ذکر شوو محدودیتونو ګټو ته یو خل اشاره وکړه چې د علیم او حکیم په دوه صفاتو باندې [۲۴، ۲۶] ایتونه ختم کړه. لکه چې څه وضاحت یې وړاندې تېر شوی دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا دی دا خل یې په ذکر شوو ایتونو کښې د محدودیتونو په ګټو باندې صراحت وکړ ترڅو د دښمنانو د لاندې اعتراضاتو مخه ونیوله شي او ځوک پرې تېر نه اوځي:

الف: په دې کښې څه ګټه ده چې الله ﷻ په مونږ باندې ځینې زنانه حرامې کړې؟.

ب: ایا دا محدودیتونه په پخوانیو امتونو باندې هم لګېدلي وه او که یوازې زمونږ برخه شوه؟.

ج: ایا دا کار په مونږ باندې حرَج نه دی؟.

د: ایا دا کار د نعمتونو څخه محرومول نه دي؟.

هـ: ایا دا به ښه نه وه چې د اروپایانو په شان مو په ازادۍ سره شهوت رانی کولی؟.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! الله ﷻ په ذکر شوو محدودیتونو کښې دا اراده لري چې تاسو ته خپل احکام بیان کړي ترڅو د شهوت پرستانو د رواجونو څخه بچ پاتې شئ او د صالحینو سلفو په قدم باندې لاړ شئ چې هغوی ته هم الله ﷻ خپل احکام ورنازل کړي وه او د جاهلیت د رواجونو څخه یې ساتلي وه، نو تاسو بې هم د هغوی په قطار کښې ودرولئ ترڅو د الله ﷻ احکام عملي کړئ چې الله ﷻ درباندې په رحمت سره رجوع وکړي.

۲ـ په ذکر شوو محدودیتونو کښې الله ﷻ ستاسو د غرائزو پوره مراعات ساتلی دی، نو که سمدستي په خپل مراعات پوره نه پوهېږئ نو همدومره پوه شئ چې الله ﷻ هم علیم دی ستاسو کړه وړه او ضروریات ورته ټول معلوم دي او هم د حکمت څښتن دی چې هیڅ حکم یې بې حکمته نه دی، چې همدغو دواړو عقیدو باندې کلک ودرېږئ نو د دښمنانو د اعتراضاتو او تشویشونو څخه به خلاص شئ.

۳ـ لنډه دا چې الله ﷻ خو د شرائعو په درنازلولو کښې اراده لري چې په تاسو باندې د رحمت باران ووروي، چې د یوه پلوه خپلې غریزې اشباع کړئ او د بله پلوه د الله ﷻ د رحمت مستحق شئ: په اصطلاح "هم ثواب او هم خُرما".

مګر شهوت پرستان غواړي چې تاسو د رحمت څخه ډېر لرې کړي چې د سلفو صالحینو لاره پرېږدئ او د جاهلیت په دودونو باندې اخته شئ، هغوی ستاسو دوستان نه دي هغوی غواړي چې ستاسو څخه هم د خپلو خانونو په شان ځاروي او بهائم جوړ کړي.

۴ـ د احکامو په تنزیل کښې الله ﷻ ستاسو کمزوري د نظره نه ده غورزولې، د همدې کبله یې د زنانه وو څو محدودو ګروپونو څخه په غیر نور ټول ګروپونه درته حلال ګرځولي دي او تخفیف یې درباندې پېرزو کړی دی. په دې باندې علاوه د وینځو نکاح یې هم درته جائزه کړې ده او ستاسو د عفت ساتنې مراعات یې کړی دی.

۵ـ که بالفرض الله ﷻ ستاسو غرائز اختناق (زندی) کړي وی او داسې محدودیتونه یې درباندې ایښې وی چې ستاسو د وسې پوره نه وی نو بیا به د شهوت پرستانو اعتراضات په ځای وی. خو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبره داسې نه ده، په تشريعي محدوديتونو کښې ستاسو د کمزورۍ پوره لحاظ ساتلی شوی دی، تاسو ته لا خپله کمزوري او بې صبري دومره معلومه نه ده لکه چې الله ﷻ ته معلومه ده ځکه چې تاسو خپل خانونه پخپله نه دي جوړ کړي بلکې ستاسو جوړښت د الله ﷻ د پلوه صورت نیولی دی.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو د نکاح د محدودیتونو زښت ډېر حکمتونه بیان کړي دي[۱] خو مونږ یې د اوږدوالي د کبله دلته نه شو رانقلولی، هیله ده چې علاقمندان یې هلته لوستلو ته مراجعه وکړي.

## یادونه

۲ـ الله ﷻ د مؤمنانو د اطمنان دپاره (چې ذکر شوو محدودیتونو ته وارخطا نه شي) دوه کرته د ﴿ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ ﴾ جمله تکراره کړه ترڅو دوی پوه شي چې که مونږ خطا کوونکي یاستو نو الله ﷻ توبه قبلوونکی دی نو اُمید دی چې د محدودیتونو څخه به بریالي تېر شو. او بیا یې د دوی اطمنان د ﴿ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ﴾ په جمله سره لا قوي کړ چې الله ﷻ په تاسو باندې داسې تکلیف نه ږدي چې د هغه د بار څخه تاسو نه شئ وتلی او یا ترې ډېر په زحمت سره اوځئ بلکې د هغو دباره وتل اسان دي.

## د تخفیفونو څو مثالونه

۳ـ که څه هم محمدي (ﷺ) شریعت د پخوانیو اُمتونو د درنو احکامو څخه خالي دی خو اسلام دښمنه ټولنې یې درګرده ثقیله معرفي کوي او ساده‌ګان مؤمنان تېر باسي چې د اسلام احکام ډېر درانه دي، ترڅو دوی شهوت پرستۍ ته وهڅوي او د ازادۍ په نوم یې د اسلام څخه بې زاره کړي.

د نکاح په قوانینو کښې د تخفیف لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: د یوې څخه نیولې ترڅلورو پورې ښځې په نکاح کول.

ب: د څوارلس ګروپونو څخه په غیر د زنانه وو د نورو ټولو ګروپونو تحلیل.

ج: د وینځو د نکاح تجویز.

د: د نکاح په نیت یوې ښځې ته د کتلو جواز.

هـ: د احکامو حکمتونه څرګندول.

و: د تقصیراتو څخه د توبې قبلول هم ډېر لوی تخفیف دی.

خو په دغو ټولو تخفیفونو باندې د هرې زمانې شهوت پرستان سترګې پټوي او تالاش کوي چې ساده‌ګان مؤمنان د خپلو خانو پېرو جوړ کړي. ایا په دې زمانه کښې شهوت پرستان پېژنئ؟ د دې زمانې شهوت پرستان غربیان دي چې اسلامي دولتونو ته یې لاس غځولی دی او په غربي لباس

---

(۱) تفسیر المنار ج٥ ص۲۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې يې د سياحانو او نورو په نوم نارينه او ښځينه ګروپونه خوشې کړې دي او تول نشريات يې په کار اچولي دي ترڅو د اسلام د محدوديتونو سره د مؤمنانو علاقه وشکوي.

## انسان کمزوری دی

۴_ انسان په ځمکه خليفه دی او په ټولو ځمکنيو شيانو باندې حکومت کوي چې غرونه سوري کوي او هم په هوا کښې الوزي را اولوزي، خو د شهوت په مقابله کښې ډېر کمزوری دی. د همدې کبله غربيان وايي چې يوه ښځه د اسلام د تخريب او د عيسويت د ترويج دپاره دومره کار کولی شي چې سل تنه نارينه هغومره کار نه شي کولی.

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ»[۱] هرومرو (نامحرم) سړی دې د (نامحرمې) ښځې سره يوازې نه شي. يعنې د همدې فرصت څخه شيطان استفاده کوي، د دواړو په منځکښې د شهوت راپاروني هڅه کوي ترڅو دواړه په ګناه مبتلا کړي، ځکه چې ښځه ته د شهوت په مقابله کښې د دوی کمزورې معلومه ده.

سعيد بن المسيب رحمه‌الله‌علیه وايي چې: زما عمر اتيا کالو ته رسېدلی دی او يوه سترګه مې ړنده ده خو په همدغه حالت کښې هم زه په خپل ځان باندې د بل شي څخه نه داړېږم چې په ګناه کښې به مې اخته کړي لکه څومره چې د ښځو څخه داړېږم[۲].

يحيى رحمه‌الله‌علیه وايي چې: ما خو تاسو ګورئ چې په انتهاء درجه بوډا يم او انديوال (تناسلي آله) مې ړنده او کڼه ده، خو په همدغه حالت کښې هم داړېږم چې که د غير محرمې زنانه سره يوازې شم نو شيطان به راشي او مړ انديوال به مې راژوندی کړي او په ګناه به مې ککړ کړي[۳].

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٢٩﴾ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾﴾

[۲۹] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! په خپلو منځو کښې خپل مالونه په ناحقه سره مه خورئ. مګر (هله يې خورئ) چې (ستاسو معامله) داسې تجارت وي چې ستاسو (د دواړو جانبو) د رضايت په بنياد يې صورت نيولی وي. او خپل ځانونه مه وژنئ: بې شکه الله ﷻ په تاسو باندې مهربان دی (دوزخ ته مو نه داخلوي خو چې نافرماني ونه کړي).

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۸۶
(۲) تفسير الکشاف ج۱ ص۵۰۱
(۳) تفسير القرطبي ج۵ ص۱۴۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۰] او هرڅوک چې ذکر شوي کارونه په تجاوز او ظلم سره وکړي نو ډېر ژر به يې اور ته داخل کړو او دا (اور ته داخلول) په الله ﷻ باندې اسان دي.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ توصيه کړې وه چې نکاحګانې د مالونو په ذريعه منعقدې کړئ، او دا يې هم فرمايلي وه چې انسان د شهوت په مقابله کښې کمزوری دی. نو دا خطره وه چې څوک په ناجائزه طريقه د مالونو تحصيل ته لاس واچوي ترڅو پرې د خپلې غريزې د اشباع دپاره د مهر پيسې ترلاسه کړي او په همدې کشمکش کښې خبره قتل او قتول ته ورسوي، نو ځکه الله ﷻ د مالونو د تحصيل طريقه راوښودله او د ورور وژنې څخه يې منعه کړه.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای مؤمنانو! تاسو د شهوت په مقابله کښې ډېر کمزوری مخلوق ياست، که د الله ﷻ توفيق درسره ملګری نه وي نو خپل ځانونه نه شئ اداره کولی، ستاسو عقلونه هم کله ناکله د شهوت د تاثير لاندې راځي او په ناجائزه طريقه د مالونو په تحصيل باندې اخته کېږي، نو تاسو ته دا توصيه کوم لکه څنګه چې د خپل مال په باره کښې دا نه خوښوئ چې بل څوک يې درڅخه په ناجائزه طريقه باندې ترلاسه کړي او تاسو خپه کړي همدارنګه تاسو نور مسلمانان هم مه خپه کوئ او په ناجائزه طريقه باندې يې مالونه مه خورئ، همېشه د مالونو په تحصيل کښې د مالونو د خاوندانو رضايت په نظر کښې ونيسئ او تجارتي مالونه سره تبادله کړئ. که نه نو د مالونو په تحصيل کښې به جاروجنجال جوړ او خبره به په ورور وژنه باندې ختمه شي چې يا به خپل ځانونه په نورو باندې ووژنئ او يا به مو نور ورونه د لاسه ووژل شي چې دا دواړه کارونه الله ﷻ ناراض کوي حال دا چې الله ﷻ په تاسو باندې ډېر مهربان دی، د همدې کبله يې تاسو ته د مالونو د تحصيل لارې چارې ښودلې دي چې د جنګ جګړې څخه په غير يې ترلاسه کړئ.

۲ـ نو ای مؤمنانو! که په ذکرو شوو وصاياوو باندې هرڅوک خپل ځان کوڼ واچوي نو هغه به ډېر ژر د دوزخ اور ته داخل کړو. تاسو دا خيال مه کوئ چې مونږ خو په الله ﷻ باندې عقيده لرو نو که هر څه جنايات وکړو هم دوزخ ته به مو داخل نه کړي، ځکه چې په الله ﷻ دا کار هم اسان دی چې د ايمان سره-سره مو د څه وخته پورې دوزخيان جوړ کړي.

## توضيحات

۱ـ د باطل په مقابل کښې حق استعمالېږي نو هر شی چې ثبات او استقرار ونه لري هغه د باطل په نامه يادېږي[۱]، په دې مقام کښې د باطل څخه ټولې هغه ناحقې طريقې مرادې دي چې مالونه

(۱) مفردات الراغب ص۴۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

وربانديې تر لاسه کېدلی شي، لکه: غلا، غصب، قمار او داسې نور. او په مقابل کښې يې تولې هغه حقې لارې مطلبې دي چې شريعت د مالونو د رانيولو دپاره ټاکلې دی، لکه: هبه، ميراث، تجارت، مهر او داسې نور.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې: د مالونو د رانيولو مشروعي لارې چارې ډېرې دي خو په دې مقام ﴿ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً ﴾ کښې يوازې د تجارت يورې د مالونو مشروعيت اختصاص موندلی دی، په دې کښې څه وجه ده؟

مونږ وايو چې: دلته د تجارت نوم خکه خاص ذکر شو ترڅو مسلمانان ترغيب کړي چې په مشروعو لارو کښې د مالونو د تحصيل دپاره تجارت ډېره ښه لاره ده، ته به وايې چې د تجارت په مقابل کښې د تحصيل نورې لارې د سره شته نه دي. نبي کريم ﷺ فرمايي: «التَّاجِرُ الْأَمِينُ الصَّدُوقُ الْمُسْلِمُ مَعَ الشُّهَدَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[١] يعني: هر تاجر چې امانتګر، رښتيا ويونکی مسلمان وي هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره (انديوال) وي.

## د ځان وژنه حرامه ده

٣ـ مفسرينو کرامو ... په دې مقام کښې د ځان وژنې لاندې صورتونه ښودلي دي[٢]:

الف چې تاسو نور مسلمانان مه وژنئ او داسې يې وګڼئ لکه خپل ځانونه. د دې نظير داسې دی لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ [النور: ٦١] نو کله چې تاسو کورونو ته ورننوزئ نو په خپلو ځانونو باندې سلام واچوئ. يعني په نورو مسلمانانو باندې سلام واچوئ چې هلته استوګنه لري.

ب خپل ځانونه مه وژنئ چې د څه مشکلاتو د کبله انتحار وکړئ. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې په پخوانيو قومونو کښې يو سړی وه چې په لاس باندې يې څه زخم درلود. کله چې زخم ډېر وارخطا کړ نو خپل لاس يې پرې کړ او وينه يې تر هغه ونه درېده ترڅو چې مړ شو. نو الله ﷻ وفرمايل چې: «بَادَرَنِي عَبْدِي بِنَفْسِهِ حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ»[٣] يعني: ماته خپل بنده خپل ځان راجلاکه کړ خو ما ورباندې جنت حرام کړی دی.

ج خپل ځانونه مه وژنئ چې په تهلکه کښې يې واچوئ. عمرو بن العاص وايي چې د "ذات السلاسل" په غزا کښې زه د احتلام په سبب جنب شوم، خو ډېره يخه شپه وه ما فکر وکړ چې که

(١) سنن ابن ماجه ج١ ص٥٥
(٢) زاد المسير ج٢ ص١١٢
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٤٩٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غسل وکړم نو ځان به ووژنم نو تیمم مې وواهه او خپلو ملګرو ته مې د سبا لمونځ ورکړ. کله چې نبي کریم ﷺ ته راغلو هغه راته د خپله خانه ووېلې چې: ای عَمرو! ایا انديوالانو ته دې په جنابت کښې لمونځ ورکړ؟ ما ورته ووېل چې هو، ای پیغمبره! شپه ډېره یخه وه نو ما خیال وکړ که غسل وکړم نو خپل ځان به ووژنم حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ﴾ تاسو خپل خانونه مه وژنئ، نو تیمم مې وواهه او لمونځ مې وکړ. «فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا»[۱] نو نبي کریم ﷺ ایله وخندل (موسکی شو) او هیڅ یې ونه ویلې. یعنې زما کړنلاره یې رد نه کړه.

د: د مالونو په تحصیل کښې دومره زیار مه وباسئ چې د خپلې وسې څخه مو اوچت وي او خانونه ورباندې ووژنئ. نبي کریم ﷺ فرمايي چې: «وَإِنَّ لِنَفْسِكَ وَأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا»[۲] یعنې: او بې شکه په تاباندې دې خپل نفس او اهل هم حق لري.

هـ: خانونه مه وژنئ چې د مالونو په تحصیل کښې روا او ناروا ته ونه ګورئ او خپل خانونه پرې ګناهګار کړئ چې د دوزخ مستحق شئ، او دا څکه چې خپل ځان په لوی لاس په دوزخ کښې غورزول څه د وژلو څخه کم نه دی. نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «الَّذِي تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ»[۳] د هغه چا څخه چې د مازدیګر لمونځ فوت شي داسې دی لکه چې مال او اهل یې ټول ضائع شوی وي یا یې ضائع کړی وي، یعنې هلاک کړی یې وي.

مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوې ټولې معناوې د ایت شریف لاندې راتلای شي چې د قتل څخه ما يطلق عليه القتل واخستلی شي. یعنې داسې کار مه کوئ چې په هغه باندې د قتل اطلاق کېږي.

## ظلم او عدوان څه فرق لري؟

۳ـ هغه کلمات چې اصلي حرفونه یې "ع، د، و" وي په لاندې معناوو کښې استعمالېږي[۴]:

الف: "عَدَاوَة" او "مَعَادَاة" د دوه زړونو بېلتون (دښمنی) ته وايي.

ب: "عَدْو" په جلتی سره د یو خای پرېښودلو او منډې ته وايي.

ج: "عُدْوَان" په معاملاتو کښې بې انصافي ته وايي.

همدارنګه هغه کلمات چې د "ظ، ل، م" څخه جوړ شوي دي د هغو ټولو په مفاهیمو کښې "تیاره" پرته ده که څه هم یا ظاهري تیاره وي او یا معنوي تروږمې. د همدې جملې څخه د "ظُلْم" کلمه هم ده چې د اکثرو علماوو په نزد هر شی چې د خپل اختصاصي ځای څخه په بل ځای کښې کېښودل شي

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۴۸

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۶۵

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۷۸

(۴) مفردات الراغب ص۳۳۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ظلم په نامه يادېږي. د همدې کبله په لاندې درېوو معناوو کښې يې استعمال موندلی دی[١]:

اول: چې څوک حقوق الله په خپل ځای کښې کښېنږدي او د ښنو لاندې يې کړي.

دوهم: چې حقوق العباد د خپل شرعي چوکاټ څخه وباسي.

درېم: چې خپل ځان ته شرعي حقوق ورنه کړيّ او په گناهو باندې يې اخته کړي.

د پورتني بيان څخه څرگندېږي لکه څنگه چې په هره گناه باندې د "عُدوان" اطلاق صحت لري همدارنگه ورته د "ظُلم" لقب هم ورکولی شي.

نو څرنگه چې په دې مقام کښې دواړه کلمې نازلې شوې دي نو مونږ د "عُدوان" څخه متعدي گناه اخلو او د "ظُلم" څخه لازمه گناه مرادوو.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي: هر څوک چې په ذکر شوو احکامو کښې په بل چا باندې تجاوز وکړي چې يا يې مالونه تلف او يا يې قتل کړي، او يا په خپل ځان باندې تېری وکړي چې خپل مالونه په جنايتونو کښې مصرف او يا خپل ځان قتل کړي، بالآخره يا يې په معنوي توگه هلاک کړي چې د الله ﷻ د غضب مستحق يې جوړ کړي، نو د دغسې خلکو اور ته داخلېدل يقيني دي. هو دا بېله خبره ده چې حلال گڼونکي به پکښې همېشه وي او محض گناهگار به ترې عند الموقع راوويستلی شي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: پوره واضحه ده چې الله ﷻ ته هر څه اسان دي، حتی چې مشرکان هم ترې انکار نه شي کولی، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د متجاوزينو اور ته داخلول يې تعقيب کړه چې دا کار په الله ﷻ باندې اسان دی؟

مونږ وايو چې:

الف: په عرف کښې مشهوره ده چې د غضب څخه کله-کله په همدې جملې (دا کار ماته اسان دی) سره د کنايې په توگه تعبير کېږي، نو شايد چې قرآن کريم هم د همدې عُرف مراعات کړی وي.

نو معنی به يې داسې شي چې: په متجاوزينو باندې الله ﷻ په غضب دی.

ب: څه لرې نه ده چې ځينې تجاوزکاران مسلمانان خپلو ځانونو ته اطمنان ورکړي چې په الله ﷻ باندې خو مسلمانان ډېر گران دي او په دوی باندې ډېر مهربان دی نو نظر خپلې مهربانۍ ته به مونږ اور ته داخل نه کړي چې دا کار به ورته درونډ تمام شي. نو الله ﷻ د دوی دا خيال د منځه يووړ او بيو يې کړل چې الله ﷻ ته دا کار څه درونډ نه دی، تاسو چې په چا باندې تجاوز کړی وي د هغوی انتقام به درڅخه ضرور اخلي.

---

[١] مفردات الراغب ص ۳۲۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ ﴾

[۳۱] (ای مؤمنانو!) که تاسو د هغو لویو ګناهونو څخه اجتناب وکړئ چې تاسو ترې منعه کول کېږئ نو مونږ به ستاسو څخه وړې ګناهونه ورژوو او عزتمند ځای (جنت) ته به مو داخل کړو.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې انسان کمزوری دی، په هر اړخیزه توګه د نافرمانیو څخه ځان بچ نه شي ساتلی، او بیا یې فرمايلي وه چې په همدغه کمزوري انسان باندې الله ﷻ مهربان دی. نو په دې ایتونو کښې یې د خپلې مهربانۍ یوه نمونه ذکره کړه چې خلاصه مطلب یې لاندې لوستلای شئ:

## د مطلب خلاصه

یعني: ای مؤمنانو! الله ﷻ ستاسو سره دومره سختي نه کوي چې په هره وړه وړه ګناه باندې مو دوزخ ته ورټېل وهي. که نه نو ستاسو کوم یو به د دوزخ څخه نجات ومومي؟ که تاسو د لويو ګناهونو څخه ځانونه بچ کړئ لکه حرام خوري، وړور وژنه او داسې نور، نو د وړو څخه به مونږ درتېر شو بلکې ګناهونه به مو په نیکیو باندې درته تبدیلې کړو او باعزته مقام (جنت) ته به مو داخل کړو او د دوزخ څخه به نجات درکړو.

د نجات لاره دا نه ده چې تاسو خپل ځانونه فقط په همدې باندې متسلي کړئ چې مونږ ایمان راوړی دی د دوزخ څخه به الله ﷻ نجات راکوي که څه هم د لويو ګناهونو مرتکب یاستو. بلکې لاره یې دا ده چې د لويو ګناهونو څخه ځانونه وساتئ او وړې ګناهونه به مونږ دروبښو، نو د ګناهونو څخه به پاک شئ او جنت ته به د داخلېدلو لائق جوړ شئ.

## توضیحات

۱ــ په دې مقام کښې الله ﷻ وعده کړې ده چې که تاسو د کبائرو ګناهونو څخه ځانونه وساتئ نو د سیئاتو څخه به درتېر شو او داسې به یې پټې کړو لکه چې هېڅ یې مرتکب شوي نه یاست. مفسرینو کرامو دلته د "سَیِّئَات" کلمه په صغائرو (وړو ګناهونو) سره تفسیره کړې ده[۱].

## ګناهونه په دوه ډوله دي

۲ــ د ایت شریف څخه څرګندېږي چې ګناهونه په دوه ډوله دي چې یو صغائر دي او بل کبائر، یعني وړې ګناهونه او لوی ګناهونه، خو دا څرګنده نه ده چې د دواړو ډولونو په منځکښې

(۱) روح المعاني ج۵ ص۱۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حد فاصل څه شی دی چې یو د بل څخه جدا کوي. همدارنګه په احادیثو کښې هم جداګوونکی نه دی ښودلی شوی، اما ځینې ګناهونه د کبائرو په نامه باندې نومول شوي دي، په ځینو احادیثو کښې درې ښودلې شوي، په ځینو کښې اوه او په ځینو کښې نور عددونه په ګوته شوي دي چې ځینو تفاسیرو ذکر شوي احادیث راغونډ کړي دي[۱].

نو د دې کبله چې نه په قرآن کریم او نه په احادیثو کښې کبیره ګناه مشخصه شوې ده، علماوو کرامو یې په پېژاندنه کښې زښت ډېر اختلاف کړی دی چې ټول اقوال پکښې تقریبًا پنځلسو ته رسېږي[۲]. خو موږ دلته فقط لاندې څو اقوال د مثال په توګه وړاندې کوو:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې دلته توقف بهتر دی، ترڅو یوې ګناه ته هم څوک په سرسري نظر ونه ګوري چې دا صغیره ده. الله ﷻ کبیره ګناه په ګناهونو کښې د دې دپاره پټه کړې ده چې سړی د هرې یوې ګناه څخه ځان بچ کړي. لکه چې دا لاندې شیان یې د ترغیب دپاره پټ کړي دي:

اول: الله ﷻ "لیلة القدر" په شپو کښې پټه کړې ده ترڅو په هره یوه شپه کښې عبادت وکړی شي.

دوهم: "صلاة الوُسْطی" (غوره لمونځ) یې په لمونځونو کښې پټ کړی دی ترڅو د هر لمانځه حفاظت وکړی شي.

دریم: "اسم اعظم" یې په خپلو نومونو کښې پټ کړی دی ترڅو د الله ﷻ هر یو نوم یاد کړی شي.

څلورم: "وقت الإجابة" (د سوال د قبول وخت) یې د جمعې د ورځې په وختونو کښې پټ دی ترڅو په هر وخت کښې د سوال لاسونه پورته کړی شي.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «لا كَبِيْرَةَ مَعَ الإِسْتِغْفَارِ وَلا صَغِيْرَةَ مَعَ إِصْرَارٍ»[۳] لویه ګناه د استغفار سره لویه نه پاتې کېږي او وړه ګناه په دوامداره توګه وړه نه پاتې کېږي. یعنې په ګناهونو کښې صغر او کبر نه بېلېدونکی صفت نه دی، بلکې په استغفار سره د لویې ګناه څخه لږ-لږ تراشل کېږي ترڅو چې صغیره تېرې جوړه او بالآخره بالکل د منځه لاړه شي، او وړه ګناه په دوام سره لږ-لږ غټېږي ترڅو چې ترې لویه ګناه جوړه شي.

ج: ځینې وایي چې په ګناهونو کښې صغر او کبر اضافي شی دی چې په لاندې شیانو باندې تفاوت درلودلی شي[۴]:

اول: څه لرې نه ده چې یوه ګناه د خپل ذات په اعتبار سره وړه وي خو نظر بلې ګناه ته لویه وي، همدارنګه څه لرې نه ده چې لویه وي خو نظر بلې ګناه ته وړه وي.

دوهم: د ګناهونو صغر او کبر د اوقاتو او اشخاصو په اعتبار سره هم بدلون رابدلون مومي، لکه چې وایي "حسنات الابرار سیئات المقربین" د نېکانو حسنات د مقربو خلکو دپاره ګناه ګڼل کېږي.

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۵۰۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۸۱
(۲) زاد المسیر ج۲ ص۱۱۴؛ التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۷۶؛ مرقاة المصابیح ج۱ ص۲۱۷
(۳) تفسیر القرطبي ج۵ ص۱۶۰
(۴) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۱۷۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درېم: د وختونو په اعتبار سره هم ګناهونه په صغر او کبر سره موصوفې کېدلی شي، لکه د روژې میاشتې.
څلورم: همدارنګه مکانونه هم پکښې تفاوت واقع کوي، لکه جومات، حرم شریف او داسې نور.

## تبصره

٣_ څرنګه چې د کبیرې او صغیرې ګناه د پېژاندلو دپاره جامع او مانع تعریف نه موندل کېږي او دغه ډول موضوعګانې په نقل پورې توقف لري، نو ښه دا ده چې هغې ګناه ته د صغیره ګناه یا کبیره ګناه لقب ورکړی شي کومې ته چې همدغه لقب د کوم روایت په سبب ورکړی شوی دی او بس. نو په متباقي ګناهونو کښې -چې یو لقب هم وربانديې نه وي روایت شوی- توقف بهتر دی، چې نه د صغیره لقب ورکړی شي او نه د کبیره.

## په لویو ګناهونو کښې هم تفاوت شته

۴_ نبي کریم ﷺ شرک (کفر) د «اکبر الکبائر» په نامه یاد کړی دی چې په ټولو لویو ګناهونو کښې لویه ګناه ده او د مغفرت ورته هیڅ لاره نشته. اما د کفر څخه رالاندې نور ګناهونه که څه هم تفاوت لري خو د مغفرت دروازه وربانديې بنده نه ده، ممکنه ده چې په یوه طریقه باندې د ګناه کوونکي د اوږو څخه وغورزوله شي.

د نبي کریم ﷺ د یوه اوږد حدیث مضمون دی[1] چې د ګناهونو دفترونه په درې ډوله دي:

الف: یو د کفر دفتر دی چې الله ﷻ یې بالکل نه بښي.

ب: بل د هغو ګناهونو دفتر دی چې حقوق العباد پورې ارتباط لري، دا دفتر هم الله ﷻ تر هغه نه بښي ترڅو چې بندګان د ګناه څخه ورتېر شي او یا ترې عوض واخلي.

ج: درېم د حقوق الله مربوط دفاتر دي چې صرف د الله ﷻ د ارادې پورې اړه لري او بس؛ که اراده یې وشي ښښنه به ورته وکړي او که نه نو سزا به وربانديې ورکړي.

غالبه دا ده چې په تلاوت شوي ایت شریف کښې به همدغه درېم ډول ګناهونه مراد وي چې که د لویو ګناهونو څخه څوک اجتناب وکړي نو وړې ګناهونه به ورڅخه ورژوم او د ګناه څخه به پاک شي. همدغه درېم ډول دفتر لا کله-کله الله ﷻ د تکفیر (پټولو) په عوض په نېکیو باندې هم بدلوي لکه چې فرمایي: ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖ﴾ [الفرقان: ٧٠] یعني: نو د دغو کسانو ګناهونه به (چې د لویو ګناهونو څخه اجتناب کوي) الله ﷻ په نېکیو باندې تبدیل کړي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: د ایت شریف څخه څرګندېږي چې د وړو ګناهونو د مغفرت دپاره د لویو

(١) مسند احمد بن حنبل ج ١٠ ص٨٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ګناهونو څخه ځان ساتل شرط دي چې د دې څخه په غير نه ښښل کېږي حال دا چې په احاديثو کښې ثابته ده چې فرضي لمونځونه او همدارنګه نور عبادتونه د ګناهونو څخه د مغفرت اسباب جوړېږي.

مونږ وايو چې: په ايت شريف کښې د کبائرو څخه د ځان ساتنې دپاره دا امتياز ښودلی شوی دی چې صغائر وربانديې ښښل کېږي، خو دا نه دي ويل شوي چې د صغائرو د ښښنې بله لاره نشته. که دا ويل شوي وی نو اعتراض به وارد شوی وی. بلکې کله چې د الله ﷻ اراده وشي ټول ګناهونه بې قيد او شرطه هم ښښي لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ [الزمر:٥٣] يعني: بې شکه الله ﷻ ټول ګناهونه ښښي يقيناً چې همدی ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی.

## د مغفرت اسباب

۴_ الله ﷻ د بنده ګناهونه په لاندې وجوهو سره ښښي:

الف: چې بنده د ګناه څخه توبه تائب شي، حتی چې څوک د کفر څخه توبه وباسي او ايمان راوړي هم په تېر شوي کفر بانديې نه نيولی کېږي.

ب: په نېکو اعمالو سره هم ګناهونه ښښي، لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾ [هود: ١١٤] يعني: بې شکه نېکۍ چې دي ګناهونه د منځه وړي.

ج: چې چا ته شفاعتګر شفاعت وکړي، چې په ډېرو نصوصو کښې ثابت دی.

د: د کبيره ګناهونو څخه خپل ځان ساتل، لکه همدا ايت چې د بحث لاندې دی وربانديې لاربښوونه کوي.

هـ: چې په چا بانديې صرف لطف او مهرباني د الله ﷻ د پلوه وشي، خو په دې ډول کښې دا شرط ده چې ګناه بايد د کفر څخه راټيټه وي لکه چې راتلونکی [النساء: ۴۸] ايت وربانديې دلالت کوي.

﴿ وَلَا تَتَمَنَّوْا۟ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبُوا۟ ۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبْنَ ۚ وَسْـَٔلُوا۟ ٱللَّهَ مِن فَضْلِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَٰلِىَ مِمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ ۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَـَٔاتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾ ﴾

[۳۲] او تاسو د هغه شي آرزو مه کوئ چې په هغه سره الله ﷻ ستاسو ځينو ته په ځينو نورو بانديې فضيلت ورکړی دی، (ځکه چې) خاص نارينه وو لره هم د هغه شي څخه برخه شته چې دوی يې کسب کوي او خاص زنانه وو لره هم د هغه شي څخه برخه شته چې دوی يې کسب کوي (نو د دغسې بې ځايه آرزوګانو څخه تېر شئ) او د الله ﷻ څخه د هغه فضل وغواړئ. يقيناً الله ﷻ په هر څه بانديې پوه دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۳] او د هر يو (مال) دپاره مو وارثان ټاکلي دي چې (دا مال) د هغه شي څخه عبارت دی چې مور او پلار او خپلوانو (په مرګ سره) پرېښی دی (دا ټاکنه نه بدلېدونکې ده).
او هغه کسان چې ستاسو عهدونه ورسره غوټه شوي وي (د ورورۍ او دوستۍ لاس مو ورکړي وي) نو هغوی ته هم خپلې (ټاکلې شوې) برخې ورکړئ (خو چې ذکر شوي وارثان موجوديت ونه لري). بې شکه الله ﷻ په هر شي باندې حاضر دی (هر څه يې د څارنې لاندې دي).

## ارتباطونه

۱ـ په تېرو شوو ايتونو کښې توصيه شوې وه چې د حرام خورۍ او مسلمان وژنې څخه ځانونه وساتئ چې ډېر لوی لوی ګناهونه دي. په دې ايتونو کښې توصيه کېږي چې د ذکرو شوو ګناهونو د اسبابو څخه هم ځانونه وساتئ او د چا په مال يا منصب باندې رخه (حسد) مه کوئ چې د قتل قتول سبب جوړ نه شي.
۲ـ هلته د ناجائز عمل څخه منعه شوې وه او دلته د ناجائز نيت څخه منعه شوې ده.
۳ـ بالآخره په دې ايتونو کښې د دښمنانو دپاره غابښ ماتوونکی جواب ښودل شوی دی چې يا نارينه او ښځينه په جنګ اچوي او يا د شتمنو او نادارو خلکو په منځو کښې شيطانت کوي ترڅو د مسلمانانو ژوند بې خونده کړي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ايتونو په شان نزول کښې لاندې متعددې پېښې روايت شوې دي چې:
۱ـ يوه ورځې أُم سلمه رضي الله عنها نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې يا رسول الله! نارينه غزا کوي او مونږ غزا نه کوو (د غزا د اجر څخه محرومې ياستو) او مونږ لره په ميراث کښې هم د نارينه وو نيمايي برخه ټاکلې شوې ده، نو که مونږ نارينه وی مونږ به هم غزا کولی او هم به مو د هغوی په شان په ميراث کښې پوره برخه اخستی[۱].
۲ـ کله چې د ميراث ايتونه نازل شوه نو نارينه وو وويلې چې هيله ده مونږ په زنانه وو باندې په آخرت کښې هم دوه چنده اجر واخلو لکه په ميراث کښې چې دوه چنده برخې اخلو. او ښځو وويلې چې هيله ده مونږ د نارينه وو په نسبت د ګناهونو په پېټي کښې هم په نيمايي ګناه باندې بار کړی شو لکه څنګه چې راته په ميراث کښې نيمايي برخه راکول کېږي[۲].
۳ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې يوې ښځې نبي کريم ﷺ ته وويلې چې ای د الله رسوله! ايا زنانه د نېکو اعمالو په اجرونو کښې هم د نارينه وو په پرتله نيمايي دي لکه څنګه چې په ميراث او شهادت کښې نيم په نيمه دي؟[۳].

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۱
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۹۹
(۳) تفسير ابن کثير ج۱ ص۴۴۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یوه ښځه نبي کریم ﷺ ته ورغله او عرض یې ورته وکړ چې ای د الله رسوله! الله ﷻ نارینه وو ته په میراث کښې د زنانه وو په پرتله دوه برابره برخه ټاکلې ده حال دا چې مونږ کمزوری مخلوق یاستو او د هغوی په څېر د معاش په لاس ته راوړنه کښې پوره وسه نه لرو[1]. نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه.

## تبصره

څه لرې نه ده چې د ذکرو شوو حوادثو په شان به نورې حادثې هم الله ﷻ د دې دپاره پېښې کړې وې ترڅو ورته په قرآن کښې جواب نازل کړي، چې د قیامت د ورځې پورې د مسلمانانو په منځکښې په تواتر سره موجود وي او د وخت دښمنانو ته ترې جوابونه استنباط کړي او د اعتراضاتو مخې یې پرې ونیسي. که بالفرض ذکر شوې حادثې نه وی پېښې شوې نو الله ﷻ به ذکر شوي ایتونه نه وی نازل کړي او مسلمانان به د دښمنانو په اعتراضاتو باندې وارخطا شوي وی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! ستاسو دښمنان غواړي چې تاسو په جنګ واچوي او ژوند درباندې تریخ کړي او یو بل ته په کینه او عداوت باندې مبتلا شئ؛

دا کار که نن جني شیطانان کوي او تاسو ته په زړونو کښې اشتباهات پیدا کوي سبا به ورته انسي شیطانان ملاوې وتړي او اشتباهات به دراچوي، په هغه وخت کښې به اسماني وحې قطعه وي او پیغمبر ﷺ به وفات شوی وي چې مستقیماً تاسو تنبیه کړي او اشتباهات مو رفعه کړي، نو تاسو ته په کار دي چې د اوس څخه د دښمنانو دسیسو ته متوجه شئ او د الله ﷻ توصیه په غوږونو کښې کلکه وساتئ؛

۲ـ د دوی د اشتباهاتو مثالونه دا دي:

الف: د فلاني مال څومره ډېر دی او ته څومره غریب یې، څومره به ښه وی چې د هغه څخه اخستل شوی وی او تاته درکړی شوی وی، او که نه اقلا دومره خو شوي وی چې هغه هم ستا په شان غریب وی چې دواړه سره یو برابر وی.

ب: کاشکې زه هم نارینه وی چې جهاد مې کړی وی، یا به شهید شوی وی او یا به ډېر غنیمتونه لاس ته راغلي وی.

ج: مونږ (زنانه) کمزوری مخلوق یاستو خو افسوس چې په میراث کښې د نارینه وو په پرتله نیمایي برخه راته ټاکلې شوې ده، کاشکې زمونږ برخې دوه چنده وی.

د: کاشکې چې زمونږ (نارینه وو) برخې په ثواب کښې هم نسبت زنانه وو ته دوه چنده وی لکه څنګه چې په میراث کښې دوه چنده دي.

۳ـ نو ای مؤمنانو! د ټولو کاشکې ګانو جواب دا دی چې: د الله ﷻ په وېش باندې راضي شئ؛

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۸۲؛ الدر المنثور ج۲ ص۵۰۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هر يو شي چې درته الله ﷻ روزي کړې دی په هماغه کښې د الله ﷻ رضا ولټوئ. يو د بل مفو فضائلو ته سترګې مه نيسئ؛ چې الله ﷻ کوم يوه يا کومې ډلې ته پېرزو کړې وي.

او دا خکه چې تاسو په حقيقت کښې د يو بدن مثال لرئ، ټول د يوه اسکليټ برخې ياست چې هر يو د ژوند د پروژې څه مطالب په وړاندې بيايي. نو لکه څنګه په يوه بدن کښې پښې آرزو نه کوي چې کاشکې مونږ هم د سر په شان دنګې غاړې درلودی او نه سر ته دا حق شته چې په پښو باندې تکبر وکړي او خپل خان ته غره شي، خکه لکه چې بې پښو سرونه قدر او عزت نه لري نو بې سره پښې هم په کار نه راځي؛ نو همدارنګه تاسو ته هم په کار دي چې نه کاشکې-کاشکې وواياست او نه يو په بل تکبر او لويي وکړئ.

۴_ ای مؤمنانو! د روزۍ اسباب خو يوازې ميراث نه دی چې زنانه پکښې د خينو حکمتونو په بناء نيمايي برخې اخلي، بلکې د روزۍ اسباب خو اصلا کسبونه ګرځولي شوي دي او په کسبونو کښې خو نارينه او زنانه يو په بل باندې هيڅ فوقيت نه لري. که بالفرض په تجارت کښې زنانه وو ته نيمه ګټه او نارينه وو ته پوره ګټه ټاکلې شوې وی نو بيا به د زنانه وو کاشکې ويل په ځای وی خو خبره داسې نه ده، هرڅوک او هره ډله نارينه وي او که زنانه د خپل کسب څخه په دنيا کښې هم پوره برخه اخلي او په آخرت کښې هم پوره اجر او ثواب ورکول کېږي.

نو ښه دا ده چې په کاشکې ګانو باندې تيره کېږدئ او په هر شي او هر کسب کښې چې ياست په همغه کښې د الله ﷻ څخه فضل وغواړئ، د الله ﷻ ټول کارونه د پوهې د مخې صورت نيسي، تاسو په خپل خير باندې نه پوهېږئ الله ﷻ درباندې ښه پوهېږي او بس.

۵_ نو د ميراث په قانون کښې د تجديد النظر تمه مه کوئ، يو خل بيا واورئ چې د هر چا دپاره مو وارثان ټاکلي او د هرې ترکې (پاتې شوي مال) دپاره مو مستحقين تعين کړي دي چې د قيامت د ورځې پورې پکښې بدلون ممکن نه دی. هو که څوک وارث ونه لري او د عقد الموالاة کوم دوست لري نو هغه ته هم د عقد په مطابق برخه ورکړئ او بې برخې يې مه پرېږدئ. الله ﷻ ستاسو په ټولو کړو وړو حاضر دی او هيڅ شی ترې نه شي غائب کېدلی.

نو لکه څنګه چې ارثي قانون نه بدلېدونکی دی همدارنګه فطري قانون هم نه بدلېږي چې د ماشومانو توليد د نارينه وو په غاړه واچولی شي او زنانه وو ته امارت ورپه برخه شي، او دا خکه چې دغه ډول بدلون د دوارو د ساختمان سره سمون نه خوري.

## توضيحات

۱_ د ﴿ وَلَا تَتَمَنَّوْا ﴾ کلمه د "تَمَنِّی" څخه اخستی شوې ده. "تمنی" دې ته وايي چې سړی د داسې شي آرزو وکړي چې پوهېږي او يا يې ګومان وي چې هغه نه کېږي[1]. مونږ د مرګ په آرزو باندې د

(۱) التفسير الکبير ج۱۰ ص۸۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[البقرة ۹۴] ایت لاندې پوره بحث کړی دی، په دې مقام کښې ورباندې همدومره اضافه کوو چې مطلقه آرزو کول لاندې دولونه لري[۱]:

الف: چې څوک د بل چا څخه د یو نعمت د زوال آرزو وکړي ترڅو د هغه څخه واخستلی شي او ده ته ورکړی شي. دا دول تمنی غیر مشروع ده ځکه چې دا د حسد او کینې دپاره اساس دی او حسد خو نامشروع کار دی.

ب: چې څوک د محال شي آرزو وکړي، لکه چې زنانه ووایي چې کاشکې زه سړی وی. دا دول هم جواز نه لري ځکه چې د حسرت څخه په غیر بله نتیجه نه لري.

ج: چې څوک د خپل خان دپاره د بل چا د نعمت د مثل آرزو وکړي چې کاشکې زه هم د فلاني په شان ښه مجاهد وی او یا ما هم د هغه په شان ښه اخلاق درلودی. دا دول تمنی جائزه ده چې ځینې علماء ترې په "غبطه" باندې تعبیر کوي.

لکه چې د شان نزول د روایتونو څخه څرګندېږي دلته د آرزو لومړني دواړه دولونه مطلب دي چې: تاسو په بې نتیجې کارونو کښې وخت مه ضائع کوئ او د هغه شي څخه چې د کینې او عداوت دپاره اساس ګڼل کېږي هم خانونه وساتئ او په مقابل کښې په عمل باندې زور واچوئ.

همدا مضمون نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې دېر ښه تمثیل کړی دی چې «اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللهِ»[۲] یعني: هوښیار هغه څوک دی چې د خپل خان سره محاسبه وکړي او د مرګ څخه د وروسته وختونو دپاره عمل وکړي، او عاجز (ساده) سړی هغه دی چې خپل خان یې د خپلو غوښتنو تابع ګرځولی وي او په الله ﷻ باندې آرزوګانې کوي (چې ګناهونه به راته وبښي او یا کاشکې چې فلانی شی یې راکړی وی).

## مولی څه معنی؟

۲_ د ﴿مَوَالِيَ﴾ کلمه د "مَوْلَى" جمعه ده چې د "وَلْي" څخه اخستله شوې ده او د قُرب (نژدېکت) معنی ورکوي. څرنګه چې نژدېکت په دېرو دولونو سره وېشل کېږي لکه د نسب نژدېکت، د نصرت نژدېکت او داسې نور، نو د "مَوْلَى" کلمه هم په ژبنتو دېرو معناوو کښې استعمالېږي[۳]. په دې مقام کښې هم پکښې مفسرینو کرامو متعددې معناوې کړې دي[۴]، خو په زړه پورې معنی یې دلته وارث په نظر راځي.

برسېره پر دې، د ﴿وَلِكُلٍّ﴾ په مضافه الیه کښې هم مفسرین کرام اختلاف لري[۵]، چې انسان

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۸۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۲؛ سنن ابن ماجه ص۳۱۴
(۳) مفردات الراغب ص۵۷۰
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۸۳
(۵) البحر المحیط ج۳ ص۶۱۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی او که ترکه (پاتې شوی مال) ده. نو په دواړو تقدیرونو باندې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: د هر چا او یا د هرې ترکې دپاره مو وارثان (مستحقین) تاکلي دي او د میراث قانون مو فیصله کړی دی، نو د تجدید النظر تمه یې مه کوئ او دښمنانو ته غوځ جواب ورکړئ او تشویشونو ته یې غوږ مه ږدئ.

## عقد الموالات د میراث یو سبب دی

۳ـ مفسرینو کرامو د ﴿ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ ﴾ متعددې معناوې کړې دي چې تقریباً نهو معناوو ته رسېږي[۱]، لاندې څو معناوې یې د مثال په توګه ولولئ:

الف: دلته هغه عقد مراد دی چې یو سړي به بل ته د دوستۍ لاس ورکړ چې زما او ستا ښه او بده به شریکه وي او یو به د بل څخه میراث وړو. نو کله به چې کوم یو مړ شو نو بل به یې وارث ګڼل کېده.

ب: په هغه وخت کښې دا هم عادت وه چې یو سړی به کوم یو انسان په زوی ولی، سره ونیوه نو هغه به د سړي د مرګ څخه وروسته په میراث کښې حقدار ګڼل کېده.

ج: د اسلام په ابتداء کښې نبي کریم ﷺ یو انصاري او یو مهاجر هم سره وروڼه جوړ کړي وه چې دواړو څخه به کوم یو مړ شو نو بل به یې د مال وارث ګڼل کېده.

په هر تقدیر، ذکر شوي درېواړه عقدونه د اسلام په ابتداء کښې د اعتبار وړ وه خو څه وخت وروسته دغه حکم نسخه شو لکه چې فرمایي: ﴿ وَأُوْلُواْ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ ﴾ [الأنفال: ۷۵] یعني: او د خپلوليو خاوندان ځینې د ځینو نورو دپاره بهتر دي (چې میراث ترې واخلي).

## تبصره

۴ـ مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي درېواړه عقدونه د اسلام په ابتداء کښې د میراث د اسبابو څخه ګڼل کېده خو ثبوت یې په تقریري یا قولي احادیثو سره شوی وه، نو قرآن کریم په [الأنفال:۷۵] ایت کښې په وروستنیو دواړو باندې د بطلان خط راکش کړ او منسوخ یې اعلان کړه، او یوازې اولنی عقد (عقد الموالاة) یې په ذکر شوي ایت سره په یوه ترمیم سره تائید کړ، چې دوی په هغه وخت کښې وارثان ګڼل کېږي چې نور وارثان (ذو الفروض، عصبه، ذو الارحام) موجودیت ونه لري. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مونږ د هر چا دپاره وارثان ټاکلي دي چې د تغیر وړ نه دي، مګر که دوی موجودیت نه درلود نو د عقد الموالاة خاوندانو ته هم خپلې برخې ورکړئ ځکه چې دوی بالکل د وارثانو د قطاره نه دي غورځولي شوي لکه څنګه چې د

---

[۱] البحر المحیط ج۳ ص۶۲۱؛ تفسیر کبیر ج۱۰ ص۸۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



•عقد التبني• او •عقد المؤاخاة الإسلامي• خاوندان بالکل د وارثانو د قطاره غورځولي شوي دي.
همدا د ابو حنیفه رحمه الله علیه مذهب دی[۱].

﴿ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ ۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ ۚ وَٱلَّٰتِى تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهْجُرُوهُنَّ فِى ٱلْمَضَاجِعِ وَٱضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُواْ عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴿٣٤﴾ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَٱبْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾﴾

[۳۴] جنس نارینه (د) زنانه وو (په تدبیر) باندې پوره ولاړ دي (امارت د دوی دی) د هغه شي په سبب سره چې (په هغه شي باندې) الله ﷻ ځینې د دوي (نارینه وو) ته په ځینو نورو (زنانه وو) باندې فضیلت ورکړی دی (او جوړښت یې امارت ته مناسب دی).

او (بل) د هغه شي په سبب سره چې دوی (نارینه) ځه مالونه (په زنانه وو باندې) نفقه کوي.

نو صالحې زنانه (په اخلاص سره د مېړونو اوامرو ته) غاړه اېښودونکې دي (او د مېړه) په غیاب کښې (د کور کهول او خپل عفت) ساتونکې دي، د الله ﷻ د ساتنې په سبب سره (چې د هر چا حقوق یې ساتلي دي).

او هغه ښځې چې د هغوی د نشوز (او نافرمانۍ) څخه تاسو ډارېږئ نو هغوی ته نصیحت وکړئ او هغوی د ویده کېدلو په ځایونو کښې جدا کړئ او هغوی (د تادیب دپاره) ووهئ، نو که هغوی ستاسو اطاعت وکړ نو په هغوی باندې لار مه لټوئ (او د هجران او وهلو ځخه یې صرف نظر شئ).
بې شکه الله ﷻ اوچت (او) لوی (په هر چا باندې زورور) دی.

[۳۵] او (ای مؤمنانو!) که تاسو د دوی دواړو د مخالفت څخه ډارېدلئ (چې نور به هم دوام وکړي) نو یو سوله ګر د نارینهٔ د خپلوانو څخه او یو سوله ګر د زنانهٔ د خپلوانو څخه وټاکئ (ترڅو روغه جوړه وکړي)، که دوی دواړه (سوله ګران په رښتیا) سوله غواړي نو الله ﷻ به د هغوی دواړو (مېړه او ارتینې) په منځکښې توافق واچوي. یقیناً الله ﷻ پوه دی (او هم) خبردار دی.

## ارتباطونه

۱ـ هلته د نارینه وو او زنانه وو د شخړو اساس د منځه وړل شوی وه چې یو تربله سره په فضائلو

[۱] احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۸۳ : المدارک ج۱ ص۳۰۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې قناعت وکړئ او دلته يې نتيجه ښودل شوې ده چې که قناعت ونه کړئ نو د خاوند او آرتينې ګوزاره به خرابه شي او حکميت ته به اړ شئ.

٢ـ هلته واضحه شوې وه چې تاسو يو تربله څه فضائل لرئ او دلته د فضائلو نمونې ښودلې شوې دي چې خينې خلقي دي او ځينې کسبي، ترڅو د ذي دخلو خواوو د قناعت سبب شي.

## شان نزول

يوه ورځې سعد بن الربيع ﷺ خپله ماندينه ـچې حبيبه رضي الله عنها نومېده ـ د څه نافرماني د کبله په څپېړه ووهله، نو ذکره شوې بي بي نبي کريم ﷺ ته ورغله (چې خپل پلار يې هم د خانه سره ملګرى کړى وه) او عرض يې وکړ چې يا رسول الله! زه خپل خاوند په څپېړه ووهلم. نو نبي کريم ﷺ امر وکړ چې د هغه څخه دې بالمثل انتقام واخستل شي.

پلار او لور روان شوه چې انتقام واخلي خو نبي کريم ﷺ بېرته راوګرځول او ورته يې وويلې چې هغه دی جبرائيل امين ﷺ راغى څه فيصله به يې راوړې وي. بيا معلومه شوه چې ذکر شوي ايتونه يې راوړي وه، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: «أَرَدْنَا أَمْرًا وَأَرَادَ اللهُ أَمْرًا وَالَّذِي أَرَادَ اللهُ خَيْرٌ»[1] مونږ د يو څه اراده لرله او الله ﷻ د بل څه، خو هغه څه چې د الله ﷻ اراده ده همغه بهتره ده. يعنې د انتقام څخه صرف نظر شئ.

## د مطلب خلاصه

١ـ يعنې: اى مومنانو! زنانه وو لره په نارينه وو باندې هم داسې حقوق شته لکه څنګه چې نارينه وو لره په زنانه وو باندې لازم دي، نو بايد چې دواړه جانبه د حقوقو ساتنه وکړي، مګر نارينه په زنانه وو باندې يو اضافه حق لري چې د لاندې دوه وجوهو د کبله دوى د کورونو اميران دي:

الف: ټول بنيادمان الله ﷻ په فضائلو کښې په يو برابر نه دي پيدا کړي، بلکې ځينو لره يې په ځينو نورو باندې بهتري ورکړې ده ترڅو د دنيا پروژه د قيامت د ورځې پورې پايښت وکړي، که بالفرض ټول سمسکي وی نو د ژوند نظام به ګډوډ شوی وی. او نارينه په زنانه وو باندې فطري فضيلت لري او د امارت دپاره مستعد دي.

ب: د کور خرڅ او خراجات ټول د نارينه وو په غاړه اچولي شوي دي چې بايد د زنانه وو روزمره ارتياوې (علاوه په مهرونو باندې) هم ورپوره کړي او هم د ماشومانو احتياجات په غاړه واخلي، نو په کار دي چې د کور امارت د هغه چا په غاړه وي چې د هغه د کور مصارف په غاړه پراته وي ترڅو د خپلو عانداتو په مطابق اخراجات وکړي او د کور اداره په خپل لاس کښې ونيسي. که بالفرض مصارف د نارينه وو په غاړه وی او اخراجات (د کور مشري) زنانه وو ته ورسپارلی شوې وی نو ګډوډي به حتمي وی او په هر کور کښې به شور ماشور روزمره پېښېدلی.

(١) تفسير البغوي ج١ ص٤٢٢؛ اسباب النزول للواحدي ص١٠٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ نو څرنګه چې د کور ریاست الله ﷻ د حکمت په غوښتنه نارینه وو ته ورکړی دی او نارینه وو په زور نه دی نیولی او نه یې غوښتنه کړې ده چې امارت دې مونږ ته راکړی شي، نو زنانه وو ته په کار دي چې د الله ﷻ په وېش باندې راضي شي او د نارینه وو امارت ته غاړې کېږدي، ترڅو دوی په صالحو زنانه وو کښې وشمېرل شي او الله ﷻ د صالحو بنیادمانو دپاره _زنانه وي او که نارینه_ د جنت وعده کړې ده.

٣_ نو صالحې زنانه هغه دي چې د خپلو خاوندانو امارت مني او په اخلاص سره یې اوامرو ته غاړې کېږدي، او لکه څنګه چې الله ﷻ د دوی حقوق ساتلي دي او په نارینه وو باندې یې ورته مهر او نفقه لازمه کړې ده او په میراث کښې یې ورته برخې ټاکلې دي نو په کار دي چې همدارنګه دوی هم د خاوندانو په غیاب کښې د هغوی د حقوقو ساتنه وکړي، پرده یې وساتي، په کور کهول باندې پاملرنه وکړي او اسرار یې پاش نه کړي.

٤_ ای مؤمنانو! کومې ښځې چې تاسو لره د هغوی په باره کښې خطره وي چې دوی به خانونه د صالحو ښځو څخه شمېر نه کړي او د څه نافرمانۍ نښې پکښې ښکاره شي، نو کوښښ وکړئ چې هغوی په خپل کور کښې اصلاح کړئ ترڅو مو خبره په پرده کښې فیصله شي او نور څوک وریاندې خبر نه شي. نو لاندې لاربښوونې د اجراء لاندې ونیسئ:

الف: د هر څه څخه وړاندې هغوی ته نصیحت وکړئ، د صالحو ښځو تعریف ورته وکړئ او بالآخره همدغه ایت شریف ورته ولولئ او که نه پوهېدې ورباندې پوهې یې کړئ.

ب: که وعظ مو موثر واقع نه شو نو دوی د ویده کېدلو په ځایونو کښې د خپلو ځانونو څخه جدا کړئ ترڅو دوی پوه شي چې تاسو ترې زیات ناراض یاست تردې چې د جنسي ارتباط څخه یې صرف نظر شوئ.

ج: که عملي موعظې مو هم ورته ګټه ونه شوه رسولی نو ویې وهئ خو داسې وهل نه چې کوم اندام یې مات کړئ او یا یې په مخ باندې پرهرونه جوړ کړئ. باید ستاسو وهل د تادیب په غرض وي نه د اهانت او سپک نظرۍ په غرض. که د خلکو څخه په پټه کښې دا عملیه اجراء کړئ نو دا به ډېره بهتره وي ترڅو مو ماندینې نورو زنانه وو ته خجالتې نه شي.

هو! که په ذکرو شوو درېواړو طریقو کښې کومه یوه موثره واقع شوه نو خپلې اړیکې ورسره عادي کړئ او د "تېر په هېر" د قانون څخه ورسره کار واخلئ، او د الله ﷻ شکریه وکړئ چې لانجه مو په پرده کښې ختمه شوه او رسوائۍ ته ونه وتله.

٥_ که بالفرض د زنانه وو د اطاعت څخه وروسته هم تاسو په هغوی باندې د ذکرو شوو درې واړو اصلاحي پروګرامونو اجراء کولو یوه لاره جوړه کړئ او بې ضرورته ترې کار اخلئ نو الله ﷻ به یې جزا درکړي، ځکه چې الله ﷻ په هر چا باندې هم د پاسه دی او هم یې هرڅوک د قدرت لاندې دی.

٦_ که د کور شخړه په پرده کښې حل نه شوه او د کور څخه بېرون راووتله نو ای مؤمنانو! تاسو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته په کار نه دي چې محض تماشې یې وکړئ او بس، بلکې تاسو ته په کار دي چې په لاندې ډول عملیه ترسره کړئ ترڅو مشکل حل او لانجه هواره شي:

یو سړی د خاوند د خپلوانو څخه او یو سړی د ارتینې د خپلوانو څخه د همدوی دواړو په اصلاح باندې وګمارئ چې هغوی دواړه د یو پلوه د خاوند او آرتینې په حالاتو او عاداتو باندې بلد وي چې دواړه ورباندې اعتماد هم ولري، او د بله پلوه یې په دواړو باندې زړونه هم دردېږي او بالآخره رسوایي یې ورته خپله رسوا ګڼکارېږي.

نو که چېرې د دواړو اصلاح ګرو د خیر نیت وي او غواړي چې لانجه په خیر هواره شي نو د همدوی په ذریعه به الله ﷻ د دواړو په منځکښې توافق واچوي او کینه او عداوت به د منځه لاړ شي. خو باید چې سوله ګر واقعاً په اخلاص سره په سوله کښې قدم واخلي هسې نه چې د سولې په عوض د دواړو په منځو کښې شیطانت وکړي او د دښمنۍ اور لا پسې تازه کړي، یا د یو جانب په ناحقه پلوي وکړي او یا هر یو په خپل قریب باندې ودرېږي او لانجه قوي شي چې مخکښې د دوه کسانو جنګ وي او دا ځل د څلور کسانو جنګ جوړ شي. نو الله ﷻ خو پوه دی چې دوی په څه غرض منځ ته وروړاندې شوي دي او هم خبردار دی چې د هر چا کړه وړه ورته څرګند دي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ قَوَّٰمُونَ ﴾ کلمه د "قَوَّام" جمعه ده. که څه هم "قَوَّام" او "قَیِّم" د "قَائِم" دپاره د مبالغې صیغې دي مګر په "قَوَّام" کښې مبالغه زیاته ده[۱]، نو قوام هغه سړي ته وایي چې د هغه پورې د یو شي مصالح او تدبیر او تادیب تړلی شوی وي. د همدې مادې (ق، و، م) څخه "قَوْم" هم جوړ شوی دی چې استعمال یې په اکثره وختونو کښې صرف په نارینه وو کښې واقع کېږي او په زنانه وو کښې نه استعمالېږي[۲].

## د نارینه وو او زنانه وو جوړښت فرق لري

۲_ په دې کښې خو هیڅوک (حتی اسلام دښمني تولنې هم) شک نه شي کولی چې د ژوند د نظام خینې مهم کارونه په زنانه وو پورې اختصاص لري، نارینه وو ته د هغو کارونو سرته رسول ممکن نه دي. لکه په ګېډه کښې د جنین تغذیه کول، د خپل خان څه برخې (شوده) د ماشوم اذوقه جوړول او داسې نور.

نو الله ﷻ د زنانه وو ساختمان داسې جوړ کړی دی چې رطوبت پکښې زیات دی د همدې کبله یې د هر زړ-زړ د سترګو څخه اوښکې تویېږي، او هغه زنانه چې خپل رطوبات په جنین روزنه باندې مصرف نه کړي (امیداورې نه وي) هغوی ماهوار ذکر شوي رطوبات خارجوي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۲۲

(۲) مفردات الراغب ص۴۳۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکر شوي اختصاصي کارونه هم د ډېر زيات مهم دي چې دنيا ورباندې اباده ده. يا په بل عبارت: د نړۍ ټول نامتو مشران او مشاهير د زنانه وو په ګېډو او بيا په غېږو کښې تغذيه شوي او روزلي شوي دي، که زنانه نه وی نه به د دنيا مشاهير وی او نه به يې چا نوم په خوله اخستی وی. په هر يوه مجاهد باندې داسې وختونه تېر شوي دي چې هغه به يا جنين وه او يا به د مور د غېږې په مدرسه کښې زده کوونکی وه، که د زنانه وو همت نه وی نو د شهيدانو خای به خالي پاتې شوی وی او بالآخره به جهاد سقوط کړی وی او د دنيا ابادي دوام نه شي کولی.

نو د زنانه وو ساختمان زيات رطوبت ته اړتيا لري او د زيات رطوبت لازمه نتيجه دا ده چې نرمښت پکښې زيات وي او د درنو کارونو توان ختموي او يا ورباندې درانه تمامېږي. د همدې کبله نن ورځ په کفري دولتونو کښې داسې ښځې شته چې وايي کاشکې مونږ په کور کښې ناستې وی او خپلې خانګړې دندې مو ترسره کولی او د نارينه وو پېښې مو نه کولی.

بالمقابل الله ﷻ د نارينه وو ساختمان د زنانه وو په پرتله يابس (وچ) پيدا کړی دی چې د درنو کارونو د سر ته رسولو توان پکښې شته او په اسانۍ سره يې د باره وتلی شي.

لنډه دا چې نارينه وو ته خپل کارونه درانه نه ښکاري او زنانه وو ته هم خپل کارونه اسان په نظر ورځي، نو ځرنګه چې هيڅوک نه شي ويلی چې د زنانه وو اختصاصي کارونه دې نارينه په غاړه واخلي نو همدارنګه بايد ونه وايي چې د نارينه وو په اختصاصي کارونو کښې دې زنانه برخوالې شي دا ځکه چې دا غوښتنه په زنانه وو باندې د توان څخه اضافه بار اېښودل دي او په اختصاصي کارونو باندې يې سر باري ده.

نو که زنانه د نارينه وو په اختصاصي کارونو کښې برخه نه اخلي، دا د دوی دپاره اهانت نه دی او نه د دوی بې عزتي ده، نارينه هم د همدوی بچيان دي بل څوک نه دي، خلک وايي چې "يا مې خپل وی او يا مې د خپلو وی". نارينه او زنانه الله ﷻ خلق کړي دي او د وظائفو وېشنه يې هم د همده ﷻ د پلوه شوې ده، اسلام دښمنې ټولنې هم په همدې حقيقت باندې پوهېږي خو هغوی د نورو اغراضو دپاره زنانه د نارينه وو څخه جدا کوي او د دواړو ډلو په منځکښې تفريق اچوي او عداوت ته يې لمن وي.

## د نارينه وو خانګړي وظائف

۲ـ لاندې وظائف په نارينه وو پورې خانګړي دي:

نبوت، کُبری امامت، اذان، خُطبه، په حدودو کښې شهادت، طلاق، رجعت، د زوجاتو تعدد، د کور قيموميت، دوه چنده ميراث اخستل، د جُمعې لمونځ او داسې نور چې مفسرينو کرامو ليکلي دي[1].

---

[1] البحر المحيط ج۳ ص۶۲۳؛ تفسير کبير ج ۱۰ ص۸۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## صالحه ښځه کومې ته وايي؟

۴_ د نبي کريم ﷺ څخه ابو هريره ﷺ د صالحې ښځې په باره کښې داسې روايت کوي چې: «مَا اسْتَفَادَ الْمُؤْمِنُ بَعْدَ تَقْوَى اللهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ إِنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِنْ نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِنْ أَقْسَمَ عَلَيْهَا أَبَرَّتْهُ وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ»[۱] يعني: يو مؤمن د الله ﷻ د تقوی څخه په غير په دنيا کښې هيڅ استفاده نه شي کولی چې هغه به ورته د صالحې ماندينې څخه بهتره وي. که امر ورباندې وکړي اطاعت يې کوي او چې ورته وګوري خوشالوي يې (تنده ورته نه ترهووي) او که قسم ورباندې وکړي (چې زما دې قسم وي چې فلانی کار لکه د مېلمه پالل دې ورباندې وکړم) په قسم کښې يې نه حانثوي (همغه کار کوي) او که ترې غائب شي د هغه په مال کښې او په خپل ځان کښې يې د خير غوښتنه کوي (خيانت او بې عفتي نه کوي).

د همدې صالحې ښځې دپاره الله ﷻ د جنت وعده ورکوي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ»[۲] يعني: کله چې يوه ښځه خپل پنځه وخته لمونځ وکړي او خپله د روژې مياشت روژه ونيسي او عفت وساتي او د خپل مېړه اطاعت وکړي، نو ورته به (د قيامت په ورځ) وويلې شي چې جنت ته داخله شه (د اتو دروازو څخه) په هره يوه دروازه چې دې خوښه وي.

جنت ته په داخلېدلو کښې ځکه د مېړه اطاعت شرط شو چې مېړه ډېر زيات حق لري. په دې هکله زښت ډېر احاديث پکښې روايت شوي دي[۳] دغه يو حديث د بېلګې په توګه ولولئ:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا»[۴] يعني: که بالفرض ما چا ته امر کولی چې (د الله ﷻ څخه په غير) بل چا ته سجده وکړي نو آرتينې ته به مې امر کړی وی چې خپل مېړه ته سجده وکړي (ځکه چې حق يې ورباندې زښت ډېر دی).

## د قُنوت د کلمې معنی

۵_ د ﴿قَٰنِتَٰتٌ﴾ کلمه د "قُنُوت" څخه اخستله شوې ده، "قنوت" د دوامداره اطاعت څخه عبارت دی خو چې نرمي هم ورسره وي[۵]. شايد چې د همدې مطلب دپاره به الله ﷻ د ﴿قَٰنِتَٰتٌ﴾ په عوض د "طَائِعَاتٌ" عبارت نه وي نازل کړی ترڅو دې ته اشاره شي چې بايد صالحې ماندينې د خپلو مېړونو په نرمۍ سره دوامداره اطاعت وکړي، ترڅو ورباندې دا متل صادق نه شي چې "اوزې شوده دې راکړه خو د پچو ډک".

---

(۱) سنن ابن ماجه ج۲ ص۱۳۳
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۱۶۶۱
(۳) الدر المنثور ج۲ ص۵۱۹
(۴) سنن ابن ماجه ج۲ ص۱۳۳
(۵) مفردات الراغب ص۴۲۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## نُشوز څه معنی؟

۶_ د "نُشوز" کلمه د هغو پورته کېدلو څخه عبارت ده چې د پرېوتلو څخه وروسته واقع شي، د همدې کبله د قبرونو څخه د مړو راپورته کېدل په "نشز" یا "اِنشاز" باندې تعبیرېږي. نو بنا پر دې ناشزه ښځه د هغې ښځې نوم دی چې د مېړه اطاعت نه کوي، خپل ځان ورباندې پورته ګڼي او حقوق یې د پښو لاندې کوي. بالمقابل د هغه مېړه کړنلارې ته هم نُشوز ویل کېږي چې خپلې ماندینې ته حقوق نه ورکوي، لکه چې بحث یې په [النساء:۱۲۸] ایت کښې راروان دی.

## تادیب په هجران سره

۷_ د ﴿وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ﴾ جمله مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده لکه خبرې نه کول، جنسي ارتباط نه نیول، د اطاق په داخل کښې بستره جدا کول او داسې نور[۱].

مګر مونږ ته داسې ښکاري که ذکرې شوې ټولې معناوې د بدلیت په لحاظ مرادې کړی شي هم څه لرې نه ده، ممکنه ده چې په ځینو ښځو باندې یو ډول جدایي اغیزمنه تمامه شي او په ځینو نورو باندې بل ډول، او د نُشوز څخه لاس واخلي.

په هر صورت باید چې ناشزه ښځه د اطاق څخه ونه ویستله شي چې کینه او عداوت یې لا زیات شي او هم پرې کور کلی د وخت څخه وړاندې خبر شي. د همدې کبله الله ﷻ د ﴿فِي ٱلۡمَضَاجِعِ﴾ کلمه نازله کړه، او "عَنِ الْمَضَاجِعِ" کلمه یې نازله نه کړه چې د اطاق جدایي ترې سرې ته په تبادر سره ذهن ته ورځي.

همدا مضمون نبي کریم ﷺ ډېر ښه تمثیل کړی دی (کله چې ترې یوه سړي پوښتنه وکړه چې په مېړه باندې د ماندینې څه حق دی) چې: «أَنْ يُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمَ وَأَنْ يَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَى وَلَا يَضْرِبْ الْوَجْهَ وَلَا يُقَبِّحْ وَلَا يَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ»[۲] یعنې: د ماندینې حق په مېړه باندې دا دی چې کله پخپله څه خوري چې په ماندینې باندې یې هم وخوروي او کله چې څه اغوندي چې په هغې باندې یې هم واغوندي (جامې ورته وکړي) او بل دا چې په مخ باندې یې ونه وهي (چې پرهر ورباندې جوړ شي او د خلکو څخه یې پټ نه شي کړی) او چې قبیحې (پوچې) خبرې ورته ونه کړي او چې په هیڅ ډول هجران (جدائي) ورسره ونه کړي مګر په کوټه کښې.

## سوال جواب

۸_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د خپلې ماندینې سره تر یوې میاشتې پورې د ذکر شوو ډولونو څخه په یو ډول باندې هجران کول جواز لري[۳]، مګر پوښتنه دا ده چې

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۸۹؛ زاد المسیر ج۲ ص۱۲۱؛ الدر المنثور ج۲ ص۵۲۲

(۲) سنن ابن ماجه ص۲ ص۱۳۳

(۳) تفسیر القرطبي ج۵ ص۱۷۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ خو د درې ورځو څخه اضافه هجران حرام ګڼلی دی لکه چې فرمايي: «لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ»[١] يعني: هيڅ سړي ته حلاله نه ده چې د درېو شپو څخه اضافه د خپل مسلمان ورور سره هجران (جدايي وکړي) چې دواړه سره ملاقي شي، دا هم ترې مخه اړه وي او دا هم ترې مخ اړه وي او په دوی دواړو کښې هغه کس بهتر دی چې لومړی سلام واچوي.

مونږ وايو چې: د ناشزې ښځې سره هجران کول څخه د ذکر شوي حديث شريف مصداق نه شي جوړېدلی چې الله ﷻ وربانديې د هغې د نشوز د کبله تاديبًا امر کړی دی. نو دا په حقيقت کښې د نُشوز جزا تاکله شوې ده او شرعي حکم دی.

## د همدې حکم نظائر

۹ـ د دې دپاره چې ذکر شوی جواب ښه واضحه شي لاندې نظائر يې ولولئ:

الف: يوه ورځې عبد الله بن مغفل ﷺ کوم يو سړی منعه کړ چې په ګوتو باندې په ګټکيو ګوزارونه مه کوه، ځکه چې نبي کريم ﷺ ترې منعه کړې ده او فرمايلي يې دي چې دا ګوزار نه ښکار کولی شي او نه دښمن زخمي کولی شي مګر غاښ ماتوي او سترګه ړندوي. بله ورځ ذکر شوي سړي بيا ګټکې ويشتلې نو ورته يې وويلې: زه درته وايم چې نبي کريم ﷺ ترې منعه کړې ده او ته لا بيا هم د دغه کار څخه لاس نه اخلې «لَا أُكَلِّمُكَ أَبَدًا»[٢] هيڅکله به درسره خبرې ونه کړم.

ب: نبي کريم ﷺ د اولادونو په باره کښې بالمثل هدايت کړی دی چې: «وَأَنْفِقْ عَلَى عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا وَأَخِفْهُمْ فِي اللهِ»[٣] يعني: او په خپل عيال (نفقه خورو) باندې د خپلې وسې په اندازه نفقه وکړه خو د دوی د سرونو څخه د ادب ورکولو همسا مه پورته کوه او دوی د الله ﷻ د دين په باره کښې وډار کړه.

لکه چې پښتنو د همدې حديث شريف مضمون تمثيل کړی دی چې د اولادونو په باره کښې يې ويلي دي چې: "پټ يې ساته او موړ يې ساته خو په ادب يې ساته".

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: په هجران باندې خو زړه بداوی لا زياتېږي نو څنګه به د تاديب سبب جوړ شي. يا په بل عبارت: د هجران په صورت کښې خو ناشزه ښځه مطلب ته رسېږي او دا ځکه که د هغې هجران مطلب نه وی نو نُشوز به يې ولې اختيارولی؟ همدارنګه وهل هم نشوز ته قوت ورکوي او مخه يې نه نيسي؟

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٨٩٧
(٢) صحيح مسلم ج٢ ص١٥٣
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٢٥٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د زنانه وو نشوز کله-کله په ناز او نخرو باندې بنا وي او بنسټ نه لري، نو په دې صورت کښې په هجران او تادیبي وهلو سره اصلاح کېږي.

یا په بل عبارت: اول خو به اصلاح شي او که نه نو معلومه خو به شي چې نشوز یې پوخ بنسټ لري او څلورم پروګرام (حکمیت) ته اړتیا ده چې په کار واچولی شي. که نه نو یا به مېړه د نامعلومې مودې پورې تریخ ژوند ته ادامه ورکولی او یا به یې څلورم پروګرام (حکمیت) د اجراء لاندې نیوی او په اصطلاح د لاس غوټه به یې په خوله خلاصولی چې دغه دواړه صورتونه مزناک نه دي.

## چې جګړه رسوا شي

۱۱_ کله چې د مېړه او آرتینې زړه بداوی په پټه کښې حل نه شو او د کوره بهر خلک هم وربانډې خبر شوه نو مؤمنانو او حاکمانو ته په کار نه دي چې فقط تماشه یې وکړي او هیڅ د اصلاح فکر ورسره نه وي، دوی ته په کار دي چې د دواړو جانبو د خپلوانو څخه یو ګډ هیئت جوړ کړي او د مسئلې د هوارولو دپاره مخلصانه قدم واخلي شاید چې موضوع حل شي او خبره طلاق ته ونه رسېږي.

که بالفرض د دوی حکمیت هم موثر واقع نه شو نو د ابو حنیفه رحمه الله اجتهاد دا دی چې هیئت د تفریق او بېلتون حق نه لري، د دوی کار صرف تنسیق او پیوستون دی او بس[1]. د همدې کبله الله ﷻ د هیئت د کار په نتیجه کښې فقط فرمایلي دي چې: ﴿ إِن يُرِيدَآ إِصْلَـٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآ ﴾ که دوی د اصلاح نیت لري نو الله ﷻ به د دواړو په منځکښې توافق واچوي. او دا یې نه دي ویلي چې که توافق رانغی نو بیا به څه کوي. دا ځکه چې بیا د دوی خپل کار دی، د هیئت دنده بشپړه شوه او د مؤمنانو غاړې خلاصې شوې.

## څو نکات

۱۲_ په دې مقام کښې باید چې لاندې نکات هېر نه کړی شي:

الف. په ایت شریف کښې دوه کسیز هیئت ښودل شوی دی خو شاید چې دا به د اصلاحي هیئت اقل عدد وي او حصر به مطلب نه وي، نو په کومو خایونو کښې چې څلور کسیز او یا ورپورته عدد ته ضرورت ولیده شو نو په کار دي چې د سولې هیئت د همغه عدد څخه جوړ شي ترڅو نتیجه ورکړي.

ب. همدارنګه په ایت شریف کښې دا خبره عامه پرېښودله شوې ده چې د اصلاحي هیئت غړي نارینه وي او که زنانه. نو څه لرې نه ده چې په همدغې هیئت کښې زنانه هم عضویت ولري او یا سوچه د زنانه وو څخه جوړ شي. نو باید چې د حالاتو غوښتنه د پامه ونه شي غورځولی.

(۱) التفسیرات الأحمدیة ص۲۷۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: که مېړه او آرتینه خپلوان ونه لري، یا یې په خپلوانو کښې د حکمیت اهلیت نه وي او بالآخره یا هغوی د اشتباه لاندې وي چې اور ته لمن وهي، نو په کار دي چې نوموړې هیئت د اجنبي مؤمنانو څخه تشکیل کړی شي.

لنډه دا چې مؤمنان دې د ځانو څخه تماشه چیان نه جوړوي او شخړه دې فیصله کړي ترڅو د دوه وو کسانو جګړه په غټه جګړه بدله نه شي.

## د ایت شریف ارشاد

۱۳_ که څه هم الله ﷻ مونږ ته د مېړه او ماندینې د شخړو د هوارولو دپاره د حکمینو طریقه راوښودله مګر په ضمن کښې مونږ ته دا ارشاد هم کوي چې د همدغې طریقې څخه باید په ټولو شخړو او جګړو کښې کار واخلو، په منځګړیتوب سره جګړماران اصلاح کړو او د تماشه چیانو په شان یې یوازې ننداره ونه کړو چې د جګړې پایلې ته یې منتظر اوسو او بس.

﴿ وَٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا وَبِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۗ وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيْطَـٰنُ لَهُۥ قَرِينًا فَسَآءَ قَرِينًا ﴿٣٨﴾ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۶] او د الله ﷻ بندګي وکړئ او هیڅ شی ورسره مه شریکوئ، او د مور او پلار سره (نیکي وکړئ) نیکي کول، او هم د خپلوۍ د خاوند سره (نیکي وکړئ) او هم د یتیمانو سره او هم د مسکینانو سره او هم د ګاونډي سره چې د خپلوۍ خاوند هم وي او هم د اجنبي ګاونډي سره او هم د داسې انډیوال سره چې په څنګ کښې مو قرار لري او هم د لارې د بچي (مسافر) سره او هم د هغه چا سره چې ستاسو ښې لاسونه یې مالکان شوي وي (چې غلامان او وینځې دي).

بې شکه الله ﷻ هغه څوک نه خوښوي چې هغه لویې کوونکی (او) فخر کوونکی وي.

[۳۷] (لویې کوونکي او فخر کوونکي) هغه کسان دي چې پخپله هم بخل (شومتیا) کوي او خلکو ته هم په بخل باندې امر کوي او هغه شی پټوي چې الله ﷻ دوی ته د خپل فضل څخه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړي دي (لکه علم او مال)، او مونږ کافرانو ته سپکوونکی عذاب تیار کړی دی (نو مؤمنانو ته مناسب دي چې خانونه ترې بچ کړي).

[٣٨] او (همدارنګه لويي کوونکي او فخر کوونکي) هغه کسان دي چې دوی خپل مالونه خلکو ته د ښوداني په غرض نفقه کوي، او نه په الله ﷻ باندې ایمان راوړي او نه په ورروستنۍ ورځې، (دوی د شیطان یاري کوي) او هغه څوک چې ده لره شیطان انډیوال وي نو دا ډېر ناکاره انډیوال دی (نو همېشه به په کندو سر وي).

[٣٩] او هغه کومه (يوه بدي) ده (چې) په دوی باندې (به واقع شي) چې که دوی په الله ﷻ او د قیامت په ورځ باندې ایمان راوړي او د هغه مال څخه چې الله ﷻ ورته روزي کړی دی (صرف لله في الله) انفاق وکړي؟ (او د ریاکارۍ څخه لاس واخلي؛ په دې صورت کښې هیڅ بدي نشته). او الله ﷻ په دوی باندې پوه دی (د زړونو حالات ورته هم ښه معلوم دي).

## ارتباطونه

١ـ په وړاندې ایتونو کښې په زنانه وو باندې د نارینه وو فوقیت بیان شوی دی او په دې ایتونو کښې ارشاد دی چې د الله ﷻ په نزد فوقیت په تقوی سره حاصلېږي، لکه د لاندې لسو حقوقو عملي کول.

٢ـ هلته یوازې د مهره او ارتیني حقوقو ته اشاره وه او دلته عام حقوق ښودلي شوي دي چې په یو ګل نه پسرلی کېږي، باید مؤمنان د ټولو مراعات وکړي.

## د مطلب خلاصه

١ـ یعنې: ای مؤمنانو! تاسو ته توصیه کېږي چې ټول شریعت عملي کړئ او هر چا ته خپل حق ورکړئ، لکه دا لاندې لس حقونه:

الف: خاص د الله ﷻ بندګي وکړئ، واحد او لا شریک یې وګڼئ؛ ترڅو توفیق درکړي چې د اسلام ټول احکام په عمل کښې پیاده کړئ.

ب: د مور او پلار سره د زړه د کومې ښېګڼې کوئ څکه چې ستاسو په روزنه کښې دوی دواړو زښت ډېر روحي او بدني زیارونه ویستلي دي او ستاسو نېکیو ته سترګې په لار دي، نو د دوی أمیدونه د خاورو سره مه برابروئ.

ج: د ټولو خپلوانو حقوق په خپله‌خپله درجه کښې وساتئ؛ او سترګې پرې مه پټوئ چې د ژوند څخه خوند واخلئ.

د: د یتیمانو سره هم احسانات وکړئ چې دوی بې وسې دي او پلرونه یې وفات شوي یا شهیدان شوي دي، غم خور نه لري او د چا څخه خپل حق د مټ په زور نه شي اخستلی.

هـ: د مسکینانو سره احسانات هم د نظره مه غورځوئ او ورته متوجه شئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: په تاسو باندې د ګوانډيانو سره نيکي کول هم واجبي حقونه دي، خصوصاً هغه ګوانډيان چې هغوی اقارب او خپلوان هم وي.

ز: همدارنګه د پرديو ګوانډيانو حقوق هم ورکړئ.

ح: بلکې ټول هغه خلک درباندې حقوق لري چې په عارضي توګه او د لږ وخت دپاره ستاسو ترڅنګ ناسته ولاړه کوي (لکه چې ستاسو سره څوک په يوه کرايي موټر کښې ترڅنګ کښيني او يا په کوم يو روغتون کښې درسره ملاقي شي).

ط: بايد د نا اشنا (مسافر بنيادم) حقوق هم ورکړئ، که هغه نه پېژنئ الله ﷻ خو پېژنئ چې په تاسو باندې يې د هغه مراعات واجب کړي دي.

ي: بالآخره غلامانو ته هم په سپک نظر مه ګورئ هغوی هم انسانان دي شرعي حقونه لري.

۲_ ای مؤمنانو! د حقوقو د نه ورکولو لوی عامل دا دی چې څوک کبرژن وي حق ته غاړه نه ږدي او چې فخر کوونکی وي، په نورو مسخرې کوي. او دغسې خلک خو الله ﷻ نه خوښوي، چې برسېره پر تکبر او تفاخر باندې هم پخپله بخيل وي او هم نورو ته په بخل باندې امر کوي چې په بخل کښې ملګري پيدا کړي، ترڅو د الله ﷻ په ورکړی شوي نعمت باندې سترګې پټې کړي ته به وايې چې هيڅ نعمت يې نه دی ورکړی. هو د نعمتونو په پټولو کښې کافران غټه برخه لري حتی د الله ﷻ د بندګۍ څخه غاړې غړوي، نو څکه مو دوی ته سپک کوونکی عذاب تيار کړی دی.

همدارنګه الله ﷻ هغه خلک هم نه خوښوي چې بخل نه کوي (په حقدارانو باندې څه مالونه مصرفوي) خو نيت يې لله في الله نه وي او د رياکارۍ دپاره انفاق کوي، ترڅو ورباندې خلک شاباس ووايي او شهرت پيدا کړي.

دغه ډول خلک يا حقيقتاً په الله ﷻ باندې ايمان نه لري او د آخرت غم ورسره نشته او يا يې د عمل دا غوښتنه ده، ته به وايې چې دوی به ايمان نه لري. اصلي خبره دا ده چې د دوی د شيطان سره انډيوالي ده او غواړي چې په انفاق سره شيطان خوشاله کړي، چې دا ډېر ناکاره انډيوال دی ترڅو چې د ده په قدم روان وي هيڅکله به ښه ورځ ونه ګوري.

۳_ ای مؤمنانو! څوک چې خپل مالونه د رياکارۍ په غرض نفقه کوي دوی ډېر سادګان دي څکه چې بندګان خو دوی ته اجرونه يا عوضونه نه شي ورکولی او مالونه يې ضائع کېږي مګر په دې باندې علاوه د رياکارۍ په انفاق باندې دوی ګناهګارېږي هم او د خپل مال څخه ورته غضب جوړېږي.

بالمقابل که دوی په الله ﷻ او د قيامت په ورځ باندې په واقعي معناوو کښې ايمان راوړي او د الله ﷻ د ورکړی شوي مال څخه لله في الله نفقه وکړئ، نو ـ دا خو لا پرېږدئ چې په دنيا او آخرت کښې به چندونه- چندونه عوضونه ورکړي- دوی ته په انفاق کښې څه ضرر دی؟ او کوم بار په دوی باندې اېښودل کېږي؟ د کومې ملامتې لاندې واقع کېږي؟.

يا په بل عبارت: د اخلاص په انفاق کښې که بالفرض اجر نه وي نو ضرر خو هم پکښې نشته او د رياکارۍ انفاق خو سراسري ضرر او تاوان دی. نو په کار دي چې په هر انفاق کښې اخلاص د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نظره ونه غورځولی شي څکه چې الله ﷻ په ټولو ریاکارانو باندې پوه دی او هیڅ ډول نیت ترې نه شي پټېدلی.

## توضیحات

۱_ د ﴿وَٱعۡبُدُواْ﴾ کلمه د "عِبَادَة" څخه اشتقاقه شوې ده. "عبادة" په انتهاء درجه عاجزۍ ته وايي چې مینه او محبت هم ورسره ملګرې وي. عبادت د الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې حق دی، لکه چې نبي کریم ﷺ یوه ورځې معاذ بن جبل ﵁ مخاطب کړ چې: «فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا»[۱] یعني: نو یقینًا د الله ﷻ حق په بندګانو باندې دا دی چې عبادت یې وکړئ او هیڅ شی ورسره شریک نه کړئ، او د بندګانو حق په الله ﷻ باندې دا دی چې هغه څوک معذب نه کړي چې د ده ﷻ سره هیڅ شریک نه ګرځوي.

## د مور او پلار حق

۲_ الله ﷻ د خپل حق څخه وروسته د مور او پلار حق متصل ذکر کړ ترڅو څرګنده شي چې د بندګانو په حقوقو کښې د دوی حق ډېر درونډ دی، په دې باره کښې د قرآن کریم زښت زیات ایتونه نازل شوي او زښت زیات احادیث پکښې روایت شوي دي. لاندې یو حدیث د مثال په توګه ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ»[۲] یعني: د الله ﷻ د رضا د والد (مور او پلار) په رضا کښې ده او د الله ﷻ غضب د والد (مور او پلار) په غضب کښې دی.

## د ګاونډي حق

۳_ د ګاونډي په حقوقو کښې هم زښت ډېر احادیث روایت شوي دي[۳]، مګر دا یو حدیث د مثال په توګه ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا زَالَ جِبْرَئِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ»[۴] یعني: جبرائیل ﷺ راته د ګاونډي په باره کښې توصیه دومره دوامداره کړه (تاکید یې ورباندې کاوه) ترڅو چې ما ګومان وکړ چې ډېر ژر به یې وارث وګرځوي (چې یو ګاونډی دې د بل ګاونډي وارث وي).

## د ګاونډ حقوق تفاوت لري

۴_ یوه ورځې عائشې رضي الله عنها (أم المؤمنین) د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې دوه ګاونډیان

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۰۰: صحیح مسلم ج۱ ص۴۴

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۹۴: الدر المنثور ج۲ ص۵۲۹

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

لرم، نو کوم یوه ته هدیه ورکړم (کوم یو ډېر حق لري)؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا»[۱] هغه ته چې دروازه یې درته نژدې وي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي[۲] چې ګاونډیان په درې ډوله دي.

الف: هغه ګاونډی چې یو حق لري. دا په ګاونډیانو کښې د ادنی حق خاوند دی.

ب: هغه چې دوه حقونه لري (په دوه وو وجوو مستحق وي).

ج: هغه چې درې حقونه لري. دا په ګاونډیانو کښې د بهتر حق خاوند دی.

اول کافر ګاونډی دی چې د سړي د اقاربو څخه نه وي، دا یوازې د ګاونډ حق لري. دوهم مسلمان ګاونډی دی چې د خپلوانو څخه نه وي، دا د ګاونډ حق او هم د اسلام حق لري. دریم مسلمان خپلوان ګاونډي دی چې د اسلام حق، د خپلولۍ حق او هم د ګاونډ حق لري.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: څومره نژدې ګاونډي ګڼل کېږي؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د شاوخوا څلوېښت کورونه ګاونډیان ګڼلي دي او ځینو عُرف ته حواله کړي دي[۳]، مګر مونږ ته هغه ټول کورونه ګاونډیان ښکاري چې په عامه منافعو کښې سره شریک وي. لکه: لار، اوبه، جومات او داسې نور.

## د بخل ډولونه

۶_ بخل دې ته وایي چې سړی د چا څخه هغه څيز منعه کړي چې هغه یې مستحق وي. نو لاندې کسان ټول په بخیلانو کښې شمېرل کېږي:

الف: څوک چې فقیرانو او نورو مستحقینو ته فرضي زکات ورنه کړي.

ب: څوک چې علم پټ کړي. لکه چې یهودانو به د نبي کریم ﷺ صفات پټول.

ج: څوک چې په چا باندې سلام نه اچوي، او داسې نور.

په هر تقدیر، د بُخل په مقابل کښې کله د "جُوْد" کلمه استعمالېږي او کله یې په مقابل کښې د "سخاوة" کلمه استعمال مومي. که څوک غواړي چې د جُود په محاسنو او د بخل په ذمائمو کښې احادیث ولولي نو د احادیثو کتابونو ته دې مراجعه وکړي، مونږ دلته په لاندې یو حدیث باندې اکتفاء کوو:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُؤْمِنٍ الْبُخْلُ وَسُوءُ الْخُلُقِ»[۴] دوه خویونه دي چې په مؤمن کښې نه یو ځای کېږي چې یو بخل دی او بل بد اخلاقي ده. یعنې دا دواړه د مؤمن خاصیتونه نه دي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۸۹۰

(۲) مسند الشامیین للطبراني ج۲ ص۲۵۶

(۳) روح المعاني ج۵ ص۲۹

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا
﴿٤٠﴾ فَكَيۡفَ إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا ﴿٤١﴾ يَوۡمَئِذٖ يَوَدُّ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ لَوۡ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضُ وَلَا يَكۡتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثٗا ﴿٤٢﴾﴾

[۴۰] بې شکه الله ﷻ د یوې ذرې په وزن (اندازه) هم ظلم نه کوي. او که (دغه یوه ذره) نېکي وي نو چندونه يې جوړوي (ډېره يې زياتوي) او د خپله نزده (پرې) لوی اجر ورکوي.

[۴۱] نو څه حال به وي (په هغې ورځ) چې کله مونږ د هر أمت څخه (په دوی باندې) شاهدي ورکوونکی (پیغمبر) راولو او تا هم (ای محمده!) په دوی (خپل أمت) باندې شاهدي ورکوونکی راولو (او حساب کتاب پیل شي)؟.

[۴۲] په دغې ورځ کښې به هغه کسان چې کفر يې اختيار کړی دی (په دنيا کښې) او د خپل پيغمبر څخه بې نافرماني کړې ده آرزو کوي چې کاشکي په دوی باندې ځمکه هواره کړی شوې وی (چې يا ترې نه وی راپورته شوي او يا بېرته خاورې شوي وی).

او دوی به (په دغې ورځ کښې) د الله ﷻ څخه هيڅ نه پټوي (او يا به يې نه شي پټولی).

## ارتباط

په وړاندېنې ايت کښې الله ﷻ فرمايلي وه چې رياکارانو ته په دې کښې څه نقصان دی چې په اخلاص سره انفاق وکړي؟.

په دې ايتونو کښې د هغه انفاق ګټه بيانه شوې ده چې د رياکارۍ څخه خالي وي تر دې چې د قيامت په ورځ به د لوی افسوس څخه بچ شي چې کاشکې مونږ خاورې شوي وی او د دې خجالت سره نه وی مخامخ شوي او عملونه مو په اخلاص سره کړي وی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: رياکاران به د اخلاص په صورت کښې څنګه تاوانيان شي حال دا چې الله ﷻ د يوې ذرې په اندازه هم په چا ظلم او تېری نه کوي پاتې خو لا دا چې د دوی ټول صدقات ضائع کړي، بلکې الله ﷻ د يوې ذرې د نيکۍ څخه دومره زياتې نېکۍ جوړوي چې چندونه يې صرف الله ﷻ ته معلوم دي. د همدې کبله کله-کله همدغه يوه ذره نيکي د سړي دپاره د جنت د داخليدلو سبب جوړوي. او برسېره پر دې، لوی اجر ورياندې ورکوي چې په لويوالي باندې يې د الله ﷻ څخه په غير نور څوک نه شي پوهېدلی ترڅو چې سړی يې په غړولو سترګو باندې وګوري.

۲ـ د قيامت ورځ څه معمولي ورځ نه ده چې هلته به څوک خپل جنايات پټ کړی شي او د خجالت څخه به خپل ځان بچ وساتي بلکې په دغې ورځ کښې به ټول پيغمبران عليهم السلام هر يو په

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



النساء (۴۱)

خپلو خپلو امتونو باندې شاهدي وايي چې په هغوی کې بې ايمان نه دي راوړي. حتی چې ته به هم (ای محمده ﷺ) د خپل امت په کافرانو باندې همدغسې شاهدي ورکړې چې فلانی، باندې ايمان نه دی راوړی او عصيان يې راخپل کړی دی، او په همدې خبره باندې به امتونه هم شاهدي ورکړي او د پېغمبرانو ... خبره به تائيد کړي. او کافرانو ته به د خپلو کفرونو د پټولو هېڅ لاره چاره په لاس ورنه شي. نو په دغه وخت کښې به ارمان کوي چې: ای کاش! چې موږ د نورو حيواناتو په شان خاورې شوي وی او يا راباندې ځمکه هواره شوې وی، چې د قبرونو څخه نه وی رابهر کړی شوي. خو په دغې ورځ کښې کاشکې-کاشکې څه فائده نه کوي.

## توضيحات

۱ـ په عربي ژبه کښې عادت دی چې د ډېر لږ شي څخه په ذرې سره تعبير کوي. "ذرة" په لاندې معناوو باندې تفسيره شوې ده[1]:

الف: د سره مېږي سر د ذرې څخه عبارت دی. او يا پخپله سره مېږي ته ذره ويل کېږي.

ب: د خاورو ډېر ميده ګرد ته ذره وايي.

ج: د اوربشې دانه د ذرې په نامه يادېږي.

د: د کوټې په کړکۍ کښې چې د لمر رڼا ورننوتې شي او څه واړه-واړه شيان په سترګو باندې ليدل کېږي خو په لاس باندې نه رانيول کېږي همغو ته هم ذرې وايي.

په هر تقدير، په عربي ژبه کښې د "ذرة" کلمه د لږوالي په باره کښې ضرب المثل ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې الله ﷻ په هېڅ باندې د ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي چې په عذاب کښې د يوې ذرې په اندازه د استحقاق څخه څه اضافه عذاب ورکړي او يا چا ته د ثواب يوه ذره کمه کړي. هو! دا بېله خبره ده چې يوازې په اجرونو کښې د خپل فضل د کبله چندونه-چندونه وراضافه کوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې د ﴿يُضَاعِفْهَا﴾ کلمې څخه ښکاره کېږي چې الله ﷻ يوه ذره نېکي دوه چنده کوي، نو په چندونو- چندونو باندې څو دلالت نه کوي لکه چې تاسو ترې تعبير وکړ؟

موږ وايو چې: د ايت شريف وروستنۍ برخه دغه مطلب په ډاګه کوي ﴿وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ يعني: کله چې الله ﷻ د ذرې په اندازه نېکي چندونه-چندونه عوضونه جوړه کړي نو په همدغې ورې نېکۍ باندې د خپلو غيبي خزانو څخه لوی اجر ورکوي، هغه لوی اجر چې الله ﷻ ورته عظيم او لوی وايي.

قتاده رحمه الله وايي چې که يوه ذره نېکي مې اضافه شي نو دا راته د ټولې دنيا څخه محبوبه ده[2].

---

[1] زاد المسير ج ۲ ص ۱۲۵

[2] تفسير الطبري ج ۴ ص ۸۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ همدغه یوه ذره نیکي غتوي او جنت ته د داخلېدلو سبب یې جوړوي.
ځکه چې د نېکیو اجرونه یو په لسه او یو په اوه سوه چنده په صراحت سره ذکر شوي
په قرآن کریم کښې د یوې نېکۍ اجر یو په شل لکه (۱/۲۰۰۰۰۰۰) چنده هم روایت شوي
دي، او په احادیثو کښې
دي چې د [البقرة:۱۴۵] ایت شریف لاندې یې پوره تفصیل تېر شوی دی، او ځینو مفسرینو کرامو
پکښې نور احادیث هم روایت کړي دي[1].

## محمدي امت به هم شاهدي وايي

۳ـ که څه هم د [البقرة:۱۴۳] ایت شریف خبر راکوي چې محمدي (ﷺ) امت به په نورو امتونو باندې شاهدي وایي چې دوی ته خپلو خپلو پیغمبرانو علیهم السلام د الله ﷻ احکام رسولي دي او نبي کریم ﷺ به د خپلو امتیانو تزکیه کوي چې دوی رښتیا وايي او شهادت یې په حقه دی او دوی په ما باندې په حقه ایمان راوړی دی او صالح عملونه یې کړي دي، خو په دې مقام کښې واضحه څرګندېږي چې نبي کریم ﷺ به هم د نورو پیغمبرانو په څېر په خپل امت باندې شاهدي ووايي.
نو که سړی دواړه ایتونه یوځای ولولي نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې نبي کریم ﷺ به د خپل امت د مؤمنانو دپاره شاهدي اداء کړي ـ چې د تزکیې معنی ورکوي ـ او د خپل امت په کافرانو باندې به شاهدي ووايي چې: ای الله! ما ورته ستا احکام رسولي وه خو دوی ونه منل او په کفر باندې کلک شول.

## دا ډېر هولناک وخت دی

۴ـ د قیامت د ورځې ټول مواقف هولناک دي خو هغه موقف هم ډېر هولناک دی چې د هر چا دوسیه د فیصلې دپاره وړاندې کېږي او شاهدان ورباندې شاهدي وایي. د همدې کبله کله چې په نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت ولوستل شو نو مبارکې سترګې یې د اوښکو ډکې شوې.
عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وایي چې: یوه ورځې ماته نبي کریم ﷺ امر وکړ چې څه قرآن کریم راباندې ولوله، ما ورته عرض وکړ چې ای د الله رسوله! ایا زه یې درباندې ولولم حال دا چې په تاباندې نازل شوی دی؟ نو هغه راته وویلې چې هو. کله چې ما د سورت "النساء" په لوستلو باندې پیل وکړ او ذکر شوي ایت ﴿ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴾ ته راورسېدم نو نبي کریم ﷺ راته وویلې چې: «حَسْبُكَ الْآنَ» یعنې اوس بس دی.
نوموړی صحابي وایي: «فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ»[2] یعنې: نو چې ما ورته وکتل نو دواړه مبارکې سترګې یې په اوښکو جارې وې (اوښکې ترې بهېدلې).

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۹۷؛ الدر المنثور ج۲ ص۵۴۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۵۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۵ـ د ﴿ لَوۡ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضُ ﴾ تفسیر الله ﷻ پخپله کړی دی چې د کافر د خولې څخه د قیامت د ورځې حکایت کوي: ﴿ وَيَقُولُ ٱلۡكَافِرُ يَٰلَيۡتَنِي كُنتُ تُرَٰبَۢا ﴾ [النبأ: ۴۰] یعنې: او هر یو کافر به (په دغې ورځ کښې) ووایې چې ای کاش چې زه خاورې وی (یا خاورې شوی وی، لکه چې نور حیوانات خاورې شوه چې نه ورته جنت شته او نه ورته دوزخ).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایې چې: کافران خو د قیامت په ورځ خپل شرک پټوي لکه چې الله ﷻ د دوی څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشۡرِكِينَ ﴾ [الأنعام: ۲۳] زمونږ دې په الله ﷻ خپل رب باندې قسم وي چې مونږ (په دنیا کښې) مشرکان نه وو. حال دا چې ذکر شوی ایت شریف صراحت کوي چې دوی به یوه خبره هم نه پټوي؟

مونږ وایو چې:

الف: د قیامت په ورځ مختلف مواقف دي، په ځینو مواقفو کښې به کافران اعتراف کوي او په ځینو کښې به انکار کوي[۱]، یا په بل عبارت: دوی به د ډېرې وارخطانۍ د کبله د خپلو خبرو تناقض ته نه ګوري. په اصطلاح اوبو وړی هر یو بوټي ته لاس اچوي.

ب: د ﴿ وَلَا يَكۡتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثٗا ﴾ معنی دا ده چې دوی به یوه خبره هم پټه نه شي کړی څکه چې د دوی د انکار څخه وروسته به ورباندې خپل اندامونه شاهدي ووایې او انکار به یې تکذیب کړي[۲].

ج: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله کافران انکار وکړي او جوارح (اندامونه) یې انکار تکذیب کړي نو دوی به دومره خجالت شي چې وایې به ای کاش چې خاورې شوي وی خو چې د خپلو کفریاتو څخه مو انکار نه وی کړی[۳]، یعنې د دې څخه خو راته د غم د پاسه بل غم جوړ شو. نو په دې تقدیر "یَکْتُمُوْنَ" (مضارع) د ماضي په معنی (کَتَمُوا) اخستل کېږي.

دا جواب د هغو څلورو جوابونو څخه یو جواب دی چې نوموړي صحابي (عبد الله بن عباس ﷺ) ته یو سړی راغی او ورته یې وویلې چې زه د قرآن کریم په څلورو ځایونو کښې په اصلي مطلب باندې نه پوهېږم، نو همده (رئیس المفسرین ﷺ) ورته شرحه کړه[۴]، خو د اوږدوالي د کبله مونږ دلته څلور واړه رانقل نه کړه.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۱۰۷

(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۵۱۲

(۳) الدر المنثور ج۲ ص۵۴۴

(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۳۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْرَبُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا۟ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِى سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُوا۟ ۚ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا۟ مَآءً فَتَيَمَّمُوا۟ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُوا۟ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾ ﴾

[۴۳] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په داسې حال کښې لمانځه ته مه نژدې کېږئ چې تاسو (په شرابو باندې) بې سده یاست (لمانځه ته په نژدې وختونو کښې شراب مه خورئ)، ترڅو چې تاسو په هغه شي باندې پوه شئ چې تاسو یې وایاست. او مه د جنابت په حال کښې (ورنژدې کېږئ) مګر کله چې په لار باندې تېرېدونکي یاست تر هغه چې غسل وکړئ.

او که تاسو مریضان یاست او یا په سفر باندې (بوخت) یاست او یا ستاسو کوم یو کس د ژور ځای څخه راشي (اودس مات کړي) او یا ښځې زنانه مسه کړئ (جنسي ارتباط ورسره ونیسئ) بیا نو اوبه ونه مومئ (چې ځانونه پرې پاک کړئ) نو د ځمکې پاکیزه مخ ته قصد وکړئ (او په لاسونو باندې یې ووهئ) نو (په یو ځل دواړه لاسونه) په خپلو مخونو باندې مسحه کړئ (پرې راکش یې کړئ) او (بل ځل یې) په خپلو دواړو لاسونو باندې (مسحه کړئ). نو دا ستاسو طهارت شو بې شکه الله ﷻ عفوه کوونکی (او) بښونکی دی.

## شان نزول

مونږ د [البقرة:۲۱۹] ایت لاندې لیکلي دي چې الله ﷻ په څلورو مرحلو کښې شراب خوري په قطعي توګه حرامه کړه. او ذکر شوی ایت شریف د درېمې مرحلې په هکله نازل شوی دی، چې یو صحابي ﷺ په لمانځه کښې د بې هوشۍ په حالت کښې قران کریم غلط قرائت کړی وه او ذکر شوی ایت شریف نازل شو. خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې که څه هم د ذکر شوي ایت د شان نزول په هکله څه نور روایتونه هم شته دي د مثال په توګه:

الف: په یوه سفر کښې د بي بي عائشې (أم المؤمنين) رضي الله عنها د غاړې هار ورک شوی وه چې ټول کاروان ورته په داسې ځای کښې تال شو چې هلته اوبه نه وې، نو الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ[۱].

ب: أسلع بن شریک ﷺ وایي: په یوه سفر کښې د نبي کریم ﷺ د اوښې بارول ما په غاړه اخستي وه، خو یوه شپه جنب شوم او ډېره سړوښه وه نو د نبي کریم ﷺ د اوښې بارول مې بل چا ته وسپارل او ما ځان ته اوبه ګرمې کړې او غسل مې وکړ، د غسل څخه وروسته نبي کریم ﷺ ته ورغلم او ذکره شوې قیصه مې ورته تېره کړه نو الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ[۲].

---

[۱] صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۳

[۲] سنن الکبری للبیهقي ج۱ ص۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر څرنګه چې صحابه وو کرامو ﷺ به د ایتونو په مصداقاتو باندې هم کله-کله د شان نزول اطلاق کاوه[۱] نو په همدې اطلاق باندې ټول شان نزولونه سره تطبیق مومي او څه منافات یې سره نه واقع کېږي.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ متعدد اوامر او نواهي بیان کړه ترڅو مونږ پرې د قیامت هولناکې ورځې دپاره تیاری ونیسو او د نهایي خجالت څخه خانونه بچ کړو. په دې ایتونو کښې د لمانځه طریقه ښودلې شوې ده چې د اوامرو او نواهیوو په تعمیل کښې پرې د الله ﷻ توفیق ترلاسه کړو. الله ﷻ فرمايي:

الف: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ﴾ [البقرة: ۱۵۳] ای مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره (د الله ﷻ څخه) کومک وغواړئ.

ب: ﴿ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ ﴾ [العنکبوت:۴۵] یقینًا لمونځ د بې شرمه او (په شریعت کښې) د نا اشنا کارونو څخه (لمونځ کوونکی) منعه کوي.

۲ـ هلته اخلاقي طهارت بیان شوی وه چې هر چا ته خپل حق ورکړئ او د قیامت ورځ په سترګو کښې ونیسئ؛ او دلته بدني طهارت بیان شوی دی چې که اوبه مو ونه موندلې نو تیمم ووهئ.

۳ـ هلته توصیه شوې وه چې په قصدي توګه د الله ﷻ سره شریک مه جوړوئ او دلته توصیه کېږي چې په غیر قصدي توګه هم د شرک څخه خانونه وساتئ؛ چې د بې هوشۍ په حالت کښې قرائت غلط ولولئ؛ لکه چې شان نزول ورباندې دلالت کوي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! د دې دپاره چې الله ﷻ د نیکو کارونو توفیق درکړي او د منکراتو څخه مو بچ کړي بالا تره د دې دپاره چې ظاهر مو په اوبو سره داسې پاک شي لکه څنګه مو چې باطن په نیکو اخلاقو باندې پاک دی، نو لمونځونه په دوامداره توګه په داسې حال کښې چې هم د وړې ناپاکۍ او هم د لویې ناپاکۍ (جنابت) څخه پاک یاست په پښو باندې ودروئ. خو لاندې دوه شرطونه مراعات کړئ:

الف: باید لمانځه ته د بې سدۍ په حالت کښې ورنږدې قدرې هم نه شئ: نو نن ورځ (چې شراب خوړل په قطعي توګه نه ده حرامه شوې) په داسې وخت کښې شراب خوري مه کوئ چې د لمانځه وخت درباندې درشي او تاسو بې سده یاست، په دې نه پوهېږئ چې څه کوئ او څه وایاست، د چا په امر سجده کوئ او کوم طرف ته ولاړ یاست.

ب: لکه څنګه چې لمانځه ته د بې اودسۍ په حالت کښې نه ورنږدې کېږئ همدارنګه د جنابت په حالت کښې هم ورنږدې نه شئ ترڅو چې غسل وکړئ.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢ـ که تاسو مسافر یاست نو کولی شئ چې د تیمم وهلو په شرط سره بې د غسل څخه هم لمانځه ته ورنژدې شئ. د تیمم د تجویز لاندې څو موارد د مثال په توګه ولولئ:

الف: چې تاسو مریضان یاست او اوبه درته ضرر کوي او یا د اوبو په استعمال کښې درته د ناجوړتیا خطره وي.

ب: چې مسافر یاست یا اوبه نه لرئ او یا یې قیمت نه لرئ او داسې نور.

ج: چې اودس لرئ خو د انساني ضرورت د رفعه کولو د کبله اودس مات کړئ.

د: چې د خپلو ماندینو سره جنسي ارتباط ونیسئ او لوی اودس درباندې واوړي.

که څه هم مسافر کېدل، اودس ماتول، بالآخره په خان باندې لوی اودس اړول ستاسو اختیاري کارونه دي خو الله ﷻ درباندې تاسو نه ملامته کوي او په ټولو صورتونو کښې یې درته تیمم جائز ګرځولی دی لکه څنګه یې چې درته د احتلام او مرض په صورتونو کښې (چې ستاسو په اختیار کښې نه دي) د تیمم اجازه کړې ده.

٣ـ د تیمم وهلو طریقه دا ده چې د اوبو د نه موجودیت په صورت کښې فقط د خمکې پاکیزه مخ ته قصد وکړئ او په لاسونو باندې یې ووهئ: نو په یو ځل وهلو سره خپل مخونه مسحه کړئ او په بل ځل وهلو سره تر څنګلو پورې خپل لاسونه مسحه کړئ. او د ذکر شوو دواړو ډولو بې اودسیو څخه پرې خانونه خلاص کړئ او د خپل لمونځونه په پښو باندې ودروئ.

بې شکه الله ﷻ عفوه کوونکی دی، د همدې کبله د یوه پلوه د اوداسه څخه درتېر شو او تیمم یې درته تجویز کړ او ستاسو مشکلات یې د احکامو په تشریع کښې د نظره ونه غورزول. او هم بښونکی دی، که بالفرض تاسو د تیمم د اسبابو په تشخیص کښې خطا شئ چې مثلاً د اوبو د استعمال په ضرر باندې خیال وکړئ حال دا چې په واقع کښې درته په ضرر باندې نه تمامېږي، نو امید وکړئ چې دغسې اجتهادي خطاوې به دروبښي.

## توضیحات

١ـ که څوک وایي چې: بې سده خلک خو د لیونیانو په شان وي او لیونیان خو مکلف نه دي، نو په دې مقام کښې ورته څنګه خطاب صحت مومي چې: ای مؤمنانو! د بې سدۍ په حالت کښې لمانځه ته مه نژدې کېږئ؟

مونږ وایو چې:

الف: په شرابو باندې دومره بې سدي تحقق نه مومي چې بالکل یې عقل زائل او د مجانینو غوندې د خطاب صلاحیت یې د منځه لاړ شي، بلکې شراب فقط د عقل اختلال پېښوي او بس[1].

ب: په دې مقام کښې مؤمنان د سکر (بې سدی) په حالت کښې نه دي مخاطب کړی شوي چې لمانځه ته مه نژدې کېږئ. بلکې مطلب دا دی چې: ای مؤمنانو! په شرابخوری کښې افراط مه کوئ

[1] تفسیر الطبري ج۴ ص۹۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حتی چې د لمانځه وخت درباندې درشي او ستاسو د مغزو څخه د شرابو نېشه نه وي وتلې نو ترڅو چې شراب په قطعي ډول سره حرامېږي لږ څه تقليل پکښې راولئ، چې د لمانځه وخت درباندې درځي چې تاسو ورته تياري ولرئ او هوش مو سرو ته درغلی وي[١].

د دې نظير داسې دی لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ﴾ [البقرة: ١٣٢] نو تاسو مه مره کېږئ مګر په داسې حال کښې چې الله ﷻ ته غاړه ايښودونکي ياست. يعنې مرګ ته په دوامداره توګه تياری ونيسئ.

مونږ ته د لاندې دوه وجو د کبله وروستنی جواب ښه ښکاري:

الف: په همدې جواب باندې د ﴿لَا تَقْرَبُواْ﴾ کلمه دلالت کوي. ته به وايې چې ايت شريف توصيه کوي چې خپل سکر (بې سدي) لمانځه ته مه ورنژدې کوئ، نو که نيشې ته مو زړه کېږي نو يا د سبا د لمانځه څخه وروسته او يا د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته شراب نوش جان کړئ، چې د لمانځه وخت درباندې درځي چې عقل مو سر ته درغلی وي او په سد شوي ياست.

دوهم: الله ﷻ د بې سدی حال جمله اسميه نازل کړی ﴿وَأَنتُمْ سُكَرَىٰ﴾ چې په دوام باندې دلالت کوي. يعنې: د هغه سکر څخه ځانونه وساتئ چې د لمانځه د وخته پورې دوام کوي[٢].

د همدې کبله دوهم حال ﴿وَلَا جُنُبًا﴾ اسميه جمله نازل نه کړی شو او "وَلَا اَنْتُمْ جُنُبٌ" نه ويل شو ځکه چې په جنابت باندې خو دومره بنديز نه وه چې لمانځه ته به نژدې هم خپل ځانونه په جنابت کښې نه واقع کوئ.

## دلته صلاة په حقيقي معنی سره دی

٢ـ په دې مقام کښې د "صلاة" په کلمه کښې د علماء کرامو په لاندې ډول اختلاف دی:

الف: الشافعي رحمه‌الله‌علیه وايي چې دلته د "صلاة" څخه "موضع الصلاة" د لمانځه ځای يعنې جومات مطلب دی. ځکه چې:

اول: په همدې مطلب باندې د ﴿لَا تَقْرَبُواْ﴾ کلمه دلالت کوي، لمونځ خو معنوي شی دی عدم قُربت ورسره چندان تناسب نه لري.

دوهم: او هم پرې د ﴿إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ﴾ کلمه دلالت کوي چې مرور او عبور خو په امکنه وو کښې استعمالېږي، نو مطلب يې داسې راوځي چې: د لمانځه ځای (جومات) ته مه د بې سدی په حالت کښې ورنژدې کېږئ او مه د جنابت په حال کښې، مګر د جنابت په حال کښې درته په جومات کښې محض د مرور او عبور جواز شته خو چې پکښې تال نه شي.

---

(١) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٢ ص٣٧

(٢) تفسير المراغي ج٥ ص٤٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

ب: ابو حنیفه علیه‌الرحمة وایي چې د "صلاة" کلمه په خپله حقیقي شرعي معنی سره ده، څه مجبوریت نشته چې حقیقي معنی پرېږدو او مجاز ته منډه ورواخلو. او دا ځکه چې:

اول: د ﴿ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ ﴾ جمله د همدې مطلب سره مناسبه ده چې لمونځ د اقوالو او افعالو مجموعه ده. او جوماتونو ته په داخلېدلو سره خو په چا باندې څه قرائت واجب نه دی ترڅو یې چې پکښې په لمانځه باندې پیل نه وي کړی.

دوهم: په عربي محاوره کښې قُرب او بُعد لکه څنګه چې په محسوساتو کښې استعمالېږي همدارنګه په اقوالو او افعالو کښې هم استعمال مومي، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ ﴾ [الإسراء: ۳۲] او زنا ته مه نژدې کېږئ.

دریم: د ﴿ عَابِرِي سَبِيلٍ ﴾ څخه په جوماتو باندې تېرېدل مطلب نه دي بلکې مطلب ترې مسافر دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې لمانځه ته د جنابت په حالت کښې مه ورنژدې کېږئ مګر هله چې تاسو مسافران یاست. او دا ځکه چې د "سبیل" کلمه نکره ذکره ده چې هرې لارې ته شاملېږي، که بالفرض یوازې د جوماتو لاره مطلب وی نو "السبیل" په تعریف سره به نازله شوې وی.

څلورم: لکه چې د شان نزولونو څخه ثرګندېږي د آیت شریف د نزول په وخت کښې د جوماتو خبره هیڅ مطرحه نه وه بلکې د لمانځه خبره مطرحه وه، نو په کار دي چې د "صلاة" کلمه په خپله معنی سره پرېښودله شي.

## څو سوالونه او جوابونه

۳ـ د ابو حنیفه رحمة‌الله‌علیه په تګلاره باندې اکثره علماء کرام تللي دي خو په دې تفسیر باندې لاندې سوالونه سړي ته ذهن ته ورځي:

الف: ایا په دې مذهب باندې جنب سړي ته روا ده چې جوماتو ته داخل شي؟

مونږ وایو چې: د ابو حنیفه رحمة‌الله‌علیه مطلب دا دی چې دا حکم د ایت شریف تفسیر نه دی. که څه هم نورو شرعي دلایلو ته په کتلو سره باید چې جنب سړی جوماتو ته داخل نه شي، نه د تېرېدلو په توګه او نه د مکث او پاتې کېدلو په توګه.

هو! که ضرورت پېښ شو چې اوبه په جوماتو کښې وې او بله لاره نه وه نو بیا یې باک نشته[۱] لکه چې وايي: "الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ"[۲] ضرورتونه ممنوعه کارونو ته اباحت ورکوي.

ج: که څوک وايي چې: که د ﴿ عَابِرِي سَبِيلٍ ﴾ څخه مسافران مطلب شي نو تکرار به لازم شي چې وروسته د ﴿ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ ﴾ کلمه همدغه معنی ورکوي؟

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۱۸۰
(۲) شرح المجلة ج۱ ص۵۵ (ماده: ۲۱)

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د ﴿ عَابِرِی سَبِیلٍ﴾ څخه مسافرین د مشتهره وصف (اوبو ته د احتیاج) په اعتبار سره اخلو حتی چې په لار باندې روان وي او لا د اقامت نیت یې هم نه وي کړی. نو تکرار نه لازمیږي.

د: که څوک وایي چې: څه ضرورت دی چې د مشتهره وصف په اعتبار سره یې اخلی؟

مونږ وایو چې: لکه چې وړاندې څرګنده شوې ده چې د ذکر شوي ایت په شان نزولونو کښې یو دا هم وه چې په لارې باندې روان مسافر ته جنابت رسیدلی وه، نو الله ﷻ همدغې حادثې ته د مشتهره وصف په اعتبار سره جواب ورکړ ترڅو د راتلونکي تفصیل دپاره زمینه برابره شي چې: ﴿ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ ﴾ تر آخره پورې[۱]، یعني: ای انسانانو! ستاسو ضرورتونه یوازې جنابت نه دی بلکې مرض، مسافرت، انساني حاجت، جنسي ارتباط نیول او داسې نور ضرورتونه تاسو ته پیښیږي نو په دغسې ټولو حالاتو کښې درته تیمم تجویز کړی شو چې د مشکلاتو څخه خلاص شئ او همیشه د الله ﷻ عبادت وکړی شئ.

## ملامسه څه معنی؟

۴_ د ﴿ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ﴾ کلمه د "مُلَامِسَة" څخه اخستله شوې ده چې "ملامسة" په لاندې دوه معناګانو باندې استعمال شوی دی:

الف: په لاس باندې مسه کول.

ب: جنسي ارتباط نیول.

په دې مقام کښې الشافعي رحمه الله علیه اوله معنی اخستې ده چې حاصل یې داسې کیږي: که تاسو خپلې زنانه په لاس باندې مسه کړئ هم اودس مو ماتیږي، په کار دي چې د اوبو د نشتوالي په صورت کښې تیمم ووهئ.

او ابو حنیفه رحمه الله علیه دوهم تفسیر غوره کړی دی چې حاصل یې داسې کیږي: که تاسو د خپلو زنانه وو سره جنسي ارتباط ونیوه هم د اوبو د نشتوالي په صورت کښې تیمم ووهئ ترڅو درته لمونځ جائز شي او د جنابت مانع د منځه لاړ شي.

که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د الشافعي رحمه الله علیه دپاره څه دلایل لیکلي دي[۲]، خو نظر لاندې دلایلو ته د أبو حنیفه رحمه الله علیه تفسیر غوره ښکاري:

اول: که څه هم لمس په حقیقي معنی کښې په لاس باندې د یو شي مسه کولو ته وایي خو قرآن کریم یې د زنانه وو په بحث کښې د جماع څخه د کنایې په توګه استعمالوي. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ ﴾ [البقرة: ۲۳۷] یعني: او که چېرې تاسو خپلې ښځې د مسه کولو څخه وړاندې طلاقې کړې چې جنسي ارتباط مو ورسره نه وي نیولی. همدارنګه په [الأحزاب: ۴۹] ایت کښې هم په عین مضمون سره د لاس وروړلو څخه کنایة جماع مراده ده.

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۴۰

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۱۱۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هم په دې مقام کښې "ملامسة" په جماع سره تفسیر کړی دی[١].

درېم: د عائشې ابي رضي الله عنها څخه روایت دی چې: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ ثُمَّ يُصَلِّي وَلَا يَتَوَضَّأُ»[٢] یعنې: یقینًا نبي کریم ﷺ به د خینو بیبیانو تقبل کاوه بیا به یې لمونځ ادا، کاوه او اودس به یې نه تجدیداوه.

په همدې مضمون باندې نور زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې زنانه وو ته په لاس وروړلو باندې اودس نه ماتېږي چې د فقهي کتابونو پکښې ښه مفصل بحث کړی دی.

## یادونه

۵_ لکه څنګه چې الله ﷻ د جنسي ارتباط څخه د کنایې په توګه په ملامسة سره تعبیر وکړ همدارنګه یې اودس ماتول د کنایې په توګه په ﴿أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ﴾ سره ذکر کړ. او دا څکه چې "غائط" ژور ځای ته وایي[٣] او عادت دا دی چې خلک د اوس د ماتولو دپاره په ژور ځای کښې کښېني ترڅو خپل عورت ښه پټ وساتي او د چاورباندې نظر ونه لګېږي. د همدې کبله یې د ﴿أَحَدٌ﴾ کلمه ذکره کړه څکه چې ذکر شوي موقع ته خلک یوازې-یوازې ورښکته کېږي او څوک په اجتماعي توګه اودسونه نه ماتوي.

## د تیمم سببونه

۶_ د تیمم اسباب په لاندې دوه ګروپونو وېشل کېږي:

الف: بعید سببونه، لکه: مرض، سفر، د دښمن خوف، د ځا څخه د اوبو د راپورته کولو د سامان نشتوالي او داسې نور.

ب: قریب سببونه، چې د سړي اودس مات شي او یا اودس مات کړي همدارنګه چې یا پرې جنابت واوړي او یا ځان جنب کړي.

نو الله ﷻ د هر یو ګروپ دپاره دوه-دوه مثالونه ذکر کړه، یو-یو د اختیاري (قریب او بعید) اسبابو لکه سفر او جنسي ارتباط نیول. او یو-یو د غیر اختیاري (قریب او بعید) اسبابو لکه مرض او انساني ضرورت پوره کول. که بالفرض دا تفصیل یې نه وی ورکړی نو امکان یې درلود چې د چا ذهن ته ورغلی وی چې کله څوک په قصدي توګه داسې ځای ته سفر وکړي چې هلته اوبه نه وي او یا په لوی لاس باندې خپل ځان جنب کړي نو دغسې سړي ته به د تیمم جواز نه وي. مګر الله ﷻ لطف وکړ او ذکر شوې اشتباه ته یې موقع ورنه کړه او وېې فرمایل چې الله ﷻ هم عفوه کوونکی دی او هم بښونکی، د همدې کبله یې درته په اختیاري اسبابو کښې هم تیمم جائز وګرځاوه.

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج١٠ ص٥٠٠
(٢) سنن النسائي ج٢ ص٣٩
(٣) روح المعاني ج٥ ص٤١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: ذکر شوي څلور واړه اسباب خو يو په بل باندې د "أو" په کلمې سره عطف شوي دي او د "أو" په کلمه کښې د عربيت قانون دا دی چې يو د بل سره منافات لري لکه چې منطقيان وايي: "العَدَدُ زَوجٌ أو فَردٌ" عدد جوفت دی يا طاق. حال دا چې ذکر شوي اسباب خو سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې سړی هم مريض وي هم مسافر ، هم يې اودس مات کړي او بالآخره هم يې خپل خان په لوی لاس په جنابت کښې واقع کړی وي؟

که څه هم ځينو مفسرينو کرامو په ﴿أَوْ جَآءَ﴾ کښې د "أو" کلمه د "و" په معنی اخستې ده[۱] مګر مونږ وايو چې: د "أو" کلمه په عربيت کښې کله د دې دپاره هم استعمالېږي چې معطوف او معطوف عليه سره څه منافات ونه لري، دواړه سره جمعه کېدلی شي خو د دواړو څخه خالي کېدلی نه شي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا﴾ [الدهر: ۲۴] او د دوی (کافرو) څخه د ګناهګار اطاعت مه کوه او يا د ناشکره. يعنې د دواړو خبره مه منه. هو که دوی د ګناه او ناشکرۍ څخه لاس واخسته او مسلمانان شوه نو بيا درته دغه خطاب متوجه نه دی.

نو په دې مقام کښې د "أو، أو، أو" درېواړه کلمې د همدغه قانون لاندې استعمالې شوې دي.

### صعيد څه معنی؟

۸_ که څه هم د "صَعِيد" کلمه اصلا پورته والي ته وايي خو په دې مقام کښې ترې د خمکې ټول مخ مراد دی[۲].

په همدې مضمون باندې يو اوږد حديث هم دلالت کوي چې يوه ټوټه يې دا ده «وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا»[۳] او ماته ټوله ځمکه جومات او پاکوونکې ګرځوله شوې ده. يعنې په هر ځای کښې لمونځ روا دی او په هر ځای کښې تيمم جواز لري. نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې د اوبو د نشتوالي په صورت کښې د خمکې مخ ته قصد وکړئ چې پاکيزه وي او نجس نه وي.

د ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد هغه شی د خمکې د جنس څخه ګڼل کېږي چې په اور باندې نه سوزي، ايره ترې نه جوړېږي. لکه خاوره، تيږه، چونه، رانجه او داسې نور. او که په اور باندې يا ايره کېږي لکه لرګی، او يا ويلې (ذوب) کېږي لکه اوسپنه، واوره، منجمدې اوبه نو دا ټول د خمکې د جنس څخه نه دي او تيمم ورباندې جواز نه لري[۴]. هو! که په دغو شيانو باندې څه ګرد پروت وي نو بيا پرې تيمم جائز دی.

---

(۱) نشر المرجان من مشكلات القرآن ص ۲۵۰
(۲) روح المعاني ج۵ ص۴۳
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸
(۴) فتح القدير على الهدايه. او العنايه على الهدايه ج۱ ص۱۱۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

## د تیمم کیفیت

۹_ په دې کښې ټول علماء کرام متفق دي چې د وړوکې بې اودسۍ څخه او د جنابت څخه تیمم په یوه ډول وهل کېږي خو په اصلي کیفیت کښې یې په لاندې ډول اختلاف دی:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې دواړه لاسونه باید په یو ځل باندې په ځمکه ووهل شي او د ځنډلو څخه وروسته یو ځل په مخ راکش کړی شي او ټول مخ ورباندې مسه کړی شي او بیا پرې دواړه لاسونه (یو په بل) مسه کړی شي.

ب: او ځینې نور وایي چې باید دوه ځله په ځمکه باندې ذکر شوې عملیه ترسره شي، یو ځل د مخ دپاره او بل ځل د لاسونو دپاره.

که څه هم په ذکر شوو دواړو صورتونو کښې احادیث شته خو څرنګه چې تیمم د اوداسه خلف دی او په اوداسه کښې جائزه نه ده چې په یوه لپه اوبو باندې هم مخ ووینځلی شي او هم دواړه لاسونه، نو په کار دي چې په خلف کښې یې هم د مخ او د لاسونو دپاره جدا- جدا وهل وټاکل شي او سره ګډ نه کړی شي[1]. د همدې کبله آبو حنیفه رحمه‌الله‌علیه همدغه دوهم شق غوره کړ، کله چې ترې ابو یوسف رحمه‌الله‌علیه په همدې باره کښې پوښتنه وکړه نو په ذکر شوي ډول یې تشریح کړ[2].

## د تیمم حکمتونه

۱۰_ د تیمم حکمتونه مونږ محض د اطمنان په خاطر ذکر کوو ترڅو د اسلام دښمنو ټولنو د اعتراضاتو مخه پرې ونیسو، که نه نو د هغه څخه وروسته چې جواز یې الله ﷻ نازل کړ د حکمتونو په ذکر کښې یې څه خاصه ګټه نشته. په هر تقدیر لاندې څو حکمتونه د بېلګې په توګه ولولئ:

الف: د تیمم دپاره الله ﷻ ځکه د ځمکې مخ مختص وګرځاوه چې ځمکه د اوبو د موجودیت په صورت کښې هم د ځینو شیانو پاکوونکې ده، لکه چې توره په ځمکه پاکېږي کله چې په وینه باندې ککړه وي، همدارنګه که په موزو پورې څه ناپاکي نښتې وي او په ځمکه باندې ومووړلې شي لمونځ ورسره کېږي. علاوه په دې د ځمکې مخ د اوبو په شان کم یافته نه دی، د تخفیف دپاره ښه مناسب دی[3].

په دې باندې علاوه نبي کریم ﷺ (د استحباب په توګه) د هغه شي په وینځلو کښې کوم چې سپي څټلی وي د خاورې په موږلو باندې هم امر کړی دی چې: «طَهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ أَنْ يَغْسِلَ سَبْعَ مَرَّاتٍ أُولَاهُنَّ بِالتُّرَابِ»[4] یعني: ستاسو د کوم یوه په لوښي کښې چې سپي څټل وکړي پاکوالی یې دا دی چې اووه کرته یې ووینځي چې اول ځل یې په خاوره باندې وي (په خاوره یې ککړ کړي).

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۵ ص۲۴۱
(۲) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۴۶
(۳) حجة الله البالغة ج۱ ص۱۸۰
(۴) سنن ابي داؤد ج۱ ص۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په اوداسه کښې دوه نکتې ډېرې مهمې دي چې يو د الله ﷻ اطاعت دی او بل د خيرو او ناپاکيو څخه ځان پاکول دي، نو د اعذارو د کبله الله ﷻ دوهمه نکته عفوه کړه او اوله نکته يې د تيمم په صورت کښې تجويز کړه ترڅو د اوداسه حقيقت بالکل د منځه لاړ نه شي.

ج: ترڅو د طهارت روحيه په انسانانو کښې ژوندۍ پاتې شي، کله چې په اوبو باندې قدرت پيدا کړي چې اودس ورباندې دروند تمام نه شي. يا په بل عبارت: تيمم ځکه الله ﷻ د اوبو د نه موجوديت په صورت کښې تجويز کړ ترڅو د سړي علاقه د طهارت سره کمه نه شي او بالآخره بالکل ترې هېر نه شي.

د دې نظير د نبي کريم ﷺ يو اوږد حديث دی چې فرمايي: تاسو د لوښو سرونه پټوئ «فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُودًا وَيَذْكُرَ اسْمَ اللهِ فَلْيَفْعَلْ»[1] که چېرته ستاسو کوم يوه (سرپوښ ونه مونده مګر همدا چې په خپل لوښي باندې يو اوچوکی کېږدي او د الله ﷻ نوم ورباندې ياد کړي نو همدا کار دې وکړي. يعنې که څه هم اوچوکی په لوښي کښې د کوم شي د لوېدلو مخه نه شي نيولی مګر د الله ﷻ دغه هدايت خو به ژوندی پاتې شي، کله چې سرپوښ لاس ته ورشي بيا خو به د لوښي سر ورباندې پټ کړي او که نه نو په کراره-کراره به د سرپوښ د نه ايښودلو سره عادت شي.

## يادونه

۱۱_ د تيمم په باره کښې اوس هم ډېر بحثونه پاتې دي، لکه د تيمم ارکان، شرائط، نواقض او داسې نور چې دا کتاب يې د بيانولو حوصله نه لري، هيله ده چې علاقمندان د فقهي کتابونو[2] ته مراجعه وکړي چې هلته ډېر ښه شرحه شوي دي.

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَآئِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرًا ﴿٤٥﴾ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَٱسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَٰعِنَا لَيًّۢا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى ٱلدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَٱسْمَعْ وَٱنظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٤٦﴾ ﴾

[۴۴] ايا ته هغو کسانو ته نه ګورې چې هغوی ته د کتاب څخه څه برخه ورکړه شوې ده چې دوی ګمراهي (په بيه) اخلي او دې ته يې هم نيت دی چې تاسو سمه لاره ورکه کړئ (او بې لارې شئ)؟

---

(۱) سنن ابن ماجه ج۲ ص۲۴۴

(۲) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۱ ص۴۴_۶۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۵] او الله ﷻ (ستاسو څخه) ستاسو په دښمنانو باندې ښه پوه دی. او الله ﷻ د دوست په صفت باندې هم بس دی او د کومک کوونکي په صفت باندې هم بس دی (نه د بل چا دوستی ته تاسو اړ یاست او نه د بل چا کومک ته).

[۴۶] د هغو کسانو څخه چې په یهودیت کښې داخل شوي دي (هغه خلک هم دي چې) جنس کلمې د خپلو ځایونو څخه بوه څوا کوي. او هم دوی (ناته) وايي چې "وامو وريهده (خو) ومو نه منله".

او (هم وايي چې) "په داسې حال کښې واوره چې اورېدونکی نه يې". او (هم وايي چې) "رَاعِنَا". په داسې حال کښې ( په دې کلمه باندې تلفظ کوي) چې خپلو ژبو لره (پرې) تاوونکي وي او هم په (اسلامي) دين کښې طعنه کوونکي (بد ويونکي) وي.

او که (بالفرض) دوی (د سمعنا وعصینا په عوض) "سَمِعنا وأطَعنا" او (د اسمع غیر مسمع په عوض بوازې) "اسمَع" او (د راعنا په عوض) "انظُرنا" ویلی، نو دا به ورته ضرور ډېر بهتر او ډېره منصفانه خبره وی.

مګر الله ﷻ دوی د کفر په سبب باندې د خپل رحمت څخه لرې کړي دي (نو سمه خبره نه کوي).

نو دوی به ایمان رانه وړي مګر لږ خلک (یا دوی د عقیدوي شیانو څخه په ډېرو لږو باندې ایمان راوړي چې د دوی د طبیعت او مزاج سره برابر وي).

## ارتباط

په وړاندې ایت کښې الله ﷻ د تیمم په باره ارشاد فرمایلی دی او څه لرې نه ده چې اسلام دښمنه ټولنې په همدې استناد باندې مسلمانانو ته څه اشتباهات درواچوي ترڅو د حقې لارې څخه منحرف شي. په دې ایتونو کښې الله ﷻ مسلمانان پوه کړه چې هغوی ستاسو دښمنان دي هغوی غواړي چې تاسو هم د خپلو ځانونو په شان د حقې لارې څخه منحرف کړي. نو د هغوي په اشتباهاتو باندې څه چرت مه خرابوئ او التفات ورته مه کوئ، که هغوی په حقه لاره پسې ګرځېدلی نو د خپل کتاب تحریف به یې نه کولی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! ته او ستا امت هغه خلکو ته نه ګورئ چې الله ﷻ ورته ټول اسماني کتاب ورکړي وه خو دوی په ځینې کتاب باندې ایمان راوړ او په ځینې باندې کافر شوه. برسېره پر دې ځینې کتاب یې په خپل حال پرېښود او په ځینې کښې یې تحریفات وکړه. نو فعلا د دوی سره د اسماني کتاب څه برخه پاتې ده، ته به وایې چې دوی ته د کتاب همدغه څه برخه ورکړه شوې ده او بس.

۲ـ نه ګورئ چې دوی اوس خپله تګلاره نه ده بدله کړې او درګرده ګمراهي په بیه اخلي (ډېر ورته لېوال دي) او درګرده په همدې فکر کښې دي چې تاسو به په کومه ذریعه بې لارې شئ او د حقې لارې څخه به واوړئ، کله درته د تیمم په باره کښې اشتباهات دراچوي او کله په بل شرعي حکم کښې، کله درته ځانونه دوستان معرفي کوي او کله کومک کوونکي. مګر د دوی ټولې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



هلې خلې ستاسو په غولونه کښې دي، دوی ستاسو د دنيا او آخرت دښمنان دي الله ﷻ يې د هر بنه پېژني، الله ﷻ ستاسو دوست دی چې قرآن کريم يې درباندې نازل کړی دی او همدی ﷻ مو کومک کوونکی دی چې د دوی د پټو اسرارو څخه يې تاسو خبر کړئ. که تاسو په خپل دين باندې منګولې ښخې کړئ د دوی ټول کوښښونه به د خاورو سره برابر شي.

۳_ نوموړي خلک چې د اسماني کتاب د څه برخې خاوندان دي فعلا هم په تخريب کښې بوخت دي او کلمو ته تحريف ورکوي او د خپلو اصلي مواضعو څخه يې بې ځايه کوي. مثلا:

الف: کله چې دوی ته الهي حکم بيان شي نو د "سَمِعنا" سره متصل په زړه کښې او يا په ورو-ورو "عَصَيْنَا" هم وايي، يعنې وامو وريده خو منو يې نه.

ب: کله چې دوی د الله ﷻ د پيغمبر ﷺ سره خبرې کوي نو د "اسمَع" سره "غيرَ مُسمَعٍ" کلمه يو ځای کوي. يعنې: واوره غوږونه دې کاڼه شه چې هيڅ شی وانه وري.

ج: کله چې نبي کريم ﷺ دوی ته خطاب کوي نو د "راعِنا" په کلمه باندې ژبې تاووي او ژاولې ژاولې ورباندې کېږي ترڅو اورېدونکي ګومان وکړي چې دوی مراعات غواړي، حال دا دی چې د دوی رعونت (بې عقلي) او راعيتوب (شپني) مراد وي. يعنې: ای بې عقله! او يا ای زمونږ شپونکيه! چې په سادګۍ کښې زمونږ د شپنو عقل ته هم نه شې رسېدلی.

د دوی دغه ټول کړه وړه د دې کبله دي چې د اسلام دين ورته باطل ښکاري او طعن او لعن ورباندې اچوي او غواړي چې په ورو ورو تاسو هم د دين سره بدبينه کړي.

۴_ نو څرنګه چې د دوی ټول اسرار الله ﷻ ته څرګند دي چې په خپل وخت سره يې افشاء کوي نو دوی ته دا بهتره وه چې د "سمعنا" سره يې د "عصينا" په عوض "أطَعنا" يو ځای کړی وی چې "وامو وريده او منو يې"، او هم د "اسمَع" سره يې د "غيرَ مُسمَعٍ" کلمه نه يو ځای کولی او بالآخره د "راعِنا" په عوض يې "انظُرنا" ويلی، يعنې مونږ ته ګوره (چې په ناجائزې معنی باندې پرده نه اچوئ). نو که دا کار يې کړی وی دا به ورته بهتر وه، چې کفر به يې روزمره نه قوي کېده، د رسوايي سره به نه مخامخ کېده، د دروغو قسمونو ته به نه اړ کېده چې قسم دی چې زمونږ طعن او لعن مطلب نه وه او بالآخره څه لرې نه وه چې توفيق يې په نصيب شوی وی او په اسلام باندې مشرف شوي وی.

برسېره پر دې که په نبي کريم ﷺ باندې بالکل ايمان هم نه راوړي دا ډول رويه ورسره مناسبه نه ده، که د يو پيغمبر ﷺ په نظر ورته نه ګوري نو اقلا د يو مشر سړي په نظر خو دې ورته وګوري. ايا دا انصاف دی چې څوک د يوه مشر سړي سره دا ډول رويه وکړي. که بالفرض د دوی د کوم يوه سره دا ډول رويه شوې وی نو دوی به څومره پرې متاثر شوي وی.

۵_ مګر د دې ټولو نصائحو سره-سره دوی خپله تګلاره نه بدلوي ځکه چې الله ﷻ د کفر په سبب باندې د خپل رحمت څخه لرې کړي دي او لا لرې کوي يې. نو نتيجه به يې دا شي چې دوی به په ټول اسماني کتاب باندې ايمان رانه وړي چې د نبي کريم ﷺ نبوت هم د همدې جملې څخه دی او نه به ټول په ايمان باندې مشرف شي، بلکې د دوی ايمان به هم د کتاب په همغې لږ برخه باندې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي، او هم به د دوی څخه د هر لږ خلک په ایمان مشرف شي البته چې دغه لږکي به هماغه خلک وي چې الله ﷻ ملعون نه دي ګرځولي.

## توضیحات

۱ـ په ځینو ځایونو کښې قرآن کریم وایي چې اهل الکتابو ته ټول کتاب ورکړی شوی دی او په دې مقام کښې وایي چې د کتـاب څه برخه ورکړه شوې ده. د دغو دوارو ایتونو تطبیق دا دی چرته چې ﴿ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ ﴾ نازل شوی دی هلته مطلب دا دی چې د اسمانه دوی ته ټول کتاب نازل شوی وه. او چرته چې ﴿ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ ﴾ ذکر دی هلته مطلب دا دی چې دوی یې څه برخې قبولې کړې دي او نورې پرېښې دي.

## یهودانو تحریف کاوه

۲ـ که څه هم مونږ د [البقرة:۷۵] ایت لاندې د یهودانو د تحریف ډولونه لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې حاجت نه ګورو مګر په دې مقام کښې ورباندې لاندې مطالب وراضافه کوو:

الف: د ﴿ يُحَرِّفُونَ ﴾ کلمه اصـلا د "حَرْف" څخه اخستله شوې ده او "حرف" طرف ته وایي[1]. نو د یو شي د تحریف معنی دا ده چې یا اصلا د خپله ځایه بې ځایه کړی شي او یا د خپل اصلي محور څخه یوې څنډې ته ورتاو کړی شي.

ب: د ﴿ ٱلْكَلِمَ ﴾ توری اسم جنس دی چې مفرد یې "كَلِمَة" ده[2]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: اهل الکتاب د مطلق کلمو په تحریف باندې ایله نه کوي که څه هم د اسماني کتاب کلمې وي، کله یې د خپله ځایه بالکل بې ځایه کوي لکه چې د تورات څخه یې د رجم ایت ویستلی وه خو پټ یې نه کړی شو او کله ورته غلط تاویل ورکوي، بالآخره کله یې په تلفظ کښې د ژبې په یوه څنډه اداء کوي ترڅو ورباندې د بلې کلمې ګومان وکړی شي.

## یادونه

۳ـ دغه دواړه کلمې ﴿ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ﴾ د [البقرة: ۹۲] ایـت لاندې او هم د ﴿ رَٰعِنَا ﴾ کلمـه د [البقرة:۱۰۴] ایت لاندې ښې شرحه شوې دي، هیله ده هلته وکتلی شي.

## "غَيْرَ مُسْمَعٍ" څه معنی؟

۴ـ د ﴿ غَيْرَ مُسْمَعٍ ﴾ کلمه د هغـه ضمیر څخه حال واقع شوې ده چې په ﴿ وَٱسْمَعْ ﴾ کښې مستتر دی او نبي کریم ﷺ ورباندې مخاطب دی. مګر د معنی حاصل یې په لاندې دوه ډولونو باندې اخستل کېدلی شي:

---

[1] مفردات الراغب ص۱۱۲

[2] روح المعاني ج۵ ص۴۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په داسې حال کښې زمونږ خبره واوره چې بدو خبرو لره نه يي اورېدونکی. يعنې د خوشالی په حال کښې زمونږ خبره واوره.

ب: په داسې حال کښې زمونږ خبره واوره چې ښو خبرو لره اورېدونکی نه يي. يعني: داسې خبرې وانه ورې چې ته ورباندې خوشالېږې او چې ستا ورباندې زړه ښه شي او يا بالکل خبرې وانه ورې چې سامعه قوه دې د منځه لاړه شي او کوڼ شې. همدغه معنی د يهودانو مطلبه وه.

## طَعن څه معنی؟

۵ـ که څه هم د "طَعْن" کلمه اصلاً په غشو باندې ويشتلو ته وايي[۱]، مګر کنايةً د دې څخه عبارت ده چې د عيب په توګه د يو شي په يادولو کښې څوک پرېوزي. دلته يې مطلب دا دی چې دوی څکه د کلماتو تحريف کوي ترڅو د اسلام په دين باندې عيب ولګوي چې دا حق دين نه دی، که بالفرض حق دين وی نو مونږ به يې سپکاوی نه وی کړی، او که نبي کريم ﷺ په حقه پيغمبر وی نو زمونږ په کج رويو باندې به ورته وحې کړی شوې وی.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَـٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَـٰبَ ٱلسَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾ ﴾

**[۴۷] ای هغو کسانو چې دوی ته (اسماني) کتاب ورکړی شوی دی! په هغه کتاب باندې ايمان راوړئ (عقيده پرې وکړئ) چې مونږ (په اوسنی زمانه کښې) نازل کړی دی. په داسې حال کښې چې (همدغه اوسنی کتاب) د هغه دپاره تصديق کوونکی دی چې هغه ستاسو سره دی (ستاسو کتاب رښتينی ګڼي).**

**د هغه څخه وړاندې (پرې عقيده وکړئ) چې مونږ مخونه محوه کړو نو په خپلو شاګانو باندې يې سرچپه کړو او يا (د هغه څخه وړاندې چې) په مخونو باندې داسې لعنت وکړو لکه په أصحاب السبت باندې مو چې کړی وه (چې د دوی څخه هم بېزوګان جوړ کړو). او د الله ﷻ کار کړی شوی دی (که اراده وکړی څوک يې مخه نه شي نيولی).**

**[۴۸] يقيناً الله ﷻ دا نه بښي چې د ده ﷻ سره شريک ونيول شي (څوک پرې کافر شي) او د دې (کفر) څخه په غير (نور ګناهونه) هغه چا ته بښي چې اراده يې ورته وشي. او هر څوک چې د الله ﷻ**

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شریک ونیسي (پرې کافر شي) نو بې شکه هغه لویه ګناه وکړه (او په الله ﷻ باندې یې ډېره غټه سره افترا، وکړه چې د بښلو وړ نه ده).

[۴۹] ایا ته (ای پیغمبره!) هغو کسانو ته نه ګورې چې خپل ځانونه تزکیه کوي (او دعوه کوي چې مونږ ته الله ﷻ ټول ګناهونه بښلي دي او تزکیه کړې یې یو. خو دغسې نه ده) بلکې الله ﷻ هغه څوک تزکیه کوي چې اراده یې وشي، او د نري تار په اندازه به هم ورباندې (د الله ﷻ د پلوه) ظلم ونه کړی شي (مګر دوی په من یَشاء کښې شامل نه دي ځکه چې په الله ﷻ باندې کافر شوي دي).

[۵۰] ته ګوره چې دوی په الله ﷻ باندې څنګه دروغ تړي (او څومره جرئت کوي) او (یوازې) همدغه دروغ د ښکاره ګناه په حیث بس دی (چې الله ﷻ پرې لعنت نازل کړي).

## ارتباطونه

۱_ هلته الله ﷻ فرمایلي وه چې په تحریف کوونکو باندې لعنت وربېږي چې د ایمان راوړلو توفیق د ډېرو لږو خلکو په لاس ورځي او دلته فرمایي چې د الله ﷻ لعنت خو د توفیق په نه موندلو باندې پای ته نه رسېږي، باید اهل الکتاب د خپلې کړنلارې څخه لاس واخلي او وډار شي چې خېرې به یې مسخه کړو او یا به ورباندې د اصحاب السبت په شان عذاب ورنازل کړو.

۲_ هلته یې فرمایلي وه چې اهل الکتاب په اسلام او په مسلمانانو باندې بد وایي او دلته فرمایي چې دوی په همدې اکتفاء نه کوي بلکې خپل ځانونه تزکیه کوي هم، چې په ډېره سمه لاره باندې روان دي او د الله ﷻ سره یې شریک نه دی ګرځولی حال دا چې خبره بالکل معکوسه او سرچپه ده.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای اهل الکتابو! د عناد څخه لاس واخلئ، کوم کتاب چې مونږ په دې زمانه کښې نازل کړی دی او ستاسو د کتاب تصدیق کوونکی هم دی چې اصلي مطالب یې سره متحد دي او هم ستاسو د کتاب تصدیق کوي چې په حقه د الله ﷻ کتاب دی. برسېره پر دې ستاسو کتاب چې د آخر الزمان پیغمبر په باره کښې څه وړاندوینه کړې وه هغه دې کتاب رښتیا کړه، چې ستاسو د کتاب قدر یې لا پسې زیات کړ.

لنډه دا چې تاسو ته د ایمان راوړلو ښه زمینه برابره ده او د انکار دپاره هیڅ معقول دلیل په لاس کښې نه لرئ نو راشئ په دې کتاب (قرآن کریم) باندې ایمان راوړئ او د الله ﷻ د لعنت څخه ځانونه خلاص کړئ، که نه نو د الهي لعنت لړۍ خو انتهاء ته نه ده رسېدلې او نه د لعنت ډولونه ختم شوي دي. که الله ﷻ درباندې د خپلو لعنتونو څخه یو بل ډول لعنت درنازل کړي، چې مخونه مو سرچپه کړي لکه چې اوس د الله ﷻ هدایات نه قبلوي او سرچپه روان یاست، او ظاهري حواس هم درڅخه واخلي چې نه خوله ولرئ، نه غوږونه او نه سترګې. یا په بل عبارت، د مخونو څخه مو څټونه جوړ کړي چې هیڅ ډول ظاهري حواس پکښې وجود ونه لري او ټول د منځه یوسي. او بالآخره یا مو د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أصحاب السبت په شان د بېزوګانو په څېرو باندې مسخه کړي. نو په دغو ټولو صورتونو کښې به مو د ایمان راوړلو چانس د لاسو څخه ووځي نو راشئ؛ د دغه ډول لعنت څخه وړاندې ایمان راوړئ. د الله ﷻ د ارادې مخه هیڅوک نشي نیوی، د الله ﷻ کارونه داسې وګڼئ لکه چې عملي شوي وي او باور پرې وکړئ.

۲ـ که ستاسو دا خیال وي چې د کفریاتو سره-سره به الله ﷻ تاسو وبښي او د دنیاوي او اُخروي لعنتونو څخه به مو خلاص کړي او بلکې انعام به هم درکړي نو دا خیال د مغزو څخه وباسئ، الله ﷻ هیڅکله دا عظیمه ګناه (شرک او کفر) نه بښي.

هو! چې چا ته یې اراده وشي نو د کفر څخه پرته نور ګناهونه بښي او ترې تېرېږي. ځکه هر څوک چې د الله ﷻ سره شریک جوړ کړي نو هغه ډېره لویه افتراء وکړه چې د بښلو وړ نه ده.

۳ـ نو ای اهل الکتابو! که تاسو د همدغې لویې افتراء څخه ډډه وکړئ نو ممکنه ده چې الله ﷻ درته نور ګناهونه وبښي او تزکیه مو کړي چې د ګناهونو څخه پاک شئ؛ که نه نو تاسو په دې باندې نه تزکیه کېږئ چې بدون د سند څخه خانونه تزکیه کړئ او دا خیال وکړئ چې مونږ ته دوزخ نشته مونږ به ضرور جنت ته ځو، دوزخ د نورو خلکو دپاره جوړ دی که بالفرض زمونږ څخه کوم یو دوزخ ته لاړ هم شي نو د څو ورځو څخه اضافه به هلته پاتې نه شي. او په دې منظور چې عوام خلک وغولوئ د کلماتو تحریف کوئ او د خپل اصلي مسیر څخه یې اړوئ.

خو خبره داسې نه ده، بلکې داسې ده چې تزکیه کوونکی (ګناه څخه پاکوونکی) الله ﷻ دی چې په هیچا باندې د یوه تار په اندازه هم ظلم او تېری نه کوي. نو که تاسو په سمه لاره باندې روان شئ کېدی شي چې تاسو هم تزکیه کړي.

۴ـ ای پیغمبره! ته ګوره چې اهل الکتاب په الله ﷻ باندې څومره لوی دروغ تړي چې د یو پلوه ورسره شریک جوړوي او د بله پلوه لا دوزخ په نورو خلکو پورې خانګړی ګڼي او خانونه ورته جنتیان ښکاري. که نوره هیڅ ګناه نه وي همدغه ښکاره ګناه یې هم بس ده چې دوزخ ته پرې په دائمي توګه داخل شي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿نَّطۡمِسَ﴾ کلمه د "طَمَس" څخه اخستله شوې ده او "طمس" د یو شي د آثارو محوه کولو ته وایي[۱]. مګر په دې مقام کښې یې مفسرین کرام لاندې تفسیرونه کوي:

الف: دلته د قیامت د ورځې "طَمَس" مراد دی. ځکه چې په هغې ورځ کښې به الله ﷻ د کافرانو مخونه د شا طرف ته واړوي، د همدې کبله دوی ته د شا د پلوه اعمالنامې ورکولی کېږي لکه چې فرمايي: ﴿وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ﴾ [الإنشقاق: ۱۰] یعنې: او هر هغه څوک چې هغه ته د شا د خوا خپل کتاب (اعمالنامه) ورکړه شي[۲].

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۶
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۱۲۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې تقدير يې د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای اهل الکتابو! د قيامت د ورځې څخه وړاندې ايمان راوړئ چې په هغې ورځ کښې د ايمان راوړل څه فائده نه کوي.

مګر دا تفسير د لاندې وجوهو د کبله کمزوری معلومېږي:

اول: ځرنګه چې په "نطمس" باندې ﴿ نَلۡعَنَهُمۡ كَمَا لَعَنَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلسَّبۡتِۚ ﴾ جمله عطفه ده او دا جمله په دنيا کښې واقع شوې ده نو په کار دي چې د ﴿ نَّطۡمِسَ ﴾ جملې څخه هم دنياوي طَمس مراد کړی شي.

دوهم: پخپله اهل الکتابو ترې دنياوي "طَمس" مراد کړی دی، او د نبي کريم ﷺ د خوا څخه په تفريري حديث سره تائيد شوی دی، هغه دا چې کله عبد الله بن سلام ﷺ لوستلی شوی ايت واورېده نو مخامخ نبي کريم ﷺ ته ورغی او کور ته ستون نه شو او ورته يې وويلې چې: يا رسول الله! زما دا ګومان نه وه چې زه به تاته ورسېږم حال دا چې مخ به مې څټ ته نه وي اوښتی[1] (خو د الله ﷻ فضل وه چې په عادي څېره کښې درته راورسېدم نو دا دی ايمان مې دربانديې راووړ). او بلکې د همدې وار څخه کعب بن الآحبار ﷺ هم په ايمان باندې مشرف شوی وه[2].

ب: دلته "طَمس" په خپله معنی سره دی خو د ﴿ وُجُوهٗا ﴾ څخه د اغراضو وجوه (مخونه) مراد دي[3]، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای اهل الکتابو! د هغه څخه مخکښې ايمان راوړئ چې د اغراضو مخونه مو شا طرف ته واړوو چې تاند به وهئ او مطلب ته به نه رسېږئ او بلکې څه مو چې په زړو کښې پټ ساتلي وي هغه به رسوا کړو او مسلمانان به پرې خبر کړو.

دا هم چندان د تفسير په توګه متبادر نه دی که څه هم واقعيت لري.

ج: خينو لا د دې څخه هم بعيده معنی اخستې ده چې: د هغه څخه وړاندې ايمان راوړئ چې بېرته د شام "أذرعات" ته ورو شړل شئ لکه چې تاسو د همغه ځای څخه حجاز ته راغلي وئ[4].

د: مګر ډېره ښه معنی يې هغه ده چې د رئيس المفسرين ﷺ څخه روايت شوې ده، هغه دا چې: د هغه څخه وړاندې په ايمان باندې خانونه مشرف کړئ چې: "نجعلها کخف البعير"[5] مخونه مو داسې وګرځوو لکه د اوښ تله، چې نه پکښې سترګې شته، نه غوږونه او نه خوله.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: که دغه څلورمه معنی ډېره ښه معنی وی نو په يهودو کښې به واقع شوې وی او د خينو د مخونو څخه به د اوښانو تلې جوړې شوې وی، نو معلومه شوه چې دا غوره تفسير نه دی؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو خو دغه سوال ته متعدد جوابونه کړي دي[6] خو په زړه پوری

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۴۳۹
(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۵۰۸
(۳) تفسير المنار ج۵ ص۱۴۵
(۴) تفسير الکشاف ج۱ ص۵۱۹
(۵) تفسير البغوي ج۱ ص۴۳۸
(۶) تفسير ابي السعود ج۲ ص۱۶۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جواب يې دا دى چې الله ﷻ اهل الكتاب د تهديد په توګه مخاطب كړه چې كه زمونږ اراده وشي نو ظاهري حواس به هم درڅخه واخلو لكه څنګه چې تاسو د حق د ادراک څخه معطل كړي دي. ته به وايې چې بالكل حواس نه لرئ. او داسې خو يې نه دي مخاطب كړي چې مونږ به ضرور دغه عذاب درباندې درنازلوو او مخونه به مو سرچپه كوو[١].

## يادونه

٣_ د ﴿أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ﴾ قيصه (چې الله ﷻ د يهودو د يوې ډلې څخه بيزوګان جوړ كړه) په [الأعراف:١٦٣] ايت كښې راروانه ده او په [البقرة:٦٥] ايت كښې ورته اشاره شوې ده.

## د شرک تعريف او ډولونه

۴_ كه څه هم د شرک لغوي معنى واضحه ده چې ګډون او په يوه شي كښې برخوال ګرځول دي، د همدې مادې (ش، ر، ک) څخه شركت، اشتراک، مشترک او داسې نورې كلمې هم اخستلې شوې دي چې په دنياوي شيانو كښې يې ټول خلک پېژني، اما په اُخروي او ديني شيانو كښې د شرک كلمه په لاندې معناوو باندې استعماله شوې ده[٢]:

الف: "شرك الإستقلال"، چې _العياذ بالله_ څوک په دوه مستقلو معبودانو باندې قائل وي. لكه مجوس چې د خير يو خالق ګڼي او د شر بل خالق.

ب: "شرك التّبعيض"، چې څوک يوې مجموعې ته په الوهيت باندې قائل وي چې په همدغې مجموعې كښې الله ﷻ هم شامل وي. لكه نصارا چې په درېوو اقانيمو باندې قائل دي چې د [النساء:١٧١] ايت لاندې يې څه شرحه راروانه ده.

ج: "شرك التّقريب"، لكه د جاهليت د قديمې زمانې مشركان چې پرې قائل وه. د دوی د خولې څخه الله ﷻ حكايت كوي چې: ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ ﴾ [الزمر: ٣] يعني: مونږ د دوی عبادت د بل شي دپاره نه كوو مګر د دې دپاره چې دوی مونږ الله ﷻ ته ورنژدې كړي نژدې كول.

د: "شرك التّقليد"، لكه چې د جاهليت د وروستيو زمانو مشركانو به ويلې چې مونږ په همدې كار (بُت پرستی) باندې خپل پلرونه موندلي دي څكه يې عبادت كوو.

ذكر شوي څلور واړه ډولونه بالاتفاق د اسلامي ملت څخه وتل دي او سوچه كفر دی.

ه: "شرك الأسباب"، چې د أشياؤ په ايجاد كښې سببونو ته په تاثير باندې قائل وي، لكه فلاسفه او طبعيين. په دې ډول شرک كښې بايد وكتل شي چې كه بالفرض دوی اسبابو لره په داسې تاثير باندې قائل وي چې بالطبع تاثير كوي او أشياء پيدا كوي حتى چې الله ﷻ پكښې هيڅ اثر نه لري، نو دا ډله هم بالاجماع كافره ډله ده. او كه په داسې تاثير ورته قائل وه چې تاثير يې بالطبع نه دی

(١) تفسير القاسمي ج٥ ص١٩٧
(٢) تفسير القاسمي ج٥ ص٢٠٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ پکښې تاثير اچولی دی، نو دا ډله که څه هم کافره ډله نه ده مګر فاسقه ده. ځکه چې د بلکې اهل السنة والجماعة مسلک دا دی چې اسباب محض عادي طريقې دي چې اشياء پرې موجودېږي، او ايجاد (وجود ورکول) د الله ﷻ خاصه ده چې هيڅوک ورسره پکښې په هيڅ وجه اشتراک نه لري.

د "شرك الأغراض"، چې څوک په يوه عبادت کښې دا غرض هم ولري چې خلک راباندې شاباس ووايي او خلکو ته ښه ښکاره شم.

دا ډول عبادت (چې په رياکارۍ سره شهرت لري) په اجماع سره کفر نه دی او سړی وربانده د اسلامي ملت څخه نه خارجېږي که څه هم اجر او ثواب نه لري او ضائع کېږي.

## يادونه

۵ـ لکه څنګه چې کله-کله په ښکو اعمالو باندې د ايمان اطلاق کېږي، لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَـٰنَكُمْ ﴾ [البقرة:۱۴۳] يعنې: او الله ﷻ داسې نه دی چې ستاسو ايمان (لمونځونه) ضائع کړي (چې بيت المقدس ته مو کړي دي). همدارنګه کله-کله په ګناهونو باندې هم د کفر اطلاق کېږي لکه چې رياکارۍ ته د شرک لقب ورکول شوی دی.

که څوک د دې څخه اضافه شرحه غواړي، هيله ده چې د همدې شرحې مرجع ته مراجعه وکړي چې د شرک په باره کښې يې ډېر په زړه پورې تشريحات کړي او هم يې د شرک مربوط زښت ډېر احاديث راغونډ کړي دي، الله ﷻ دې اجر ورکړي.

## په دې مقام کښې شرک په کومه معنی سره دی؟

۶ـ د ذکر شوې تشريح څخه څرګندېږي چې د شرک د اقسامو څخه لومړني څلور واړه قسمونه او د پنځم قسم يو احتمال په اجماع سره نور څه نه دي مګر کفر دی. نو د همدې کبله په دې مقام کښې مفسرينو کرامو شرک په کفر سره تعبير کړی دی، لکه چې همدا تفسير د رئيس المفسرين ؓ څخه روايت شوی[1]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: الله ﷻ دا خبره هيچا ته نه بښي چې د کفر د انواعو څخه په يوه نوعه باندې کافر شي ترڅو چې په خپل ژوند کښې ورڅخه توبه تائب نه شي او په الله ﷻ باندې په رښتيانۍ توګه ايمان رانه وړي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي: نو په دې کښې څه حکمت دی چې "إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُكْفَرَ بِهِ" نازل نه شو ترڅو ايت شريف په صراحت سره د کفر ټولو ډولونو ته شامل شوی وی؟

مونږ وايو چې: څرنګه چې بحث په اهل الكتابو کښې روان دی او دوی خپل ځانونه په دې باندې هم تزکيه کول چې مونږ موحدين ياستو مونږ ته به ضرور ټول ګناهونه ببښلی کېږي، نو الله ﷻ د دوی

(۱) روح المعاني ج۵ ص۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه خیال رد کړ او ویې فرمایل چې تاسو خو موحدین نه یاست، تاسو هم د الله ﷻ سره شریکان جوړ کړي دي، ایا دا شرک نه دی چې یا عیسی ؑ او یا عُزیر ؑ ته د الله ﷻ دپاره په زوی ولی باندې قائل یاست؟: ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ عُزَيْرٌ ٱبْنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ ٱللَّهِ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَٰهِهِمْ يُضَٰهِـُٔونَ قَوْلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ ﴾ [التوبة: ۳۰] یعني: او یهود وایي چې عُزیر ؑ د الله ﷻ زوی دی او نصارا وایي چې عیسی ؑ د الله ﷻ زوی دی، دا د دوی په خولو باندې خبره ده (څه دلیل ورباندې نه لري) دوی د هغو کسانو سره (په شرک کښې) مشابهت کوي چې د دوی څخه لا پخوا کافر شوي وه.

لنډه دا چې اهل الکتابو هم دا منله چې الله ﷻ شرک نه بښي خو خپل ځانونه یې موحدین ګڼل نو دوی په غوږ ووهل شوه چې تاسو هم د شرک مرتکبین یاست، که بالفرض په شرک باندې په ایت شریف کښې صراحت نه وی شوی نو ذکره شوې نکته به پټه پاتې وی.

## یادونه

۸_ ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوو ایتونو په اړوند زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي[۱]، که څوک غواړي چې د احادیثو په رڼا کښې یې په تفسیر باندې پوه شي نو هلته دې مراجعه وکړي.

## اهل الکتاب خپل ځانونه تزکیه کوي

۹_ د خپل ځان تزکیه کول په لاندې دوه ډولونو سره صورت نیسي:

الف: چې سړی نېک اعمال کوي او د مناهیوو څخه ځان ساتي. یا په بل عبارت: خپل ځان په عمل سره تزکیه کوي. مونږ مکلف یاستو چې خپل ځانونه په همدې ډول سره تزکیه او بری حاصل کړو، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾ [الشمس: ۹] یعني: یقیناً هغه څوک د نجات خاوند شو چې خپل نفس یې تزکیه کړ.

ب: چې سړی صرف په قول او وینا سره بې دلیله ځان تزکیه کوي. د اهل الکتابو تزکیه د همدې قبیلې څخه ده لکه چې په [البقرة: ۸۰] او [المائدة:۱۸] ایتونو کښې پوره شرحه شوې ده او لاندې حدیث یې هم واضحه کوي[۲] چې یوه ورځې د یهودانو یوه ډله نبي کریم ﷺ ته ورغله او خپل ماشومان یې د ځانونو سره هم وروستلي وه او ورته یې وویلې: ای محمده! ایا زمونږ په دغو اولادونو باندې کومه ګناه شته؟ نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې«لا» نشته. نو دوی وویلې چې زمونږ دې قسم وي چې مونږ د همدغو ماشومانو غوندې د ګناهونو څخه پاک یاستو، که د ورځې ګناه وکړو هغه راڅخه د شپې رژوله کېږي او که د شپې یې وکړو نو هغه راڅخه د ورځې محوه کېږي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۰۸؛ تفسیر القاسمي ج۵ ص۲۰۲

(۲) اسباب النزول للواحدي ص۱۰۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما دوی په همدغه مطلب باندې هیڅ دلیل نه درلود چې په دې دلیل باندې مونږ د ماشومانو غوندې پاسته.

## د دې ایت ارشاد

۱۰_ لکه څنګه چې په ایت شریف کښې د اهل الکتابو کړنلاره رد شوه چې خپل خانونه به یې تزکیه کول، همدارنګه مونږ ته همدغه ایت شریف ارشاد کوي چې خپل خانونه بې ضرورته تزکیه نه کړو. د ضرورت مثال یې دای دی:

الف: چې په چا باندې تهمت ولګول شي او د خان څخه دفاع وکړي.

ب: چې د اصلاح دپاره خپل خان معرفي کړي ترڅو یې جګړه ماران په خوله باندې اعتبار وکړي او د اصلاح او حکمیت موقع ورکړي. یا داسې نور صورتونه چې که سړی خپل خان معرفي نه کړي فساد جوړیږي او یا لوی خیر د لاسه وځي، مګر په هر تقدیر ضرور ده چې دروغ پکښې ونه وایي.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وایي چې: ایا دا جائزه ده چې سړی د بل چا تزکیه وکړي چې فلانی سړی ډېر ښه سړی دی؟

مونږ وایو چې: په دې باره کښې لاندې دوه ډوله احادیث روایت شوي دي:

اول: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ په حضور کښې یوه سړي د بل سړي زیاته مدحه (تزکیه) وکړه نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «لَقَدْ اهلكتُمْ أَوْ قَطَعْتُمْ ظَهْرَ الرَّجُلِ»[1] یقینًا سړی مو هلاک کړ او یا مو د ده ملا ورماته کړه. یعنې دا کار یې ښه ونه ګاڼه.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِيَّاكُمْ وَالتَّمَادُحَ فَإِنَّهُ الذَّبْحُ»[2] یعنې: یو د بل د مدحې کولو څخه خانونه وساتئ؛ چې یقینًا دا کار د سړي ذبحه کول دي.

دوهم: یوه ورځې ابو بکر الصدیق ﷺ نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! زما لنګ د بوې خوا څخه ښوییږي (نو ښنګری مې پکښې پټیږي چې په متکبرینو کښې حساب نه شم)؟ نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «إِنَّكَ لَسْتَ مِنْهُمْ»[3] یعنې: یقینًا ته د هغوی (متکبرینو) څخه نه یې.

## تطبیق

۱۲_ علماوو کرامو د ذکر شوو دوارو ډولو روایتونو تطبیق په لاندې ډول باندې کړی دی[4]:

الف: باید څوک د چا مدحه په تیقن سره ونه کړي بلکې باید ووایي چې زما ګومان دی اما حقیقت الله ﷻ ته ښه معلوم دی چې داسې به وي او که نه. او هم باید په تزکیه کښې افراط ونه کړي.

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۴
(۲) سنن ابن ماجه ج۲ ص۲۶۵
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۸۹۵
(۴) شرح النووي علی صحیح مسلم (باب النهي عن المدح)

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د هغه چا مدحه ممنوعه ده چې سړی پوهېږي چې هغه ورباندې اغواء کېږي او د تکبر د پیدا کېدلو خطر موجود وی او یا پکښې د بل ضرر احتمال وي، که نه نو کله-کله په مدحه کولو کښې مصلحت هم وي.

ج: د نهي روایت هغو خلکو ته متوجه دی چې مدحه او تزکیه د غیر مشروعو اغراضو دپاره کوي لکه چې خینې سوالگر د همدې حیلې څخه کار اخلي.

## فتیل څه معنی؟

۱۳ـ په عربي ژبه کښې دا دستور دی چې د یو شي د حقارت او قلت دپاره کله فتیل، کله نقیر، او کله قطمیر ذکر کوي. د درېواړو کلماتو معناوې لاندې لوستلی شی[۱]:

الف: "فتیل" هغه نري تار ته وایي چې د کجورې د زړي په ژوره برخه کښې قرار لري. او خینې لا وایي چې د گوتو خیري ته فتیل وایي.

ب: "نقیر" د کجورې د زړي د ژورې برخې څخه عبارت دی.

ج: "قطمیر" هغه نری سپینه پرده ده چې د کجورې په زړي باندې راتاوه شوې وي.

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّـٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَـٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ ﴾

[۵۱] ایا ته هغو خلکو ته نه گورې چې هغوی ته د کتاب (تورات) څخه څه برخه ورکړه شوې ده (چې څومره عجیبه خلک دي؟)، دوی په بوتانو او سرکشانو باندې ایمانونه راوړي او هم هغو کسانو ته وایي چې هغوی کفر(شرک) اختیار کړی دی چې همدوی (مشرکان) د هغو کسانو څخه چې (په قرآن باندې) ایمانونه یې راوړي دي د لارې (مسلک) د حیثه ډېر ښه لاره موندونکي دي (د دوی بوت پرستي بهتره گڼي).

[۵۲] همدغه (وله) هغه خلک دي چې الله ﷻ د خپل رحمت څخه لرې کړي دي (لعنت یې پرې نازل کړی دی)، او په هر چا باندې چې الله ﷻ خپل لعنت نازل کړي نو هیڅکله به ته هغه لره کومک کوونکی ونه مومې (چې د الله ﷻ د لعنت مخه ونیسي او یا نجات ورکړي).

## ارتباطونه

۱ـ په وراندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ اشارتاً فرمایلي وه چې اهل الکتاب د توحید په عقیده باندې پاتې نه دي او د مشرکانو سره په عقیده کښې گډ شوي دي. په دې ایتونو کښې په همدې

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۵۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطلب باندې دوه دليلونه ذکر کېږي چې د يو پلوه بوتانو ته دوی سجدې کوي او د بله پلوه د مشرکانو عقيده د مسلمانانو څخه بهتره ګڼي.

٢ـ دلته د اهل الکتابو د خپلو ځانونو تزکيه بيانه شوې ده او دلته د تزکيې رد بيانېږي چې دوی د شرک مرتکبين دي ايا شرکي عقيده تزکيه کېدلی شي؟

٣ـ دلته دوی پوهولی شوي دي چې ايمان راوړئ که نه نو د لعنت لرې خو لا څنګه نه ده نور لعنت به هم درباندې د الله ﷻ د پلوه درنازل شي او دلته د نور لعنت يوه نمونه ښودلې شوې ده چې دوی خپل اصلي دين (توحيد) په شرک باندې بدل کړ او توفيق يې په نصيب نه شو.

## شان نزول

د أحد د غزا څخه وروسته د مدينې منورې د اهل الکتابو (يهودانو) څخه اويا کسيزه ډله د کعب بن الأشرف په مشرۍ مکې معظمې ته لاړه ترڅو د مسلمانانو په ضد عربي تولنې (قومونه) راوپاروي چې په مسلمانانو باندې يوه ګډه حمله وکړي (همدغه جرګه د احزابو د غزا اصلي سبب وه).

عربي قومونه (قريش) د ذکر شوې جرګې ملاتړ ته زړه نا زړه وه چې تاسو خو اهل الکتاب ياست او مسلمانان هم اهل الکتاب دي، مونږ داړېږو چې زمونږ پوهنا کولو ته به مو چل جوړ کړی وي او په همدې طريقه به زمونږ بېخ وباسي؛ د هغوی سره به لاس يو کړئ، نو که ستاسو چل مطلب نه وي نو دغو دواړو بوتانو ته سجدې وکړئ ترڅو مونږ ته راڅرګند شي؛ او مونږ مطمئن شو. نو ذکره شوې اويا کسيزه جرګه ټول بوتانو ته په سجده باندې پرېوتله او د ښکاره شرک مرتکب شوه.

په دې منځکښې ابو سفيان (چې په هغه وخت کښې لا د "رضي الله عنه" مستحق شوی نه وه) د جرګې مشر (کعب بن الأشرف) ته مخ وروګرځاوه چې ته خو يوه سړی يې، رښتيا ووايه چې مونږ په سمه لاره باندې روان ياستو او که مسلمانان؟ او د دواړو مسلکونو ته يې څه شرحه ورکړه.

کعب (د جرګې مشر) وويلې چې: "اللهم والله أهدى سبيلا مما عليه محمد وأصحابه"[١] يعنې: قسم دی چې ستاسو مسلک د هغوی څخه بهتر دی او تاسو د هغوی څخه په بهتره لاره باندې روان ياست.

## د مطلب خلاصه

١ـ يعنې، ای پيغمبره! ته هغو خلکو ته نه ګورې چې دوی ته اسماني کتاب ورکړی شوی وه خو د دوی سره د ټول کتاب څخه اوس څه برخه پاتې ده او نور يې تحريف کړی دی. دوی عجيبه خلک دي، د يو پلوه خپل ځانونه موحدين ګڼي خو د بله پلوه په مزخرفاتو معتقد دي او هم بوتانو ته سجده کوي، حال دا چې دغه دواړه کارونه د توحيد د عقيدې سره منافي دي.

---

[١] تفسير البغوي ج١ ص٤٤١؛ البحر المحيط ج٣ ص٦٧٥؛ اسباب النزول للواحدي ص١٠٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برسېره پر دې دوی بوت پرستان (کافران) د مؤمنانو څخه بهتر ګڼي چې د هغوی مسلک د دوی څخه سم او سېده دی، حال دا چې بوت پرستي د مزخرفاتو څخه په غیر بل شی نه دی.

۲_ اهل الکتابو ځکه د ذکرو شوو کارونو او عقائدو طریقه غوره کړې ده چې الله ﷻ دوی د خپل رحمت څخه لرې کړي دي او کومک یې ورسره نشته، او څوک چې د الله ﷻ رحمت څخه لرې دي او کومک یې ورسره نه وي نو د هغه به همدغه حال وي چې په شرک به ورګډېږي او لا خپل ځانونه به تزکیه کوي او ځان ته به موحدین وایي. دوی به هیڅ کومک کوونکی ونه مومي چې د الله ﷻ د لعنت څخه یې خلاص کړي.

## توضیحات

۱_ که څه هم مونږ د "طَاغُوت" د اشتقاق او معناوو په باره کښې د [البقرة:۲۵۶] ایت لاندې څومره بیان چې ضرور وه لیکلی دی، هلته دې وکتل شي، خو دلته دومره اضافه کوو چې ځینو مفسرینو کرامو ترې په دې مقام کښې کعب بن الاشرف الیهودي هم مراد کړی دی لکه چې په شان نزول کښې تېر شوه[1]، مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې په خپل عموم سره پرېښودل شي ترڅو هغو ټولو معناوو ته شامل شي چې د ذکر شوي ایت لاندې بیان شوې دي، او دا ځکه چې په یهودانو باندې همدا عموم ښه تطبیق دی چې د یوې بدې څخه یې هم سرونه نه غړول او نه یې غړوي.

## جبت څه معنی؟

۲_ د "جِبْت" کلمه په اصل کښې "جِبْس" په سین سره وه، بیا سین په "ت" سره بدلون موندلی دی. "جِبْس" هغه خیري ته وایي چې په هغه کښې هیڅ ښېګڼه نه وي[2]. په دې مقام کښې مفسرینو کرامو متعدد تفسیرونه کړي دي. یا په بل عبارت، په هغو ټولو معناوو باندې یې د "جِبْت" کلمه هم تفسیره کړه په کومو سره یې د چې "طَاغُوت" کلمه تفسیره کړې ده. لکه ساحر، شیطان، بوت، کاهن او داسې نور[3].

د همدې کبله ځینو علماوو کرامو "جِبْت" او "طَاغُوت" مترادفان ګڼلي دي[4]، او ځینو دواړه کلمې د دوه وو بوتانو په نومونو باندې تفسیرې کړې دي[5].

نبي کریم ﷺ هم د "جِبْت" تفسیر د تشخیص په توګه باندې نه دی کړی بلکې فرمایلي دي چې: «الْعِيَافَةُ وَالطِّيَرَةُ وَالطَّرْقُ مِنَ الْجِبْتِ»[6] یعني: دغه درېواړه کارونه هم د جبت څخه دي.

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۱۳۹
(۲) مفردات الراغب ص۸۳
(۳) زاد المسیر ج۲ ص۱۳۹؛ التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۱۲۹
(۴) البحر المحیط ج۳ ص۶۷۶
(۵) تفسیر الطبري ج۴ ص۱۳۳
(۶) سنن ابي داؤد ج۲ ص۷۱۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. "عِيافَة" دې ته وايي چې څوک د مرغانو په نومونو باندې فالونه نيسي.

ب. "طِيَرَة" دې ته وايي چې څوک د مرغانو په الوزولو باندې فالونه نيسي. مثلا که ښي طرف ته والوت نو الوزونکي چې کوم کار ته نيت کړی دی هغه ښه دی (د دوی په ګومان)، او که چپ طرف ته والوت نو هغه ښه نه دی.

ج. "طَرْق" هغه فال نيولو ته وايي چې په خطونو او جدولونو سره يې رواج موندلی دی.

نو خکه مونږ ته دا ښه ښکاري چې په دې مقام کښې د "طَاغُوت" څخه ټول هغه ګمراه کوونکي واخستلی شي چې په سترګو باندې ليدل کېږي، لکه بوت او داسې نور. او د "جِبْت" کلمه په هغو ګمراه کوونکو حمله کړی شي کوم چې په سترګو نه ليده کېږي، لکه سحر او شيطان. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې يهودان د ګمراهۍ په يوه سبب باندې هم صرفه نه کوي، که څه هم هغه په سترګو ليده کېږي او يا نه ليده کېږي، په ټولو باندې معتقد دی او بيا لا خانونه موحدين ګڼي!.

## يادونه

۳ـ مونږ د [البقرة:۱۵۹] ايت لاندې د لعنت په باره کښې پوره معلومات ليکلي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ هيله ده علاقمندان يو ځل هلته مراجعه وکړي.

﴿أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾ أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ فَقَدْ ءَاتَيْنَآ ءَالَ إِبْرَٰهِيمَ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَءَاتَيْنَـٰهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾﴾

[۵۳] ايا دوی (اهل الکتابو) ته د ملک (اختيار) څخه څه برخه شته؟ (که بالفرض دوی لږ څه برخه درلودی) نو په دغه وخت کښې به يې خلکو ته (عمومًا او مسلمانانو ته خصوصًا) د کجورې د زړي د چاود په اندازه هم (څه خير نه وی ورکړی (ياتې خو لا نبوت او سرلوري).

[۵۴] ايا دوی د خلکو سره (عمومًا او د مسلمانانو سره خصوصًا) په هغه څه باندې حسد کوي چې هغوی ته الله ﷻ د خپل فضل څخه څه شی ورکړی دی؟، نو يقينًا مونږ خو د ابراهيم ﷺ ټبر ته کتاب او با عمله علم ورکړی وه، او هم مو دوی ته لويه پادشاهي (د دنيا او آخرت سيادت) ورکړی وه.

[۵۵] نو د دوی ځينې هغه کسان وه چې ايمان يې پرې راوړ او د دوی ځينې هغه کسان وه چې ېيرته ترې تاو شوه (او عقيده يې ورباندې ونه کړه). او دوزخ د سوزوونکي په حيث بس دی (د عناديانو سره لياقت لري).

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: يهودان چې د مشركانو دين د مسلمانانو د دين څخه بهتر ګڼي د دې غير منصفانه قضاوت وجه به يا دا وي چې د الله ﷻ د رحمت او فضل وېشنه به د دوی په لاس وي، هغه شی به ښه وي چې دوی ورته ښه ووايي او هغه شی به بد وي چې دوی ورباندې د بد نوم کېږدي. نو آيا دوی د الله ﷻ د رحمت په وېشلو کښې لږ څه برخه لري؟ دوی پکښې هيڅ برخه نه لري او دليل يې دا دی چې دوی په انتهاء درجه بخيلان دي. که بالفرض د دوی د لاسه څه پوره وی او ناکاره شی د دوی په خولو باندې ښه جوړېدی او يا بالعکس ښه شی د دوی په خولو باندې ناکاره ګرځېدی نو دوی به تولو خلکو ته د يوه نقير (د کجورې د زړي د چاود) په اندازه هم په څه ښېګڼه نه وی قائل شوي او تولې ښېګڼې به يې په ځانونو پورې حصرې کړې وی، چې تولې ښېګڼې به د دوی وې او تولې بدی به د نورو خلکو.

او يا به د همدې غير منصفانه قضاوت وجه دا وي چې دوی د الله ﷻ په فضل باندې چې د دوی څخه په غير يې هر چا ته ورکړی دی رخه او حسد کوي او د حسد د کبله د لمر سترګه په ګوته پټوي.

۲ـ نو کله چې اوله وجه نه ده، ځکه چې مونږ په "يو لکو څلرېښتو زرو" زيات يا کمو پيغمبرانو عليهم السلام باندې د نبوت پېرزوينه کړې ده او خصوصاً د ابراهيم عليه السلام اولادې ته مو هم کتاب او هم باعمله علم ورکړی دی او د لوی ملکيت خاوندان مو ګرځولي دي چې د نن ورځې پورې ابراهيم عليه السلام د "رئيس الموحدين" په نوم يادېږي، او هم د موسی عليه السلام او د هارون عليه السلام پاچاهي د هيچا څخه پټه نه ده چې د فرعون متکبر او حاسد پاچاهي يې د خاورو سره برابره کړه، همدارنګه د داؤد عليه السلام او د سليمان عليه السلام پاچاهی هر چا ته ځرګندې دي چې د جالوت کُبرجن يې هواره کړه او د بلقيس تخت يې د سترګو په رپ کښې ځان ته حاضر کړ. نو که بالفرض الله ﷻ د خپل فضل په ورکړه کښې د يهودانو څه مداخله منلې وی او د دوی خبرې څه اثر درلودی نو ذکر شوي فضلونه به د دوی څخه په غير هيچا ته نه وی ورکړی شوي.

نو معلومه شوه چې د غير منصفانه قضاوت وجه د دوی حسد او کينه وه او بس. مګر دوی ته په کار دي چې د حسد څخه لاس واخلي، ځکه چې د يو پلوه حسد د الله ﷻ د فضل مخه نه شي نيولی او د بله پلوه د ابراهيم عليه السلام د تېر څخه محمد ﷺ هم دی چې د اسماعيل عليه السلام د زوزات څخه دی، آيا دا معقوله ده چې يهودان د همدې تېر څخه يوازې د اسحاق عليه السلام او يعقوب عليه السلام په زوزات پورې تول فضائل منحصر ګڼي؟

مونږ د خپلو فضائلو مخ لومړی د يعقوب عليه السلام زوزات ته ورتاو کړی وه او تر ډېره وخته پورې په همدوی کښې د نبوت سلسله جاري وه خو دوی همدغه فضائل (نبوات) هم په رښتياوو معناوو کښې ونه منل او عقيده يې ورباندې ونه کړه، بلکې وخت په وخت ترې بېرته تاو شوه او د الله ﷻ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فضائل بې په لغته ووهل او د نبوت سلسله ورځخه قطعه شوه. یا په بل عبارت: تول په اتفاقي توګه پرې معتقد نه شوه چا پرې ایمان راوړ او چا ورته شا کړه.

او دا دی نن هم خینې منصفانه قضاوت کوي او په محمد ﷺ باندې ایمان راوړي لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه او د ده امثال، او خینې په خپل کفر باندې کلک دي او د اسلام ځخه ورته شرکي مسلک بهتر ښکاري.

۲_ نو ای پیغمبره! ته مه خپه کېږه چې په دوی باندې دلایل تاثیر نه کوي، ځکه چې ستا په دعوت کښې نقصان نشته بلکې د دغسې عنادیانو حاسدانو دپاره د دلایلو وړاندې کول ځه ګټه نه لري رسولی او ځه تاثیر ورباندې نه کوي، ترڅو چې په سوزونکي اور (دوزخ) کښې واچولی شي نو ابله په ابله عقل به یې سر ته ورشي.

## توضیحات

۱_ د همدې ذکر شوي ایت شریف لاندې دوه نظائر ولولئ:

الف: ﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَـٰذَا الْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ۝ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ﴾ [الزخرف: ۳۱_۳۲] یعني: او دوی وایي چې دا قرآن کریم د دوه وو کلو (مکې او طائف) ځخه ولې په یوه لوی سړي باندې نازل نه کړی شو. ایا ستا د رب ﷻ د رحمت وېشنه دوی کوي؟ (ایا دوی ځه واک لري چې په فلاني دې نازل کړی شي او په فلاني دې نازل نه کړی شي؟).

ب: ﴿قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّىٓ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ الْإِنسَـٰنُ قَتُورًا﴾ [الإسراء: ۱۰۰] یعني: ورته ووایه که (بالفرض) تاسو زما د رب د خزانو ملکیت (واک) درلودی نو په دغه کښې به مو هم د انفاق (ختمېدلو) د وېرې شومتیا غوره کړې وي او انسان شومتیا کوونکی دی.

نو په دې مقام کښې یې لنډ مطلب دا کېږي چې: ای یهودانو! که تاسو هر څومره هلې ځلې وکړئ چې د نبي کریم ﷺ د نبوت د وړاندې تګ مخه به ونیسئ، ستاسو د لاسه هیڅ نه کېږي. لکه څنګه مو چې د نبي کریم ﷺ د پیغمبر ګرځېدلو کښې ځه د لاسه پوره نه وه همدارنګه مو د ده په وړاندې تللو کښې هم رخه او حسد ځه تاثیر نه لري، تاسو نور ځه نه کوئ فقط د الله ﷻ غضب لا نور هم خانونو ته اضافه کوئ.

## عظیم ملک ځه شی وه؟

۲_ که ځه هم مفسرینو کرامو د هغه عظیم ملک دېر تفسیرونه کړي دي چې د ابراهیم علیه السلام ټبر ته ورکړی شوی وه[۱]، خو مونږ ته د الماوردي رحمه الله تفسیره غوره ښکاره شو چې الله ﷻ دوی ته هم دنیاوي سیاجت ورکړی وه او هم یې د نبوت خاوندان ګرځولي وه چې دېر ځرګند مثالونه یې داود علیه السلام او سلیمان علیه السلام دي.

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۱۴۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾ ﴾

[۵۶] یقینًا هغه کسان چې زمونږ په ایتونو باندې کافر شوي دي ډېر ژر به یې اور (دوزخ) ته ورداخل کړو. هر کله چې د دوی پوستکي (څرمنې) پخې شي (وسوزوي) دوی لره به نور پوستکي (څرمنې) ورتبدیلوو، د دې دپاره چې دوی (په دوامداره توګه) عذاب وڅکي. بې شکه الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی (او هم) د حکمت څښتن دی.

[۵۷] او هغه کسان چې دوی ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، ژر به دوی داسې باغونو ته ورداخل کړو چې لاندې ترې (څلور ډوله) ویالې بهېږي، په داسې حال کښې چې دوی به پکښې همېشه وي همېشه. دوی (جنتیانو) لره هلته پاکیزه جوړې (ښځې) شته او هم به دوی ډېر ګڼ (ښه) سیورې ته ورداخل کړو.

## د مطلب خلاصه

څرنګه چې په وړاندېني ایت کښې خلک په دوه وو ګروپونو وېشلي شوي وه چې ځینې ایمان راوړي او ځینې مخ ببرته ستنېږي او کفر اختیاروي، نو په دې ایتونو کښې الله ﷻ د دواړو ډولو اُخروي حالت تمثیل کړ. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې:

١ـ څوک چې زمونږ په ایتونو باندې کفر اختیاروي او په همدې حالت باندې مړه کېږي نو په یقین سره به دوی داسې ګرم سوزوونکي اور ته ورداخل کړو چې سات په سات به یې پوستکي پخوي او تورې ایرې به ترې جوړېږي، خو سمدستي به ایرې شوي پوستکي رومبني حالت ته اړوو ته به وایې چې دا نور پوستکي دي. او دا کار به د دوام په توګه جاري وي ترڅو د دوی په تعذیب کښې څه سستي واقع نه شي او ترڅو په ابدي توګه د عذابونو مزې وڅکي.

بې شکه الله ﷻ غالب دی، د ارادې مخه یې څوک نه شي نیولی چې کافران د عذابه خلاص کړي. او د حکمت څښتن دی، همدا ډول تعذیب د حکمت غوښتنه ده.

٢ـ بالمقابل چا چې ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي نو دوی به ډېر ژر داسې باغونو ته ورداخل کړو چې د ونو لاندې به یې څلور ډوله ویالې (شوده، شراب، شات او صفا اوبه) بهېږي. دوی به په دې نعمتونو کښې همېشه اوسېږي او دا بد الآباد پورې یې همدا ځای دی.

برسېره پر دې، دوی (جنتیانو) لره به همدلته پاکیزه ماندینې هم وي چې نه به ظاهري نجاست

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لري لکه حیض، بولې او داسې نور، او نه به باطني پليتي لري لکه بد خوی، دروغ، ناندري او داسې نور او جنتیان به ډېر ګڼ او سوړ سیوري ته ور داخل کړو چې په هیڅ ډول تکلیف به نه حس کوي.

## توضیحات

۱ـ نبي کریم ﷺ د یوه کافر پوستکي په دوزخ کښې داسې شرحه کړې ده چې: «إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الْكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ»[1] یعنې: بې شکه د کافر د پوستکي پېروالی (په دوزخ کښې) دوه څلوېښت ګزه دی او د ژامې یو غاښ یې د اُحد د غره په مثل دی او د کښېناستلو ځای له دوزخ څخه دومره پراخه دی لکه ما بین د مکې معظمې او مدینې منورې.

نو د همدومره پېروالي سره سره به سات په سات پخېږي (سوزي) او بېرته به اولني حالت ته اوړي او بیا به سوزي او پخېږي او همداسې تر ابد الآباد پورې.

یو ورځې د عمر الفاروق رضی الله عنه په حضور کښې معاذ رضی الله عنه ذکر شوی ایت شریف تفسیر کړ چې: «تُبَدَّلُ فِي كُلِّ سَاعَةٍ مِائَةَ مَرَّةٍ» په هر سات کښې په سل کرته تبدیلېږي. نو عمر رضی الله عنه وویلې چې: «هَكَذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»[2] همدارنګه ما هم د نبي کریم ﷺ څخه اورېدلي دي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: کوم پوستکي چې د کافرانو سره په دنیا کښې موجود نه وه او په معاصیو کښې یې ورسره اشتراک نه دی کړی نو په څه منظور ورسره په تعذیب کښې شرکت لري؟

عین پوښتنه د هغو پوستکو په باره کښې هم سړي ته ذهن ته ورځي چې په دوزخ کښې نوي- نوي تبدیلېږي.

مونږ وایو چې:

الف: پوستکي که څه هم تغیر مومي مګر تغیر یې ذاتي تغیر نه دی بلکې صفتي تغیر دی، لکه څوک چې یوه زرګر ته د زرو ګوته ورکړې چې د همدې ګوتې څخه بله ګوته جوړه کړه[3].

ب: په دوزخ کښې اصلي معذب خو د کافر روح دی چې د جسد په ذریعه باندې سوزول کېږي او پوستکي یې د دې دپاره تجدیدېږي چې تعذیب یې کم نه شي ځکه چې د سوزول شوي پوستکي بیا سوزول لږ څه تخفیف پیدا کوي او د کافرانو عذاب خو د تخفیف وړ نه دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ﴾ [البقرة: ۱۶۲] یعنې: د دوی څخه به نه عذاب تخفیف کړی شي او نه به دوی ته مهال کړی شي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۴۳
(۳) تفسیر الطبري ج۴ ص۱۴۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه دوهم جواب علامه الالوسي رحمه‌الله غوره کړی دی او څه نور تحقیق یې هم پکښې کړی دی[1] چې مونږ یې د اوږدوالي د کبله دلته نه شو رانقلولی، مګر مونږ ته اول جواب غوره ښکاري او دا څکه چې د قیامت په ورځ به د ټولو خلکو بدنونه د اصلي موادو څخه جوړوي او فقط صفتي بدلون به ولري.

## ایا په جنت کښې سیوري شته؟

۳_ د جنت په صفاتو کښې دا هم شته چې هلته به د هر ګڼ سیوري وي لکه چې د ﴿ ظِلاً ظَلِيلاً ﴾ کلمه وریاندې دلالت کوي. څکه د هر شي دپاره چې د همغه شي د لفظ څخه صفت جوړ شي نو په زیات قوت باندې یې دلالت کوي. لکه "لَيْلٌ لَيْلٌ" بنه پخه شپه.

برسېره پر دې نبي کريم ﷺ فرمایلي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ سَنَةٍ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: وَظِلٍّ مَمْدُودٍ»[2] یعني: داسې ونې هم شته چې یو راکب (په اس باندې سور) به یې د سوري لاندې سل کاله مزل کوي (خو تمامولی به یې نه شي) که مو خوښه وي دا ایت ولولئ: ﴿ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴾ [الواقعة: ۳۰] یعني: جنتیان به په اوږد کړی شوي سوري کښې وي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: سیوری خو په هغو ځایونو کښې تحقق مومي چې هلته د لمر سترګه طلوع او غروب کوي، نو څرنګه چې په جنت کښې نه لمر راخېژي او نه پرېوزي نو سیوری به پکښې د کومه شي؟

مونږ وایو چې:

الف: د "ظِلٌّ" کلمه په هغه ځای کښې استعمالېږي چې هلته لمر نه وي، برابره خبره ده چې د لمر مخه ونې یا بل شي نیولې وي لکه د دنیا عام سیوری، او یا بالکل هلته لمر موجودیت ونه لري[3] لکه په دنیا کښې د صبح صادق څخه نیولې آن تر لمر راختلو پورې، او یا د لمر د لوېدلو څخه نیولې آن تر تروږمۍ پورې، په دغو دوارو وختونو کښې بنه پخ سوری وي خو لمر په أفق کښې موجودیت نه لري.

د جنت سیوری د همدې قبیلې څخه دی چې هلته بنه معتدله هوا ده (نه ډېره ګرمه ده او نه ډېره یخه). برسېره پر دې تروږمۍ هم نه ده، د همېشه دپاره بنه پوره رڼا ده. الله ﷻ دنیا د لمر په سترګه رڼا کوي خو جنت یې د لمر څخه په غیر روښانه کړی دی.

هو! د "فَيْءٌ" کلمه د "ظِلٌّ" د کلمې څخه لږ څه خاصه ده چې په هغه سیوري باندې یې اطلاق کېږي چې لمر موجود وي خو د رڼا مخه یې په څه شي باندې بنده شوې وي.

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۵۸
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۶۱
(۳) مفردات الراغب ص۳۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ځيني مفسرين كرام وايي چې د جنت ونې او باغونه په داسې ډول باندې كښېنولي شوي او تعميرات يې په داسې توګه اباد كړى شوي دي كه بالفرض هلته لمر وى نو هلته به ضرور ګڼ او ياخه سيوري موجود وى[١].

ج: دا هم څه لرې نه ده چې الله ﷻ د جنتونو د خوشاليو او استراحتونو څخه په ظل سره تعبير كړى وي لكه چې عادل پاچا ته د "ظِلّ الله" (د الله ﷻ رحمت) لقب وركول كېږي، د همدې كبله الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴾ [المرسلات: ٤١] يعني: يقيناً متقيان په سيورو (راحتونو) او چينو كښې دي.

يا په بل عبارت: د "ظِلّ" د كلمې استعمال په استراحت او خوشاليو كښې مشهور دى او خلك ورسره عادت دي نو ځكه الله ﷻ د جنتي خوشاليو څخه هم په ﴿ ظِلاًّ ظَلِيلاً ﴾ سره تعبير وكړ.

د دې نظير دا دى چې خلك عادتاً د اكثرو نعمتونو څخه سبا او بېګاه استفاده كوي نو الله ﷻ د همدې عادت مراعات وكړ او د جنت په نعمتونو كښې يې هم سبا او بېګاه استعمال كړ، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ [مريم: ٦٢] يعني: او جنتيانو لره په جنت كښې سبا او بېګاه د دوى روزي (نعمتونه) شته دي (په دوامداره توګه).

كه بالفرض د همدې عادت مراعات نه وي ساتلى شوى نو هلته خو نه سبا شته او نه بېګاه!.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا۟ ٱلْأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحْكُمُوا۟ بِٱلْعَدْلِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَأُو۟لِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾ ﴾

[٥٨] بې شكه الله ﷻ تاسو ته امر كوي چې امانتونه (هر ډول چې وي) خپل اهل ته وسپارئ (كه څه هم د امانت اهل كافر وي) او (دا امر هم درته كوي) چې كله تاسو د خلكو په منځكښې حكم كوئ چې په انصاف سره حكم وكړئ (كه څه هم خلك كافر وي).

يقيناً هغه شى ډېر ښه دى چې الله ﷻ پرې تاسو ته نصيحت كوي (يعنې امانتداري او عدالت)، يقيناً الله ﷻ اورېدونكى (او) لېدونكى دى.

[٥٩] اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! د الله ﷻ اطاعت وكړئ او هم د پيغمبر ﷺ اطاعت وكړئ، او هم د اولو الأمرو (اطاعت وكړئ) چې ستاسو (مسلمانانو) څخه وي.

---

(١) زاد المسير ج٢ ص١٤٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که په کوم شي کښې مو سره منازعه (اختلاف) واقع شوه نو هغه الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ ته ورتاو کړئ (که څه هم ډېر وړوکی شی وي). که چرته تاسو یاست چې په الله ﷻ او په وروستني ورځې مو ایمان راوړی وي. دا کار (ورتاوول) ډېر ښه دی او د عاقبت د حیثه ډېر ښائسته دی.

## شان نزول

مفسرینو کرامو لیکلي دي چې اولنی ایت شریف د عثمان ابن ابي طلحه رضی الله عنه په هکله نازل شوی دی، کله چې مکه معظمه فتحه شوه او نبي کریم ﷺ وغوښتل چې کعبې شریفې ته ورداخل شي خو کُنجي یې د نوموړي عثمان رضی الله عنه سره وه او نبي کریم ﷺ ته یې ورکړه او ورته وویلې: «هَاكَ بِأَمَانَةِ اللهِ تَعَالَى»[1] واخله د الله ﷻ په امانت سره. نو نبي کریم ﷺ ترې کونجي واخستله او کعبې ته ورداخل شو. د څه وخت وروسته چې د کعبې شریفې څخه رابېرون شو نو نوموړی ایت شریف یې لوسته. تا په ویل چې دغه ایت شریف د کعبې په داخل کښې نازل شوی، لکه چې ځینې علماء کرام وایي چې دغه ایت د کعبې شریفې په داخل کښې نازل شوی دی[2].

نو کله چې نبي کریم ﷺ د کعبې شریفې څخه رابهر شو کنجې یې بېرته ذکر شوي عثمان رضی الله عنه ته ورکړه او ورته یې وفرمایل: «هَاكَ مِفْتَاحَكَ يَا عُثْمَانُ»[3] یعني: ای عثمانه! خپله کُنجي بېرته واخله چې نن ورځ د نېکۍ او د وفادارۍ ورځ ده، چې دا دې د همېشه دپاره ستا په اولاده کښې وي[4].

او هم دوی لیکلي دي چې دوهم ایت شریف د خالد بن ولید رضی الله عنه په باره کښې نازل شوی دی، کله چې نوموړی صحابي رضی الله عنه نبي کریم ﷺ په یوه سریه کښې آمر ټاکلی وه او هلته یې د یوه مجاهد (عمار بن یاسر رضی الله عنه) سره څه لانجه واقع شوې وه، آن تردې چې سریه بېرته راستنه شوه نو لانجه یې د نبي کریم ﷺ په وړاندې د نهایي فیصلې دپاره مطرحه کړه. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او د آمر اطاعت یې لازم کړ[5].

او په ځینو روایتونو کښې شته چې دوهم ایت د عبد الله بن حذافه رضی الله عنه په متعلق نازل شوی دی، چې نوموړی صحابي رضی الله عنه په یوه سریه کښې د آمر په حیث ټاکلی شوی وه خو هلته په څه شي باندې په غُصه شوی وه او مجاهدینو ته یې امر کړی وه چې اور بل کړئ او ځانونه پکښې وسوزئ! نو یوه مجاهد رضی الله عنه ورته وویلې چې مونږ خو د دې دپاره ایمان راوړی دی چې د اور څخه نجات ومومو نو ترهغه دې دا امر نه منو ترڅو چې نبي کریم ﷺ ته ورشو. نو کله یې چې نبي کریم ﷺ ته قیصه بیانه کړه نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَوْ دَخَلُوهَا مَا خَرَجُوا مِنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ»[6]

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۶۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۵ ص۲۴۴
(۳) سیرت ابن هشام ج۴ ص۳۲
(۴) الدر المنثور ج۲ ص۵۷۱
(۵) اسباب النزول للواحدي ص۱۰۶
(۶) صحیح البخاري ج۲ ص۶۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که اور ته یې ځانونه ور داخل کړي وي نو د قیامت د ورځې به تر ابده په کې وي او ... یعني
په هم ... وي، یقیناً د امر اطاعت خو په شرعي معروف چوکاټ کښې واجب دی او عملي قانون
په اړه کښې اجوله خو په شرعي چوکاټ کښې شامله نه ده

## ارتباط

۱ـ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د دواړو خیانو او چښتیانو عاقبت بیان کړی وه چې همیشه به په سختو عذابونو باندې مبتلا وي او دوی به په یې اندازه نعمتونو کښې خوشالي کوي. نو په دې ایتونو کښې د ذکر شوي عاقبت اسباب بیانوي چې دوزخیان په امانت کښې خیانت کوي او جنتیان د خیانت څخه ځانونه ساتي او د شرعي چوکاټ په مطابق عملي ژوند تیروي.

۲ـ تر څو وړاندې په اهل الکتابو باندې د لعنت بیان تیر شوي دي نو دلته مسلمانان په قوم باندې وهل کیږي چې د اهل الکتابو د لعنتي جوړېدلو لویه وجه دا وه چې دوی به هیڅ ډول امانت کښې په خیانت باندې صرفه ونه کړه آن تردې چې اسماني امانت تورات، انجیل یې هم تحریف کړ، نو پام کوئ چې تاسو د هغوی په قدم باندې لاړ نه شئ تر څو د قیامت د ورځې پوځ یې په امانتونو کښې خیانت واقع نه کړئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! که څه هم ممکنه ده چې تاسو به په لوړو باندې امیران جوړ شئ مګر په یاد ولرئ چې مطلق العنان امیران نه یاست بلکې الله ﷻ په تاسو باندې امر کړی چې

الف. هر ډول امانتونه مستحقینو ته ورسپارئ که څه هم د الله ﷻ امانتونه وي او یا د بندګانو پرسپاره پر دي، په خپلو ماموریتو باندې د استحقاق څخه په غیر امر مه کوئ چې په ګناه کولو باندې یې مکلف کړئ او یا ورته وواییې چې ځانونه مړه کړئ.

ب. کله چې تاسو د خلکو په منځو کښې حکم کوئ که څه هم هغوی مسلمانان نه وي هم په انصاف او عدالت سره حکم وکړئ یوه طرف ته هم ونډې مه وهئ.

کیدلی شي چې تاسو په امانتونو کښې د خیانت او په حکمیت کښې د بې انصافۍ په اضرارو باندې سمدستي پوه نه شئ خو وروسته به پوه شئ چې الله ﷻ تاسو ته څومره ګټور نصیحتونه کوي او په څومره مفیده لاره باندې مو سوق کوي.

هو! دا په یاد ولرئ چې الله ﷻ ستاسو د ټولو اقوالو اوریدونکی او هم مو د ټولو کړو وړو لیدونکی دی. که بالفرض تاسو د بندګانو څخه کوم یو قول یا فعل پټ کړئ نو د الله ﷻ څخه یې نه شئ پټولی.

۲ـ ای مؤمنانو! کله چې تاسو ماموریں یاست نو تاسو ته لاندې هدایات درکول کیږي:

الف. د الله ﷻ اطاعت کوئ او قرآني ایتونه د نظره مه غورځوئ نو که تاسو ته خپل امیران د قرآن کریم څخه مخالف امر وکړي د هغه اطاعت مه کوئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه د نبي کريم اطاعت کوئ او ستاسو د آمرينو کوم يو امر چې د احاديثو څخه مخالف وي د هغه اطاعت مه کوئ.

ج: د خپلو هغو اولو الأمر (آمرانو) امر منئ چې هغوی ستاسو د جملې څخه وي او مسلمانان وي، نو لکه څنګه چې په تاسو باندې د الله ﷻ څخه په عصيان کښې د آمر اطاعت نشته همدارنګه درباندې د کافر اطاعت هم نشته، کافر ستاسو آمر نه شي جوړېدلی.

د: د اولو الامر اطاعت په تاسو باندې په هغه حکم کښې واجب دی چې اتفاقي وي او يو تر بله پکښې اختلاف نه لرئ. يا په بل عبارت، چې په هغه حکم باندې تاسو ټولو اجماع کړې وي او ټولو ته شرعي حکم ښکاري او هيڅوک پکښې مخالف نه وي.

او که بالفرض اتفاقي حکم نه وه او په ايت يا حديث کښې هم په صراحت سره ذکر نه وه چې اختلاف د منځه ورک کړئ نو په دغه وخت کښې خپله منازعه په قياس باندې د منځه يوسئ چې نصوصو ته مراجعه وکړئ نو هر طرف چې په قياس باندې تائيد شو همغه شرعي حکم دی او عملي کول يې درباندې واجب دي. او دا ځکه چې قياس د کتاب الله په بنياد حجت ګرځېدلی دی.

۳ـ ای مؤمنانو! که تاسو په الله ﷻ او د قيامت په ورځ رښتيانی ايمان راوړی وي او غواړئ چې د خپل ايمان مظاهره په اعمالو کښې هم وکړئ نو په ذکرو شوو هدايتونو باندې عمل وکړئ چې دا ستاسو د ايمان ډېره ښه مظاهره ده او ستاسو دپاره د يو پلوه د روزمره ګذارې د حيثه بهتر دی او د بله پلوه يې عاقبت هم ډېر ګټور او ښائسته دی چې الله ﷻ به هم په دنيا کښې او هم په آخرت کښې درباندې خپل فضلونه ووروي او عاقبت به مو خراب نه شي لکه څنګه چې د اهل الکتابو عاقبت خراب شو او د الله ﷻ په غضب باندې ککړ شوه.

## توضيحات

۱ـ ذکر شوې دواړه ايتونه که څه هم په خاصو-خاصو مواردو کښې نازل شوی دی مګر د معانيو د عموميت په اعتبار سره په دومره لويو حقائقو باندې مشتمل دی چې که بالفرض نور قرآن کريم نه وی نازل شوی صرف همدغو دواړو ايتونو هم د انسانانو د هدايت دپاره کفايت کاوه[١].

## د امانت تعريف او ډولونه

۲ـ د ﴿ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ ﴾ کلمه د "الأمَانَة" جمعه ده چې د "أمَن" سره په اصلي حرفونو کښې متحده ده او د مصدر صيغه ده. "أمَن" اطمنان او ډاډ ته وايي چې په مقابل کښې يې خوف (ډار) استعمالېږي.

مګر په دې مقام هغه کار يا شی ته امانت ويل کېږي چې په پوره کولو کښې يې اطمنان وي او په نه پوره کولو کښې يې اضطراب او وارخطايي موجودېږي. نو په دې معنی سره يې په مقابل کښې خيانت استعمالېږي او د مصدري معنی څخه اوخې، د همدې کبله يې په ايت شريف کښې د جمعې

(١) تفسير المنار ج٥ ص١٦٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په صیغې سره لولو که نه نو مصدر خو چې په خپله معنی سره وي، د همېشه دپاره مفرد وي نه جمعه کېږي او نه تثنیه کېږي.

لنډه دا چې د مکلف په ذمه پورې مربوط هر یو حق د امانت په نامه یادېږي، برابره خبره ده چې هغه د حقوق الله یا حقوق العباد څخه وي او هم برابره ده چې هغه فعلي یا قولي او بالآخره یا اعتقادي وي ټولو ته امانات وایي[۱]. د ښه وضاحت دپاره لاندې څو مثالونه د نظره تېر کړئ:

الف: انسان ته الله ﷻ داسې استعداد ورکړی دی چې د همدې استعداد په برکت سره په ځمکه کښې خلیفه ودرول شوی دی د قیامت په ورځ به ترې د همدې امانت پوښتنه کېږي. همدغه استعداد ته په [الأحزاب: ۷۲] ایت کښې اشاره شوې ده.

ب: مشرتوب یا آمریت هم یو امانت دی که څه هم ډېره وړوکې مشري او آمریت وي. لاندې څو حدیثونه ولولئ:

اول: ابو ذر ﷺ وایي چې ما یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه د څه آمریت غوښتنه وکړه نو نبي کریم ﷺ زما په اوږه باندې لاس کېښود او بیا یې راته وویلې چې: «يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا»[۲] یعني: ای آبو ذره! ته کمزوری یې او یقینًا دا (آمریت) یو امانت دی او یقینًا دا د قیامت په ورځ رسوايي او پښېماني ده. مګر د هغه چا په باره کښې نه چې هغه یې په حق سره واخلي (سوال یې ونه کړي چې ما آمر مقرر کړه) او هغه څه پوره کړي چې په همدې آمریت کښې ورباندې واجبېږي.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږد حدیث کښې فرمایلي دي چې: «كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»[۳] یعني: هر یو ستاسو شپونکی (آمر) دی او مسئول دی د خپل رعیت څخه، نو امام شپونکی دی او دخپلې رمې په باره کښې مسئول دی، نارینه شپونکی دی او د کور کهول په باره کښې مسئول دی، زنانه د خپل مېړه په کور باندې شپونکې ده او په همدې متعلق مسئوله ده او غلام (یا مزدور) د خپل مولی (یا بادار) په مال باندې شپونکی دی او د همدې پوښتنه ورڅخه کېږي، خبردار! هر یو ستاسو راعي دی او هر یو ستاسو د خپل رعیت مسئول دی.

درېم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ شَيْئًا فَوَلَّى رَجُلًا وَهُوَ يَجِدُ مَنْ هُوَ أَصْلَحُ لِلْمُسْلِمِينَ مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ»[۴] یعني: هرڅوک چې د مسلمانانو د کارونو څخه د یوه وړوکي کار متولي (امیر) شي نو (په یوه چوکۍ باندې) یو داسې سړی وټاکي چې د هغه څخه ښه صالح سړی (د هغې چوکۍ دپاره) هلته موندلی شي نو بې شکه (نوموړي آمر) د الله ﷻ او د ده لیږلي شوي ﷺ او د ټولو مؤمنانو سره خیانت وکړ.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۱۹۲
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۲۱
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۲۴
(۴) تفسیر القاسمي ج۵ ص۲۴۶ بحوالة الحاکم

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هغه مشر چې د مامورینو په ټاکنې کښې لیاقت او اهلیت ته نه ګوري بلکې د قرابت یا دوستۍ او یا د بلې کومې وجې په مراعات سره ټاکنه کوي چې د ده د ګوند غړی وي او یا ورته چاپلوسي کوي او یا یې خور او لور ته په تمه وي، یقیناً چې هغه مشر خائن دی او د امانت ساتنه یې نه ده کړې.

ج: کومې خبرې چې خبرې کوونکی یې په افشاء کولو باندې خوښ نه وي هغه ټولې امانتې دي که څه هم خبرې کوونکي په اورېدونکي باندې نه وي سپارلې چې دا پټې وساته. نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ»[۱] یعنې: کله چې یو سړی یوه خبره وکړي او بیا (شاوخوا) وګوري (چې بل چا خو به نه وي اورېدلې) نو هغه خبره امانته ده.

## چې امانت اهل ته ونه سپارل شي

۳ـ کله چې امانت خپل اهل ته ونه سپارل شي په هغې ځای کښې به ضرور ګډوډي پېښېږي او نظام به خرابېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اورېده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ اهله فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ»[۲] یعنې: کله چې کار غیر اهل (غیر مستحق) ته وسپارل شي نو د قیامت انتظار وباسه (دا عمل د قیامت د علاماتو څخه دی).

ب: په بل اورېد حدیث کښې نبي کریم ﷺ د قیامت د علاماتو څخه دا هم ښودلې ده چې: «وَكَانَ زَعِيمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ»[۳] یعنې: د قوم مشر به هغه څوک وي چې زیات فاسق او فاجر وي او د سړي اکرام به د هغه د شر د ډاره کېږي نه د استحقاق د کبله.

ج: کله چې نبي کریم ﷺ ته خبر ورسېده چې د فارس خلکو په خپلو خانو باندې د کسری لور ملکه وګرځوله نو ویې وفرمایل چې: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً»[۴] هیڅکله به داسې قوم فلاح ونه مومي چې خپل کار ښځې ته وسپاري (او په خانو باندې یې مشره جوړه کړي).

## عدل څه معنی؟

۴ـ د "عَدْل" کلمه خو اصلاً د برابرۍ په معنی سره ده خو د هغو دوه شیانو په منځکښې په زېر سره "عِدْل" استعمالېږي چې هغه په سترګو باندې لېده کېږي، لکه چې د اوښ د بار دوه وړ اندیو ته "عِدْلان" وایي. او کوم شیان چې په سترګو باندې نه لېده کېږي هلته "عَدْل" او "عَدَالَة" استعمالېږي لکه شرعي احکام او شرعي فیصلې[۵].

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۴۴
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۳۷
(۵) مفردات الراغب ص۳۳۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څرنګه چې په ایت شریف کښې د ﴿أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾ کلمې نازلې شوې دي نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې:

الف چې تاسو د عدالت مراعات وکړئ که څه هم دواړه جانبه مسلمانان یا دواړه کافران وي او یا یو جانب کافر او بل جانب مسلمان وي.

ب د عدل ساتل ضرور دي که څه هم دواړه جانبه پېژنئ یا یې نه پېژنئ او یا یوه خوا پېژنئ او بله خوا نه پېژنئ.

ج که څه هم دواړه جانبه ستاسو د ګوند غړي او یا د بېلو- بېلو ګوندونو غړي وي یا مو دواړه خپلوان وي یا دواړه پردي او یا مختلف وي.

برسېره پر دې، څرنګه چې په ایت شریف کښې په مطلق حکمیت کښې د عدالت په ساتلو باندې امر شوی دی نو په ټولو قضایاوو کښې یې که څه هم د ېرې ورې ورې قضایا وي او یا رسمي یا غیر رسمي وي په ټولو کښې عدل کول واجب دي.

## یوه عجیبه قیصه

۵ـ یوه ورځې دوه هلکانو خطونه لیکلي وه او حسن ﷺ ته یې وړاندې کړه چې د کوم یوه ښه خط دی. په عین وخت کښې پرې د علي ﷺ سترګې ولګېدې نو ورته یې وویلې چې: اې زویه! ګوره چې څنګه حکم کوې؟ (ښه فکر وکړه چې بې عدالتي ونه کړې) «فَإِنَّ هٰذَا حُكْمٌ وَاللهُ سَائِلُكَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] یعنې: څکه چې دا هم یو حکمیت دی چې الله ﷻ د همدغه حکمیت هم د قیامت په ورځ ستا څخه سوال کوونکی دی (چې عدل دې کړی دی او که نه؟!).

## یادونه

۶ـ ځینو مفسرینو کرامو د دوهم ایت څخه د فقهي څلورو دلایلو څخه د اجماع او قیاس د دوه دلیلونو حجیت هم استنباط کړی دی[۲] لکه چې په خلاصه مطلب کښې ورته اشاره شوې ده.

## اولو الأمر څوک دي؟

۷ـ د اولو الأمر په باره کښې علماء کرام لاندې مختلف نظریات لري:

الف الشافعي رحمه الله وایي چې د اولو الأمر څخه آمران مطلب دي. د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي»[۳] یعنې: او څوک چې زما د امیر اطاعت کوي نو یقیناً هغه زما اطاعت کوي او څوک زما د امیر نافرماني کوي نو یقیناً هغه زما نافرماني کوي.

بچ

(۱) روح المعاني ج۵ ص۶۴
(۲) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۱۹۴
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۵۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مطلب باندې اولنی ایت هم دلالت کوي ځکه چې هلته خو آمران مکلف شوي دي چې عدل او انصاف وکړي او دلته مامورین مکلف شوي دي چې اطاعت وکړي.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه یو روایت دا هم دی چې اولو الامر د علماوو څخه عبارت دی⁽¹⁾، لکه چې په همدې تفسیر باندې د ﴿ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ ﴾ تکړه دلالت کوي. ځکه چې یوازې د علماء او فقهاء کولی شي چې متنازع فیها حوادثو ته د نصوصو په استدلال سره ترجیح ورکړي. نو د دې نظر خاوندان د ﴿ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ ﴾ خطاب یوازې أولو الامر ته متوجه کوي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای فقهاوو! که ستاسو په منځو کښې منازعه پېښه شوه نو هغه په کتاب الله او سنة الرسول ﷺ باندې حل کړئ.

ج: ځینې علماء وایي چې د اولو الامر څخه اهل الشوری مراد دي⁽²⁾ چې الله ﷻ د دوی په باره کښې فرمایي چې: ﴿ وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ ﴾ [الشوری:۳۸] یعني: د مؤمنانو کارو بار په خپلو منځو کښې په شوری سره فیصله کېږي.

اهل الشوری هغه کسان دي چې د فقهي کتابونه ورته "اهل الحل والعقد" وایي. یعني هغه خلک چې علم، عقل، او تقوی ولري او عام خلک یې خولې ته اعتبار ورکوي، هو ته یې هو وایي او په نه باندې نه وایي. چې د [البقرة:۲۴۷] ایت لاندې یې تفصیل تېر شوی دی او د [النساء:۸۳] ایت لاندې یې څه وضاحت راروان دی.

## تبصره

۸_ څرنګه چې د "أولو" کلمه جمعه ده خو د خپل لفظ څخه مفرد نه لري بلکې مفرد یې "ذو" دی چې په معنی د: خاوند سره دی، او د "امر" کلمه (چې جمعه یې "أمور" راځي) د حادثې او کار په معنی سره ده⁽³⁾. کار یا حادثه یوه عامه معنی لري چې ټولو شیانو ته (اقوال وي او که افعال) ورشاملېږي او دا عمومیت یې یوازې عربي ژبې پورې ځانګړی نه دی بلکې په هره ژبه کښې په همدې عمومیت سره استعمالېږي، مثلا په پښتو ژبه کښې خلک وایي چې: هلته مې کار وه، فلانی د کار سړی دی، کار پسې تللی وم، د فلانې کار روان دی، ښه کار دې وکړ، دا ډېر لوی کار دی، دا کار مه کوه، او داسې نور.

نو دلته د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مسلمانانو تاسو د اهل کار اطاعت وکړئ. یعنې:

الف: په سیاست کښې د خپلو سیاست مدارانو اطاعت وکړئ او ترڅو مو چې د هغوی څخه څه سیاسي نظر نه وي اورېدلی نو تر هغه د امن خبر او یا د ډار خبر مه خوروئ. څه لري نه ده چې په افشاء کولو کښې یې ضرر وي.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۱۰

(۲) الجواهر للطنطاوي ج۳ ص۵۸

(۳) لسان العرب ج۴ ص۲۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په فقهي او علمي مسائلو کښې هم د خپلې ګېډې څخه حکمونه مه کوئ، اهل الذکر (علماوو کرامو) ته مراجعه وکړئ او بیا یې اطاعت وکړئ.

ج: د امیرانو په عزل او نصب کښې د "اهل الحل والعقد" کسانو نظر ومنئ.

د: همدارنګه په طبابت کښې د ډاکترانو او حکیمانو اوامرو ته غوږ شئ.

لنډه دا چې: لکه چې په اولني ایت کښې الله ﷻ امر کړی وه چې امانت خپل اهل ته وسپارئ او کار اهل کار ته ورکړئ همدارنګه دلته توصیه کوي چې د همدغو اهل کارو اطاعت هم وکړئ، هسې نه چې کار وروسپارئ خو خبرې ته یې اهمیت ورنه کړئ.

د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحې ته متوجه شئ:

اول: د مدینې منورې د باغوانانو عادت وه چې د خرماګانو په ونو کښې به یې تابیر کاوه. یعنې د ځینو ونو ګرده به یې په نورو ونو باندې شیندله نو ډېر ښه حاصل به یې ورکاوه. کله چې نبي کریم ﷺ هلته هجرت وکړ، نو هغه ﷺ ذکر شوی عمل (تابیر) چندان ښه ونه ګاڼه، نو په هغه کال باندې باغوانانو تابیر ونه کړ خو باغونو ښه حاصل ورنه کړ. دوی همدا خبره نبي کریم ﷺ ته یاده کړه چې سږ کال مونږ تابیر ونه کړ نو ښه حاصل مو وانخست. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنْ كَانَ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ دُنْيَاكُمْ فَشَأْنُكُمْ بِهِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أُمُورِ دِينِكُمْ فَإِلَيَّ»[1] که چرته یو شی ستاسو د دنیا د کارونو څخه وي نو تاسو پوهېږئ او هغه شی، (ماته مراجعه مه کوئ) او که ستاسو د دیني امورو څخه وي نو ماته مراجعه وکړئ. یعنې: په زراعت او باغوانۍ کښې د کرونده ګرو څخه قوانین واورئ او اطاعت یې وکړئ.

دوهم: که څه هم په حرامو شیانو باندې د کوم مرض تداوي کول حرام دي خو نبي کریم ﷺ د ځینو اطرافیانو خلکو معالجه د اوښانو په متیازو او شودو سره وکړه کله چې په هغوی باندې د مدینې منورې آب و هوا ښه ونه لګېده او پکښې ناروغان شوه[2]، او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ ته د وحې په ذریعه څرګنده شوې وه چې د همدغو ناروغانو همدا علاج دی نو په دې تقدیر هغوی ته متیازې څښکل حرام نه وه[3]. لکه څنګه چې د اضطرار په حالت کښې (چې سړی د لوږې څخه هلاکېږي) د مردارې خوراک حرام نه دی.

لنډه دا چې د حاذق طبیب (چې عقل، په خپل فن کښې مهارت او تقوی ولري) په خوله باندې یوه مریض ته جائزه ده چې یا روژه وخوري او یا په حرامو باندې تداوي وکړي. ځکه چې دوی په خپل فن کښې أولو الامر ګڼل کېږي.

اما اولو الامر چې په هر فن کښې وي د خبرو د منلو دپاره یې یو شرط لازم دی چې باید د هغوی خبره د الله ﷻ د شریعت څخه مخالفه نه وي، ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایي: «لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ

---

[1] سنن ابن ماجه ج۲ ص۱۷۸

[2] صحیح البخاري ج۱ ص۳۷

[3] عمدة القاري للعیني ج۳ ص۱۵۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ»[١] يعني: د الله ﷻ څخه په عصيان کښې (هيڅ لره) اطاعت نشته يقيناً اطاعت په معروف (شرعي حکم) کښې لازم دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٩ـ که څوک وايي چې: ايا دا خبره د شريعت څخه مخالفه نه ده چې يو حاذق (پوه) طبيب يوه مريض ته اجازه ورکړي چې د خپل مرض تداوي په حرامو درملو باندې وکړي؟

مونږ وايو چې ذکره شوې اجازه په دوه وو قيدونو سره د شريعت د مخالفت څخه بچ کېږي او د اضطرار حکم اخلي: يو دا چې د حرامو څخه په غير نور جائز دارو درمل په يقيني توګه هلته تحقق ونه لري ترڅو پکښې د مخمصې مفهوم په واقعي ډول منعکس شي، بل دا چې د حرامو په معالجه باندې د هلاکت څخه بچ کېدل يقيني وي، لکه چې د مخمصې په حال کښې د مرداري په خوراک باندې د هلاکت څخه بچ کېدل يقيني دي او د نه خوراک په صورت کښې يې هلاکت يقيني دی.

## سوال جواب

١٠ـ که څوک وايي چې: وړاندې تېر شوه چې د ذکر شوې ايت شريف څخه ځينو علماوو کرامو د فقهې څلور دلايل (قرآن، حديث، اجماع، قياس) استنباط کړي دي حال دا چې د يو فن په ماهرانو کښې خو د قياس شروط نه موجودېږي، او خکه چې قياس خو بل شی نه دی مګر اجتهاد دی او د اجتهاد دپاره خو ښه قوي علم ضرور دی لکه چې د أصول الفقه په کتابونو کښې ذکر دی؟

مونږ وايو چې: اجتهاد په دوه ډوله دی، يو مطلق اجتهاد دی لکه د اصول الفقه کتابونو چې ليکلي دي، او بل اجتهاد في المسئله دی او ښکاره ده چې دغه ډول خو د يو فن په ماهر باندې صادقېږي او ايت شريف خو دواړو ډولونو ته شامل دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

١١ـ که څوک وايي چې: ايا د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې اجتهاد جائز وه چې ترڅو په هغه وخت کښې د أولو الأمر مصداق وګرځي؟

مونږ وايو چې: هو! په هغه وخت کښې په لاندې دوه حالاتو کښې اجتهاد جائز وه:

الف: چې صحابه کرام ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه غائب وه لکه چې همدا موضوع د معاذ ﷺ په حديث کښې ښه شرحه شوې ده، کله چې د قضاء دپاره يمن ته روان وه او د نبي کريم ﷺ سره يې سوال جواب وکړ.

ب: کله-کله به نبي کريم ﷺ په صحابه وو کرامو ﷺ باندې په خپل حضور کښې د اجتهاد مشق کاوه ترڅو دوی ورسره بلد شي او د راتلونکي دپاره د اجتهاد ډېره کېښودله شي.

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص١٣٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوه ورځې نبي کريم ﷺ ته دوه کسان راغله چې په خپل منځکښې يې لانجه درلوده، نو نبي کريم ﷺ عقبه بن عامر ﷺ ته امر وکړ چې دا فيصله وکړه. هغه ووېلې چې: يا رسول الله! ايا ستا په حضور کښې فيصله وکړم؟. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إنْ اصَبْتَ فَلَكَ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَإنْ اخطَاتَ فَلَكَ حَسَنَةٌ وَاحِدَةٌ»[1] يعني: که حق ته ورسېدې نو لس نېکۍ ستا دي او که خطا شوې نو يوه نېکي خو دې شوه.

دا وه زمونږ نظر. الله ﷻ دې وکړي چې پکښې خطا شوي نه يو، نو په دې بنا د أولو الامر مختلف تعريفونه سره څه منافات نه لري هر چا يې يو-يو مصداق ښودلی دی او حصر يې مطلب نه دی.

## اهل التشيع څه وايي؟

۱۲_ اهل التشيع وايي چې الله ﷻ خو امر کړی دی چې د أولو الامرو خبره مطلقًا ومنئ: او ذکر شوی شرط ورسره (چې خبره يې بايد د شريعت د چوکاټ څخه وتلې نه وي) اينبودل مناسب کار نه دی، نو معلومه شوه چې د أولو الامر څخه هغه څوک مطلب دی چې هغوی د ګناه څخه معصوم وي او هيڅکله د شرعي چوکاټ څخه نه وځي. هغوی څوک دي؟ هغوی معصوم امامان دي (که رهبري مادي ومعنوي جامعه اسلامي در تمام شئون زندگي از طرف خداوند ﷻ وپيامبر ﷺ به آنها سپرده شده است وغير آنها را شامل نمي شوند)[2].

نو د دې دپاره چې محترم لوستونکي د انصاف او عدالت څخه تېر نه شي او په خير سره موضوع وڅېړي لازمه ګڼو چې لاندې څو مطالب وروړاندې کړو:

الف: اهل التشيع نه ده واضحه کړې چې د دوی په نزد معصوم امامان په کوم ايت يا کوم مشهور حديث سره تزکيه شوي دي حال دا چې د يو پلوه وحې قطعه شوې ده او د بله پلوه الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ﴾ [النجم: ۳۲] يعني: نو خپلو ځانونو تزکيه مه کوئ (او مه يو د بل تزکيه کوئ) همدی ﷻ په هغه چا باندې ښه پوه دی چې تقوی دار وي.

ب: همدارنګه دوی نه ده څرګنده کړې چې په کوم قطعي دليل سره معصومو امامانو ته الله ﷻ او پيغمبر ﷺ د خلکو مادي او معنوي رهبري د اختصاص په توګه ورسپارلې ده.

ج: د أولو الامر د اطاعت سره خو مونږ (اهل التسنن) دا قيد نه دی اضافه کړی چې بايد په شرعي چوکاټ کښې وي بلکې الله ﷻ ذکر شوی اطاعت پخپله مقيد کړی دی لکه چې فرمايي: ﴿ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ [الأعراف: ۲۸] يعني: ورته ووايه چې يقينًا الله ﷻ په فحشاء (بدو کارونو) باندې امر نه کوي، ايا تاسو په الله ﷻ باندې هغه څه واياست چې علم ورباندې نه لرئ؟. او هم فرمايي چې: ﴿ قُلۡ أَمَرَ رَبِّي بِٱلۡقِسۡطِۖ ﴾ [الأعراف: ۲۹]

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۱۳

(۲) تفسير نمونه ج۳ ص۴۳۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني: ورته ووایه چې زما رب په انصاف سره امر کړی دی (او د ګناه څخه غټه بې انصافي به بله کومه وي)، لکه چې په همدې مضمون باندې ګڼ شمېر احادیث دلالت کوي.

د: دوی وایي چې د معصومو امامانو څخه په غیر (چې د اشتباه څخه خلاص دي) د نورو ټولو علماوو خبره قطعیت نه لري. حال دا چې الله ﷻ قطعي حکم کړی دی چې د أولو الامره اطاعت کوئ. د دې حکم غوښتنه دا ده چې باید أولو الامر هغه کسان وي چې د اشتباه څخه خلاص دي او خبره یې قطعیت ولري.

مونږ (اهل التسنن) وایو چې د حکم د وجوب دپاره خو دا ضرور نه ده چې حکم دې قطعي وي، که بالفرض داسې وی نو احاد احادیث خو به بالکل متروک العمل ګرځولی شوي وی او د دې کار سره خو هیڅوک موافق نه دي، حتی اهل التشیع هم دا خبره نه مني.

علاوه په دې، اجتهادي مسائل خو ټول ظني دي خو د دې سره- سره واجب العمل دي، حتی چې د اهل التشیع د امامانو خبرې هم چې په ایت، حدیث، اجماع باندې ثابتې نه وي هم ظني دي خو دوی یې اطاعت واجب ګڼي.

## سوال جواب

۱۳ـ که څوک وایي: اهل التشیع وایي چې په هره زمانه کښې د یو معصوم امام څخه اضافه موجودیت نه لري، نو پوښتنه دا ده چې دلته خو د "أولو" کلمه نازله شوې ده او دا خو په یوه جمعیت باندې دلالت کوي؟

دوی په جواب کښې وایي چې جمعیت یې د زمانو په اعتبار سره دی. نو د معنی حاصل یې داسې اخلي چې د هرې زمانې خلک دې د خپلې زمانې د معصوم امام اطاعت وکړي. دوی وایي چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې د همده ﷺ څخه پرته بل څوک أولو الامر نه وه. یوازې نبي کریم ﷺ ته په ﴿ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾ کښې د رسالت په صفت اشاره شوې ده. او په ﴿ وَأُولِي الْأَمْرِ ﴾ کښې د رهبر په عنوان ذکر شوی دی[1]. د همدې کبله د "أولي الأمر" سره د "أطيعوا" کلمه نه ده رانازله شوې ترڅو خلک پوه شي چې د أولو الامر څخه هم په هغې زمانې کښې نبي کریم ﷺ مراد دی.

مونږ (اهل التسنن) وایو چې: که په هغې زمانې کښې أولو الامر د نبي کریم ﷺ څخه په غیر بل مصداق نه درلودی نو د خالد بن ولید ؓ او د عمار بن یاسر ؓ لانجه به پرې څنګه حل شوې وی، لکه چې د همدې ایت په شان نزول کښې وړاندې بیانه شوې ده. او د "أطيعوا" د کلمې عدم تکرار د دې کبله نه دی چې بل مصداق یې نه درلود، بلکې د دې کبله دی چې ترڅو أولو الامر په خپلو اوامرو کښې د شریعت خیال وساتي او خانونه مستقل ونه ګڼي.

(۱) تفسیر نمونه ج۳ ص۴۴۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يو تناقض

۱۴_ لکه چې ورانديې تېر شوه اهل التشيع وايي چې د نبي کريم ﷺ په مبارکه زمانه کښې د همده ﷺ څخه په غير بل څوک د أولو الأمر په زُمره کښې شامل نه وه. دا د يو پلوه، او د بله پلوه دوی وايي چې په همغې زمانه کښې علي ﷺ أولو الامر وه او بس[1]. دا تناقض د دې خبرې ښکارندوی دی چې دوی هم چندان په خپل نظر باندې ثبوت نه شي موندلی، والله ﷻ أعلم.

## ايا د اختلاف د ورک کولو همدا يوه لاره ده؟

۱۵_ که څوک وايي چې د اهل التسنن د نظر په مطابق هم يو ډېر مهم سوال سرې ته ذهن ته ورځي، هغه دا چې که بالفرض په مختلف فيها مسائلو کښې قياس يا اجتهاد ته رجوع وکړې او د مسئلې يو طرف په يو ډول اجتهاد باندې استدلال ونيسي او بل طرف يې بل ډول اجتهاد وکړي، لکه څنګه چې د مذاهبو خاوندان يو تربله په همدې ډول اختلاف لري او تر اوسه پورې نه دی حل شوی، نو پوښتنه دا ده چې بيا خپلمنځي اختلاف په څه شي باندې پورته کېږي؟

مونږ وايو چې: دا خو په هغه صورت کښې د تحقق احتمال لري چې په ﴿ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ ﴾ کښې يوازې أولو الامر مخاطب کړی شي. نو معنی به يې داسې شي چې: ای أولو الامرو! که بالفرض تاسو په خپل منځکښې مختلف شوئ نو ايت يا حديث ته مراجعه وکړئ.

نو د ذکر شوي سوال احتمال شته خو خبره داسې نه ده، خبره دا سې ده چې په ذکره شوې جمله کښې عام مؤمنان مخاطب کړی شوي دي او د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! که بالفرض تاسو او ستاسو أولو الامر (آمران) يو تربله سره مختلف شوئ نو ايت يا حديث ته ورتاو شئ، او که هلته مو صراحت مونده نه کړ او اختلاف مو په منازعه بدل شو نو خپله منازعه په قياس فيصله کړئ. لکه چې په همدې مضمون باندې په شان نزول کښې د خالد ﷺ او د عمار ﷺ قيصه ښه دلالت کوي.

همدارنګه د منازعې صورت په هغه وخت کښې (چې د أولو الامر څخه علماء مطلب شي) تحقق نه شي موندلی څکه چې عوامو ته خو په کار نه ده چې په ديني مسائلو کښې د علماوو سره منازعه وکړي او نه دا حق لري[2].

## يادونه

۱۶_ د أولو الامر د پېژاندلو په باره کښې ځينو مفسرينو کرامو ډېر اوږد او خوندور بحث کړی دی[3]، هيله ده چې د عربي ژبې سره بلد کسان هلته مراجعه وکړي.

---

(۱) تفسير نمونه ج۳ ص۴۴۳

(۲) روح المعاني ج۵ ص۶۶

(۳) تفسير المنار ج۵ ص۱۸۰، ۲۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾ ﴾

[۶۰] ایا ته (ای پیغمبره!) هغو کسانو ته نه ګوري کوم چې (هغوی) خیال کوي چې یقینًا دوی هغه شي (قرآن کریم) باندې ایمان راوړی دی چې تاته درنازل شوی دی او په هغه شي باندې هم چې ستا څخه وړاندې نازل کړی شوی وه.

دوی اراده لري چې (په خپلو قضاباوو کښې د فیصلو) حکمیت سرکشه ته یوسي، حال دا چې دوی ته امر کړی شوی دی چې په هغه باندې به کافر کېږي (عقیده به پرې نه کوي) او شیطان اراده لري چې دوی بې لارې کړي، لرې بې لارې کېدل.

[۶۱] او کله چې دوی ته وویلی شي چې هغه شي ته چې الله ﷻ نازل کړی دی (چې قرآن کریم دی) او پیغمبر ﷺ ته (د فیصلې دپاره) راشئ نو ته منافقان ګورې چې ستا څخه ببرته درېري ببرته درېدل.

[۶۲] نو څه حال به وي (د دوی) کله چې دوی ته د هغه شي (عمل) په سبب باندې څه مصیبت ورسېږي چې د دوی لاسونو وړاندې استولی دی (چې په څه غضب اخته شي). بیا به (د دوی حالت داسې وي چې) تاته به په داسې حال کښې درځي چې په الله ﷻ باندې به قسمونه کوي (چې والله) مونږ د بل شي اراده نه درلوده مګر د احسان کولو او د توافق راوستلو.

[۶۳] دوی هغه کسان دي چې الله ﷻ یې په هغه شي باندې پوهېږي چې هغه د دوی په زړونو کښې دي. نو د دوی څخه مخ واړوه او دوی ته (د تخویف څخه ډک) نصحیت وکړه. او دوی لره د دوی د نفسونو په باره کښې (ښه مؤثره) بلیغه وینا وکړه (شاید چې د منافقت څخه لاس واخلي او په سمه لاره باندې روان شي).

## شان نزول

مفسرینو کرامو د ذکرو شوو ایتونو دپاره متعدد شان نزولونه روایت کړي دي چې ټول تقریبًا څلور یا پنځو ته رسېږي[۱]، خو مونږ لاندې یو روایت د مثال په توګه لیکو چې:

---

(۱) زاد المسیر ج ۲ ص ۱۴۵؛ التفسیر الکبیر ج ۱۰ ص ۱۵۳؛ اسباب النزول للواحدي ص ۱۰۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې یوه ورځې د یوه منافق او د یوه یهودي په کوم شي باندې جګړه پېښه شوه، نو یهودي وویلې چې د فیصلې دپاره به نبي کریم ﷺ ته لاړ شو، او منافق په دې کلک وه چې د فیصلې دپاره به کعب بن الاشرف الیهودي ته ورځو (ترڅو هغه ته رشوت ورکړي او د خپل خان په ګټه فیصله واخلي) خو یهودي ورسره ونه منله ترڅو چې بالآخره نبي کریم ﷺ ته د فیصلې دپاره ورغله.

خو کله چې نبي کریم ﷺ فیصله وکړه نو هغه د یهودي په ګټه وه چې منافق وربانديې راضي نه وه د همدې کبله د خپل مقابل (یهودي) سره کلک شو چې باید یو خل عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته هم ورشو چې هغه په دې قضیه کښې څه حکم کوي؟ (د منافق تمه وه چې ګوندې زما په ګټه فیصله وکړي).

حضرت عمر رضی الله عنه ته چې دواړو ذکره شوې د نبي کریم ﷺ فیصله واوروله او بیا ترې منافق وغوښتل چې ته زمونږ په منځکښې فیصله وکړه نو عمر رضی الله عنه دوی ته امر وکړ چې تاسو دلته ودرېږئ او پخپله کور ته ننووت، د کور څخه توره په لاس رابهر شو او د منافق سر یې د تنې څخه پرې کړ او وویلې چې: «هَكَذَا أَقْضِيْ بَيْنَ مَنْ لَمْ يَرْضَ بِقَضَاءِ اللهِ وَقَضَاءِ رَسُولِه»[1] یعني: زه دغسې فیصله کوم د هغه چا په منځکښې چې هغه د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ فیصله نه مني. نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه. او په خینو روایتونو کښې شته چې جبرائیل علیه السلام وفرمایل چې: «اِنَّ عُمَرَ فَرَّقَ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ»[2] یقیناً عمر رضی الله عنه د حق او باطل په منځکښې بېلتون راووست نو د همدې کبله نوموړي ته نبي کریم ﷺ د الفاروق لقب ورکړ[3].

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانو ته د خپلمنځي اختلافاتو د منځه وړلو طریقه ښودلې ده چې په ایت او یا حدیث باندې یې د منځه یوسئ: او په دې ایتونو کښې لطف کوي څوک چې په دغې طریقه باندې خپل منازعات نه حل کوي نو هغه به یا بالکل ایمان نه لري او یا به منافق وي په ایمان کښې به یې عقیدوي او یا عملي نفاق موجود وي، نو مؤمنانو ته په کار دي چې د منافقت څخه خانونه وساتي.

## د مطلب خلاصه

۱ ـ یعني: ای پیغمبره! ته هغو خلکو ته نه ګورې چې دوی خیال کوي چې په مَا أَنزَلَ الله باندې یې ایمان راوړی دی حال دا چې دوی خپل قضایا د فیصلې دپاره ما أنزل الله ته نه راجع کوي بلکې طاغوتانو ته یې نیت وي چې هغوی ته په همدې باره کښې مراجعه وکړي. که بالفرض دوی په ایمان کښې صادق وی نو په خپلو ټولو شئوناتو کښې به یې طاغوتانو ته د مراجعې کولو نیت قدرې هم نه وی کړی پاتې خو لا مراجعه، بلکې په خپلو خانونو باندې به یې ما أنزل الله حاکم ګرځولی وي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۴۶
(۲) روح المعاني ج۵ ص۶۷
(۳) روح المعاني ج۵ ص۶۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د رښتيني ايمان غوښتنه دا ده چې په طاغوتانو باندې اعتقاد ونه کړي او پرې کافر شي، ايا هغه څوک رښتيني مؤمن ګڼل کېږي چې په هر اړخيز ډول ما أنزل الله ته نه وي تسليم؟

د دوی په دغسې ظاهري ايمان باندې څه نېک اثر نه شي مرتب کېدلی خو فقط همدا خبره پرې مرتبه ده چې شيطان يې لا پسې بې لارې کړي او د رحمت څخه يې سات په سات لرې باسي.

۲ـ ای پيغمبره! د منافقانو بله نښه دا ده چې پخپله ما أنزل الله ته د پرېکړې دپاره نه ورځي خو نه بل څوک يې وردعوت هم کړي چې راشئ: خپلې پرېکړې قرآن کريم ته راجع کړئ او نبي کريم ﷺ په خپلو منځو کښې د حَکَم په حيث ومنئ، نو په دې حال کښې هم ته منافقان ګورې چې خای په خای ودرېږي او يا بېرته تاوېږي خو ذکر شوی دعوت نه مني.

دا وه د منافقانو د خوشالۍ حالت، اوس نو د دوی د مصيبت حالت وګوره چې په هغه وخت کښې څومره دروغ وايي.

۳ـ کله چې دوی ته د خپلو اعمالو په نتيجه کښې څه مصيبت ورسېږي چې يا ترې کوم يو ووژل شي يا رسوا شي او يا ورسره د مصيبت د واقع کېدلو خطره پېښه شي نو بيا ستا څخه نه بېرته تاوېږي او نه خای په خای ودرېږي بلکې په دغه وخت کښې د بلونکي بللو ته هم نه تالېږي او په ډېره جلتۍ سره ستاسو په حضور کښې ودرېږي او قسمونه کوي چې زمونږ په هغو اعمالو کښې (چې د مصيبت سبب جوړ شو) د خير نيت وه او بده اراده مو نه درلوده، غوښتل مو چې څه توافق حاصل کړو، ته به وايې چې دوی هغه خلک نه دي چې ستا څخه به بېرته تاوېدل او دعوت به يې هم نه مانه.

۴ـ ای پيغمبره! الله ﷻ همدغه منافقان ښه پېژني، په زړونو باندې يې عالم دی، دوی دروغ وايي د خير نيت يې نه وه او په بد نيت او بدې ارادې سره ذکر شوو اعمالو ته وروړاندې شوي وه.

۵ـ نو ای پيغمبره! د دوی څخه مخ واړه وه او نانديږه ورسره مه وهه او قسمونو ته يې غوږ مه ږده خو د ډارولو څخه ډک نصيحت ورته وکړه چې که د همدې کړنلارې څخه لاس وانخلئ نورې بدې نتيجې به هم وګورئ، او پوه يې کړه چې ستاسو په زړونو باندې الله ﷻ عالم دی تاسو ترې هيڅ شی نه شئ پټولی او نه ترې چېرې تښتېدلی شئ، نو ښه دا ده چې په اخلاص سره ايمان راوړئ او په خپلو ټولو اعمالو او اقوالو کښې د ايمان آثار او نښې ښکاره کړئ. دغه ظاهري ايمان ستاسو هيڅ په درد نه خوري بلکې لا ضرر درته کوي چې: ﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ [النساء: ۱۴۵] يعني: يقينًا منافقان د دوزخ په ډېره ښکته طبقه کښې دي.

## توضيحات

۱ـ د ﴿يَزْعُمُونَ﴾ کلمه د "زَعم" څخه اخستلې شوې ده، "زَعم" په حق، باطل، کذب (دروغ) درېواړو کښې استعمال مومي خو اکثره استعمال يې په شکي خبرو کښې واقع کېږي. اما په دې مقام کښې ترې بې دليله وينا مراده ده[1] چې د ايمان دعوه کوي خو کړه وړه يې د ايمان په ضد دي.

(۱) روح المعاني ج۵ ص۶۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دې ایتونو ارشاد

۲_ ذکر شوي ایتونه مونږ ته ارشاد کوي چې هرڅوک د الله ﷻ او د نبي کریم ﷺ د أوامرو څخه کوم یو امر رد کړي او غاړه ورته کېښنږدي نو هغه د اسلام څخه وتلی دی، برابره خبره ده چې د شک د کبله یې رد کړی وي او یا د تمرد او سرکشۍ د امله، د همدې کبله صحابه وو کرامو ؓ د أبو بکر الصدیق ؓ په خلافت کښې د زکات په مانعینو باندې د ارتداد حکم وکړ او جهاد یې ورسره اعلان کړ[۱].

که څه هم هغوی څلور ډلې وې او یوه ډله پکښې هغه وه چې د زکات د فرضیت څخه منکر نه وه خو د بخل د کبله یې د زکات د ورکړې څخه غاړې وغړولې او د مسلمانانو سره یې د جنګ بندوبس وکړ، چې ځینو علماوو کرامو یې ښه پوره څېړنه کړې ده[۲].

د دې دپاره چې دا موضوع ښه واضحه شي نو لاندې دوه ایتونه ولولئ چې یو د کافرانو قول رانقلوي او بل د مؤمنانو وینا تمثیلوي:

الف: ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ﴾ [البقرة: ۱۷۰] یعني: او کله چې دوی ته وویل شي چې د هغه شي اتباع وکړئ چې الله ﷻ نازل کړی دی نو دوی وایي چې بلکې مونږ د هغه شي متابعت کوو چې مونږ پرې خپل پلرونه موندلي دي.

ب: ﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ [النور: ۵۱] یعني: یقیناً د مؤمنانو خبره دا وي چې دوی وایي چې وامو ورېده او ومو منله، البته کله چې دوی الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ ته د فیصلې دپاره وروبلل شي.

زمونږ نظر دا دی چې که ذکر شوی صورت د مسلمانانو د طرفه واقع شي او د اسلامي حکومت په مقابل کښې صف ګیري هم وکړي نو نظر ظاهري شریعت ته ورسره په دنیا کښې د مرتدانو معامله اجراء کېدلی شي، ځکه چې په زړونو باندې خو څوک علم نه لري او وحې قطعه شوې ده. اما د آخرت حالت یې د الله ﷻ سره دی څنګه چې ورسره مناسب وي همغسې معامله به ورسره وکړي چې د شرعي حکم یې یوازې عملا رد کړی دی او که عقیده یې هم ورباندې خرابه وه.

د همدې کبله د آبو بکر الصدیق ؓ په خلافت کښې د هغې ډلې سره هم د مرتدانو په شان معامله اجراء شوه چې هغوی د زکات د فرضیت څخه منکر نه وه خو د بخل د کبله یې نه ورکاوه او د اسلامي خلافت په مقابله کښې یې د مرتدینو صف قوي کړ.

نو که بالفرض هغوی د خلافت په مقابل کښې صف ګیري نه وی کړې نو زکات به ترې په زور اخستلی شوی وی خو د جهاد اعلان به ورسره نه وی شوی.

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۱۴
(۲) اعلاء السنن ج۱۲ ص۵۹۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د منافقینو مصیبت

۳_ مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د مصیبت څخه هغه حادثه اخستې ده چې په شان نزول کښې ذکره شوې ده. هغه دا چې عمر ﷺ د منافق سر پرې کړ او وارثان یې نبي کریم ﷺ ته ورغله او ورته یې وویلې چې زمونږ د ملګري (مقتول) خو دا نیت نه وه چې د نبي کریم ﷺ فیصله یې نه منله بلکې مونږ قسم کوو چې د هغه احسان مطلب وه چې عمر ﷺ د دواړو خصمینو په منځکښې د زړه بدوالی لرې کړي ترڅو یو بل ته په راتلونکې کښې دښمن جوړ نه شي، او بل یې توفیق مراد وه چې دوی دواړه سره اصلاح کړي او یهودي په خپله خوښه د یوه څه مال څخه ورتېر شي[۱].

خو مونږ ته داسې ښکاري چې منافقانو یوازې په ذکر شوي مصیبت کښې په قسمونو سره خپل ځانونه نه دي تزکیه کړي بلکې په هر ځل به چې دوی ته د خپلو قبیحو اعمالو د کبله څه مصیبت ورسېده دوی به همدغسې بهانې آنې کولې او قسمونه به یې خوړل. لاندې څو مثالونه یې درېه زړه کړې:

الف: دوی د فساد دپاره جومات (مسجد الضرار) جوړ کړی وه، چې نبي کریم ﷺ تخریب کړ او د دوی دپاره ترې مصیبت جوړ شو چې په [التوبة:۱۰۷_ ۱۱۰] ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: د تبوک غزا ته دوی لاړ نه شوه او د همدې نه تللو څخه ورته غټه رسوایي جوړه شوه، چې په [التوبة:۹۵] ایت او نورو ایتونو کښې یې تفصیل راروان دی.

ج: د کفر خبرې یې کولې خو الله ﷻ په [التوبة:۷۴] ایت په نزول سره رسوا کړي دي.

د: همدارنګه دوی نیت کړی وه چې مسلمانان به د مدینې منورې څخه وباسي چې الله ﷻ یې ټول دسائس په [المنافقون:۸] ایت کښې افشاء کړه او داسې نور.

### د منافقینو په باره کښې لارښوونه

۴_ الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته د منافقینو په باره کښې په لاندې درې ډولونو باندې لارښوونه وکړه:

الف. ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ د منافقانو څخه اعراض وکړه په پراخه او بشاشه تندره ورته مه ګوره، ترڅو دوی پوه شي چې نبي کریم ﷺ راڅخه خپه دی د دې خطر شته چې زمونږ په مقابل کښې چرته جهاد اعلان کړي.

ب: ﴿وَعِظْهُمْ﴾ دوی ته د تخویفه ډک نصیحت وکړه ترڅو هغه څه په ژبه باندې څرګند کړي چې هغه دې د تندې څخه څرګندېږي. او کېدلی شي چې نصیحت ورباندې څه ناڅه تاثیر وکړي.

ج: ﴿وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا﴾ دغه جمله لاندې متعددې معناوې درلودلی شي:

اول: دوی ته د بلاغت څخه ډکې خبرې وکړه، چې نور څوک نه وي او دوی یوازې وي.

دوهم: دوی ته موثرې خبرې د دوی د زړونو او نفسونو په باره کښې وکړه. په دې معنی چې ستاسو

(۱) روح المعاني ج۵ ص۶۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په زړونو باندې الله ﷻ عالم دی، د نفاق څخه لاس واخلئ هسې نه چې ستاسو په باره کښې هم د ښکاره کافرانو په شان د جهاد امر وکړي.
دريم: په خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ او په لوی لاس خپل ځانونه د دنیا او آخرت په مصائبو باندې مه اخته کوئ.

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ۝٦٤﴾

[۶۴] او مونږ هیڅ یو پیغمبر (د بل هیڅ شي دپاره) نه دی لیږلی مګر د دې دپاره چې د هغه ﷺ اطاعت د الله ﷻ په اِذن وکړی شي (همدا مضمون مو اعلان کړی دی).
او که چېرې یقینًا دوی (منافقان) په هغه وخت کښې تاته درغلي وی چې دوی په خپلو ځانونو باندې ظلم وکړ (ستا د حکمیت څخه یې تمرد وکړ او په خپل تمرد باندې پښېمانه شوي وی) نو د الله ﷻ څخه یې بښنه غوښتې وی او پیغمبر ﷺ هم دوی ته مغفرت غوښتی وی نو خامخا به یې الله ﷻ بښه توبه قبلوونکی (او) مهربان موندلی وی (دوی به پوه شوي وی چې بې شکه الله ﷻ هم توبه قبلوي او هم مهربان دی خو دا کار یې ونه کړ).

## د مطلب خلاصه

دا ایت شریف د وړاندېنیو ایتونو دپاره د استدلال په منزله دی چې:
۱ـ یعني: څوک چې خپل ځان مؤمن ګڼي خو د پیغمبر ﷺ حکمیت ته غاړه نه ږدي هغه به ولې د الله ﷻ د غضب وړ نه ګرځي خکه چې مونږ خو هیڅ پیغمبر د دې دپاره نه دی استولی چې خلک پرې ظاهري ایمان راوړي خو په ټولو احکامو کښې یې اطاعت ونه کړي، او نه کوم پیغمبر ﷺ خلکو ته د دې دپاره دعوت ورکړی دی چې د الله ﷻ څخه په غیر د ده اطاعت وکړي، بلکې د هر پیغمبر دعوت د الله ﷻ په اِذن سره دی. د همدې کبله د پیغمبرانو علیهم السلام اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی او د دوی څخه عصیان کول د الله ﷻ څخه عصیان دی.
۲ـ نو کوم خلک چې د ایمان دعوه هم کوي او ستا د حکمیت څخه غاړې غړوي هغوی ته په کار وه چې د عصیان څخه وروسته تر هغه وخته پورې نه وی ټال شوي چې الله ﷻ ورباندې مصیبت نازل کړ، او بیا د اعتذار دپاره درغله. دوی ته په کار وه چې د عصیان او ظلم څخه وروسته سمدستي په خپلو کړو باندې پښېمانه شوي وی او ستا حضور ته درغلي وی چې مونږ د خپلې ګناه څخه توبه تائب شوو او د الله ﷻ څخه بښنه غواړو.
ای پیغمبره! ته هم زمونږ دپاره د الله ﷻ څخه بښنه وغواړه خکه چې ستا سوال الله ﷻ بنه قبلوي.
نو که دوی په ذکره شوې طریقې باندې عمل کړی وی نو الله ﷻ به یې هم توبې قبولې کړې وی او د مصیبت څخه به یې په امن کښې ساتلي وی او هم به یې ورباندې نوره مهرباني هم کړې وی او د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نیکو کارونو توفیق به یې وربښلی وی. نو په دې تقدیر به یې نه قسمونو ته حاجت وه او نه به ترې تا اعراض کړی وی خو دوی ته حسرت دی چې دغسې کار یې ونه کړ.

## توضیحات

۱ـ که څه هم مونږ د "إِذْنِ اللهُ" په هکله د [البقرة:۱۰۲] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي خو په دې مقام کښې ورباندې همدومره اضافه کوو چې په یو شي باندې د الله ﷻ "إِذْن" د دې څخه عبارت دی چې الله ﷻ همغه شی اعلان کړی دی او د ټولو خلکو غوږو ته یې رسولی دی[۱].

نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: مونږ خو د هر یوه پیغمبر ﷺ په باره کښې اعلان کړی دی چې د ده اطاعت دې وکړی شي چې د خپل وخت ټول خلک مو ورباندې خبر کړي دي، نو زمونږ د عمومي اعلان څخه وروسته هم چې څوک تمرد کوي نو د هغه څخه به بل طغیانګر څوک وي؟.

۲ـ که څه هم په ذکر شوي ایت شریف کښې د نبي کریم ﷺ د حیات یوه واقعه بیانه شوې ده خو د مفهوم په اعتبار سره د قیامت د ورځې پورې هغو ټولو واقعاتو ته ورشاملېږي چې د نوموړې واقعې سره مشابهت لري[۲]، نو هرڅوک چې د شریعت محمدي (ﷺ) څخه په کومه حادثه کښې غاړه وغړوي نو هغه ته په کار دي چې سمدستي توبه تائب شي او اسلامي احکامو ته غاړه کېږدي، اُمید دی چې الله ﷻ به یې توبه قبوله کړي او ګناهونه به ورته وبښي او توفیق به ورکړي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته خو د ذکر شوي توبې یو شرط فوتېږي چې: ﴿ جَآءُوكَ ﴾ یعنې: چې تاته درغلي وي. نو د قیامت د ورځې پورې به مشابه واقعاتو ته څنګه شامل شي؟

مونږ وایو چې: د یوې ګناه څخه توبه کول په هغه وخت کښې د اعتماد وړ جوړېږي چې پښېماني ورباندې ښکاره شي، نو څرنګه چې په ذکره شوې واقعه کښې منافق سړی نبي کریم ﷺ ته د حکمیت دپاره د ورتللو څخه منعه راوړې وه نو د هغه د توبې او پښېمانی دا خبره یوه برخه وګرځېدله چې نبي کریم ﷺ ته ورشي او په حکمیت باندې یې ومني چې مخکښې چې هر څه وشوه هغه وشوه خو زه ستا په حکمیت باندې راضي یم.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه نوموړي منافق د نبي کریم ﷺ د حکمیت نه منلو څخه د اهانت بوی پورته کېده، نو ځکه د هغه په توبه کښې دا ټکی وراضافه شو چې ﴿ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ ﴾ او پیغمبر ﷺ هم ورته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي. نو چې د الله ﷻ څخه ورته مغفرت غواړي نو په خپله خو به یې ورته ضرور بښنه کړې وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۰

(۲) روح المعاني ج۵ ص۷۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته اسلامي شريعت د حکميت حق لري چې د وخت قاضيان او حاکمان يې د قضايا وو د فيصلو دپاره کړنلاره وګرځوي. او مسلمانان مکلف دي چې اطاعت يې وکړي. نو ذکر شوی شرط ﴿ جَآءُوكَ ﴾ د همغه وخت پورې اختصاص لري او بس.

## يوه قيصه

۴_ که څه هم ځينو مفسرينو کرامو په دې مقام کښې د العتبی علیه الرحمة د خولې څخه يوه قيصه ليکلې ده چې يو إعرابي د نبي کريم ﷺ قبر ته راغی او ذکر شوی ايت شريف يې ولوست او نبي کريم ﷺ يې مخاطب کړ چې: ای پيغمبره! زه درته راغلی يم او خپل رب ته دې شفيع ګرځوم چې ماته ګناه وبښي. او بيا د څه اشعارو د لوستلو څخه وروسته په مخه لاړ، روان شو. په دغه وخت کښې په ماباندې خوب راغی، په خوب کښې نبي کريم ﷺ ګورم چې امر يې راته وکړ چې: ای عُتبی! ته اعرابي پسې ورشه او زېری ورکړه چې: "إِنَّ اللهَ قَدْ غَفَرَ لَهُ"[1] يقيناً الله ﷻ ورته مغفرت وکړ.

مګر مونږ ته دا قيصه دومره اعتباري نه ښکاري چې د شرعي احکامو مصدره جوړه شي. او دا خکه چې يوازې د پيغمبرانو علیهم السلام خوبونه وحې ګڼل کېږي او بس.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: د وړاندې تکرېږ ﴿ جَآءُوكَ ﴾ سره د مطابقت دپاره خو "وَٱسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ" په کار وه چې نازل شوی وی نو په دې کښې څه حکمت دی چې د ضمير (ت) په عوض اسم ظاهر ﴿ ٱلرَّسُولُ ﴾ نازل شو؟

مونږ وايو چې: ضمير خو په محض ذات باندې دلالت کوي او د هيڅ وصف لحاظ پکښې نه وي، حال دا چې ذکر شوی اهانت خو نبي کريم ﷺ ته د رسالت د کبله راجع شوی وه چې حکميت د ده حق وه او هغوی تمرد وکړ او د پښو لاندې يې کړ. نو په کار وه چې په استغفار کښې هم د رسالت لحاظ وساتل شي، که بالفرض د نبي کريم ﷺ شخصي حق (د پولې پټي حق) هغوی د پښو لاندې کړی وی نو بيا به "وَٱسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ" نازل شوی وی.

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ ٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ أَوِ ٱخْرُجُوا۟ مِن دِيَٰرِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ۖ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا۟ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴿٦٦﴾ وَإِذًا لَّءَاتَيْنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾ وَلَهَدَيْنَٰهُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾ ﴾

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۵۲۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۵] نو (کامل مومنان به) نه شي، ستا په رب مې دې قسم وي چې (کامل) مومنان به نه شي ترڅو چې تا په هغو (قضایاوو) کښې د حکم په حیث ومني چې د دوی په منځو کښې واقع کېږي بیا (ستا د فیصلې څخه وروسته) په زړونو کښې د هغه شي څخه چې تا فیصله کړ څه تنګوالی (هم) مونده نه کړي. او غاړې ورته کېږدي غاړه ایښودل.

[۶۶] او که (بالفرض) مونږ په دوی باندې فرض کړي وی چې خپل ځانونه ووژنئ او یا د خپلو کورونو څخه ووځئ، نو دا (کار) به نه وی کړی مګر د دوی څخه کمو (خلکو).

او که یقینًا دوی هغه حکم وکړي (عملي کړي) چې دوی ته پرې نصیحت ورکولی کېږي (چې اسان حکم دی) نو دا به ورته ضرور ډېر بهتر وی او (د ایمان) د تحکیم د حیثه به (ورته) ډېر سخت (او قوي) وي.

[۶۷] او په دې وخت کښې (چې اسان احکام یې عملي کړي وی) دوی ته به مونږ ضرور د خپل جانبه لوی اجر (خپله رضا او جنتونه) ورکړي وی.

[۶۸] او ضرور به مو دوی ته (په دنیا کښې) سمه سیده لاره ورښودلې وی (او توفیق به مو ورکړی وی).

## شان نزول

مفسرینو کرامو د دې ایتونو په شان نزول کښې دوه روایتونه ذکر کړي دي:

۱ـ یو روایت دا دی چې یوه ورځې د زبیر بن العوام ﷺ د بل کوم صحابي ﷺ سره د یوې ویالې په باره کښې لانجه وه چې د دواړو د خرما باغونو ته به په هغې کښې سیلابي اوبه ورتېدلې، بل صحابي ﷺ وویلې چې: زما باغ ته اوبه راخوشې کړه که څه هم ستا باغ زما څخه مخکښې دی، خو زبیر ﷺ دا خبره نه منله تر دې چې جګړه د نبي کریم ﷺ حضور ته وړل شوه، نو نبي کریم ﷺ امر وکړ چې: «اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلْ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ» ای زبیره! خپل باغ ته دې اوبه ورکړه او بیا دې د ګاونډي باغ ته اوبه ورخوشې کړه. نو بل صحابي ﷺ په غُصه شو او ویې ویلې چې: ای د الله رسوله! هغه دې د عمې (ترور) زوی وه خکه دې د هغه په ګټه فیصله وکړه. نو نبي کریم ﷺ وویلې چې: ای زبیره! خپل باغ ته دې اوبه ورکړه او پکښې دې یې کړه ترڅو چې لوړو پولو ته ورسېږي. یعنې خپل حق دې پوره واخله په اولنې حکم کښې خو مې تاته هدایت کړی وه چې د خپل ګاونډي دپاره د لږ څه حق څخه ورتېر شه، خو چې هغه په دې مراعات باندې هم قانع نه شو نو خپل حق پوره واخله.

زبیر ﷺ وایي چې زما ګومان دی چې ذکر شوی ایت به په همدغې واقعه کښې نازل شوی وي[1].

۲ـ بل روایت دا دی چې: د دې ایتونو شان نزول همغه قیصه ده چې د [النساء: ۶۰] ایت لاندې ذکره شوه. نو د دې روایت حاصل داسې کېږي چې: د همغه ایت څخه آن تر دې ایتونو پورې

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۳۰۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نول ایتونه د همغې قیصې په ارتباط نازل شوي دي[۱].

مونږ ته داسې ښکاري چې د زبیر ﷺ قیصه که څه هم د ذکر شوي ایتونو د مصداقاتو څخه شمېرله کېږي او څه لرې نه ده چې د ایتونو د نزول په وخت کښې به ذکره شوې قیصه هم واقع شوې وي مګر اصلي شان نزول یې همدغه دوهم روایت دی ځکه چې:

الف: پخپله زبیر ﷺ ویلي دي چې: «فَمَا أَحْسِبُ هَذِهِ الْآيَاتِ إِلَّا نَزَلَتْ فِي ذَلِكَ»[۲] زه ګومان نه کوم چې دا ایتونه همدا زمونږ د قیصې څخه په غیر په بل شي کښې نازل شوي وي. یعنې دا د ده خپل اټکل دی او بس.

ب: په ایتونو کښې داسې کلمې نازلې شوې دي چې د منافق سره ښې مناسبې دي لکه ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ الآية چې وروسته به واضحه شي.

ج: د ایتونو سیاق او سباق همدا دوهم روایت تائیدوي. داسې ښکاري چې همغه ذکر شوی مضمون به پکښې تعقیب شوی وي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! دغسې نه ده لکه چې د ایمان مدعیان خیال کوي چې د مومنانو څخه به وشمېرل شي حال دا چې ستا حکمیت ته به یې غاړې نه وي ایښې.

ای پیغمبره! ستا په رب مې دې قسم وي چې دوی به تر هغه د مؤمنانو په ټولګي کښې د الله په نزد ونه شمېرل شي ترڅو چې دوی د خپلو قضایاوو د فیصلو دپاره تا د حَکم په صفت ومني او بیا ستا د فیصلې څخه وروسته همدغې فیصلې ته ظاهرا او باطنًا تسلیم شي، چې نه په زړونو کښې څه تنګي او خپګان احساس کړي او نه په جوارحو باندې کومه غیر مناسبه رویه وکړي. یعنې په زړونو کښې یې داسې تنګي واقع نه شي چې د دوی د اختیار لاندې راغي ځکه چې په غیر اختیاري شیانو باندې خو الله ﷻ څوک نه نیسي: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة: ۲۸۶] یعنې: الله ﷻ هیڅوک نه مکلف کوي مګر په هغه شي باندې چې د هغه د وسې (توان) لاندې وي.

۲ـ ای پیغمبره! دوی به څنګه د مؤمنانو په ټولګي کښې د الله په نزد وشمېرل شي حال دا چې دوی ستا په حکمیت باندې په یوه جزیي شي کښې هم قناعت نه شي کولی او ورته تسلیم نه دي. د مؤمنانو ټولګی خو هغه دی چې په ډېرو مهمو او مشکلو مسائلو کښې هم شرعي احکام عملي کوي که څه هم هغوی ته د ځان په وژلو او یا د خپل وطن څخه په وتلو تمام شي.

نو که بالفرض مونږ تاته وحې کړې وی او په خلکو باندې مو فرض کړې وی چې یا خپل ځانونه ووژنئ او یا یو بل ووژنئ او یا د خپلو کورونو څخه بهر شئ، نو د ایمان ذکر شوي مدعیانو خو به

(۱) تفسیر الطبري ج۴ ص۱۵۹

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه یو حکم هم نه وي عملي کړی مګر لږو خلکو، چې یا یې څه غرض درلودی او یا د څه مصیبت د خطر لاندې راغلي وي، لکه چې د همدوی څخه ځینې کسان تاته د مصیبت د ورسېدلو څخه وروسته درغله او د دروغو په قسمونو باندې یې پیل وکړ.

۳ـ ای پیغمبره! د ایمان د ذکر شوو مدعیانو په دغې وضعه کښې څه خیر نشته که څه هم دوی یې د خانونو دپاره خیر ګڼي، ځکه چې آخر رسوا کېږي او باطني خباثت یې دربنکاره کېږي. خیر یې په دې کښې دی چې ستا نصیحت یې منلی وي او قلبًا ورباندې قانع شوي وي نو مونږ به د دوی د زړونو اضطراب (منافقت) لرې کړی وي او لوی اجر به مو ورکړی وي.

برسېره په دې، دوی ته به مو سمه لاره ښودلې وي او د نېکیو توفیق به مو ورکړی وي. او کومه وضعه چې دوی غوره کړې ده په دې کښې یې نه د دنیا خیر شته او نه د آخرت، نه به یې منافقت د منځه لاړ شي او نه به یې توفیق په نصیب شي او همېشه به رسوا او شرمنده وي.

## توضیحات

۱ـ د عربیت په لحاظ سره مفسرین کرام په ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ کښې لاندې نظریات لري:

الف: ځینې وایي چې: د ﴿ فَلَا ﴾ مدخول مقدر دی او تقدیر یې داسې کېږي چې: "فَلَيْسَ الْأَمْرُ كَمَا يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا"[۱] یعنې نو خبره داسې نه ده لکه چې دوی خیال کوي چې یقینًا دوی ایمان راوړی دی.

ب: ځینې وایي چې د "لا" توری زائد دی نو په معنی کښې څه دخل نه لري او صورت یې داسې کېږي چې: "فَوَرَبِّكَ"[۲] لکه چې همدارنګه عبارت په بل ایت کښې هم شته: ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ [الحجر: ۹۲] یعنې: ستا په رب مې دې قسم وي چې د دوی ټولو څخه به پوښتنه وکړو.

## تبصره

که څه هم په ذکر شوو دواړو صورتونو کښې د معنی په لحاظ چندان فرق نه واقع کېږي خو په دوهم صورت باندې دا اعتراض شته چې د اشد ضرورت څخه په غیر باید د قرآن کریم په یوه وړوکې کلمه باندې هم د زائد حکم ونه کړی شي او دلته خو ورته اشد ضرورت نشته، لکه چې په اول صورت سره ضرورت پوره شوی دی.

هو! په اولني صورت کښې اعتراض دا دی چې د تقدیر په ظهور سره یې د "لا" توری د خپل اصلیت څخه ویستلی دی او د "لَيْسَ" معنی ته یې اړولی دی او د مقدر قرینه یې مقام ګڼلی دی، مګر زمونږ په نظر باید چې تقدیر یې "فَلَا يُؤْمِنُونَ وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ" ظاهر کړی شي. او دا ځکه چې:

---

(۱) البحر المحیط ج۳ ص۵۹۴

(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۵۲۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: همدارنګه تقدير د قرآن کريم په بل ايت کښې شته چې: ﴿ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ ﴾ [التوبة:۶] يعني: نو که د مشرکانو څخه کوم يو درڅخه امان وغواړي. څکه چې د تقدير ظهور يې داسې دی چې: "وَإِنِ اسْتَجَارَكَ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ".

ب: په دې صورت کښې د مقدر قرينه لفظي ګرځي او دومره قوي ده چې حتی د نحويانو په مذهب باندې دا حذف واجب دی.

ج: په دې صورت کښې د ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ جمله د مقدر "لَا يُؤْمِنُونَ" دپاره تفسير واقع کېږي، او ښکاره ده چې کوم يو محذوف چې د هغه تفسير ذکر وي داسې ګڼل کېږي لکه چې بالکل محذوف نه وي.

## د پوخ ايمان شرطونه

۲ـ الله ﷻ په دې مقام کښې د پاخه (قوي) ايمان لاندې شرطونه ټاکلي دي او په قسم سره يې تائيد کړي دي:

الف: چې د پيغمبر ﷺ په حکميت باندې سړی راضي شي او خپل قضايا د فيصلې دپاره په همدې طرف باندې راجع کړي.

ب: چې د فيصلې څخه وروسته قلبًا مطمئن شي چې همدا فيصله حقه ده، او په زړه کښې يې څه شک او شبه نه وي چې عدالت پکښې نشته او بې انصافه حکم دی.

ج: چې ظاهرًا هم همغه فيصله عملي کړي او غاړه ورته کېږدي.

د ذکر شوي ايت شريف د مضمون يو نظير په لاندې حديث شريف کښې ولولئ:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ» يعني: په الله ﷻ مې دې قسم وي چې مؤمن به نه شي، په الله ﷻ مې دې قسم وي چې مؤمن به نه شي، په الله ﷻ مې دې قسم وي چې مؤمن به نه شي. چا ورته وويلې: «وَمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ» او څوک ای د الله رسوله! نو ده ﷺ وفرمايل: «الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ»[1] يعني: هغه څوک چې د ده ګاونډی د ده د شرونو څخه په امن کښې نه وي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: که د ذکر شوو ايتونو څخه منافقان مطلب وي لکه چې د شان نزول يو روايت ورباندې دلالت کوي خو څه خبره نشته، او که د شان نزول لمړني روايت ته وکتل شي نو پوښتنه دا ده چې: ايا يو مؤمن کافر کېږي او د اسلام څخه اوځي که بالفرض د شريعت حکميت ته غاړه کېنږدي او يا يې ګاونډيان د شرونو څخه په امن کښې نه وي؟

---

[1] صحيح البخاري ج۲ ص۸۸۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د ایمان په تعریف کښې لاندې دوه ډوله ایتونه نازل شوي دي او هم پکښې لاندې دوه ډوله احادیث روایت شوي دي:

الف: یو ډول هغه ایتونه او احادیث دي چې ایمان صرف د عقیدې او قلبي تصدیق څخه عبارت ګڼي، او د اعمالو پکښې هیڅ ذکر نه وي.

ب: بل ډول هغه دی چې د قلبي تصدیق سره، سره صالح اعمال یې هم پکښې شامل کړي دي.

نو ایمان په اوله معنی باندې سړي ته د دوزخ د خلود څخه نجات ورکوي چې په یو وخت کښې خو به تري راووزي، او په دوهمه معنی باندې سړي ته بالکل نجات ورکوي چې د سره به دوزخ نه ورداخل نه شي، نو په دې معنی باندې یې د کامل ایمان په نامه یادولی شو.

یا په بل عبارت: لکه چې کله-کله د کفر اطلاق په ګناهونو کبرې همدارنګه د ایمان اطلاق هم په نېکو اعمالو باندې هم کېږي، نبي کریم ﷺ فرمايي: «اَلْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ بَابًا فَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ وَأَرْفَعُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ»[1] یعني: ایمان څه د پاسه اویا څانګې لري نو ډېره وړه څانګه یې د لارې څه ضررناک شی لرې کول دي او لوړه څانګه یې دا قول دی چې «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ» د عبادت لایق بل څوک نشته مګر یکې یو الله ﷻ دی.

نو که ذکر شوي ایتونه د لمړني شان نزول په اعتبار سره تفسیر کړی شي هم څه منافي خبره نه ده. نو معنی به یې داسې شي چې: ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ کامل مؤمنان به نه شي.

که څوک په دې موضوع کښې ښه تفصیلوار بحث غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو[2] ته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ ﴾ کښې د "عَلَيْهِمْ" ضمیر خو به یا منافقانو ته او یا کاملو مسلمانانو ته راجع وي مګر هرې یوې ډلې ته چې راجع شي نو د ﴿ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ﴾ استثناء ورسره سمون نه خوري ځکه چې په منافقانو کښې نه څوک خان وژنې ته حاضرېږي او نه جلا وطنې ته. او کامل مسلمانان خو ورته ټول حاضر دي هسې نه چې ځینې به یې وکړي او ځینې به ورته شا کړي؟.

مونږ وایو چې: د دې سوال دپاره لاندې جوابونه ولولی:

الف: په ﴿ عَلَيْهِمْ ﴾ منافقانو ته ضمیر راجع دی او څه لرې نه ده چې د ریاکارۍ دپاره ځینې منافقان هم خان وژنې ته حاضر شي او هم جلا وطنې ته[3].

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۹
(۲) عمدة القاري للعيني ج۱ ص۱۰۲_۱۱۱
(۳) تفسیر المظهري ج۲ ص۱۵۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر دا جواب ډېر کمزوری دی ځکه چې ممکنه ده چې منافقان د منافقت د پټولو دپاره هر شی وکړي خو دا راته ممکنه نه ښکاري چې یا خان مړ کړي او یا وطن پرېږدي، د همدې کبله د تبوک په غزا کښې د منافقت پرده څیرې او په ډاګه شوه.

ب: نوموړی ضمیر ټولو خلکو ته راجع دی[1]، مګر په مرجع کښې دا ضرور ده چې وړاندې باید ذکره وي او ټول خلک (النّاس) خو وړاندې مذکور نه دي. علاوه په دې، په ټولو خلکو کښې هیڅ بحث نشته بلکې بحث په هغو خلکو کښې راروان دی چې هغوی د ایمان دعوه کوي.

ج: نو ښه دا ده چې نوموړی ضمیر د ایمان مدعیانو ته راجع کړی شي برابره خبره ده چې په دروغو یې دعوه کوي لکه منافقان، او که په رښتیا وو لکه مؤمنان، او هم برابره خبره ده چې په ایمان کښې کامل وي او که کمال ته نه وي رسېدلي. نو د معنی حاصل به یې داسې شي: که بالفرض مونږ د ذکر شوي ثقیل حکم فرضیت نازل کړی وی نو صرف کاملو مؤمنانو به خپلې غاړې خلاصې کړې وی، د منافقانو به منافقت ښکاره شوی وی او غیر کامل مؤمنان به ناکام شوي وی. خو الله ﷻ لطف وکړ او ذکر شوی ثقیل حکم یې نازل نه کړ.

نو باید منافقان وډار شي چې ترڅو به په خپل منافقت باندې پردې اچوي، آخر به یې په یوه ثقیل حکم سره منافقت ښکاره شي لکه جهاد. او غیر کاملو مؤمنانو ته هم په کار دي چې په دغو اسانو احکامو کښې سستي ونه کړي او ځانونه کمال ته ورسوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: ایا په صحابه وو کرامو ؓ کښې غیر کامل مؤمنان موجود وه؟

مونږ وایو: لکه چې وړاندې تېره شوه چې د ایمان کمال خو په نیکو اعمالو باندې زیاتیږي، او ښکاره ده چې صحابه کرام ؓ خو د ګناه څخه معصوم نوو عصمت خو د پیغمبرانو علیهم السلام خاصه ده، نو لکه څنګه چې الله ﷻ خپل پیغمبران علیهم السلام په درجاتو کښې متفاضل پیدا کړي دي همدارنګه په مؤمنانو کښې هم یو تربله تفاضل شته چې ځینې کامل دي او ځینې لا کمال ته نه دي رسېدلي[2].

د همدې کبله مونږ (أهل السنة والجماعة) په بهتری کښې څلورو خلیفه ګانو ؓ ته داسې ترتیب ورکوو چې: ۱ـ ابو بکر (الصدیق ؓ). ۲ـ عمر الفاروق ؓ. ۳ـ عثمان جامع القرآن ؓ. ۴ـ علي سیف الله ؓ. که ټول یو برابر وی نو مونږ به ذکر شوی ترتیب نه وی ورکړی.

برسېره په دې کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کریم ﷺ خنو خاصو صحابه کرامو ؓ ته اشاره وکړه چې دوبي د همدغې جملې څخه دي او ټول یې یاد نه کړه، همدارنګه په صحابه کرامو ؓ کښې هم خنوخنو وونلي که دغه حکم الله ﷻ فرض کړی وی نو مونږ به پرې ضرور عمل کړی وی، لاندې تفصیل ولولی:

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۱۶۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۵ ص۲۸۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: کله چې نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف ولوست نو په خپل مبارک لاس سره یې عبد الله بن رواحه رضی الله عنه ته اشاره وکړه چې: «لَوْ أَنَّ اللهَ كَتَبَ ذٰلِكَ لَكَانَ هٰذَا مِنْ أُولٰئِكَ الْقَلِيْلِ»(۱) یعني: که بالفرض الله ﷻ ذکر شوی ثقیل حکم نازل کړی وی نو دا به د همدغو قلیلو څخه وی او عملي کړی به یې وی.

ب: همدارنګه نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَوْ نَزَلَتْ لَكَانَ ابْنُ أُمِّ عَبْدٍ مِنْهُمْ»(۲) یعني: که بالفرض ثقیل حکم نازل شوی وی نو ابن أم عبد (عبد الله بن مسعود رضی الله عنه) به ضرور د همدوی څخه وي.

ج: کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو څه کمو صحابه کرامو رضی الله عنهم ـ لکه عمر الفاروق رضی الله عنه، عمار بن یاسر رضی الله عنه، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او څو نورو ـ وویلې چې: په الله ﷻ قسم دی که مونږ پرې مامور کړی شوي وی نو مونږ به عملي کړی وی، خو الله ﷻ ته حمد وایو چې مونږ ته یې ترې عافیت راکړ او مامور یې نه کړو. نو د دغو صحابه کرامو رضی الله عنهم ویناوې نبي کریم ﷺ ته ورسېدې نو هغه ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ مِنْ أُمَّتِي لَرِجَالًا الْإِيْمَانُ فِي قُلُوبِهِمْ أَثْبَتُ مِنَ الْجِبَالِ الرَّوَاسِي»(۳) یعني: یقیناً زما د أمت څخه داسې سړي هم شته چې خامخا د دوی په زړونو کښې د ثابتو غرونو څخه ایمان ډېر کلک او قوي دی.

﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّـٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُوْلَـٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾ ذَٰلِكَ ٱلْفَضْلُ مِنَ ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمًا ﴿٧٠﴾ ﴾

[۶۹] او هر څوک چې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ اطاعت کوي نو همدوی به د هغو کسانو سره (اندیوالان) وي چې په هغوی باندې الله ﷻ انعام کړی دی (چې عبارت دي) له پیغمبرانو او صدیقینو او شهیدانو او صالحینو څخه. او دغه کسان د اندیوالۍ له حیثه ډېر ښه اندیوالان دي.

[۷۰] دغه فضل (د ذکرو شوو څلور ډلو سره اندیوالي) د الله ﷻ د پلوه دی او الله ﷻ د پوه (په صفت) بس دی (چې څوک یې د اندیوالۍ لیاقت لري او څوک یې نه لري).

## شان نزول

د ذکر شوو دوارو ایتونو د شان نزول په باره کښې زښت ډېر واقعات روایت شوي دي(۴)، لاندې یوه واقعه د مثال په توګه ولولئ:

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۵۸۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۲۲

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۲۲

(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۴۹

(۴) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۲۲؛ الدر المنثور ج۲ ص۵۸۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوه ورځې نبي کریم ﷺ ثوبان ﷺ ولید چې رنګ یې زیړ تښتېدلی وه او ډېر وارخطا وه نو نبي کریم ﷺ تري پوښتنه وکړه چې: دا ولې زېړ پېړ یې، مریض یې که څنګه؟ هغه وویلې چې: یا رسول الله! زه هیڅ مریض نه یم خو فقط همدومره ده چې تا ونه ګورم ډېر پرېشانه یم خصوصا چې کله آخرت راياد شي چې که زه جنت ته لاړ شم هم نو ستا مقام ته خو نه شم دررسېدلی نو هلته به دې ونه شم کتلی، دغې خبرې ډېر غمژن کړی یم. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱].

## ارتباطونه

۱ـ وړاندې منافقانو ته توصیه شوې وه چې د منافقت څخه لاس واخلي او نصیحت قبول کړي دا درته بهتر کار دی، او په دې ایتونو کښې د بهترۍ تفصیل بیان شوی دی چې د نیکانو سره به بې ابدي انډیوالي جوړه شي او که نه نو د ابد دپاره به د فرعونیانو او شیطانانو سره به دوزخ کښې پراته وي.

۲ـ هلته واضحه شوې وه چې په اطاعت سره به هغوی ته عظیم اجر ورکړي او هدایت (توفیق) به بې په برخه شي، او دلته د عظیم اجر یو مثال ښودلی شوی دی چې الله ﷻ به دومره توفیق ورکړي حتی چې د نیکانو انډیوالي به ترلاسه کړي خکه چې الله ﷻ هم توبه قبلوونکی دی او هم مهربان دی.

## د مطلب خلاصه

یعني: هر څوک چې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړي که څه هم پخوا یې ډېر معصیتونه کړي وي خو په هغو باندې توبه تائب شي او د پاخه ایمان درې شرطونه یې ـ چې وړاندې بیان شوي دي ـ په زړه کښې ځای ونیسي، نو الله ﷻ به یې په تېرو شوو ګناهونو باندې ونه نیسي. او د هغو کسانو انډیوالي به یې په نصیب شي چې په هغوی باندې الله ﷻ انعام کړی دی او د الله ﷻ مقبول بندګان دي، چې هغوی عبارت دي:

۱ـ د پیغمبرانو علیهم السلام څخه، چې الله ﷻ د ګناهونو څخه معصوم پیدا کړی دی.

۲ـ د صدیقینو څخه، چې په کامله توګه د هغوی په زړونو کښې ایمان ځای نیولی دی، حتی که په هغوی باندې فرض شوي وی او یا پرې فرض شي چې ځانونه ووژني نو هغوی به ځانونه وژلي وی او یا به یې ووژني.

۳ـ د شهیدانو څخه، چې هغوی په یقین سره د جهاد د فرضیت په وخت کښې خپل ځانونه د في سبیل الله جهاد دپاره وقف کړي وه او یا یې وقف کوي ترڅو چې پکښې یا شهیدان شوي دي او یا شهیدان شي.

۴ـ د عامو صالحو بندګانو څخه چې هغوی په ټول اسلام کښې ورننوتلي دي او د نبي کریم ﷺ محبت یې په زړونو کښې دومره ځای نیولی وي چې په مخونو باندې یې اثار او نښې د ورایه ښکاري.

---

[۱] اسباب النزول للواحدي ص: ۱۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ پوهېږي چې د خپلو په اعمالو کښې به قصور وي او د ذکر شوو ځلورو وارو اندېوالی او رفاقت ته به نه شي رسېدلی خو دا د الله ﷻ فضل دی چې د قصور سره-سره يې د هغوی په اندېوالانو کښې شاملوي او هغوی ته يې وررسوي او پخواني ګناهونه او مخالفتونه يې د منځه وړل کېږي.

## توضيحات

۱ـ مونږ ته الله ﷻ د سوال طريقه راښودلې ده چې: ﴿ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾ [الفاتحة: ۶ـ ۷] يعني: اې الله! مونږ ته برابره لاره راوښايي، د هغو کسانو لاره چې په هغوی باندې تا انعام کړی دی، چې ذکر شوې ځلور ډلې دي. نو ذکر شوي ايتونه د "الفاتحة" د سورت تفسير واقع کېږي.

## صديق چا ته وايي؟

۲ـ د "الصِّدِّيقِينَ" کلمه د "صِدِّيق" جمعه ده چې د صدق څخه اخستله شوې ده او د صادق يعني: رښتينې مبالغه ده. نو معنی يې داسې را اوخي چې صديق هغه څوک دی چې ډېر رښتينې وي. او مفسرينو کرامو يې ډېرې معناوې کړې دي، مثلاً:

الف: "صِدِّيق" هغه څوک دی چې هيڅکله يې په خوله باندې دروغ نه راځي او ټول کړه وړه يې په رښتياوو وي[1].

ب: هغه څوک دی چې په ايمان راوړلو کښې هيڅ دليل او برهان ته نه وي تال شوی. او برسېره په دې، د نورو مؤمنانو دپاره په ايمان راوړلو کښې مخکښې هم جوړ شوی وي[2].

ج: "صِدِّيق" هغه څوک دی[3] چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَ ﴾ [الحديد: ۱۹] او هغه کسان چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په ټولو پيغمبرانو باندې يې ايمان راوړی دی دغه کسان همدوی ډېر رښتيني دي.

صديقيت په مقبوليت کښې يوه ډېره اوچته درجه ده حتی د همدې درجې څخه وروسته د نبوت درجه ده، او د نبوت څخه راټيټه د صديقيت درجه ده.

صديقان په پخوانيو امتونو کښې هم ډېر تېر شوي دي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٌ ﴾ [المائدة: ۷۵] يعني: او د عيسی ؑ مور (بي بي مريمې رضي الله عنها) ډېره رښتينې وه. او الحمد لله ﷻ په دې امت کښې هم ډېر دي خو په ټولو کښې زيات رښتينې ابو بکر الصديق ؓ دی چې (د څو معدودو کسانو څخه په غير) نور ټول اُمت د نوموړي په صديقيت باندې متفق دي او تبريک ورته وايي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۸۵
(۲) التفسير الكبير ج ۱۰ ص ۱۷۲
(۳) البحر المحيط ج ۳ ص ۷۰۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه ورځې أبو بکر الصدیق ﷺ نبي کریم ﷺ ته وویلې چې: «لَوْ أَمَرْتَنِي أَنْ أَقْتُلَ نَفْسِيْ لَفَعَلْتُ قَالَ صَدَقْتَ يَا أَبَابَكْرٍ»(۱) یعنې: که ماته امر وکړې چې خپل ځان ووژنم نو دا کار به وکړم نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: ای أبو بکره! ته بالکل رښتیا وایې. یعنې په تا کښې مو کله هم دروغ نه دي موندلي

## شهیدان څوک دي؟

۳ـ د شهیدانو په باره کښې مونږ د [البقرة: ۱۵۴] ایت لاندې پوره څېړنه کړې ده، خو دلته فقط همدومره خبره اضافه کوو چې: ځینې مفسرین کرام وایي چې په دې ایت شریف کښې في سبیل الله شهیدان مراد نه دي بلکې شهادت ورکوونکي مراد دي(۲)، الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ ﴾ [البقرة:۱۴۳] یعنې: او همدارنګه مو تاسو غوره امت ګرځولي یاست چې ترڅو په خلکو باندې (د قیامت په ورځ) شاهدي ووایاست.

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې په دې ایت کښې في سبیل الله شهیدان مراد دي ـ والله ﷻ أعلم. او دا ځکه چې:

الف: ایتونه او احادیث د في سبیل الله شهیدانو په باره کښې زښت ډېر دي چې د دوی بهتري او فضائل پکښې د ورایه ښکاري، مثلا نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ»(۳) یعنې: په هغه الله ﷻ مې دې قسم وي چې زما نفس د هغه ﷻ په واک کښې دی چې خامخا یقینًا دا ښه ګڼم چې د الله ﷻ په لار کښې ووژل شم بیا ژوندی شم، بیا ووژلی شم بیا ژوندی کړی شم، بیا ووژلی شم بیا ژوندی کړی شم بیا ووژلی شم.

زمونږ معلوماتو ته په کتلو سره ګومان نه کوو چې د بل نېک کار په باره کښې نبي کریم ﷺ داسې آرزو کړې وي لکه په ذکر شوي حدیث شریف کښې یې چې د شهید کېدلو په هکله کړې ده.

همدا مضمون یوه پښتون شاعر په خپل یوه شعر کښې داسې ځای په ځای کړی دی چې(۴):

د قیامت په ورځ به یې بیا له تا قربان کړم :: چې صورت مې خدای معاد کړي په محشر بیا

الف: د قرآن کریم سیاق او سباق هم ناري وهي چې دلته د ﴿ وَٱلشُّهَدَآءِ ﴾ څخه في سبیل الله شهیدان مراد دي.

یو ځل تېر شوی ایت ﴿ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ ٱقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ تر آخره پورې بیا ولولئ او متصل راتلونکي ایتونو ته خیر شئ نو په ذکر شوي تفسیر باندې به مو ښه قناعت حاصل شي.

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۵۸۷
(۲) تفسیر کبیر ج۱۰ ص۱۷۴
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۲
(۴) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۳۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## صالحان څوک دي؟

۴_ د "الصّٰلِحِينَ" کلمه د "صَالِح" جمعه ده چې په مقابل کښې یې په اکثره وختونو کښې "فَاسِد" استعمالېږي او کله-کله یې په مقابل کښې "سَيِّئَة" راځي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا ﴾ [التوبة: ۱۰۲] یعنې: او څه نورو مسلمانانو په خپلو ګناهونو باندې اعتراف وکړ چې صالح عمل یې د بل سیئ (بد عمل) سره خلط کړی دی.

البته صالح ډېرې درجې لري چې حتی پیغمبرانو علیهم السلام یې هم غوښتنه کړې ده لکه چې الله ﷻ د یوسف علیه السلام د خولې څخه فرمايي چې: ﴿ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [یوسف: ۱۰۱] یعنې: ای ربه! مسلمان مې وفات کړې او صالحانو پورې مې پیوسته کړې (د همدوی د ډلې څخه مې شمېر کړې).

مګر په دې مقام کښې ترې عام مسلمانان مراد دي لکه چې په نورو ځایونو کښې ترې الله ﷻ په ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ سره تعبیر کړی دی چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: ایا د پیغمبرانو علیهم السلام سره څوک په جنت کښې معیت (انډیوالي) ترلاسه کولی شي؟ یا په بل عبارت: د پیغمبرانو علیهم السلام درجاتو ته څوک پورته کېدلی شي؟

مونږ وایو چې: د معیت څخه دا مراد دی چې یو به بل لیدی شي او یو تربله به سره ملاقات کولی شي، نه دا معنی چې ټول به په یوه درجې کښې وي او هیڅ تفاوت به ونه لري.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې د ذکر شوي سوال جواب د ﴿ رَفِيقٗا ﴾ د کلمې څخه ښه څرګندېږي دا ځکه چې د "رَفِيق" کلمه د "رِفْق" څخه اخستلې شوې ده او "رِفْق" نرمۍ او زړه سوي ته وايي[1].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مُطیع سرې به د ذکرو شوو څلورو ډلو سره یو تربله نرمي او زړه سوی لري او یو پر بل به مهربان وي، نه دا چې ټول به په یوه درجه کې وي.

په دنیا کښې خلک د پاچاهانو سره هم انډیوالي لري خو کور یې د شاهي ارګ په داخل کښې نه وي بلکې کله چې وغواړي لیدل ورسره کولی شي او ساتونکې یې د ورتللو ممانعت نه کوي.

## یادونه

۶_ د ﴿ رَفِيقٗا ﴾ کلمه که څه هم مفرده ده مګر په جمعه باندې یې اطلاق کېږي، یعنې مفرد او جمعه پکښې مساوي دي[2].

---

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۱۱۸

(۲) البحر المحیط ج۳ ص۷۰۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د نېکانو انډيوالي هم نعمت دی

۷ـ د نيکانو انډيوالي هم په دنيا کښې او هم په آخرت کښې د الله ﷻ لوی فضل او نعمت دی. د ښه وضاحت دپاره لاندې څو احاديث ولولئ:

الف: ربيعة بن کعب الأسلمي رضي الله عنه وايي چې: زما به د نبي کريم ﷺ سره کله-کله شپه راتله نو د اوداسه اوبه به مې ورته برابرولې او د ده څه خدمت به مې کاوه، نو يو ځل يې راته وفرمايل چې: غواړه چې څه غواړې (چې زه ستا دپاره الله ﷻ ته سوال وکړم). نو ما وويلې چې: زه (په جنت کښې) ستا انډيوالي غواړم. هغه راته وويلې چې: يا بل څه؟ يعنې نور څه وغواړه. ما ورته وويلې چې: سوال مې فقط همدا دی (بل څه نه غواړم). نو هغه ﷺ راته وويلې چې: «فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ»[۱] نو په خپل ځان باندې راسره د سجدو په ډېروالي سره کومک وکړه. يعنې الله ﷻ ته ډېرې سجدې او لمونځونه کوه چې الله ﷻ دې زما سره انډيوال کړي (او ستا په باره کښې زما سوال قبول کړي).

ب: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي چې: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يو سړی راغی او عرض يې وکړ چې: ای د الله رسوله! په هغه چا کښې څه وايې چې يوه ډله خلک يې خوښ وي خو په عمل او فضيلت کښې هغوی ته نه شي رسېدلی؟ (چې د قيامت په ورځ به هغوی ته ورسېږي او که جدا به ترې پاتې شي). نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ»[۲] يعنې: هر سړی به (هلته) د هغه چا سره وي چې په دنيا کښې ورسره محبت لري (نو هرڅوک دې فکر وکړي چې د چا سره يې دوستي او انډيوالي ده نو د هغه سره به حشر کړی شي).

انس رضي الله عنه وايي چې: «فَمَا رَأَيْتُ فَرِحَ الْمُسْلِمُونَ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحَهُمْ بِهَا»[۳] يعنې: ماته نه ښکاري چې مسلمانان د مسلمانېدلو څخه وروسته په بل شي دومره خوشاله شوي وي لکه چې په ذکر شوي حديث شريف باندې خوشاله شوه. او دا ځکه چې دوی پوهېده چې که "الرَّفِيقَ الْأَعْلَى" ته په عمل کښې نه شو رسېدلی نو محبت خو مو ورسره ښه پرېمانه دی.

ج: د نبي کريم ﷺ وروستنۍ خبره (چې بله خبره يې ونه کړه او وفات شو) دا جمله وه چې: «اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى»[۴] يعنې: ای الله! د لوړو انډيوالانو (پيغمبرانو عليهم السلام، صديقيو، شهداوو او صالحينو) انډيوالي (مې غوره کړه).

د: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «إِنَّمَا مَثَلُ جَلِيسِ الصَّالِحِ وَجَلِيسِ السُّوءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبًا وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۹۳
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۹۱۱
(۳) جامع الترمذي ج۲۱ ص۶۴
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۹۳۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً»(١) يعني: يقيناً د صالح انډيوال او بد (فاسد) انډيوال مثالونه داسې دي لکه د مشکو خاوند او د اوسپنې د نغرۍ پوکوونکی (پخ)، د مشکو د خاوند څخه به يا مشک په بيه واخلې يا به يې ورته (بخشش) ورکړي او يا خو به ترې به (اقلا) خوشبويي مونده کړې. او د پخ نغرۍ به دې يا جامې وسوزوي او يا به ترې بدبويي مونده کړې.

د نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: کله چې خلک د قيامت په ورځ باندې صفونه صفونه ودرېږي نو لاندې حادثې به هم پېښې شي(٢):

اول: يو سړی به په يوه دوزخي سړي باندې تېرېږي نو هغه به ورته ووايي چې: ای فلانيه! دا خبره دې نه په زړه کېږي چې د څښلو دپاره مې (په دنيا کښې) څه اوبه درکړې وې (هغه انډيوالي درياده کړه او زما شفاعت وکړه) نو شفاعت به يې وکړي.

دوهم: يو سړی به په (يوه دوزخي) باندې تېرېږي، هغه (دوزخي) سړي به ورته ووايي چې هغه درپه زړه کړه چې د اوداسه دپاره مې اوبه درکړې وې نو (جنتي به يې په زړه کړي او) شفاعت به يې وکړي.

دریم: او (دوزخي به جنتي ته) وايي چې هغه خو درپه زړه کړه چې د خپل فلاني-فلاني خدمت دپاره دې استولی وم او ستا دپاره تللی وم (او خدمت مې درته وکړ) نو جنتي به ورته شفاعت وکړي.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ خُذُوا۟ حِذْرَكُمْ فَٱنفِرُوا۟ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُوا۟ جَمِيعًا ﴿٧١﴾ وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ أَصَـٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَىَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾ وَلَئِنْ أَصَـٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَـٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾ ﴾

[٧١] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! خپل جهادي وسائل واخلئ (خانونه مسلح کړئ) نو (جهاد ته) ډلې-ډلې بهر اوځئ او يا ټول بهر شئ.

[٧٢] او يقيناً ستاسو څخه (چې د ايمان مدعيان ياست) خامخا هغه څوک هم دی چې دوی ضرور (د جهاد څخه) ټال کوي (نه اوځي او يا نور خلک ټالوي نه يې پرېږدي چې لاړ شي)، نو که تاسو ته مصيبت ورسېږي، وايي چې بې شکه الله ﷻ په ما باندې انعام کړی دی چې په دغه وخت کښې ورسره زه هلته حاضر نه وم.

[٧٣] او که تاسو ته د الله ﷻ د پلوه فضل (غنيمت) ورسېږي نو خامخا ضرور وايي لکه چې ستاسو او د ده په منځکښې هيڅ دوستي نه وي چې: کاشکې زه د دوی سره وی نو زه به (هم) په لويه کاميابۍ سره کامياب شوی وی (لکه څنګه چې دوی کامياب شوي دي).

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٣٣٠
(٢) سنن ابن ماجه ص٢ ص٢٦٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې واضحه شوه چې د ښو انډیوالانو انډیوالي د الله ﷻ فضل دی چې د چا په نصیب شي او په دې ایتونو کښې د هغوی تګلاره بیانېږي چې هغوی مجاهدین وه نو تاسو هم د هغوی په شان مجاهدین جوړ شئ.

۲ـ هلته د منافقانو حالات بیان شوي وه چې دوی د نبي کریم ﷺ حکمیت ته غاړې نه ږدي، دلته یې څه نور حالات بیانېږي چې دوی صرف د دنیا سره محبت لري او هم غواړي چې تاسو د خپلو خانونو په شان بې لارې کړي او د جهاد څخه مو کینوي او بالآخره د جهاد د وسائلو څخه مو غافل کړي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! تاسو ته صرف د منافقانو جهاد تر غاړې نه دی بلکې تاسو باید د سلفو صالحینو په شان وسله وال جهاد.ته هم خانونه چمتو کړئ، وسائل ورته برابر کړئ، تمرینونه ورته وکړئ او بالآخره حوصلې ورته غتې کړئ او د راتلونکي نسل دپاره ښکه طریقه جوړه کړئ.

۲ـ که څه هم باید تاسو ټول په مجموعه توګه وسله وال جهاد ته سترګې په لار اوسئ مګر بالفعل یې د ضرورت په اندازه وکړئ. نو که وړوکی ټولګی مجاهدینو ته اړتیا وه هلته وړوکی ټولګی ورووړاندې شئ، ممکنه ده چې څه واړه-واړه ګروپونه جوړ کړئ او وار په وار د جنګ میدان ته لاړ شئ او راشئ. او دا هم څه لرې نه ده چې ځینې کسان په دغو ګروپونو کښې هیڅ شامل نه کړئ، لکه زنانه، سپین ږیري (بوډاګان) او معیوبین چې باید په وړاندېنۍ جګړه کښې معیوب شوي وي او یا یې خلقت په همدې توګه وي.

۳ـ هو! کله چې ضرورت شو نو ټول د یوې مخې د جنګ میدان ته ورودانګئ، او که جهاد درباندې فرض عین وګرځېده نو په هغه وخت کښې ټول لاړ شئ آن د زنانه وو په شمول. خو که کوم بې معیوب بالکل د تللو توان نه لري نو هغه بېله خبره ده، هغه مکلف نه دی.

۴ـ ای مؤمنانو! یقینًا په همدا تاسو کښې (چې طیبه کلمه وایاست او د ایمان مدعیان یاست) داسې خلک هم شته چې پخپله هم جهاد ته نه ځي او نورو مجاهدینو ته هم پښو ته تیږې وراچوي چې جهاد ته لاړ نه شئ، ترڅو د خپلوخانونو دپاره د قاعدینو غټه ډله برابره کړي او خپل خانونه پکښې پټ کړي. نو تاسو د دوی پلمو او دسیسو ته ښه متوجه اوسئ چې تېر مو نه باسي، امکان لري چې دوی د ډېر دقیق تکتیک څخه کار واخلي او تاسو ته خانونه دوستان معرفي کړي چې جهاد ته مه ځئ هلته به ووژلی شئ، مونږ ستاسو دوستان یاستو او ستاسو خیر غواړو. مګر حقیقت به هغسې نه وي لکه چې دوی یې تاسو ته درښکاره کوي، قلبًا ستاسو لوی دښمنان دي او د غُصې څخه درته ګوتې چیچي خو په خولو درته حقیقت نه وایي.

۵ـ د دوی منافقت په هغه وخت کښې ډېر ښه په ډاګه کېږي کله چې تاسو د جهاد څخه بېرته راستانه شئ او دا څکه چې:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که تاسو ته هلته څه مصیبت درسېدلی وی یا مو څه مجاهدین شهیدان شوي وی نو د دوی به وايي: الحمد لله چې مونږ ورسره د جنګ په میدان کښې حاضر نه وو، او جهاد ته نه وو تللي، که نه نو مونږ ته به هم مصیبت رسېدلی وي. بالمقابل که کوم يو حقيقي مؤمن د جهاد څخه پاتې شوي وي نو هغه به په همدې حالت کښې وايي چې: کاشکې چې زه هم هلته حاضر وی چې الله ﷻ مې يا شهادت په نصيب کړی وی او يا مې د شهيدانو او زخميانو په انتقال او تداوی کښې څه خدمت کړی وی.

ب: او که تاسو ته هلته د الله ﷻ فضل درپه برخه شوی وي او څه مالي غنيمت لاس ته درغلی وي او يا مو څه غلامان او وينځې غنيمت کړې وي نو بيا داسې خبرې کوي لکه چې تاسو او دوی يو تربله سره نه پېژنئ او نه مو چرته سره ليدلي وی، بالآخره او نه مو يو بل ته خپل خان دوست او خيرخوا معرفي کړی وی. يعنې په دې وخت کښې د دوستی کومې خبرې چې د جهاد څخه د بېرته ستنولو دپاره يې تاسو ﷺ کولې هغه ټولې هېروي، ته به وايي چې دا هماغه سړی نه دی بلکې بل څوک دی، په دغه وخت کښې به وايي چې کاشکې زه هم درسره د جنګ ميدان ته تللی وی چې ما هم دغه لوی مطلب د لاسه کړی وی چې د غنيمت مالونه دي. دوی ته غنيمت ترلاسه کول لويه کاميابي ښکاري.

د دوی سره په دغه وخت کښې صرف د خپلو خانونو غم وي او کاشکې، کاشکې وايي چې غنيمت مو لا سته راغلی وی. کومو کسانو ته چې دوی خانونه دوستان معرفي کول چې جهاد ته مه ځئ هغوی په دغه وخت کښې بالکل هېروي او داسې نه وايي چې کاشکې چې فلانی مو د جهاد څخه نه وی راستون کړی چې هغه ته هم اوس غنيمت لاس ته ورغلی وی.

بالمقابل څوک چې حقيقي مؤمن وي هغه په همدغه حالت کښې څه بل رنګه خبره کوي چې الحمد لله مجاهدين په خير سره سالمين او غانمين بېرته راغله او دښمن ته يې ماتې ورکړه، دنياوي مال چندان مهم نه دی، مهمه دا ده چې دښمن په ګونډو شو. دوی دې الله ﷻ ژوندي لري دا خل چې جهاد ته ځي زه به هم ورسره لاړ شم، خومره به ښه وي چې شهادت مې په نصيب شي.

## توضيحات

١ـ د "حِذر" کلمه خو اصلا د يوه خطرناک شي څخه د خان په ځنګولو څخه عبارت ده خو په دې مقام کښې ترې هغه ټول وسائل مراد دي چې په هغو باندې سړی خان په ځنګولی شي[1]، دلته څکه دغه معنی اخستله کېږي چې د "حِذر" کلمه د ﴿ خُذُوا ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده او نيول او رانيول خو په وسائلو کښې تحقق موندلی شي، نه په مصدري معنی کښې.

همدغه مضمون په بل ځای کښې په وسائلو سره تفسير شوی دی. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم ﴾ [الأنفال: ٦٠] يعنې: او د دوی (کافرو د مقابلې) دپاره هغه (جنګي وسائل) تيار کړئ چې ستاسو وسه کېږي.

(١) مفردات الراغب ١٠٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

دَ میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د جنګي وسائلو زده کړه هم ضرور ده

۲ـ د پورتني ایت شریف څخه څرګندېږي چې مسلمانان د هغو تولو وسائلو په جوړولو باندې د فرض کفایي په توګه مکلف دي چې د زمانې په جنګونو کښې استعمالېږي، او هم یې په استعمال باندې مکلفیت لري. لکه:

الف: د الوتکو، ټانګونو، توپونو، بمونو او نورو سپکو او درنو وسلو او مهماتو صنعت، ترمیم او بالآخره استعمالول.

ب: مخابراتي سیستمونه جوړول او په کار اچول، چې د جنګ دپاره د اعصابو مثال لري.

ج: هندسي علوم، چې د اهدافو ټاکل او د پرزجاتو صنعت پورې کلک ارتباط لري.

د: علوم ارضي (جغرافیه) زده کول، چې نابلده مجاهد (چې د دښمن په ځمکه او موقعیتونو کښې معرفت نه لري) ښه موثر نه واقع کېږي.

لنډه دا چې باید مجاهدین د دښمن سره په حربي وسائلو کښې سیالي وکړي شي، لکه چې أبو بکر الصدیق ﷺ د الیمامه په جنګ کښې خالد بن ولید ﷺ ته ویلي وه چې: «حَارِبْهُمْ بِمِثْلِ مَا يُحَارِبُونَكَ بِهِ، السَّيْفَ بِالسَّيْفِ وَالرُّمْحَ بِالرُّمْحِ»[1] د هغوی (کافرانو) سره په بالمثل وسائلو سره جنګ وکړه، توره په تورې سره او نېزه په نېزې سره.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ایا جنګي وسائل د توکل علی الله سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: د جنګي وسائلو په تهیه کولو باندې مونږ مکلفیت لرو، اما د نتیجې په اعتبار سره راباندې واجبه ده چې یوازې په الله ﷻ باندې اعتماد وکړو او أسباب موثر ونه ګڼو. همدا مضمون په لاندې حدیث کښې ښه پوره واضحه شوی دی:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یوه سړي عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ایا زه خپله اوښه وتړم او په الله ﷻ باندې توکل وکړم، او که اوښه پرانیزم او په الله ﷻ باندې توکل وکړم؟ نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ»[2] ویې وتړه او (بیا په الله ﷻ باندې) توکل وکړه. یعني: د حفاظت اسباب تهیه کړه او بیا نتیجه الله ﷻ ته وسپاره.

## د ثبات د کلمې تحلیل

۴ـ د ﴿ثُبَاتٍ﴾ د کلمې تحلیل په لاندې درېوو طریقو سره کېدلی شي:

الف: "ثبات" د "ثبت، یثبت" مصدر دی او په مقابل کښې یې زوال استعمالېږي.

ب: "ثبات" د "ثُبَةٌ" جمعه ده چې په اصل کښې "ثُوَبٌ" وه، "واو" حذف شو او په عوض کښې یې په آخر کښې ګرده "ة" زیاته شوه، "ثُبَةٌ" ترې جوړ شو. "ثُبَةٌ" په دې تقدیر سره د حوض بېخ ته ویل کېږي،

(۱) تفسیر المراغي ج۵ ص۸۷
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څکه چې هلته اوبه ورتويېږي او جمعه کېږي، نو اسم تصغير يې "ثُوَيْبَةٌ" راځي[1].

ج: "ثبات" د "ثُبَةٌ" جمعه ده چې په اصل کښې "ثُبوَةٌ" وه. _لکه "خُطْوَةٌ"_ نو واو حذف شو لکه په "سَنَةٌ" کښې چې حذف شوی دی. "ثُبَةٌ" په دې تقدير د تولګي په معنی سره دی چې د لسو تنو په شاوخوا کښې وي. او جمعه يې "ثُبَات" او "ثُبِيْن" راځي[2].

په دې مقام کښې د "ثبات" کلمه په همدغه دريم تحليل سره استعماله شوې ده چې د تولګيو معنی ورکوي.

## يادونه

۵_ په ﴿ وَإِنَّ مِنكُمْ ﴾ کښې د "مِنْكُمْ" خطاب هغو کسانو ته دی چې لږ وړاندې ورته په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ سره خطاب شوی دی او د [النساء:۶۶] ايت کښې ورته د ﴿ عَلَيْهِمْ ﴾ ضمير راجع کړی شوی دی. يعنې: هغه چا ته خطاب دی چې هغه د ايمان مدعي وي. برابره خبره ده چې په رښتيا وو يې دعوه کوي لکه حقيقي مؤمنان، او يا يې په دروغو دعوه ګير وي، لکه منافقان، او هم برابره خبره ده چې ايمان يې کمزوری وي چې ځينې خبرې يې د خولې څخه اوځي او يا د بې زړه توب د کبله په ځينو خبرو باندې خوله بنوروي. نوره څېړنه يې هلمته تېره شوې ده خو دلته ورباندې فقط همدومره اضافه کوو چې د الله ﷻ په نومونو کښې يو نوم "سَتَّار" دی يعنې پرده پوښ. نو څکه يې د منافقانو په منافقت باندې ترخه وخته پورې پرده ورواچوله چې د ايمان د راوړلو چانس يې د لاسه ونه اوځي، او په اصطلاح ايمان راوړلو ته مجبور نه کړی شي او د منافق نوم ورپورې ونه نښلي.

په دې مقام کښې د ښه پوهېدلو دپاره يو ځل د [البقرة:۱۹_ ۲۰] ايتونو تفاسيرو ته ورتاو شئ.

## "بطؤ" څه معنی؟

۶_ د ﴿ لَّيُبَطِّئَنَّ ﴾ کلمه اصلاً د "بَطُؤٌ" څخه اخستلې شوې ده. "بَطُؤٌ" په لاندې دوه معناوو باندې استعمالېږي[3]:

الف: پخپله باندې د تللو څخه ټالېدل او سستي کول.

ب: بل څوک د تللو څخه ټالول او سستول.

په دې مقام کښې دواړه معناوې صحت لري څکه چې منافقان پخپله هم جهاد ته نه تلل او ټالېدل. او نورو ته يې هم پټو ته تيرې ورواچولې چې جهاد ته مه ځئ. نو که "مَا يُطلق عليه البطؤ" واخستلی شي او دواړو معناوو ته شامل شي هم بده نه ده.

په هر تقدير، ځينې مفسرين کرام وايي چې په ﴿ لَّيُبَطِّئَنَّ ﴾ کښې د "ل" توری په قسم دلالت کوي[4].

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۱۰۸

(۲) روح المعاني ج۵ ص۷۹

(۳) زاد المسير ج۲ ص۱۵۲

(۴) تفسير البغوي ج۱ ص۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او تضعیف پکښې د تکریر دپاره دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای هغو کسانو چې دایمان مدعیان یاست! قسم دی چې په تاسو کښې ځینې خلک شته چې پخپله هم جهاد ته نه ځي او نور هم نه پرېږدي چې جهاد ته لاړ شي. نو په کار دي چې هر څوک دغه خاصیت ولري هغه ترې لاس واخلي او سم مسلمان شي.

﴿ فَلْيُقَـٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَـٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱلطَّـٰغُوتِ فَقَـٰتِلُوٓا۟ أَوْلِيَآءَ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۖ إِنَّ كَيْدَ ٱلشَّيْطَـٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾ ﴾

[۷۴] نو د الله ﷻ په لار کښې دې هغه کسان (د کافرانو سره) جنګ وکړي چې دوی نړدې ژوند په آخرت باندې خرڅوي. او هغه څوک چې د الله ﷻ په لار کښې جنګ وکړي نو یا ووژلی شي او یا غالب شي نو ژر به هغه ته لوی اجر ورکړو.

[۷۵] او څه دي تاسو لره چې د الله ﷻ په لار کښې (د کافرانو سره) جنګ نه کوئ؟ او د کمزورو (د نجات) په باره کښې چې د نارینه او زنانه وو (بالآخره) او د ماشومانو څخه عبارت دي. هغه کمزوري چې (د بې وزلۍ په حالت کښې) وايي: ای زمونږ ربه! مونږ د دغې قريې څخه وباسې چې اهل يې ظالم دی، او مونږ ته د خپله پلوه دوست وګرځوې (راپیدا کړې) او مونږ ته د خپله پلوه کومک کوونکی وګرځوې (راپیدا کړې).

[۷۶] هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی د الله ﷻ په لار کښې (د کافرانو سره) جنګ کوي. او هغه کسان چې کفر یې اختیار کړی دی د طاغوت په لاره کښې جنګ کوي.

نو (ای مؤمنانو!) د شیطان د دوستانو سره مقاتله وکړئ. یقیناً د شیطان چلونه (او حیلې) کمزوري دي (کافرانو ته نجات نه شي ورکولی).

## د مطلب خلاصه

۱- یعنې: څرنګه چې کافرانو خپل آخرت په دنیا باندې بدل کړی دی او دنیاوي مالونه ورته لویه کامیابي ښکارېږي نو ای هغو کسانو (چې د دوی په مقابل قطب کښې واقع دي او بالمقابل دنیا یې په آخرت باندې تبدیله کړې ده) مناسب دی چې تاسو د دوی سره وسلوال جهاد وکړئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

ترڅو منافقان ونه شي کړی چې د خلکو په سترګو باندې پردې خورې کړي او د خپلو خانونو په شان یې دغه نژدې ژوند ته ترغیب او تشویق کړي. څکه چې:

۲ـ هرڅوک چې د في سبیل الله جهاد دپاره د کوره ووځي نو هغه په لاندې ټولو حالاتو کښې کامیاب دی:

الف: که ووژل شي کامیاب دی چې شهید شو او خپل خان یې په الله ﷻ باندې خرڅ کړ. او یا په بل عبارت: حقیر او عارضي ژوند یې په باعزته او دائمي ژوند باندې بدل کړ.

ب: که غنیمت لاس ته ورنه شي هم کامیاب دی څکه چې لویه کامیابي خو د الله ﷻ رضا ده او هغه یې حاصله کړه. دا بېله خبره ده چې منافقان د غنیمت مالونو ته لویه کامیابي وایي.

ج: که کافرانو ته ماتې ورکړي هم کامیاب دی څکه چې د الله ﷻ د بندګانو د مسلمانېدلو مخه یې خلاصه کړه، هرڅوک کولی شي چې د اسلام په حقانیت کښې فکر وکړي او ایمان راوړي.

۳ـ ای مؤمنانو! برسېره په دې، تاسو په في سبیل الله جهاد باندې مکلف یاست، تاسو به خپل مکلفیت ولې نه پوره کوئ؟

ایا ستاسو دا غیرت مني چې څینې کمزوري مسلمانان (لکه بوډاګان نارینه او ناتوانه زنانه او ماشومان) په کفرستان کښې ایسار دي، چې نه د هجرت وسه لري او نه ورته د تېښتې لارې معلومې دي او بالآخره نه د کافرانو سره مقاومت کولی شي؟.

ایا د هغوی د خلاصون دپاره د جهاد څخه په غیر بله لاره شته؟.

ایا تاسو د هغوی د خلاصون مکلفیت نه لرئ؟.

ایا تاسو په هغوی باندې زړه نه سوزئ چې هغوی شپه او ورځ الله ﷻ ته سوالونه او زاری کوي چې: ای ربه! مونږ دغه ښار یا کلي څخه اوباسي چې اهل یې ظالم دی او واکداري یې د ظالمانو په لاس کې ده، مونږ ستا عبادت ته نه پرېږدي او غواړي چې د خپلو خانونو په شان مو په سرچپه لاره باندې روان کړي.

ای زمونږ ربه! دغه ښار یا کلی چې مونږ پکښې اوسېږو د نېکانو لاس ته ورولې او واکداري یې د همدوی په نصیب کړې، چې مونږ د دینداری لارې ته سوق کړي او د بې دینی دروازې وتړي او هم د ظالمانو په مقابل کښې زمونږ سره نصرت وکړي.

۴ـ ای مؤمنانو! څرنګه چې ستاسو دښمنان د شیطان په لارې کښې جنګونه کوي او تلفات قبلوي او د طاغوتانو نصرت کوي نو ایا ستاسو غیرت مني چې تاسو د الله ﷻ په لاره کښې جنګ ته حاضر نه شئ او په همدې لاره کښې تکالیف ونه ګالئ؟ نو څرنګه چې تاسو د الله ﷻ دوستان یاست او هغوی د شیطان دوستان دي او هرڅوک د خپل دوست په لاره کښې کړاونه ګالي نو ښه په نره د شیطان د دوستانو سره مقاومت او جنګ وکړئ او دارېږئ مه، څکه چې د شیطان چلونه او تدبیرونه ډېر کمزوري دي، ته به وایې چې د غنو جال دې سات کړی ته به پوپنا شي او هیڅ شی به پاتې نه شي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ یَشْرُونَ ﴾ جمله د "شِرى" څخه اشتقاق شوې ده او "شِرى" د اضدادو څخه ده(۱) چې په دوه متضادو معناوو کښې استعمالېږي، کله په معنی د خرڅولوسره او کله په معنی د اخستلو (رانیولو) سره. د همدې کبله مفسرین کرام د ذکر شوي ایت شریف تفسیر په لاندې دوه ډوله کوي(۲):

الف: که "شِرى" د اخستلو او رانیولو په معنی سره شي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: هغه کسان دې د الله ﷻ په لار کښې جهاد وکړي کوم چې نړدې حقیر ژوند په آخرت باندې اخلي او نه پخپله جهاد کوي او نه ورته نور څوک پرېږدي چې جهاد ته لاړ شي ترڅو د منافقت څخه خلاص او د نورو مسلمانانو په شان په سمه لاره باندې روان شي.

ب: که "شِرى" په معنی د خرڅولو شي نو معنی یې داسې کېږي چې: هغه خلک دې في سبیل الله جهاد وکړي چې هغوي خپل حقیر ژوند د آخرت په ژوند باندې خرڅوي او ټول کارو بار یې د آخرت دپاره دی.

نو په اول تفسیر سره د جهاد مکلفیت منافقانو ته راجع کېږي او په دوهم تفسیر سره مؤمنانو ته متوجه دی، مګر مونږ ته دوهم تفسیر غوره ښکاري ځکه چې:

اول: په وړاندې او بیرته ایتونو کښې په جهاد باندې مؤمنان مکلف کړی شوي دي نو په کار دي چې دلته هم همدوی ته مکلفیت راجع شي.

دوهم: څرنګه چې منافقان نور خلک د جهاد څخه را ایساروي نو د دوی څخه د جهاد غوښتنه سړي ته هغه متل وریه زړه کوي چې "مونږ دې په ایمان ډارېږو او ته مرېدان نیسې".

نو د دوی د حال سره دا مناسبه ده چې لمړی دوی مکلف کړی شي چې د جهاد څخه مجاهدین مه را ایساروئ نو که په دې حکم باندې یې عمل وکړ نو بیا به مکلف شي چې اوس پخپله جهاد وکړئ. حال دا چې دوی خو اولنی مکلفیت د پښو لاندې کړی دی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ یَغْلِبِ ﴾ سره خو "یُغْلَبْ" مناسب وه، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ فَیُقْتَلْ ﴾ په عوض "فَیُغْلَبْ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: د "یُغْلَبْ" څخه لږ څه د مغلوبیت او ناکامۍ ونګمه پورته کېده حال دا دی چې مؤمن وژل کېږي خو ناکامېږي نه. او دا ځکه چې ناکامي اصلا دې ته وایي چې سړی خپل مطلب ته ونه رسېږي او په نیمایي لار کښې پاتې شي، او د مؤمن خو شهادت هم یوه آرزو ده. د همدې کبله

(۱) مفردات الراغب ص۲۶۷
(۲) روح المعاني ج۵ ص۸۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

کله چې د بئر معونة په غزا کښې حرام بن ملحان ﷺ په غشي باندې ولګېده نو وېې ويل چې «فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ»[۱] کامیاب شوم د کعبې په رب مې دې قسم وي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: که مجاهد شهید شي او که دښمن ته ماتې ورکړي او روغ رمټ خپل کور ته ستون شي، په دواړو صورتونو کښې به ورته ډېر زر لوی اجر ورکړو.

د لوی اجر په هکله زښت ډېر احادیث روایت شوي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې علي ﷺ مخاطب کړ او ورته یې وويلې چې: «لَأَنْ يُهْدَى بِكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ»[۲] یعني: یقیناً چې ستا په سبب یوه سړي ته هدایت وکړی شي (او ایمان راوړي) ستا دپاره د سرو اوښانو څخه بهتر او غوره دی.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «تَكَفَّلَ اللهُ لِمَنْ جَاهَدَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَّا جِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ وَتَصْدِيقُ كَلِمَتِهِ بِأَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ مَعَ مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ»[۳] یعني: الله ﷻ هغه چا ته ضمانت کوي چې د ده په لاره کښې جهاد کوي. (داسې جهاد) چې د کوره بل شی نه وي ویستلی مګر د ده ﷻ په لار کښې جهاد او د ده ﷻ د کلمې تصدیق. (د دې خبرې ضمانت) چې جنت ته به یې داخل کړي (که شهید شو)، او یا به یې خپل هغه استوګنځای ته بیرته ورستون کړي چې ترې وتلی وه، سره د هغه چې ده ته لاس ته ورغلی دی چې د اجر او غنیمت څخه عبارت دی.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ذکرشوي حدیث کښې د «مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ» کلمات روایت شوي دي، چې د معنی حاصل یې داسې کېږي: که کوم مجاهد ته غنیمت لاس ته ورشي نو هغه ته به اجر نه ورکول کېږي، ځکه چې د "أَوْ" کلمه د تنویع دپاره ده؟

مونږ وایو چې: دلته د "أَوْ" کلمه د "وَ" په معنی سره ده، لکه چې په یو روایت کښې د "أَوْ" په عوض "وَ" روایت شوی دی[۴]، نو کله چې د مجاهد نیت صاف وي د غنیمت رانیول هغه ته د اجر په کمبود باندې څه اثر نه غورزوي.

## یادونه

۴ـ د شیطان د تدابیرو د کمزورۍ په باره کښې مونږ د [البقرة:۲۱۳] ایت لاندې پوره شرحه لیکلې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ بیا لیکلو ته یې ضرورت نه وینو.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۲
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۱۳
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۳
(۴) تفسیر القرطبي ج۵ ص۲۷۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ
عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ
كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ
لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ
مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ
هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ
حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ
وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾ ﴾

[۷۷] (ای پیغمبره!) آیا ته هغو کسانو ته نه ګورې چې دوی ته ویل شوي وه چې (د جهاد څخه) خپل لاسونه بېرته ولرئ (جنګ مه کوئ) او لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ. نو کله چې په دوی باندې (في سبیل الله) جنګ فرض کړی شو ناڅاپه د دوی څخه یوه ډله د خلکو (کافرانو) څخه داسې ډارېږي لکه د الله ﷻ (څخه) ډار، یا د ډارېدلو د حیثه (د دې) څخه لا زیات (ډار).

او دوی وایي چې: ای زمونږ ربه! په مونږ باندې دې ولې جنګ فرض وګرځاوه؟ ولې دې د نژدې نېټې پورې وروسته نه کړو؟ (چې ښه قوت مو موندلی وی).

(ای پیغمبره!) ورته) ووایه چې: د دنیا څخه استفاده ډېره لږه ده او آخرت د هغه چا دپاره (ډېر غوره دی چې پرهېزګاري کوي (او اطاعت کوي) او په تاسو باندې به د فتیل (د کجورې د زړي د نري تار) په اندازه هم تېری ونه کړی شي.

[۷۸] په هر ځای کښې چې تاسو یاست مرګ به مو ومومي (او ترې خلاص به نه شئ) اګر که تاسو په محکمو ماڼیو (قلاګانو) کښې یاست.

او که چرته دوی ته نعمت ورسېږي (نو) دوی وایي چې دا د الله ﷻ د پلوه دی. او که چرته دوی ته زحمت ورسېږي (نو) دوی وایي چې دا ستا د پلوه دی.

(ای پیغمبره!) ورته (په جواب کښې) ووایه چې هر یو (د نعمت او زحمت) د الله ﷻ د پلوه دی، نو دغه قوم لره څه دي چې دې ته نژدې هم نه دي چې په خبره باندې پوه شي (او سرونه یې پرې خلاص شي).

[۷۹] (ای مخاطبه!) هغه شی چې تاته رسېږي د یوه نعمت څخه، نو (هغه) د الله ﷻ د پلوه دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

او هغه شی چي تاته رسېږي د يوه زحمت څخه، (هغه) ستا د خپل خان د پلوه دی. او (ای پیغمبره! ته خو سراسري نعمت يې خکه چې) ته مو د خلکو دپاره د پیغمبر په صفت استولی یې، او بس دی الله ﷻ شاهدي ورکوونکی (چې بې شماره معجزات يې درکړي دي).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې مسلمانان جهاد ته په دې خبره باندې ترغیب شوي وه چې د کمزورو او ضعيفو مسلمانانو حال درپه زړه کړئ چې ستاسو جهاد ته سترګې په لار دي، په دې ایتونو کښې په دې خبره باندې ترغيب کېږي چې جهاد خو همدا ستاسو غوښتنه وه نو په کار دي چې خپله پخوانۍ غوښتنه درپه زړه کړئ او په جهاد کښې سستي ونه کړئ، او د منافقانو چلونو ته اعتناء ونه کړئ.

## شان نزول

څرنګه چې په دې ایتونو کښې الله ﷻ د هغو خلکو د خولو څخه چې دا ایتونه پکښې نازل شوي دي داسې خبرې هم حکایت کړې دي چې د سوچه مؤمنانو سره مناسبې نه دي او د منافقانو خبرو نه ورته دي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: هغوی د خلکو څخه دومره ډارېږي لکه د الله ﷻ څخه چې ډارېږي د همدې کبله جهاد ته پلمې او بهانې جوړوي، او لا د دې څخه هم زيات ډارېږي ﴿يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً﴾.

ب: کله چې دوی ته څه مصيبت ورسېږي نو پیغمبر ﷺ ته وايي چې دا ستا د پلوه دی ﴿وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ﴾.

ج: د پیغمبر ﷺ په حضور کښې وايي چې مونږ ستا اطاعت کوو، خو د شپې د بې اطاعتۍ فيصلې کوي. راتلونکی [۸۱] ايت.

د: کله چې د امن يا خوف خبره واوري هغه افشاء کوي او د الله د پیغمبر ﷺ او د أُولو الأمر د لاربښونې پورې يې نه تړلوي. راتلونکی [۸۳] ايت.

نو د همدې کبله يې مفسرينو کرامو په شان نزول کښې په لاندې ډول سره اختلاف کړی دی:

۱_ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې عبد الرحمن بن عوف ﷺ او څه نور صحابه کرام ﷺ نبي کريم ﷺ ته په مکه معظمه کښې ورغله چې مونږ د کافرو د لاسه ډېر په ذلت کښې ياستو، ترڅو به د دوی د پلوه د ذلت برداشت کوو، نو امر راکړه چې جهاد ورسره پيل کړو. مګر نبي کريم ﷺ به ورته ويلې چې زه په وسلوال جهاد باندې تر اوسه نه يم مامور شوی[۱].

په دې صورت کښې سړي ته ذهن ته ورځي چې ايا د عبد الرحمن بن عوف ﷺ غوندې جليل القدر صحابي ته مناسبه وه چې د خلکو څخه ډارېدل د الله ﷻ د ډارېدلو سره برابر وګڼي، او يا د مصيبت د پېښېدلو نسبت نبي کريم ﷺ ته وکړي؟

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ د همدې کبله ځینې مفسرین کرام وایي چې دا ایت شریف مونږ ته د پخوانیو قومونو څخه د کوم یوه حال بیانوي چې په هغه وخت کښې داسې خلک تېر شوي دي چې د جهاد غوښتنه به یې کوله خو کله به چې پرې فرض کړی شو نو بیا به یې ورته ملاوې ماتې وې ته به وایې چه د جالوت او طالوت قیصې ته اشاره کوي[۱].

مګر دا ډول شان نزول د تبادر څخه مخالف دی او وړاندې بېرته ایتونه ورسره سمون نه خوري.

۳_ ځینې مفسرینو ډېر زیات زور لګولی دی چې دا ایتونه د منافقانو څخه حکایت کوي، او په همدې خبره باندې یې زښت ډېر دلائل وړاندې کړي دي[۲].

مګر په دې صورت کښې سړي ته ذهن ته ورځي چې په مکه معظمه کښې خو د کوم یوه منافق څخه په غیر منافقانو موجودیت نه درلود، د دوی ډلې خو په مدینه منوره کښې نشأت کړی دی، لکه چې د [البقرة:۹] ایت لاندې یې څه شرحه تېره شوې ده.

۴_ ځینې مفسرین کرام وایي چې دلته د صحابه وو کرامو ﷺ هغه حالت وریه زړه کول مطلب دي چې کله نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ او د انصارو دوه قبیلې اَوس او خَزرج سره په جګړه بوختې وې او نبي کریم ﷺ به ورته ارشاد کاوه چې د جنګ څخه لاس واخلئ او خپل لمونځونه کوئ او زکاتونه ورکوئ. نو په دې مقام کښې د ذکر شوي ارشاد په تذکر کښې مطلب دا دی چې تاسو د جاهلیت په جنګ کښې څومره کلک وئ او اوس په في سبیل الله جهاد کښې سستي کوئ؟[۳].

مګر په دې صورت کښې سړي ته ذهن ته ورځي چې د نبي کریم ﷺ په هجرت سره خو د ذکرو شوو قبیلو د جنګ اور مړ شو او دې ته خو حاجت پاتې نه وه چې هغوی جاهلي جنګ پسې تاند وهي او نبي کریم ﷺ یې ترې را ایساروي.

۵_ ځینې مفسرین کرام ذکرو شوو وجوهو ته کتلي دي او عقیده یې ښکاره کړې ده چې په دې مقام کښې مونږ توقف کوو او جزم نه شو کولی چې دا ایتونه به د چا په باره کښې نازل شوي وي[۴].

## تبصره

مونږ ته په ذکر شوو ټولو روایتو کښې اولني روایت په زړه پورې ښکاري، ځکه چې په دغه روایت کښې دا مطلب نه دی چې کوم صحابي چې په مکه معظمه کښې د جهاد د فرضیت غوښتنه کړې وه بعینه همغه صحابي دا جمله هم اداء کړې ده چې: ﴿ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ ﴾ ای ربه! په مونږ دې ولې مسلح جهاد فرض کړ؟ او یا داسې نورې جملې هم د همدغه صحابي د خولې څخه وتلې وې.

---

(۱) البحر المحیط ج۳ ص۷۱۲
(۲) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۱۲
(۳) تفسیر المراغي ج۵ ص۹۴
(۴) في ظلال القرآن ج۱ ص۷۱۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې مطلب یې دا دی چې د مؤمنانو په ډله کښې هغه وخت داسې خلک موجود وه چې د نورو په نمایندګۍ به یې د جهاد د فرضیت غوښتنه کوله، او نن ورځ پکښې داسې خلک هم شته چې د جهاد د فرضیت څخه خپلې اوږې خالې کوي.

په دې کښې شک نشته چې ذکرې شوې د بې همتۍ خبرې به منافقانو کړې وې خو الله ﷻ یې ټولو مؤمنانو ته نسبت وکړ، برابره خبره ده چې رښتیاني مؤمنان دي او که په دروغو د ایمان دعوه کوونکي دي. ځکه چې:

اول: د [البقرة:٧٢] ایت لاندې څه بیان تېر شوی دی چې کله-کله د ځینو خلکو خبره ټولو خلکو ته انتساب کېدلی شي.

دوهم: شاید په دې مقام کښې به ذکر شوی تعبیر ځکه غوره کړی شوی وي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې ترڅو الله ﷻ په منافقانو باندې د یو وخته پورې پرده واچوي چې د یو پلوه د مسلمانانو په مقابل کښې صف ګیري ونه کړي او د بله پلوه دوی ته فرصت ورکړی شي چې په رښتیاني ایمان باندې مشرف شي. که بالفرض رډ برډ نازل شوی وی چې فلانی منافق داسې خبرې کوي نو امکان لري چې د دوی کینه لا پسې اضافه شوې وی او په خپل منافقت باندې لا زیات کلک شوي وی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ [البقرة:١٤٣] یقینًا الله ﷻ په خلکو باندې نرمي کوونکی مهربان دی.

## د مطلب خلاصه

١ـ یعني: ای پیغمبره! اوس چې په مؤمنانو باندې د کافرانو سره جهاد فرض کړی شوی دی، ته نه ګورې چې في الحال په دوی کښې داسې خلک هم شته چې د جهاد د فرضیت په باره کښې څه غیر مناسبې خبرې کوي. حال دا چې په دوی باندې داسې وخت هم تېر شوی دی چې دوی به پخپله د جهاد د فرضیت غوښتنه کوله چې ترڅو به د کافرانو د لاسه د ذلت شپې ورځې تېروو. مونږ ته په جهاد باندې امر وکړه چې په جنګ باندې ورسره پیل وکړو.

دوی ته به ویل کېده چې سمدستي مونږ ته د جهاد امر نه دی شوی، سمدستي په همدې باندې مکلف یاستو چې د لمونځونو او د زکاتونو په اداء کولو باندې خپل ځانونه تربیه او همدا احکام عملي کړو. الله ﷻ د خپلو احکامو په رانازلولو باندې ښه پوهېږي او وختونه یې ډېر ښه پېژني.

٢ـ لنډه دا چې په هغه وخت کښې یې نه بشري توان درلود او نه په جهادي وسائلو باندې مجهز وه، خو د دې سره-سره جهاد ته زښت ډېر لېوال وه. مګر کله چې د همغه شي امر ورباندې وکړی شو چې دوی ورته لېوال وه او د دوی غوښتنه وه، نو نن ورته زړه نازړه دي. او داسې ډله هم پکښې شته دي چې د الله ﷻ د مخلوق څخه داسې دارېږي لکه چې څوک د الله ﷻ څخه دارېږي او بلکې لا د دې څخه هم زیات په دار کښې دي، او د ډېرې وارخطایي څخه یې غیرې مناسبې خبرې د خولو څخه اوخي او غیر مناسب کارونه کوي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دوی غیر مناسبه وینا دا ده چې: ای زمونږ ربه! ولې دې په مونږ باندې جنګ فرض کړ؟ کاشکې چې لږ څه وخت دې نور هم وروسته کړی وی چې مونږ ورته د هر حیثه تیار شوي وی. او نوت مو اضافه شوی وی. علاوه په دې د دنیا د ژوند څخه مو لږ څه استفاده کړې وی او په بې غمۍ سره مو څو شپې او ورځې تېرې کړې وی بیا به مو په جهاد باندې پیل کړی وی.

۳_ ای پیغمبره! دوی ته ووایه چې:

الف: ایا هغه تاسو نه یاست چې د جهاد د فرضیت غوښتنه مو کوله؟

ب: په هغه وخت کښې خو تاسو نه جهادي وسائل درلوده او نه مو جهادي قوت درلود چې: ایا ربښتیا جهاد دغو شیانو ته اړتیا لري؟

ج: ایا تاسو د هغه وخت څخه نن ورځ د هر حیثه با قدرته نه یاست؟

د: ایا ستاسو توکل او ډاډینه په الله ﷻ باندې کمه شوې ده؟

ه: ایا د مرګ ټاکلې نېټه بدلون قبلوي؟

و: ایا د دنیا ټول عمر ډېر لږ شی نه دی؟

ز: ایا د دنیا څخه آخرت د هر حیثه غوره او بهتر نه دی؟

لنډه دا چې: ای پیغمبره! دوی ته ووایه چې د آخرت ښېګڼې په نظر کښې ونیسئ او د آخرت دپاره کار وکړئ. خو په یاد ولرئ چې آخرت د متقیانو دپاره ګټور دی، او تقوی په اطاعت حاصلېږي، نه په عصیان او تنبلۍ.

په آخرت کښې د یوه تار په اندازه نیکي هم نه ضائع کېږي. دنیا د آخرت دپاره تجارتخای دی، دائمي استوګنځای نه دی، نن دی که سبا د مرګ سره به مخامخ شئ که څه هم په قوي قلاګانو او کلکو سنګرو کښې ډېره یاست.

۴_ ای پیغمبره! نن ورځ د ایمان په دعوه دارانو کښې داسې ډله هم شته چې ښېګڼې او خوشالۍ د الله ﷻ د پلوه ګڼي او چې کله ورته څه مشقت ورسېږي نو تاسو ته مخ دراړوي چې دا ستا د لاسه راورسېده.

دوی ستا په هجرت باندې بدفالي نیسي، چې ستا په راتګ سره دلته وچکالي راغله او د قحطۍ سره مخامخ شوو. او علاوه په دې، که تا دلته هجرت نه وی کړی نو نه به جهاد فرض کېده او نه به د جنګونو سره مخامخ کېدلو.

ای پیغمبره! ته ورته ووایه چې خیر او شر ټول د الله ﷻ د پلوه دي. زه محض مبلغ او داعي یم، زما په لاس کښې د تکویناتو څخه هیڅ شی نشته.

۵_ ای پیغمبره! دوی خو عجیبه خلک دي چې د الله ﷻ کارونه یوه بنده ته نسبتوي، په وار-وار دې ورته خپل خان معرفي کړی دی چې زه په تکویناتو کښې مداخله نه کولی شم او نه یې صلاحیت لرم، خو دوی په خپله باطله مفکوره باندې کلک دي.

۶_ ای پیغمبره! هغه خلک چې په تا باندې بدفالي نیسي یو خل بیا هر یو جدا جدا مخاطب کړه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ورته ووایه چې هر یو نعمت چې تا ته رسېږي هغه د الله ﷻ د پلوه په تا باندې یو فضل او لطف دی، او هر یو تکلیف چې تا ته رسېږي د هغه دپاره ستا خپل ځان سبب ګرځېدلی دی او ستا د خپله لاسه دی.

۷ـ ای پیغمبره! دغــې نه ده لکه چې دوی خیال کوي ته خو مونږ خلکو ته د پیغمبر په صفت استولی یې. او ستا موجودیت خو سراسري رحمت او ښېګڼې دي هسې نه لکه چې دوی عقیده لري او په تاباندې بدفالي نیــې. که دوی په تاباندې سمه عقیده وکړي د دنیا او آخرت د مشکلاتو څخه به بې غمه شي او که نه نو الله ﷻ خو ستا په رسالت باندې شاهدي وایي او بې شماره معجزې یې درکړې دي، که دوی درباندې عقیده کوي او که نه.

## توضیحات

۱ـ مفــرینو کرامو په مکه معظمه کښې د جهاد د فرضیت د ټالولو ډېرې وجې لیکلې دي[۱]، خو مونږ ته لاندې وجې په نظر راځي:

الف: الله ﷻ قـادر وه چې د کمزورۍ په حالت کښې یې هم مسلمانانو ته په کافرانو باندې برۍ ورکړې وی، خو دا به خارق العاده برۍ وی او د قیامت د ورځې پورې به ټولو مسلمانانو ته د عـادي برې تیره نه وی اینـودله شوې او په هره زمانه کښې به مسلمانان د خارق العاده برې په هیله ناست وی، نه به یې د مستقل حکومت هڅه کولی او نه به د جهادي وسائلو په برابرولو کښې بوخت شوي وی.

ب: که هلته جهاد فرض شوی وی نو مسلمانان به د هجرت د اجر څخه محروم شوي وی او د اسلام په لاره کښې به یې د جلاوطنۍ مشقتونه نه وی ګاللي.

ج: که هلته جهاد فرض شوی وی نو د یو پلوه به د کافرانو ظلم په لویه پیمانه باندې نه وی ښکاره شوی چې مسلمانان یې د خپل اصلي ټاټوبي څخه وشړل، او د بله پلوه به په جهاد باندې خلکو د وطني جنګ ګومان کړی وی، لکه چې د یوه وطن خلک کله-کله یو قوم د بل قوم سره په جنګ شي او د جنګ اصلي موجبات دنیاوالو ته چندان ښکاره نه وي چې دوی په څه وجه یو د بل په مقابل کښې راپورته شوي دي.

د: علاوه پر دې، وطني جنګونه په اکثرو وختونو کښې د اقتدار او مشرۍ د لاس ته راوړلو د کبله صورت نیــې، نو که هلته فرض شوی وی خلکو به په جهاد باندې هم همدغه رنګه ګومان کړی وی.

هـ: بالآخره جهاد په هغه صورت کښې ښه موثر واقع کېږي چې د مقابل طرف څخه د مجاهدینو صف جدا وي، د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَرَايَا نَارَاهُمَا»[۲] د دواړو ډلو (مسلمانانو او کافرانو) اورونه دې سره یو تربله ونه ګوري. یعنې باید د دواړو صفونه سره جدا او بېل وي. او دغه کار په مکه معظمه کښې تحقق نه شو موندلی.

---

(۱) في ظلال القرآن ج۱ ص۷۱۴
(۲) سنن ابي داود ج۱ ص۳۵۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په عربي ژبه کښې خو د "أوْ" کلمه د شک دپاره استعمالېږي او د شک معنی خو په ﴿ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ﴾ کښې صحت نه لري، ځکه چې الله ﷻ ته خو هر څه معلوم او ښکاره دي؟

مونږ وایو چې:

الف: د "أوْ" کله-کله د تخییر دپاره استعمال مومي او دلته همدا معنی مراده ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: دوی د خلکو څخه په زیات ډار کښې دي نو خوښه دې چې د دوی دغه ډار د الله ﷻ د ډار سره تشبیه کوي او که لا د دې څخه زیات یې ګڼي دواړه صحت لري[۱].

ب: دلته د "أوْ" کلمه د "بَلْ" په معنی سره ده[۲]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: دوی د خلکو څخه دومره ډارېږي لکه چې د الله ﷻ څخه ډارېږي بلکې د دې څخه لا زیات ډارېږي، د دې "أوْ" نظیر دا دی چې: ﴿ وَأَرْسَلْنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴾ [الصافات:۱۴۷] یعني: او مونږ یونس ؑ سل زره خلکو ته واستاوه بلکې د دې څخه اضافه وو ته.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: په دې تقدیر خو هغوی سوچه کافر شوه چې د الله ﷻ څخه ډارېدل او د بندګانو څخه ډارېدل یې سره یو برابر کړه او یا یې ترې زیات کړه؟

مونږ وایو چې:

الف: د خلکو ډار د وژلو څخه کنایي دی او د الله ﷻ ډار د مرګ څخه کنایي ګڼل کېږي، نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: دوی د وژلو څخه دومره ډارېږي لکه څومره چې د مرګ څخه ډارېږي او لا د دې څخه اضافه په ډار کښې دي[۳].

ب: دلته طبعي ډار مراد دی، او د طبعي ډار په زیادت باندې سړی نه کافر کېږي لکه چې الله ﷻ ترې د [البقرة:۲۱۶] ایت کښې په ﴿ كُرْهٌ ﴾ سره تعبیر کړی دی[۴].

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوی ډار خو الله ﷻ د منافقانو د زړونو څخه مونږ ته حکایت کوي، د هغوی څخه دغه ډول ډارېدل څه لرې نه دي، خو فقط دومره ده چې الله ﷻ ورباندې پرده واچوله او په صراحت سره یې ونه ویل چې منافقان په دې اندازه په ډار کښې دي.

---

(۱) تفسیر المظهري ج۲ ص۱۶۶
(۲) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۱۱
(۳) تفسیر القرطبي ج۵ ص۲۸۱
(۴) زاد المسیر ج۲ ص۱۵۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دنیا ناچیزه متاع ده

۴ـ نبي کریم ﷺ د دنیاوي متاع قلت ډېر ښه تفسیر کړی دی چې: «مَا مَثَلُ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مَثَلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ»[۱] یعني: ټوله دنیا د آخرت په نسبت باندې نه ده مګر داسې ده چې ستاسو یو کس یوه ګوته په دریاب کښې ښکته کړي نو ودې ګوري چې څومره (لوندوالی) به د ګوتې سره راپورته کړي. نو د ګوتې د لوندوالي او د ټول دریاب چې څه نسبت دی همدغه نسبت د دنیا او د آخرت هم درواخلې.

### "حَسَنَةٌ" او "سَيِّئَةٌ" څه معنی؟

۵ـ مفسرین کرام متفق دي چې په دې مقام کښې د ﴿ حَسَنَةٌ ﴾ څخه نعمتونه او فراخي مرادې دي، نه ثوابونه او اجرونه. همدارنګه د ﴿ سَيِّئَةٌ ﴾ څخه دلته مشقتونه او قحطي مطلب دي، نه ګناهونه[۲]. چې په لاندې صورتونو کښې یې تحقیق موندلی دی:

الف: کله چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ نو هلته به منافقانو د یهودانو په ګډون او یا د دوی په اشاره په نبي کریم ﷺ باندې بدفالي نیوه، البته کله به چې څه غلې دانې کمې وشوې او یا به بارانونه ونه شوه[۳].

ب: په ځینو وختونو کښې به یې څکه د جهاد څخه خپلې اوږې خالي کولې چې ویلې به یې چې د نبي کریم ﷺ قیادې تدبیر کمزوری دی. د همدې کبله عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) د درې سوو کسانو سره د أحد په غزا کښې د نیمایي لارې څخه بېرته ستون شو او بهانه یې دا ونیوه چې د قریشو د مقابلې دپاره د مدینې منورې د ښار څخه ورووتل ښه تدبیر نه دی.

### یادونه

۶ـ ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ مَآ أَصَابَكَ ﴾ په جمله کښې نبي کریم ﷺ ته خطاب ګڼلی دی خو کنایهٔ یې ټول أمت مراد کړی دی[۴]، او ځینو پکښې غیر معین شخص مطلب کړی دی چې د بدلیت په اعتبار سره د أمت هر فرد ته شاملېږي[۵].

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې د هغې فرقې هر فرد مخاطب کړی شي چې په نبي کریم ﷺ باندې به یې بدفالي نیوه، چې د ایتونو د سیاق سره همدغه معنی ښه مناسبه برېښي. لکه چې د مطلب په خلاصه کښې یې حاصل ذکر دی.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۰۲
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۵۲
(۳) روح المعاني ج۵ ص۸۸
(۴) تفسیر المراغي ج۵ ص۹۷
(۵) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۱۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: په وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ د خوشالیو او غمونو (ټولو) نسبت خپل خان ته کړی دی چې: ﴿ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ ورته ووايه چې هر يو (خوشالي او غم) د الله ﷻ د پلوه دی او په دې ایت کښې د غمونو نسبت د هر چا خپل نفس ته وکړی شو چې ﴿ فَمِن نَّفْسِكَ ﴾ دا دې د خپل خان څخه دی. نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه دواړه ایتونه سره مناقض نه دي؟

مونږ وايو چې: خوشالي او غمونه د ایجاد په اعتبار سره دواړه الله ﷻ ته نسبت کېږي چې دواړه د الله ﷻ له پلوه موجودېږي او دواړه د الله ﷻ په ارادې پورې اړه لري. همدې مضمون ته په وړاندې ایت کښې اشاره شوې ده.

او د سببیت په اعتبار سره د خوشالیو سبب صرف د الله ﷻ فضل دی او د غمونو سبب د انسان خپل گناهونه او خطاوې دي، چې همدې مضمون ته په همدې ایت کښې اشاره کېږي چې اوس د بحث لاندې دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وايي چې: لکه څنگه چې گناهونه د غمونو سبب جوړېږي همدارنگه حسنات هم د خوشالیو اسباب دي، لکه چې الله ﷻ د نوح ﷺ د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴾ [نوح: ۱۱] یعنې: ای زما قومه! ایمان راوړئ چې الله ﷻ درباندې په شیبو-شیبو بارانونه وکړي او مالونه او زوزات مو زیات کړي او داسې نور.

نو پوښتنه دا ده چې باید په دواړو خایونو کښې د "مِنْ نَفْسِكَ" کلمه استعماله شوې وی چې غم او ښادي دواړه ستا د خپل لاس حاصل دی؟

مونږ وايو چې: سبب خو اصلا هغه پرې ته وايي چې د هغه په ذریعه باندې سړی د څا د بیخ څخه اوبه پورته کوي او یا پرې سړی د خرما د ونې سر ته ختېږي[1]، مگر په عام عُرف کښې هر شی چې د بل شي دپاره ذریعه جوړېږي هغه د سبب په نامه یادېږي. نو د همدې معنی په لحاظ سره لاندې دوه ډولونه لري:

الف: چې یو شی د بل دپاره صرف ذریعه وي او د عوضیت څخه بالکل خالي وي، لکه چې سړی روايي: "كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ" د قلم په ذریعه مې لیکنه وکړه.

ب: چې برسېره په ذریعه توب باندې عوضیت هم پکښې وي، لکه چې په بیه کښې ثمن د مبیعې ذریعه ده او مبیعه د ثمن ذریعه ده خو یو د بل عوض هم دی.

نو د خوشالیو دپاره په اوله معنی باندې حسنات اسباب گڼل کېږي چې صرف اسباب دي او د عوضیت څخه بالکل خالي دي.

---

[1] مفردات الراغب ص۲۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا څکه چې که يو انسان هرځومره زيات عبادتونه او طاعتونه وکړي او هرځومره اوږد عمر ولري هم بيا نشي کولی چې د الله ﷻ د نعمت بدله هم نه شي پوره کولی چې الله ﷻ د نشت څخه موجود کړ او په ايمان باندې يې مشرف کړ، پاتې خو لا نور نعمتونه.

نو ځرګنده شوه چې خوشالي او نعمتونه يو هم د طاعت په بدل کښې نه دي راکړی شوي بلکې صرف او صرف د الله ﷻ فضل او کرم دی. د همدې کبله نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې «لَنْ يُدْخِلَ أَحَدًا عَمَلُهُ الْجَنَّةَ» يعني هيڅوک د ده عمل جنت ته نه شي داخلولی صحابه کرامو ﷺ وويلې چې «وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ» او نا هم، ای د الله رسوله؟! نبي کريم ﷺ وفرمايل چې «وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللهُ بِفَضْلٍ وَرَحْمَةٍ»[1] او زه هم (جنت ته په عمل باندې نه شم داخليدلی مګر هله چې الله ﷻ مې په فضل او رحمت سره پټ کړي.

## هېر مو نه شي!

۹ـ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې الله ﷻ د ايمان د مدعيانو ـبرابره خبره ده چې دعوه يې رښتيا وي او که دروغ وي‌ـ څلور غلطياوې رد کړي دي. هغه دا چې:

الف. هغوی د جهاد د پيل غوښتنه کوله خو کله چې ورباندې فرض کړی شو نو بيا يې ورته چندان رغبت او مينه نه وه.

ب. هغوی زحمتونه او غمونه نبي کريم ﷺ ته نسبتول او بدفالي يې ورباندې نيوه.

دغه دواړه غلطياوې په ذکرو شوو ايتونو کښې رد کړی شوي دي.

ج. هغوی به خوله د اطاعت چغې وهې او پټ د بې اطاعتۍ پلانونه جوړوې. د همدغې غلطۍ رد ته په راتلونکي منصلو درې ايتونو کښې اشاره کېږي.

د. بالاخره هغوی د امن يا د خوف خبر سمدستي خورولې او اشاعت ورکوې.

د دغې غلطۍ رد به راتلونکي [النساء ۸۳] ايت کښې شوی دی.

﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا۟ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ ٱلَّذِى تَقُولُ ۖ وَٱللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ ﴾

[۸۰] هر څوک چې د پيغمبر ﷺ اطاعت وکړي نو يقيناً هغه د الله ﷻ اطاعت وکړ. او هر څوک چې (ترې) مخ واړوي نو (هغه د الله ﷻ د اطاعت څخه مخ واړاوه او په تا باندې يې مسئوليت نشته

---

[1] صحيح البخاري ج ۲ ص ۸۴۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څکه چې) مونږ خو په دوی باندې ته د ساتونکي په صفت نه یې استولی.

[۸۱] او دوی وايي چې: (زمونږ ټول کاروبار تاته) اطاعت دی. نو کله چې ستا د خوا څخه بهر شي، د دوی یوه ډله د هغې خبرې څخه په غیر (او د هغې په خلاف) چې ته یې (ورته) وايي پټې مشورې کوي (او پلانونه جوړوي). او الله ﷻ هغه څه (پلانونه) لیکي چې دوی یې پټ جوړوي. نو د دوی څخه مخ واړوه او په الله ﷻ باندې توکل وکړه، او بس دی الله ﷻ کارساز.

[۸۲] ایا نو دوی په قرآن کښې غور نه کوي (چې حقانیت یې ورته څرګند شي)، او (دا څکه چې) که (دا قرآن کریم) د الله ﷻ څخه په غیر (د بل چا کلام) وی نو خامخا دوی به پکښې زښت ډیر اختلاف سوندلی وی (نو چې لږ اختلاف هم پکښې نه شي موندلی همدا یې د حقانیت د ښکاره کولو دپاره کفایت کوي).

## ارتباطونه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې ارشاد وه چې د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې الله ﷻ شاهد دی، او په دې ایتونو کښې د شهادت لاندې نمونې ذکرې شوې دي:

الف: د نبي کریم ﷺ اطاعت یې خپل اطاعت وګڼه چې دا د رښتیاني پیغمبر خاصه ده.

ب: داسې دائمي معجزه (قرآن کریم) یې ورباندې نازل کړی دی چې د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې د قیامت د ورځې پورې دلالت کوي.

۲_ هلته د ایمان د مدعیانو دوه غلطۍ رد شوې وې او دلته یې دریمه غلطي ردېږي. نو حاصل یې داسې راخېژي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! څرنګه چې ته په حقه پیغمبر یې نو ستا اطاعت زما اطاعت دی او ستا بې اطاعتي زما بې اطاعتي ده، ته خو څوک خپل عبادت ته نه دربلې، ته خو د الله ﷻ یو سپېڅلی بنده یې او خپله وظیفه ډېره ښه پېژنې چې ستا په غاړه صرف رسالت دی او بس.

نو څوک چې ستا اطاعت کوي نو هغه په حقیقت کښې د الله ﷻ اطاعت کوي، او څوک چې د دې څخه مخ واړوي نو ته خو مونږ په هغه باندې څارونکی نه یې استولی چې د قیامت په ورځ یې درڅخه پوښتنه وشي چې په فلاني باندې دې ولې اطاعت نه تحمیلاوه او هغه دې ولې په سمه لار باندې روان نه کړ. ستا وظیفه صرف د الهي ارشاداتو رسونه ده او بس.

۲_ مګر ای پیغمبره! الله ﷻ حقیقي اطاعت غواړي چې ظاهراً او باطنًا ستا رسالت ته وشي، هسې نه لکه د ایمان ځینې مدعیان چې ستا په حضور کښې وايي چې مونږ ستا اطاعت کوو خو په بټه او ستا په غیاب کښې د هغې خبرې څخه په غیر بله خبره غوټه کوي کومه چې ته ورته وايې. که دوی دا بې اطاعتي خبره ستا څخه پټه کړي نو د الله ﷻ څخه خو یې نه شي پټولی، او کرام الکاتبین لګیا دي دوی چې څه وايي هغه ټول لیکي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

۳_ نو ای پیغمبره! سمدستي د دوی څخه اعراض وکړه ناندري، ورسره مه وهه او وخت پرې مه ضائع کوه او بلکې د یو وخته پورې ورسره خبره مه سپینوه، عند الموقع به درته الله ﷻ هدایت درکړي.

دوی که ستا په ضد هر خومره هلې ځلې وکړي نو د الله ﷻ د ارادې مخه نه شي نیوی، نه فقط په الله ﷻ باندې توکل وکړه چې د ټولو کارونو سازوونکی دی او همدا بس ده چې الله ﷻ دې کارساز دی.

۴_ ای پیغمبره! که څوک درڅخه معجزه غواړي نو همدا معجزه بس ده چې په تا باندې مو قرآن کریم نازل کړی دی، که دوی پکښې فکر وکړي نو ډیر ژر به پوه شي چې بې شکه ته په حقه پیغمبر یې.

او دا ځکه چې که قرآن کریم د الله ﷻ منزل کتاب نه وی نو دوی به پکښې زښت ډیر اختلافات موندلي وی، مثلاً په مضامینو کښې به یې تناقض وی، فصاحت او بلاغت کښې به یې تشابه نه وی، په غیب ویلو کښې به یې عدم مطابقت لیدل شوی وی، د تېرو شوو زمانو په اخباراتو کښې به یې دروغ څرګند شوي وی او داسې نور.

ذکر شوي اختلافات به ځکه ضرور واقع شوي وی چې قرآن کریم په درویشتو کلونو کښې نازل شوی دی او د زمانو تېریدنه ضرور د انسان په کلام باندې تاثیر کوي او بې تفاوته نه پاتې کیږي. علاوه په دې څرنګه چې د الله ﷻ څخه په غیر نور د هر چا علم ناقص دی نو غیبي اخبارات به یې یا ټول دروغ وي او یا به پکښې کوم یو اخبار ریښتیا وي او دا هیڅکله ممکنه نه ده چې ټول اخبارات به یې ریښتیا وي. حال دا چې د قرآن کریم ټول اخبارات ریښتیا دي نو معلومه شوه چې دا د الله ﷻ کلام دی او په چا یې چې نازل کړی دی هغه په حقه پیغمبر دی او هیڅ شک او شبه پکښې نشته

## توضیحات

۱_ د «بَیَّتَ» په کلمه اصلاً د «بَیت» څخه اخستله شوې ده او «بیت» کور ته وایي. نو څرنګه چې عادةً د شپې د مخې خلک په کورونو کښې اوسیږي نو هغه خبره چې په شپه کښې جدا په یوه ګوښه کښې جوړه کړی شي او یا هغه کار چې په دغسې موقع کښې په ډیر فکر سره ترتیب کړی شي نو د هغو دواړو څخه په «بَیَّتَ» سره تعبیر کیږي[۱]

یا په بل عبارت د دقیق پلان څخه په ذکر شوي لفظ باندې تعبیر کیږي که څه هم هغه د ورځې جوړ کړی شوی وي. د همدې کبله منظوم کلام د ابیاتو په نامه یادیږي چې ترتیبول یې ډیر څه دقت غواړي

(۱) تفسیر القاسمي ج۵ ص ۳۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿غَيْرَ ٱلَّذِى تَقُولُ﴾ کښې د ﴿تَقُولُ﴾ کلمه چا ته منسوبه ده؟

مونږ وایو: د دغې کلمې په انتساب کښې ځینو مفسرینو کرامو لاندې دوه احتماله لیکلي دي[1]

الف. ذکره شوې کلمه غائبه مونثه ده او ﴿طَآئِفَة﴾ ته پکښې ضمیر راجع دی. یعنې: د شپې د مخې همدغه ډله د هغې خبرې په خلاف. پلان جوړوي کومه چې پخپله وایي چې مونږ اطاعت کوونکي یاستو.

ب. دغه کلمه مخاطبه صیغه ده او نبي کریم ﷺ پکښې مخاطب ګرځولی شوی دی. یعنې: د دغې ډلې پلان د هغې خبرې په خلاف دی کومه چې ته ورته وایې.

که څه هم ذکر شوي دواړه احتمالونه په اصلي مطلب باندې کوم اثر نه غورځوي مګر مونږ ته دوهم احتمال غوره برېښي چې دوی ظاهراً د اطاعت خبرې کوي خو په پټه کښې د بې اطاعتۍ پلانونه جوړوي، چې په څه ترتیب سره ستا اوامر د پښو لاندې کړي.

## تدبُّر څه معنی؟

۳_ ﴿يَتَدَبَّرُونَ﴾ کلمه د "تَدَبُّر" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَدَبُّر" اصلا دې ته وایي چې د یو شي په عواقبو کښې فکر وکړی شي، مګر په یو شي کښې فکر کول د "تَدَبُّر" په نامه یادېږي که څه هم د عواقبو څخه په غیر په نورو مربوطاتو کښې یې صورت ونیسي[2]

نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې که دوی د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې باور نه لري نو په قرآن کریم کښې دې دقیق فکر وکړي، نو یقین به یې راشي چې په حقه پیغمبر دی او اطاعت یې واجب دی.

## د اعجاز یو بل برهان

۴_ الله ﷻ د قرآن کریم د حقیت دپاره یو خل د یو سورت په جوړولو باندې ټول عالم ته چلنج ورکړی دی لکه چې د [البقرة: ۲۳] ایت لاندې بیان تېر شوی دی، دا خل بیا ټول عالم ته اعلان کوي چې که قرآن کریم چا ته د الله ﷻ کتاب نه برېښي او د مثل د تالیف څخه یې هم عاجز وي نو مهرباني دې وکړي په قرآن کریم کښې دې څه اختلاف او تناقض مونده کړي، حال دا چې د بنده کلام چې کله د قرآن په شان په اوږده زمانه کښې صورت نیولی وي او په مختلفو علومو او قوانینو باندې مشتمل وي د اختلافاتو او تناقضاتو څخه نه خالي کېږي، او بلکې خومره چې پرې وخت اوږدېږي په هماغې اندازه پکښې اختلافات زیاتېږي. لاندې شرحې ته لږ څه متوجه شئ.

---

[1] روح المعاني ج۵ ص۹۲- المحرر الوجيز ج۴ ص۸۶

[2] روح المعاني ج۵ ص۹۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: بندګان نه په زړونو علم لري او نه په غیبو باندې پوهېږي، حال دا چې قرآن کریم په ذکر شوي ایت کښې د منافقانو پټې خبرې هو بهو افشاء کړې چې دوی د بې اطاعتۍ پلانونه جوړوي، که دوی د قرآن کریم یوازې په همدغه خبره کښې تدبر کړی وی (چې د واقع سره مطابقه ده) هم د نبي کریم ﷺ رسالت به یې تصدیق کړی وی.

که بالفرض ذکر شوی اخبار واقعیت نه درلودی نو ګومان نه کوو چې منافقانو به اعتراض نه وی کړی او غلي به ناست شوي وی.

ب: د بندګانو کلام د عمرونو په لحاظ، د حوادثو په لحاظ، د نفسي کوائفو په لحاظ، بالآخره د فصاحت او بلاغت په لحاظ ضرور تفاوت پیدا کوي، حتی چې د سړي یوه مقاله په لومړي سر او په آخر اختتام کښې په یوه کیفیت نه پاتې کېږي د همدې امله تقریباً درې کاله کېږي چې مونږ د دې کتاب لومړی سپاره لیکلې ده خو چې اوس یې کله-کله ولولو د ادبیت په لحاظ پکښې راته بې شمېره غلطۍ ښکاره کېږي چې باید داسې-داسې نه وی لیکل شوی.

بلکې مونږ چې د دې کتاب یو مضمون څو ځله تکرار کړو په هر ځل راته پکښې نوې-نوې خطاوې راښکاره کېږي نو د دې څخه معلومېږي چې اختلاف د بشري کلام خاصیت دی او عدم اختلاف د قرآن کریم اعجاز دی، او دا ځکه چې قرآن کریم په دروېشتو کلونو کښې نازل شوی دی خو هیڅ تفاوت پکښې نه لیده کېږي نو معلومه شوه چې دا د بنده کلام نه دی.

ج: هیڅ بنده ته ټولې خبرې په یاد نه پاتې کېږي او نه د کلماتو د تلفظ شکل په ذهن کښې ساتلی شي، حتی چې نبي کریم ﷺ هم د نبوت څخه مخکښې د همدې بشري کیفیت څخه محفوظ پاتې نه وه. حال دا چې د نبوت څخه وروسته د قرآن کریم په باره کښې د ذکر شوي کیفیت څخه بالکل محفوظ وه، نه یې متشابه ایتونه د یادو څخه وتل، او نه یې ترې خایونه هېرېدل، بالآخره نه یې د کلماتو اصلي شکل خطا کاوه. نو که بالفرض قرآن کریم بشري کلام وی نو نبي کریم ﷺ ته به یې نه ټول ځایونه په یاد پاتې شوي وی او نه به یې په عین شکل سره په قرائت باندې قدرت درلودی. د قاریانو څخه مو اورېدلي دي چې په قرآن کریم کښې د قرائت په لحاظ سره څو زره کلمات متشابه دي. الله ﷻ رښتیا وایي چې: ﴿ سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴾ [الأعلی:۶] یعني: ای پیغمبره! (د قران کریم په قرائت باندې جلتي مه کوه چې درڅخه به هېر شي) ژر دی چې مونږ به یې درباندې ولولو نو ته به یې نه هېروې مګر هغه چې د الله ﷻ اراده وشي.

## یادونه

۵ـ د قرآن کریم په خینو ایتونو کښې که څه هم ظاهري اختلاف چا ته ښکاره شي نو هغه په تدبر او سوچ سره د منځه لرې کېږي د همدې کبله الله ﷻ محکماتو ایتونو ته د ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ لقب ورکړی دی چې باید متشابه ایتونه د همدغو په رڼا کښې حل کړی شي، نو ځکه په دې مقام کښې په تدبر باندې ارشاد شوی دی چې پوره بیان یې د [آل عمران:۷] ایت لاندې تېر شوی دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



علاوه پر دې، يو مثال يې د [النساء:۷۹] ايت لاندې دستې تېر شو او څو مثالونو ته يې د [النساء:۴۲] ايت لاندې اشارې شوې دې هيله ده چې هلته يو ځل بيا مراجعه وکړی شي.

﴿وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٨٣﴾﴾

[۸۳] او په هر وخت کښې چې دوی ته د امن يا ډار (سلامتۍ يا هزيمت) خبر ورسېږي نو دوی يې (بې درنگه) خوروي. او که هغه (خبر) دوی د الله پيغمبر او د مسلمانانو څخه د نظر خاوندانو ته رسولی وی نو ضرور به پرې (د مسلمانانو د جملې څخه) هغه کسان پوه شوي وی چې په خبر کښې تعمق کولی شي (چې افشاء کول يې گټور دي او که نه، او بيا به يې دوی ته لاربنوونه کړې وی).
او که د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ رحمت په تاسو باندې نه وی نو ضرور به تاسو د شيطان پيروي کړې وی مگر لږ خلک (به بچ پاتې شوي وی، نو د دې شکريه وکړئ چې موقع په موقع درته لاربنونه کوي).

## ارتباط او شان نزول

۱ـ په دې ايت کښې د ايمان د مدعيانو څلورمه غلطي رد شوې ده.

۲ـ د ذکر شوي ايت شريف په شان نزول کښې لاندې دوه واقعې روايت شوې دي:

الف: کله به چې نبي کريم ﷺ کومه يوه ډله مجاهدين د غزا دپاره ولېږل او د هغوی په باره کښې به څه افواهي خبر مدينې منورې ته ورسېده چې يا يې لويه فتحه کړې ده او يا نور څه شوي دي، نو ځينو خلکو به د دې څخه وړاندې چې پکښې ځېرنه وکړي او يا يې څرنگوالی تخصيص کړي نوموړی خبر خوراوه، نو ذکر شوی ايت نازل شو[۱].

ب: يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه خپلو بيبيانو (د مؤمنانو مورگانو) څه شيان وغوښتل چې په هغه وخت کښې دود او دستور وه، نو نبي کريم ﷺ متاثر شو او د يوې مياشتې دپاره يې په يوه کوټه کښې د ټولو بيبيانو څخه جدايي غوره کړه.

خو ځينو خلکو همدا کار په طلاق سره تعبير کړ چې نبي کريم ﷺ ټولو بيبيانو ته طلاق ورکړی دی، مگر کله چې عمر الفاروق ﷺ خبر شو نو نبي کريم ﷺ ته ورغی او تحقيق يې وکړ چې خبره دغسې نه وه او طلاق يې نه وه ورکړی، نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو[۲].

په هر تقدير، د ايتونو په عموم باندې د واقعاتو خصوص څه تاثير نه اچوي، نو د ايت شريف

---

(۱) زاد المسير ج۲ ص۱۶۱

(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۴۸۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په عموم کښې د قیامت د ورځې پورې هغه ټول واقعات شامل ګڼل کېږي چې د وخته وړاندې افشاء کړی شي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: د ځینو خلکو ځلورمه غلطي دا ده چې کله دوی ته د خوشالۍ یا د غم کوم یو خبر ورسېږي نو دوی یې بې درنګه خوروي او دومره ټال نه ورکوي چې تحقیق پکښې وکړي چې خبر دروغ دی او یا رښتیا، او په خورولو کښې یې ګټه ده که پټ ساتل یې مفید دي، د دوی ذکره شوې کړنلاره غلطه ده.

که دوی په سمه کړنلاره باندې تللی نو ذکر شوی خبر به یې د افشاء کولو ځخه وړاندې نبي کریم ﷺ ته رسولی وی او یا به یې پرې د مسلمانانو د جملې ځخه د نظر خاوندانو او بافکره خلکو ته اطلاع ورکړې وی ترڅو هغوی پکښې تحقیق کړی وی او د تحقیق ځخه وروسته یې دوی ته یا اجازه ورکړې وی چې خور یې کړي که خورول یې ګټور وي، او یا به یې ورباندې سانسور لګولی وی چې پټې یې وساتی؛

۲ـ نو د ذکرې شوې لارې پرېښودل د شیطان لمسون دی او شیطان غوارې چې تاسو د خپل ځان تابعداران جوړ کړي، مګر الله ﷻ تاسو ته موقع په موقع ارشاد او هدایت کوي ترڅو مو شیطان بې لارې او ګمراه نه کړي.

۳ـ که بالفرض د الله ﷻ فضل او رحمت په تاسو باندې نه وی نو د شیطان د متابعت ځخه به ډېر لږ خلک بچ پاتې شوي وی، لکه ځنګه چې عمر الفاروق بچ پاتې شو کله چې په خلکو کښې خوره شوه چې نبي کریم ﷺ خپل ټولې ببیانې طلاقې کړې دي. او واقعیت هغسې نه وه.

## توضیحات

۱ـ د وخت ځخه وړاندې د اسرارو افشاء کول (برابره خبره ده چې د خوشالۍ خبره وي او که خپګان) د مسلمانانو په تاوان تمامېږي، خصوصاً په جهادي موضوعاتو کښې ډېر زیات ضررناک واقع کېږي. او د افغانستان په جهاد کښې یې مونږ ډېرې خطرناکې نتیجې لېدلي دي، کله به چې د مجاهدینو جنګي پلان رسوا شو نو په هغې حمله کښې به مجاهدین یا د خپل مطلب ځخه بېرته پاتې کېدل او یا به د تاوان سره هم مخامخ کېده. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ ته په خپله زمانه کښې منافقین معلوم وه حتی چې حُذیفه ؓ ته یې د اسرارو په توګه د هغوی نومونه ښودلي وه ترڅو پټ وساتل شي[۱]، خو په بل وخت کښې نبي کریم ﷺ شپږ دېرش (۳٦) کسان د مجلس ځخه ولاړ کړه چې تاسو منافقان یاست[۲]، چې د [البقرة: ۸] ایت لاندې ورته اشاره شوې ده.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۳۰

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۱۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یو ځل نبي کریم ﷺ په اوږده حدیث کښې وفرمایل چې: هرڅوک چې د الله ﷻ په وحدانیت او د محمد ﷺ په رسالت باندې شاهدي وایي هغه به الله ﷻ په دوزخ باندې حرام کړي. نو معاذ ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ایا دا بشارت خلکو ته نه وایم چې خوشاله شي؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِذَنْ يَتَّكِلُوا»[١] یعني: په دغه وخت کښې به دوی په همدې بشارت باندې اتکاء وکړي او په نیک عملې کښې به سست شي (نو بشارت مه ورکوه).

معاذ ﷺ همدا بشارت تر هغه پټ ساتلی وه ترڅو چې ذکر شوی حدیث یې د ځنکدن په حالت کښې بیان کړ ترڅو د علم پټوونکو په قطار کښې ونه شمېرل شي.

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اَلْحَرْبُ خَدْعَةٌ»[٢] جنګ چل دی. یعني په جنګ کښې د اسرارو ساتل دومره زیات اهمیت لري، ته به وایې چې ټول جنګ د اسرارو د ساتلو څخه عبارت دی او بس.

د: حتی په جنګ کښې دروغ جائز دي ترڅو د اسرارو څخه پرده پورته نه کړی شي.

د ښه وضاحت دپاره د یوه حدیث لنډ مضمون ولولئ هغه دا چې[٣]:

یو ځل نبي کریم ﷺ وغوښتل چې کعب بن الاشرف یهودي قتل کړی شي چې د شره یې خلاص شو. نو محمد بن مسلمه ﷺ ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

محمد بن مسلمه ﷺ: ایا ته غواړې چې زه یې ووژنم؟ ای د الله رسوله!

نبي کریم ﷺ: هو، خوښه مې ده.

محمد بن مسلمه ﷺ : نو اجازه راکړه چې څه ووایم. یعني: چې څه دروغ ووایم او یا تا پورې څه داسې خبره وکړم چې ګني مونږ په تاباندې خپه یاستو.

نبي کریم ﷺ: دا کار مې وکړ. یعني تاته اجازه ده هرڅه چې وایې خوښه دې.

چې په نتیجه کښې نوموړي جلیل القدر صحابي ﷺ ذکره شوې نقشه عملي کړه او ذکر شوی یهودي یې په قتل باندې ورساوه.

## بیا هم اولو الامر څوک دي؟

۲_ څرنګه چې د عربیت قانون دی چې هر شی د دوهم ځل لپاره په یوه کلام کښې ذکر کېږي نو په ضمیر سره ذکر کېږي مګر په دې مقام کښې الله ﷻ أُولُو الْأَمر په دوهم ځل په ضمیر سره ذکره نه کړه او داسې نازل نه شو چې "لَعَلِمُوهُ مِنْهُمْ" بلکې په موصول (اسم ظاهر) سره ذکر شو او داسې نازل شو چې: ﴿ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ﴾ ترڅو مونږ د اولو الامر په معنی باندې ښه پوه کړي چې دوی څوک دي. دا ځکه چې د ﴿ يَسْتَنۢبِطُونَهُ ﴾ جمله اصلا د "نبط" _لکه "بئر"_ څخه جوړه شوې ده،

---

(١) صحیح مسلم ج١ ص٤٦

(٢) صحیح البخاري ج١ ص٤٢٥

(٣) صحیح البخاري ج١ ص٤٢٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایجاد هغو اوږو ته داسې چې د ځا د کنوډلو په وخت کښې په لمړي ځل د ځا ځخه راپورته کړی شي
نو د هغوی حاصل یې داسې کېږي چې: که د ایمان دعوه دارانو د الله پیغمبر ﷺ او أولو الامرو ته ذکر شوی خبر ورحواله کړي وی او په خپله غلې ناست وی نو هغوی به ذکر شوی خبر تحلیل کړی وی چې په افشاء کولو کښې یې ګټه ده او که په پټ ساتل یې ګټور دي. نو هغوی چې ورته په هر ډول هدایت کړی وی نو دوی به په همغه پروګرام باندې تللي وی، او په هغوی باندې به یې د خبر په باره کښې پروګرام نه وی خراب کړی.
مګر دوی داسې کار نه کوی او په خپل سر او بې ځایه شوی خبر افشاء کوی، البته چې ځینې خلک به په لا شعوري ډول ذکره شوې رویه اختیاروي، خو ځینې خلک دا کار په قصدي توګه انجاموي

## یادونه

۳ـ په ﴿ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ﴾ کښې نبي کریم ﷺ هم شامل دی[۱]، ځکه لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ د الله پیغمبر وه او اسماني وحي ورته رالیکته کېده همدارنګه د نظر خاوند هم وه، که دوی نبي کریم ﷺ ته او بې ځایه شوی خبر د افشاء کولو ځخه وړاندې رسولی وی نو د وحي ځخه په غیر یې هم کولی شو چې په خپل امتیازي ذکاوت سره یې تحلیل کړی وی.

## د دې ایت ارشاد

۴ـ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته د لاندې هدایتونو ارشاد کوي:
الف: کله چې سړی کوم خبر واوري نو باید چې تحقیق پکښې وکړي، څه لرې نه ده چې د بې تحقیقو خبرو په خورولو باندې سړی د دروغو مرتکب شي
نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ»[۲] یعني: د سړي همدا ګناه بس ده چې هره یوه خبره چې واوري هغه بیانوي.
ب: که څوک څه سیاسي خبر واوري باید چې مسلمانانو سیاست پوهانو ته یې حواله کړي چې ترڅو یې هغوی وڅېړي.
ج: که دیني خبره واوري او په خپله پرې علم نه لري نو باید چې علماوو کرامو ته یې حواله کړي چې هغوی د مسئلې په عمق باندې پوهېږي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [النحل: ۴۳] یعني: نو د علم د خاوندانو ځخه پوښتنه وکړئ که پخپله باندې نه پوهېدلی.
د: که طبي خبره واوري چې فلاني مرض ته فلانی دوا مفیده ده نو باید چې د مسلمانانو ډاکټرانو او طبیبانو نظر پکښې واخلي، او داسې نور.

---

(۱) تفسیر المظهري ج ۲ ص ۱۴۰
(۲) سنن ابي داؤد ج ۲ ص ۳۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونې

۵_ په دې مقام کښې لازمه ګڼو چې د محترمو لوستونکو توجه لاندې ټکو ته ورتاو کړو:

الف: مونږ د ﴿ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ﴾ جمله د نبي کريم ﷺ او د أولو الأمرو څخه عبارت واخستله چې د سياق سره راته مناسبه وبرېښېده، مګر ځينو مفسرينو کرامو يې نور ډولونه تفسيرونه هم کړي دي[۱]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو همغو ته دې مراجعه وکړي.

ب: همدارنګه مونږ د ﴿ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ استثناء د قريبې جملې ﴿ لَاتَّبَعْتُمُ ٱلشَّيْطَٰنَ ﴾ څخه ګڼلې ده چې ذهن ته په تبادر سره راغله، مګر ځينو مفسرينو کرامو يې په نورو ډولونو سره تفسيرونه کړي دي[۲]، هيله ده چې لوستونکي يې هملته وګوري مونږ يې دلته رانقل کول مناسب ونه ګڼل.

﴿ فَقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا ﴿٨٤﴾ مَّن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُۥ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ مُّقِيتًا ﴿٨٥﴾ ﴾

[۸۴] نو د الله ﷻ په لاره کښې جنګ وکړه، ته نه مکلف کېږې (نه نيول کېږې) مګر په خپل ځان، او (د جهاد دپاره) مؤمنان تېز کړه (ترغيب ورکړه او ويې هڅوه). اميد دی (اميد کوي) چې الله ﷻ د هغو کسانو جنګ (ستاسو څخه) بند کړي (مخه يې ونيسي) چې هغوی کفر اختيار کړی دی. او الله ﷻ د جنګ د حيثه هم ډېر کلک او د عذاب ورکولو د حيثه هم ډېر کلک (او قوي) دی.

[۸۵] هر څوک چې نېک شفاعت وکړي (نو) هغه ته د همدې (شفاعت) څخه د ثواب برخه شته، او هر څوک چې بد شفاعت وکړي (نو) هغه ته هم د همدې (شفاعت) څخه د ګناه برخه شته.

او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت والا دی (روزي ورکوي، اړتياوې يې پوره کوي او داسې نور).

## ارتباطونه

۱_ د [۷۷] ايت څخه را په دې خوا الله ﷻ د هغو خلکو د خولو څخه څلور غلطياوې شرحه کړې چې د ايمان دعوه به يې کوله، او د ټولو غلطياوو اصلي غرض يې دا وه چې په شعوري يا لا شعوري توګه د اسلام د پرمختګ مخه ونيوله شي او د جهاد په ګرموالي کښې سوړوالی واقع شي.

په دې ايتونو کښې الله ﷻ مهرباني کوي چې که څوک په ذکرو شوو ارشاداتو باندې ځانونه ګول واچوي او خپلو غلطو کړنلارو ته ادامه ورکړي او په مجاهدينو کښې د جهاد ولوله سړه کړي نو هغوی پوهېږي او کار يې، ته يوازې او يوازې د خپل ځان مسئول يې اوبس.

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۹۴

(۲) البحر المحيط ج۳ ص۷۲۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ هلته ځلور غلطياوې بيانې شوې دي، او دلته د غلط كارانو د شفاعتگرو حال بيانېږي چې د دوی به څه حال وي.

## د مطلب خلاصه

١_ يعنې: ای پيغمبره! ته د دې خبرې مسئول نه يې چې خلكو د غلط كارانو او مخربينو خبره ومنله او جهاد ته لاړ نه شوه. كه بالفرض هيڅوک هم د في سبيل الله جهاد په باره كښې ستا ترڅنگ ونه دريږي ته يوازې مكلف يې چې في سبيل الله جهاد وكړې او په تا باندې يوازې د خپل ځان مواخذه او مسئوليت دی او بس.

هو! ستا په وظيفه كښې دا خبره شامله ده چې مسلمانان جهاد ته دعوت كړې، د جهاد فضائل او اجرونه ورته بيان كړې، بالآخره د جهاد څخه د كښيناستلو عذابونه ورته واضحه كړې. نور نو هغوی پوهېږي او كار يې.

٢_ هو د دې اُميد وساتې چې الله ﷻ به د كافرانو جنگ په خپل فضل سره ستاسو څخه په څنگ كړي او كه درسره مخامخ يې كړي نو تاسو ته به په هغوی باندې برياليتوب دركړي، څكه چې د مسلمانانو سره جنگ كول د الله ﷻ سره جنگ دی. ايا داسې څوک شته چې په جنگ كښې د الله ﷻ مقابله وكړی شي؟.

همدارنگه الله ﷻ كافرانو ته د كفر جزا وركوي. ايا څوک شته چې د الله ﷻ څخه په جزا وركولو كښې كلک وي؟ او يا يې د جزا وركولو مخه څوک ونيولی شي؟.

٣_ ای پيغمبره! لكه څنگه چې الله ﷻ تاته د جهاد اجرونه دركوي همدارنگه د دعوت د كبله هم د لوی اجر وړونكی يې، چې نور مسلمانان جهاد ته وربلې او په دې باره كښې ورته ترغيب او ترهيب وراندې كوې.

او دا څكه چې د الله ﷻ په نزد باندې عمومي قانون دی چې په نېک شفاعت كښې د نېكيو برخه وركوي، لكه چې ته جهاد ته مسلمانان دعوت كوې او د الله ﷻ څخه ورته اجرونه غواړې، او په ناكاره شفاعت كښې د بديو برخه كوي، لكه چې منافقان د مسلمانانو پښو ته تيرې وراچوي چې جهاد ته لاړ نه شي او كله كله لا تا ته د نورو په باره كښې سپارښتنه هم كوي چې فلانی د جهاد څخه معاف كړه او د كور د كښناستلو اجازه ورته وركړه. او دا څكه چې الله ﷻ په هر شي باندې واک او قدرت لري، څوک ورته نه شي ويلی چې دا كار دې ولې وكړ (شفاعتگر ته دې ولې نېكه او يا بده برخه وركړه؟).

## توضيحات

١_ نبي كريم ﷺ د خپل ځان په باره كښې په جهاد كولو باندې مكلف وه او د نورو مسلمانانو په باره كښې په دعوت باندې مسئول وه چې نېكو كارونو او جهاد ته به يې وربلې، همدارنگه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مکلفیت هر مسلمانان لري چې پخپله دې نېک کارونه او جهاد کوي او نور به ورته دعوتوي ترڅو په دوه طریقو سره د اجر موندونکي شي، یو په بل عمل سره او بل په دعوت سره.

## تحریض څه معنی؟

۲ـ د "حَرَض" کلمه اصلا د "حَرَض" ـلکه "شرف" ـ څخه اخستله شوې ده، "حَرَض" هغه شي ته وايي چې په هغه کښې خیر نه وي او څه اهمیت نه لري، خو کله چې ترې "تحریض" جوړ شي نو بیا ترې د یو شي څخه بې خیرې او بې اهمیتي لري کول مراد یږي[۱].

نو د ﴿وَحَرِّض﴾ معنی داسې کېږي چې: ای پیغمبره! مسلمانانو ته جهاد پوره شرحه کړه، خیر او اهمیت یې ورته بیان کړه ترڅو د دوی د اذهانو څخه هغه ټول تشویشونه ووځي چې منافقان یې ورته وراندې کوي چې په جهاد کښې خیر نشته او محض خپل خان هلاکول دي او بې اهمیته شی دی.

نو نبي کریم ﷺ خپل ذکر شوی مسئولیت په ډېره ښه وجه پوره کړ او موقع په موقع یې مسلمانانو ته د جهاد فضائل واضحه کړه او په جهاد کښې د سستی عذابونه یې څرګند کړه، بالآخره خپل قولي تحریضات یې په عمل سره تائید کړه او په غزواتو کښې یې په خپله هم شجاعانه ګډون وکړ، چې د سیرت کتابونو پوره شرحه کړې دی.

## شفاعة څه معنی؟

۳ـ که څه هم د ﴿شَفَعَةً﴾ کلمه اصلاً انضمام او پیوستون ته وايي چې یو د بل سره د کومک دپاره پیوسته شي، او یا یو سړی د بل دپاره سوال وکړي چې د عذاب مخه ترې ونیسي او یا ورته کومه ګټه جلبه کړي، مګر په هغه ځای کښې د "شفاعة" کلمه ډېره استعمالیږي چې د شفاعتګر مرتبه د شفاعت کړی شوي څخه اوچته وي[۲].

په هر تقدیر په دې مقام کښې شفاعت په لاندې دوه ډولونو ویشلی شوی دی:

الف: "شفاعة حسنة" دې ته وايي چې په مشروع کار کښې یو سړی د بل سره کومک شي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: چې جهاد ته یې وهڅوي، ترغیبي او ترهیبي خبرې ورته وکړي.

دوهم: چې جهادي وسائل ورته برابر کړي.

دریم: چې د الله ﷻ څخه ورته نصرت او کومک وغواړي او هم ورته د ګناهونو عفوه او بښنه طلب کړي.

ب: "شفاعة سيئة" دې ته وايي چې په غیر مشروع (ناجائز) کار کښې یو سړی د بل کومکي شي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۱۲

(۲) مفردات الراغب ص ۲۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: چې جهاد ته په نه تللو کښې ورسره کومک وکړي، چې د وخت د قومندان څخه ورته د نه تللو اجازه وغواړي[۱].

دوهم: چې د وخت په حاکم باندې ورته د خپل مخ او خاطر سره ناجائز کار اجراء کړي.

دریم: لنډه دا چې د ظلم په وړاندې بېولو کښې هر ډول کومک د "سَيِّئَة" شفاعت په نامه یادېږي.

## نېک شفاعت کول اجر لري

۴_ لکه څنګه چې نېک شفاعت اجر او ثواب لري که څه هم قبول نه شي، همدارنګه بد شفاعت هم ګناه لري که څه هم قبول نه شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: کله به چې نبي کریم ﷺ ته سوال کوونکی ورغی او یا به ترې چا څه حاجت وغوښت نو ده ﷺ به صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې: «اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا وَيَقْضِي اللهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا شَاءَ»[۲] یعني: تاسو شفاعت وکړئ چې اجر درکړی شي او الله ﷻ به د خپل پیغمبر ﷺ په ژبه هغه خبره اداء کوي چې خوښه یې شي.

ب: که د شفاعت کوونکي شفاعت قبول نه شي باید خپه نه شي، چې: بَرِيرة رضي الله عنها یوه وینځه وه او مېړه یې غلام وه چې "مُغِيث" نومېده. أُمُّ المؤمنین (عائشة رضي الله عنها) نوموړې بي بي په بیه واخستله او بیا یې ازاده کړه، نو نبي کریم ﷺ ورته خیار ورکړ چې خوښه دې چې د خپل مېړه (مغیث) په نکاح کښې خپل ځان باقي پرېږدې او که ترې جدا کېږې. نو بریرې رضي الله عنها افتراق خوښ کړ، مګر "مُغِيث ﷺ" وریسې ډېر خپه شو او په جدا کېدلو باندې یې په ژړا شو.

نو نبي کریم ﷺ د بریرې رضي الله عنها سره لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کریم ﷺ: «لَوْ رَاجَعْتِيهِ» که بېرته خپل مېړه ته مراجعه وکړې او ځان ترې جدا نه کړې (نو ښه به وي).

بریره رضي الله عنها: «يَا رَسُولَ اللهِ تَأْمُرُنِي» ای پیغمبره! ماته امر کوې؟

نبي کریم ﷺ: «إِنَّمَا أَشْفَعُ» یقیناً زه شفاعت کوم (امر نه کوم).

بریره رضي الله عنها: «فَلَا حَاجَةَ لِي فِيهِ»[۳] زما ورته څه حاجت نشته (د مېړه په صفت یې نه قبلوم).

نو ذکرې شوې بي بي رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ شفاعت قبول نه کړ او د مېړه څخه یې ځان جدا کړ.

ج: د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یوې ښځې غلا کړې وه او په دې باندې د لاس قطعه کولو فیصله صادره شوه، مګر خپلوانو او اقاربو یې نبي کریم ﷺ د شفاعت دپاره أسامه ﷺ ورواستاوه چې ترځو یې لاس پرې نه کړي. نبي کریم ﷺ په ډېره قهرجنه لهجه

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۰ ص۲۰۶

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۲

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وويلې چې: «أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ» ايا د الله ﷻ د حدودو څخه په يوه حد کښې شفاعت کوې؟ قسم دی که فاطمه د محمد ﷺ لور غلا وکړي «لَقَطَعْتُ يَدَهَا»[١] نو لاس به یې پرې کړم!

## نصيب او كفل څه فرق لري؟

۵_ ځینې مفسرین کرام وايي چې د نصیب او د کفل په معنی کښې فرق نشته[٢]، بلکې هر یو په مساوي برخه باندې ترجمه کېږي، نو په ایت شریف کښې په نېک شفاعت کښې د نصیب کلمه او په بد شفاعت کښې د کفل کلمه نازلېدل محض تفنن في العبارة دی او بس.

مګر ځینې نور مفسرین کرام یې لاندې فرقونه کوي[٣]:

الف: نصيب مطلقې برخې ته وايي، برابره خبره ده چې د بلې برخې سره مساوي وي او که ترې اضافه، او کفل فقط په مساوي برخه کښې استعمالېږي نو ځرنګه چې په نېکو کارونو کښې الله ﷻ اجرونه زیاتوي نو ځکه ترې په نصیب سره تعبیر وکړی شو او په بدیو کښې مساوي جزا ورکوي نو ځکه پکښې کفل استعمال شو.

ب: نصيب په نېکه برخه کښې استعمالېږي او د کفل کلمه که څه هم د "قلت" په توګه په نېکه برخه کښې استعماله شوې ده مګر اغلب استعمال یې په بده برخه کښې دی.

## مقيت څه معنی؟

۶_ د الله ﷻ د مبارکو نومونو څخه یو نوم "مُقِيت" دی چې اصلاً د "قُوت" (روزي) څخه اشتقاق شوی دی[۴] مګر په معنی کښې یې متعدد تفسیرونه شوي دي چې ټول تقریباً او وته رسېږي، کوم تفسیر چې شیخ المفسرین العلامه الطبري رحمه الله علیه غوره کړی دی او د رئیس المفسرین (عبد الله بن عباس رضی الله عنهما) څخه هم روایت شوی دی هغه دا دی چې "مُقِيت" په معنی د "مُقْتَدِر" سره دی[۵]، نو په دې مقام کښې یې معنی داسې کېږي چې: الله ﷻ هر چا ته او هر شي ته روزي ورکوي چې ژوند یې وربانده وساتل شي او په هر څه باندې قدرت لري نو هیڅوک دې د دنیاوي حقیر ژوند دپاره سینه شفاعت (بد شفاعت) نه کوي او الله ﷻ ته دې رجوع وکړي او د همده ﷻ څخه دې ودار شي.

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۗ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا ﴿٨٧﴾﴾

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص۶۴
(٢) تفسير كبير ج١٠ ص٢٠٧
(٣) روح المعاني ج۵ ص٩٨
(۴) تفسير المنار ج۵ ص٣١٠
(۵) تفسير الطبري ج۴ ص١٨٨؛ زاد المسير ج٢ ص١۶۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۶] او په هغه وخت کښې چې په سلام اچولو سره ستاسو احترام وکړی شي نو تاسو يې د هغه ښه بهتر تعظيم وکړئ او يا هغه بېرته ورتاو کړئ (بالمثل جواب ورکړئ) بې شکه الله ﷻ په هر شي باندې محاسبه کوونکی دی (څه عمل نه ضائع کوي).

[۸۷] الله ﷻ چې دی، د عبادت لائق بل هيڅوک نشته مگر همدی ﷻ دی، خامخا ضرور به تاسو د قيامت ورځې ته ورغونډ کړي (چې) په هغې کښې شک نشته.

او (هغه) څوک دی چې د الله ﷻ څخه د خبرې د حيثه ډېر رښتينی وي؟ (هيڅوک نشته).

## ارتباط

دا ايتونه د مخکښيو ايتونو د مضامينو دپاره د تکميل مثال لري، چې د يو پلوه پکښې د مسنونه سلام حکم بيان شوی دی چې د نېک شفاعت يوه مهمه نوعه ده او د بل پلوه پکښې زمونږ توجه د قيامت ورځې ته اړوله شوې ده چې ترڅو يې په نظر کښې ونيسو، او د شرعي احکامو په باره کښې عموماً او د جهادي احکامو په باره کښې خصوصاً سستي ونه کړو (په هر حالت کښې يې مراعات وکړو).

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای مؤمنانو! کله چې په تاسو باندې خپل مسلمانان ورونه د نېک شفاعت يوه خاصه نوعه درپېرزو کړي او د "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" تحفه درته وړاندې کړي نو تاسو يې په مقابل کښې بې تفاوته مه پاتې کېږئ، بلکې يا بالمثل تحفه تاسو هم هغوی ته وړاندې کړئ او "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" ورته ووايي او يا د هغوی د تحفې څخه بهتره او ښايسته تحفه (سوغات) ورکړئ چې "وَرَحْمَةُ اللهِ" ورسره اضافه کړئ، او که لا "وَبَرَكَاتُهُ" ورسره ضميمه کړئ نو دا خو ډېره ښه ده. ځکه چې ستاسو يوه ذره نېکي هم نه ضائع کېږي او يقيناً الله ﷻ د هر شي حساب کوونکی دی که څه هم ډېر لږ او وړوکی وي.

۲ـ الله ﷻ به ولې دقيق حساب کوونکی نه وي چې د ده ﷻ څخه په غير بل څوک د عبادت لياقت نه لري، او څوک چې يوازې او يوازې د هر ډول عبادت لياقت ولري نو هغه هر ډول عبادت د محاسبې لاندې نيسي ـالعياذ باللهـ که بالفرض د عبادت لياقت بل چا هم درلودی نو هر يو معبود به د خپلو خپلو عبادتونو محاسبه کولی.

۳ـ هو! د محاسبې دپاره الله ﷻ خاصه ورځ ټاکلې ده چې تاسو ټول به هلته ورټولېږئ او ټول مدعيان به هلته حاضر ياست او فيصلې به کېږي، که بالفرض د قيامت د ورځې څخه وړاندې محاسبه وکړی شي نو ټول مدعيان به حاضر نه وي خينې به ژوندي وي او بلکې لا د خينو خلکو به د قضاياوو دوسيې نه وي تکميل شوې، مثلاً د آدم ﷺ د قاتل زوی دوسيه به په هغه وخت کښې تکميله شي چې په دنيا کښې وروستنی قاتل هم مړ شي او بل قاتل په دنيا کښې تحقق ونه شي موندلی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ په هر تقدیر، د نوموړې ورځې په راتګ کښې څه شک شبه نشته چې د عدل او انصاف همدا غوښتنه ده. او په دې باندې علاوه د همدې ورځې د راتګ خبر الله ﷻ درکوي، ایا داسې څوک شته چې د الله ﷻ څخه په اخباراتو کښې رښتنی وي؟

## توضیحات

۱_ د ﴿وَإِذَا حُيِّيتُم﴾ کلمه اصلا د "حَيَاة" څخه اشتقاقه شوې ده نو د تفعیل د باب به نظر کښې نیولو سره یې لغوي معنی داسې کېږي چې کله تاسو ته "حَيَاكُمُ الله" وویل شي. یعني: ژوندي اوسئ[۱].

اما شرعي معنی یې دا ده چې کله تاسو ته "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" وویل شي[۲]. او دا څکه چې:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً﴾ [النور: ۶۱] یعني: نو کله چې تاسو (د خپلوانو او دوستانو) کورونو ته داخل شوئ نو په خپلو خانونو (نورو ورونو) باندې سلام واچوئ، "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" ورته ووایئ: (دا سلام اچول) د الله ﷻ پلوه برکتناکه پاکیزه تحیه ده (چې د "حَيَاكُمُ الله" څخه غوره او بهتره ده).

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي او څه لنډ مضمون یې دا دی: چې کله الله ﷻ آدم ؑ پیدا کړ نو امر یې ورته وکړ چې لاړ شه په هغې ډلې ملائکو باندې سلام واچوه نو بیا غوږ کېږده چې په هرې کلمې باندې یې ستا تحیه وکړه نو همغه کلمه ستا د اولادې دپاره تحیه ټاکل شوې ده[۳]. یعني همغه ستا د اولادې "حَيَاكُمُ الله" ده.

نو آدم ؑ وویلې چې: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ». ملائکو جواب ورکړ چې: «السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ» چې د "وَرَحْمَةُ اللهِ" ټکی یې ورسره اضافه کړ.

نو پاسنیو دوارو دلایلو څخه څرګندېږي چې: شرعًا "تَحِيَّةٌ" په معنی د "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" سره ده، نه په معنی د "حَيَاكُمُ الله" سره.

## دا ډېر غوره سوغات دی

۲_ شرعي سوغات د "حیاکم الله" څخه ډېر غوره دی، چې هلته محض د ژوند د اوږدوالي دعا ده که څه هم د غمونو څخه ډک وي، او دلته د ټولو آفتونو او غمونو څخه د سلامتی دعاء ده، او ښکاره ده چې مرګ هم یو آفت او مصیبت دی؛ نو چا ته چې په سلامتی سره دعاء وکړه شي هغه ته د ژوند په اوږدوالي باندې هم دعاء کړه شوې ده، او د ژوند د اوږدوالي د سوال سره د آفتونو څخه سلامتي ضرور نه ده کېدی شي چې د غمونو څخه ډک ژوند ورته منظور کړی شي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۴۰

(۲) التفسیرات الأحمدیة ص ۲۸۲

(۳) صحیح البخاري ج ۲ ص ۹۱۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## په یاد ولرئ!

۳ـ په یاد ولرئ چې په ټوله دنیا کښې رواج دی او رواج وه چې کله یو دوست د بل دوست سره ملاقي شي او یا ترې رخصتیږي څه د احترام ویناوې او اشارات اجراء کوي چې یو د بل څخه خوشاله شي، خو په ټولو کښې د مسلمانانو د خوشالۍ کلمات پاکیزه او برکتناک دی. لاندې شرحه د مقائسې په توګه ولولئ[۱]:

الف: نصارا یو بل ته د احترام په وخت کښې په خپله خوله باندې لاس ږدي. ته به وایې چې إشارةً ورته وایي چې دا خوله ستا په باره کښې څه بده خبره نه کوي.

ب: یهودان ګوتې پورته کوي او کله یې په تنده باندې ږدي. ته به وایې چې خپل دوست ته اشاره کوي چې په تا باندې به د عیب نیولو ګوته نه ږدم.

ج: مجوسیان یو بل ته د انحناء (کوږوالي) احترام کوي، چې ستا په وړاندې زما ملا ماته ده او سر مې درته ټیټ دی.

د: په عربو کښې د قومیت په اعتبار سره د "حَیَّاکُمُ الله" کلمه ویل رواج دي.

ه: مګر ټولو مسلمانانو ته، عرب دي او که عجم، الله ﷻ د "اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ" د کلماتو استعمال توصیه کړې دی چې د نورو ټولو تحیاتو څخه غوره او بهتر دی.

## سلام اچول سنت دي او جواب یې فرض دی

۴ـ سلام اچول مسنونه طریقه ده اما د سلام ردول یعنې: "وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ" په جواب کښې ویل فرض کفایي دي، د یوې ډلې څخه چې یو کس جواب ورکړي نو د ټولو غاړې خلاصیږي، اما که په یوه سړي باندې سلام واچولی شي نو په هغه باندې "وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ" ویل فرض عین ګرځي[۲]، او دا ځکه چې الله ﷻ د جواب په باره کښې د آمر کلمه نازله کړې ده چې ﴿فَحَيُّوا﴾ نو تاسو هم ورته په "وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ" سره جواب ورکړئ.

همدارنګه د سلام اچول سنت کفایي دی، د یوې ډلې څخه د یوه کس په سلام باندې د ټولو سنت اداء کیږي. لاندې حدیث د استشهاد په توګه ولولئ:

یو خل نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ»[۳] یعنې: یو ټولګی چې کله تیریږي کفایت کوي چې یو کس یې سلام واچوي او همدارنګه د ناستو خلکو څخه هم د یوه کس "وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ" کافي دی.

---

(۱) تفسیر کبیر ج ۱۰ ص ۲۱۱

(۲) التفسیرات الأحمدیة ص ۲۹۲

(۳) سنن أبي داوٗد ج ۲ ص ۳۵۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د سلام کلمات

۵ـ د سلام اچولو یا د جواب ورکولو دپاره د سلام کلمه ضرورت ده، اما د کیفیت په اعتبار هر یو هر کیفیت باندې مشروعه ده. لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: الله ﷻ د ابراهیم د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَ ﴾ [مریم: ۴۷].

ب: د ملائکو او ابراهیم ﷺ د سلام اچول او جواب ورکول داسې بیانوي چې: ﴿ قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ ﴾ [هود: ۶۹].

ج: د عیسی ﷺ د خولې سلام یې مونږ ته راحکایت کړی دی چې: ﴿ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ ﴾ [مریم:۳۳].

## د سلام جواب په درې ډوله دی

۶ـ د سلام جواب په لاندې دریو ډولونو سره ورکول کېدلی شي:

الف: یو بالمثل جواب دی، لکه د "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" په جواب کښې "وَعَلَيْكُمْ" یا "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" وویلی شي.

ب: بل ښه جواب دی چې د "وَرَحْمَةُ اللهِ" ټکی ورسره په جواب کښې زیات شي او په ذکر شوي صورت کښې "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ" وویل شي.

ج: بل ډېر ښه جواب دی، چې د "وَبَرَكَاتُهُ" کلمه هم ورباندې اضافه کړی شي چې: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" وویلی شي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: که یو سړی د سلام اچولو سره ذکر شوې کلمې زیاتې کړي چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" نو په جواب کښې نورې کلمې اضافه کول څه حکم لري؟

مونږ وایو چې

الف: د ځینو علماوو کرامو نظر دا دی چې په دې صورت کښې باید په ﴿ أَوۡ رُدُّوهَآۗ ﴾ باندې اکتفاء وکړه شي. یعنې په دې صورت کښې د مثلیت جواب متعین دی. ځکه چې یوه سړي په نبي کریم ﷺ باندې سلام واچاوه چې: «السَّلَامُ عَلَيْكَ» نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ» بیا بل سړي پرې سلام واچاوه چې «السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ». نو نبي کریم ﷺ فقط همدومره جواب ورکړ چې: «وَعَلَيْكَ السَّلَامُ». نو سړي وویلې چې: ای د الله رسوله! ناقص جواب دې راکړ. او ذکر شوی ایت شریف یې ولوست. نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «إِنَّكَ لَمْ تَدَعْ لِي شَيْئًا»[۱] تا خو ماته د جواب څه زیات شی پرې نښود نو ځکه مې بالمثل جواب درکړ.

---

[۱] المعجم الکبیر للطبراني ج۶ ص۲۴۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې په "وَعَلَيْكَ السَّلَامُ" کښې د "وَ" توری د عطف دپاره دی او څه چې په معطوف علیه کښې ذکر وي نو هغه په معطوف کښې مراد وي، نو زما په جواب کښې ستا د سلام ټول کیفیت د نظر لاندې نیولی شوی دی.

همدارنګه په عبد الله بن عباس رضی الله عنهما باندې یوه سړي سلام واچاوه چې: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ» بیا یې څه کلمات نور هم زیات کړه. نو ذکر شوي صحابي ﷺ ورته وویلې چې: «إِنَّ السَّلَامَ انْتَهَى إِلَى الْبَرَكَةِ»[١] یعنې: بې شکه د سلام اچولو کلمات په برکت (وَبَرَكَاتُهُ) باندې پای ته رسېږي.

ب: ځینې نور علماء کرام وایي چې په ذکر شوي صورت کښې که څوک غواړي چې أحسن جواب ورکړي نو "وَمَغْفِرَتُهُ" دې ورسره زیات کړي، لکه چې په نبي کریم ﷺ باندې یوه سړي په سلام اچولو کښې نوموړې کلمه اضافه کړې وه چې: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ وَمَغْفِرَتُهُ»[٢]. نو څه لرې نه ده چې نوموړې کلمه په جواب کښې هم اضافه کړی شي.

## تبصره

۸ـ مونږ ته داسې ښکاري ـوالله ﷻ أعلمـ چې د سلام اچولو مسنونه کلمات په "وَبَرَكَاتُهُ" باندې ختمېږي، اما نورې کلمې اضافه کول څه ممنوعیت نه لري د خیر کلمې چې هرڅومره زیاتې شي ثوابونه به یې ډېر وي. او دا هم راته ښه برېښي چې په همدې صورت کښې دې د جواب په ورکولو کښې په لهجه او اواز کښې احسنیت څرګند کړي که څه هم په کلماتو کښې تفاوت ونه لري، چې په ورین تندي او خوږه لهجه جواب ورکړي او یا په خپله وضعه کښې أحسنیت ښکاره کړي چې لیدونکي یې تشخیص کولی شي او اورېدونکي یې نه شي جدا کولی. د دې نظیر د صرفیانو اشمام دی چې لیدونکي پرې پوهېږي او اورېدونکي پرې نه پوهېږي. او دا ځکه چې محض د شونډو د کیفیت پورې ارتباط لري نه د صوت پورې.

## ایا د لاس پورته کول سلام دی؟

۹ـ د محمدي (ﷺ) أمت سلام اچول په ژبه سره دي او بس، د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ»[٣] یعنې: هغه څوک زمونږ څخه نه دی چې زمونږ څخه په غیر په بل چا سره خپل ځان تشبیه کړي، نو مه د یهودو سره خانونه تشبیه کوئ او مه د نصاراوو سره، ځکه چې د یهودو سلام اچول په ګوتو باندې اشاره ده، او د نصاراوو سلام اچول په ورغوو باندې اشاره ده.

---

(١) موطا الإمام مالک ص٥٩٥
(٢) سنن ابي داود ج٢ ص٣٥٠
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص٩٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

هو، که څوک په ژبه باندې د سلام مسنونه کلمات استعمال کړي او د لرېوالي د مسافې او یا د مخاطب د کونوالي د کبله ورسره لاس پورته کړي ـ ان شاء الله ﷻ، چې د ذکر شوي حدیث لاندې به رانه شي.

## هغه وختونه چې سلام اچول پکښې نشته

١٠ـ که څوک په هغه وختونو کښې سلام واچوي په کومو کې چې سلام نشته نو جواب يې هم واجب نه دی. هغه وختونه دا دي[1] د مثال په توګه

الف چې امام د جمعې په ورځ په ممبر باندې خطبه لولي.

ب: چې څوک حمام ته ورداخل شي.

ج چې څوک د قرآن کریم په تلاوت مشغول وي، او د شرعي علومو د درس حلقه وي

د: چې څوک په آذان یا اقامت لګیا وي.

هـ: چې څوک په عبثیاتو باندې مبتلا وي، لکه کوترې الوزول او نور.

و: چې څوک انساني حاجت پوره کوي او یا استنجا کوي او داسې نور.

## چې د سلام سره مصافحه ملګرې شي

١١ـ که د سلام اچولو سره مصافحه (یو تربله لاسونه ورکول) ملګرې شي نو اجر او ثواب يې زیاتېږي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ فَتَصَافَحَا وَحَمِدَا اللهَ وَاسْتَغْفَرَاهُ غُفِرَ لَهُمَا»[2] یعني: کله چې دوه مسلمانان سره ملاقي شي او لاسونه سره یو تربله ورکړي او دواړه د الله ﷻ حمد ووايي او بښنه ترې وغواړي نو دواړو ته به بښنه وکړی شي.

برسېره په دې، که موانع ونه لري او معانقه (بغل کشي) هم ورسره ضمیمه کړی شي نو دا ډېره ښه ده. أبو ذر الغفاري ؓ په یوه اوږده حدیث کښې وايي چې: زه نبي کریم ﷺ ته ورغلم «فَالْتَزَمَنِي»[3] نو خپل ځان ته يې نژدې کړم. یعني معانقه يې راسره وکړه.

## یادونه

١٢ـ د سلام په باره کښې ځینو مفسرینو کرامو څه نور مسائل هم ذکر کړي دي[4]، خو موږ د اوږدوالي د غمه پرېښوده هیله ده چې لوستونکي د ضرورت په وخت کښې هلته مراجعه وکړي.

همدارنګه ځینو مفسرینو کرامو د سلام په اړوند احادیث راغونډ کړي دي چې لوستل يې ګټور دي[5].

---

(١) التفسير الكبير ج١٠ ص٢١٤؛ التفسيرات الأحمدية ص٢٩٣

(٢) سنن ابي داود ج٢ ص٣٥٢

(٣) سنن ابي داود ج٢ ص٣٥٢

(٤) تفسير القرطبي ج٥ ص٣٠٠ـ٣٠٤؛ تفسير المظهري ج٢ ص١٧٤

(٥) تفسير القاسمي ج٥ ص٣٢٠، ٣٢٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوا أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ
اللَّهُ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ
سَوَاءً فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِن تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ
وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ
إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا
قَوْمَهُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا
إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴿٩٠﴾ ﴾

[٨٨] نو (ای مؤمنانو!) تاسو لره څه دي چې د منافقانو (د اسلام او کفر په باره کښې دوه ډلې جوړ شوئ (او د دوی په کفر باندې مو اتفاق ونه کړ)؟، حال دا چې الله ﷻ دوی لره د هغو جنایتونو په سبب باندې چې دوی کړي دي (په ضلالت کښې) سر په څټ ور نسکور کړي دي. ایا تاسو اراده لرئ چې (د مسلمان په لقب ورکولو سره به) هغه چا ته هدایت و کړئ چې الله ﷻ هغه گمراه کړی وي؟، او هر چا لره چې الله ﷻ گمراه کړي نو هیڅکله به ته د هغه دپاره څه لاره مونده نه کړې.

[٨٩] دوی (منافقان) خوښوي چې تاسو هم داسې کفر غوره کړئ لکه څنگه چې دوی کفر غوره کړی دی، نو (د کافرانو په شمول) تاسو ټول به یو برابر (کافران) جوړ شئ.

نو (ای مؤمنانو!) د دوی (منافقانو) څخه ترهغه دوستان مه نیسئ ترڅو چې دوی د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړي (او ستاسو په څنگ کښې ودرېږي).

نو که دوی (د في سبيل الله هجرت څخه) مخ ونه تاو کړه، نو دوی ونیسئ (بندیان یې کړئ) او چرته مو چې مونده کړه ویې وژنئ. او د دوی څخه مه کوم یو دوست نیسئ او نه کومک کوونکی.

[٩٠] مگر هغه کسان (مه وژنئ او مه یې بندیانوئ) چې د داسې خلکو سره پیوسته شي چې ستاسو او د هغوی په منځکښې عهد وي، او یا تاسو ته په داسې حال کښې درشي چې سینې (زړونه) یې د دې څخه په تنگ وي چې (د خپل قوم په گټه) ستاسو سره وجنگېږي او یا (ستاسو په گټه) د خپل قوم سره په جنگ اخته شي (یعنې بې طرفي غوره کړي).

او که د الله ﷻ اراده شوې وی (همدغو بې جرئتانو ته به یې جرئت ورکړی وی) نو ضرور به یې دوی په تاسو باندې (په جنگ کښې) مسلط کړي وی. نو ستاسو سره به جنگېدلي وی (خو دا کار الله ﷻ تفضلا ونه کړ).

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو (لنډه دا چې) که دوی ستاسو څخه یوې ډډې ته شوه، نو جنګ یې درسره نه کاوه او تاسو ته یې سوله درواچوله (پیغام یې درولېږه) نو (دوی په خپل حال پرېږدئ. ځکه چې) الله ﷻ تاسو لره په دوی باندې څه لاره نه ده ګرځولې (او د جنګ اجازه نه درکوي).

## ارتباط

د [٧٧] ایت څخه را په دې خوا د منافقانو په باره کښې بحث راروان دی، او د دوی غلطیاوو ته اشارې شوې دي، څو څرنګه چې دوی د مسلمانانو سره خلط ملط وه نو الله ﷻ مسلمانان متوجه کړه چې دوی د لستوني ماران دي اعتماد وربانديې هم مه کوئ او په مقابل کښې یې توري ته هم مه لاس کوئ.

په دې ایتونو کښې د هغو منافقانو سره چال چلند بیانېږي چې د مسلمانانو د صف څخه بهر شي، او یا په بل عبارت چې په زړونو کښې پټ ساتلی کفر په ډاګه کړي او د مجاهرو (ښکاره) کافرانو په صف کښې ودرېږي.

په دې باندې علاوه په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه چې تاسو سیئه شفاعت مه کوئ، او دلته د سیئه شفاعت یو مثال واضحه شوی دی چې په منافق باندې د جنګ د مخه نیولو دپاره د کافر حکم نه کول هم یو ډول سیئه شفاعت دی.

## شان نزول

که څه هم د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول په باره کښې زښت ډېر واقعات روایت کړی شوي دي چې تقریباً لس، دولسو ته رسېږي[١]، مګر مونږ دلته په لاندې روایتونو باندې اکتفاء کوو.

١ـ کله چې نبي کریم ﷺ د أحد غزا ته روان شو نو په نیمايي لاره کښې تري عبد الله بن أُبي (رئیس المنافقین) د درې سوه کسانو سره بېرته ستون شو. صحابه کرام ﷺ د همدوی په باره کښې په دوه ډلو باندې ووېشل شوه، یوې ډلې وویلې چې باید د همدوی سره هم مقاتله وکړو، او بلې ډلې وویلې چې دوی خو کلمه وايي باید مقاتله ورسره ونه کړو. نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه[٢].

٢ـ په مکه معظمه کښې ځینو خلکو ظاهراً ځانونه مسلمانان معرفي کړي وه حال دا چې دوی کافر وه، او د مشرکانو په منځکښې اوسېدل، د دوی د دې منافقت څخه مطلب دا وه چې که مونږ چرته په سفر لاړ شو د مسلمانانو د حملو څخه به په أمن کښې اوسو. نو کله چې د دوی په سفر باندې صحابه کرام ﷺ خبر شوه، نو ځینو وویلې چې باید دوی ووژنو، او ځینو وویلې چې نه یې وژنو ځکه چې زمونږ په شان طیبه کلمه وايي. اما نبي کریم ﷺ ساکت وه ترڅو چې ذکر شوي ایتونه نازل شوه[٣].

---

(١) اسباب النزول للواحدي ص١١٢؛ الدر المنثور ج٢ ص٦٠٩؛ زاد المسير ج٢ ص١٩٥
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٦٦٠
(٣) تفسير الطبري ج٣ ص١٩٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

٣ـ خینې خلک مدینې منورې ته ورغلي وه او د نبي کریم ﷺ په حضور کښې یې په خپل ایمان باندې اقرار کړی وه چې مونږ مهاجر یاستو. اما په دې بهانه باندې چې زمونږ سره د مدینې منورې آب هوا موافقه ونه کړه او یا په بله څه بهانه باندې د مدینې منورې څخه بهرته وتلي وه. نو د دوی په باره کښې صحابه کرام په دوه نظرونو باندې وېشلي شوي وه ترڅو چې الله ﷻ د دوی په هکله فیصله وکړه او ذکر شوي ایتونه نازل شوه[١].

## تبصره

١ـ د ذکر شوو ایتونو د مفاهیمو څخه څرګندېږي چې د دې ایتونو د نزول سبب به هغه کسان وه چې لاندې صفات یې درلوده.

الف: دوی منافقان وه چې په خوله باندې یې ایمان ښکاره کاوه خو په زړونو کښې کافر وه ﴿ فَمَا لَكُمْ فِى ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾

ب: دوی بېرته جهري کفر ته وراوښتي وه او د منافقت څخه صرف نظر شوي وه ﴿ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓا۟ ﴾.

ج: دوی د مدینې منورې څخه دباندې په بل کوم وطن کښې مېشت شوي وه ﴿ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا۟ ﴾.

نو نظر پاسنیو مفاهیمو ته داسې برېښي چې اوله واقعه د دې ایتونو شان نزول نه شي جوړېدلی ځکه چې عبد الله بن أبي (رئيس المنافقين) نه خپل کفر علني کړی وه او نه د مدینې منورې څخه دباندې په بل کوم وطن کښې ځای په ځای شوی وه حتی چې د منافقت په حال همدلته مړ او دفن شوی دی.

## سوال جواب

٢ـ کله څوک وایي چې هجرت په لاندې دریوو معناوو باندې استعمال شوی دی.

اول: چې خپل اصلي ټاټوبی د الله ﷻ د رضا دپاره پرېږدي. لکه چې صحابه وو کرامو ﷺ مدینې منورې ته د نبي کریم ﷺ سره د نصرت دپاره هجرت وکړ.

دوهم: چې سړی د منهیاتو څخه جدایي اختیار کړي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ»[٢] یعنې او مهاجر هغه څوک دی چې د هغو شیانو څخه خپل ځان جدا وساتي چې الله ﷻ ترې منعه کړې ده.

دریم: چې سړی خپل کور او کهول پرېږدي او جهاد ته لاړ شي.

نو څه لرې نه ده چې په ﴿ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا۟ ﴾ کښې وروستنی دواړه معناوې مرادې شي. نو د معنی

(١) تفسیر البغوي ج١ ص٤٥٩
(٢) صحیح البخاري ج٢ ص٩٦

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حاصل به یې داسې شي چې: ای مؤمنانو! تر هغې منافقان په دوستۍ سره مه نیسئ؛ ترڅو چې د منتهیانو څخه لاس واخلي او سم مسلمانان شي، او یا ترڅو چې ستاسو سره جهاد ته لاړ شي.

نو بیا خو ذکره شوې واقعه د ایتونو شان نزول جوړېدلی شي؟!

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د هجرت څخه اوله معنی متبادره ده نو په کار دي چې غیرې متبادرې معناوې ترې بې ضرورته وانخستلی شي، او که بالفرض په غیرو متبادرو معناوو باندې بې حمل کړو هم ذکر شوی دوهم مفهوم خو پکښې تحقق نه شي موندلی ځکه چې نوموړي منافق او ملګري بې هیڅکله جهري کفر ته نه وه اوښتي.

همدارنګه دوهمه واقعه هم شان نزول نه شي ګرځېدلی ځکه چې د یو طرفه په همدې واقعه کښې اول مفهوم تحقق نه شي موندلی، چې مونږ د [البقرة: ٩] ایت لاندې ذکر کړی دی چې منافقت په مدینه منوره کښې وده کړې ده او په مکه معظمه کښې خو منافقت ته حاجت نه وه.

او د بلې خوا پکښې دوهم مفهوم هم نه متحقق کېږي چې دوی خو په جهري کفر کښې شامل وه او داسې خو نه وه چې یو ځل ترې وتلي او بیا بېرته ورتاو شوي وه، نو د پاسني بیان څخه واضحه شوه چې صرف درېمه واقعه د دې ایتونو د شان نزول سره ښه سمون خوري.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: درېمه واقعه هم په دې مقام کښې شان نزول نه شي جوړېدلی. ځکه چې: د ایتونو په مضامینو کښې دا خبره هم شامله ده چې که دوی تاسو ته د سولې لاس دروغجاوه نو سوله ورسره وکړئ. حال دا چې یو ځل څوک طیبه کلمه ووایي ـ اګر که د منافقت په توګه یې ویلې وي ـ او بیا کفر ته واوړي نو هغه مرتد ګڼل کېږي، او د مرتد حکم خو دا دی چې باید تر درې ورځو پورې مهلت ورکړی شي ترڅو بېرته مسلمان شي او که نه نو باید قتل شي. او سوله (معاهده) خو د ژوندي پرېښودلو څخه په غیر بل شی نه دی؟!

مونږ وایو چې: ذکرو شوو کافرانو ته ځکه د مرتدانو حکم ورنه کړی شو چې الله ﷻ د هغوی د ایمان څخه پرده پورته کړه چې په اخلاص سره په ایمان باندې نه وه مشرف شوی او په خپل پخواني کفر باندې پاتې وه. نو د دوی ظاهري اقرار د شرعي اعتبار څخه ولوېد.

که بالفرض د هغوی د منافقت څخه الله ﷻ پرده نه وی پورته کړې نو بیا به هغوی د مرتدانو په حکم کښې شامل شوي وی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو همدغه دوهمه واقعه شان نزول ګڼلې ده او منافقت یې په دوه ډوله کړی دی[١]، یو عقیدوي منافقت، چې په مدینه منوره کښې یې وده کړې وه، او بل موالاتي منافقت، چې مونږ ستاسو دوستان یاستو که څه هم ستاسو غوندې ایمان مو نه دی راوړی.

---

(١) تفسیر السار ج٥ ص٣٢١

Downloaded: bawarketabtoon.com

نو پوښتنه دا ده چې: تاسو په څه منظور په ﴿ فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ کښې منافقت په موالاتې منافقين باندې تفسير نه کړ ترڅو ذکره شوې واقعه هم شان نزول وګڼله شي؟

مونږ وايو چې: د ډېر وراندې خاى څخه په عقيدوي منافقت کښې بحث راروان دى نو ناڅاپه دلته موالاتي منافقت مرادول نور څه نه دي فقط د ملغلرو اميل شکول دي.

په هر تقدير، د احکامو په اعتبار سره د مفهوم عموم معتبر دى نه د شان نزول خصوص.

## د مطلب خلاصه

١_ يعنې: اى مؤمنانو! په تاسو باندې څه باعث دى چې په خپلو منځو کښې بې اتفاقي کوئ؟ تاسو خو ټول وروڼه ياست، تاسو ته اتفاق او اتحاد په کار دى ترڅو درباندې دښمن جرئت پيدا نه کړي.

تاسو بايد په هيڅ يوه موضوع کښې دوه پرقه نه شئ خصوصًا د منافقانو په باره کښې، چې يوه ډله ورته د مؤمنانو لقب ورکوئ او بله ورته کافر واياست، تاسو ته په کار وه چې ټولو ورته په يوه خوله کافران ويلي وى او دواړو ډلو يې په کفر باندې اتفاق کړى وى.

هغوى ستاسو په خولو باندې عند الله مؤمنان نه شي جوړېدلى، الله ﷻ خو هغوى د جنايتونو په سبب باندې په کفر کښې سر په څړې ببرته ورګوزار کړي دي او د څو ورځو د ظاهري ايمان څخه وروسته اوس په کفر کښې ډوب پراته دي.

بنه نو دا وواياست چې: ايا تاسو هغه چا ته د هدايت اراده لرئ چې هغه الله ﷻ بې لارې کړى وي؟ نو لکه څنګه چې تاسو دغو ګمراهانو ته هدايت نه شئ کولى نو بايد چې د هدايت ارادې يې هم ونه کړئ.

٢_ اى پيغمبره! ته خو ګمراه ته لا هدايت نه شې کولى (لار ورته نه شې موندلى) نو ستا أمت (صحابه کرام ﷺ) به ورته څنګه د هدايت لاره مونده کړي.

اى مؤمنانو! هغو کسانو ته به تاسو څنګه هدايت وکړئ چې هغوى تاسو ته په تمه دي چې د خپلو خانونو په شان مو ببرته کافران جوړ کړي، ترڅو ټول سره يو برابر شئ او د دې ملامتې څخه خانونه خلاص کړي چې دوى ولې هجرت نه کوي؟ او ولې په حقيقي معناوو کښې ايمان نه راوړي؟

ايا تاسو هغه څوک مسلمانولى شئ چې هغه ستاسو د کافر کولو په هڅه کښې وي؟

هغوى روزمره په پيغمبر ﷺ او په مسلمانانو پورې ملنډې وهي او زيار وباسي چې کفري ټولنې تقويه کړي او د اسلام د پرمختګ په لاره کښې ترې خنډ جوړ کړي.

ايا هغه څوک چې په دغه ډول جنايتونو کښې اخته وي هغه ته د هدايت تمه صحيح ده؟

## د کافرانو سره چال چلند

٣_ نو اى مؤمنانو! تاسو بايد د ټولو کافرانو سره (د ذکرو شوو کافرانو په شمول) داسې چال چلند غوره کړئ چې:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د دوی په غوړماله خبرو باندې مه تېروځئ، په دوستۍ سره یې مه نیسئ؛ او د زړه راز ورته مه وایئ چې ستاسو ایمان ته خطر دی. ترڅو چې دوی په رښتیانیو معناوو کښې په ایمان باندې مشرف شي او د کفرستان څخه دار الهجرت ته هجرت وکړي او ستاسو په څنګ کښې د مسلمانانو په حیث ودرېږي.

ب: نو که دا کار یې ونه کړ نو پوه شئ چې هغوی طیبه کلمه په دروغو وایي او اصلا ستاسو د دښمنانو (مجاهرو کافرانو) انډیوالان دي. نو په هر ځای کښې مو چې ورباندې لاس بر شي دریغ پرې مه کوئ که څه هم په حرم شریف او یا په حرامو میاشتو کښې لاس ته درشي، ځکه چې حُرمات خو دوی د پښو لاندې کړي دي او لمړی جنګ همدوی پیل کړی دی، مه پرې د بندیتوب ایله کوئ او مه د وژنې، مه یې په دوستۍ سره نیسئ؛ او مه ترې د دښمنانو په مقابل کښې د نصرت تمه کوئ. مګر لاندې استثناګانې په نظر کښې ونیسئ:

## دوه استثناګانې

۴_ ای مؤمنانو! فقط په لاندې دوه حالتونو کښې د ذکرو شوو منافقانو سره غرض مه کوئ:

الف: چې هغوی د داسې قوم سره معاهده وکړي چې د هغه قوم سره ستاسو معاهده برقراره وي، نو په دې صورت کښې د خپلې معاهدې د برقراره ساتلو د کبله په هغوی باندې تعرض مه کوئ، ځکه چې د تعرض په صورت کښې تاسو مجبور یاست چې بالواسطه د خپلو معاهدینو سره په جنګ شئ او خپله معاهده د پښو لاندې کړئ، حال دا چې دا ډول چال چلند تاسو ته په کار نه دی او نه تاسو سره مناسب دی.

ب: چې هغوی تاسو ته راشي او داسې معاهده درسره وکړي چې نه به ستاسو په ګټه جنګ کوو او نه به ستاسو په ضد د چا سره جنګېږو او خپله بې طرفي اعلان کړي. دا صورت په هغه وخت کښې تحقق موندلی شي چې هغوی د جنګ څخه ستومانه شوي وي او د مطلق جنګ څخه (د هر چا سره چې وي) کرکه کوي.

نو په دې صورت کښې باید تاسو هم ورسره د بې طرفۍ وضعه غوره کړئ او د دوی پخوانیو کړو وړو ته هیڅ نظر مه کوئ چې ستاسو کینه تازه کړي او په دغو باندې د بې طرفۍ په حال کښې هم تعرض وکړئ.

بلکې په دې صورت کښې تاسو ته په کار دي چې د الله ﷻ شکریه وکړئ چې ستاسو یو جګړه مار دښمن یې د جنګیانو د صفونو څخه بهر کړ او هم یې ستاسو د ساړه جنګ څخه لاس په سر کړه، که نه نو الله ﷻ کولی شوه چې همدوی ته یې جرئت ورکړی وی او ستاسو په جنګ باندې یې مسلط کړي وی، نو بیا به دوی دغــې غلي ناست نه وی لکه چې اوس غلي ناست دي.

لنډه دا چې که دوی ستاسو د جنګ څخه ګوښه شوه او ستاسو د جنګ څه خیال یې نه درلود او

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوله او معاهده يې دروراندي كړه نو الله ﷻ تاسو ته د جنګ اجازه نه دركوي چې يې موجبه د دوى په سرونو باندې پېښې كېږدئ او لارې وربانديې جوړې كړئ.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ ﴾ كښې كه څه هم خطاب ټولو مؤمنانو ته دى مګر مطلب پكښې هغه صحابه كرام ؓ وه چې هغوى ته عتاب متوجه وه چې په منافقانو باندې يې د مسلمانانو ګومان كړى وه.

## په ياد ولرئ!

۲ـ په ياد ولرئ چې په دې مقام كښې د منافقانو څخه هغه منافقان مطلب نه دي چې هغوى په مدينه منوره كښې د مسلمانانو سره ګډ اوسېدل، ځكه چې د دوى په باره كښې تر اخره پورې الله ﷻ د مسلح جهاد امر ورنه كړ، بلكې دلته هغه منافقان مطلب دي چې په منافقت سره يې ايمان راوړى وه او بيا په مجاهرو كافرانو كښې شامل شوي وه خو د سابق په اعتبار سره د منافقانو په نامه باندې ياد شو، او په حكم كښې د هغوى په قطار كښې ودرول شوه.

## "ركس"

۳ـ د ﴿ أَرْكَسَهُم ﴾ كلمه اصلا د "رَكْس" ـ لكه "قَتْل" ـ څخه اخستله شوې ده، "رَكْس" دې ته وايي چې يو شى سر په خرې باندې وغورزولى شي چې سر يې ښكته شي او پښې يې پورته شي[۱]. په عربي ژبه كښې دغه لفظ د ډېر خسيس او حقير حالت څخه د كنايې په توګه استعمالېږي.

په دې مقام كښې د دوى حالت څخه ځكه په "رَكْس" سره تعبير وكړى شو ترڅو د مسلمانانو هغه دله خپلې سهوې ته ښه متوجه كړي چې دوى ته يې د مسلمانۍ لقب وركړى وه.

## ايا د كافرانو سره سوله جائزه ده؟

۴ـ په كوم وخت كښې چې مسلمانان كمزوري وه نو نبي كريم ﷺ هم د مشركانو سره او هم د اهل الكتابو سره معاهدې كولې، لكه چې يو ښه څرګند دليل يې د همدې ايتونو مضمون دى چې سمدستي د بحث لاندې دى، خو كله چې الله ﷻ د مسلمانانو حكومت قوي كړ او د خپل وخت په ټولو كافرانو باندې برلاسي شوه نو د كافرانو سره د نبي كريم ﷺ چال چلند په لاندې دول سره مستقر شو او تر قيامته به باقي وي:

الف: د مشركانو دپاره دوه لارې وټاكلې شوې چې يا وژل او يا مسلمانېدل دي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَٱقْتُلُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ﴾ [التوبة: ۵] يعنې: نو مشركان ووژنئ هر چرته مو چې موندلى كړه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۰۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. د اهل الکتابو دپاره درې لارې وټاکلې شوې چې یا مسلمانېدل یا وژل او بالآخره یا جزیه ورکول دي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴾ [التوبة: ٢٩] یعني: د اهل الکتابو سره تر هغه وجنګېږئ چې ترڅو د ذلت په حالت کښې د خپله لاسه جزیه ورکړي. او د مسلمانانو برلاسي تسلیم کړي. نو اسلامي حکومت به یې د جزیې په مقابل کښې د سر او مال حفاظت کوي.

## یادونه

۵ـ که بالفرض ـ الله ﷻ دې نه کړي ـ په مسلمانانو باندې د کمزورۍ حالت ورغی او د کافرو د پلوه په خپلو نوامیسو باندې وډار شوه نو دوی ته روا ده چې سوله ورسره وکړي او خپل نوامیس خوندي وساتي[1].

د دې حکم نظیر دا دی چې کله الله ﷻ د میراث ایتونه نازل کړه نو عقد الموالاة منسوخ وګرځېده او د میراث د اسبابو څخه ساقط شو، خو که داسې یو څوک مړ شو چې هیڅ ډول وارث یې نه درلود او یوازې د عقد المولاة خاوند ترې پاتې شو نو بیا میراث ورلی شي. څکه چې نوموړی خو وارثانو د میراث څخه محروم کړی وه او همدوی یې مخه بنده کړې وه. نو د دوی په عدم موجودیت کښې یې د وارث ګرځېدلو دپاره څه مانع نشته، لکه چې د [النساء:۳۳] ایت لاندې یې شرحه تېره شوې ده.

﴿ سَتَجِدُونَ آخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَأُولَٰئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا (٩١) ﴾

[۹۱] ژر دی چې تاسو به څه نور (منافقان) مونده کړئ (چې) دوی به اراده لري چې ستاسو څخه هم په امن کښې پاتې شي او د خپل قوم څخه هم د امن خاوندان جوړ شي (د دواړو طرفونو خیال به ساتي، مګر په حقیقت کښې به د خپلو کافرو قومیانو سره وي، څکه چې) هر کله دوی فتنې (کفر) ته وروبلل شي نو سر په څړې به پکښې ورغورزولی کېږي.

نو که دوی ستاسو (پسې د پروپاګند) څخه ډډه ونه کړه او تاسو ته یې سوله (او معاهده) دروانه چوله (ونه کړه) او ستاسو (د جنګ) څخه یې خپل لاسونه بېرته نه کړه، نو ویې نیسئ (بندیان یې کړئ) او ویې وژنئ په هر ځای کښې مو چې (په دقت سره) مونده کړه، او همدغه کسان چې دي موږ تاسو لره په دوی باندې ښکاره حجت ګرځولی دی (درکړی دی).

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۲۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې د هغو منافقانو بحث وه چې هغوی د منافقت څخه لاس واخست او علني کافران جوړ شوه.

په دې ایتونو کښې د هغو منافقانو بحث دی چې په خپل منافقت باندې پاتې وه او بلکې په منافقت کښې مخ په وړاندې لاړه.

## شان نزول

ځینې خلک به نبي کریم ﷺ ته راتله او په ظاهره به یې پرې ایمان راووړ مګر په باطن کښې به په خپله باطله عقیده باندې کلک وه ترڅو هم د مسلمانانو او هم د خپلو کفري قومیانو د حملو څخه بچ پاتې شي، نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو[١].

## د مطلب خلاصه

١ـ یعني: ای مؤمنانو! د منافقانو په هکله اختلاف مه کوئ او ټول یې په کفر باندې اتفاق وکړئ او دا څکه چې په دوی کښې یوه ډله شته چې په خپل منافقت باندې کلکه ولاړه ده که تاسو ورته متوجه شئ نو ژر به یې تشخیص کړئ او وبه یې پېژنئ، هغوی په منافقت سره غواړي چې تاسو په لساني ایمان باندې قانع کړي چې مونږ تاسو سره یاستو او مسلمانان یاستو ترڅو په بې غمی سره سفرونه وکړي او یو ځای بل ځای وګرځي راوګرځي.

او چې کله خپلو وطنونو ته ستانه شي هلته خپلو قومیانو ته خپله اصلي څېره ښکاره کوي او خپل پخواني کفر ته ادامه ورکوي ترڅو هغوی ته هم قناعت ورکړي چې په ظاهري اسلام راوړلو باندې یې ملامته نه کړي. دوی د خپلو قومیانو د راضي ساتلو دپاره د هر ډول نېرنګ څخه کار اخلي او هر کفري کار ته وردانګي، بلکې هر کله چې کفري کار ته ورو بلل شي نو سر په ځړې پکښې ورغورزولی کېږي او اجراء کوي یې.

٢ـ نو د دوی په باره کښې تاسو ته هدایت درکولی کېږي چې که نوموړي منافقان خپلې کړنلارې ته تغیر ورنه کړي او په اسلام او مسلمانانو پسې د پروپاګندونو څخه ډډه ونه کړي او تاسو ته د سولې لاس درونه غځوي، بالآخره ستاسو سره د ساړه جنګ او ګرم جنګ څخه لاسونه وانخلي نو دوی ونیسئ (بندیان یې کړئ) او په هر ځای کښې چې لاس ته درشي ویې وژنئ، او په موندلو پسې یې په دقت سره تاند ووهئ: څکه چې مونږ په همدغو کسانو باندې ستاسو دپاره ښکاره حجت ګرځولی دی چې نه مو څوک ورباندې په دنیا کښې ملامته کولی شي او نه درته په آخرت کښې کومه پته متوجه ده.

---

(١) الدر المنثور ج٢ ص٦١٤

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ په دې ايت کښې چې د کومې طائفې حال بيان شوی دی بالکل د هغې طائفې د حال سره مقابل دی چې په وړاندېنې [۹۰] ايت کښې يې بحث تېر شو[۱]. نو ځرنګه چې د دواړو طائفو حالات سره مقابل دي نو په نتيجه کښې هم سره مقابل واقع شوي دي لاندې شرحه د نظره تېره کړئ:

الف: هغوی د مسلمانانو د پروپاګند څخه ډډه کړې وه او دوی ترې ډډه نه وه کړې.

ب: هغوی د مسلمانانو د جنګ دپاره ځانونه نه چمتو کول او دوی چمتو کول.

ج: هغوی مسلمانانو ته د سولې او معاهدې لاس ورغځولی وه او دوی نه وه ورغځولی.

د: هلته نتيجه دا وه چې جنګ کول ورسره حرام وه او دلته دا ده چې جنګ کول ورسره واجب دي.

## کفر ته ورېلل

۲ـ کله به چې منافقان خپلو قوميانو ته ورستانه شوه نو هر کفري کار ته به يې لاس اچاوه او خپل ځانونه به يې د پخوانې حال څخه په کفر کښې زيات شديد ښودل، ترڅو هغوی مطمئن کړي چې مونږ په رښتيا ايمان نه دی راوړی، مثلاً چې د کوم يوه څخه به پوښتنه وشوه: ايا ته مسلمان شوی يې؟ نو ده به جواب ورکړ چې: "آمَنْتُ بِالْقِرْدِ وَالْعَقْرَبِ"[۲] هو! په بيزو او لړم باندې مې ايمان راوړی دی. نبي کريم ﷺ به يې په ډېرو بدو نومونو باندې ياداوه ـ العياذ بالله ـ ترڅو پرې هغوی د مسلمان ګومان ونه کړي. د دوی حالت د [البقرة:۱۴] ايت کښې ډېر ښه شرحه شوی دی.

## د عربيت يو قانون

۳ـ ځرنګه چې د معطوف عليه عامل په معطوف کښې مقدر وي او په ذکر شوي ايت شريف کښې د "يُلْقُوا، يَكُفُّوا" دواړه جملې په ﴿ يَعْتَزِلُوكُمْ ﴾ باندې عطفې دي، نو د "لَمْ" توری چې په ﴿ يَعْتَزِلُوكُمْ ﴾ کښې عامل دی په دواړو کښې مقدر ګڼل کېږي نو د دواړو تقدير داسې کېږي "لَمْ يُلْقُوا، لَمْ يَكُفُّوا".

## "ثقف" څه معنی؟

۴ـ د ﴿ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ جمله د "ثقف" څخه اشتقاق شوې ده. "ثقف" د يو شي موندلو ته وايي خو چې موندل يې لږ دقت او هوښيارۍ ته ضرورت ولري[۳].

نو ځرنګه چې د منافقانو چلونه ډېر زده وي او د لاس برېدل وربانډې څه دقت او هوښيارۍ غواړي، ځکه الله ﷻ دلته ﴿ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ نازل کړ، او په وړاندې ايت کښې يې (چې د مجاهرو کافرانو حال پکښې بيان شوی دی) ﴿ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ﴾ نازل کړ.

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۱۱۱

(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۴٦۱

(۳) مفردات الراغب ص۷٦

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُوا۟ ۚ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَـٰقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٩٢﴾ ﴾

[۹۲] او مؤمن ته نه ښايي چې بل مؤمن ووژني مگر په خطا سره.

او هر څوک چې مؤمن په خطا سره ووژني، نو (په ده باندې) د يوې مؤمنې غاړې (وينځې يا غلام) ازادول (واجب دي) او د مقتول خپلوانو ته سپارلی شوی ديت (هم پرې واجب دی)، مگر هله چې هغوی تصدق وکړي (او د ديت څخه تېر شي).

نو که مقتول تاسو ته د دښمن قوم څخه وي (چې کافر وي او عهد ورسره نه لرئ) حال دا چې مقتول مؤمن وي، نو (په قاتل باندې) د مؤمنې غاړې ازادول (واجب دي او ديت ورباندې نشته).

او که مقتول د داسې قوم څخه وه چې ستاسو او د هغوی په منځکښې معاهده وه (برابره خبره ده چې مقتول مؤمن وي او که کافر)، نو د هغه خپلوانو ته سپارل شوی ديت (واجب دی) او (په قاتل باندې) د مؤمنې غاړې ازادول (هم واجب) دي.

نو څوک چې (مؤمنه غاړه) مونده نه کړي نو (په ده باندې) پرله پسې دوه مياشتې روژې نيول (لازم) دي. (دا کفاره) د الله ﷻ د پلوه د توبې د قبول دپاره (تاکلې شوې ده)، او الله ﷻ پوه دی (او هم) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط

په تېرو شوو ايتونو کښې الله ﷻ د محاربو کافرانو او منافقانو د وژلو امر کړی وه، نو د دې دپاره چې څوک د همدې امر څخه بده استفاده ونه کړي او کوم ايماندار سړی په نامه د کافر يا منافق باندې ونه ژوني. او هم د دې دپاره چې د کافرانو او منافقانو په تشخيص کښې بنه احتياط وکړي چې چرته ترې ذکر شوی شنيع عمل په خطا او سهوه صادر نه شي، نو په راتلونکو ايتونو کښې يې په همدې اړوند هدايات نازل کړي دي چې بايد مسلمانان يې عمومًا او مجاهدين يې خصوصًا په دقت سره د نظر لاندې وساتي.

## شان نزول

د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې د ذکر شوي ايت د نزول څخه وړاندې څو متعددې حادثې پېښې شوې وې چې په خطا سره پکښې خينې مؤمنان وژل شوي وه. لاندې څو مثالونه يې وړاندې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ د أحد په غزا کښې اليمان ﷺ د جنګ په ميدان کښې د مسلمانانو د لاسه شهيد شو البته کله چې جنګ ډېر شدت وموند او مسلمانان او کافران سره ګډوډ شو، د نوموړي شهيد زوی (حذيفه ﷺ) ډېرې نارې وکړې چې دا زما پلار دی خو څوک ورته متوجه نه شو[۱].

۲ـ همدارنګه په يوه اوږده قيصه کښې عياش ﷺ هم الحارث بن زيد ﷺ د کافر په ګومان ووژه چې ايمان يې راوړی وه خو عياش ﷺ ورباندې خبر نه وه[۲].

نو د دغسې ټولو حادثاتو دپاره الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[۳] چې حاصل يې لاندې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه

۱ـ د مؤمن د شان سره دا خبره هيڅ مناسبه نه ده چې بل مؤمن شهيد کړي. هو! دا کېدلی شي چې په خطا سره ترې ذکر شوی قتل واقع شي، نو په دې صورت کښې هم بايد چې بې اهميته ورته ونه کتل شي او لاندينی تفصيل په نظر کښې ونيولی شي:

اول حالت:

۲ـ که وژل شوي مؤمن مسلمانان وارثان هم درلوده نو په قاتل باندې لازمه ده چې د ذکر شوي قتل د کبله يو مؤمن غلام ازاد کړي او کفاره ورکړي، او هم د ده په عاقله باندې واجبه ده چې د مقتول وارثانو ته ديت وروسپاري. مګر دا بېله خبره ده چې هغوی ورته ديت وبښي او عفوه ورته وکړي.

دوهم حالت:

۳ـ که مقتول مؤمن وه خو خپلوان يې ستاسو دښمنان وه، يعنې محارب کافران وه چې څه معاهده او سوله مو ورسره نه درلوده، نو په دې صورت کښې يوازې په قاتل باندې د مؤمن غلام يا يوې مؤمنې وينځې ازادول د کفارې په توګه لازم دی، او ديت په هيڅا باندې واجب نه دی. او دا ځکه چې حربيان کافران د ديت د ورکولو ورنه دي.

دريم حالت:

۴ـ او که مؤمن د داسې قوم څخه وه چې د هغوی سره تاسو معاهده درلوده او يو تربله مو سره سوله کړې وه نو په دې صورت کښې د اولنې صورت په شان هم په قاتل باندې کفاره (د يوه مؤمن غلام يا يوې مؤمنې وينځې ازادول) واجب دي، او هم يې په عاقله (تربرونو) باندې ديت لازم دی چې د مقتول خپلوانو ته يې ورکړي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۵۳۹

(۲) التفسير الکبير ج۱۰ ص۲۲۷؛ الدر المنثور ج۲ ص۶۱۶

(۳) اسباب النزول للواحدي ص۱۱۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که غلام یا وینځه نه وي

۵_ هو، که په ذکرو شوو دریوارو حالاتو کښې قاتل مؤمن غلام یا مؤمنه وینځه موندلو نه کړی شوه نو په ده باندې پرله پسې دوه میاشتې روژې نیول واجب دي د دې دپاره چې د الله ﷻ د پلوه يې توبه قبوله شي. او الله ﷻ هم پوه دی چې ذکر شوی قتل به ستاسو څخه ضرور پېښېږي او هم د حکمت خاوند دی هیڅ کار یې بې ګټو نه دی، نو د غلام یا وینځې د ازادولو په عوض د دوه میاشتو روژو نیول د حکمت غوښتنه ده.

توضیحات

۱_ که څه هم د قتل د اقسامو نومونه او بحثونه د فقهې په کتابونو کښې[۱] لیکلي شوي دي، که بالفرض مونږ د قتل په اړوند ټول بحثونه دلته رانقل کړو نو د وخت د ضیاع څخه په غیر به بله نتیجه ونه لري، هیله ده چې لوستونکي همهلته مراجعه وکړي چې د قتل په ټولو مسائلو باندې به تفصیل سره پوه شي چې کومه یوه مسئله اتفاقي ده، کومه یوه اختلافي، او د مذاهبو د اختلاف وجې کومې-کومې دي.

مونږ په دې کتاب (عزیز التفاسیر) کښې التزام کړی دی چې باید هاغومره فقهي احکام ذکر کړو چې د ایت د تفسیر پورې مستقیماً ارتباط لري، او بس.

د قتل ډولونه او حکمونه

۲_ که څه هم مونږ د [البقرة: ۱۷۸] ایت لاندې د قتل د ډولونو څه تعریفونه د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي خو په دې مقام کښې يې یو ځل بیا د حکمونو سره وړاندې کوو چې د مؤمن وژنه په لاندې شپږ ډوله ده:

۱_ قتل عَمَد ۲_ قتل شبه عمد ۳_ قتل خطا في الاراده ۴_ قتل خطا في الفعل ۵_ قتل شبه خطا ۶_ قتل بالتسبیب.

قتل عمد

۳_ قتل عمد د هغه قتل نوم دی چې په وژونکې آله باندې په قصدي توګه صورت ونیسي، د دې قتل أخروي حکم په راتلونکې ایت شریف کښې راروان دی او دنیاوي حکم يې دا دی:

الف: باید قاتل د قصاص په توګه ووژل شي، که د مقتول وارثان يې وژل غوره کړي.

ب: باید قاتل د خپل مال څخه د مقتول وارثانو ته دیت ورکړي، که د دیت په اشتراط سره د قصاص څخه تېر شوه.

ج: نه ورباندې قصاص شته او نه دیت، که د مقتول وارثانو بې قید او شرطه ورته عفوه وکړه.

د: په قتل عمد سره قاتل د خپل مقتول د میراث او وصیت څخه محروم ګرځي.

---

(۱) الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص۲۱۷_ ۳۳۰؛ بدائع الصنائع ج۷ ص۲۳۳_ ۲۹۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## قتل شبه عمد

۴ـ قتل شبه عمد هغه قتل دی چې وژل یې قصدي وي خو وژونکې آله پکښې استعماله نه کړې شي، لکه چې څوک په سوک سپېړه باندې ووژل شي. د أبو حنیفه رحمه الله علیه په نزد غټه ډبره لکه د مېچنې پل هم وژونکې آله نه ده، اما د یارانو علیهما الرحمة په نزد غټه تیږه قاتله آله ګڼله کېږي.

د دې قتل أخروي حکم هم په راتلونکې ایت شریف کښې راروان دی چې د قتل عمد سره څه فرق نه لري او کم او کیف یې الله ﷻ ته ښه معلوم دی، اما دنیاوي جزاګانې یې دا دي:

الف: په قاتل باندې کفاره لازمه ده، چې بیان یې وروسته راځي ان شاء الله تعالی.

ب: د قاتل په عاقله (تربرونو) باندې دیت واجب دی چې د مقتول وارثانو ته یې ورکړي.

ج: په قاتل باندې دا هم واجبه ده چې په دیت کښې هم د یو فرد په حیث برخه واخلي.

د: د میراث او د وصیت څخه قاتل محروم ګرځي.

هـ: په قاتل باندې د کفارې په وجوب کښې اختلاف دی، څوک چې شبه عمد قتل ته د عمدي قتل پورې ارتباط ورکوي نو کفاره پرې واجبه نه بولي، او څوک یې چې په قتل خطا پورې مربوطوي نو کفاره پرې لازمه ګڼي[1].

## قتل خطا في الاراده

۵ـ قتل خطا في الاراده هغه قتل دی چې قاتل په اراده کښې غلط شي، مثلاً په انسان باندې د ښکار ګومان وکړي او قتل یې کړي، او یا د کافر په ګومان مسلمان ووژني. د دې قتل دنیاوي نیونه دا ده:

الف: د قاتل په عاقله باندې د مقتول وارثانو ته دیت ورکول واجب دی چې پخپله قاتل به هم پکښې د یو فرد په حیث برخه اخلي. خو په دې شرط چې د مقتول خپلوان محارب کافران نه وي، چې یا مسلمانان وي او یا معاهد کافران، لکه چې د "د مطلب خلاصه" عنوان لاندې یې بیان تېر شوی دی.

ب: په قاتل باندې کفاره واجبه ده.

ج: قاتل هم د مقتول د میراث څخه او هم یې د وصیت څخه محروم ګرځي.

## قتل خطا في الفعل

۶ـ قتل خطا في الفعل هغه قتل دی چې په ذکر شوي صورت کښې قاتل انسان او ښکار پېژني، مسلمان او کافر ورته معلوم وي، او په قصدي توګه په ښکار یا کافر باندې فیر وکړي خو مرمۍ په انسان یا مسلمان باندې اصابت وکړي او شهید یې کړي.

د دې قتل دنیاوي حکم د قتل خطا في الاراده غوندی دی.

---

(۱) بدائع الصنائع ج۷ ص۲۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## قتل شبه خطا

۷_ قتل شبه خطا هغه قتل دی چې په قتل کښې د قاتل اراده دخیله نه وي، مثلاً د خوب په حالت کښې مور خپل ماشوم د ارخ لاندې کړي او قتل یې کړي، او یا داسې نور.

د دې قتل دنیاوي حکم هم د قتل خطا في الاراده غوندې دی. خو په دغو دربوارو قتلونو کښې اُخروي مواخذه (نیونه) نشته.

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: که په قتل خطا کښې اُخروي نیونه نه وی نو کفاره به هم ورباندې نه لازمېدلی. یا په بل عبارت: د کفارې لزوم د ګناه څخه نمایندګي کوي نو معلومه شوه چې اُخروي نیونه ورباندې شته او په کفاره باندې ترې الله ﷻ قاتل بچ کوي؟!

مونږ وایو چې: په قتل خطا کښې پخپله په قتل باندې نیونه نشته، ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ»[۱] یعني: یقینًا الله ﷻ زما اُمت ته د خطا او نسیان او د هغه شي (د نیونې څخه) تېر شوی دی چې دوی ورباندې مجبور کړی شي (او په زور پرې اجراء شي).

اما د قتل خطا قاتل په بې احتیاطی باندې نیول کېږي، که بالفرض څه دقت یې کړی وی نو قتل به ترې نه وی واقع شوی، مثلاً که مور خپل ماشوم خپل خان ته نژدې نه وی ویده کړی نو د ارخ څخه به یې نه وی لاندې کړی[۲].

## قتل بالتسبیب

۹_ دا د هغه قتل نوم دی چې قاتل د قتل سره څه مباشرت ونه لري خو د قتل سبب یې جوړ شي لکه چې څوک په غیر مملوکه ځمکه کښې کوهی وکني او بل څوک پکښې ولوېږي او مړ شي. نو د دې قتل حکم په څه تفصیل سره صرف په عاقله باندې دیت ورکول دي او بس[۳].

## دیت څه معنی؟

۱۰_ د "دِيَة" کلمه د "وَدى، يَدِي" مصدر دی چې اصلي معنی یې د مقتول خپلوانو ته د مقتول مالي بدله ورکول دي، خو په استعمال کښې پخپله هغه مال ته "دِيَة" وایي چې د مقتول وارثانو ته ورکول کېږي[۴].

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۴۷
(۲) هدایه کتاب الجنایات ج۲ ص۵۵۸
(۳) بدائع الصنائع ج۷ ص۲۷۴
(۴) حواشي هدایه کتاب الدیات ج۲ ص۵۸۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دیت اندازه څومره ده؟

١١ـ عطاء بن ابي رباح ﷺ وايي چې: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي الدِّيَةِ عَلَى أَهْلِ الْإِبِلِ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ وَعَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاةِ أَلْفَيْ شَاةٍ وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ وَعَلَى أَهْلِ الْقَمْحِ شَيْئًا لَمْ يَحْفَظْهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ»[١] یعني: یقیناً رسول الله ﷺ په دیت کښې په اوښو والاوو باندې په سلو اوښانو حکم کړی، او په غوا والاوو باندې يې په دوه سوه غواګانو، او په مېږو والاوو باندې يې په دوه زره مېږو باندې، او په لباس والاوو باندې يې په دوه سوه لباسه باندې او (بالآخره) په غنم والاوو باندې يې په څه اندازه باندې حکم کړی دی، خو د محمد بن اسحاق ـ د حدیث راوي ـ په یاد کښې نه دی پاتې شوی (چې څومره غنم به يې ښودلي وي).

مونږ ته داسې ښکاري چې د ذکرو شوو اجناسو قیمتونه به په هغه وخت کښې سره متماثل وه نو ځکه متعدد صورتونه ښودلي شوي دي، که نه نو حصر به پکښې مطلب نه وی. د همدې کبله امیر المؤمنین "عمر الفاروق" ﷺ د خپل خلافت په دوران کښې د سرو زَرو څخه یو زر دیناره او د سپینو زَرو څخه دولس زره درهمه د دیت دپاره وټاکل[٢] چې د ده په خلافت کښې به مثلاً د یو سلو اوښانو قیمت همدغه مقدار نقدو پیسو ته رسېده.

د دې بحث نور تفصیل باید د فقهې په کتابونو کښې وکتل شي[٣]، خو مونږ فقط دومره اضافه کوو چې باید د هر مملکت خلک په خپل وطن کښې د سلو اوښانو قیمت د دیت دپاره وټاکي. ځکه چې د دیت دپاره د سلو اوښانو په باره کښې احادیث مشهور او ډېر دي[٤] نو داسې ګڼل کېږي لکه چې اوښان په دیت کښې اصل وي.

## عاقله څوک دي؟

١٢ـ د "عَاقِلَه" کلمه خو د "عَقل" څه اخستله شوې ده او "عَقل" تړلو او بندولو ته وايي، د همدې کبله د انسان هوښیارۍ د "عقل" په نامه یادېږي چې د غیر مناسبو کارونو څخه سړی بندوي. او د لاندې وجوهو د کبله دیت د عقل په نوم بلل کېږي[٥]:

الف: په عربو کښې عاذت وه چې د مقتول وارثانو ته به يې د هغوی د راضي کولو دپاره څه اوښان ورروستل نو هلته به يې ورته وتړل چې دا اوښان د دې ځای څخه حرکت نه شي کولی.

ب: څرنګه چې د دیت په ورکولو او قبلولو سره د وینو د تویېدلو مخه نیوه کېږي نو دیت د عقل په نامه ونومول شو.

---

(١) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٢٦٩
(٢) موطا الإمام مالک ص٦٦٨
(٣) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٢٣٧
(٤) هدایه کتاب الدیات ج٢ ص٥٨١
(٥) مفردات الراغب ص٣٥۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کوم خلک چې دیت یې په غاړو باندې لازمېږي هغوی ته عاقله وايي. يعني هغه ټولګی چې د عقل (ديت) خاوندان دي. لکه چې د شودو (لبن) خاوند ته "لابن" او د کجورو (تمر) خاوند ته "تامر" وايي.

په هر تقدير، د هر چا عاقله د قاتل د کيفيت پورې په لاندې ډول تفاوت پيدا کوي[1]:

اول: که قاتل دفتري سړی وي چې يا په کومه فرقه کښې عسکري وظيفه اجراء کوي او يا په کوم وزارت کښې مامور وي. نو په دې تقدير د نوموړي قاتل د مربوط دفتر کارکوونکي عاقله ګڼله کېږي چې بايد د همدوی د مياشتني معاشاتو څخه په درېوو کلونو کښې پوره کړی شي.

دوهم: که قاتل دفتري سړی نه وه نو د نوموړي قبيله او خپلوان د ده عاقله ګڼله کېږي، چې پلرونه او اولاده يې پکښې شامل نه دي او نه پکښې زنانه، ماشومان او نه ليونيان شاملېدلی شي.

او که کوم يو قاتل نه اقارب لري او نه دفتري سړی وي نو بايد چې ديت يې بيت المال په غاړه واخلي، لکه څنګه چې کوم يو مقتول اقارب نه لري نو بايد چې ديت يې بيت المال ته وسپارلی شي.

## سوال جواب

١٣_ که څوک وايي چې: اسلامي قانون دا دی چې هر څوک د خپل ځان مسئول دی، الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ [فاطر:١٨] يعني: هيڅ باروونکی نفس د بل نفس پېټی نه په شا کوي. نو په څه منظور په قتل خطا کښې ديت په عاقله باندې بار کړی شو؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو يې لاندې څلور وجې ليکلې دي[2]:

الف: په عاقله باندې د ديت خلاصول د دې کبله نه دي چې دوی د قاتل په قتل باندې نيولی شوي دي، بلکې د دې دپاره ورباندې لازم شوی دی چې دوی د مقتول سره خواخوږي وکړي لکه څنګه چې د غنيانو په مالونو کښې د فقيرانو د خواخوږۍ دپاره څه برخې ټاکلې شوې دي.

ب: څرنګه چې په عاقله کښې يو تر بله کومک کول دائمي عادت دی او د ديت په ورکولو کښې قاتل مرستې ته زښت ډېر اړ دی، نو چې خپله عاقله يې په همدې ورځ باندې په کار ورنه شي نو په کومه ورځ به يې په کار ورځي.

ج: کله چې عاقله د ديت په ورکړې کښې ټول اشتراک وکړي نو د دوی په منځو کښې چې څه زړه بداوی موجود وي هغه هم پرې لرې کېږي.

د: کله چې ديت د عاقلې په غاړه شي نو د عاقلې هر فرد داسې ګڼل کېږي لکه چې د خپل ځان دپاره د ديت څه ونډه په اوږو اخلي. او دا ښکه لکه چې نن په بل باندې ذکر شوی احتياج واقع شو څه لرې نه ده چې سبا پخپله همدی په لومه کښې ونښلي.

---

(١) الفقه الإسلامي وادلته ج٦ ص٣٢٢؛ کتاب الفقه على المذاهب الأربعة ج٥ ص٣٧٨
(٢) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٢٢٤

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ﻫ بالآخره، مونږ ته ډېره عمده وجه دا ښکاري چې الله ﷻ شرعي احکام د فرضيې په شکل نه دي نازل کړي، چې ذهني وجود لري خو عملي صورت یې تحقق نه شي موندلی.

نو که بالفرض دیت د قاتل په اوږو باندې پرېښودل شوی وی نو دا قانون به محض یوه فرضیه وی. او دا ځکه چې داسې قاتل به په زرو تنو کښې یو هم نه وی موندل شوی چې سل اوښان او یا یې قیمت د مقتول وارثانو ته ورکولی شي. حال دا چې قصاص او وژل یې ورته جائز نه وه، نو د دیت حکم به صرف د کاغذ په مخ پاتې وی او بس.

د همدې کبله په قتل عمد کښې که د مقتول وارثان د قصاص څخه دیت ته تنازل وکړي نو دیت په عاقله باندې واجب نه دی بلکې په اجماع سره د قاتل د مال څخه ورکول کېږي[١]، او دا ځکه چې په دې صورت کښې دیت محض فرضیه نه جوړېږي ځکه که د مقتول وارثان پوهېږي چې د دیت ورکړه د قاتل د لاسه پوره نه ده نو بیا به ورته تنازل نه کوي او د قصاص په اجراء کولو باندې به خپلې خواوې سړې کړي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د چاپېریال د تاثیر لاندې هیڅوک ځان نه شي بچ کولی که ډېر مستبد سړی وي هم. دفتري سړي د خپلو ټولو دفتریانو ملامته په ځان نه شي ځغملی. او غیر دفتري سړی د خپلو اقاربو او تربرونو ملامته کول نه شي تحمل کولی.

نو کله چې ذکر شوی قانون څوک په ذهن کښې راولي چې دیت په عاقله باندې واجبېږي نو هغه به ضرور احتیاط کوي چې په قتل خطا کښې واقع نه شي او د چاپېریال ملامته ورته متوجه نه شي.

برسېره پر دې، په دې تقدیر هر چاپېریال په خپلو افرادو باندې زور اچوي او د احتیاط توصیه ورته کوي ترڅو د دیت د پېټې سره مخامخ نه شي.

## د معاهد کافر هم دیت شته

۱۴ـ هغه کافر چې د مسلمانانو سره په معاهده کښې وي او یا یې اسلامي حکومت ته جزیه منلې وي نو د قتل خطا په صورت کښې یې د مسلمان سره په دیت کښې څه فرق نشته[٢]، د همدې کبله الله ﷻ د ﴿ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ﴾ په جمله کښې د "وَهُوَ مُؤْمِنٌ" ټکی اضافه نه کړ ترڅو معاهد کافر ته هم شامل شي. او د حربي کافرانو په بیان کښې یې د ﴿ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ ټکی زیات نازل کړ ترڅو مونږ ته راڅرګنده کړي چې د حربي کافر دیت ورباندې واجب نه دی.

﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ ﴾

---

(١) تفسیر القرطبي ج٥ ص٣٣١
(٢) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٢٣٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۳] او هر څوک چې یو مؤمن په قصد سره ووژني نو د هغه جزا دوزخ دی چې په هغې کښې به همیشه وي او (هم) په ده باندې الله ﷻ په غضب دی او د خپل رحمت څخه یې لرې کړی دی او د ده لپاره یې لوی عذاب تیار کړی دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې: څوک چې یو مسلمان په خطا سره قتل کړي په هغه باندې الله ﷻ په رحمت سره رجوع کوي، او د رحمت د موندلو طریقه یې ورته ښاکلې ده چې کفاره ده. مګر هغه څوک چې دا کار په قصدي توګه وکړي د هغه دپاره یې د رحمت د موندلو طریقه نه ده ښودلې. د هغه ګناه دومره لویه ده چې په کفاره باندې نه عفوه کېږي. یا په بل عبارت داسې کفاره نشته چې د ذکر شوې ګناه سره انډول وي. ځکه چې په نوموړي باندې الله ﷻ په غضب دی او د خپل رحمت څخه یې لرې کړی دی او لوی عذاب یې ورته تیار کړی دی.

## شان نزول

د مقیس بن ضبابه ورور، چې هشام بن ضبابه نومېده، د بني النجارو په قبیله کښې وژلی شوی وموندل شو. نو نبي کریم ﷺ د بني النجارو قبیلې ته ذکر شوی مقیس ورواستاوه او یو صحابي ﷛ یې (چې د فهر د قبیلې څخه وه) هم ورسره ولېږه چې بني النجارو ته ووایه چې: یا مقیس ته د ورور قاتل ورکړئ او که قاتل یې درته معلوم نه وي نو د مقتول دیت ورکړئ.

بني النجارو ویلي چې: مونږ قاتل نه پېژنو خو دیت ورکولو ته چمتو یاستو.

ذکر شوي مقیس چې د خپل ورور دیت (سل اوښان) ترلاسه کړ او د خپل ملګري سره یو ځای (چې نبي کریم ﷺ ورسره استولی وه) بېرته راستون شو. نو نوموړي په لاره کښې ذکر شوی صحابي ﷛ (ورسره استولی شوی ملګری) شهید کړ او په خپله مکې معظمې ته د سلو اوښانو سره د ارتداد په حالت کښې بېرته وتښتېد او د مشرکانو سره یو ځای شو. نوموړی مقیس اولنی سړی وو چې د اسلام څخه مرتد شو، د ده څخه پخوا هېڅوک د اسلام څخه نه وه مرتد شوي.

نو ځکه دا چې الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ[۱].

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ د هغه چا دپاره چې یو مؤمن په قصدي توګه شهید کړي لاندې جزاوې ټاکلې:

الف: دوزخ، چې هلته به همیشه وي.

ب: د الله ﷻ غضب، چې په معنی د انتقام سره دی[۲].

ج: لعنت، چې د رحمت د لرېوالي او رټلو معنی ورکوي.

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۳۳۲، اسباب النزول للواحدي ص۱۱۴

(۲) مفردات الراغب ص۳۷۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د لوی عذاب، چې د الله ﷻ څخه په غبر وربانديې نور څوک نه پوهېږي چې څومره به وي ذکر شوي جزا نوموړي ته په آخرت کښې ورکوله کېږي، اما دنیاوي جزا یې قصاص دی چې د [البقرة ۱۷۸] ایت کښې واضحه شوی دی.

## د قتل عمد په باره کښې احادیث

۲ـ د قتل عمد په باره زښت ډېر احادیث روایت کړی شوي دي چې خینو مفسرینو کرامو رانقل کړي دي، که څوک یې د نظره تېر کړي نو ډېره ښه خبره ده[۱]، مګر مونږ په لاندې یو حدیث باندې اکتفاء کوو چې:

«لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ»[۲] یعني: همېشه وي یو مومن (چې په نېکه لاره باندې) جلتي کوونکی نېکي کوونکي روان وي ترڅو یې چې حرامې وینې ته اصابت نه وي کړی (مومن یې نه وي وژلی) نو کله چې حرامې وینې ته اصابت وکړي (مومن ووژني) نو ستومانه شي (د خیر په کار کښې وراندې نه شي تللی او توفیق نه شي موندلی).

## ایا په قتل عمد سره سړی کافر کېږي؟

۳ـ د څلور واړو مذهبونو اتفاقي خبره دا ده چې په قصدي قتل باندې سړی نه کافر کېږي، دوزخ کښې به همېشه پاتې نه شي. علاوه په دې توبه یې هم قبلېږي[۳].

مونږ د [آل عمران: ۲۵] ایت لاندې تحقیق کړی دی چې په عمل باندې څوک نه کافر کېږي ترڅو پورې چې د داسې عمل مرتکب نه شي چې هغه د عقیدې څخه نمایندګي کوي، لکه بوت ته سجده کول او یا کفري زنار په غاړه کښې اچول[۴]، مګر په دې مقام کښې په همدې مطلب باندې لاندې څو دلایل هم وراضافه کوو:

الف: الله ﷻ فرمایي: ﴿ قُلْ يَـٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ [الزمر: ۵۳] یعني: زما هغو بندګانو ته چې په خپلو ځانونو باندې یې تجاوز کړی دی (ګناهونه یې کړي دي) ووایه چې د الله ﷻ د رحمت څخه مه نااُمیده کېږئ. بې شکه الله ﷻ ټول ګناهونه بښي، بې شکه همدی ﷻ ښونکی مهربان دی.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې د پخوانیو زمانو د یوه قاتل قیصه بیانه کړې ده[۵]، چې یوه سړي یو کم سل نفره وژلي وه، یوه راهب ورته وویلې چې: ستا توبه نه قبلېږي. نو دغه راهب یې هم شهید کړ او د وژلو شوو شمېر یې پوره سل جوړ کړ. بیا بل چا ورته وویلې چې: هوا ستا او د توبې د

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۶۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۲۶
(۲) سنن ابي داوَد ج۲ ص۲۳۱
(۳) اعلاء السنن ج۱۸ ص۷۲
(۴) شرح العقائد للنسفي ص۹۰
(۵) صحیح مسلم ج۲ ص۳۵۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قبول په منځکښې حائل نشته، مګر د خپلې قریې (کلي) څخه لاړ شه چې دا د فاسقانو کلی دی، هغه بل کلي ته لاړ شه چې هغه د نېکانو او عابدانو کلی دی، هملته د هغوی سره په عبادت باندې مشغول اوسه او بېرته خپل کلي ته مه راستنېږه.

کله چې نوموړی قاتل د عابدانو کلي ته په داسې حال کښې روان شو چې د قتلونو څخه توبه تائب شوی وه، په لاره کښې وفات شو. نو د رحمت ملائکو غوښتل چې روح یې قبض کړي چې توبه تائب دی او د عابدانو کلي ته ورروان وه، او د غضب ملائکو غوښتل چې دوی یې روح قبض کړي چې فاسق سړی دی او سل نفره یې وژلي دي.

دواړو ډلو ته یوه بله ملکه د بنیادم په څېره ورغله چې دواړو ډلو ملائکو هغې ته د لانجې د حل کولو حکمیت ورکړ. منصفې ملکې فیصله وکړه چې د همدې ځایه دې د دواړو کلو فاصله تناب کړی شي، که د عابدانو کلی نژدې وي نو د رحمت ملائک دې د ده روح قبض کړي او که د فاسقانو کلی نژدې وي نو هغوی ته دې د ده روح وسپارل شي. د تناب په نتیجه کښې د عابدانو کلی نژدی ثابت شو نو د نوموړي قاتل روح د رحمت ملائکو قبض کړ.

او ښکاره ده چې نبي کریم ﷺ د پخوانیو قومونو کومه قیصه بیانه کړي او رد یې نه کړي نو د هغې قیصې مضمون زمونږ دپاره شریعت جوړېږي.

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د ایتونو او احادیثو څه نور دلایل هم راغونډ کړي دي[1]، که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي خو مونږ غواړو چې لاندې دوه مشکله د الله ﷻ په فضل باندې حل کړو:

اول: په همدې ایت کښې -چې اوس د بحث لاندې دی- الله ﷻ د عَمدي (قصدي) قاتل دپاره د ﴿ خَـٰلِدًا فِيهَا ﴾ کلمه نازله کړې ده چې په دوزخ کښې به همیشه وي او په بل عبارت: توبه یې نه قبلېږي.

دوهم: د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما (رئیس المفسرین) څخه هم د ذکر شوي ایت شریف همداسې تفسیر روایت شوی دی، چې څه نور سلف صالحین هم ورسره همنظري دي[2].

## د اول مشکل حل لاره

۴- علماوو کرامو د اول مشکل د حل کولو په باره کښې لاندې لارې غوره کړې دي:

الف: په ذکر شوي ایت کښې د قاتل څخه هغه قاتل مراد دی چې مرتد هم وي، لکه چې شان نزول ورباندې دلالت کوي[3].

مګر دا حل لاره څکه د منلو وړ نه ده چې په احکامو کښې د مفهوم عموم ته اعتبار وي او د مورد خصوص اعتبار نه لري.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۷۲_ ۳۷۴

(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۶۵؛ کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ج۵ ص۲۵۳

(۳) تفسیر القاسمي ج۵ ص۳۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دلته هغه څوک مراد دی چې د مؤمن قتل حلال وګڼي. یعنې چې د دې کبله یې د مؤمن قتل ته اقدام کړی وي چې دی مؤمن دی او همدا ایمان یې د قتل باعث ګرځېدلی دی(١).

مګر دا لاره هم مشکل نه شي حل کولی(٢)، ځکه چې د یو پلوه د مؤمن کلمه په استعمالاتو کښې د جوامدو په ډول ګڼله کېږي او د اشتقاقي وصف مراعات پکښې نه کېږي، که نه نو د مؤمن په وهلو باندې هم باید سړی مستحل وګرځي او کافر شي، او د بله پلوه داسې معنی د سیاق څخه مخالفه ده ځکه چې خبره په هغه قاتل کښې راروانه ده چې مؤمن وي، نه د هغه په باره کښې چې کافر وي چې: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا﴾.

ج: دا ایت منسوخ دی(٣)، ځکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَـٰلِحًا فَأُوْلَـٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَـٰتٍ﴾ [الفرقان: ٧٠] یعني: چا چې د الله ﷻ سره شریک جوړ کړی وي او قتل او زنا یې کړې وي نو هغوی به په دوزخ کښې همېشه وي، مګر هغه څوک چې توبه وباسي او ایمان راوړي او صالح عمل وکړي نو د دغو ګناهونه به الله ﷻ په نېکیو تبدیل کړي.

مګر دا هم چندان حل لاره نه ده ځکه چې ذکر شوی ایت د [الفرقان: ٧٠] ایت څخه وروسته نازل شوی دی(٤)، او وړاندېنی ایت خو وروستنی نه شي نَسخه کولی.

علاوه په دې، د "الفرقان" ایت شریف په مشرکانو کښې نازل شوی دی نه په مؤمنانو کښې(٥).

د: خلود د هغه قاتل په باره کښې دی چې توبه تائب شوی نه وي او یا ورته الله ﷻ عفوه نه وي کړې(٦)، مګر مونږ وایو چې: په دې باندې ځکه موضوع نه حل کېږي چې پوښتنه دا ده چې الله ﷻ ورته عفوه کوي او که نه، توبه یې قبلوي او که نه، که بالفرض یا یې توبه قبوله نه کړي او یا ورته عفوه ونه کړي نو ایا بیا به په دوزخ کښې همېشه وي؟

هـ: دا ایت مخصوص البعض دی، ځکه چې هغه قاتل ترې د [الفرقان: ٧٠] ایت سره وتلی دی چې د کفر په حالت کښې یې مؤمن وژلی وي(٧)، نو حکم یې ظني شو او د هغو ایتونو سره معارض نه شي واقع کېدلی چې د هغو حکم قطعي دی، لکه د [الزمر: ٥٣] ایت چې وړاندې ذکر شو.

مونږ وایو چې: په دې ایت کښې کافر قاتل هېڅ داخل نه دی بلکې ټوله خبره په مؤمن قاتل کښې راروانه ده، نو ایت شریف عام مخصوص البعض نه دی.

و: په دې ایت کښې د خلود څخه مکث طویل (اوږده تالیدل) مراد دی. یعني په مؤمنانو ګناهګارانو

---

(١) التفسيرات الأحمدية ص٣٠٠
(٢) تفسير روح المعاني ج٥ ص١١٧
(٣) تفسير القاسمي ج٥ ص٣٧٢
(٤) تفسير المنار ج٥ ص٣٤٢
(٥) صحيح البخاري ج٢ ص٧٠٢
(٦) التفسير الكبير ج١٠ ص٢٤٠
(٧) زاد المسير ج٢ ص١٧٤؛ البحر المحيط ج٣ ص٢٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې که دوزخ ته ورداخل شي نو د ټولو څخه به پکښې هغه څوک ډېر پاتې شي چې مومن يې وژلی وي[١]. د همدې کبله د ﴿ خَـٰلِدًا فِيهَا ﴾ سره د "أَبَدًا" ټکی نه دی ضمیمه شوی.

دا حل لاره لږ څه ښه ده خو د دې خبرې خطره شته چې ځینې معاندین د کافرانو خلود هم په مکث طویل سره تاویل کړي او د ﴿ أَبَدًا ﴾ د ټکي څخه ـچې د کافرانو سره پیوسته شوی دی ـ ښه ډېر مکث مراد وګڼي. یا په بل عبارت: چې د ﴿ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ [النساء: ٥٧] څخه مکث اطول واخلي. یعني: ښه ډېر طولاني مکث.

ز: ځینو علماوو کرامو د نصوصو په دلالت سره د موضوع حل اراده کړې دی، چې د کافر قاتل او کافر جنایتکار توبه خو د [الفرقان: ٧٠] ایت سره قبلېږي نو د مؤمن قاتل خو باید په طریق اَولی سره قبوله شي[٢].

مونږ وایو چې: دلالة النص اعتبار لري خو چې د عبارة النص سره ضدیت ونه لري. او په دې مقام کښې په عبارة النص کښې ﴿ خَـٰلِدًا فِيهَا ﴾ نازل شوی دی، نو دلته دلالة النص د اعتبار وړ نه دی.

ح: ځینو علماوو کرامو په دې موضوع کښې توقف کړی دی[٣]، او ښکاره ده چې په توقف باندې موضوع نه حل کېږي.

د ټولو څخه مونږ ته هغه حل لاره ښه ښکاري کومه چې خپله د ایت شریف څخه فهمېږي. هغه دا چې الله ﷻ نه دي فرمایلي چې: "نُدْخِلَهُ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا" دوزخ ته به يې ورداخل کړو او هلته به همېشه وي، بلکې داسې يې فرمایلي دي چې ﴿ فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَـٰلِدًا فِيهَا ﴾ څوک چې په قصد سره مؤمن شهید کړي نو دغه يې مناسبه جزا ده.

پاتې شوه دا خبره چې الله ﷻ به دا جزا ورکوي او که نه؟ نو د دې جواب په نورو نصوصو کښې په صراحت سره ذکر دی چې الله ﷻ د خلود څخه ورتېر شوی دی، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ»[٤] یعني: هرڅوک چې زما د اُمت څخه مړ شي او د الله ﷻ سره يې شریک نه وي درولی نو هغه به جنت ته داخل شي.

که څه هم د ذکر شوي حدیث په الفاظو کښې فرق شته خو مضمون يې د احادیثو په ډېرو کتابونو کښې روایت کړی شوی دی لکه صحیح مسلم، جامع الترمذي، سنن ابن ماجه او داسې نور.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د مؤمن د قتل سره دغه جزا مناسبه ده خو الله ﷻ په تاسو باندې فضل وکړ او د خلود څخه درتېر شو، نور نو د الله ﷻ په اراده پورې اړه لري چې عفوه ورته کوي او که په دوزخ کښې يې ورباندې معذبوي.

---

(١) تفسیر المنار ج٥ ص٣٤٢

(٢) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٢ ص٦٠

(٣) تفسیر القاسمي ج٥ ص٣٧٢

(٤) صحیح البخاري ج١ ص١٦٥؛ صحیح مسلم ج١ ص٤٣؛ جامع الترمذي ج٢ ص٩٢؛ سنن ابن ماجه ج٢ ص٣١٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې ذکره شوې حل لاره خو کافرانو ته هم تمه ورکوي چې: د شرک جزا أبدي دوزخ دی خو که د ابدیت څخه یې راتېر شي، لکه چې مؤمن قاتل ته ورتېر شوی دی، نو دا به خوموره ښه خبره وي؟

مونږ وایو چې: کافران ذکره شوې تمه نه شي کولی ځکه چې الله ﷻ د دوی تمه په قاطع ډول باندې پرې کړې ده چې: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ [النساء: ۴۸]

یعني: یقینًا الله ﷻ دا ګناه نه بښي چې څوک ورسره شریک جوړ کړي (چې کافر شي) او د دې څخه لاندې ګناهونه بښي خو چې چا ته یې اراده وشي.

### یوه قیصه

۶ـ د ښه وضاحت دپاره لاندې قیصه ولولئ:

یوه ورځې عمرو بن عبید علیه الرحمة وویلې: چې کله زه د الله ﷻ په حضور کښې د قیامت په ورځ ودرول شم او ماتهووایې چې تا ولې فتوی ورکوله چې قاتل به په اور کښې همېشه وي؟ نو زه به ورته ووایم چې: ای الله! ځکه ما فتوی ورکوله چې تا ویلي وه: ﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا﴾ الآیة.

قریش بن أنس علیه الرحمة وایې چې: ما ورته وویلې که الله ﷻ درته ووایې چې: ما خو داسې هم ویلي وه چې: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ﴾ الآیة نو ته څه پوه شوې چې قاتل ته زما د مغفرت اراده نشته؟

نو عمرو بن عبید علیه الرحمة سکوت وکړ، هیڅ جواب یې رانه کړ[۱].

### د دوهم مشکل حل لاره

۷ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او د نورو پوهانو څخه یوازې د قاتل خلود نه دی روایت شوی بلکې د حالاتو په غوښتنه دوه ډوله روایتونه ترې نقل شوي دي. نو د دې څخه معلومېږي چې هغوی هم په خلود باندې معتقد نه وه خو د دې دپاره یې پرې صراحت نه کاوه چې خلک جرئت پیدا نه کړي. شاید د همدې کبله به الله ﷻ په دې مقام کښې د خلود کلمه نازله کړې وي چې په نورو ایتونو کښې یې واضحه کړي، که نه نو الله ﷻ خو کولی شو چې بالکل یې د خلود ذکر نه وی کړی. نو د ښه وضاحت دپاره د لاندې علماوو کرامو څخه مختلف روایتونه ولولئ:

الف: یو ځل د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه یوه سړي پوښتنه وکړه چې: ایا د هغه چا دپاره توبه شته چې په قصدي توګه مؤمن شهید کړي؟ نو ده ﷺ ورته ... جواب ورکړ چې: نه، د قاتل دپاره فقط اور دی.

کله چې پوښتنه کوونکی لاړ، نو ده ﷺ ته ناستو خلکو وویلې چې: ایا تا مونږ ته داسې فتوی راکړې وه؟ نن دې خپلې فتوی ته ولې تغییر ورکړ؟.

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۱۱۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو نوموړي صحابي ؓ جواب ورکړ چې: ماته سوال کوونکی په غصه ښکاره شو نو ودار شوم چې که دغسې فتوی ورنه کړم قتل به وکړي. کله چې ذکر شوی سائل ولټول شو رښتیا هغه په غصه وه[۱].

ب: یو خل د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه په یوه مجلس کښې دوه سړیو پوښتنه وکړه، چې هر یوه ته یې بېل بېل جواب ورکړ. یوه ته یې وویلې چې: د قاتل دپاره توبه نشته. او بل ته یې وویلې چې: د قاتل دپاره توبه شته. نو هغو خلکو ترې چې د دواړو جوابونو په وخت کښې حاضر وه پوښتنه وکړه چې: دا ولې؟.

نوموړي صحابي ؓ جواب ورکړ چې: اول سړي قتل نه وه کړی نو ما وغوښتل چې قتل ونه کړي. او دوهم سړي قتل کړی وه نو ما وغوښتل چې توبه وباسي او ناأمیده نه شي[۲].

ج: سفیان علیه الرحمه وایي چې: علماوو کرامو د قتل په باره کښې فتوی ورکوله چې توبه ورته نشته خو چې د چا د لاسه به قتل واقع شو نو هغه ته به یې ویلې چې: "تُبْ"[۳] یعني: توبه وباسه.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي: هر کله چې خلود په خپله معنی باندې مراد نه وه نو په نزول کښې یې څه حکمت وه؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: شاید حکمت به پکښې دا وي چې علماء کرام وکړی شي د انزجار او د تهدید په غرض نظر ظاهري کلماتو ته د خلود فتوی ورکړی شي. که بالفرض د ﴿ خَلِدًا فِيهَا ﴾ ټکی په قرآن کریم کښې نه وی نازل شوی نو دوی به فتوی نه شوی ورکولی، حال دا دی چې د حالاتو په اختلاف سره باید فتوی هم تغیر وکړي. لاندې یو مثال د ښه وضاحت دپاره ولولئ:

یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه یوه سړي پوښتنه وکړه چې: ایا روژه دار ته جائزه ده چې د خپلې مېرمنې سره د روژې په حال کښې (د جماع څخه په غیر) مباشرت وکړي؟ نو اجازه یې ورکړه. او بل سړي عین پوښتنه وکړه هغه یې ترې منعه کړ. نو چې وکتل شوه اولنی سړی بوډا وه (چې د روژې د ماتېدلو خطر یې لږ وه) او دوهم سړی زلمی وه (چې د روژې د ماتېدلو خطر یې زیات وه)[۴].

## ایا د مقتول حق پاتې دی؟

۹ـ په ناحقه قتل کښې درې حقونه د پښو لاندې کېږي: یو د الله ﷻ حق چې قتل یې حرام کړی دی، او بل د مقتول د وارثانو حق چې د مقتول په قتل باندې زوروېدلي دي، او درېم خپله د مقتول حق چې په ظلم سره وژلی شوی دی.

---

(۱) اعلاء السنن ج۱۸ ص۷۳
(۲) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۲۱۷
(۳) روح المعاني ج۵ ص۱۱۶
(۴) سنن ابي داؤد ج۱ ص۳۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ خو به قاتل یا په دوزخ کښې معذب کړي، یا به ورته په توبه او یا بې توبې عفوه وکړي، همدارنګه د مقتول وارثان به یا قاتل قصاص کړي او یا به ورته په دیت او غیر دیت سره عفوه وکړي، اما د مقتول حق د قیامت ورځې ته پاتې دی چې د الله ﷻ په حضور کښې به یې ترې وغواړي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَجِيءُ مُتَعَلِّقًا بِالْقَاتِلِ تَشْخَبُ أَوْدَاجُهُ دَمًا فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ سَلْ هَذَا فِيمَ قَتَلَنِي»[1] یعني: د قیامت په ورځ به مقتول په داسې حال کښې راشي چې خپل قاتل پورې به نښتی وي او د شاه رګونو څخه به یې وینې بهېږي، نو وبه وايي چې: ای ربه! د دغه (قاتل) څخه پوښتنه وکړه چې زه یې په څه باندې وژلی وم؟.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُوا۟ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَنْ أَلْقَىٰٓ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَـٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾﴾

[۹۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په هغه وخت کښې چې تاسو (د جهاد دپاره) په ځمکې کښې سفر وکړئ (او د ناآشنا خلکو سره مخامخ شئ) نو ښه تحقیق وکړئ او (په جلتۍ سره) هغه چا ته چې تاسو ته سلام اچوي مه وایاست چې ته مؤمن نه یې.

(کېدلی شي چې دغه د جلتۍ حکم د دې دپاره وکړي چې) تاسو د حقیر ژوند څه سامان غواړئ (ترلاسه کوئ). نو د الله ﷻ په نزد ډېر غنیمتونه (ګټې) دي (د همده ﷻ څخه) د حلال مال سوال وکړئ او حرامو ته بهانه مه جوړوئ).

تاسو هم پخوا همدارنګه (کافران) وئ نو الله ﷻ درباندې احسان وکړ (او ایمان مو راووړ). نو ښه تحقیق وکړئ.

یقیناً الله ﷻ په هغه څه باندې خبردار دی چې تاسو یې کوئ (هیڅ شی ترې پټ نه دی).

## ارتباط

په وړاندې ایت کښې الله ﷻ د مؤمن د قتل سخت وعید بیان کړ او په دې ایت کښې مونږ ته توصیه کوي چې پوره احتیاط او زیات تحقیق کوئ هسې نه چې د مؤمن په قتل باندې اخته شي.

## شان نزول

د ذکر شوي ایت شریف په شان نزول کښې متعدد روایت شته[2]، خو لاندې دوه روایتونه د مثال په توګه ولولئ:

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۱۶۳

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۳۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې، یوه سړي یو کنډک ګډې درلودې، نو کله چې مسلمانان وروړسېده نو هغه ورته وویلې چې: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ". خو د دې سره-سره دوی هغه ووژه او ګډې یې د غنیمت په توګه بوتلې، نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ[1].

۲ـ یوه ګروپ مجاهدینو یو کس ووژه چې د هغه دا کلمه په خوله وه چې: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ إِنِّي مُسْلِمٌ» په الله ﷻ باندې شاهدي وایم چې واحد او لا شریک دی، زه مسلمان یم. اصلي قاتل نبي کریم ﷺ ته ورغی چې: ای د الله رسوله! زه خو هلاک شوم. او ذکره شوې قیصه یې ورته وکړه. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ بَطْنِهِ فَعَلِمْتَ مَا فِي قَلْبِهِ» نو د ده ګېډه به دې څېرې کړې وی چې پوه شوی وی چې د ده په زړه کښې څه وه. یعنې چې ریښتیا مسلمان وه او که په دروغو، نو تا خو د هغه په خوله باندې باور ونه کړ او د هغه په زړه باندې دې علم نه وه.

نو لږ وخت وروسته هغه قاتل مړ شو او دفن کړی شو، سبا ته قبر راګوزار کړ، بیا دفن شو او بیا یې راګوزار کړ، بیا دفن شو او بیا یې راګوزار کړ، بالآخره یې د یوه کمره لاندې کړ، او په خاورو کښې یې پټ کړ.

بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ الْأَرْضَ لَتَقْبَلُ مَنْ هُوَ شَرٌّ مِنْهُ وَلَكِنَّ اللهَ أَحَبَّ أَنْ يُرِيَكُمْ تَعْظِيمَ حُرْمَةِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ»[2] یعنې: ځمکه د ده څخه بدتر مړي هم قبلوي خو الله ﷻ وغوښتل چې تاسو ته د کلمې طیبې د حرمت تعظیم دروښايي.

## تبصره

داسې بریښي چې ذکر شوي دواړه روایتونه به د یوې واقعې څخه حکایت کوي، په هر تقدیر هغه څوک چې قبره راګوزار کړی وه "مُحَلِّمُ بْنُ جَثَّامَةَ" نومېده[3].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! کله چې تاسو د غزا دپاره ناآشنا وطن ته لاړ شئ چې هلته د خلکو سره ناآشنا یاست، نو ډېر زیات احتیاط او تحقیق وکړئ او په جلتۍ سره څوک مه وژنئ، ترڅو چې درته ښه ثابته شي چې هغه کافر دی. خصوصاً هغه چا ته چې تاسو ته د اسلام شعار وړاندې کوي او وايي چې السلام علیکم. او یا تاسو ته انقیاد کوي، مه وایاست چې ته مسلمان نه یې بلکې کافر یې. حال دا چې دا کار د دې کبله کوئ چې هغه دنیاوي سامان لري او تاسو غواړئ چې مال یې د غنیمت په توګه ترلاسه کړئ.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۲

(۲) سنن ابن ماجه ص۲۸۱

(۳) تفسیر القرطبي ج۵ ص۳۳۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په داسې کار باندې ستاسو آخرت خرابېږي، پام کوئ چې په دنياوي مالونو باندې خپل آخرت خراب نه کړئ، مالونه د الله ﷻ سره ډېر دي د بل حلال مدرک څخه يې هم درکولی شي، د الله ﷻ د نعمتونو شکريه وکړئ چې په اسلام باندې يې مشرف کړي ياست او يوازې د خولې په اقرار باندې د مؤمنانو په صف کښې ودرول شوي ياست.

۲ـ کله چې تاسو اول ځل په اسلام باندې مشرف شوئ نو ستاسو زړه خو چا څيري نه کړ بلکې فقط د ژبې اقرار او شهادت مو د مسلمانېدلو دپاره کفايت وکړ، نو په څه دليل باندې نن ورخ تاسو د نورو خلکو د ژبې په اقرار باندې اعتماد نه کوئ چې اقرار يې د دپاره کړی دی؟

دغه کره-کره او غوره-غوره مجاهدين چې نن ورخ ستاسو په صف کښې ولاړ دي دوی هم يو وخت د کافرانو په صفونو کښې ولاړ وه او د کفر په کټه يې کار کاوه، څه لرې نه ده چې د همدغو جديد الاسلامه خلکو څخه ستاسو دپاره الله ﷻ ښه غښتلي مجاهدين جوړ کړي، نو په لوی لاس خپل ځانونه مه کمزوري کوئ او د توحيد اقرار کوونکي په جلتۍ سره د کافرانو په قطار کښې مه دروئ، بلکې تحقيق پکښې وکړئ څومره مو چې وسه کېږي.

او که تحقيق نه کوئ او وژلو ته بې بهانه جوړوئ نو د الله ﷻ څخه خو ستاسو هيڅ کره وړه پټ نه دي او په ټولو اعمالو باندې مو خبردار دی د خپل عمل په مطابق به جزا درکړي.

## توضيحات

۱ـ په دې مقام کښې د ﴿ٱلسَّلَـٰمَ﴾ کلمه لاندې دوه معناوې درلودلی شي[۱]:

الف: چې دلته مراد هغه تحيه ده چې د [النساء:۸۶] ايت کښې ورته اشاره شوې ده. يعنې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: د پوره تحقيق څخه وړاندې په هغه چا باندې د کافر حکم مه کوئ د کوم څخه چې تاسو اسلامي شعار واورئ چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" دی.

ب: چې دلته ترې محض غاړه ايښودل مراد دي. يعنې: هغه څوک چې تاسو ته د خپل انقياد څرګندونه وکړي هغه ته په جلتۍ باندې کافر مه وايئ، چې يا کلمه طيبه ووايي يا د توحيد شهادت ووايي او حتی يا درباندې مسنونه سلام واچوي.

مونږ ته همدغه دوهمه معنى ښه برېښي چې اولنۍ معنى ته هم شامله ده. نو د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه احاديث ولولئ:

اول: کله به چې نبي کريم ﷺ د مجاهدينو ګروپ جهاد ته استاوه نو ورته به يې ويلې چې: «إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا أَوْ سَمِعْتُمْ مُؤَذِّنًا فَلَا تَقْتُلُوا أَحَدًا»[۲] يعنې: کله چې تاسو جومات وګورئ او يا د مؤذن څخه اذان واورئ نو هلته هيڅوک مه وژنئ.

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۴۶۷
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: د أنس ﷺ د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې د خیبر په غزا کښې مونږ (مجاهدین) د نبي کریم ﷺ په شمول هلته د شپې ورسېدو خو تر سبا پورې مو حمله ونه کړه، نو کله مو چې د سهار اذان وانه ورېده نو حمله مو پيل کړه او نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ»[۱]
یعني: الله ﷻ لوی دی، الله ﷻ لوی دی (ای زمونږ ربه!) خیبر ته ماتې ورکړې.

## پخوا تاسو هم همداسې وئ

۲ـ مفسرینو کرامو د ﴿كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ﴾ لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: تاسو هم په اولو وختونو کښې په همدغې کلمې طیبې باندې نجات موندلی وه، د زړونو خبره درسره نه وه مطرحه شوې چې تاسو په رښتیا کلمه طیبه وایې او که په دروغو.

ب: تاسو هم په اولو وختونو کښې د خپل قوم څخه خپل ایمان پټ کړی وه، نو هغه څوک چې ستاسوپه وړاندې کلمه ووایي او پخوانی حالت یې تاسو ته څرګند نه وي چې د خپل کافر قوم د ډاره یې نه وي اظهاره کړې چې تاسو هم ورباندې خبر شوي وی، نو په دې کښې په هغه باندې څه ګناه راځي؟.

ج: تاسو هم پخوا مشرکان وئ، الله ﷻ په ایمان مشرف کړئ او اخلاص مو قوي شو، نو ښه دا ده چې سمدستي د خلکو څخه په همدې کلمه طیبه یا په بل اسلامي شعار باندې اکتفاء وکړئ، څه لرې نه ده چې هغوی هم ستاسو په شان په اسلام کښې مخلصان جوړ شي[۲].

د: تاسو پخوا دغسې وئ چې د خلکو مالونو ته به مو بهانې جوړولې او په چل ول به مو د هغوی مالونه خوړه، نو اوس خو درباندې الله ﷻ احسان کړی دی او په ایمان باندې یې مشرف کړي یاست، په کار دي چې ښه تحقیق وکړئ ترڅو د جاهلیت په ناکاره عادت کښې بېرته سر په څړی ونه غورزېږئ.

مونږ وایو چې که ټولې معناوې مرادې کړی شي هم څه منافات سره نه لري.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: وړاندې خو الله ﷻ د ایمان دپاره ښه قوي شرطونه ټاکلي دي، لکه چې د [النساء: ۶۵] کښې تېر شوه، نو په دې مقام کښې څنګه یوازې په اسلامي شعار باندې اکتفاء وکړی شوه؟

مونږ وایو چې: هلته د هغه ایمان بیان وه چې د الله ﷻ په نزد باندې په کامله توګه د قبول وړ وي او دلته د هغه مؤمن بحث دی چې د مسلمانانو په وړاندې ایمان ښکاره کړي ترڅو دوی د هغه د وژلو څخه صرف نظر وکړي. یا په بل عبارت: هلته ایمان عند الله مراد وه او دلته ایمان عند الناس مراد دی. الله ﷻ په زړونو باندې علم لري او بندګان باید یوازې په ظاهر باندې اکتفاء وکړي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۸۶
(۲) زاد المسیر ج۲ ص۱۷۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ
بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً ۚ
وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾
دَرَجَاتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾﴾

[۹۵] د معذرت د خاوندانو څخه په غیر د مؤمنانو د جملې څخه (د جهاد څخه) کښیناستونکي او د الله ﷻ په لاره کښې په خپلو مالونو او ځانونو باندې جهاد کوونکي سره یو تربله مساوي نه دي، (بیان یې دا دی چې) الله ﷻ په مالونو او ځانونو باندې جهاد کوونکي په قاعدینو (کښیناستونکو) باندې په عظیم الشاني درجې سره بهتر ګرځولي دي.

او الله ﷻ هرې ډلې (مجاهدینو او قاعدینو) ته د جنت وعده ورکوي، او الله ﷻ مجاهدین په قاعدینو باندې په لوی اجر سره بهتر جوړ کړي دي.

[۹۶] چې د همده ﷻ د پلوه (ورته) زښتې ډېرې درجې دي او مغفرت او رحمت هم دی. او الله ﷻ ښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباطونه

۱ـ وړاندې الله ﷻ د مؤمن د قتل په باره کښې ډېر کلک وعیدات نازل کړه، نو څه لرې نه ده چې د چا ذهن ته د جهاد پرېښودل او په کور کښېناستل بهتر وبرېښي، ځکه چې په جهاد کښې د مؤمن د وژلو خطره شته چې یا په قصدي توګه او یا په خطایي توګه پکښې سرې واقع شي.

نو په دې ایتونو کښې د همدغه فکر رد وشو چې مجاهدین او قاعدین سره برابر قدرې هم نه دي پاتې خو لا دا چې قاعدین ترې بهتر شي.

۲ـ په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون ښه تائید شوی دی چې مجاهدینو ته الله ﷻ زښت ډېر فضائل ټاکلي دي خو دوی ته په کار دي چې د مؤمن په وژلو باندې یې خراب نه کړي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: د معذورو مسلمانانو څخه په غیر په کور ناست مسلمانان چې هجرت یې کړی وي او جهاد ته نه وي تللي د هغو کسانو سره (چې د الله ﷻ په لاره کښې په سر او مال سره جهاد کوي) برابر قدرې هم نه دي، پاتې خو لا دا چې ترې بهتر شي.

بلکې الله ﷻ په سر او مال جهاد کوونکي په قاعدینو باندې (چې بې د شرعي عذره څخه جهاد ته نه وي تللي) په دنیا او آخرت کښې په لویې درجې سره بهتر ګرځولي دي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو تاسو ته په کار دي چې د مؤمن د قتل د ډاره د جهاد څخه لاس وانخلئ، چې د دغې لوړې درجې څخه به محروم شئ، مجاهدین به غنیمتونه راوړي او تاسو به تش لاس پاتې شئ.

۲_ که څه هم په اوسنیو شرائطو کښې (چې جهاد فرض عین نه دی ګرځېدلی) تاسو د کور په کښېناستلو باندې نه ګناهګارېږئ او په هجرت کولو باندې مو د مسلمانانو طرف قوي کړی دی، نو د جنت د داخلېدلو لیاقت لرئ، او ستاسو هرې ډلې ته الله ﷻ د جنت وعده درکوي. مګر بیا هم تاسو چې په جهاد کښې عملي برخه وانخلئ نو د هغوی سره په درجو کښې برابري نه شئ کولی، ځکه چې الله ﷻ مجاهدینو ته په لوی اجر سره بهتري ورکړې ده چې د خپله جانبه ورته لوړې درجې، د ګناهونو مغفرت او بالآخره رحمت ورکوي. او الله ﷻ بښونکی او مهربان دی نو ځکه یې ګناهونه وربښي او د درجاتو پېرزوینه ورباندې کوي.

۳_ پاتې شو د معذورو مسلمانانو حالت، د دوی حالت دا دی چې که څه هم په حقیقي توګه دوی هم د مجاهدینو سره سیالي نه شي کولی مګر د الله ﷻ په فضل سره عند الله مجاهدین ګڼل کېږي، ته به وایې چې د مجاهدینو سره یې په هر وخت کښې عملاً اشتراک کړی دی.

## توضیحات

۱_ په کوم وخت کښې چې ذکر شوي ایتونه نازل شوه او ابن اُم مکتوم رضي الله عنه واورېده، نو نبي کریم ﷺ ته یې عرض وکړ چې: «يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ لَوْ أَسْتَطِيعُ الْجِهَادَ لَجَاهَدْتُ وَكَانَ أَعْمَى»[1] ای د الله ﷻ پېغمبره! قسم دی که ما جهاد کولی شوی نو جهاد به مې کړی وی (نوموړی په سترګو باندې ړوند وه). نو الله ﷻ سمدستي د ﴿ غَيْرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ ﴾ کلمه رانازله کړه.

## أولي الضرر څوک دي؟

۲_ د "ضَرَرٌ" کلمه د "ضُرٌّ" د کلمې سره په اصلي حرفونو کښې متحده ده، او "ضُرٌّ" بدحالۍ ته وایي، چې د لاندې اسبابو د کبله سړي ته ورپېښېږي[2]:

الف: چې څوک علم او عقل ونه لري او د څه فضیلت خاوند نه وي.

ب: چې څوک په بدني نیمګړتیا باندې مبتلا وي، لکه ړوندوالی، ګوډوالی او داسې نور.

ج: چې چا ته د بدن څخه بېرون څه بدحالي متوجه وي، لکه د مال کمبود او داسې نور.

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: قاعدین د مجاهدینو سره نه شي برابرېدلی، مګر هغه قاعدین ورسره برابرېږي چې د عذر د کبله د جهاد څخه پاتې شوي وي، چې یا بدني معذرت ولري او یا د وسائلو د نشتوالي سره مخامخ وي خو د دې سره-سره په نیت او اراده کښې یې جهاد ځای نیولی وي او اخلاص یې د مجاهدینو سره ډېر وي. په همدې مطلب باندې لاندې دلایل دلالت کوي:

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۰

(۲) مفردات الراغب ص۳۰۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ﴿لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ [التوبة: ۹۱] يعني: نه په ضعيفانو او نه په مريضانو باندې او نه په هغو کسانو باندې (جهاد ته د نه تللو) حرج شته چې هغه څه نه شي موندلی چې (د جهاد) څوري ورباندې برابر کړي، خو دا هله چې دوی د الله ﷻ د دين او د ده د پيغمبر ﷺ خير غواړي.

ب: يو ځل نبي کريم ﷺ په يوه غزا کښې صحابه کرام ﵃ مخاطب کړه چې تاسو په مدينه منوره کښې داسې خلک پرېښي دي چې هغوی ستاسو سره په هر يو مزل کښې او په هره يوه نفقه کښې او بالآخره د هرې کندې په قطعه کولو کښې معيت لري او درسره شريک دي. صحابه کرامو ﵃ عرض وکړ چې: يا رسول الله! هغوی به څنګه زمونږ سره شريک شي حل دا چې هغوی خو په مدينه منوره کښې پاتې دي؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ»[۱] هغوی عذر ايسار کړي دي.

## يادونه

مونږ ته داسې ښکاري ـ والله ﷻ أعلم ـ چې هغه کسان به هم د معذرت په خاوندانو کښې شامل وي چې هغوی په جهادي خدمتونو کښې بوخت وي، لکه د وسائلو پوره کول، د مهماتو رسول، د مجاهدينو سوق او اداره کول، بالآخره سياسي او فرهنګي خدمت کول او داسې نور.

همدارنګه هغه څوک هم راته پکښې داخل ښکاري چې د جهاد د مشر د پلوه په کومه وظيفه باندې موظف کړی شوي وي. کله چې نبي کريم ﷺ د تبوک غزا ته روان شو نو علي ﵁ يې په مدينه منوره کښې د خليفه په توګه وټاکه[۲].

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په يوه ايت کښې الله ﷻ د مجاهدينو فضيلت دوه کرته ذکر کړ، او هم په دې کښې څه حکمت دی چې د اول فضيلت سره ﴿دَرَجَةً﴾ کلمه او د دوهم ځل سره يې د ﴿دَرَجَٰتٍ﴾ کلمه نازله کړه؟

مونږ وايو چې مفسرين کرام په دې مقام کښې په لاندې ګروپونو وېشلي شوي دي:

الف: ځينې وايي چې په اول ځل کښې اجمال وه او په دوهم ځل کښې تفصيل مطلب دی، او تفصيل د ابهام (اجمال) څخه وروسته ښه زړه ته لوېږي ترڅو د مجاهدينو فضيلت د خلکو په زړونو کښې کښيني. د همدې کبله يې اول ځل ﴿دَرَجَةً﴾ ذکره کړه چې په عظمت باندې دلالت کوي او دوهم ځل يې په عظمت باندې صراحت وکړ چې ﴿دَرَجَٰتٍ﴾ يې رانازل کړ[۳].

ب: ځينې نور مفسرين کرام د دوارو مقامونو په لاندې فرقونو باندې قائل دي[۴].

(۱) سنن ابي داود ج۱ ص۳۴۰
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۳۳
(۳) تفسير ابي السعود ج۲ ص۲۲۱
(۴) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۴۹؛ تفسير الطبري ج۴ ص۲۳۱؛ التفسير الكبير ج۱۱ ص۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: مجاهدین په معذورینو باندې په یوه درجه پورته دي او په بې عذره قاعدینو باندې په درجاتو سره لوړ دي.

دوهم: یوه درجه نظر هغه جهاد ته ده چې په سر باندې یې جهاد کړی وي، او درجات نظر هغه جهاد ته ده چې په مال او سر دواړو باندې یې جهاد کوي.

دریم: په اول خل کښې دنیاوي درجه مراده ده چې د مدحې، تعظیم او بالآخره د غنیمت اخستلو درجه ده، او په دوهم خل کښې د جنت درجات مطلب دي.

مونږ ته د اول ګروپ مفسرینو کرامو تفسیر ښه ښکاري چې همدا متبادر تفسیر دی او په زړه کښې ژر ځای نیسي.

## د مجاهدینو درجات تفاوت لري

۴ـ ذکر شوي ایت شریف په قاعدینو باندې د مجاهدینو فضیلتونه څرګند کړه چې هغوی ورسره سیالي نه شي کولی، اما دوی په خپلو منځو کښې سره هم یو برابر نه دي بلکې د حالاتو او زمانو په اعتبار سره ډېر زیات تفاوت لري او ځینې په ځینو نورو باندې د پاسه دي. لاندې تشریح ولولی:

الف: الله ﷻ فرمایي: ﴿لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا﴾ [الحدید: ۱۰] یعني: ستاسو څخه هغه څوک چې د مکې معظمې د فتحې څخه وړاندې یې (د الله ﷻ په لار کښې) خپل مال مصرف کړی وي او وسله وال جهاد یې کړی وي (د هغو خلکو سره) برابر نه دي (چې ذکر شوي دوه کارونه یې نه وي کړي) هغوی د درجې د حیثه ډېر لوی دي، د هغو کسانو څخه چې د دې څخه وروسته یې مال مصرف کړی دی او جنګ یې کړی دی.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږد حدیث کښې فرمایي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ»[1] یقینًا په جنت کښې یو سل درجې دي چې الله ﷻ د في سبیل الله مجاهدینو دپاره تیارې کړې دي، د دوو درجو په منځکښې یې دومره تفاوت دی لکه د ځمکې او اسمان په منځ کښې.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې ټول مفسرین کرام متفق دي چې په دې مقام کښې د ﴿الْحُسْنَىٰ﴾ څخه جنت مطلب دی[2]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې قاعدینو او مجاهدینو دواړو ډلو ته الله ﷻ د جنت وعده ورکوي. نو پوښتنه دا ده چې: ایا قاعدین د جهاد په نه کولو سره نه ګناهګارېږي؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۱

(۲) البحر المحیط ج۴ ص۳۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



مونږ وايو چې: کله چې جهاد فرض عين وګرځي او يا د جهاد قائد عام نفير اعلان کړي نو بيا بې عذره قاعدين ګناهګاران دي، لکه چې د تبوک د غزا د قاعدينو په باره کښې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ﴾ [التوبة: ١٠٦] يعني: ځينې نور قاعدين د الله ﷻ امر ته (سمدستي) وروسته کړی شوي دي چې يا به يې معذب کړي او يا به وربانديې په رحمت سره رجوع وکړي (چې بيا يې په رحمت سره وربانديې رجوع وکړه).

او ذکر شوی ايت شريف د بدر د غزا په باره کښې نازل شوی دی[1]، په دې غزا کښې خو نبي کريم ﷺ عام نفير نه وه اعلان کړی، د همدې کبله کعب بن مالک ﷺ وايي چې: «تَخَلَّفْتُ عَنْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ يُعَاتَبْ أَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهَا»[2] زه د بدر د غزا څخه پاتې شوی وم خو په دې غزا کښې چې هرڅوک پاتې شوي وه په هغه باندې عتاب (ملامتي) نه راتله.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾ ﴾

[٩٧] بې شکه هغه کسان چې د هغوی ارواګانې ملکې په داسې حال کښې اخلي چې په خپلو ځانو باندې يې ظلم کړی وي (هجرت يې نه وي کړی نو د دوی کيفيت به داسې وي چې) ملائک به ورته ووايي چې: تاسو په څه حالت کښې وئ (په کفر کښې که په اسلام کښې)؟.
دوی به وايي چې: مونږ (په اسلام کښې وه خو) په ځمکه کښې کمزوري وو (اسلام مو په ښکاره توګه نه شو عملي کولی). هغوی به ورته وايي چې: ايا د الله ﷻ ځمکه پراخه نه وه، نو چې هجرت مو پکښې کړی وی؟
نو دغه کسان چې دي د دوی استوګنځای دوزخ دی او دا د بېرته ورتاوېدلو ناکاره ځای دی.

[٩٨] مګر (حقيقي) بې چاره کمزوري خلک چې د دغسې نارينه وو او زنانه وو او ماشومانو څخه عبارت دي چې نه د وسيلې توان لري او نه (د هجرت) لاره موندلی شي (دوی دوزخيان نه دي).

[٩٩] نو الله ﷻ ته اُميد دی (اُميد دې وکړي) چې دغو (حقيقي ناچاره) خلکو ته به عفوه وکړي، او الله ﷻ عفو کوونکی (او) بښونکی دی.

---

[1] صحيح البخاري ج٢ ص٥٦٤

[2] صحيح البخاري ج٢ ص٦٣٤

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو خلکو بیان وه چې هجرت یې کړی وه او د مجاهدینو سَواد یې زیات کړی وه خو د جهاد څخه پاتې شوي وه، چې دواړو ډولو ته الله ﷻ په څه تفاوت سره د جنت وعده ورکړه. په دغو ایتونو کښې د هغو خلکو بیان دی چې هغوی هجرت نه وي کړی او د کافرانو سَواد یې اضافه کړی دی.

## شان نزول

که څه هم په دې مقام کښې مفسرینو کرامو متعدد شان نزولونه لیکلي دي[۱] چې ټول سره تقریبًا تشابه لري خو مونږ په لاندې یوه شان نزول باندې اکتفاء کوو.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: په مکه معظمه کښې ځینې خلک وه چې مسلمانان شوي وه خو هجرت یې نه وه کړی او د کافرانو سَواد یې ډېر کړی وه، نو د دغو کسانو په باره کښې ذکر شوي ایتونه نازل شوه[۲].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: هغه خلک چې ایمان یې راوړی وي خو هجرت یې نه وي کړی او د کافرانو سواد یې زیات کړی وي او په همدې سبب یې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی وي، د دوی حالت داسې دی چې:

څه وخت چې د دوی ځنکدن وي او لا روح یې نه وي قبض شوی دوي ته روح قبض کوونکې ملائکې وايي چې: تاسو په څه حالت کښې ژوند کاوه؟ ایا د اسلام په حالت کښې، لکه چې اقرار مو پرې دلالت کوي، او یا د کفر په حالت کښې، لکه چې د هجرت د نه کولو او د کافرانو د سَواد د غټولو څخه مو څرګندېږي.

لنډه دا چې ستاسو اسلام (انقیاد) خو قوي اسلام (انقیاد) نه دی چې د کافرانو په منځکښې اوسېدلی، د هغوی سَواد درباندې غټ شوی وه او بالآخره د هجرت فریضه مو د پښو لاندې کړې وه.

دوی به په جواب کښې وايي چې مونږ کمزوري وو، ایمان مو نه شو ښکاره کولی، په زور او اکراه سره کافرانو د ځانو سره بوتلو، خپل سَواد یې راباندې غټ کړ او په بدر کښې یې د مسلمانانو په مقابل کښې وجنګولو نو هیله ده چې زمونږ دا اعتذار منظور کړی شي او د کاملو مسلمانانو په قطار کښې ودرولی شو.

۲ـ مګر ملائک د دوی ذکر شوی اعتذار نه قبلوي او د اعتذار په رد کښې یې وايي چې: ایا د الله ﷻ ځمکه پراخه نه وه چې هجرت مو کړی وی او د کافرانو د تسلط څخه مو خپل ځانونه خلاص

---

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۳۹؛ زاد المسیر ج۲ ص۱۷۸
(۲) الدر المنثور ج۲ ص۶۴۶؛ صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وی نو په دې صورت کښې به نه هغوی د مسلمانانو په مقابل کښې په زور باندې جنګولي وی او نه به یې دربانديې خپله تولنه غټه کړې وه.

۳ـ نو ای مؤمنانو! دغه کسان چې د هجرت فریضه د پښو لاندې کوي او د هجرت توان لري، د دوی معذرت د الله ﷻ په نزد باندې قبول نه دی، نو د دوی استوګنځای دوزخ دی، کله چې د دوی روحونه قبض کړی شي نو برابر به دوزخ ته ورځي. هو! کوم کسان چې د الله ﷻ په نزد مستضعفین دي او معذرت یې قبول دی نو هغوی هغه نارینه او زنانه او ماشومان دي چې نه د هجرت کولو وسائل لري او نه د هجرت لاره پېژني، نو دوی دې اُمید وکړي چې الله ﷻ به ورته عفوه وکړي او معذرت به یې قبول کړي. او دا خکه چې الله ﷻ عفوه کوونکی او مغفرت کوونکی دی. که الله ﷻ عفوه کوونکی او مغفرت کوونکی نه وی نو د دوی معذرت به یې هم نه وی قبول کړی او بلکې ماشومان به یې هم د ملامتی لاندې راوستلي وی.

نو که بالفرض ذکر شوي حقیقي کمزوري او ناچاره خلک د خپلې ناچارۍ په تشخیص کښې غلط شي چې د هجرت توان لري او دوی په خپلو خانونو باندې د ناتوانانو ګومان وکړي، نو دوی ته هم د عفوې او مغفرت اُمید شته.

## توضیحات

۱ـ د خنکدن په وخت کښې د روح قبض کوونکې ملائکې د سرې سره څه خبرې کوي خو چارچاپېره خلک یې نه شي اورېدلی، البته دا هغه وخت دی چې د روح ورکوونکو علاقه د دنیاوالو سره وشلېږي او سترګې یې ترې رندې شي. په دې وخت کښې د کافر ایمان نه قبلېږي[۱].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د دغو خلکو (چې ملائکو ترې د خنکدن په وخت کښې توبیخًا پوښتنه کړې ده) څه ګناه وه؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو د دوی د ګناه په باره کښې متعدد اقوال لیکلي دي[۲]، چې دوی د اسلام څخه وروسته مرتد شوي وه او یا یې ورته په اسلام کښې شک واقع شوی وه، مګر لکه چې د شان نزول څخه معلومېږي مونږ ته دا خبره ښه برېښي چې د دوی ګناه صرف دا وه چې هجرت یې نه وه کړی او د کافرانو سَواد یې غټ کړی وه، او د همدې کبله د دوی د ښه تخجیل دپاره ملائکو جواب ورکړ چې: ﴿ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا ﴾ ایا د الله ځمکه پراخه نه وه چې هجرت مو کړی وی؟

---

(۱) التفسيرات الأحمدية ص۳۰۴

(۲) زاد المسير ج۲ ص۱۷۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض د دوی گناه "ارتداد" یا "په اسلام کښې شک" وی، نو بیا به یې ورته ضرور ویلي وي چې ایا تاسو د اسلام څخه بهرته نه وئ تاو شوي؟.

## د هجرت فرضیت باقي دی

۳_ که څوک وایي چې: ایا هر څوک چې د دار الکفر څخه هجرت ونه کړي هغوی تول په همدې پیمانه گناهکار دي؟

مونږ وایو چې: د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې د مکې معظمې هجرت فرض وه، مگر کله چې مکه معظمه فتحه شوه او د عربستان عمده مناطق د اسلامي حکومت د ولکې لاندې راغله نو هجرت هم ختم شو، د همدې کبله نبي کریم ﷺ د مکې معظمې د فتحې په ورځ وفرمایل چې: «لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»[1] د مکې معظمې د فتحې څخه وروسته هجرت نشته مگر جهاد او نیت باقي دي، او کله چې تاسو جهاد ته وغوښتل شئ نو لاړ شئ. یعنې: د مکې معظمې څخه هجرت پای ته ورسېده ځکه چې د مسلمانانو په قبضه کښې راغله.

اما اصل هجرت خو تر قیامته پورې باقي دی، او څوک چې د کافرانو د لاسه خپل دین په ښکاره توګه نه شي عملي کولی په هغه باندې په هره زمانه او په هر ځای کښې هجرت فرض دی، او که دغه فریضه پوره نه کړي نو په ښکدن کښې به د همغه سوال جواب سره مخامخ شي لکه چې په ایت شریف کښې واضحه شوې دی.

لنډه دا چې ترڅو په دنیا باندې جهاد باقي وي نو د هجرت فرضیت به هم باقي وي. د نبي کریم ﷺ څخه عبد الله بن السعدي پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! هجرت څه وخت قطعه کېږي؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ مَا قُوتِلَ الْكُفَّارُ»[2] یعنې: هجرت تر هغه نه قطعه کېږي چې ترڅو د کافرانو سره جهاد روان وي.

په دې باره کښې که څوک د ډېرو احادیثو لوستلو ته شوق لري نو ځینې مفسرینو کرام راغوندي کړي دي[3] هلته دې مراجعه وکړي.

## یادونه

۴_ افغانستان چې د کافرانو د تسلط لاندې راغلی او ځینو مسلمانانو هجرت ونه کړ او علاوه په دې د کوم جهادي مطلب د سر ته رسولو نیت یې هم نه درلود، نو هغوی تول د ذکر شوي ایت شریف د مصداقاتو لاندې راځي او په ښکدن کښې به د ملائکو د سوال جواب سره مخامخ شوي وي او یا به مخامخ شي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۳۳

(۲) سنن النسائي ج۲ ص۱۸۳

(۳) تفسیر القاسمي ج۵ ص۴۰۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ د هجرت د وعيد څخه ماشومان هم په هغو کسانو کښې ذکر کړه چې هغوی ته الله ﷻ عفوه کړې وه او د هجرت په نه کولو باندې يې ونه نيوه. نو پوښتنه دا ده چې د کلمه خو په هغه ځای کښې ښه ښکاري چې چا ته خطاب متوجه وي خو نيونه ورباندې رانه شي، او ماشومانو ته خو بالکل خطاب متوجه نه دی او مکلف نه دی؟

مونږ وايو چې:

الف: ځيني مفسرين کرام وايي چې دلته د ولدانو (ماشومانو) څخه مراهقين (بلوغ ته نږدې) ماشومان مطلب دي[۱]. مګر دا جواب کمزوری دی ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُوْنِ حَتّٰى يَعْقِلَ»[۲] يعني: د درې کسانو څخه قلم پورته کړی شوی دی (مکلف نه دی): د ويده څخه ترڅو چې ويښ شي او د ماشوم څخه ترڅو چې محتلم شي او د ليوني څخه ترڅو چې هوښيار شي.

ب: زمونږ په نظر، الله ﷻ د عفوه کړی شوو په ډله کښې ماشومان د دې دپاره ذکر کړه ـ والله ﷻ أعلم ـ ترڅو مسلمانان د هجرت په فرضيت باندې په اکيده طريقه باندې پوه کړي. ته به وايي: چې هجرت په ماشومانو باندې (چې لا مکلف نه دي) هم فرض دی خو الله ﷻ يې معذرت قبول کړ او د وعيد لاندې يې رانه وستل.

﴿وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾﴾

[۱۰۰] او هرڅوک چې د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړي نو په ځمکه کښې به ډېر اوسېدنځای او هم پراخي ومومي.

او هر څوک چې د خپله کوره الله ﷻ ته او د ده پيغمبر ﷺ ته هجرت کوونکی ووځي، بيا (هجرت ځای ته نارسېده) ورته مرګ ورسېږي نو د ده اجر په الله ﷻ باندې ثابت شو. او الله ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د هجرت د نه کولو څخه ترهيب (ډار) بيان شوی وه چې جزا يې دوزخ دی. په دې ايت کښې د هجرت کولو ترغيب بيانېږي چې هم به ورته الله ﷻ هجرت ځای مونده کړي

---

(۱) تفسير الكشاف ج۱ ص۵۵۶
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۴۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و هم به وربانديې پراخي ورولي او برسېره پر دې که په لاره کښې وفات شي نو پوره اجر به ورکړي، ته به وايې چې د هجرت خای ته رسېدلی دی.

## شان نزول

که څه هم مفسرینو کرامو په دې مقام کښې متعددې پېښې نقلې کړې دي چې د همدغو په سبب باندې ذکر شوی ايت شریف نازل شوی دی[1] خو مونږ د لاندې یوې پېښې په ذکر باندې اکتفاء کوو:

کله چې وړاندېني [۹۷_۹۹] ایتونه نازل شوه او په وعیداتو باندې یې هغه مسلمانان خبر شوه چې په مکه معظمه کښې اوسېدل او لا هجرت یې نه وه کړی، نو یوه صحابي ﷺ (چې حبیب بن ضمره نومېده او ډېر بوډا وه، مزل یې نه شو کولی) خپلو زامنو ته امر وکړ چې ماته د مدینې منورې په لور باندې حرکت راکړئ. زامنو یې د مدینې منورې په لور په اوږو باندې واخست، خو کله یې چې "تنعیم" نومي خای ته ورساوه هلته وفات شو، او الله ﷻ د نوموړي صحابي ﷺ په باره کښې ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او د قیامته پورې یې مسلمانانو ته زېری ورکړ[2].

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای مؤمنانو! په تاسو باندې خو د خپل اصلي وطن څخه جدا کېدل درانه تمامېږي او د دې خطره درسره وي چې د اوسېدلو بل خای به مونده کړو او که نه، مګر دا تشویش د زړونو څخه وباسئ ځکه چې ټوله ځمکه د الله ﷻ ده او د ټولو خلکو زړونه د الله ﷻ په اختیار کښې دي. نو کله چې تاسو د الله په لار کښې هجرت وکړئ، د اوسېداني دپاره به درته داسې خایونه درپه نصیب کړي چې ستاسو دښمنان به وربانديې په غُصه او د خجالت سره به مخامخ شي، او هم به الله ﷻ درته د هر حیثه پراخي په برخه کړي چې روزي به مو پراخه کړي، علم او پوهه به مو زیاته کړي او بالآخره نسل به مو ډېر کړي.

۲_ دا هله که تاسو خپل مهاجر خای ته ورسېدئ. که په لاره کښې ستاسو کوم یو وفات شي په داسې حال کښې چې د خپله کوره صرف د الله ﷻ د دین او د نبي کریم ﷺ د نصرت دپاره وتلی وي، نو هغه ته الله ﷻ د پوره أجرت وعده ورکوي او ټول اجر یې په خان باندې مني، ته به وايې چې په خپل ځان باندې یې واجب کړی دی. او دا ځکه چې الله ﷻ بښونکی دی د پخوانیو نیمګړتیاوو څخه ورتېرېږي او مهربان دی چې د ناتمامه هجرت اجر د کامل هجرت څخه نه کموي.

## توضیحات

۱_ د ﴿مُرَٰغَمًا﴾ کلمه د مفاعلې د باب څخه اسم ظرف ده او اصلا د "رَغَام" څخه اخستله شوې ده، "رَغَام" ډېرې نرمې خاورې ته وايي[3]، په عربي لغت کښې "رَغِمَ الْأَنْفُ" (په خاورو باندې د پوزې

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۴۳: زاد المسیر ج۲ ص۱۸۰
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۱۱۹
(۳) مفردات الراغب ص۲۰۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سپېره کول) د خجالت څخه د کنايې په توګه استعمالېږي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې:
په کوم وطن کښې چې د کافرانو غلبه شي نو مسلمانان د خپل دين ښکاره کولو ته نه پرېږدي او غواړي چې خجالت او شرمنده يې کړي. مګر بالمقابل مسلمانان د همدغه کفرستان څخه هجرت کوي او غواړي چې کافران خجالت او شرمنده کړي؛ نو الله ﷻ مؤمنانو ته وعده ورکوي چې په همدغه کشمکش کښې به تاسو په کافرانو باندې برلاسي کړم، تاسو ته به د اوسېدانې ډېر ځايونه در مونده کړم، د خلکو زړونه به درباندې مائل کړم، د هر څه پراخي به درباندې پېرزو کړم، بالآخره د ناتمامه هجرت أجر به پوره درکړم، لنډه دا چې تاسو به په خپل دښمن باندې په مراغمه (شرمنده کولو) کښې په دنيا او آخرت کښې برلاسي کړم.

## د الله ﷻ وعدې رښتيا دي

۲ـ الله ﷻ د مهاجرينو سره په لاندې دوه ډولونو وعدې کړې دي:
الف: ځينې په آخرت پورې اړه لري چې د مرګ څخه وروسته تحقق پيدا کوي چې په ذکر شوي ايت شريف کښې ترې په ﴿ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ سره تعبير کړى شوى دى.
ب: ځينې نورې په دنياوي ژوند پورې اړه لري چې د هرې زمانې مهاجرينو ته په خپلو خپلو زمانو کښې پوره ورکړى شوې دي.
مونږ په دې مقام کښې د صحابه کرامو ﷺ د زمانې او زمونږ د خپلې زمانې د وعدو د پوره کولو څو څو مثالونه محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو.

## د صحابه کرامو ﷺ د هجرت د وعدو مثالونه

۳ـ د صحابه وو کرامو سره د هجرت د وعدو مثالونه لاندې ولولئ:
الف: خباب بن الارت ﷺ وايي چې: مونږ خو د نبي کريم ﷺ په ملګرتيا د الله ﷻ په لار کښې هجرت وکړ، زمونږ ځينې ملګري وفات شوه او د خپل اجر څخه يې په دنيا کښې هيڅ شی ونه خوړ، او ځينو ملګرو ته مو د هجرت مېوه په دنيا کښې هم پخه شوه چې دوی لګيا دي راغونډوي يې.
مُصعب بن عُمير ﷺ د اولنئ ډلې څخه دی، کله چې نوموړی د أحد په غزا کښې شهيد شو نو مونږ د نوموړي د تکفين دپاره د يوه څادر څخه په غير بل شی مونده نه کړ، که سر به مو ورپټاوه پښې به يې ښکارېدې او که پښې به مو ورپټولې سر يې بربنډ پاتې کېده، نو نبي کريم ﷺ راته امر وکړ «أَنْ نُغَطِّيَ رَأْسَهُ وَأَنْ نَجْعَلَ عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الْإِذْخِرِ»[1] چې سر يې ورپټ کړو او په پښو باندې ورته څه د سرګړي بوټی واچوو.
ب: محمد بن سيرين علیه الرحمه وايي يو ځلې مونږ د ابو هريره ﷺ ترڅنګ ناست وو، چې د کتان نښې دوه جامې يې اغوستې وې، په خپله يوه جامه کښې يې پوزه سوڼ کړه او بيا يې وويلې چې:

---
(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

«بَخٍ بَخٍ أَبُو هُرَيْرَةَ يَتَمَخَّطُ فِي الْكَتَّانِ» يعني: واه واه! ابو هريره لا اوس په کتان کښې پوزه سوڼ کوي. په ما باندې داسې وخت هم تېر شوی چې د نبي کريم ﷺ د ممبر او د بي بي عائشې رضي الله عنها د کور په منځکښې به بې هوښه پروت وم، راتلونکی به راته او زما په څټ باندې به يې پل اېښوده او ګومان به يې کاوه چې دا لېونی دی حال دا چې زه به لېونی نه وم «وَمَا هُوَ إِلَّا الْجُوعُ»[1] يعني: بې هوشي به مې د بل شي د کبله نه وه فقط د لوږې د کبله.

ج: الله ﷻ صحابه کرام ﷺ د مستقل او خپلواک حکومت خاوندان جوړ کړه چې ټول عربستان يې د تسلط لاندې ورغی او په پوره ازادۍ سره يې الهي احکام په ځمکه باندې پياده کړه او د کفر او بوت پرستۍ جرړې يې وويستلې، حتی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ»[2] يقينًا شيطان د دې خبرې څخه نا اُميده شوی دی چې لمونځ کوونکي به يې عبادت وکړي (چې بيا به بوت پرستي رواج شي) مګر شيطان د دوی په منځکښې د جنګ اچولو کوښښ کوي.

د: دوهم خليفه (عمر الفاروق ﷺ) د علي ﷺ په مشوره او د نورو صحابه وو کرامو ﷺ په اتفاق د اسلامي تاريخ مبدا د هجرت پيل وټاکه[3].

که څه هم ممکنه وه چې يا يې د نبي کريم ﷺ ميلاد او يا بعثت ټاکلی وی خو دوی په دغو دواړو باندې هجرت ته د لومړيتوب حق ورکړ، ځکه چې هجرت د ډېرو پرمختګونو او ترقيو سبب ګرځېدلی وه.

## د افغان مهاجرينو د وعدو مثالونه

۴_ مونږ افغانانو ته هم الله ﷻ هجرت د ډېرو ګټو او فائدو سبب جوړ کړ، لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: د محاربو دولتونو څخه په غير نور ټول اسلامي او کفري دولتونه يې زمونږ دپاره استوګنځايونه وګرځول.

ب: بني اسرائيلو ته خو الله ﷻ اسماني راشن (من او سلوی) مقرر کړی وه مګر مونږ ته يې زمينې راشن ټاکلی وه، د هغوی راشن همدغه دوه نوعې درلودې (من او سلوی) اما زمونږ په راشن کښې غنم، وريجې، غوړي، کجورې او نور خوراکي شيان موجود وه. برسېره پر دې، لباسونه، خيمې او تجيرونه هم پکښې کله-کله مونډل کېده.

ج: په ټوله دنيا کښې سر لوړي شوو او په هر دولت کښې مو عزت او احترام موجود وه، مګر دا بېله خبره ده چې د اوسنۍ بې اتفاقۍ د کبله مو احترام مخ په سقوط دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۶۱؛ صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۸۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵
(۳) تاريخ الطبري ج۲ ص۱۱۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و. د قرآن کریم د حافظانو شمېر زرونو ته ورسېږي ، تر دې چې زیات شمېر زنانه وو هم حفظ وکړي.
ه. د دیني طالبانو او د مدارسو د فارغانو خو څه اندازه نشته، د مهاجرو د مدرسو څخه علاوه د انصارو مدرسې هم زمونږ په طالبانو باندې ډکې دي.
و. په پښتو او دري او بلکې په نورو ژبو باندې زښت ډېر آثار او کتابونه یا ولیکل شوه او یا وژباړل شوه. په دې برخه کښې د مولوي احمد جان زاهدي احمدزي صیب نوم د یادولو وړ دی چې په دې کار کښې یې لویه ونډه اخستې ده. الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي.
ز. د حرفو او کسبونو سره اشنا شوو.
ح. د هر ډول (سپکې او درنې) وسلې په کارولو باندې پوه شوو.
ط. اکثریت مو په خپل مال باندې غنیان شوه، تر دې چې ځینو کونډو او یتیمانو او نورو خلکو ته د خیریه مؤسسو او تبرعي خلکو څخه میاشتنۍ معاشات وټاکلی شي.
ي. بالآخره که مونږ پنځلس لکه شهیدان ورکړه نو بالمقابل مو الله ﷻ اولاده زیاته کړه او ماشومان ډېر شوه. أمید دی چې د شهیدانو تشه به ډکه کړي.

## زمونږ امید

۵ـ څرنګه چې الله ﷻ مونږ ته په خپل فضل سره دنیاوي وعدې راپوره کړې نو مونږ أمید لرو چې أخروي وعدې به هم راپېرزو کړي او په جنتونو کښې به مو په خپل دیدار باندې سرلوري کړي او د ګناهونو څخه به راتېر شي. آمین یا رب العالمین.

﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَائِكُمْ وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَوٰةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ﴿١٠٣﴾ وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾

[۱۰۱] او کله چې تاسو په ځمکه کښې سفر وکړئ (هر ډول سفر چې وي) نو په تاسو باندې څه ګناه نشته چې خپل لمونځ (د کمیت یا کیفیت په اعتبار سره) قصر کړئ. (نو که تاسو ډارېدلئ چې هغه کسان به مو په فتنه کښې واچوي چې کافر وي. یقیناً کافران ستاسو دپاره ښکاره دښمنان دي.

[۱۰۲] او (یا) کله چې ته پخپله (ای پیغمبره!) په مجاهدینو کښې (حاضر) یې، نو غوارې چې دوی ته لمونځ ودروې نو (مجاهدین په دوه ګروپونو باندې تقسیم کړه) نو د دوی یو ګروپ دې ستا سره په لمانځه باندې ودرېږي او دوی ټول دې وسله واخلي. نو کله چې دغه ګروپ (ستا سره) یوه سجده (رکعت وکړه) نو دوی دې ستاسو شاته (د دښمن خوا ته) شي او هغه بل ګروپ دې راشي چې لمونځ یې نه دی کړی نو ستا سره دې لمونځ وکړي او (ټول مجاهدین دې) خپل حفاظت او خپله وسله د ځانو سره واخلي.

(ځکه چې) هغه کسان آرزو کوي چې کافر دي (د دې خبرې چې) کاشکې تاسو د خپلو وسلو او سامانونو څخه غافل شئ نو چې حمله درباندې وکړي، یوه حمله (چې بېخ او بنیاد مو وباسي).

او په تاسو باندې (په دې کښې) څه ګناه نشته که چېرې په تاسو پورې څه اذیت وه چې د باران څخه عبارت دی او یا تاسو مریضان یاست چې خپله وسله کېږدئ او خپل (د حفاظت سامان) درسره واخلئ. یقیناً الله ﷻ کافرانو ته سپکوونکی عذاب تیار کړی دی.

[۱۰۳] نو کله چې تاسو لمونځ اداء کړئ (بیا هم د الله ﷻ څخه مه غافل کېږئ) نو الله ﷻ په هر حالت کښې یاد کړئ چې ولاړ یاست او چې ناست یاست او چې په اړخو باندې پراته یاست.

نو کله چې تاسو مطمئن (ډاډه شوئ او ډار مو د منځه لاړ) نو خپل لمونځ ودروئ (د ټولو مشروعو کیفیاتو خیال یې وساتئ). بې شکه لمونځ په مؤمنانو باندې (فرض کړی شوی دی) وخت په وخت فرض کول.

[۱۰۴] او د کافر قوم په لټونه کښې (د جنګ دپاره) سستي مه کوئ (ځکه چې) که تاسو ته درد رسېږي نو یقیناً هغوی هم درد رسېږي لکه چې تاسو درېږئ ((هغوی هم د غوښې څخه جوړ دي) او تاسو د الله ﷻ څخه د هغه څه اُمید لرئ چې هغوی یې نه لري. او الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط

څرنګه چې په وړاندې ایتونو کښې د جهاد او هجرت احکام بیان شوي دي او ښکاره ده چې د جهاد سره په اکثرو وختونو کښې ډار او خوف ملګری وي او د هجرت ... مسافرت بالکل لازم

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي دي، نو په دغو ايتونو کښې الله ﷻ د خوف او سفر په لمونځونو باندې توصيه وکړه چې د سهولت دپاره په کيفي او کمي قصر باندې عمل وکړئ.

## د مطلب خلاصه

١ـ يعنې: اى مؤمنانو! کله چې تاسو په ځمکه کښې سفر کوئ چې يا جهاد ته روان ياست، يا هجرت ته مجبور کړى شوي ياست او بالآخره يا د خپل دنياوي يا اُخروي کارونو د سر ته رسولو دپاره مسافران جوړ شئ، نو تاسو ته په دې کښې څه ګناه نشته چې د لمانځه په کميت کښې او يا په کيفيت کښې څه لنډون واقع کړئ. دا کار په اول کښې په تاسو باندې دروند تمامېږي مګر تشويش مه کوئ او په کامل اطمنان سره پکښې قصور واقع کړئ.

د لمانځه په کميت يا کيفيت کښې قصور واقع کول تاسو ته ځکه جائز ګرځولى شوى دى چې کافران مو په فتنه کښې وانچوي. تاسو به په لمانځه باندې په اصلي کيفيت او کميت سره مشغول ياست او هغوى به د فرصت څخه په استفادې سره درباندې مرګونى بريد وکړي. ځکه چې کافران ستاسو ښکاره دښمنان دي، که لاس يې بر شي نو هيڅ صرفه به درباندې ونه کړي.

د لمانځه د کميت قصور خو څرګند دى چې هر څلور رکعتي لمونځ دوه رکعتونو ته راښکته کړئ، البته چې دغه تخفيف يوازې په درې لمونځونو (ماسپښين، مازيګر، ماسخوتن) کښې تحقق مومي او بس.

٢ـ اى پيغمبره! څرنګه چې د کيفيت قصور د لمانځه د اصلي کيفيت سره ډېر منافات لري نو د دې احتمال ډېر دى چې مؤمنان پکښې د تشويش سره مخامخ شي، نو ته پخپله دوى ته همدغه لمونځ ورکړه چې د يو پلوه دوى مطمئن شي او د بله پلوه يې درڅخه زده کړي، که ته د دوى په ډلې کښې موجوديت ونه لرې هم د سهولت څخه به استفاده وکړى شي.

نو کله چې ته د مؤمنانو په ډله کښې موجوديت لرې او ذکر شوى د ډار حالت درباندې درغى نو مؤمنان په دوه ډلو باندې تقسيم کړه؛ چې يوه ډله وسله په لاس د دښمن مخې ته ودرېږي او بله ډله د خفيفې وسلې سره ستا سره د لمانځه يو رکعت وکړي. نو بيا دې د همدغه د يو رکعت خاونده ډله د هغې بلې ډلې په ځاى ودرېږي او د څارنې دپاره دې پوره وسله واخلي. او بله ډله دې راشي چې تر اوسه يې يو رکعت لمونځ هم نه دى کړى ستا سره دې يو رکعت لمونځ وکړي.

په دغه موقع کښې ستا لمونځ پوره شو، نو ته سلام وګرځوه، درسره مجاهدين دې د لمړنۍ ډلې په ځاى دوهم ځل دڅارنې دپاره ودرېږي ترڅو هغوى راشي او پاتې يو رکعت هم وکړي او سلام وګرځوي، او بيا لاړ شئ د بلې ډلې په ځاى باندې ودرېږئ ترڅو هغوى هم راشي، دوهم رکعت وکړي او خپل لمونځونه تمام کړي.

٣ـ د ډار په وخت کښې ځکه تاسو ته په لمانځه کښې تخفيف جائز کړى شو ترڅو تاسو د يو پلوه د جمعې د لمانځه څخه بې برخې نه شئ او د بله پلوه خپله وسله او خپل سامانونه وساتلى شئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که نه نو کافران خو دې ته خوشالېږي چې ستاسو د غفلت څخه استفاده وکړي او په قوي حملې سره درڅخه وسله او سامانونه ونیسي.

۴ـ نو ای مؤمنانو! تاسو ته په کار دي چې د جهادي وسائلو حفاظت وکړئ او د تل دپاره د کافرانو په مقابل کښې لمړی درجه احضارات ونیسئ.

هو! په دې کښې درباندې ګناه نشته چې د کوم اذیت د کبله، لکه باران او یا د دې کبله چې مریضان یاست، خپله وسله کېږدئ، خو د دې سره-سره ترې غافل کېږئ مه او د ځارنې لاندې يې په همدې حالت کښې هم ولرئ. او دا ځکه چې کافران ستاسو دپاره په دوامداره توګه د فرصت په انتظار دی چې د مرګوني برید لاندې مو راولي او سپک مو کړي، نو ځکه ورته الله ﷻ سپک کوونکی عذاب تیار کړی.

۵ـ کله چې تاسو په ذکر شوي کیفیت سره لمونځ اداء کړ نو بیا هم د الله ﷻ د یادو څخه مه غافله کېږئ او په هر حالت باندې الله ﷻ یادوئ، که ولاړ یاست، که ناست یاست او بالآخره یا ملاست یاست، ترڅو مو زړونه ارام ونیسي، او د جنګ په حال کښې قلبي ارام د بل هر شي څخه مفید او ګټور دی.

۶ـ ای مؤمنانو! ستاسو دپاره صلاة الخوف د ضرورت په بنا تجویز شوی دی، نو کله مو چې ضرورت رفعه شو او د ډار حالت د منځه لاړ نو بیا خپل لمونځونه د ټولو حقوقو سره په پښو باندې ودروئ. ځکه چې لمونځونه تاسو د بدو کارونو څخه منعه کوي او د ایمان رڼا درباندې اضافه کېږي، د همدې کبله په مؤمنانو باندې لمونځونه وخت په وخت فرض کړی شوي دي ترڅو تقریباً په ټولو حالاتو باندې اشتمال ولري.

۷ـ ای مؤمنانو! تاسو ته هیڅ مناسب نه دي چې د کافرانو سره په جنګ کښې سستي او تنبلي وکړئ، حال دا چې ستاسو سره په جنګ کښې کافران هیڅ صرفه نه کوي، سره د دې چې تاسو دواړه جانبه انسانان یاست یو جانب هم د اوسپنې څخه نه یاست جوړ شوي، په کوم شي باندې چې یو جانب دردېږي په هغه باندې بل جانب هم بې دردہ نه پاتې کېږي.

مګر ای مؤمنانو! څرنګه چې تاسو د الله ﷻ څخه اُمیدونه لرئ او هغوی اُمیدونه نه لري، صرف د دنیا دپاره جنګېږي، نو په کار دي چې تاسو د هغوی څخه په جنګ کښې کلک او با ثُباته اوسئ. الله ﷻ پوه دی ستاسو دواړو جانبو کیفیت ورته ښه معلوم دی او هم الله ﷻ د حکمت خاوند دی په تاسو باندې يې د حکمت په بنیاد جهاد فرض کړی دی نه د عبث په توګه.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ ضَرَبۡتُمۡ ﴾ کلمه د "ضَرۡب" څخه اخستله شوې ده، "ضَرۡب" وهلو ته وایي، هغه څوک چې مزل کوي نو ځمکه په پښو باندې وهي. څرنګه چې په دې مقام کښې د ﴿ ضَرَبۡتُمۡ ﴾ سره د "فِي سَبِيلِ اللَّهِ" تکی نه دی نازل شوی نو ځکه په ځمکه باندې ټولو سفرونو ته شاملېږي، برابره خبره ده چې دیني

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سفرونه وي او که دنیاوي. د همدې کبله ځینو مفسرینو کرامو[١] د سفرونو ډولونه تقریباً دولسو ته رسولي دي، نو که څوک یې د لوستلو شوق لري هلته دې مراجعه وکړي.

## قَصر څه ته وايي؟

۲_ د ﴿ أَن تَقْصُرُواْ ﴾ کلمه د "قَصْرَ" څخه اشتقاق شوې ده او "قَصْرَ" لنډون ته وايي، چې په مقابل کښې یې "طُول" (اوږدوالی) استعمالیږي[٢]، په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د لمانځه قصر په دوه معناوو باندې تفسیر کړی دی چې یو قَصر د کمیت په اعتبار سره دی او بل قصر د کیفیت په لحاظ سره، مونږ غواړو چې د دواړو ډولونو څه شرحه محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو.

## قصر د کمیت په اعتبار سره

۳_ جمهور مفسرین کرام وايي چې: دلته د کمیت په اعتبار سره د لمانځه قصر مراد دی. یعنې په اول ایت کښې د مسافر لمونځ مطلب دی، چې د څلور رکعتیز لمانځه کمیت به د څلورو څخه دوه وو ته را قصر کړي. او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ ته د تجارانو یوه ډله ورغله او پوښتنه یې تړې وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نَضْرِبُ فِي الْأَرْضِ فَكَيْفَ نُصَلِّي» ای د الله ﷺ پیغمبره! مونږ په ځمکه کښې سفرونه کوو، نو لمونځ څرنګه وکړو؟ نو ذکر شوی ایت شریف د ﴿ أَن تَقْصُرُواْ ﴾ پورې نازل شو[٣].

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د مسافر دپاره خو د لمانځه قصر د خوف (ډار) پورې مشروط نه دی حال دا چې د ایت شریف دا ټکړه ﴿ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ ﴾ خو د قصر په مشروطیت باندې دلالت کوي، نو معلومه شوه چې دلته د کمیت قصر مطلب نه دی؟

مونږ وایو چې:

الف: د ایت شریف ذکره شوې ټکړه د ما بعد (صلاة الخوف) مشروطیت لازموي نه د صلاة السفر. ځکه چې د ذکرې شوې ټکړې د نزول څخه یو کال وروسته صحابه کرامو ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه د صلاة الخوف په باره کښې پوښتنه وکړه نو د ﴿ إِنْ خِفْتُمْ ﴾ څخه آن تر ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴾ پورې نازل شو[٤] او صلاة الخوف یې تشریح کړ.

په دې تقدیر به ﴿ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ ﴾ معطوف علیه شي او ﴿ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ به ورباندې معطوف شي، او د دواړو شرطونو دپاره به ﴿ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم ﴾ الآية جزا واقع شي. او ﴿ إِنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴾ به معترضه جمله جوړ شي.

---

(١) تفسیر القرطبي ج٥ ص ٣٥٠
(٢) مفردات الراغب ج ٤٢٠
(٣) تفسیر الطبري ج٤ ص٢٤٤
(٤) تفسیر البغوي ج١ ص٤٧٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که بالفرض ومنو چې ذکره شوې تکره په نزول کښې وروسته نه ده، نو بیا دا جواب کوو چې د احنافو رحمهم الله په نزد خو د شرط نشتوالی د مشروط په نشتوالي باندې دلالت نه کوي، بلکې مشروط په سکوت کښې پرېږدي. نو دلته یې حاصل داسې کېږي چې: د خوف په حالت کښې د مسافر لمونځ په ایت شریف کښې شرحه شو چې باید قصر شي، اما د امن حالت په سکوت کښې پاتې دی چې قصر شي او که نه، مګر په احادیثو کښې شرحه شوی دی چې باید د امن په حالت کښې هم قصر شي. نو په دې تقدیر د مسافر د لمونځ قصر نیمایي په ایت باندې ثابت شوی دی او پاتې نیمایي په احادیثو باندې ثبوت ته رسېدلی دی. یعني د امن په حالت کښې.

د شوافعو رحمهم الله په نزد خو د مسافر د لمانځه قصر کول دواړه خواوې په ایت ثابتې دي، ځکه چې دوی وایي: په دې مقام کښې د ﴿ إِنْ خِفْتُمْ ﴾ شرط د مشروط په نشتوالي دلالت نه کوي که څه هم په نورو ځایونو کښې یې کوي، ځکه چې دغه شرط د احتراز دپاره نه بلکې د عادت د کبله ذکر شوی دی. یعني په هغې زمانه کښې عادت دا وه چې په سفرونو کښې به د کافرانو د پلوه د مؤمنانو دپاره خوف موجود وه.

د دې دول شرط نظیر دا دی چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَلَا تُكْرِهُوا۟ فَتَيَٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا ﴾ [النور:۳۳] یعني: تاسو خپلې وینځې په زناکارۍ باندې مه مجبوروئ که دوی د پاک لمنۍ اراده درلوده. دلته خو دا مطلب نه دی چې که وینځو د پاک لمنۍ اراده نه درلوده نو بیا یې په زنا باندې د مجبورولو څه باک نشته، مګر په هغه وخت کښې عادت دا وه چې هغوی به په پاک لمنو وینځو باندې په زور سره زناکاري کوله چې پیسې ورباندې واخلي.

## یادونه

۵ـ که څه هم مونږ د سفر په باره کښې د [البقرة:۱۸۴] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي، چې باید یو ځل وکتل شي، مګر په دې مقام کښې دومره ورزیاته وو چې د احنافو علیهم الرحمة په نزد قصر کول واجب دي او د نورو مذاهبو خاوندان یې ځینې افضل ګڼي، ځینې یې سنت بولي او بالآخره ځینو ته قصر او اتمام دواړه یو برابر ښکاري[۱].

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: دلته خو د قصر په باره کښې د ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ﴾ کلمه نازله شوې ده، یعني ګناه پکښې نشته، نو دا خو د حنفي مذهب سره منافي ښکاري؟

مونږ وایو چې: کله-کله د وجوب څخه هم په عدم جناح سره تعبیر کېږي، لکه چې د [البقرة:۱۵۸] ایت لاندې د صفا او مروه د سعي په هکله یې بیان تېر شوی دی. د نور تحقیق دپاره دې د فقهي کتابونو[۲] ته مراجعه وکړی شي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۵ ص۴۱۸؛ تفسیر المدارک ج۱ ص۲۴۲؛ تفسیر کبیر ج۱۱ ص۱۸

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۵۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## قصر د کیفیت په اعتبار سره

۷ـ ځینې مفسرین کرام وایي چې: ذکر شوي دواړه ایتونه د صلاة الخوف په باره کښې نازل شوي دي او د قصر څخه کیفي قصر مطلب دي چې په اولني ایت کښې مبهم دی او په دوهم ایت کښې تفسیر شوی دی او د مسافر لمونځ په دې مقام کښې هیڅ مطرح نه دی، بلکې د مسافر دپاره د لمانځه قصر کول په احادیثو ثابت دی چې ټول اُمت ورباندې اجماع کړې ده[1]، د همدې کبله امام البخاري علیه الرحمة د صلاة الخوف د عنوان لاندې ذکر شوي دواړه ایتونه لیکلي دي[2]، او کیفي قصر ته یې اشاره کړې ده.

## یادونه

۸ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې د ﴿ٱلصَّلَوٰةَ﴾ کلمه څلور ځله ذکره شوې ده، چې په دوهم او دریم ځای کښې خو یقیناً صلاة الخوف مراد دی او په څلورم کښې هم صلاة السفر مرادول مزه ناک نه دي ځکه که بالفرض دلته صلاة السفر مراد وی نو د ﴿ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ﴾ په عوض به "إِذَا أَقَمْتُمْ" او د ﴿فَأَقِيمُوا﴾ په عوض به "فَأَتِمُّوا" نازل شوی وی، یعنې: کله چې تاسو د سفر څخه مقیم شوئ نو لمونځ تمام کړئ. نو معلومه شوه چې لپه اول ځای کښې هم صلاة الخوف مطلب دی او صلاة السفر مطلب نه دی.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وایي چې: که د قصر څخه کیفي قصر مراد شي نو لازمه به شي چې صلاة الخوف په سفر پورې خانګړی شي، لکه چې ﴿وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ ورباندې دلالت کوي، حال دا چې په دې خو هیچا قول نه دی کړی؟

مونږ وایو چې: د دغه شرط نشتوالی د احنافو علیهم الرحمة په نزد د مشروط په نشتوالي باندې دلالت نه کوي او د شوافعو علیهم الرحمة په نزد دا شرط عادي شرط دی مخالف مفهوم ترې نه څرګندیږي، لکه چې لږ وړاندې د کمي قصر په شرحه کښې تېر شوه.

## تبصره

۱۰ـ که څه هم د احنافو علیهم الرحمة څخه ځینو علماوو کرامو همدغه دوهم تفسیر غوره کړی دی[3]، مګر مونږ ته داسې بریښي چې دواړه تفسیرونه سره یو تر بله څه منافات نه لري، چې د ﴿أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ﴾ څخه ما یطلق علیه القصر واختـل شي، برابره خبره ده چې د کم په اعتبار سره وي او که د کیف. څکه چې د ایتونو سوق لکه څنګه چې د جهاد په باره کښې راروان دی همدارنګه د سفر

---

(۱) اضواء البیان ج۱ ص۳۰۲، التفسیرات الأحمدیة ص۳۰۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۲۸
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۵۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حالت یې هم د نظره نه دی غورزولی او د هجرت بیان یې هم کړی دی. علاوه په دې په اکثرو وختونو کښې د ډار حالت په مسافرانو باندې د هر پېښېږي، نو که خوف او سفر دواړه سره په یو وخت کښې تحقق ومومي نو بیا خو هیڅ خبره نشته.

لنډه دا چې که قصر الصلاة عام واخستل شي نو د ایت شریف فائده به عامه شي او په ﴿ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ﴾ کښې به د یوې نوعې (کیفي قصر) په اعتبار سره ورته اطمنان او اقامت دواړه منسوب شوي وي، او دا کار په عربیت کښې څه نا اشنا کار نه دی، لکه چې سړی وایي: "الْحَيَوَانُ نَاطِقٌ" حیوان خبرې کوونکی دی. یعنې: انسان خبرې کوونکی دی.

## د صلاة الخوف صورتونه

۱۱ـ څرنګه چې صلات الخوف د ضرورت په بنا جائز ګرځولی شوی دی او ضرورت د حالاتو په اعتبار سره مختلف کېږي، نو طبعي ده چې د صلات الخوف صورتونه هم مختلف شي چې مونږ یې په لاندې عمده ګروپونو باندې ویشو:

الف: کله د جنګ حالت وي چې بالفعل مجاهدین په وهلو او ټکولو باندې بوخت وي. په دې حالت کښې د احنافو علیهم الرحمة په نزد لمونځ نه اداء کېږي بلکې بل وخت ته باید پرېښودلی شي. دغه لمانځه ته صلاة المسایفه وایي.

ب: کله د جنګ حالت وي خو بالفعل په جنګ باندې پیل نه وي شوی مګر دومره فرصت هم نه وي چې مجاهدین په دوه ګروپونو باندې ووېشلی شي ترڅو دوی په نوبت سره په لمانځه مشغول شي او څینې نور د دښمن په مقابل کښې ودرېږي، نو په دغه حالت کښې باید لمونځ په اشاره اداء کړی شي. ذکر شوي دواړه صورتونه د [البقرة:۲۳۹] لاندې بیان شوي دي، والحمد لله ﷻ.

ج: کله د جنګ حالت وي خو د مجاهدینو په دوه ګروپونو باندې وېشل ممکن وي، چې همدغه دریم صورت ته په ذکر شوي ایت کښې اشاره شوې ده.

## د صلاة الخوف کیفیتونه

۱۲ـ څرنګه چې نبي کریم ﷺ په متعددو غزاګانو کښې د خوف لمونځ اداء کړی دی چې نومونه یې دا دي:

۱ـ د ذات الرقاع غزا، ۲ـ د عسفان غزا، ۳ـ د نجد غزا، ۴ـ د بطن نخلې غزا، ۵ـ د ذي قرد غزا[۱].

او څینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې په لسو ځایونو کښې یې ذکر شوی لمونځ اداء کړی دی[۲]، نو د همدې کبله پکښې ګڼ شمېر کیفیات روایت شوي دي، حتی چې څینې علماوو کرامو

(۱) البحر المحیط ج۳ ص۵۰

(۲) تفسیر القرطبي ج۵ ص۳۶۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



آن څلېرشتو کیفیتونو ته رسولي دي چې په څینو تفاسیرو کښې یوازې یوولس کیفیتونه(۱) او په څینو کښې یوازې شپږ کیفتونه شرحه شوي دي او همدغه شپږ کیفیتونه یې اصول ګڼلي دي(۲)، که څوک غواړي چې په تفصیل باندې یې ولولي نو هملته دې مراجعه وکړي.

مونږ دلته فقط هـدومره لیکو چې د صلاة الخوف کوم کیفیت چې مونږ د مطلب په خلاصه کښې ذکر کړی دی همدغه د أبو حنیفه علیه الرحمة مذهب دی. او د ایت شریف څخه بې تکلفه په ډېره ښه وجه باندې څرګندېږي، او د أحنافو په فقهي کتابونو کښې خاې په خاې ذکر شوی دی(۳)، د همدې کبله یې نورې شرحې ته څه اړتیا نه ګورو.

## صلاة الخوف په کابل کښې

۱۳ـ که څه هم څینې علماء کرام د ﴿ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ ﴾ څخه معلوموي چې صلاة الخوف د نبي کریم ﷺ د موجودیت پورې خاص دی. دوی د "فِيهِمْ" ضمیر ټولو مسلمانانو ته راجع کوي حال دا دی چې دغه ضمیر خو همغې ډلې مجاهدینو ته راجع دی چې ذکر شوی دار ورته متوجه وي مګر دا دول تحلیل درست نه دی. خکه چې:

الف: د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د امت دیني مشران د ده نائبان دي د همدې کبله دوی د مسلمانانو څخه د زکات په راغونډولو مکلف دي که څه هم د زکات د غونډولو امر نبي کریم ﷺ ته شوی دی، چې: ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً ﴾ [التوبة:۱۰۳] یعني: (ای پیغمبره!) د مسلمانانو د مالونو څخه زکات واخله. نو خکه د صلاة الخوف مشروعیت په قرآن کریم کښې نازل شو ترڅو د قیامته پورې ټول أمت ترې استفاده وکړي، که بالفرض د نبي کریم ﷺ د خواصو څخه وی نو بیا به یې مشروعت په قرآن کریم کښې نه وی نازل شوی، لکه څنګه چې د صوم الوصال مشروعیت په قرآن کریم کښې نه دی نازل شوی.

"صَوْمُ الْوِصَالِ" هغه روژې ته وایي چې یوه روژه د بلې روژې سره وصل کړی شي او په منځکښې یې نه ماښامی وکړی شي او نه چرګ بانګی، بلکې په یو چرګ بانګي باندې آن د دوهمې ورځې د ماښامه پورې روژه ونیسي. دا دول روژه د نبي کریم ﷺ د خواصو څخه وه او خپل أمت یې ترې منعه کړی دی(۴).

ب: د نبي کریم ﷺ وفات څخه وروسته صحابه وو کرامو هم صلاة الخوف اداء کړی دی. د وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولی:

---

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۴۹

(۲) تفسیر المنار ج۵ ص۳۷۵

(۳) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۵۷؛ بدائع الصنائع ج۱ ص۲۴۳

(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۲۶۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: عبد الرحمن بن سمره رضی الله عنه د مجاهدینو سره په کابل کښې صلاة الخوف اداء کړې دی[۱].
نوموړی صحابي رضی الله عنه په یو دېرش (۳۱) هجري کال کښې کابل فتحه کړ (چې اوسېدونکي یې بوت پرستان وه) او هلته یې داسې یو بوت هم مېده مېده کړ چې مجسمه یې د سرو زرو او سترګې یې د یاقوتو څخه جوړې وې[۲].

نوموړی صحابي رضی الله عنه د فتحې څخه وروسته ببرته ستون شو او تقریباً په پنځوس (۵۰) هجري کال په بصره کښې وفات او هملته دفن شو[۳]، نو دا خبره غلطه مشهوره ده چې نوموړی صحابي د کابل ښار په منځکښې د پاخه سړک په غاړه باندې دفن شوی دی، چې اوس په خلکو کښې په "شاه دو شمشېره" باندې شهرت لري.

دوهم: سعید بن العاص رضی الله عنه د طبرستان په غزا کښې د خپلو ملګرو مجاهدینو څخه پوښتنه وکړه چې په تاسو کښې د نبي کریم ﷺ سره کوم یوه صلاة الخوف اداء کړې دی؟ حذیفه رضی الله عنه جواب ورکړ چې ما اداء کړې دی. نو حذیفه وړاندې شو او مجاهدین یې په دوه ټولګیو ووېشل او صلاة الخوف یې اداء کړ[۴]، او هیچا ورباندې اعتراض ونه کړ.

درېم: په ذکر شوي ایت شریف کښې نبي کریم ﷺ د دې دپاره نه دی مخاطب کړی شوی چې صلاة الخوف په همده ﷺ پورې خانګړې وګرځي، بلکې د دې کبله چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې نبي کریم ﷺ د جنګ په میدان کښې حاضر وه. ابو عیاش رضی الله عنه وایي چې مونږ د عسفان په غزا باندې مشغول وو او په مقابل کښې مو د مشرکانو لښکر وه چې قومندان یې خالد وه (تر هغه وخت پورې د "رضي الله عنه" لائق نه وه جوړ شوی)، مونږ ته نبي کریم ﷺ د مازپښین لمونځ راکړ، نو مشرکانو ارمان وکړ چې کاشکې د لمانځه په حالت کښې مو پرې حمله کړې وې. بیا یې فیصله وکړه چې د مازدیګر په لمانځه کښې به پرې حمله کوو، دغه لمونځ دوی ته ډېر ګران دی.
نو جبرائیل امین ذکر شوي ایتونه رانښکته کړه او د مازدیګر لمونځ مو په ښودلې شوې طریقه باندې اداء کړ[۵].

## هېر مو نه شي!

۱۴ـ هېر مو نه شي چې د ﴿ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ ﴾ په جمله کښې د ضمائرو د مرجع په اعتبار سره مفسرینو کرامو لاندې دوه ډوله تفسیرونه کړي دي[۶]:

---

(۱) سنن ابي داود ج۱ ص۱۷۷
(۲) تاریخ ابن خلدون ج۲ ص۱۳۳
(۳) الاستیعاب ج۲ ص۳۹۴
(۴) سنن النسائي ج۱ ص۲۲۸
(۵) اسباب النزول للواحدي ص۱۲۰
(۶) البحر المحیط ج۴ ص۴۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځارونکي ډله دې وسله واخلي، ځکه چې د ځارنې سره د وسلې اخستل ښه مناسب دي.
ب: لمونځ کوونکې ډله دې وسله واخلي، ځکه چې د ضمائرو مرجع نژدې ده.
مونږ ته دا بهتره ښکاري چې ضمائر مؤمنانو ته راجع شي ترڅو دواړو ته شامل شي، نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: ټول مؤمنان دې وسله نه غورزوي او د ځانو سره دې ولري، برابره خبره ده چې لمونځ کوونکی ټولګی وي او که ځارونکې ډله. البته چې د لمونځ کوونکې ډلې په هکله به داسې وسله مراده وي چې د لمانځه اداء کول ورسره صورت نيولی شي، چې ثقيله وسله نه وي او بل لمونځ کوونکي ته ضرر جوړ نه شي.

## ايا د وسلې اخستل واجب دي؟

۱۵ـ که څه هم د آحنافو عليهم الرحمة په نزد د وسلې اخستل مستحب دي[1]، مګر د راتلونکي مضمون څخه څرګندېږي چې د وسلې اخيستل واجب دی، ځکه چې الله ﷻ يوازې د معذرتونو د کبله د وسلې ايښودلو ته اجازه ورکړې ده او بس.
د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې عبد الرحمن بن عوف ﷺ زخمي شوی وه او د وسلې د پورته کولو توان يې نه درلود. نو الله ﷻ دا جمله نازله کړه[2] چې: ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ﴾ الآية يعني: په تاسو باندې ګناه نشته چې څه تکليف ولرئ، لکه چې باران وي او يا مريضان ياست، چې خپلې وسلې کېږدئ مګر د دې سره ـ سره د کافرانو د حملې څخه بې غمه کېږئ مه.

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾ وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٦﴾ وَلَا تُجَٰدِلْ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴿١٠٧﴾ يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ﴿١٠٨﴾﴾

[۱۰۵] (ای پیغمبره!) يقيناً مونږ په حقه سره تاته کتاب (قرآن کريم) درنازل کړی دی، د دې دپاره چې د خلکو په منځو کښې په هغه حکم باندې فيصله وکړې چې الله ﷻ درښودلی دی (د جلي يا خفي وحې په توګه)، او ته (ای پیغمبره!) د خيانت کارو دپاره جګړه کوونکی مه جوړېږه.
[۱۰۶] او د الله ﷻ څخه ښښنه وغواړه بې شکه الله ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی.

---
(۱) تفسير المدارک ج۱ ص۳۴۴
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۶۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٠٧] او د هغو خلکو د طرفه (د مقابل طرف په ضرر) جګړه هم مه کوه چې هغوی د خپلو خانونو سره خیانت کوي (په ګناهونو باندې یې اخته کوي). یقیناً الله ﷻ نه هغه څوک خوښوي چې هغه پوره خیانتګر وي او نه هغه څوک چې هغه سخت ګناهګار وي.

[١٠٨] دوی د خلکو څخه (خپل خانونه) پټوي او د الله ﷻ څخه (خپل خانونه) نه پټوي (یعنې د الله ﷻ څخه نه شرمېږي) حال دا چې الله ﷻ د دوی سره په هغه وخت کښې هم (په علم او قدرت سره موجود) وه چې دوی د شپې هغه خبره غوټه کوله کومه چې الله ﷻ یې نه خوښوي. او الله ﷻ په هغه کارونو باندې چې دوی یې کوي، احاطه کوونکی دی.

## ارتباطونه

١ـ د دې سورت [٦٠] ایت څخه را په دې خوا د منافقانو په باره کښې بحث راروان دی، مګر د څه مناسباتو د کبله ځای په ځای په ضمني توګه مسلح جهاد، هجرت، قتل خطا، قتل عمد، صلاة السفر، صلاة الخوف او ځینو نورو قضایاوو ته بحث انتقال شو، کله چې ضمني بحثونو اختتام وموند نو په ذکر شوو ایتونو کې دا دی بیا د منافقانو بحث پیل کېږي.

٢ـ په نژدې ایتونو کښې د صلاة الخوف بحث تېر شو چې مسلمانان پکښې په غوږ وهلي شوي وه چې د دښمنانو د مکرونو او دسیسو څخه مه بې غمه کېږئ او په خپله وسله او جنګي سامانو باندې زیاته پاملرنه وکړئ، په دې ایتونو کښې ارشاد کېږي چې ستاسو د دښمنانو مکرونه یوازې د جنګ په حالاتو پورې انحصار نه لري، بلکې هغوی په هر حالت کښې تاسو ته د ضرر رسولو اراده لري او د خپلو جاسوسانو او ارتباطیانو په سلسله غواړي چې تاسو لا څه چې ستاسو پیغمبر ﷺ هم په خطاکاریو باندې اخته کړي. تاسو خو دغې لاندې قیصې ته لږ څه توجه وکړئ. لنډه دا چې هلته د ګرم جنګ بیان وه او دلته سوړ جنګ شرحه کېږي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې څو حادثې د متعددو روایتونو په ضمن کښې مفسرینو کرامو او محدثینو کرامو لیکلي دي، مګر په دقیق نظر سره څرګندېږي چې د ټولو حادثو مرجع دوه قیصو ته کېږي، چې یوه د خیانت قیصه ده او بله د غلا قیصه، مونږ په دې مقام کښې د هرې یوې قیصې د عمده مطالبو په لیکنه باندې اکتفاء کوو ترڅو د ایتونو په تفسیر کښې راسره لاس وکړي.

## د خیانت قیصه

یو سړی وه چې طعمه نومېده او کلمه طیبه یې ویلې، خپل ځان یې مسلمان معرفي کاوه. نوموړي سړي ته یوه یهودي یوه زغره امانته کېښودله، او د خپل کور په کوم ځای کښې چې نوموړي زغره وساتله هغه ځای یهودي ته هم معلوم وه. بله ورځ د نوموړي څخه یهودي د خپل امانت غوښتنه وکړه، خو نوموړی پرې منکر شو چې زما سره تا بالکل څه شی د امانت په توګه نه دی اېښی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یهودي خپل قومیان او دوستان راټول کړه او ورته یې وویل چې ماته د نوموړي په کور کښې د خپل امانت د ساتنې ځای هم معلوم دی چې په فلاني ځای کښې مو دفن کړی دی، راځئ چې د نوموړي کور ته ورشو او امانت ترې بیا وغواړو.

نوموړی طعمه ناسي خبر شو چې اوس یې کور تالاشي کېږي، نو امانته زغره یې د ابو مُلیل کور ته ورواچوله چې د ده په کور کښې یې هینت مونده نه کړي.

هینت د پلټنې په ترځ کښې د نوموړي په کور کې نه بلکې د ابو مُلیل په کور کښې مونده کړه، ته به وایې چې یهودي په نوموړي باندې غلطه دعوه کړې وه او په ناحقه باندې یې د خیانت د اتهام لاندې راوستلی وه او اصل امانتګری او یا غل ابو مُلیل وه!

نوموړي طعمه خپل قومیان او څه انصار مسلمانان نبي کریم ﷺ ته بوتله او ورته یې وویل چې یهودي کافر په مسلمان باندې دروغ تړلي دي او بې ځایه د مسلمانانو نوم بدي کوي، ای د الله ﷺ پیغمبره! زمونږ هیله دا ده چې ته ټولو خلکو ته د طعمه پاکي او دینداري اعلان کړې او ملامته په یهودي باندې ورواچوي چې په نوموړي یې ناحقه دعوه کړې وه.

امکان لرې چې نبي کریم ﷺ به ذکر شوي اعلان ته زړه نا زړه وه چې د طعمه په برائت باندې خلک خبر کړي او ټوله ملامته سراسري په یهودي باندې ورواچوي، چې ذکر شوي ایتونه نازل شوه او ټوله ماجرا ښه پوره شرحه شوه[1].

## سوال جواب

که څوک وایي چې: ایا په ذکره شوې قیصه کښې د ابو ملیل څخه پوښتنه ونه شوه؟

مونږ وایو چې: زمونږ په نظر خو نه ده راغلې چې د ده څخه به پوښتنه شوې وي خو بالفرض که ابو مُلَیل د استنطاق لاندې راغلی وي هم هغه ته څه داسې خبره څرګنده نه وه چې موضوع ورباندې حل شوې وی، ځکه چې ده ته خو د زغرې وراچونکي اشخاص معلوم نه وه چې څوک دي، طعمه دا کار کړی دی او که بل غله؟ او بالآخره پخپله ابو مُلَیل هم د اتهام لاندې راتلای شو، مګر دا بېله خبره ده چې یهودي ورباندې دعوه ونه کړه.

## د غلا قیصه

څو وروڼه چې بَشَر، بُشَیر او مبشر نومېده، او د أبیرق زامن وه. دوی د رفاعه ؓ د کوره څه خوراکي شیان او زغره غلا کړې وه. رفاعه ؓ د خپل وراره (قتاده ؓ) په ذریعه په غله پسې پلټنه وکړه، د څه شواهدو وروسته یې په بشر باندې اشتباه راغله چې د شپې یې په کور کښې رڼا لیدلې شوې وه. بشر د غلا پړه په لبید ؓ باندې ورواچوله چې دا کار مونږ نه دی کړی هغه کړی دی، مونږ ځکه بېګاه شپه په خپل کور کښې رڼا کړې وه چې څه ضرورت مو درلوده، رڼا خو د غلا دلیل

[1] تفسیر الطبري ج۴ ص۲۶۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه دی. خو کله چې لبید وریاندې توره راوویستله نو د خپلې خبرې څخه منکر شو، چې ما ته غل معلوم نه دی.

بیا بشر خپل خان ته د برائت ورکولو په خاطر څه جرګه راټوله کړه چې په جرګه کښې د بشر د تره زوی أسیر بن عروه هم شامل وه چې ډېر چالاکه او خوله ور سړی وه.

ذکره شوي جرګه یې نبي کریم ﷺ ته بوتله چې د خپل خان دپاره ترې برائت واخلي او ټوله ملامته په قتاده رضی الله عنه باندې وراچوي چې بې دلیله یې په مونږ باندې د غلا دعوه کړې ده.

نبي کریم ﷺ قتاده رضی الله عنه په قهر امېزه لهجه باندې مخاطب کړ چې په څه دلیل سره په بشر او د ده په ورونو باندې د غلا اتهام لګوې؟ نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه او غل څرګند شو چې بشر دی[۱].

## تبصره

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي ایتونه به د دواړو حادثو د پېښېدلو څخه وروسته نازل شوي وي، چې دغه یوه منافق به هم په امانت کښې خیانت کړی وي او هم به یې د رفاعه رضی الله عنه د کوره غلا کړې وي. څکه چې ځینې مفسرین کرام وایي چې یوازې بُشَیر غلا کړې وه، چې کنیه نوم یې أبو طعمه وه، او پلار یې اُبَیرق نومېده[۲].

او څه لرې نه ده چې د ځینو راویانو د پلوه د "أبو" توری غورزولی شوی وي او ټوله قیصه یې د أبو طعمه په عوض د طعمه په نامه باندې شرحه کړې وي. مونږ څکه ګومان کوو چې په دواړو قیصو کښې جنایتکار یو سړی دی چې:

الف: په ایتونو کښې د ذکر شوي جنایتکار څخه په ﴿ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴾ سره تعبیر کړی شوی دی، چې د جنایت په تکرار باندې دلالت کوي چې جنایت یې بالکل طبیعت جوړ شوی وي.

ب: یو څل عمر الفاروق رضی الله عنه د یوه غله د لاس په پرېکولو باندې حکم وکړ، د غله مور راغله او ژړل یې چې دا څل یې عفوه کړه او دا یې لمړنی څل غلا ده، بیا به غلا نه کوي.

خلیفه رضی الله عنه وویلې چې: «كَذَبْتِ إِنَّ اللهَ لَا يُؤَاخِذُ عَبْدَهُ فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ»[۳] دروغ وایې (چې دا یې اوله غلا ده)، یقیناً الله ﷻ خپل بنده په اول څل کښې نه نیسي (نه یې رسوا کوي نو کله چې ستا د زوی غلا رسوا شوه نو معلومه شوه چې نور جنایات یې هم کړې دي).

نو د اُبَیرق زوی هم څکه رسوا شو چې حرفوي جنایتکار وه.

## د توجه وړ څه شرحه

څرنګه چې د احکامو په استنباط کښې د ایتونو شان نزولونو ته او د احادیثو مواردو ته نه کتلی کېږي، بلکې عمومي مفاهیم په نظر کښې نیولی کېږي، نو الله ﷻ د ذکر شوو دواړو حادثو

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۵ ص۳۷۵
(۳) البحر المحیط ج۴ ص۵۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په باره کښې راتلوونکې دولس ایتونه نازل کړه[١]، ځکه چې دواړه حادثې په زښتو ډېرو مفاسدو باندې مشتملې دي، لاندې څو مفاسد يې د مثال په توګه ولولئ:

الف: يو سړي (چې خپل خان يې مسلمان معرفي کاوه) غلا وکړه او يا يې په امانت کښې خيانت وکړ، نو د خپل خان دپاره يې د خائن او اثيم (ګناهګار) لقب وګاټه.

ب: خپله ګناه يې په بل چا باندې (چې د ګناه څخه ناخبره وه) وروا چوله او د تهمت لاندې يې واقع کړ.

ج: نور خلک يې راغونډ کړه چې په شعوري يا لا شعوري توګه يې د نبي کريم ﷺ په حضور کښې تزکيه کړي او د ناحقې خبرې تائيد يې وکړي.

د: زيار يې وويست چې نبي کريم ﷺ تېر باسي او غلطه فيصله ترې واخلي، حال دا چې الله ﷻ قرآن کريم د دې دپاره نازل کړی دی چې د ټولو خلکو قضايا ـ که څه هم مسلمان نه وي ـ په حقه فيصله شي.

هـ: نوموړی جنايتکار او د ده همکاران دعوت کړی شوه چې توبه تائب شي او الله ﷻ ته خپل معذرت وړاندې کړي. کله چې نوموړي جنايتکار د توبې دعوت قبول نه کړ نو طبعًا د نورو جنايتونو هم مرتکب شو، تر دې چې د مسلمانانو د صف څخه بهر شو او د مشرکانو په صف کښې ودرېد.

و: په پای کښې نوموړی جنايتکار د کفر په حالت باندې مړ شو ـ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الأَبْصَار.

## د مطلب خلاصه

١ـ يعني: ای پيغمبره! مونږ په تاباندې ربنتيانی کتاب د دې دپاره درنازل کړی دی چې ته د ټولو خلکو په منځکښې عدالت قائم کړې، که څه هم هغوی مشرکان او يا يهودان او بل څوک وي، مګر ځينې خلک شته چې تا د عدالت قائمولو ته نه پرېږدي او غواړي چې ما أنزل الله د پښو لاندې شي او ته د هغوی د غوښتنې په مطابق فيصله ورکړې ترڅو ګناهګار بریٔ الذمه شي او بریٔ الذمه د اتهام لاندې واقع شي. او بالآخره دوی غواړي چې ستا غوندې شخصيت د خپلو خانونو دپاره مدافع وکيل جوړ کړي.

٢ـ نو ای پيغمبره! پام کوه چې د خيانتکارانو دپاره خپل خان مدافع وکيل جوړ نه کړې او په خيانت باندې يې پرده ورونه چوی، او په ناخبرۍ کښې که ستا د پلوه د هغوی مدافعې ته څه قلبي ميل پېښ شوی وي نو د هغه په باره کښې د الله ﷻ ښښنه وغواړه، الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی.

٣ـ که څه هم ای پيغمبره! ته په قلبي ميلان باندې نه نيول کېږې خصوصًا چې يوه ډله مسلمانان درته په لا شعوري توګه غلطه مشوره درکړې، مګر د لاندې وجوهو د کبله په تاباندې د استغفار امر وکړی شو:

---

(١) اسباب النزول للواحدي ص ١٢٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ترڅو د غلطې مشورې خاوندان په غوږ ووهلی شي چې دوی د تحقیق څخه په غیر په څه دلیل د خیانتکار ملګري وکړه او غلطه مشوره یې ورکړه؟ ایا خیانتکار ته دا خبره تزکیه ورکولی شي چې مقابل طرف یې یهودي وه؟

ب: ترڅو په راتلونکې کښې مسلمانان پام وکړي او د خیانتکارانو په غوږو خبرو باندې تېر نه وخي او تاته غلطه خبره ونه کړي.

ج: بالآخره چې ترڅو د قیامت د ورځې پورې د امت حاکمان تا پسې اقتداء وکړي او د غلطو خبرو د منلو څخه استغفار وغواړي، او په فیصلو کښې صرف د موضوع حقانیت د نظر لاندې ونیسي او د قرابت او نورو اړیکو د تاثیر لاندې رانه شي.

۴_ ای پیغمبره! یو ځل بیا واوره چې د خیانتکارانو دفاع ونه کړې، ځکه چې د دوی څخه دفاع کول د محبت څخه نمایندګي کوي، حال دا دی چې الله ﷻ هیڅ خیانتکار او ګناهګار محبوب نه ګڼي، بلکې په دوی باندې خپل غضب نازلوي نو تاته په کار دي چې ته هم د دوی سره د محبت په عوض لله في الله بغض وکړې.

او ولې به خیانتکاران د الله ﷻ په نزد باندې غضب کړی شوي او ممقوت نه وي چې دوی د خلکو څخه شرمېږي او په پټه کښې د شپې ناجائزه خبره غوټه کوي، اما د الله ﷻ څخه شرم نه کوي او په باطلو باندې اتفاق کوي، حال دا چې په همغه وخت کښې هم الله ﷻ په علم او قدرت سره د دوی سره وه کوم وخت چې دوی ناجائزه خبره غوټه کوله چې خیانتکار بری الذمه کړي او د جنایت پېټی په بل چا باندې ورواچوي. که اراده یې شوې وی نو خای په خای به یې هلاک کړي وی، الله ﷻ خو په هر شي باندې په علم او قدرت سره احاطه کړې ده او هیڅ شی ترې نه پټېدلی شي او نه یې د قدرت څخه وتلی شي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې الله ﷻ د وحې څخه په ﴿بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ﴾ سره تعبیر وکړ ځکه چې نبي کریم ﷺ ته د وحې علم، چې د هر حیثه د شکونو او شبهاتو څخه پاک دی، داسې وه لکه چې ده یو شي په سترګو باندې لیدلی وي، برابره خبره ده چې جلي (ښکاره) وحې وي او یا خفي (پټه) وحې وي.

پاتې شوه دا خبره چې نبي کریم ﷺ په هغو قضایاوو کښې چې په هغو کښې به ورباندې وحې نه وه ورنازله شوې په اجتهاد سره حکم کاوه او که څنګه؟

نو دلته تحقیقي خبره دا ده چې نبي کریم ﷺ د ضرورت په وخت کښې په خپل اجتهاد باندې هم حکم کاوه، لکه چې پخپله فرمایي: «إِنِّي إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمْ بِرَأْيِي فِيمَا لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهِ»[1] یعنې: یقیناً زه بې شکه ستاسو په منځکښې په خپلې رأیې سره فیصله کوم خو په هغې قضیه کښې چې په هغې کښې په ما باندې وحې نه وي نازله شوې.

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۱۴۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## نبوي اجتهاد

۲ـ هو! د نبي كريم ﷺ اجتهاد دا امتياز درلود چې كه څه خطايي به پكښې واقع شوه نو د الله ﷻ د پلوه به تصحيح كېده، لكه د بدر د بنديانو په باره كښې چې تصحيح شو [الأنفال: ٦٧]. اما د اُمت د مجتهدينو اجتهاد دا امتياز نه لري، په دوی كښې چې څوک خطا شوی دی نو خطاګانې يې پتې پاتې دي، د همدې كبله اجتهادي حكم يقيني نه دی بلكې ظني دی.

## سوال جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: په دې مقام كښې د نبي كريم ﷺ څخه څه عصيان واقع شوی وه چې الله ﷻ ورته په استغفار سره امر وكړ؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال جواب خو د [البقرة: ۳۷] ايت لاندې تېر شوي دي او دلته هم ورته د مطلب په خلاصه كښې څه اشاره شوې ده، خو د دې سره‌سره لاندې څه نوره توضيح وراضافه كوو:

الف: ځينې مفسرين كرام وايي چې دلته د ﴿ وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ﴾ څخه مطلب دا دی چې: هغو خلكو ته د الله ﷻ څخه بښنه وغواړه كومو چې د خائن په باره كښې تاته شفاعت كاوه او د هغه برائت يې غوښت[1]. مګر دا معنی متبادره نه ده.

ب: شايد چې دلته د هغې توندې لهجې څخه استغفار مطلب دی چې نبي كريم ﷺ پرې د قتاده ؓ سره خبرې وكړې، او يا به د نبي كريم ﷺ په خيال كښې تېره شوې وي چې همدا يهودي ملامته دی[2].

په هر تقدير، ذكر شوي دواړه مسئلې د عادي خلكو دپاره څه ګناه نه ده خو د نبي كريم ﷺ د عالي شان سره داسې وګڼله شوه چې بايد د الله ﷻ څخه ترې بښنه وغوښتله شي ترڅو ورته په راتلونكې كښې څوک د دغسې ناحقې فيصلې تمه ونه كړي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ كه څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا ﴾ او د ﴿ وَلَا تُجَـٰدِلْ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ ﴾ څخه خو معلومېږي چې نبي كريم ﷺ د خيانتكار او د ده د همكارانو څخه هم دفاع كړې وه او هم يې د دوی په مقابل طرف باندې ملامته وراچولې وه، نو څكه الله ﷻ ترې منعه كړه؟

مونږ وايو چې: د يو شي څخه منعه كول دا غوښتنه نه كوي چې منعه كړی شوی شخص دې په هغه ممنوعه شي باندې مبتلا وي، لكه چې الله ﷻ د لقمان علیه‌الرحمه د خولې څخه حكايت كوي چې: ﴿ يَـٰبُنَىَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ﴾ [لقمان: ۱۳] يعنې: ای زما زوي ګوتيه! د الله ﷻ سره شريک مه ودروه.

---

(۱) التفسير الكبير ج ۱۱ ص ۳۴

(۲) روح المعاني ج ۵ ص ۱۴۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څه لرې نه ده او د نبوت د منصب سره منافي نه ده چې نبي کریم ﷺ د خیانتکارانو په گټه باندې د زره میلان پیدا شوی وي او یا یې لا قصد هم کړی وي، خو الله ﷻ لطف وکړ او موضوع یې ورته څرګنده کړه[1] او په ناحقه فیصلې باندې مبتلا نه شو.

﴿ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿١٠٩﴾ وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١١٠﴾ وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١١﴾ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِۦ بَرِيٓـًٔا فَقَدِ ٱحْتَمَلَ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿١١٢﴾ ﴾

[۱۰۹] خبردار تاسو ای دغو کسانو (چې د خائنانو ملګري کوئ) د دوی څخه په حقیر ژوند کښې جګړه (دفاع) کوئ. نو د دوی څخه به د قیامت په ورځ د الله ﷻ سره څوک جګړه (دفاع) وکړي، یا به څوک وي چې (په همدې ورځ کښې) په دوی باندې وکیل جوړ شي (هیڅوک به نه وي).

[۱۱۰] او هغه څوک چې بد کار وکړي او یا په خپل ځان باندې ظلم وکړي، بیا د الله ﷻ څخه بښنه وغواړي نو الله ﷻ به بښونکی (او) مهربان مونده کړي.

[۱۱۱] او هغه څوک چې ګناه کسب کړي نو یقیناً هغه یې په خپل ځان باندې کسب کوي (ضرر یې یوازې په همده باندې دی). او الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی.

[۱۱۲] او هغه څوک چې خطاکاري یا ګناه کسب کړي بیا یې پرې بې ګناه سړی وولي (متهم کړي) نو بې شکه چې (همدغه څوک) د بهتان او ښکاره ګناه متحمل شو.

## د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایتونو کې ارشاداتو مخه جنایتکارانو او د هغوی همکارانو ته وراړوله شوې ده چې باید هر څوک د خپل ځان غم وخوري او په دې دنیا کښې د ګناه څخه توبه تائب شي.

یعنې: ای هغو کسانو (چې تاسو د جنایتکارانو پلوي کوئ او غواړئ چې د دنیاوي عذاب څخه یې بچ کړئ او بالآخره په ګناهونو باندې یې پرده واچوئ! د دې خبرې جواب راکړئ چې د قیامت په ورځ به د دغو خیانتکارانو څخه د الله ﷻ په حضور کښې څوک دفاع وکړي؟ او څوک به یې په ګناهونو باندې پردې واچوي؟ او یا به یې څوک مدافع وکیل جوړ شي؟ ایا هلته تاسو دا کار کولی شئ؟

[1] احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۷۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کله چې تاسو د هغوی د قیامت په سخته ورځ کښې دفاع نه شئ کولی نو په دنیا کښې هم د دوی دفاع څخه لاس واخلئ، ځکه چې:

الف: اول خو تاسو د دوی جنایت پټولی نه شئ، الله ﷻ به یې رسوا کړي، لکه چې په ذکرو شوو قیصو کښې یې د جنایتکارانو اصلي څېرې بربنډې کړې.

ب: که بالفرض الله ﷻ یې په دنیا کښې رسوا نه کړي نو د آخرت د عذابه خو نه شي خلاصېدلی، او دا څه دوستي نه ده چې د دنیاوي لنډ عذاب او لږ خجالت څخه یې په ځنګ کړي خو د آخرت د لوی عذاب او غټې رسوائی سره یې مخامخ کړي.

د قیامت په ورځ لکه څنګه چې تاسو د هغوی په ګټه کار نه شئ کولی هغوی هم ستاسو په ښه نه درځي. نو بهتره دا ده چې تاسو ټول توبه تائب شئ او په خپلو کړو باندې پښېماني ښکاره کړئ، او دا ځکه:

اول: هرڅوک چې متعدي جنایت وکړي او یا د لازم جنایت مرتکب شي، بیا د الله ﷻ څخه بښنه وغواړي او په خپلو کړو باندې پښیمانه شي نو الله ﷻ به ښښونکی او مهربان مونده کړي، او ښه به بې په خپل زړه کښې وګوري چې د ګناه څخه به یې نفرت راځي مګر دا کار صرف دنیا پورې ځانګړی دی، په آخرت کښې د چا توبه نه قبلېږي.

دوهم: هرڅوک چې څه ګناه وکړي نو هغه صرف د همده په اوږو باندې بارېږي او بل څوک یې نه شي متحمل کېدلی، همدا د حکمت غوښتنه ده او الله ﷻ ته هر څه معلوم دي.

نو ای د غلو او ټګانو همکارانو! د خپلو ځانونو غم وخورئ، هغوی تاسو د الله ﷻ د عذابه نه شي خلاصولی نو په تاسو باندې څه شوي دي چې په لوی لاس د بل چا په هکله خپل ځانونه د الله ﷻ په عذاب باندې اخته کوئ؟.

دریم: خصوصاً د داسې غلو ټګانو سره همکاري کوئ چې تاسو یې په خپلو سترګو باندې ګورئ چې ګناه پخپله کوي او بیا پرې یو ناخبره سړی متهموي چې دا ده کړې ده. ایا تاسو په دومره ښکاره او لویه ګناه کښې ګډون او همکاري کوئ؟ که بالفرض په تاسو باندې څوک تهمت ولګوي څومره به خپه شئ؟

یا په بل عبارت: تهمت لګول په خپل ذات کښې هم لویه ګناه ده، خو څوک چې په خپله ګناه بل څوک تورنوي نو دا ډېره لویه ګناه ده چې د هیچا څخه پټه نه ده.

## توضیحات

۱ ـ کسب هغه عمل ته ویل کېږي چې څوک پرې یا ګټه راکش کوي او یا پرې د ضرر څخه ځان ساتي. که څه هم په خینو وختونو کښې بالعکس نتیجه ورکوي، یا ګټه په تاوان تمامه شي او یا په تاوان کښې ګټه ترلاسه شي، په هر تقدیر کسب په بندګانو پورې ځانګړی دی او الله ﷻ ته یې نسبت کول صحت نه لري[1].

[1] التفسیر الکبیر ج۱۱ ص۳۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د گناه نومونه

۲_ گناه (عصیان) د څو لحاظونو په اعتبار سره لاندې پنځه نومونه لري:

الف: سَيِّئَة: چې د "سوء" څخه اخستله شوې ده، "سوء" بدۍ ته وايي[1] او هره يوه گناه بد او ناکاره شی دی.

ب: "ظُلْم: تیارې ته وايي چې په مقابل کښې يې "نور" رڼا استعمالېږي[2] او هره يوه گناه يو ډول تیاره ده.

ج: "إِثْم: چې اصلا ټالولو ته وايي[3]، او په هره يوه گناه کښې د الله ﷻ د رضا د ټالېدلو خطره شته.

د: "خَطِيئَة: چې د خطا څخه جوړه شوې ده[4]، په هره يوه گناه کښې د شرعي حکم خطا کول (پرېښودل) نغښتي دي.

هـ: "ذَنْب: چې اصلاً لکۍ ته وايي[5]، هره يوه گناه په گناهکار پورې نښتې وي، ته به وايي چې لکۍ ورته ترې جوړه شوې ده، تر دې چې د قيامت په ورځ به د هر غدار په کټاتي باندې د يوه بيرغ په شکل ښکاره شي.

همدارنگه هغې گناه ته لازمه گناه وايي چې ضرر يې يوازې په گناهکار پورې خاص وي، لکه د روژې خوړل او داسې نور. او هغه گناه د متعدي گناه په نامه يادېږي چې ضرر يې د گناهکار څخه نورو خلکو ته هم تجاوز کوي، لکه غلا او غصب او داسې نور.

### تبصره

۳_ څينو مفسرينو کرامو په ﴿ وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ﴾ کښې د "سُوْء" يعني "سَيِّئ" څخه متعدي گناه مطلب اخستې ده او د ظلم څخه يې لازمه گناه مراده کړې ده[6].

او څينو مفسرينو کرامو په ﴿ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ﴾ کښې لاندې متعددې معناوې مرادې کړې دي[7]:

الف: "خَطِيئَة" يعني هغه گناه چې بې قصده وي، او "إِثْم" يعني هغه گناه چې په قصد سره وي.

ب: "خَطِيئَة" لازمه گناه او "إِثْم" متعدي گناه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۵۲

(۲) مفردات الراغب ص۳۲۵

(۳) مفردات الراغب ص۵

(۴) مفردات الراغب ص۱۵۱

(۵) مفردات الراغب ص۱۸۴

(۶) التفسير الكبير ج۱۱ ص۳۷

(۷) البحر المحيط ج۴ ص۶۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج "خطیئة" صغیره ګناه او "إثم" کبیره ګناه.

د "خطیئة" یعني قصدي او غیر قصدي ګناهونه او "إثم" یعني صرف قصدي ګناه.
مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې په دوارو ایتونو کښې ذکر شوي کلمات په عموم سره پرهېښودل شي نو ټولو ګناهونو ته شامل شي. ځکه چې د تخصیص دپاره یې څه متبادر دلیل نشته.

## د عربیت یو قانون

۴_ که څه هم د ﴿ ثُمَّ يَرْمِ بِهِ ﴾ څخه وړاندې دوه شیان ذکر دي، چې یو "خطیئة" ده او بل "إثم" دی، خو په "به" کښې دوارو ته مفرد ضمیر راجع شو. او دا ځکه چې دواړه د "كُلُّ وَاحِدٍ" په اعتبار سره اخستل شوي دي[1].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د ذکرو شوو دوارو شیانو "خطیئة" او "إثم" څخه په هر یو باندې د بې ګناه سړي متهم کول ښکاره ګناه او تهمت دی، خصوصاً لا په هغه وخت کښې چې په دوارو باندې بې متهم کړي او بهتان ورپورې وتړي.

﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَىْءٍ ۚ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا (١١٣) ﴾

[۱۱۳] او که چېرته د الله ﷻ فضل او رحمت (ای پیغمبره!) په تاباندې نه وی نو د دوی (دښمنانو) څخه به یوې ډلې قصد کړی وی چې تا بې لارې (خطا) کړي. او دوی (ستا په خطاکولو کښې) بل هیڅوک نه بې لارې کوي (نه شي بې لارې کولی) مګر خپل ځانونه (چې بې لارې توب یې پرې قوي کېږي) او دوی تاته د هر لږ ضرر هم نه شي دررسولی.
او الله ﷻ په تاباندې کتاب (قرآن کریم) او حکمت درنازل کړی دی. او هغه څه یې درښودلي دي چې پخوا نه داسې نه وې چې هغه دې زده وه. او د الله ﷻ فضل په تاباندې ډېر لوی دی.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای پیغمبره! ستا دښمنان همېشه تاند وهي او هلې ځلې کوي چې تا بې لارې کړي او په لاشعوري توګه درباندې ناحقه فیصله وکړي، ترڅو د یو پلوه خپلو ځانونو ته برائت ورکړي او خپل ښېښی په بل بې ګناه سړي باندې ورواچوي او د بله پلوه ستا د نبوت د تکذیب دپاره څه حجت او اسناد تر لاسه کړي چې که دی په رښتیا پیغمبر وی نو ولې به یې په ناحقه فیصله کولی.

[1] روح المعاني ج ۵ ص ۱۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

۲_ خو دوی دې په دې باندې پوه شي چې هيڅكله به په دغه شوم مرام كښې كامياب نه شي او دا ځكه چې په تا باندې د الله ﷻ فضل او رحمت په دائمي توګه په شپږو شپږو ورپرې او سات په سات درته د دوی دسيسې افشاء كوي.

دا دی په همدې ايتونو كښې يې درته د دښمنانو لويه دسيسه افشا كړه او دوی يې درته خجالت كړه. كه بالفرض دغه دسيسه يې نه وی افشاء كړې او فضل يې درباندې نه وی كړی نو په راتلونكې كښې به هم ستا په بې لارې كولو كښې د دوی يوه ډله مصروفه وی، خو د دې وروسته شايد چې بيا دې كار ته اقدام ونه كړي، ځكه چې اوس پوه شوه چې د دوی هلې ځلې بې نتيجې دي او بې د دې ځخه چې فقط خانونه درباندې متضرر كړي نور څه نه شي كولی. او دا ځكه چې

الف: الله ﷻ په تاباندې قرآن كريم نازل كړی دی چې د قيامت د ورځې پورې د ټولو خلكو دپاره هدايت (لارښوونه) كوي او شخړې او لانجې يې حل كوي او حقائق ښكاره كوي.

برسېره پر دې، قرآن كريم داسې كتاب او جلي (ښكاره) وحې ده چې پخپله په خپل خان باندې دليل دی او ځوك ترې د عناد ځخه په غير انكار نه شي كولی.

ب: خفي وحې (احاديث) يې هم درپېرزو كړې دي. او ثبات او استقامت يې هم درېښلی دی چې خائنان دې نه شي بې لارې كولی.

ج: داسې څه يې درزده كړي دي چې هغه د نبوت ځخه پخوا ستا زده نه وه او ورباندې نه پوهېدې، الله ﷻ دې په وخت سره د دښمنانو د زړونو ځخه خبروي او شپېنې مجالس يې درته افشاء كوي.

د: لنډه دا چې د الله ﷻ فضل په تاباندې ډېر لوی دی چې حوض كوثر يې دركړی دی او د كبری شفاعت خاوند يې ګرځولی يې او بالآخره د جنتيانو لويه برخه يې ستا اُمت ته منظوره كړې ده چې ستا د بهتری ځخه دوی هم استفاده كولی شي چې ايمان درباندې راوړي.

## توضيحات

۱_ كه څه هم خينو مفسرينو كرامو ليكلي دي چې نبي كريم ﷺ ته د ثقيف د قبيلې ځخه يوه جرګه ورغله او ورته يې وويلې چې مونږ به درسره بيعت وكړو خو مونږ ته به اجازه راكوې چې تر يو كاله پورې د خپل معبود (بوت) "عزی" عبادت وكړو. نو نبي كريم ﷺ د دوی پيشنهاد رد كړ او ذكر شوی ايت شريف نازل شو(۱)

مګر ظاهره دا ده چې دلته د ګمراه كوونكې ډلې ځخه همغه ډله مطلب ده چې د خيانتګر په باره كښې نبي كريم ﷺ ته ورغلی وه چې نبي كريم ﷺ يې تبرئه كړي او د ده خيانت په بل بې ګناه سړي باندې وروا چوي.

(۱) زاد المسير ج۲ ص۱۸۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ايت شريف څخه سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي چې که د الله ﷻ فضل نه وی نو دوی به د نبي کريم ﷺ د خطا کولو قصد کړی وی ﴿ لَهَمَّت طَّآئِفَةٌ ﴾، حال دا دی چې قصد خو يې کړی وه مګر ناکام شوه؟

مونږ وايو چې:

الف: د دوی د قصد ناکامي داسې وګڼله شوه لکه چې د سره يې قصد هم نه وي کړی. يعنې هلې ځلې يې پوچنا شوې او معکوسه نتيجه يې ورکړه، ته به وايې چې خائنانو د نبي کريم ﷺ د بې لارې کولو قصد نه وه کړی بلکې فقط خپلو خائنونو ته يې د تاوان اړولو قصد کړی وه.

ب: څه لرې نه ده چې مطلب يې دا وي چې که په تاباندې الله ﷻ فضل نه وی کړی او د خائنانو دسيسه يې نه وی شنډه کړې نو په راتلونکې کښې به دوی ستا د خطا کولو ډېر پلانونه په کار اچولي وی، خو چې کله د دوی ذکر شوی پلان ناکام شو نو ترڅو يې چې دا شرم په ياد وي بيا به دغسې د شرم پلان ته لاس وانچوي.

## حکمت څه معنی؟

۳ـ مونږ د [البقرة:۲۶۹] ايت لاندې ليکلي دي چې د حکمت کلمه په ډېرو معناوو باندې تفسيره شوې ده خو په ټولو معناوو کښې يې "ثبات" او "استقامت" پروت دی. نو په دې مقام کښې هم د ثبات او استقامت معنی ډېره په زړه پورې ښکاري، چې د خائنانو جرګو او مرکو د نبي کريم ﷺ ثبات او استقامت خراب نه کړی شو او د خپل دريغ څخه يې ونه شو ښورولی.

﴿ لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَىٰهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَٰحٍۭ بَيْنَ
ٱلنَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١١٤﴾ وَمَن
يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ
وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ
ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ ﴾

**[۱۱۴] د خلکو د جرګو څخه په ډېرو کښې (بلکې په ټولو کښې) خير نشته مګر په هغې جرګه کښې چې په صدقه يا (شرعي) معروف کار (او بالآخره) يا د خلکو په منځو کښې په اصلاح باندې امر کوي (نو په دغو جرګو کښې په تفاوت سره خير شته).**

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هرڅوک چې دغه (ذکرې شوې جرګې) صرف د الله ﷻ د رضا د غوښتنې دپاره وکړي نو ډېر زر به هغه ته لوی اجر ورکړو.

[۱۱۵] او هغه څوک چې د دې څخه وروسته د پیغمبر ﷺ سره عداوت کوي چې ده ته هدایت په ښه ډول ښکاره شوی وي، او د مؤمنانو د لارې څخه په غیر د بلې لارې پیروي کوي، نو (نوموړی کس به) هغه خوا ته وروړوو (هغه خوا به ورته اسانه کړو) چې دی وراوښتی دی. او دوزخ ته به یې ورداخل کړو. او (دوزخ) د بېرته ورتاوېدلو د حیثه ډېر بد ځای دی.

[۱۱۶] یقیناً الله ﷻ دا نه بښي چې د ده ﷻ سره شریک ودرولی شي (چې څوک پرې کافر شي) او د دې (کفر) څخه په غیر (نور ګناهونه) هغه چا ته وربښي چې هغه ته یې خوښه وشي.

او هر څوک چې د الله ﷻ سره شریک ودروي (پرې کافر شي) نو بې شکه هغه کس په ډېرې لرې ګمراهۍ سره ګمراه شو (چې هیڅکله به سمه لاره مونده نه کړي او ورځ په ورځ به ترې لرې اوولځي).

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! څرنګه چې د خیانتکارانو ډلو ستا د تېر ویستلو دپاره په پټه کښې د شپې جرګه وکړه چې ځانونه تبرئه کړي او په یوه بې ګناه سړي باندې د جنایت پېښې درواچوي او بالآخره په جنګ او خپلمنځي عداوت باندې یې اخته کړي، نو مسلمانانو ته هدایت وکړه چې د فساد د جرګو څخه ځانونه وژغوري او د خیر جرګو ته متوجه شي. د لاندې جرګو څخه په غیر نورې ټولې د فساد جرګې دي:

الف: هغه جرګه چې په هغې کښې د بې وزلو سره د کومک خبره غوټه شي او د بې چاره ګانو د چاره سازۍ پروګرام پکښې تصویب شي.

ب: هغه جرګه چې په هغې کښې شرعي پېژاندل شوی شی د بحث لاندې وي چه اقلاً هغه په شریعت کښې جواز ولري، او ممنوع نوي.

ج: هغه جرګه چې په هغې کښې د خلکو د لانجو او جګړو مخه نیوه کېږي او د روغې جوړې لارې چارې پکښې سنجولې کېږي.

۲ـ نو هرڅوک چې د ذکرو شوو جرګو څخه په کومه یوه کښې صرف د الله ﷻ د رضا دپاره برخه واخلي نو هغوی ته به مونږ د موضوعاتو او اخلاصونو په تفاوت سره لوی اجر ورکړو چې په دنیا او آخرت کښې به ترې مستفید شي، دا د مسلمانانو طریقه ده چې ټول مسلمانان ورباندې متفق دي، نو هرڅوک چې همدغه د مسلمانانو لاره پرېږدي او د پیغمبر ﷺ په مقابل طرف کښې ودرېږي، او یا په بل عبارت: د پیغمبر ﷺ په عداوت او دښمنۍ باندې مبتلا شي، نو هغه ته به مونږ توفیق ورنه کړو او په کومه لاره چې روان دي په همغې لارې باندې به یې روان کړو او کومې لارې ته یې چې شا کړېده هغې لارې ته به یې مخه راوا نه ړوو، تردې چې بالآخره به یې دوزخ ته ورداخل کړو چې ډېر ناکاره ځای دی، او نوموړي شخص د ځان دپاره ګټلی دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ او دا خکه چې د پیغمبر ﷺ سره عناد کول کفر او د مشرکانو سره پیوستون دی. او الله ﷻ هره گناه ببښي چې اراده یې وشي مگر د کفر او شرک گناه د دې کبله نه ببښي او نه ورته اراده کوي چې د الله ﷻ د رحمت لاندې نه راخي او د رحمت څخه په ډېره لرې مسافه کښې واقع ده.

لنډه دا چې څومره د چا عداوت د پیغمبر ﷺ سره اضافه کېږي او څومره چې څوک د مسلمانانو د لارې څخه لرې کېږي، په هماغې اندازه به د الله ﷻ د رحمت څخه هم لرېوالی مونده کوي او د مغفرت چانس به یې د لاسه اوځي.

## توضیحات

۱_ د "النَّجْوَی" د کلمې په اصلیت کښې لاندې دوه نظره نیولی شوي دي[1]:

الف: چې "النَّجْوَی" د "نَجْوَةٌ" د اصل څخه وي او "نَجْوَةٌ" _لکه "ثَمْرَةٌ"_ د لوړ مکان معنی ورکوي، ته به وایې چې د سیلابونو څخه یې نجات موندلی دی.

ب: چې "النَّجْوَی" د "نَجَاء" د اصل څخه وي، "نَجَاء" جدا کېدلو او خلاصون ته وایي.

په هر تقدیر، د "النَّجْوَی" کلمه یا مصدر او یا اسم مصدر ده، چې د هغو پټو خبرو او ویناوو په کولو کښې استعمالېږي چې سرې یې د خلکو څخه د راز په شکل ساتي. مگر کله-کله هغو دوه کسانو یا ډېرو کسانو ته هم د "نَجْوَی" لقب ورکولی کېږي چې ذکرې شوې د راز په ویناگانو کښې سره اشتراک لري الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ ﴾ [الإسراء: ۴۷] یعنې: الله ﷻ ته د کافرانو هغه حالت هم معلوم دی چې کله دوی جرگه وه او په خپلو منځو کښې یې د نبي کریم ﷺ په ضد د راز خبرې کولې.

په دې مقام کښې همدغه وروستنی استعمال د وړاندې بېرته سره ښه پیوند اخلي چې حاصل یې داسې کېږي: د خلکو په ډېرو جرگو کښې خیر نشته، مگر هله پکښې خیر شته چې د لاندېنیو درېوو کارونو څخه پکښې یو کار مطرح وي او د عملي کولو په صورت کښې یې پکښې بحث وکړی شي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د ایت شریف څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې د ډېرو جرگو د جملې څخه صرف همدغه درې جرگې د خیر جرگې دي، حال دا چې مطلب خو داسې برېښي چې د ټولو جرگو څخه لرې وي او که ډېرې همدغه درې جرگې د خیر جرگې دي. نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په منظور د ﴿ لَّا خَيْرَ فِى كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَىٰهُمْ ﴾ په عوض "لَا خَيْرَ فِي نَجْوَاهُمْ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: د ﴿ كَثِيرٍ ﴾ قید د احتراز دپاره نه دی لکه چې د سوال کوونکي ذهن ته ورځي بلکې د واقع د بیان دپاره دی، نو د مطلبي معنی په مرادولو کښې څه خنډ نه واقع کېږي چې د

(۱) مفردات الراغب ص ۵۰۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکرو شوو درېوو جرګو څخه په غیر نه په دېرو جرګو کښې خیر شته لکه چې سمدستي ورباندې خلک اخته دي، او نه به يې په لږو جرګو کښې خیر وی که بالفرض لږې جرګې بې کولې.

## د ایت ارشاد

۳ـ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته ارشاد کوي چې صدقه، معروف او خپلمنځي اصلاح، درېواړه کارونه په ډله ییزه توګه ښه موثر واقع کېږي نو باید مسلمانان په هره زمانه کښې یو تولګی ولري چې هغوی امر بالمعروف او نهي عن المنکر د وظیفې په ډول اجراء کړي، لکه چې الله ﷻ فرمایي ﴿ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ﴾ [آل عمران:۱۰۴] یعني او ضرور ستاسو څخه دې یو تولګی موجود وي چې خیر ته بلنه کوي او په ښکو امر کوي او د بدو څخه منعه کوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د معروف کلمه خو ټولو شرعي کارونو ته شامله ده، لکه څنګه چې د "مُنْكَرْ" کلمه ټولو بدو (غیر شرعي) کارونو ته شامله ښکاري، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې د "مَعْرُوف" د کلمې څخه د "صَدَقَة" کلمه وړاندې ذکره شوه او "اصلاح بین الناس" ترې وروسته ذکره شوه او یوازې په معروف سره اکتفاء ونه کړی شوه؟

مونږ وایو چې:

الف: د دې دپاره يې صراحت وکړی شو چې د دواړو اهمیت زښت ډېر دی. لاندې خو احادیث د ښه وضاحت دپاره ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایي: «إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ»[۱] یعني: یقیناً صدقه د رب العالمین (د) غضب (اور) مړ کوي او د مرګ د بد حالتې مخه نیسي.

دوهم: یو خل نبي کریم ﷺ وفرمایل: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ» یعني ایا تاسو نه خبروم د روژې او لمانځه او صدقې د درجې څخه په افضل عمل سره؟ صحابه کرامو ؓ وویلې چې «بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ» ولې نه یا رسول الله! نو وې وفرمایل چې: «إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ»[۲] (دغه افضل عمل) د خپلمنځي اختلاف اصلاح کول دي. او خپلمنځي فساد (د حسناتو خرېوونکی دی.

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایي: «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِي خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا»[۳] یعني: هغه څوک دروغژن نه دی (نه ګناهګارېږي) چې د خلکو په منځکښې اصلاح کوي نو (د

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۴۴
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۱۷
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۳۷۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



طرف نه د بل طرف څخه) يوه د خير خبره ورسوي او يا يې ورته د خير خبره وکړي (حال دا چې د بل طرف څخه يې نه وي اورېدلي).

ب. ترڅو چې د شان نزول په قیصه باندې د اول څخه تر آخره پورې ښه تطبيق شي.

ځکه چې غلا او خيانت د حرص څخه سرچينه اخلي او د دې مرض دپاره صدقه ډېره ښه دوا ده چې د حرص بېخ وباسي. همدارنګه د نوموړې قيصې نتيجه په خپلمنځي فساد باندې تمامه شوه چې د منځه وړل يې په خپلمنځي اصلاح سره صورت مومي.

## عجيبه قيصه

۵ـ يوه ورځې د الشافعي رحمه الله عليه مجلس ته يو سړی ورغی، چې ښه اوږده ګېره يې درلوده او همسا يې هم په لاس وه، او د څو پوښتنو په ضمن کښې يې دا پوښتنه هم وکړه چې د اجماع حجتيت په کوم ايت باندې ثابت دی؟

نوموړی امام عليه الرحمه لږ څه په فکر کښې چپ شو، نو ذکر شوي سپين ږيري اخطار ورکړ چې تر درې ورځو پورې تاته وخت دی چې د اجماع د حجتيت دليل مونده کړې، او که نه نو د دې څخه وروسته به د فتوی ورکولو څخه ګوښه کېږې.

امام عليه الرحمه تر درې ورځو پورې د کوره رابهر نه شو او د دليل په موندلو کښې مصروف وه، تردې چې په درېيمه ورځ د مازديګر د لمانځه څخه وړاندې دباندې راووت او ذکر شوی سپين ږيری هم د جواب اخستلو دپاره حاضر شو چې زما پوښتنه څنګه شوه؟

امام عليه الرحمه ورته دا ايت: ﴿ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ ﴾ تر آخره پورې ولوست او بيا يې وفرمايل چې: الله ﷻ هغه څوک چې د مسلمانانو اتباع نه کوي خکه دوزخ ته داخلوي چې د مسلمانانو اتباع فرض ده، او دا نه ده مګر اجماع ده. نو سپين ږيری پورته شو، روان شو او ويې ويلې چې: "صَدَقْتَ"[۱] رښتيا دې وويلې.

## يادونه

۶ـ که څوک غواړي چې د اجماع د حجتيت د ذکر شوي دليل زيات وضاحت او څه نور دلايل ولولي نو خينو تفاسيرو ته دې مراجعه وکړي[۲] چې ډېر خوندور بحثونه يې ليکلي دي.

## چرته چې تاو شي همله به يې ورتاو کړو

۷ـ که څه هم خينو مفسرينو کرامو[۳] د دې تکړې ﴿ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ ﴾ تفسير داسې کړی دی چې: په آخرت کښې به يې هغه طرف ته ورتاو کړو کوم طرف ته چې په دنيا کښې ورتاو شوی وه. مګر

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۱۴۶؛ حاشيه الشيخ زاده علی تفسير البيضاوي ج۲ ص۶۸

(۲) تفسير القاسمي ج۵ ص۴۵۸ـ ۴۷۵

(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۲۸۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

مونږ ته ذکر شوی تفسیر غوره نه برېښي، بلکې مونږ یې معنی داسې کوو چې: همغه طرف ته به یې په دنیا کښې ورتاو کړو او ورته اسان به یې کړو کوم طرف یې چې په دنیا کښې د خپل خان دپاره خوښ کړی دی، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴾ [اللیل: ۱۰] یعني: هر څوک چې بخل کوي، د الله ﷻ څخه خپل خان بې پروا کوي، او بالآخره د پاکیزه کلمې تکذیب کوي نو ډېر ژر دی چې هغه به سختی کولو ته وراسان کړو چې د نیکو کارونو توفیق به ورنه کړو او په بدو کارونو کښې به یې شوق او ذوق زیات شي او په نتیجه کښې به د مشکلاتو سره مخامخ شي. لکه چې همدا معنی د شان نزول د جنایتکار د عاقبت څخه ډېره ښه څرګندېږي.

## د شان نزول د جنایتکار عاقبت

۸ـ کله چې ذکر شوی جنایتکار رسوا او وډار شو چې لاس به یې قطعه شي نو د مدینې منورې څخه وتښتېد او د مکې معظمې مشرکانو ته یې پنا وېوړه. او هلته د روایتونو په اختلاف سره د لاندې پېښو سره مخامخ شو:

الف: هلته یوه شپه د بني سُلیم د قبیلې د دېوال په سوري کولو باندې بوخت وه چې یوه غټه ډبره وربان‌دې راولوېده چې لاندې ترې ووژلی شو[۱].

ب: په بل روایت کښې وایي چې ذکرې شوې ډبرې ونه واژه خو تر سبا پورې ترې لاندې پروت وه کله چې د کور خاوند په اصطلاح "دزد با پشتاره" ونیوه نو ویې نه واژه د دې وجې چې مبلمه دی، مګر د مکې معظمې څخه یې فرار کړ چې دلته به نه اوسېږي[۲].

ج: د مکې معظمې څخه چې بهر شو نو د قضاعه د قبیلې د تجارتي قافلې سره د شام په طرف روان وه، چې په لاره کښې یې د قافلې څخه څه متاع غلا کړه او کاروانیان پرې خبر شوه او په ډبرو باندې یې وواژه چې د ډبرو ډېری یې قبر جوړ شو.

د: بل روایت وایي چې په جده کښې یې د بوې بېړۍ د سورلیو څخه کیسه بري وکړه او څه دنانیر یې غلا کړه چې په نتیجه کښې په دریاب کښې ژوندی وغورزولی شو او د ماهیانو خوراک شو[۳].

هـ: بل روایت وایي چې د بني سُلیم د قبیلې په یوه څنډه کښې ډېره شو او تر هغه وخته پورې یې د بوت عبادت کاوه ترڅو چې په همدې شرکي عقیده باندې مړ شو[۴] ـ والله ﷻ اعلم.

## تبصره

۹ـ مونږ ته همدغه وروستنی روایت په زړه پورې ښکاري ځکه چې دا ایت: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ ﴾ ورسره ښه پیوند نیسي.

---

(۱) تفسیر کبیر ج۱۱ ص۴۲

(۲) زاد المسیر ج۲ ص۱۹۲

(۳) البحر المحیط ج۳ ص۶۶

(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۸۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: ذکر شوی ايت شريف ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ ﴾ الآية خو په همدې سورت کښې يو ځل نازل شوی دی [النسـاء: ۴۸]. نو په دې کښې څه حکمت دی چې دوهم ځل په عين سورت کښې نازل شو؟

مونږ وايو چې:

الف: ځرنګه چې د مغفرت او نه مغفرت موضوع ډېره مهمه ده نو الله ﷻ په عين سورت کښې ورباندې تاکيد وکړ او دوه ايتونه يې پکښې نازل کړه[1].

مګر دا جواب چندان خوندور نه دی او په زړه کښې ښه نه کښېني.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ته يو اعرابي بوډا ورغی، عرض يې وکړ چې: يا نبي الله! زه بوډا ګناهګار يم، خو څه وخت مې چې ايمان راوړی دی د هغه څخه وروسته مې د الله ﷻ سره شريک نه دی جوړ کړی او نه مې د همده ﷻ څخه په غير بل څوک دوست نيولی دی، ګناهونه مې کړي دي خو دا مې هيڅکله په خيال کښې نه ده تېره شوې چې زه به د الله ﷻ څخه خپل خان خلاص کړی شم، او نه مې ګناهونه په همدې جرئت باندې کړي دي.

لنډه دا چې زه په ګناهونو باندې پښېمانه يم او توبه تائب يم، نو زما به څه حال وي. نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[2].

د دې جواب لنډيز دا دی چې ذکر شوی ايت شريف د شان نزول د تعدد په اعتبار سره تکراراً نازل شوی دی. او دا څه منافات نه لري چې د شان نزول واقعات ډېر وي، بلکې سلفو صالحينو به د ايتونو په مصداقونو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[3].

ج: مونږ د [البقرة:۱۲۲] ايت لاندې ليکلي دي چې د قرآن کريم په ايتونو کښې تکرار نشته نو په کومو ايتونو کښې چې ظاهراً تکرار ښکاري هلته په حقيقت کښې تکرار نه وي، اعتبارات او حيثيات يې بدل وي.

نو د همدې قانون په بناء مونږ وايو چې د [النسـاء:۴۸] ايت وړاندې او ورسته ايتونه د اهل الکتابو په باره کښې نازل شوي دي او د هغوی عقيده يې رد کړې ده چې خپل ځانونه مه تزکيه کوئ، الله ﷻ شرک نه بښي لکه چې تاسو يې مرتکب شوي ياست.

او دلته ټول بحث د مرتدانو په هکله دی، نو حاصل يې داسې کېږي چې الله ﷻ لکه څنګه چې اصلي کافرانو ته بښنه نه کوي، لکه يهود، نصارا او داسې نور، همدارنګه هغه خلک هم نه بښي

---

(۱) التفسير الکبير ج۱۱ ص۴۵

(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۴۸۰

(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د اسلام څخه مخ په شا شي او د کافرانو په کومې ډلې پورې ونښلي، لکه څنګه چې په شان نزول کښې ذکر شوی خائن یا سارق د مشرکانو پورې ونښت او د بوتانو په عبادت یې پیل وکړ، ترڅو چې توبه تائب نه شي او په خپلو کړو باندې پښېمانه نه شي.

د همدې کبله [۴۸] ایت په ﴿ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴾ سره تمام شوی دی یعنې: د اهل الکتابو د خپل ځانه تزکیه کول او الله ﷻ ته اولاد ثابتول لوی دروغ دي. او دلته په ﴿ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴾ سره ختم شو، یعنې څوک چې د اسلام لاره پرېږدي نو خپل ځان یې د ډېرو لویو کمرونو څخه وغورزاوه چې هیڅکله به سمه لاره مونده نه کړي.

﴿ إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿١١٨﴾ وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿١٢١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ﴿١٢٢﴾ ﴾

[۱۱۷] دوی (مشرکان) د الله ﷻ څخه په غیر د بل شي بلل نه کوي (عبادت یې نه کوي) مګر د بوتانو (چې د زنانه وو نومونه یې ورباندې ایښي دي)، او دوی بلنه نه کوي مګر د ګټې څخه د خالي شیطان.

[۱۱۸] په ده باندې الله ﷻ لعنت کړی دی (د خپل رحمت څخه لرې کړی دی).

او ده (شیطان په سوګند سره) ویلي دي چې زه به ستا د بندګانو څخه (د خپل متابعت دپاره) یوه برخه (معلومه) برخه واخلم.

[۱۱۹] او (زما دې سوګند وي) چې خامخا به ضرور دوی بې لارې کړم او خامخا به ضرور دوی ته (د دروغو) آرزوګانې ورکړم، او خامخا ضرور به په دوی باندې امر وکړم، نو خامخا دوی به ضرور (د غیر الله د نذر دپاره) د څارویو غوږونه پرې کړي، او خامخا ضرور به په دوی باندې امر وکړم، نو خامخا دوی به د خلق الله (شریعة الله) تغیر وکړي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هر څوک چې د الله ﷻ څخه په غیر شیطان په دوستۍ سره ونیسي، نو هغه تاواني شو ښکاره تاواني کېدل (ښکاره زیانمن کېدل).

[١٢٠] شیطان خو خلکو ته (د دروغو) وعدې ورکوي او (د دروغو) امیدونه وراچوي. او دوی ته شیطان هیڅ وعدې نه ورکوي مګر د غولونې (او هیڅ اُمیدونه نه وراچوي مګر د غولونې).

[١٢١] دغه ډله (شیطان او د ده پیروان) د دوی ټولو د اوسېدانې ځای دوزخ دی. او دوی به ترې خلاصون مونده نه کړي (او نه به ترې فرار وکړی شي).

[١٢٢] او هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه کوي (د شیطان د پیروۍ څخه اجتناب کوي) نو دوی به ډېر ژر داسې جنتونو ته ورداخل کړو چې لاندې به ترې (څلور) ویالې بهېږي، په داسې حال چې دوی به پکښې همېشه وي، همېشه.

(الله ﷻ وعده کړې ده) رښتیانې وعده (دا وعده د واقع سره مطابقه ده) د واقع سره مطابقه. او هغه څوک دی چې د الله ﷻ څخه د وینا په حیث زیات رښتینی وي؟ (هیڅوک نشته).

## ارتباطونه

١ـ وړاندېنې ایتونه د مشرکانو د حالت په بیان باندې ختم شوې وه، او دا ایتونه د شرک په بیان سره پیل کېږي چې مشرکان هغه خلک دي چې د بوتانو عبادت کوي نو څنګه به ورته الله ﷻ ښنه وکړي.

٢ـ هلته د شیطان د عملي کړنلارې بیان وه چې د اُبیرق زوی یې د هر څه څخه مخکښې په غلا او خیانت باندې اخته کړ او په نتیجه کښې یې په کفر او بوت پرستۍ باندې مبتلا کړ، او دلته د شیطان نظري پلان شرحه شوی دی چې د لعنتي کېدلو په وخت کښې یې سنجولی وه چې زه به انسانان په دې ډول او په هغه ډول باندې بې لارې کوم.

## د مطلب خلاصه

١ـ یعنې: الله ﷻ به څنګه شرک وبښي، حال دا چې مشرکان د الله ﷻ څخه په غیر د بوتانو عبادت کوي، داسې بوتان چې پخپله دوی د هغو څخه په ډېرو درجو سره بهتري لري، دوی انسانان او ژوندی مخلوق دي او بوتان بې روحه جمادات دي چې نه څه اوري او نه څه ګوري، د دوی څخه لا څه چې د خپلو ځانونو څخه هم نه د څه ضرر مخه نیولی شي او نه ورته ګټه رسولی شي.

٢ـ برسېره پر دې د شرم خبره یې لا دا ده چې د یو پلوه ورته د احترام دپاره سجدې کوي او د بله پلوه یې په ښځینه نومونو باندې یادوي، لکه لات، عُزی او داسې نور، حال دا چې دوی ته زنانه دومره سپکې ښکارې چې د مالونو په شان یې خرڅوي او په میراث کښې برخه نه ورکوي او حتی چې خپلې لورګانې ژوندۍ په خاورو باندې ننباسي.

نو اصلي خبره دا ده چې مشرکان هم په زړه کښې پوهېږي چې بوتان د عبادت لیاقت نه لري، خو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په سجده باندې ورته ځکه سرونه ښکته کوي چې دوی د بې خيره شيطان اطاعت کوي او هغوی دغه جاهلانه کار ته هڅوي. په هغه خو الله ﷻ لعنت کړی دی نو دوی هم ورسره په لعنتي کېدلو کښې ګډون کوي. او دا ځکه چې:

۳_ کله چې الله ﷻ شيطان لعنتي جوړ کړ نو په عين وخت کښې يې سوګند وکړ چې: ای الله! زه خو دې لعنتي کړم مګر د دغه لعنت لمبې به ضرور ستا بندګانو ته هم ورسېږي او د دوی يوه غټه ډله به هم د خپل ځان سره په لعنت کښې شريکه کړم، او د حقې لارې څخه به يې په لاندې فارمول سره بې لارې کړم:

الف: دوی ته به باطل اُميدونه ورکوم او د دروغو آرزوګانې به وراچوم.

ب: کله چې دوی په دروغينو وعدو باندې د خپل تسلط لاندې راولم نو بيا به په دوی باندې د سوال په توګه نه بلکې په آمرانه لهجه امر کوم چې د بوتانو د نذرانې دپاره د خپلو څارويو غوږونه څيرې کړي او د عبادت په توګه يې خوشې کړي، نو دوی به دا کار وکړي.

ج: او هم به په دوی باندې په حاکمانه ډول امر کوم چې دوی دې ضرور خلق الله ته تغير ورکړي او الهي شريعتونه دې د پښو لاندې کړي، نو دوی به دا کار هم وکړي.

دا وه د شيطان پلان چې د آدم ﷺ د پيدائښت په وخت کښې يې طرحه کړی وه او د قيامت د ورځې پورې په همدې پلان باندې خلک بې لارې کوي.

۴_ نو کله چې الله ﷻ د شيطان پلان افشاء کړ او د ده باطله کړنلاره يې خلکو ته ښه پوره واضحه هم کړه، نو چې بيا يې هم څوک په دوستۍ سره نيسي نو د هغه څخه به بل ساده او بې عقل ونه موندل شي، چې په ښکاره تاوان باندې سترګې پټوي او خپل ځان پکښې وراچوي.

نو تاسو يو ځل بيا واورئ چې شيطان په هيڅ باندې په زور کومه ګناه نه شي کولی او نه يې وسه کېږي، بلکې د شيطان ډېره غټه او قوي وسله صرف همدا ده چې خلکو ته وعدې او اوږده اميدونه ورکوي، حال دا چې نه يې وعدې د غولونې څخه بل شی دی او نه يې اميدونه د غولونې څخه بل شی دی.

او دا ځکه چې د شيطان او د ده د تابعانو د اوسېدانې ځای دوزخ دی او هيڅ يو کس به بې هم ترې خلاصون ونه مومي او نه به ترې ځان بچ کړی شي، نو هلته به غولولو شوو خلکو ته کيفيت ورڅرګند شي خو کار به د وخته تېر وي او فرصت به د لاسه وتلی وي.

۵_ مګر بالمقابل چې څوک د الله ﷻ په رښتينو وعدو باندې باور کوي او د ايمان سره نېک عملونه هم ملګري کړي نو ډېر ژر به يې داسې جنتونو ته ورداخل کړو چې لاندې به ترې څلور ډوله (اوبه، شوده، شات، شراب) ويالې بهېږي او د ابد الآباده پورې به پکښې اوسېږي او په هغه وخت کښې به په عين اليقين سره وګوري چې د الله ﷻ وعدې په حقه وې. او ولې به ذکر شوي جنتونه ورکوي؟ ايا داسې څوک شته چې د الله ﷻ څخه په خبرو کښې زيات رښتينی وي؟

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ د ﴿ إِنَٰثًا ﴾ کلمه د "أُنثى" د کلمې جمعه ده[۱] چې د "زنانه" معنی ورکوي او په مقابل کښې يې "ذَکَرْ" يعنې نارينه استعمالېږي.

مګر په دې مقام کښې يې مفسرينو کرامو لاندې متعددې معناوې کړې دي[۲]:

الف: د ﴿ إِنَٰثًا ﴾ کلمه د بوتانو د نومونو څخه عبارت ده لکه لات، عُزی، منات او داسې نور، چې ټول مونث دي.

ب: د ﴿ إِنَٰثًا ﴾ کلمه د "اوثاناً" په معنی سره ده.

ج: د ﴿ إِنَٰثًا ﴾ کلمه د "أَمْوَات" معنی ورکوي. يعنې هر شی چې روح ونه لري، لکه ډبره، ونه او داسې نور. څکه چې د غو ټولو ته د مونث ضمائر راجع کېږي، لکه چې عرب وايي: "الْأَحْجَارُ تُعْجِبُنِي" ډبرې مې په تعجب کښې اچوي.

د: مشرکانو ملائک د بنات الله په نامه باندې يادول نو دلته ترې ملائک مراد دي. يعنې دوی د هغه چا عبادت کوي چې پخپله وربانديې د بنات الله نوم ږدي او په مونثو نومونو باندې يې يادوي.

مونږ د ننګرهار ولايت د هډې د کلي په عتيقه آثارو کښې ليدلي دي چې د بودا د زمانې بوت پرستانو خپل بوتان د زنانه وو په شکل جوړ کړي وه. نو څه لرې نه ده چې د نبي کريم ﷺ د زمانې ځينې بوت پرستانو هم د بودايانو په څېر عمل کړی وي او په ايت شريف کښې همدغو ښځينه مجسمو ته اشاره وي.

## تبصره

۲ـ مونږ ته داسې برېښي چې د ذکر شوي څلورم تفسير مرجع هم بتانو ته کېږي. او دا څکه چې: کومو مشرکانو چې ملائک پرستي کوله هغوی به خپلو اټکلونو سره د ملائکو مجسمې جوړې کړې وې او د بوتانو په توګه به يې ورته عبادت کاوه.

نو په دې اعتبار سره ذکر شوي پنځه واړه تفسيرونه يوه شي ته رجوع کوي چې د ﴿ إِنَٰثًا ﴾ کلمه د بوتانو څخه عبارت ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: مشرکان د بوتانو څخه په غير د بل شي عبادت نه کوي چې شيطان ورته لارښوونه کوي.

## سوال جواب

**۳ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې بوتان په خپل نامه (أوثان) باندې ياد نه شوه او په ﴿ إِنَٰثًا ﴾ سره تعبير کړی شوه؟**

---

[۱] تفسير ابي السعود ج۲ ص۲۳۳
[۲] زاد المسير ج۲ ص۱۹۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

مونږ وايو چې: دا د دې دپاره ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د مشرکانو زيات حماقت ته اشاره وکړی شي، چې دوی د يو پلوه د تعظيم دپاره د بوتانو عبادت کوي او د بله پلوه يې د "نسوانو" په نامه يادوي چې دوی ته د ير حقير او سپک مخلوق ښکاري، حتی چې په ژوندي خښولو باندې يې هم صرفه نه کوي.

## مَرِيد څه معنی؟

۴ـ د "مَرِيد" کلمه د "مَرَدَاه" د کلمې د اصلي حرفونو څخه اخستله شوي ده، "مَرَدَاه" هغه شګو ته وايي چې څه نبات نه زرغونوي. او "اَمْرَد" هغې ونې ته وايي چې د پاڼو څخه لوڅه وي، او يا هغه هلک ته وايي چې وېره يې نه وي راغلې او د وېښتانو څخه بربنډ وي[1].

شيطان ځکه د "مَرِيد" په نامه باندې ياد شوی دی چې هغه د هر خير څخه خالي دی او د الله ﷻ د اطاعت او رحمت څخه لوڅ پوڅ دی او د الله ﷻ په غضب باندې ککړ دی.

## پنځه قسمونه

۵ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د شيطان د خولې څخه په لاندې پنځو خبرو باندې قسمونه حکايت کړه، ځکه چې په پنځو واړو جملو کښې لامونه د قسم دپاره دي[2] چې حاصل يې داسې راځي:

الف: قسم دی چې ستا د بندګانو څخه به خپل ځان ته يو ټولګی راښکل کړم.

ب: قسم دی چې ستا بندګان به بې لارې کړم.

ج: قسم دی چې دوی ته به د دروغو اُميدونه ورکړم.

د: قسم دی چې دوی ته به امر وکړم چې په خپلو مالونو کښې د غير الله په نوم نذرونه کېږدي.

هـ: قسم دی چې دوی ته به امر وکړم چې دوی خلق الله (د الله ﷻ شرائعو) ته تغير ورکړي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: ذکر شوي پنځه واړه قسمونه خو په مصداق کښې ټول متحد دي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې يوازې په ﴿ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ ﴾ باندې مثلاً اکتفاء ونه کړی شوه؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ کلام خو فصيح او بليغ کلام دی او د واقع سره مطابق او د حال د غوښتنې سره موافق دی. نو څرنګه چې شيطان په خپلو قسمونو کښې په يوه قسم باندې اکتفاء نه وه کړې نو الله ﷻ هم د يوه قسم په حکايت باندې اکتفاء ونه کړه.

باقي شوه دا خبره چې شيطان ولې په يوه قسم باندې اکتفاء ونه کړه؟

نو د دې جواب دا دی چې: مونږ خو هيڅکله دعوه نه ده کړې چې د شيطان په کلام کښې تکرار نشته. څوک يې چې دعوه کوي همغه دې ورته جواب هم ورکړي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۸۶

(۲) تفسير القاسمي ج۵ ص ۴۸۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدې کبله شیطان زیات تاند وهي چې په غیر شرعي کارونو کښې د سړي څخه حارص جوړ کړي، کله چې څوک په ناجائز شي باندې حارص شي نو بیا د هغه په لاس ته راوړلو کښې په هیڅ شي باندې دریغ نه کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف کله چې عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) په مشرۍ حریص وه نو څکه یې د وروستني سلګۍ پورې د نبي کریم ﷺ سره د منافقت او هم د نبي کریم ﷺ د عداوت څخه لاس وانخیست.

په یوه اوږده حدیث کښې سعد بن عبادة ﷺ نبي کریم ﷺ ته ووېلې چې: یا رسول الله! د نوموړي منافق په بده وضعه باندې مه غمژن کېږه، څکه چې ستا د راتګ (هجرت) څخه لږ وړاندې د دې وطن (مدینې منورې) خلکو تصمیم نیولی وه چې هغه ته په سر باندې د مشرۍ تاج کېږدي، خو ستا په راتګ سره نوموړی د تاج څخه محروم شو نو څکه درسره کینه او عداوت کوي[1].

ب کله چې څوک په مال باندې حارص شي نو هغه بیا زکات نه ورکوي او په غلا او غصب او نورو ناجائزو وسائلو باندې صرفه نه کوي ترڅو حېل خان ته ثروت راغونډ کړي.

ج څوک چې په چوکۍ باندې حارص شي هغه ضرور د بې شماره قتلونو مرتکب کېږي. لکه چې همدغه صحنه روزمره زموږ د نظره تیرېږي[2] چې د افغانستان په زرګونو بې ګناه خلک د څو کسانو د چوکیو څخه لوږۍ شوه او لا جنګ روان دی شنې لوخړې یې خېژي. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## د خارویو غوږونه پرې کول

۹ـ د نذرونو په باره کښې (چې په څو ډوله دي او څه حکمونه لري) موږ د [البقرة ۲۷۰] ایت لاندې ښه څوندور بحث لیکلی دی. په دې مقام کښې همدومره اضافه کوو چې د خارویو د غوږونو پرې کول د ناجائز نذر یوې خاصې نوعې ته اشاره ده چې د ایتونو د نزول په وخت کښې ورباندې خلک مبتلا وه، د دې نوعې پوره بحث د [المائدة ۱۰۳] ایت لاندې ـ إن شاء الله ـ راروان دی.

## د خلق الله تغیر د څه شي څخه عبارت دی؟

۱۰ـ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو[3] خلق الله ته د تغیر ورکولو ګڼ شمېر معناوې کړې دي مثلاً

الف چې د شیطان په امر باندې په حلال حرام وګڼي او بالعکس حرامو ته به د حلالو لقب ورکړي

ب د أنس بن مالک ﷺ څخه روایت دی چې ذکر شوی تغیر د نارینه وو د خصي کولو څخه عبارت دی

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۴

(۲) ۱۳۷۳/۱/۴ هـ ش سنه

(۳) زاد المسير ج۲ ص۱۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: عبد الله بن مسعود ﷺ د خلق الله تغير د وشم (خال وهلو) څخه عبارت بولي، البته هغه خال چې په غوبنه کښې خاى ونيسي او د بدن جزء جوړ شي.

د: عطاء رحمة الله عليه وايي چې دوى به د الله ﷻ امر ته تغير ورکړي. يعنې په الهي کلام کښې به تحريف وکړي.

هـ: زجاج رحمة الله عليه وايي چې الله ﷻ خو لمر، سپوږمى او بالآخره کاني د انتفاع (ګټې اخستلو) دپاره پيدا کړي دي، نه د عبادت کولو دپاره؛ نو څوک چې د الله ﷻ مخلوق معبود وګرځوي او عبادت يې وکړي نو ته به وايي چې هغه ته يې تغير ورکړ او د خپل اصليت څخه يې واړاوه.

و: بالآخره ځينو مفسرينو کرامو[1] يې څه نور جنايات تفسير ګڼلې دي، لکه: زنا، لواطت، چې زنانه د خانه نارينه جوړ کړي، چې نارينه د خانه زنانه جوړه کړي او د هغې په څېره لباس واغوندي، چې څوک سپين وينبتان تور کړي.

اما د ډيرې سره کول پکښې شامل نه دي ځکه چې دا جنايت نه دى بلکې جائز دي.

## تبصره

۱۱ـ مونږ ته د شيخ المفسرين ابن جرير الطبري[2] تفسير په زړه پورى ښکاري چې خلق الله يې د دين الله ﷻ څخه عبارت ګڼلى دى. يعنې: شيطان قسم ياد کړ چې زه به خلکو ته امر وکړم چې دوى د الله ﷻ دين تغير او تبديل کړي، چې نه يې د حرامو څخه اجتناب وکړي او نه يې په واجباتو باندې عمل وکړي. مونږ دغه تفسير ځکه غوره کړ چې:

الف: الله ﷻ فرمايي: ﴿لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ﴾ [الروم: ٣٠] يعني: خلق الله مه تبديلوئ (تغير مه ورکوئ) دغه کار په پښو باندې ولاړ دين دى.

ب: دا تفسير عام دى، د شريعت څخه ټولو مخالفتونو ته په ټولو زمانو کښې شامل دى. علاوه په دې شيطان په يوه شرعي حکم باندې هم صرفه نه کوي ترڅو د پښو لاندې کړى شي، نو شايد چې په همدې خبره به يې قسم هم کړى وي.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وايي چې: ايا د څاروي خصي کول د خلق الله په تغير کښې شامل نه دي؟

مونږ وايو چې: وړاندې واضحه شوه چې د خلق الله په تغيرولو کښې هر يو فعل يا قول شامل دى چې شريعت ورته جواز نه وي ورکړى، نو په همدې بنياد د انسان خصي کول ناجائز او په ذکر شوي تغير کښې شامل دى ځکه شريعت جواز نه دى ورکړى، او د څارويو په خصي کولو کښې اختلاف دى، څوک يې چې جائز نه ګڼي هغوى ورته د خلق الله تغير وايي او څوک يې چې جائز ګڼي هغوى

---

(١) البحر المحيط ج٣ ص٧٢

(٢) تفسير الطبري ج٣ ص٢٨٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې پکښې شامل نه بولي، چې د څاروي خصي کول د هغه د غوښې دپاره مفيد واقع کېږي، بالعکس د انسان خصي کول لکه څنګه چې ناجائز کار دی او د مُثلې څخه شمېرل کېږي همدارنګه صحت ته هم ضرر کوي.

برسېره پر دې، نبي کريم ﷺ په منا کښې د حج په موسم کښې خصي پسونه هم ذبحه کړي دي(١). په دې موضوع کښې که څوک زيات تحقيق غواړي او فرصت لري نو څېنو تفاسيرو(٢) ته دې رجوع وکړي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۳ـ که څوک وايي چې: شيطان په څه دليل باندې اعتماد وکړ چې د انسانانو د ګمراه کولو تاکيد يې په سوګند سره وکړ چې زه به ضرور دوی ګمراه کړم. په هغه وخت کښې خو لا د آدم ﷺ زوزات نه وه موجود شوی؟

مونږ وايو چې شيطان د ګمراه کولو يقين نه درلود، بلکې په ګومان او اټکل سره يې ذکر شوي سوګندونه وکړه، لکه چې الله ﷻ د يوه ګمراه کړی شوي قوم په باره کښې فرمايي چې ﴿ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُۥ ﴾ [سبا: ۲۰] يعني او يقينًا په دوی باندې ابليس خپل ګومان رښتيا کړ.

مګر څرنګه چې د شيطان ټول کړه وړه غلط دي، نو د خپل ګومان څخه يې په داسې تاکيد سره اخبار وکړ ته به وايې چې د ده په ګمراه کولو باندې يې ګومان نه، بلکې يقين دی. دلته څېنو مفسرينو کرامو(٣) څه نور جوابونه هم کړي دي.

﴿ لَّيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ ۗ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدْ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٢٣﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ﴿١٢٤﴾ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبْرَٰهِيمَ خَلِيلًا ﴿١٢٥﴾ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطًا ﴿١٢٦﴾ ﴾

[۱۲۳] (د الله ﷻ وعده) نه ستاسو په آرزوګانو سره ده او نه د اهل الکتابو په آرزوګانو سره (بلکې په دې باره کښې قانون دا دی چې) هر څوک چې بد کار وکړي جزا به ورباندې ورکړی شي او

(١) سنن ابي داود ج۲ ص۳۰

(٢) تفسير زاد القرطبي ج۵ ص۳۹۰

(٣) زاد المسير ج۲ ص۱۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خپل خان دپاره به د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست مونده کړي او نه نصرت کوونکی.

[۱۲۴] او هرڅوک چې د نېکو عملونو څخه (څه اعمال) وکړي (دغه عمل کوونکی) د نارینه وو څخه عبارت وي او یا د ښځینه وو څخه، حال دا چې هغه مؤمن وي نو دغه ډله خلک به جنت ته ورداخل شي او د نقیر (د خُرما د زړي د چاود) په اندازه به پرې هم ظلم ونه کړی شي.

[۱۲۵] او هغه څوک دی چې د دین د حیثه د هغه چا څخه ډېر ښه وي چې الله ﷻ ته یې غاړه ایښې وي، حال دا چې ښه نېکوکار وي او د ابراهیم ﷺ د ملت په داسې حال کښې متابعت کوي چې هغه ﷺ حنیف دی (تولو باطلو ادیانو ته یې شا کړې ده)؟ (د ده څخه هیڅوک ښه نشته). او الله ﷻ ابراهیم ﷺ د سوچه دوست په حیث نیولی وه. (د ده ﷻ سوچه او مخلص دوست وه).

[۱۲۶] او خاص الله ﷻ لره هغه څه دي چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه دي چې په ځمکو کښې دي. او الله ﷻ (د علم او قدرت د حیثه) په هر شي باندې احاطه کړې ده.

## ارتباط

څرنګه چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د شیطان پلان شرحه شوی وه چې د خلکو د ګمراه کولو دپاره یې طرحه کړی وه، او په نوموړي پلان کښې کوم ټکی چې ډېر انسانان وربانديې تېروزي هغه دروغژنې ارزوګانې دي، نو په دې ایتونو کښې الله ﷻ خلک پوه کړه چې په دغو دروغژنو هیلو باندې ستاسو څه درد نه دوا کېږي ترڅو چې شریعت په خپلو ځانونو باندې عملي نه کړئ.

یا په بل عبارت: هلته د شیطان نظري پلان شرحه شوی وه او دلته د همدغه پلان پیاده کول توضیح شوي دي. یعنې: شیطان دروغژن دی خو په ذکر شوي پنځه فقره نیز پلان کښې ربښتینی دی چې د خلکو د بې لارې کولو دپاره یې ضرور په کار اچوي.

بالآخره، د ذکرو شوو ایتونو د جملې څخه په وروستني [۱۲۶] ایت کښې الله ﷻ لاندې شیانو ته اشاره کوي:

الف: ای انسانانو! د ټولې دنیا واک او اختیار الله ﷻ پورې مختص دی، نو تاسو مطمئن اوسئ چې شیطان تاسو په زور باندې نه شي ګمراه کولی او نه د دې کار اختیار لري.

ب: خو تاسو ښه چرت ووهئ چې ایا د ټولو عالمونو واکدار د عبادت او اطاعت لیاقت لري او که هغه څوک چې هغه ستاسو غوندې یو مخلوق دی چې د دروغژنو هیلو څخه په غیر یې هیڅ شی په واک کښې نشته؟

## شان نزول

د دې ایتونو په شان نزول کښې متعدد واقعات روایت شوي دي[۱] چې په عمده توګه په لاندې دوه ګروپونو ویشلي کېږي:

[۱] الدر المنثور ج۲ ص۶۹۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

۱ـ د مجاهد رحمه الله څخه روایت دی چې یوه ورځې عربو بوت پرستانو وویلې چې زموږ دین بهتر دی، چې نه به مبعوث کړی شو او نه به راسره حساب کتاب وکړی شي[۱] او یهودو او نصاراوو خپلو ادیانو ته د بهترۍ نسبت کاوه او هرې یوې ډلې عقیده څرګندوله چې جنت زموږ دپاره جوړ دی او بس.

۲ـ یو ځلې مسلمانان او اهل الکتاب سره په جګړه شوه او هرې یوې ډلې خپل-خپل دین د بلې ډلې څخه بهتر ګاڼه[۲].

په اول تقدیر باندې به ﴿ بِأَمَانِيِّكُمْ ﴾ مشرکان مخاطب ګرځولی کېږي او په دوهم تقدیر باندې د خطاب مخ مسلمانانو ته وراوړي.

## تبصره

که څه هم د احکامو په اعتبار سره د شان نزول خاصه واقعه د اعتبار وړ نه ده او د مفهوم عموم معتبر دی، او علاوه په دې، ټول روایتونه په خپلو منځو کښې څه اختلاف هم نه لري کېدلی شي چې ټولې واقعې به په هغه وخت کښې وراندې پېرته پېښې شوې وي، لکه چې الله ﷻ د مشرکانو او هم د اهل الکتابو ځینې واقعات بیان کړي مثلاً:

۱ـ الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ [سبا: ۳۵] یعني: مونږ د مالونو د حیثه او هم د اولادونو د حیثه ډېر یاستو او مونږ معذب کړی شوي نه یاستو (مونږ ته نه عذاب شته او نه به مبعوث کړی شو).

۲ـ او د اهل الکتابو د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ﴾ [البقرة: ۱۱۱] یعني: هیڅکله به جنت ته بل څوک داخل نه شي مګر هغه څوک چې یهودي وي او یا نصراني وي، دا د دوی دروغژن أمیدونه دي.

مګر د دې سره-سره مونږ ته داسې برېښي چې په ﴿ لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ ﴾ کښې به ټول مسلمانان مخاطب وي او په ﴿ لَيْسَ ﴾ کښې به ضمیر هغې وعدې ته راجع وي چې په ﴿ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ﴾ کښې نژدې ذکر ده. نو د معنی حاصل یې لاندې لوستلی شی:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای محمدي (ﷺ) امتـه! الله ﷻ خو ستاسو سره جنت ته د ورداخلولو وعده کړې ده، همدغې وعدې ته په شرعي چوکاټ کښې په تمه اوسئ.

هو! بې د شرعي چوکاټ او شرعي برهان څخه جنت ته داخلېدل او د دوزخ څخه نجات موندل محض باطلې آرزوګانې او دروغژنې هیلې دي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص ۴۸۲

(۲) اسباب النزول للواحدي ص ۱۲۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه اې مسلمانانو! نه ستاسو محضې آرزوګانې د اعتبار وړ دي او نه د اهل الکتابو محضې آرزوګانې اعتبار لري. ځکه هيڅ ډله په محضو آرزوګانو باندې نجات نه شي موندلی او نه هيڅ ډله د دې کبله نورو ډلو ته ګمراه ويلای شي چې د مقابل طرف څخه وړاندې د ګمراه نه ويلای شي.

۲_ نو په دې ولس کې چې نجات او عدم نجات د الله ﷻ په قانون سره په لاس کې دی، هيڅ ګمان باندې بنا دي.

الف: هر څوک چې بد کار وکړي هغه ته به جزا ورکول کيږي، بد کار د هر چا لپاره بد دی، خاص په دې ډله چې ستاسو په خپل خيال په بد کار باندې به سزا نه ورکول کيږي او نور ورته سزا ورکول کيږي.

حقيقت دا دی چې ستاسو څخه چې څوک هم بد کار وکړي په ګناه باندې ملوث نه شي هغه به يا په خپلو صالحو اسلامي اعمالو باندې داسې وي چې په الله ﷻ باندې به هم په زړه سره وبښي او يا به په خپلو بخښلو عذابونو ته په هغه وي چې حتمي به د دغه شفاعت وکړي مګر هيڅ خاص نه دی، د الله ﷻ د جزا څخه څوک نه دومره دوست هم نشته چې په شفاعت سره ئې د جزا څخه وباسي او نه چا ته کومک کوونکی شته چې په زور سره ئې د الله ﷻ د عذاب څخه خلاص کړي.

هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ خپلو نېکو بندګانو ته اجازه ورکړي چې د ګناهګارانو لپاره شفاعت وکړي او يا الله ﷻ په خپل فضل باندې د چا ګناه وبښي مګر د کفر په باره کښې الله ﷻ نه چا ته د شفاعت اجازه ورکوي او نه د شرعي ټريبي څخه په شي چا ته د کفر څخه تيريږي، مګر دا قانون هم پيغمبر ته او ځانو پيغمبرانو ته اختصاص نه لري او ټولو انسانانو ته په ټولو زمانو کښې شامل دی.

ب: او هر څوک چې نېک عملي کوي حال دا چې مؤمن وي نو ګه نارينه وي او که ښځينه، که په هر نژاد او هره زمانه کښې وي نو دوی به جنت ته داخل کړي او ذره ګير ظلم به هم ورباندې ونه کړل شي.

۳_ خو په ايمان او نېک عمل کښې هغه معيار د اعتبار وړ دی کوم چې الله ﷻ د "بِرٌ لَكُم" تعليمات زيږ "نزيات يا کمي" پيغمبرانو سره په ذريعه ځکه نه استولی دی، نو په کار دي چې هر څوک په همدغه معيار او تله باندې خپل ايمان او خپله نېک عملي وتلي چې په دې کښې پاتيدی برابر دي او که نه.

په دې معيار کښې نه د انسانانو شاباس څه اثر لري او نه د دوی نفرت او تهمتي کول څه اثر درلودلی شي.

۴_ ذکر شوی اسماني معيار د ابراهيم ﷺ په کړو وړو کښې داسې منعکس شوی دی او ټول انسانان هغه ته په درنه سترګه ګوري چې ابراهيمي دين حق دين دی، دا خبره بالکل درسته ده، خو د ابراهيم ﷺ دين نه يهوديت، نه نصرانيت او حتی نه شرک وه، بلکې ابراهيم ﷺ ټولو باطلو اديانو ته شا ګرځولې وه او خپل رب ﷻ ته ئې مخ اړولی وه نو ځکه الله ﷻ خپل ځان ته د يو دوست په

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صفت قبول کړی وه. نو که تاسو غواړئ چې خپل اختلاف او جګړه د منځه يوسئ؛ چې کومه يو ناله په حقه ده، نو خپل ځانونه په ابراهيمي معيار باندې وتلئ؛

نو د هغه شخص څخه به بل څوک په دين کښې ښائسته او مصطفی دی چې د ابراهيم ﷺ په شان خپل ځان الله ﷻ ته منقاد جوړ کړي او لکه څنګه يې چې په همدې معيار باندې خپله عقيده برابره کړې وي همدارنګه يې عمل هم په همدې معيار باندې برابر وي، ټولو باطلو اديانو ته شا کړي او بوازې د وحدانيت په عقيده کلک شي

نو ښکاره ده لکه څنګه چې ابراهيم ﷺ ته الله ﷻ د خليل الله لقب ورکړی وه، د درجاتو په تفاوت سره به هغه خلک هم اولياء الله جوړ شي چې د همده ﷺ په لار باندې روان وي، چې د همدې جملې څخه همدا پيغمبر (محمد ﷺ) او د ده پيروان هم دي

۵ـ په دې ټولو باندې د پاسه د خپلو نظرياتي او فکري اصلاح دپاره دا فارمول د ځانونو سره په ياد ولرئ چې هر څوک چې د ټولې دنيا بلکې د ټول عالم خالق او مالک دی، همغه ﷻ په حقه معبود هم دی او پوره واضحه ده چې ټول عالمونه الله ﷻ پيدا کړي دي او د همده ﷻ د ارادې لاندې دي او بالآخره د همده ﷻ علم ورباندې احاطه کړې ده، شيطان نه څوک پيدا کولی شي او نه يې په څه شي باندې واکداري چلېږي او نه محيط علم لري؛ نو د الله ﷻ عبادت پرېښودل او د شيطان عبادت کول څومره لويه بې عقلي او څومره لويه (نه عفوه کېدونکې) خطاکاري ده

## توضيحات

۱ـ په ذکر شوو ايتونو کښې جنت ته د داخلېدلو هغه قانون بيان شوی دی چې د [البقرة ۱۱۲] ايت کښې ورته اشاره شوې ده، ترڅو د يو پلوه غير مسلماني طائفې ايمان راوړلو ته ترغيب شي او د بله پلوه مسلمانان هم په غوږ ووهل شي چې د اهل الکتابو په شان صرف د مسلماني په نوم باندې ونه غولېږي چې نه يې عقيده برابره وي او نه يې عمل

## شيطاني هيلې کومې هيلې دي؟

۲ـ هغو هيلو ته شيطاني هيلې او آرزوګانې ويلې شو چې بنياد يې په کوم دليل او برهان باندې ولاړ نه وي، د همدې کبله الله ﷻ د اهل الکتابو څخه برهان او دليل وغوښت چې ﴿قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ [البقرة ۱۱۱] ورته ووايه (اې پيغمبره!) چې برهان مو راوړئ که تاسو رښتيني یاست يعنې بالفرض که تاسو په برهان باندې اتکاء ولرئ نو بيا به مو هيلې او آرزوګانې شيطاني نه وي

## يادونه

۳ـ مونږ د [النساء ۳۱] ايت لاندې ليکلي دي چې د ګناهونو د مغفرت پنځه سببونه دي چې ټول په نصوصو او براهينو باندې اتکاء لري، د همدغو اسبابو د جملې څخه د شفاعت کوونکې شفاعت

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یا صرف د الله ﷻ لطف هم دی که څه هم توبه تائب نه شي، خو دا پکښې شرط ده چې ګناه باید د کفر څخه رابنکته وي، ځکه چې کفر بې د شرعي توبې څخه نه بښلی کېږي.

دا د أهل السنة والجماعة عقیده ده چې په براهینو (دلائلو) باندې ولاړه ده، نو څوک چې په همدې عقیده باندې نه دي او وايي چې د توبې څخه په غیر ګناه نه بښله کېږي، او یا وايي چې په شفاعت سره هیڅ مجرم د دوزخ څخه بېرته نه شي راوتلی[١]، نو هغوی د أهل السنة والجماعة څخه نه شمېرل کېږي، بلکې هغوی د معتزله وو په لقب باندې یادېږي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د همدې ایت شریف ﴿ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ ﴾ څخه څرګندېږي چې ګناهونه بښل کېږي نه، بلکې ضرور به پرې جزا ورکولی کېږي؟

مونږ وایو چې مفسرینو کرامو همدغه سوال ته لاندې جوابونه کړي دي:

الف: په ﴿ يُجْزَ بِهِۦ ﴾ کښې د جزا څخه مطلب دا نه دی چې ضرور به یې دوزخ ته داخلوي، بلکې مطلب پکښې دا دی چې کافران به دوزخ ته داخل کړي او مسلمانانو جنایتکارانو ته به د ثوابونو په کمبود سره جزا ورکړي[٢].

مګر دا جواب چندان زړه ته نه لوېږي او غیر متبادر دی.

ب: په ﴿ يُجْزَ بِهِۦ ﴾ کښې صرف د کافرانو جزا مطلب ده، د همدې کبله ایت شریف په ﴿ وَلَا يَجِدْ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ سره اختتام موندلی دی، چې کافران نه دوست لري او نه کومکي، الله ﷻ خو د مؤمنانو هم دوست دی او هم نصرت کوونکی[٣].

مګر په دې جواب باندې هم د سړي سر نه خلاصېږي ځکه چې کله الله ﷻ یوه مسلمان جنایتکار ته د جزا ورکولو اراده وکړي نو همدغه مسلمان جنایتکار ته به هم نه کومکي وموندلی شي او نه دوست.

ج: دلته عامه جزا مراده ده، برابره خبره ده چې په دنیا کښې وي او که په آخرت کښې، نو بنا په دې د مسلمانانو د زیاتو جنایتونو جزا په دنیا کښې په مصائبو باندې ورکوله کېږي او آخرت ته یې څه نه پاتې کېږي، اما د کافرانو جزا ټوله په آخرت کښې ورکوله کېږي.

دا جواب جمهورو علماوو کرامو خوښ کړی دی[٤] چې څه وضاحت یې په لاندې احادیثو کښې وړاندې کوو:

---

(١) تفسیر الکشاف ج١ ص٥٦٦
(٢) التفسیر الکبیر ج١١ ص٥٣
(٣) تفسیر القاسمي ج٥ ص٤٨٦: روح المعاني ج٥ ص١٥٣
(٤) البحر المحیط ج٣ ص٧٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ الْمُسْلِمَ إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا عَنْهُ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا»[١] يعني: هيڅ مصيبت نه دی چې يوه مسلمان ته ورسېږي مگر الله ﷻ به ترې په همدې مصيبت سره ګناهونه ورژوي، آن تر اغزي پورې چې په بدن کښې يې داخل کړی شي (ورباندې اذيت شي).

دوهم: کله چې ذکر شوی ايت شريف نازل شو او أبو بکر الصديق ﷺ واورېده نو وېې ويلې چې: دغه ايت خو مې په ملا کښې ټک وکړ (ملا يې راباندې ماته کړه). نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «أَمَّا أَنْتَ يَا أَبَا بَكْرٍ وَالْمُؤْمِنُونَ فَتُجْزَوْنَ بِذَلِكَ فِي الدُّنْيَا حَتَّى تَلْقَوْا اللهَ وَلَيْسَ لَكُمْ ذُنُوبٌ وَأَمَّا الْآخَرُونَ فَيَجْتَمِعُ ذَلِكَ لَهُمْ حَتَّى يُجْزَوْا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[٢] يعني: هر چې ته او مؤمنان ياست ای ابا بکره! نو په دې (ګناهونو) سره به په دنيا کښې جزا درکړی شي، حتی چې د الله ﷻ سره به ملاقي شئ او په تاسو پورې به هيڅ ګناه نه وي، او هر چې نور دي (يعنې کافران) نو دوی ته به هغه ټول راغونډ کړی شي تردې چې د قيامت په ورځ به ورباندې مجازات کړی شي.

که څه هم د ذکر شوي مضمون په اړوند زښت ډېر احاديث روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو راغونډ کړي دي[٣] او ټول د تقدير وړ دي مگر ذکر شوی سوال ورباندې نه جوابېږي. ځکه پوښتنه خو دا ده چې د ايت شريف څخه د جزا ضروريتوب معلومېږي حال دا چې د أهل السنة والجماعة عقيده دا ده چې الله ﷻ کله-کله د کفر څخه پرته نورې ګناهونه ښښي نو جزا حتمي او ضروري نه ده.

مونږ ته هغه جواب ښه ښکاري کوم چې د کلام د سياق او سباق څخه څرګندېږي هغه دا دی چې د ﴿مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ﴾ جمله د ﴿لَّيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ﴾ د جملې دپاره د يوه برهان په صفت نازله شوې ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای خلکو! د ګناه په باره کښې د الله ﷻ قانون دا دی چې هرڅوک څه بد کار وکړي هغه ته به جزا ورکړی شي. نو د دې قانون څخه هغه خلک وتلي دي چې هغوی ترې الله ﷻ ويستلي وي، هسې نه چې څوک د خپله ځانه سره خيال وکړي او ووايي چې زه د دې قانون څخه وتلی يم، حال دا چې څه شرعي دليل يې په لاس کښې موجوديت ونه لري. يا په بل عبارت: په ايت شريف کښې په ګناه باندې د نيولو قانون بيان شوی دی او د مغفرت ذکر شوي پنځه اسباب پخپله الله ﷻ د ذکر شوي قانون څخه استثناء کړي دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

**٥_** که څوک وايي چې: د ذکر شوي قانون څخه د مغفرت پنځه اسباب چې د [النساء:٣١] ايت لاندې بيان شوي دي په کوم دليل باندې استثناء شوي دي؟

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٨٤٣

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٣٤

(٣) الدر المنثور ج٢ ص٢٩٨؛ تفسير ابن کثير ج١ ص٥٥٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ګناه په باره کښې چې هرڅوک لاندې درې ايتونه قرائت کړي او بيا احاديثو ته مراجعه وکړي نو هغه به پوه شي چې بې شکه ذکر شوی قانون ذکر شوې پنځه استثناګانې لري، ايتونه دا دي.

الف ﴿ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ ﴾ هرڅوک چې ګناه وکړي جزا به پرې ورکړی شي. په دې ايت کښې د مغفرت ټولې دروازې تړلې شوې دي.

ب ﴿ قُلْ يَـٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ [الزمر: ۵۳] يعني: (اې پيغمبره! زما د پلوه خپل امت ته) ووايه چې اې زما هغو بندګانو چې په خپلو ځانونو باندې يې تجاوز کړی دی (او په ګناه کښې يې واقع کړي دي)! د الله ﷻ د رحمت څخه مه نااُميده کېږئ، يقيناً الله ﷻ ټول ګناهونه ښښي (او) بې شکه الله ﷻ همدی ﷻ غفور (او) رحيم دی.

په دې ايت کښې د مغفرت ټولې دروازې په إشارة النص سره پرانستې دي او جزا ورکولو ته هيڅ موقع نه ده پرېښودله شوې.

که بالفرض الله ﷻ د ذکرو شوو دوارو ايتونو وضاحت پخپله نه وی کړی نو يقيناً مونږ به پکښې متحير شوي وی، خو الله ﷻ فضل کړی دی او د دوارو ايتونو بيان يې په لاندې ايت کښې څرګند کړی دی.

ج ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾ [النساء: ۱۱۶] يعني: بې شکه الله ﷻ دا ګناه هېڅکله نه ښښي چې د ده ﷻ سره شريک ودرولی شي، او د دې (کفر) څخه په غير هغه چا ته ښښنه کوي چې هغه ته يې د ښښنې اراده وشي. او ښکاره ده چې په ﴿ لِمَن يَشَآءُ ﴾ کښې د مغفرت پنځه واړه أسباب شامل دي او بې شماره احاديث پکښې روايت شوي دي.

هو! کله يې چې اراده وشي، برسېره پر مغفرت، په نېکيو باندې هم ګناهونه تبديلوي، لکه چې فرمايي: ﴿ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَـٰتٍ ﴾ [الفرقان: ۷۰] يعني: د هغو خلکو چې ايمان راوړي او نېک عمل وکړي نو الله ﷻ به يې ګناهونه (برسېره په مغفرت) په نېکيو باندې (هم) تبديل کړي.

## يادونه

۶- مونږ د الله ﷻ په توفيق د "نقير" په باره کښې د [النساء ۴۹] ايت لاندې او د ﴿ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ په اړوند د [البقرة: ۱۱۲] ايت لاندې او د "حنيف" په هکله د [البقرة: ۱۳۵] ايت لاندې په زړه پورې تحقيقونه کړي دي چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه وينو.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## خلیل څه معنی؟

۷_ د "خلیل" کلمه د "خُلّة" څخه اخستله شوې ده او "خُلّة" په معنی د سوچه دوستۍ او محبت سره ده، نو خلیل هغه دوست ته ویل کېږي چې په دوستۍ کښې یې څه خلل او نقصان نه وي[1].

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د "خلیلُ الله" (چې د ابراهیم ﷺ لقب دی) او د "حَبیبُ الله" (چې د نبي کریم ﷺ لقب دی) په منځکښې څه فرقونه کړي دي او یا په همدغو دواړو لقبونو پورې مربوط یې څه نور بحثونه هم لیکلي دي[2]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ فقط همدومره لیکو چې ټول پیغمبران علیهم السلام په دې کښې یو برابر دي چې دوی ټول د الله ﷻ د پلوه د خلکو د هدایت دپاره را استولي شوي دي، مګر د نبوت څخه په غیر په درجاتو کښې د الله ﷻ په نزد تفاوت لري، لکه چې د [البقرة: ۲۵۳] ایت لاندې یې څه بحث تېر شوی دی.

په دې باندې علاوه، ځینې پیغمبران علیهم السلام په څه خاصو القابو باندې هم شهرت لري خو د دې القابو شهرت په دې معنی باندې نه دی چې د نورو پیغمبرانو بل یو کس هم د هغو القابو مصداق نه شي جوړېدلی، مثلاً:

موسی ﷺ د "کَلیمُ الله" په لقب باندې شهرت لري خو د "کَلیمُ الله" مصداق یوازې په موسی ﷺ کښې حصر نه دی، بلکې نبي کریم ﷺ هم "کَلیمُ الله" دی خو شهرت ورباندې نه لري.

ابراهیم ﷺ په "خلیلُ الله" سره شهرت لري خو د دغه لقب دپاره هر یو پیغمبر مصداق جوړېږي.

همدارنګه "صَفيُّ الله" د آدم ﷺ دپاره مشهور لقب دی مګر "صَفيُّ الله" (د الله ﷻ غوره کړی شوی) په هر یو پیغمبر باندې صادقېږي.

نو د دې ټول بحث نتیجه دا ده چې د پیغمبرانو علیهم السلام په القابو کښې دا خبره چندان ضرور نه ده چې د تفاضل په اعتبار سره پکښې اوږد بحث وکړی شي، د همدې کبله ترې مونږ صرف نظر شو.

﴿ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ فِي يَتَٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَٰمَىٰ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾ ﴾

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۸۲

(۲) روح المعاني ج۵ ص۱۵۵؛ تفسیر القاسمي ج۵ ص۴۹۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۲۷] او (ای پیغمبره!) دوی ستا څخه د زنانه وو په باره کښې فتوی (قوي حکم) غواړي. (ورته) ووایه چې د دوی په باره کښې الله ﷻ فتوی درکوي (چې نوي ایتونه نازل کړي او یا په احادیثو کښې شرحه ورکړي) او هغه ایتونه (هم فتوی درکوي) چې (پخوا نازل شوي دي او) په قرآن کښې په تاسو باندې لوستل کېږي.

(دغه ایتونه) د هغو پلار مړو زنانه وو په باره کښې (نازل شوی دی) چې تاسو هغوی ته هغه څه (د میراث حق) نه ورکوئ چې الله ﷻ ورته فرض کړی دی. او (هم د هغو زنانه وو په باره کښې نازل شوي) چې تاسو د هغوی د نکاح کولو څخه ځنګ کوئ (خو بل چا ته یې هم نه پرېږدئ او یا تاسو د هغوی نکاح کولو ته مینه لرئ خو مهر نه ورکوئ).

او (هم) د ناچارو په باره کښې (نازل دي) چې د ماشومانو څخه عبارت دی، او (بل په دې باره کښې نازل دي) چې تاسو (د) یتیمانو (هر شي) ته په انصاف سره ودرېږئ.

او هرڅه چې تاسو وکړئ چې د هر خیر څخه عبارت وي نو یقیناً الله ﷻورباندې پوه دی (بې اجره به مو پرېنږدي).

## شان نزول

د ذکر شوي ایت په شان نزول کښې مفسرینو کرامو متعدد روایات ذکر کړي دي[۱] چې مونږ لاندې خو روایتونه د مثال په توګه لیکو:

الف: د جاهلیت په زمانه کښې زنانه وو او ماشومانو ته چا په میراث کښې برخه نه ورکوله، نو کله چې الله ﷻ د میراث ایتونه نازل کړه او زنانه او ماشومان یې هم د برخو خاوندان جوړ کړه نو دا حکم په خلکو باندې دروند تمام شو او د نبي کریم ﷺ څخه یې د استفتاء په توګه پوښتنه وکړه، ته به وایي چې د نوموړي حکم نسخه یا تبدیلي غواړي[۲].

ب: په هغه وخت کښې به چې د کومې انجلۍ پلار وفات شو نو د مړي وارثانو به ورسره لاندې چال چلند کاوه[۳]:

اول: که انجلۍ به ښائسته وه او د کوم وارث به خوښه شوه نو پخپله به یې په نکاح اخستله، خو چې انجلۍ به څه مال درلود هغه به یې ترې خوړ او مهر به یې نه ورکاوه.

دوهم: او که پخپله به یې د هغې نکاح کولو ته خوښه رانغله نو بل چا ته به یې هم په نکاح نه ورکوله ترڅو به چې وفاته شوه او د انجلۍ د پلار وارث ته به همدا مظلومه میراثه شوه.

په هر تقدیر کله چې د مهر د وجوب ایتونه نازل شوه نو دوی د ښه وضاحت دپاره نبي کریم ﷺ ته همدغه موضوع وړاندې کړه او د نهایي حکم غوښتنه یې ترې وکړه.

---

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۲۰۰

(۲) الدر المنثور ج۲ ص۷۰۷؛ روح المعاني ج۵ ص۱۵۹

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې په اثبات رسوله شوې وه چې د همغه چا دین د الله ﷻ په نزد باندې مقبول دی چې د ابراهیم ﷺ په شان یې الله ﷻ ته غاړه ایښې وي او د ټولو باطلو ادیانو څخه یې مخ اړولی وي، په دې ایتونو کښې د ذکر شوې ابراهیمي انقیاد نمونه ښودله شوې ده چې پلارنې دودونه د پښو لاندې کړي، که څه هم دا کار یې په طبیعت باندې ډېر دروند تمامېږي خو صرف د الله ﷻ د رضا حاصلولو په غرض د شرعي احکامو په باره کښې د نبي کریم ﷺ څخه فتواګانې غواړي چې په خپل خان باندې یې عملي کړي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! مؤمنان خو ستا څخه د زنانه وو په باره کښې فتواګانې غواړي چې د دوی په میراث کښې برخه څنګه او څومره ده؟

نو مؤمنانو ته جواب ورکړه چې: د زنانه په باره کښې خو الله ﷻ تاسو ته فتوی درکوي چې ځینې فتواګانې زما په ژبه درته واضحه کوي او ځینې به د نن څخه وروسته درته په قرآن کښې درنازلې کړي، اما د دې سره-سره تاسو ته هغه ایتونه هم فتواګانې درکوي چې په دې باره کښې د نن څخه وړاندې درنازل شوي دي او په تاسو باندې روزمره په قرآن کښې لوستل کېږي چې هم یې په لمونځونو کښې قرائت کوئ او هم یې بدون د لمونځونو څخه لولوئ. نو په دې عوض چې د الله ﷻ پیغمبر ته بیا بیا مراجعه وکړئ باید چې تاسو خپل کتاب (قرآن کریم) ته ورتاو شئ او په بیا بیا لوستلو سره یې خپل مشکلات حل کړئ او فتواګانې ترې وغواړئ. ایا دا د خپل پیغمبر ﷺ په زحمت کښې اچول نه دي چې د خپلو معلوماتو سره-سره ترې مجدداً او مکرراً فتواګانې غواړئ؟.

۲ـ ای مؤمنانو! په یاد ولرئ چې په قرآن کریم کښې ستاسو ټول مشکلات حل شوي دي او حل کېږي، نو که تاسو د خپلو قضایاوو د هوارولو دپاره قرآن کریم ته مراجعه وکړئ نو ستاسو دپاره پکښې لاندې فائدې شته:

الف: تاسو به د قرآن کریم د تفاسیرو سره اشنا شئ او د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته به هم پرې مشکلات حل کوئ، ترڅو به نبي کریم ﷺ په تاسو کښې ژوندی وي؟

ب: د معلوماتو سره-سره چې تاسو د نبي کریم ﷺ څخه د بیا بیا فتواګانو څخه صرف نظر شئ نو د یو پلوه به مو خپل پیغمبر ته زحمت نه وي ورکړی، او د بله پلوه به ستاسو د دیانت او تقوی داري قوت دښمنانو ته ډېر ښه ښکاره شي، ځکه چې د معلوم حکم په باره کښې د پوښتنه کولو څخه د سستۍ او تنبلۍ بوی پورته کېږي.

ج: په دې باندې علاوه، د قرآن کریم په لوستلو سره به تاسو هغو احکامو ته هم متوجه کړی شئ چې په قرآن کریم کښې نازل شوي دي، خو تاسو د هغو ذکر نه کوئ، ایا هغه درته مهم نه ښکاري؟ لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: په تاسو باندې فرض کړی شوې دي چې يې پلاره زنانه وو ته مهرونه ورکړئ، البته که تاسو يې پخپله په نکاح اخلئ؛

دوهم: تر هغو يې پلار مړې زنانه که پخپله په نکاح باندې نه اخلئ نو هغوی ته اختيار ورکړئ چې پخپله خوښه مېړه وکړي، مه يې د نکاح مخه نيسئ او مه يې په مهرونو کښې مداخله کوئ؛

دريم: همدارنګه د پلار مړو (يتيمانو) هلکانو دپاره هم الله ﷻ په ميراث کښې برخې ټاکلې دي او تاسو يې په قرآن کريم کښې تلاوت کوئ؛

څلورم: په تاسو باندې لازمه ګرځولې شوې ده چې د يتيمانو د مالونو په باره کښې د تل دپاره په انصاف باندې ولاړ اوسئ او هم يې د مال د خوراک څخه ځانونه وساتئ او هم ورسره په قرعه اچولو کښې چل مه کوئ او مه ورسره بل خيانت کوئ؛

پنځم: بالآخره، په قرآن کريم کښې ستاسو د ګټو زيست دپاره احکام نازل شوي دي او هر يو حکم چې تاسو عملي کړئ الله ﷻ ورباندې پوه دی، نه به ضائع شي او نه به ترې ورک شي.

لنډه دا چې تاسو ته دا بهتره ده چې تکراري پوښتنې پرېږدئ او په عمل کښې جلتي وکړئ.

## توضيحات

۱ـ که څه هم ځينو مفسرينو ګرامو[1] ليکلي دي چې مطرحې شوې پوښتنې جوازې هغه نه دي چې د شان نزول د روايتو څخه څرګندېږي، بلکې هغه ټولې پوښتنې مطرحې شوې دي د کومو جوابونه چې د آيتونو څخه معلومېږي، لکه:

الف: ايا مشومانو او زنانه وو ته د ميراث حکم دائمي حکم دی؟

ب: ايا پلار مړې زنانه په خپله خوښه مېړه کولی شي؟

ج: ايا دوی ته مهر ورکول حتمي دي؟

د: ايا د مېرمنې او د خاوند د لانجو هوارول په اصلاح سره جواز لري؟

هـ: ايا په تمامه معنی سره د مېرمنو په منځکښې عدالت کول امکان لري؟

و: ايا د دې سره سره (چې په تمامه معنی عدالت کول د سړي د وسې څخه وتلي دي) د مېرمنو تعدد جواز لري او که څنګه؟ او داسې نور...

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې مطرحې شوې قضايا هماغه دي کومې چې د شان نزول په روايتونو کښې ذکر دي خو الله ﷻ بېسېره د هغو په جوابونو باندې څه نورو مسائلو جوابونو ته هم اشاره وکړه ترڅو مونږ ته ارشاد وکړي چې:

اول: بايد تاسو د اسلام په ټولو احکامو کښې ورننوځئ او ټول عملي کړئ.

دوهم: بايد تاسو خپله تګلوری په څو محدودو احکامو کښې خلاصه نه کړئ، او يا په بل عبارت

(۱) تفسير المنار ج ۵ ص ۴۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د خپلې دېنداري، څخه به اصطلاح د کاکا نصر الدين کوټه جوړه نه کړئ چې د څلورو دېوالونو څخه يې صرف درې دېوالونه ورلوده، مگر دروازې ته يې د بر لوی قلف اچولی وه چې کوم غل ورداخل نه شي.

## فتوی څه معنی؟

۲ـ د ﴿ وَيَسْتَفْتُونَكَ ﴾ کلمه اصلا د "فَتَى" څخه اخستله شوې ده، "فَتَى" هغه ځوان او زلمي ته وايي چې د کار کولو ښه وسه لري. چې په "فِتْيَةٌ" او "فِتْيَانٌ" باندې جمعه کېږي[1]. د همدې کبله د مشکلې مسئلې حکم د "فتوی" په نامه يادېږي، لکه چې الله ﷻ د بلقيسې د خولې څخه حکايت کوي چې ﴿ أَفْتُونِي فِي أَمْرِي ﴾ [النمل ۳۲] يعني: ای زما د کابينې غړو! ماته په دې مشکله مسئله کښې فتوی راکړئ چې د سليمان ﷺ د پلوه راته پېښه شوې ده. او دا ځکه چې د مشکلې مسئلې حل کول ښه قوي علم ته ضرورت لري.

## د عربيت يو قانون

۳ـ که څه هم مفسرينو کرامو د ﴿ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ په اعراب کښې د بر اوږد بحث کړی او د بر احتمالات يې پکښې بيان کړي دي[2]، مگر مونږ ته دا غوره ښکاره شوه چې ذکر شوې ټکړه په مبتدا، ﴿ اللَّهُ ﴾ باندې عطفه شي. نو د معنی حاصل به يې داسې راووځي چې: ای مؤمنانو! ستاسو په مشکلو مسائلو کښې الله ﷻ هم فتوی درکوي او قرآن کريم هم فتوی درکوي، لکه چې الله ﷻ د اسماني کتاب په باره کښې فرمايي چې: ﴿ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ ﴾ [البقرة: ۲۱۳] يعني: الله ﷻ د پيغمبرانو سره په حقه کتابونه نازل کړي وه د دې دپاره چې دغه کتابونه د خلکو په منځو کښې حکم وکړي (فتوی ورکړي).

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د قرآن کريم حکم خو عين د الله ﷻ حکم دی او عطف د مغايرت (جدا والي) غوښتنه کوي، نو بايد چې ذکر شوی عطف صحت ونه لري؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې اعتباري فرق لري چې د عطف د صحت دپاره کفايت کوي. هغه دا چې:

الف: د الله ﷻ حکم د لاندې دوه ډولونو څخه عبارت دی:

اول: چې الله ﷻ بل داسې حکم نازل کړي چې په پخوانيو ايتونو کښې نه وي نازل شوی، لکه راتلونکی [۱۲۸] ايت. ځکه چې الله ﷻ د خاوند د نشوز په باره کښې ترهغه وخته بل ايت نه وه نازل کړی. همدا اولنی ايت وه چې نازل شو.

---

[1] مفردات الراغب ص ۳۸۶

[2] البحر المحيط ج ۴ ص ۸۱. التفسير الكبير ج ۱۱ ص ۶۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: چې الله ﷻ د نبي کريم ﷺ په احاديثو کښې څه حکم شرحه کړي. ځکه چې د نبي کريم ﷺ حکم خو عين د الله ﷻ حکم دی، لکه چې فرمايي: ﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ﴾ [النساء: ٨٠] يعني: هر څوک چې د پيغمبر ﷺ اطاعت وکړي نو يقيناً هغه د الله ﷻ اطاعت وکړ.

ب: د قرآن کريم حکم په دې مقام کښې د هغو احکامو څخه عبارت دی چې د ايت د نزول څخه وړاندې د زنانه وو او يتيمانو په باره کښې څه ايتونه نازل شوي وه. د مثال په توګه، نه د حصر په توګه، لاندې شرحه ولولئ:

اول: د يتيمانو مالونه مه خورئ هلکان وي او که انجونې [النساء: ٢].

دوهم: د بې عدالتۍ د خوف په وخت کښې په يوه مېرمن باندې اکتفاء وکړئ او د تعدد څخه صرف نظر شئ [النساء: ٣].

دريم: زنانه وو ته مهرونه ورکړئ، مګر که په اخلاص سره يې درته وبښي هغه ببله خبره ده [النساء: ۴].

څلورم: زنانه او ماشومان په ميراث کښې برخه لري [النساء: ١١].

پنځم: که زنانه ناشزه جوړه شوه نو هغه تاديب کړئ [النساء: ٣۴].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: که د ﴿ وَمَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ﴾ څخه هغه ايتونه مطلب وی چې پخوا نازل شوي وه نو بايد چې "وَمَا تُلِيَتْ عَلَيْكُمْ" د ماضي په صيغه باندې نازل شوی وی، نه د مضارع په صيغه باندې چې په حال يا استقبال باندې دلالت کوي؟

مونږ وايو چې: دلته د ماضي په عوض ځکه مضارع نازله شوه ـ والله أعلم ـ چې ترڅو مونږ پوه کړي چې د قرآن کريم ايتونه خو تاسو په مستمره توګه لولئ، کله په لمانځه کښې د قرائت په توګه او کله د ثواب او اجر دپاره، نو بايد خپل روزمره مشکلات ورباندې حل کړئ. او يا په بل عبارت: د ايتونو نزول که څه هم په تېره شوې زمانه کښې صورت نيولی وه مګر تلاوت خو يې په ماضي پورې اختصاص نه درلود.

## يادونه

۶ـ مونږ د ﴿ وَتَرۡغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ ﴾ دوه ترجمې وکړې، ځکه چې د ﴿ أَن تَنكِحُوهُنَّ ﴾ جمله حرف جر ته ارتيا لري، نو که د "عَنْ" حرف جر ورسره مراد کړی شي اوله معنی مرادېږي چې معنی يې په ځنګ کېدل دي، او که د "فِيْ" حرف جر ورسره اراده کړی شي دوهمه معنی اراده کېږي چې معنی يې مينه او رغبت دی. څه لرې نه ده چې الله ﷻ به په حرف جر باندې ځکه صراحت نه وي کړی ترڅو دواړو ارخونو ته شامل شي. او دا ځکه چې په هغه وخت کښې دواړه دولونه رواج وه لکه چې د شان نزول د روايتونو څخه د هر بنه څرګندېږي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِنِ ٱمْرَأَةٌ خَافَتْ مِنۢ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ وَٱلصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ وَأُحْضِرَتِ ٱلْأَنفُسُ ٱلشُّحَّ ۚ وَإِن تُحْسِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾ وَلَن تَسْتَطِيعُوٓا۟ أَن تَعْدِلُوا۟ بَيْنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ ۖ فَلَا تَمِيلُوا۟ كُلَّ ٱلْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلْمُعَلَّقَةِ ۚ وَإِن تُصْلِحُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ ٱللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾ ﴾

[۱۲۸] او كه چېرې يوه ښځه د خپل مېړه د پلوه په حق تلفى يا په مخ اړولو باندې وډاره شوه نو په دواړو باندې څه ګناه نشته چې په خپلو منځو كښې څه سوله وكړي يو ډول سوله، او سوله كول بهتر دي. او ټول نفسونه (په خپلواهدافو باندې) كلكوالي ته حاضر كړى شوي دي (هرڅوک په خپلو ګټو مين دى).

او كه تاسو احسان وكړئ او پرهېزګاري وكړئ نو بې شكه الله ﷻ په هغه شي باندې خبردار دى چې تاسو يې كوئ.

[۱۲۹] او هيڅكله به ستاسو د وسې پوره نه شي چې د ښځو په منځكښې (په كامله معنى سره) عدل وكړئ، كه څه هم تاسوورباندې حرص وكړئ (او په خپلو خانونو باندې زيات فشار راولئ).

نو تاسو (د يوې ښځې د جانب څخه د بلې ښځې جانب ته) ميلان مه كوئ پوره ميلان (چې ستاسو په اختيار كښې وي) نو چې هغه پرېږدئ (جوړه كړئ) لكه زوړنده (چې نه بل مېړه كولى شي او نه ورته تاسو د مېرمنې په نظر ګورئ). او كه تاسو اصلاح وكړئ او پرهېزګاري وكړئ نو بې شكه الله ﷻ ښښونكى (او) مهربان دى.

[۱۳۰] او كه دوى دواړه (ښځه او خاوند يو تربله) جدا شي نو هر يوه لره به الله ﷻ د خپلې پراخى څخه بې پروا كړي (د هر يوه ګوزاره به روانه كړي). او الله ﷻ د پراخى خاوند (او) د حكمت څښتن دى

## شان نزول او ارتباط

۱ـ د دې ايتونو د ارتباط وجه خو پوره واضحه ده چې دلته د هغو مسئلو فتوى او حكم بيان شوى دى چې په وړاندېنيو ايتونو كښې يې غوښتنه ذكره شوې وه، چې يوه د خاوند او مېرمنې د سولې مسئله ده او بله د متعددو مېرمنو په منځكښې د عدالت او برابرى مسئله ده.

نو په وړاندې ايت كښې الله ﷻ وعده كړې وه چې ﴿ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ ﴾ الله ﷻ به حكم دركړي، او په دې ايتونو كښې يې د حكم بيان فرمايلى دى[۱].

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۲ ص۲۳۹؛ تفسير المنار ج۵ ص۴۴۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ د شان نزول په باره کښې یې متعدد واقعات روایت شوي دي[۱] چې مونږ دلته د لاندې دوه واقعو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «خَشِيَتْ سَوْدَةُ أَنْ يُطَلِّقَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَا تُطَلِّقْنِي وَأَمْسِكْنِي وَاجْعَلْ يَوْمِي لِعَائِشَةَ فَفَعَلَ فَنَزَلَتْ»[۲] یعنې: سودة رضي الله عنها ودې ره شوه چې نبي کریم ﷺ به طلاق ورکړي نو یې ویلې چې: (یا رسول الله!) ماته طلاق مه راکوه او د خانه سره مې وساته او زما د نوبت ورځ عائشې رضي الله عنها ته وګرځوه. نو نبي کریم ﷺ همداسې وکړه نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه.

ب: یو سړي یوه بوډۍ میرمن درلوده چې د اولادونو مور وه، نوموړي سړي وغوښتل چې بوډۍ میرمنې ته طلاق ورکړي او په عوض یې بله خوانه ښځه په نکاح واخلي. مګر بوډۍ ورته وړاندیز وکړ چې: ماته طلاق مه راکوه چې د خپلو اولادونو خدمت وکړم، ته بله خوانه په نکاح واخله خو زه درڅخه د نورو میرمنو غوندې په نوبت کښې عدل نه غواړم، نو خوښه دې چې په دوه میاشتو کښې یو نوبت راکوې او که لا د دې څخه په زیاته موده کښې، زما د پلوه په تاباندې هیڅ حرج نشته.

د نوموړي سړي ذکره شوې د روغې جوړې خبره خوښه شوه خو ویې ویلې چې دا کار به وکړم خو که جواز ولري. نو نبي کریم ﷺ ته یې مطرحه شوې نقشه وړاندې کړه نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه[۳].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! که ستاسو د جملې څخه کومه یوه زنانه په دار کښې وه چې خپل خاوند به یې حقوق د پښو لاندې کړي او یا به ترې اقلا مخ واړوي او په ورین تندي باندې به ورسره خبرې ونه کړي او یا به ورسره مناسبه ناسته پاسته پرېږدي: البته دا دار ورسره په ښه صورت کښې پیدا کېږي که ذکره شوې زنانه ترې خپل حقوق وغواړي او زور واچوي چې خپل حقوق ترلاسه کړي: نو د دار په صورت کښې او هم په دې صورت کښې چې خاوند یې عملا حقوق د پښو لاندې کړي، (په دواړو صورتونو کښې) په خاوند او میرمن باندې څه ګناه نشته چې دوه په دوه روغه جوړه وکړي، او میرمن د خپلو څه حقوقو څخه صرف نظره شي او په مقابل کښې د خپل خاوند ورین تندی او د خندا ډکه خوله ترلاسه کړي.

۲ـ ذکر شوې روغه جوړه په ذکر شوي ترتیب سره دواړو ته بهتره ده، نارینه ته بهتره ده چې د نشوز او مخ تاوولو د ګناه څخه به خلاص شي او هم به کورنیو جګړو او شر او شور ته خاتمه ورکړي، نه به وزباندې څوک خبر شي او نه به یې لمنه په سر باندې وربورته شي. او زنانه ته څکه

---

(۱) تفسیر زاد المسیر ج۲ ص۲۰۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۲
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۴۸۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بهتره ده چې بالفرض که زنانه په حق غوښتنه باندې اصرار وکړي او خاوند يې ورته غاړه کښېنږدي
نو طبعي ده چې د لاندې صورتونو څخه به يو صورت تحقق پيدا کوي:
الف: چې تل به د جګړو او سپکو او سپورو خبرو سره مخامخه وي، نه به په ارامۍ سره يو شپه
تېره کړي او نه به په ارامه سره يو کپ مړۍ وخوري.
يا په بل عبارت: هغه متل به وربانديې ريښتينی شي چې "غوږ مې کاته سر مې بيالود" او يا: "د
بارانه تښتېدمه د ناوې لاندې مې شپه شوه".
يوه شاعر همدغه موضوع څومره ښه شرحه کړې ده چې:
پښې ابله مزل ښه دی نه په پښو کښې پېزار تنګ :: سختي د سفر ښه ده نه په کور کښې مدام جنګ
ب: او يا به بالآخره لانجه په طلاق باندې تمامه شي، نو په دې صورت کښې به زنانه د ډېرو
مشکلاتو سره لاس او ګرېوان شي، چې د خپلو ماشومانو څخه به جدا شي، په کور او کلي کښې به
رسوا شي، په هلو خلو راغونډ کلي کور به يې اوبه يوسي، که د پلار په مېنه باندې څوک ونه لري
نو سمدستي به بې سرپرسته پاتې شي، او که هلته څه خپلوان او شرعي محارم هم ولري نو پخوانی
قدر او عزت به لاس ته ورنه شي او په اصطلاح د پلار په کور کښې به د مېلمنې په حيث ژوند کولو
ته مجبوره شي که څه هم اميد شته چې الله ﷻ به يې ډېره ښه چاره وکړي او ارتيا به يې پوره کړي.
۳ـ په ياد ولرئ چې هرڅوک (نارينه وي او که زنانه) په خپلو ګټو باندې مين دی او هر يو
غواړي چې خپل حقوق پوره ترلاسه کړي. يا په بل عبارت: ټول خلک د خپلو حقوقو څخه په کلکه
دفاع کوي ته به وايې چې همدې کار ته ګمارل شوی دی او يوه لحظه هم ترې نه غائب کېږي او نه
ترې غفلت کوي.
نو سوله او روغه جوړه په هغه وخت کښې تحقق موندلی شي چې دواړه جانبه د خپلو حقوقو
څخه لږ څه تنازل وکړي، که نه نو په هغه صورت کښې هيڅکله روغه جوړه منځ ته نه شي راتلای
چې هر يو په خپلو پوره حقوقو باندې ټينګار وکړي.
۴ـ نو ای مؤمنانو! (په همدې بنياد) هرڅوک چې زياته نېکي وکړي او د سولې دپاره لاره برابره
کړي (په خپلو حقوقو باندې بې اندازې کلک نه شي)، همدارنګه هرڅوک چې تقوی او دينداري
وکړي چې د مقابل جانب د مجبوريت څخه د خپل ځان په ګټه کار وانخلي؛ نو هر يوه ته به الله ﷻ
اجر ورکړي ځکه چې الله ﷻ خو ستاسو په ټولو اعمالو باندې خبردار دی.
۵ـ ای مؤمنانو! د خپلو مېرمنو په هکله تاسو په هغه عدالت باندې مکلف ياست چې هغه
ستاسو د وسې پوره وي او ستاسو د اختيار لاندې راځي، لکه نفقه، جامه، ناسته پاسته او داسې
نور. اما په هغو شيانو کښې عدالت کول چې ستاسو د اختيار لاندې نه شي راتلای لکه يو جانب ته
د زړه ميلان، په تاسو باندې فرض نه دی نو په دغه ډول عدالت کښې په نقصان سره تاسو نه
ګناهکارېږئ، او نه ستاسو مېرمنې دا حق لري چې ستاسو څخه يې مطالبه وکړي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶ـ هو! تاسو ته روا نه ده چې د خپلو مېرمنو په منځکښې د کومې یوې سره اختیاري بې عدالتي وکړئ او یا یوه مېرمن ولړئ او په اختیاري اُمورو کښې هغې ته حقوق ورنه کړئ چې په نتیجه کښې د زوړندې ښځې مثال ولري، چې نه په اسمان وي او نه په ځمکه، نه داسې مېړه لري چې استفاده ترې وکړي او نه بې مېړه وي چې بل چرته نکاح وکړي. یا په بل عبارت: چې کور ورته دوزخ جوړ شي چې نه پکښې مړه وي او نه ژوندۍ.

۷ـ ای مؤمنانو که تاسو سوله وکړئ او بیا په سوله باندې کلک ودرېږئ او خپله تقوی او دینداري خرابه نه کړئ نو د وړو-وړو نیمګړتیاوو څخه به الله ﷻ درتېر شي لکه چې د قلبي بې عدالتۍ څخه چې درتېر شو. او دا خکه چې الله ﷻ ښنونکی او مهربان دی.

۸ـ ای مؤمنانو! هرڅوک (نارینه وي او که زنانه) چې تقوی ونه کړي، چې یا د مقابل پلو په حقوقو پښې کېږدي او حتی روغې جوړې ته هم حاضر نه شي او یا د دروغې جوړې څخه وروسته په خپل عهد باندې وفا ونه کړي او بالآخره خبره په طلاق باندې ختمه شي، نو هر یو به الله ﷻ د خپلو پراخو خزانو څخه په نعمتونو باندې موړ کړي. زنانه ته به صالح مېړه ورکړي او نارینه ته به صالحه ښځه په نصیب کړي او هر یو به د پراخه روزۍ خاوند کړي.

الله ﷻ د هر چا احتیاجات مستقیماً هم پوره کولی شي خو دا یې د حکمت غوښتنه ده چې تاسو بې یو بل ته احتیاج کړي یاست، نو باید چې تاسو په روغه جوړه کښې نه یو په بل احسان بار کړئ او نه خپلو خانونو ته غره شئ.

## توضیحات

۱ـ په دغو ایتونو کښې د هغه نشوز چاره ښودلې شوې ده چې د نارینه د پلوه پیل شوی وي، چې د دې څخه وړاندې پکښې قرآن کریم نه وه نازل شوی. او د [النساء:۳۴] ایت کښې د هغه نشوز بیان تېر شوی دی چې د مېرمنې د پلوه یې منشأ نیولې وي.

## نشوز او اعراض څه فرق لري؟

۲ـ کهٔ څه هم د خاوند نشوز دې ته وایي چې د خپلې مېرمنې د حقوقو څخه خپل خان پورته وګڼي او حقوق یې د پښو لاندې کړي چې په نفقه کښې یې کمبود واقع کړي او وهل ټکول پیل کړي.

همدارنګه اعراض دې ته وایي چې د خپلې ماندېنې د حقوقو څخه مخ واړوي او په یو سبب سره بې د ناستې پاستې څخه لاس واخلي. په نشوز کښې د اعراض په نسبت حق تلفي ډېره ده[۱].

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د اعراض څخه به په دې مقام کښې طلاق ورکول مطلب وي. نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: که چېرې زنانه په ډار کښې وه چې یا به ورسره خپل خاوند

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۲۶۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حق تلفي وکړي، او یا په ډار کښې وه چې طلاق به ورکړي نو په دواړو صورتونو کښې د سولې پروسه ورته بهتره ده.

مونږ ځکه دغه معنی غوره کړه چې په دې معنی کښې تاسیس دی او د تاکید څخه خو تاسیس بهتر دی، او بل د دې کبله چې ایت شریف د سوده (أم المؤمنین) رضي الله عنها غوندې سولې ته هم شامل شي لکه چې په احادیثو کښې ذکره ده[1].

## یادونه

۳ـ ځینې مفسرین کرام لیکي چې نبي کریم ﷺ د سودې رضي الله عنها د طلاق اراده نه وه کړې[2]، خو د هغې سره په خپل زړه کښې تشویش پیدا شوی وه او په خپله خوښه یې د سولې په شکل وړاندیز وکړ. او نبي کریم ﷺ منظور کړ ترڅو د قیامت د ورځې پورې ټول امت ته اساس کېږدي. مونږ ته همدا نظر غوره ښکاري.

په هر تقدیر، دا لرې نه ده چې سودې رضي الله عنها ته د طلاقولو ډار پیدا شوی وي، خو دا ډېره لرې ده چې هغه دې د نبي کریم ﷺ څخه په نشوز (حق تلفی) باندې ډاره شوې وي، ځکه چې دا خو کفر دی.

## د صلحې تعریف او ډولونه

۴ـ د "صُلح" کلمه په لغت کښې د خلکو د منځ څخه د نفرت لرې کولو ته وایي[3] او په فقهي اصطلاح کښې د هغه عقد څخه عبارت ده په کوم سره چې د خلکو منازعې او جګړې پرې کېږي. که څوک د سولې (صلحې) په ټولو ډولونو باندې د خپل ځان پوه کول غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[4]، مګر سوله په دې مقام کښې لاندې ډولونه درلودلی شي:

الف: چې مېرمن د نفقې او جامې کمبود ومني او خاوند د نشوز او اعراض څخه ځان وساتي.

ب: چې مېرمن د ټول مهر یا د مهر په څه برخه باندې د خاوند سره مصالحه وکړي.

ج: بالآخره چې د خپل ټول نوبت او یا د نوبت د څه برخې څخه صرف نظره شي او د خاوند توجه ځان ته راواړوي، لکه چې د همدې ایتونو په شان نزول کښې یې یو مثال تېر شوی دی.

په هر تقدیر، کله چې زنانه د خپل ثابت حق څخه سوله وکړي، لکه د تېرې شوې زمانې د نفقې څخه چې مصالحه وکړي، نو بیا همدغې زنانه ته د بېرته رجوع کولو او د سولې د ماتولو حق نشته. اما که د داسې حق څخه یې مصالحه وکړه چې هغه لا د مصالحې په وخت کښې نه وه متحقق شوی، لکه د راتلونکي وخت نفقه او جامه، نو بیا نوموړې ته د سولې د ماتولو حق شته چې د خپل

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۸۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۵ ص۵۰۹
(۳) مفردات الراغب ص۲۹۲
(۴) الفقه الإسلامي وادلته ج۵ ص۲۹۳ـ ۳۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حق په غوښتولو باندې کلکه شي. او دا ځکه چې سوله د ابراء معنی ورکوي، او ابراء په هغه وخت کښې تمامېږي چې حق ثابت وي، او راتلونکی حق خو لا ثابت نه دی[١].

## سوال جواب

٥_ که څوک وايي چې: ایا په ذکره شوې روغه جوړه کښې څه د ګناه اشتباه وه چې الله ﷻ ﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ ﴾ نازل کړ؟ یعنې: په دوی دواړو باندې په سوله کښې څه ګناه نشته.

مونږ وایو چې: ځرنګه چې د ذکرې شوې سولې ظاهري څېره رشوت ته ورته ده چې مېرمنې د څه ازدواجي حقوقو په بدل کښې د خاوند د خندا ډکه خوله ترلاسه کړه، حال دا چې دا یې شرعي حق وه، د همدې کبله ذکره شوې سوله صحابه وو کرامو ﷺ ته ګناه ښکارېده لکه چې د ایت په شان نزول کښې پرې صراحت شوی دی. نو الله ﷻ د دوی اشتباه یو ځل په ﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ ﴾ او بل ځل په ﴿ وَٱلصُّلْحُ خَيْرٌ ﴾ سره پورته کړه.

## سوال جواب

٦_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ازدواجي حقوقو په بدل کښې پیسې اخستل رشوت نه ګڼل کېږي او په خاوند او مېرمن یوه باندې هم ګناه نشته، بالمقابل دقضايي حقې فیصلې په بدل کښې پیسې اخستل رشوت ګڼل شوی دی، مګر رشوت ورکوونکی د دې کبله ګناهکار نه دی چې د پیسو په ذریعه یې خپل حق (شرعي فیصله) ترلاسه کړه خو قاضي پرې رشوت خور ګڼل کېږي چې د خپلې فریضې (شرعي فیصلې) د اداء کولو په بدل کښې یې پیسې واخستې؟

مونږ وایو چې: مېرمن خو خپل خاوند ته د ازدواجي حقوقو په بدل کښې پیسې نه ورکوي ترڅو د قضايي رشوت غوندې وګڼلې شي، بلکې په حقیقت کښې د دې دپاره پیسې ورکوي چې خاوند یې په نکاح کښې وساتي او طلاق ورنه کړي. د همدې کبله د سولې پروسه په دې جمله: ﴿ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ ٱللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ ﴾ سره تعقیب شوې ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

٧_ که څوک وايي چې: په دې مقام کښې د ﴿ وَأُحْضِرَتِ ٱلْأَنفُسُ ٱلشُّحَّ ﴾ د جملې په نزول کښې څه حکمت دی، حال دا چې د دې جملې څخه د سولې څخه ترهیب معلومېږي. ځکه چې:

الف: "شُحّ" هغه بخل ته وايي چې حرص ورسره ملګری وي.

ب: د "أُحْضِرَتْ" مجهوله ماضي د احضار څخه اخستله شوې ده چې په مقابل کښې یې غیاب استعمالېږي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: تولو نفسونو ته (نارینه او ښځینه) خپل خپل

(١) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٢٨٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اهداف لاس ته راوړل محترم ګرځولي شوي دي چې په هیڅ وخت کښې ترې سترګې نه شي پټولی ته به وایي چې ټول نفوس د شُح سره تړلي شوي دي؟

مونږ وایو چې: په ذکره شوې جمله کښې د هغه طرف تادیب مطلب دی کوم چې په سوله کښې خپل ټول هدف ترلاسه کول غواړي، که څه هم د مقابل طرف ټول هدف تر پښو لاندې شي. یعني: لکه تاته چې خپل هدف محترم دی همدارنګه ستا مقابل طرف هم یو نفس دی او په خپل هدف باندې مین دی، تا خو د هغه تنازل ته سترګې نیولې دي مګر هغه ستا تنازل ته سترګې په لار دی، نو تاسو دواړو جانبو ته په کار دي چې د اهدافو په لاس ته راوړلو کښې لږ څه نرم شئ که نه نو د سولې ادعا مو دروغ ده او په حقیقت کښې سولې ته تیار نه یاست.

## الله ﷻ ربښتیا ویلي دي

۸ـ مونږ یو شپېته (۶۱) کسیز هیئت، چې د عربو او عجمو څخه جوړ شوی وه، د همدې ایت د تفسیر د لیکنې په وخت کښې (د ۱۳۷۳ هـ ش کال د وري د میاشتې په وروستیو کښې) د جناب مولوي صاحب محمد یونس "خالص" په مشرۍ د دې دپاره کابل ته لاړو چې هلته د وخت د دولت رئیس (استاذ رباني) او د وخت وزیر اعظم (انجینر حکمتیار) ترمنځ سوله وکړو ترڅو هغه اور مړ شي چې د کمونستي رژیم د راپرځېدلو څخه وروسته لګېدلی دی او هره ورځ پکښې بې شمېره افغانان وژل کېږي، څه ډېر لا په مونږ باندې هم وکړی شوي، په کابل کښې مو په سوله کښې زیات کوښښ وکړ او د ذکر شوي ایت الهي فرمان مو ورته ښه شرحه کړ، خو افسوس چې یوه پلو هم د خپلو اهدافو څخه لږ قدرې تنازل ونه کړ، نو په نتیجه کښې د جنګ اور همغسې تود پاتې شو او هیئت د ناکامۍ په حالت کښې په متفرقه توګه بېرته راستون شو، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ که څوک وایي چې: د "خیر" کلمه خو د اسم تفضیل په معنی استعمالېږي، نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې مفضل علیه څه شی دی. یعني هغه کوم شی دی چې سوله د هغه څخه بهتره ده؟

مونږ وایو چې: د "خَیْر" کلمه په لاندې دوه ډوله استعمال مومي[1]:

الف: چې د تفضیلیت د معنی لحاظ پکښې نه وي؛ نو په دې تقدیر سوال ته موقع نه پاتې کېږي او د معنی حاصل داسې کېږي چې: سوله د خیرونو څخه یو خیر دی.

ب: چې د تفضیلي معنی لحاظ پکښې وساتل شي؛ نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: د خاوند او مېرمن سوله چې دوه په دوه صورت، ونیسي د بلې هرې حل لارې څخه بهتره ده چې تفصیل یې دا دی:

(۱) مفردات الراغب ص۱۶۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: سوله د نشوز څخه بهتره ده چې خاوند یې پرې ګناهګاربږي او د کور څخه د جنګ میدان جوړیږي.

دوهم: د طلاق څخه بهتره ده چې یوه کورنۍ پرې ورانېږي او هم د اولادونو څخه جدا کېدل ورسره تړلي دي.

دریم: د هغې سولې څخه بهتره ده چې دریم ګړی پکښې اشتراک وکړي او راز افشاء شي.

څلورم: د حکمیت د فیصلې څخه بهتره ده چې رسوایي پکښې نغښتې ده.

پنځم: د قاضي د فیصلې څخه بهتره ده چې نزاع د منځه وړي خو زړه بداوی د منځه نه شي وړلی.

د همدې کبله دوهم خلیفه عمر الفاروق ﷺ آبو موسی الأشعري ﷺ ته لیکلي وه چې: «رَدِّ الْخُصُومَ حَتّٰى يَصْطَلِحُوا فَإِنَّ الْقَضَاءَ يُورِثُ بَيْنَهُمُ الضَّغَائِنَ»[1] یعني: په جلتۍ سره د مدعیانو په منځکښې قضایې فیصله مه کوه ترڅو چې دوی په خپل منځ کښې سره روغه جوړه وکړي، ځکه چې قضایي فیصله د دوی په منځکښې زړه بداوي اچوي.

شپږم: بالآخره، د زور او جبر څخه بهتره ده چې وخت پرې ضائع کېږي او د نورو خطراتو احتمال پکښې شته دی، او زړه بداوی خو ورسره ملګری دی.

## سوله د احادیثو په رڼا کښې

۱۰_ د سولې په باره کښې د نبي کریم ﷺ څخه زښت ډېر احادیث روایت کړی شوي دي چې ذکر شوی ایت شریف تفسیروي، مونږ صرف لاندې یو حدیث د مثال په توګه دلته رانقلوو:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا»[2] یعني: هره یوه سوله د مسلمانانو په منځکښې جائزه ده مګر داسې سوله چې حلال شی حرام وګرځوي او یا حرام شی حلال وګرځوي.

ذکر شوی حدیث شریف په لاندې دوه ډولونو باندې شرحه شوی دی:

الف: فقهاء کرام وایي چې: دلته د حرام څخه "حرام لذاته" مطلب دی او د حلال څخه "حلال لذاته" مراد دی[3]. د وضاحت دپاره لاندې دوه مثالونه ولولئ چې په دواړو کښې سوله جائزه نه ده:

اول: چې یوه مېرمن په دې سوله وکړي چې خاوند به یې د خپلې بلې مېرمنې سره جنسي ارتباط نه نیسي، حال دا چې دا کار حلال لذاته دی او په سوله کښې حرام جوړ کړی شو.

دوهم: چې یوه مېرمن د خاوند سره په دې سوله وکړي چې د دې خور به هم په نکاح باندې اخلي، حال دا چې دا کار حرام لذاته دی مګر په سوله کښې حلال وګرځولی شو.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۵ ص۳۸۴
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۷۰
(۳) فتح القدیر علی الهدایه ج۵ ص۴۰۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: محدثینو کرامو ذکر شوی حدیث په مالي جګړو کښې شرحه کړی دی او د هر خوندور بحثونه يې پکښې کړي دي[1]، د دې کبله چې د موضوع څخه خارج نه شو مونږ پرې تیره کښېنوده خو لوستل يې ضرور دي، که څوک په عربي ژبه باندې پوهېږي هیله ده چې هلته مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۱۱ـ که څوک وايي چې الله ﷻ د زوجاتو د تعدد دپاره عدالت شرط کړی دی چې: ﴿ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً ﴾ [النساء: ۳] یعني: نو که تاسو دارېدلئ چې عدالت به ونه کړئ نو یوه ښځه په نکاح واخلئ. او په ذکر شوي ایت کښې مونږ ته خبر راکوي چې: ﴿ وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ ﴾ او هیڅکله به تاسو وسه ونه لرئ چې د ښځو په منځکښې عدالت وکړئ.

نو د دواړو ایتونو د یو ځل لوستلو څخه دا نتیجه راوځي چې د زوجاتو تعدد جائز نه دی، نو ایا دا نتیجه درسته ده؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ د ذکر شوي سوال جواب ته لاندې اشارې کړې دي:

الف: ﴿ لَن تَسْتَطِيعُوا ﴾ هیڅکله به تاسو عدالت ونه کړی شئ ځکه چې دا ستاسو د وسې څخه وتلی دی، او تاسوورباندې مکلف نه یاست ځکه چې ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة: ۲۸۶] الله ﷻ هیڅ نفس نه مکلف کوي مګر د هغه د وسې په اندازه.

ب: ﴿ فَلَا تَمِيلُوا ﴾ یعني: نو هغه بې عدالتي مه کوئ چې هغه ستاسو د اختیار لاندې ده او تاسو ورباندې مکلف یاست. نو بالفرض که الله ﷻ مونږ په هر ارخیزه کامل عدالت باندې مکلف کړي وی نو په کار وه چې د ﴿ فَلَا تَمِيلُوا ﴾ په عوض يې "فَلَا تَنْكِحُوا مَا فَوْقَ الْوَاحِدَةَ" نازل کړی وی چې تعدد په عدالت پورې تړلی دی او عدالت مو په وسه کښې نشته نو د یوې ښځې څخه اضافه په نکاح باندې مه اخلئ.

ج: علاوه په دې، که د الله ﷻ مطلب په زوجاتو کښې د تعدد عدم جواز وی نو هغو ټولو خاوندانو ته به يې وعیدات متوجه کړي وی چې هغوی د یوې ښځې څخه اضافه نورې ښځې ولرې، حال دا چې وعیدات یوازې هغه چا ته متوجه دي چې هغه په اختیاري أمورو کښې بې عدالتي کوي. لاندې دوه حدیثونه د مثال په توګه ولولئ:

اول: عائشه رضی الله عنها وايي چې نبي کریم ﷺ به د خپلو بیبیانو په منځو کښې عدالت کاوه او بیا به يې ویلې چې: «اللَّهُمَّ هَذَا فِعْلِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ»[2] یعني: ای الله! دا زما کار دی په هغه شي کښې چې زه يې مالک یم، نو ته ما مه ملامته کوې په هغه شي کښې چې ته يې مالک يې او زه يې مالک نه یم (چې د زړه میلان دی).

(۱) اعلاء السنن ج۱۶ ص۱ـ ۳۸
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۴۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ كَانَ لَهُ امْرَأَتَانِ يَمِيلُ لِإِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَدُ شِقَّيْهِ مَائِلٌ»[۱] يعني: هرڅوک چې دوه مېرمنې ولري او يوې ته په بلې باندې ميلان وکړي نو د قيامت په ورځ به په داسې حال باندې راشي چې يو اړخ به يې (خمکې ته) مائل وي (او د محشر ټول خلک به يې پېژني).

## څو عجيب او ګټور حکايتونه

۱۲_ د دې دپاره چې مسلمانان ترې عبرت واخلي، مونږ د صالحينو سلفو (چې د ټولو په اول سر کښې نبي کريم ﷺ واقع دی) لاندې څو قيصې وړاندې کوو چې دوی د خپلو مېرمنو په عدالت کښې څومره احتياط کاوه:

الف: نبي کريم ﷺ به چې مريض وه هم د ازواجو مطهراتو رضي الله عنهن په منځکښې به يې پوره عدالت کاوه. کله چې د مرګ په مرض باندې مريض شو، د يوې بي بي رضي الله عنها د کور څخه به چې د بلې بي بي رضي الله عنها کور ته ورته نو د دوه وو کسانو په اوږو باندې به يې لاسونه اچولي وه او مبارکې پښې به يې راښکودلې، تردې چې بالآخره د ټولو بيبيانو څخه يې اجازه واخستله او د بي بي عائشې رضي الله عنها په کور کښې وفات شو[۲]، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

ب: عائشه رضي الله عنها وايي چې يوه ورځې صفيې رضي الله عنها ماته خپل نوبت راوباښه، نو ما لباس رابرابر کړ او د نبي کريم ﷺ ترڅنګ کېناستم، نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل چې: «إِلَيْكِ عَنِّي إِنَّهُ لَيْسَ يَوْمَكِ»[۳] يعني: زما څخه دربېرته شه يقيناً نن ستا ورځ نه ده. بيا مې ورته وضاحت ورکړ چې صفيې رضي الله عنها ماته خپل نوبت رابښلی دی.

ج: معاذ رضي الله عنه دوه مېرمنې درلودې، نو د دواړو په منځکښې به يې تردې اندازې مساوات کاوه چې د يوې مېرمنې په نوبت کښې به يې د بلې مېرمنې په کور کښې اودس نه کاوه. قدرتي خبره وه چې دواړه مېرمنې يې په يوه ورځ کښې د طاعون (وبا) په مرض باندې وفاتې شوې، نو دواړه يې په يوه قبر کښې دفنې کړې، او حتی ځينې لا وايي چې قبر ته د ښکته کولو دپاره يې د دواړو په منځکښې پچه واچوله چې کومه يوه لومړی قبر ته ښکته کړي[۴].

د: مجاهد عليه الرحمة وايي چې صالحينو سلفو به د بنو په منځکښې تردې اندازې مساوات کاوه چې د عطرياتو په استعمال کښې به يې هم فرق نه کاوه او د هرې يوې په نوبت کښې به يې په يوه اندازه عطريات په ځان باندې موښل[۵].

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۹۴
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۲
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۴۲ ؛ المعجم الأوسط للطبراني ج۳ ص۹۸
(۴) تفسير الكشاف ج۱ ص۵۷۳
(۵) روح المعاني ج۵ ص۱۶۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د بې عدالتۍ څخه طلاق بهتر دی

۵۳ـ څرنګه چې الله ﷻ د ښځو او خاوندانو د ښې ګوزارې دپاره یو ځل د اصلاح ارشاد وکړ او بیا یې په خاوندانو باندې د عدالت تاکید وکړ او بالآخره توله توصیه یې په ﴿ وَإِن يَتَفَرَّقَا ﴾ د طلاق په تجویز باندې ختمه کړه نو د دې تول طرز البیان څخه څرګندېږي چې بې عدالتۍ ته د اذامې ورکولو څخه طلاق ورکول بهتر دی.

هو! د بې عدالتۍ او د طلاق دواړو څخه چې بهتر دی هغه صبر دی؛ چې مېرمنې او خاوندان سره یو تربله پیشو تولې ونه کړي، د ورې خبرې څخه غټه جوړه نه کړي او بالآخره شکر رنجی په اغماض سره تېرې کړي، او په اصطلاح د ببزو پرهر ترې جوړ نه کړي. نو الله ﷻ به دواړو ته اجر ورکړي. لاندې قیصه ولولئ:

عمران بن حطان علیه الرحمة (چې یو جلیل القدر تابعي دی) ډېر بدقواره سړی وه او مېرمن یې ډېره ښایسته او د ښې قوارې خاونده ښځه وه. یوه ورځې د دواړو . ترمنځ په لاندې ډول سوال جواب وشو:

مېرمن: الحمد لله چې زه او ته دواړه جنتیان یاستو.

عمران: څنګه؟!

مېرمن: ځکه چې ته شاکر یې، زما په ښائست دې شکر وکړ او زه صابره یم چې ستا په بد قوارګۍ باندې مې صبر وکړ، او الله ﷻ هم شکر کوونکو او هم صبر کوونکو ته د جنت وعده ورکړې ده[۱].

﴿ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ﴿١٣١﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأْتِ بِـَٔاخَرِينَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴿١٣٣﴾ مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿١٣٤﴾ ﴾

[۱۳۱] او خاص الله ﷻ لره هغه څه دي چې په اسمانونو کښې دی او هم هغه څه دي چې په ځمکو کښې (واقع) دي. او یقیناً مونږ هغو خلکو ته امر کړی وه کومو ته چې ستاسو څخه وړاندې کتاب ورکړی شوی وه او تاسو ته هم (امر کوو) چې د الله ﷻ څخه ووېرېږئ. او که تاسو (ونه وېرېږئ)

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۸۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او) ناشکري وکړئ نو بې شکه خاص الله ﷻ لره هغه څه دي چې په اسمانونو کښې (واقع) دي او هغه څه هم دي چې په ځمکو کښې (موجود) دي. او الله ﷻ بې پروا (او) ستايلي شوی دی.

[۱۳۲] او خاص الله ﷻ لره هغه څه دي چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه (هم) دي چې په ځمکو کښې دي، او بس دی الله ﷻ د کار سازوونکي په حيث.

[۱۳۳] که د الله ﷻ اراده وشي (نو) ای خلکو! تاسو ټول به د منځه يوسي او نور (خلک) به راولي (پيدا کړي)، او الله ﷻ په دې کار باندې قدرت درلودونکی دی.

[۱۳۴] هرڅوک چې (يوازې) د دنيا ګټې غواړي نو (په خپله غوښتنه باندې دې تجديد النظر وکړي، ځکه چې) : الله ﷻ په نزد باندې خو د دنيا او آخرت (دواړو) ګټې شته دي. او الله ﷻ اورېدونکی (او) ليدونکی دی.

## ارتباط

۱ـ په وړاند... نو ايتونو کښې د سولې دپاره ترغيب پروت وه چې سوله بهتر شی دی د خپلو اهدافو څخه لږ-لږ تنازل وکړئ ترڅو سوله تحقق پيدا کړي، او په دې ايتونو کښې سولې ته په عدم تنازل کښې ترهيب ته اشاره ده چې که تاسو د نورو حقوق د پښولاندې کړئ نو حقيقي پاچاهي خو د الله ﷻ ده. وډار شئ چې تاسو به د منځه يوسي او په عوض به مو نور خلک پيدا کړي.

۲ـ هلته مسلمانان تقوی ته راهڅولی شوی وه او دلته توصيه شوې ده چې تقوی د هغو دائمي او بنسټي احکامو څخه ده چې ټولو اُمتونو ته وریاندې توصيه شوې ده.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای مسلمانانو! که بالفرض تاسو د يوه کمزوري مخلوق په حقوقو باندې پښې کېږدئ او حتی سولې ته يې هم تيار نه شئ، نو د الله ﷻ د غضبه وډار شئ چې د ده ﷻ د قدرت په وړاندې هر شی کمزوری او عاجز دی چې د ځمکو او اسمانونو پاچايي يوازې همده ﷻ پورې مختصه ده او د دې لياقت لري چې خلک ترې وډار شئ. نو لکه څنګه چې پخوانيو امتونو ته مونږ په تقوی باندې امر کړی وه، تاسو ته هم امر کوو چې د همده ﷻ څخه وډار شئ او د کمزورو مخلوقاتو حقوق ورکړئ.

۲ـ دا د الله ﷻ فضل دی چې د غضب د نازلولو څخه وړاندې يې تاسو ته په تقوی باندې امر کړی دی، نو که بالفرض تاسو د همدې نعمت قدرداني ونه کړئ او د خبرتيا سره-سره تکبر ته ادامه ورکړئ نو تاسو پوه شئ چې د اسمانونو او ځمکو پاچاهي د الله ﷻ ده، که غضب دریاندې نازل کړي نو ځانونه به ترې بچ نه کړی شي، چې نه تاسو زور لرئ او نه مو الله ﷻ عبادت ته اړتيا لري. الله ﷻ د هر شي څخه بې پروا دی او د هيچا ستاينو ته اړ نه دی. ځکه چې:

الف: د اسمانونو او ځمکو پاچاهي خاص د الله ﷻ ده او بس.

ب: د هر چا کارساز الله ﷻ دی او بس.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ټول قدرت د همده ﷻ پورې مختص دی، پیدا کول او پنا کول د همده ﷻ خاصه ده، که وغواړي نو تاسو ټول به پوپنا کړي او په عوض به مو نور مخلوق پیدا کړي، په دې کار باندې یوازې الله ﷻ قادر دی او بس.

۳ـ نو ای خلکوا لږ څه په ګرېوانونو کښې سرونه ښکته کړئ، د الله ﷻ احکامو ته غاړې کېږدئ آخرت مو په نظر کښې ونیسئ، لکه څنګه چې د دنیا د ګټو په غرض هڅې کوئ همدارنګه آخرت هم مه هېروئ او ډېر زیار ورته وباسئ.

یا په بل عبارت: د خپلو دواړو کورونو د آبادولو دپاره تاند ووهئ او د دواړو دپاره کار وکړئ چې د الله ﷻ په نزد باندې هم د دنیا اجرونه شته او هم د آخرت، او هم الله ﷻ ستاسو ټول اقوال اوري او ټول کارونه مو ګوري، ځکه چې الله ﷻ هم اوریدونکی او هم لیدونکی دی چې څوک ترې هیڅ شی نه شي پټولی.

## توضیحات

۱ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې د ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ جمله درې کرته نازله شوې ده چې ځینو مفسرینو کرامو په تاکید باندې حمل کړې ده[۱] او ځینو یې د هر ځل ذکر دپاره په لاندې تفصیل سره فائدې لیکلې دي[۲]:

الف: اول ځل د دې دپاره د دلیل په شکل ذکر شوې ده چې که خاوند او مېرمن دواړه یو د بل څخه جدا شي نو الله ﷻ به دواړه په خپلو پراخو نعمتونو سره سرلوړي کړي، ځکه چې همدی ﷻ د ټولې دنیا مالک او پاچا دی.

ب: دوهم ځل د دې دپاره دلیل ګرځولی شوې ده چې د خلکو ناشکري کول الله ﷻ ته څه ضرر نه شي رسولی او هم د دوی اطاعت ورته څه فائده نه کوي، دواړه کارونه د هر چا د خپل ځان دپاره دي ښه وي او که بد، او دا ځکه چې الله ﷻ د ټولې دنیا پاچا دی چې د هر حیثه کامل او پوره دی.

ج: او په درېیم ځل باندې ذکره شوې جمله د قدرت د کمال دلیل جوړ شوی دی چې تاسو به ولې د منځه نه شي وړی، او نور خلک به مو په عوض ولې نه شي راوړلی چې دی ﷻ د ټولې دنیا پاچا دی، هرڅه په خپل اختیار سره کولی شي او هر څه یې د لاسه پوره دي.

### د آخرین څخه څوک مراد دي؟

۲ـ که څه هم د آخرین د کلمې په تفسیر کښې مونږ ته څرګنده نه ده چې کوم یو حدیث به پکښې روایت شوی وي، مګر د همدې ایت په مثل په یوه بل مقام کښې نبي کریم ﷺ د "آخرین" کلمه تفسیره کړې ده. حدیث دا دی:

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۵ ص۴۰۹

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۱ ص۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أبو هريره ﷺ وايي چې: كله دا ايت شريف نازل شو چې ﴿ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ﴾ [الجمعة: ٣] يعني: الله ﷻ خپل پيغمبر په عربو كښې او په نورو داسې خلكو كښې مبعوث كړی دی چې هغوی لا تر اوسه په مسلمانانو پورې نه دي پيوسته شوي او په ايمان باندې لا نه دي مشرف شوي.

نو صحابه وو كرامو ﷺ خو ځله پوښتنه وكړه چې: ای د الله رسوله! دلته د "آخَرِينَ" څخه څوك مراد دی، بالآخره نبي كريم ﷺ په سلمان الفارسي ﷺ باندې لاس كېښود او ويې وفرمايل چې: «لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ»[1] يعني: كه بالفرض ايمان د ثريا ستورو سره وی (زښت ډېر مشكلات يې درلودی) نو د دغو خلكو (عجمو) څخه به ځينو سړيو را اخستی وی.

د همدې كبله ځينو مفسرينو كرامو ذكر شوی حديث شريف په دې مقام كښې هم د "آخَرِينَ" د كلمې دپاره تفسير ګڼلی دی[2].

مګر مونږ ته داسې ښكاري چې په حديث كښې به حصر مطلب نه وي او د سلمان الفارسي ﷺ قوم به د مثال په توګه ښودل شوی وي او مطلب به ټول عجم وي.

## يادونه

٣ـ په دې مقام كښې ځينو مفسرينو كرامو د "آخَر" د كلمې ـ چې د "آخَرِينَ" مفرده دهـ او د "غَيْر" د كلمې څه فرقونه كړي دي او ښه خوندور بحث يې پكښې كړی دی، خو مونږ پرې د اوږدوالي د كبله ډېره كېښودله كه څوك فرصت لري نو هلته[3] دې مراجعه وكړي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُوا۟ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾ ﴾

[١٣٥] ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی! په انصاف سره كلك ودرېدونكي جوړ شئ په داسې حال كښې چې خاص د الله ﷻ دپاره شهادت وركوونكي ياست، اګر كه په خپلو ځانونو يا په والدينو او خپلوانو باندې (شاهدان اوسئ).

كه (هغه څوك چې تاسو ورباندې شهادت وركوئ) غني اوسي او يا فقير (اوسي په دواړو صورتونو كښې د حقيقت څخه سترګې مه پټوئ) نو دوی دواړو ته (ستاسو څخه) الله ﷻ بهتر دی (او په دواړو مهربان دی).

(١) صحيح المسلم ج٢ ص٣١٢
(٢) تفسير القرطبي ج٥ ص٤١٣
(٣) روح المعاني ج٥ ص١٦٥، البحر المحيط ج٣ ص٩٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د خپلو خواهشاتو پیروي مه کوئ ترڅو تاسو (په مستمره توګه) عدالت وکړی شئ: او که تاسو خپل شهادت تاو راتاو (تحریف) کړئ او یا ترې مخ واړوئ نو یقینًا الله ﷻ په هغو کارونو باندې خبردار دی چې تاسو يې کوئ.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د زوجاتو په باره کښې په عدالت کولو باندې توصیه کړې وه او بیا يې د ترهیب دپاره خپل کامل علم او کامل قدرت ته اشاره کړې وه، چې د عدم عدالت په صورت کښې مو د الله ﷻ د عذاب څخه هیڅوک نه شي خلاصولی.

په دې ایت کښې په ټولو معاملاتو کښې عمومًا او د شهادت په مورد کښې خصوصًا په انصاف او عدالت باندې د کلکو ودرېدلو توصیه نازله شوې ده، چې خلاصه مطلب يې دا دی:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! په تاسو باندې یوازې په متعددو زوجاتو کښې عدالت نه دی فرض کړی شوی بلکې په تاسو باندې لازمه ده چې په ټولو معاملاتو کښې د انصاف څخه تېر نه شئ او د تل دپاره وړباندې کلک ودرېږئ. باید ستاسو شهادت صرف لله في الله وي، مه پکښې د مور او پلار مراعات کوئ او مه پکښې د خپلوانو او اقاربو خیال ساتئ، حتی که بالفرض تاسو په خپل ځان باندې شاهدي اداء کوئ هم باید انصاف او عدالت د پښو لاندې نه کړئ.

۲ـ ای مؤمنانو! ممکنه ده چې تاسو په یوه غني سړي باندې د هغه د غنا د کبله د انصافي شهادت څخه تېر شئ چې یا ورته تمه ولرئ یا ترې وډار شئ او بالآخره یا مو په ذهن کښې ناسته وي چې غنا به يې د ظلم باعثه جوړه شوې وي.

همدارنګه امکان لري چې تاسو په یوه فقیر سړي باندې ترحم وکړئ او سمه شرعي شاهدي وړباندې اداء نه کړئ. یا په بل عبارت: د هغه فقر مو د عدالت څخه واړوي.

مګر تاسو په دې باندې پوه شئ چې الله ﷻ هم فقیر ته او هم غني ته په رحمت باندې ډېر نږدې دی او ستاسو څخه وړباندې ډېر مهربان دی، نو کله چې الله ﷻ د دوی په باره کښې په انصافي شهادت باندې امر کړی دی نو تاسو ته مناسب نه دي چې د دوی په باره کښې د انصاف څخه تېر شئ.

۳ـ ای مؤمنانو! په غني سړي باندې د غنا د کبله او په فقیر سړي باندې د فقر د کبله د انصاف څخه تېرېدنه په حقیقت کښې هوا پرستي او د نفس او شیطان منښه ده. نو تاسو د خپل نفس او شیطان متابعت مه کوئ ترڅو تاسو په هره موقع باندې عدالت وکړی شئ او په دوامداره توګه په انصاف باندې کلک پاتې شئ.

۴ـ هو! که تاسو په شهادت کښې خپله ژبه تاوه او راتاوه کړئ (شهادت ته تحریف ورکړئ او

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سمه طريقه باندې يې اداء نه کړئ او يا بالکل د شهادت څخه د ضرورت او بلنې په وخت کښې اعراض وکړئ او بالکل ترې مخ واړوئ، نو الله ﷻ خو ستاسو په ټولو اعمالو باندې خبردار دی چې هيڅ شی ترې نه شئ پټولی نو ضرور به د بد عاقبت سره مخامخ شئ، تاسو ته په کار دي چې په هر حالت کښې د الله ﷻ څخه وډار شئ او د عدل مراعات وکړئ.

## توضيحات

۱ـ په ذکر شوي ايت شريف کښې الله ﷻ هغو شيانو ته اشاره وکړه کوم چې په حقه شاهدی کښې د انحراف باعث جوړېږي، چې تفصيل يې دا دی:

الف: مور او پلار په سړي باندې ډېر اوچت حقوق لري نو څه لرې نه ده چې د چا په ذهن کښې وګرځي چې که حقه شاهدي ورباندې ورکړم او د همدې شاهدۍ په ذريعه د هغوی مال تلف شي او يا ورته څه خپګان ورسېږي نو دا کار به ماته د عقوق الوالدين سبب جوړ شي، نو الله ﷻ مونږ ته توصيه وکړه چې د مور او پلار حقوق بايد په شرعي چوکاټ کښې مراعات کړی شي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ»[1] يعني: هيڅ طاعت نشته مخلوق لره د الله ﷻ په نافرمانۍ کښې.

ب: د همدې جملې څخه د استاذ حقوق هم دي چې په حقه شاهدۍ باندې شرعًا د پښو لاندې نه ګڼل کېږي که څه هم استاذ ورباندې جګرخون شي، بلکې دا کار د استاذ سره نصرت او کومک دی چې د ظلم څخه ورباندې بچ کېږي.

ج: همدارنګه د اقاربو او خپلوانو سره صِلة الرحم کول واجبي حکم دی مګر په حقې شاهدۍ باندې شرعًا د صِلة الرُحم پرېکول تحقق نه شي موندلی، که څه هم خپلوان پرې خپه شي.

د: همدارنګه بايد چې حقه شاهدي ورکول د هيڅ شي د تاثير لاندې رانه وستلی شي، لکه د غني سړي غنا او مالداري چې په تمه باندې شاهدي تحريف کړي، د فقير سړي فقر چې په هغه باندې ترحمًا حقه شاهدي ونه وايي، د آمرانو امارت چې د ډار د کبله د حقې شاهدۍ څخه انحراف وکړي، د عالمانو علم او د فاضلانو فضل (هر ډول چې وي) بايد د حقې شاهدۍ مخه پرې بنده نه کړی شي.

او دا خکه چې ذکرو شوو ټولو طائفو ته د بل هر شي څخه د الله ﷻ مراعات او د ده ﷻ د احکامو عملي کول ډېر بهتر دي، نو که څوک غواړي چې د دوی سره ښه وکړي نو بايد چې شرعي احکامو ته يې راکش کړي ترڅو په دنيا او آخرت کښې د ظلم څخه بچ پاتې شي.

او يا په بل عبارت: په ظلم کښې د چا سره کومک کول په حقيقت کښې د هغه ملا ماتول دي او د دوستۍ په خيال د هغه سره دښمني کول دي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۶۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رُدِّيَ فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ»[۱] هرڅوک چې د خپل قوم سره په ناحقه کومک وکړي نو د دې مثال د هغه اوښ دی چې په څا کښې غورزولی شوی وي او نوموړی کس غواړي چې د څا څخه يې د لکۍ په کشولو باندې پورته کړي. او ښکاره ده چې ذکر شوي اوښ ته د لکۍ کشول د ضرر څخه په غير څه ګټه نه شي رسولی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: شهادت خو په منکر باندې ورکول کېږي نو ايا په خپل ځان باندې شهادت امکان لري چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾؟ يعني: په شهادت باندې په دوامداره توګه ودرېږئ که څه هم تاسو په خپلو ځانونو باندې شاهدي ورکوونکي ياست.

مونږ وايو چې:

الف: په خپل ځان باندې شاهدي ورکول د اقرار څخه عبارت دی، نو مطلب يې داسې را اوځي چې په حق باندې کلک ودرېږئ که څه هم په خپلو ځانونو باندې اقرار کول پکښې نغښتي وي.

مونږ ته دا جواب متبادر نه ښکاري.

ب: مونږ ته داسې ښکاري چې ذکره شوې جمله ـ والله ﷻ أعلم ـ د تاکيد او مبالغې دپاره نازله شوې ده. يعني: که بالفرض ستاسو خپل ځانونه منکر وي هم حقه شاهدي ورباندې ورکړئ پاتې خو لا نور خلک.

## "لَي" څه معنی؟

۳ـ د ﴿ تَلْوُۥٓا ﴾ کلمه د "لَيًّا" څخه اخستله شوې ده چې په اصل کښې "لَوْيًا" وه او د "رَمی يَرْمِي" په وزن ده، لکه "لَوى يَلْوِي".

په دې مقام کښې مفسرينو کرامو[۲] د "لَيًّا" دپاره لاندې دوه معناوې کړي دي:

الف: د شهادت ټالول، چې په جلتۍ سره د شهادت ورکولو ته چمتو نه شي.

ب: د شهادت انحراف، چې شاهدي روايي خو حقيقي مضمون پټ کړي او په نيمګړې توګه يې ورکړي.

مونږ ته دوهمه معنی په زړه پورې ښکاري، نو حاصل به يې داسې شي چې: که بالفرض تاسو په شهادت کښې تحريف وکړئ، لکه اهل الکتابو به چې په خپل کتاب کښې تحريف کاوه او يا ترې بالکل اعراض وکړئ، نو په دواړو صورتونو کښې د جزا منتظر اوسئ.

---

(۱) سنن ابي داؤد ج۲ ص۳۳۲

(۲) روح المعاني ج۵ ص۱٦۷

(۳) التفسير الكبير ج۱۱ ص۷۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١٣٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًۢا ﴿١٣٧﴾ ﴾

[١٣٦] ای هغو کسانو چې دوی ایمان راوړی دی! په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبر او په هغه کتاب چې په خپل پیغمبر ﷺ باندې یې (په تدریج سره) نازل کړی دی او په هغه کتابونو چې پخوا یې نازل کړي دي (په دې ټولو باندې په واقعي او دوامداره توګه) ایمان راوړئ.

او هرڅوک چې کافر شي په الله ﷻ او د ده ﷻ په ملائکو او د ده ﷻ په کتابونو او د ده ﷻ په پیغمبرانو او په وروستنۍ ورځې باندې، نو یقیناً هغه ګمراه شو (د حق څخه) لرې ګمراهي.

[١٣٧] بې شکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي بیا بېرته کافر شي، بیا ایمان راوړي بیا بېرته کافر شي، بیا د کفر د حیثه زیات (قوي) شي (په همدې حالت مړ شي)، نو نه دی الله ﷻ چې دوی ته ښښنه وکړي، او نه به دوی ته لاره وښايي (چې جنت ته پرې وصل شي).

## شان نزول

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د یهودانو یوه ډله ورغله او ورته یې وویل چې: یا رسول الله! مونږ په تا او ستا په کتاب، همدارنګه په موسی ﷺ او په عُزَیر ﷺ او هم په تورات باندې ایمان راوړو، مګر په نورو پیغمبرانو علیهم السلام او یا په بل کتاب باندې ایمان نه راوړو. نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: دغسې مه کوئ بلکې په ټولو پیغمبرانو او ټولو اسماني کتابونو باندې ایمان راوړئ. نو الله ﷻ د نبي کریم ﷺ د خبرې تصدیق نازل کړ[1].

## ارتباط

په وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ په عدالت باندې د پاتې کېدلو امر کړی وه او په دې ایتونو کښې یې هغه لاره ښودلې ده چې په هغې سره سړی د عدالت په صفت باندې په دوامداره توګه پاتې کېدلی شي چې خلاصه یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! که تاسو غواړئ چې هیڅ شی مو د عدالت څخه وانه روي او په دوامداره توګه بالنصافه اوسئ نو په الله ﷻ باندې خپل ایمان ته په حقه ادامه ورکړئ، همدارنګه په ټولو

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۷۱۶؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبرانو علیهم‌السلام او ټولو کتابونو باندې معتقد اوسئ: برسېره پر دې، په ملائکو او ورستنۍ ورځې بلکې په ټولو شرعي عقائدو باندې کلک اوسېږئ.

که بالفرض تاسو د شرعي معتقداتو په منځکښې په تفرقه قائل شئ؛ چې ځينې منئ او ځينې نه منئ، نو پوه شئ چې دغه ډول عقيده تاسو ته د الله ﷻ د عذاب څخه نجات نه شي درکولی.

۲_ په دې باندې علاوه دغه ډول عقيده کول ستاسو د لا زياتې ګمراهۍ سبب جوړېږي خکه چې په دې صورت کښې به تاسو خيال کوئ چې ايمان به مو د الله ﷻ په نزد مقبول وي حال دا چې خبره بالعکس ده، دغه ډول ايمان الله ﷻ نه قبلوي او د مقبوليت څخه په مراحلو بعيد دی.

لنډه دا چې هر څوک چې په واقعي توګه په ټولو معتقداتو باندې ايمان رانه وړي او په ايمان کښې يې تزلزل وي، نو هغه سړی نه په عدالت او انصاف باندې ولاړ پاتې کېدلی شي او حتی نه يې ايمان ثبات درلودلی شي، چې کله به ايمان راوړي او کله به بېرته کافر کېږي تردې چې بالآخره به کافر د دنيا څخه تېرېږي.

نو هرڅوک چې خپل ايمان ته په همدې ډول خاتمه ورکړي، نه به هغوی ته الله ﷻ ببښنه وکړي او نه به ورته سمه سيده لاره وښايي. او دا خکه چې په همدغه صورت کښې يې د ايمان استعداد ختمېږي او د هدايت استعداد د لاسه ورکوي.

## توضيحات

۱_ که څه هم د شان نزول په اعتبار سره په ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ کښې اهل الکتاب مخاطب دي چې: ای هغو خلکو چې په موسی ﷺ او تورات باندې معتقد ياست! په آخر الزمان پيغمبر ﷺ بلکې په ټولو شرعي معتقداتو باندې ايمان راوړئ.

مګر د دې کبله چې د احکامو په استنباط کښې د مفهوم عموم ته اعتبار دی، نو په کار دي چې ايت شريف لاندې ټولو ډولو ته شامل وګڼلی شي.

الف: کومو کسانو چې په پخوانيو پيغمبرانو علیهم‌السلام باندې ايمان راوړي وي هغوی ته خطاب دی چې په آخر الزمان پيغمبر ﷺ باندې هم ايمان راوړي.

ب: کومو کسانو چې په منافقت باندې ايمان راوړي دی هغو ته امر شوی دی چې په واقعي توګه ايمان راوړي.

ج: بالآخره، واقعي مومنان مخاطب کړی شوي دي چې په همدې توګه خپلو ايمانونو ته ادامه ورکړئ.

مونږ خکه همدغه عامه معنی واخستله چې په ذکرو شوو ټولو ډولونو باندې د ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ اطلاق کېږي، نو بايد چې په همدې عموم سره پرېښودل شي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## بیا-بیا مرتد کېدونکي څوک دي؟

٢_ که څه هم مفسرينو کرامو د بیا-بیا مرتد کېدلو څلور ډوله تفسيرونه کړي دي[١] چې په ايت شریف کښې د ټولو تفسيرونو ګنجائش شته دی، مګر مونږ ته په دې مقام کښې لاندې حديث شريف ډېر په زړه پورې تفسير ښکاري:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «تَكُونُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ أَقْوَامٌ دِينَهُمْ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا»[٢] د قيامت د ورځې څخه وړاندې به د تورې شپې د ټوټو غوندې فتنې تحقق ومومي، چې يو سړی به پګښې سبايي مهال مؤمن وي او بېګايي مهال به کافر وي، او بېګايي به مؤمن وي او سبايي به کافر وي، څه قومونه به خپل دين په دنيايي سامان باندې خرڅ کړي. يعنې: کله به حرام شيان حلال ګڼي او کله به بالعکس حلالو شيانو ته د حرامو لقب ورکوي چې په دواړو صورتونو کښې به کافر کېږي، مګر کله به د همدې عقيدې څخه ګرځي او په حرامو باندې به د حرامو او په حلالو باندې به د حلالو عقيده کوي، په هر تقدير د دوی عقائد به د دنياوي ګټو او سامانونو په محور باندې څرخېږي.

## سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي ماثور تفسير سره د کفر زيادت د څه شي څخه عبارت دی، چې د هغه څخه وروسته نه مغفرت شته او نه هدايت؟

مونږ وايو چې: د کفر زيادت د دې څخه عبارت دی چې ذکر شوی متردد سړی به د ځنکدن د وخته پورې په کفر باندې کلک وي او په همدې حالت باندې به مړ شي او په پوره توګه د مغفرت چانس به د لاسه ورکړي، لکه چې په همدې مضمون باندې الله ﷻ د [آل عمران: ٩١] ايت کښې صراحت کړی دی او هم يې فرمايلي دي چې: ﴿وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّى تُبْتُ ٱلْـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ﴾ [النساء: ١٨] يعنې: او هغو خلکو ته توبه نشته چې دوی تر هغه بد کارونه (کفريات) کوي ترڅو چې دوی ته مرګ ورحاضر شي نو (هلته بيا) وايي چې زه اوس توبه وباسم. او نه هغو خلکو ته توبه شته چې دوی په داسې حال کښې مړه کېږي چې دوی کافران وي.

﴿بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى

(١) البحر المحيط ج۴ ص٩٩؛ تفسير القاسمي ج۵ ص٥٢٠

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص۴٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا
فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا
﴿١٤٠﴾ الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ
لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۚ فَاللَّهُ يَحْكُمُ
بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾

[١٣٨] (ای پیغمبره!) منافقانو ته زېری (خبر) ورکړه چې یقیناً دوی لره دردناک عذاب دی.

[١٣٩] هغه منافقان چې د مؤمنانو څخه په غیر کافران په دوستۍ سره نیسي، (دا کار د څه دپاره کوي؟) آیا د دوی په نزد عزت لټوي؟ (د عزت خاوندان به نه شي څکه چې) نو یقیناً ټول عزت الله ﷻ لره دی (د کافرانو په لاس نه دی).

[١٤٠] او بې شکه الله ﷻ په تاسو باندې په قرآن کریم کښې (لا پخوا) دا حکم نازل کړی دی چې کله تاسو واورئ چې د الله ﷻ د آیتونو ناشکري (انکار) کېږي او خندنې ورپاندې کېږي نو تاسو د دوی (دغه ټولي) سره تر هغه مه کښېنئ چې ترڅو په بله خبره کښې (دقیق) بحث پیل کړي (او د خندنې بحث ختم شي څکه چې) یقیناً به دغه وخت (اشتراک) کښې تاسو د هغوی غونډې یاست بې شکه الله ﷻ د منافقانو او هم د کافرانو د ټولو په دوزخ کښې غونډوونکی دی.

[١٤١] هغه منافقان چې تاسو ته (د مصیبت) په انتظار کښې دي. نو که چېرته تاسو ته د الله ﷻ د پلوه فتحه (یا نصیب) شي. نو دوی (تاسو ته) وایي چې: آیا مونږ ستاسو سره نه وو؟ (بلکې ستاسو سره وو. نو برخه راکړئ)

او که کافرانو لره په تاسو باندې څه برې متحقق شي. نو دوی (کافرانو ته) وایي چې: آیا مونږ په تاسو باندې برلاسي نه وو؟ (که ستاسو مخه مو نیولې. نو نیولې مو شوه)

آیا مونږ تاسو د مؤمنانو د پلوه (د حملو څخه) بچ نه کړئ؟ (چې هغوی ته مو پېښو نه تېره وراجولي) نو الله ﷻ به ستاسو (ټولو) په منځکښې د قیامت په ورځ فیصله وکړي

او هیڅکله الله ﷻ کافرانو ته په مؤمنانو باندې (د تسلط) لاره نه جوړوي (هوا که حکمت یې غوښتنه وکړه نو هغه بیا بېله خبره ده).

## ارتباط

په وړاندېنیو آیتونو کښې الله ﷻ په شهادت کښې د بې عدالتۍ او بې انصافۍ اصلي سبب د ایمان کمزوري او د ایمان بې ثباتي ښودلې وه. په دې آیتونو کښې د بې ثباتانو په بره

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(منافقانو) باندې صراحت کړی دی چې دوی د دنیاوي ګټو وټو او د دنیاوي عزت د لاس ته راوړلو دپاره ایماني ثبات د لاسه ورکوي او د دوه مخی څخه کار اخلي. نو پام کوئ چې تاسو د دوی په قدم باندې لاړ نه شئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ای پیغمبره! د هر څه څخه وړاندې منافقانو ته په دردناک عذاب باندې خبر ورکړه او د دې څخه ورته په زیري (د خوشالۍ په خبر) باندې تعبیر وکړه. او دا خکه چې دوی د منافقت دپاره په دومره جدیت سره کار کوي ته به وایې چې دا د خوشالۍ کار دی او په جزا باندې به دوی خوشالیږي.

## منافقان څوک دي؟

۲ـ منافقان هغه خلک دي چې په خولو باندې "آمنّا" وایي مګر په پټه کښې محارب (جنګي) او مجاهر (ښکاره) کافران په دوستۍ سره نیسي. په دې ګومان چې دوی به د هغوی سره څه دنیاوي عزت او وقار ترلاسه کړي، نو خکه هغوی رازدار جوړوي او د مومنانو په ضد ورسره نصرت او کومک کوي.

ایا دغه منافقان په دې نه پوهیږي چې عزت او ذلت خو ټول د الله ﷻ په واک او قدرت کښې دی؟ ایا هغه څوک (کافران) چا ته عزت ورکولی شي چې بخپله د الله ﷻ په نزد مهان (سپک) دي او په نن سبا کښې به بې بې عزتي او ذلت د مومنانو په لاس باندې په دنیا کښې هم خرګند شي؟

۳ـ ای مومنانو! د منافقانو بل خاصیت دا دی چې د دوی په وړاندې د الله ﷻ په ایتونو باندې ملنډې وهل کیږي او مسخرې وریاندې کیږي مګر دوی هیڅ غبرګون نه ښکاره کوي او نه هغه مجلس پریږدي.

حال دا چې الله ﷻ د دې څخه وړاندې په تاسو باندې په قرآن کریم کښې دا حکم نازل کړی دی چې کله تاسو واورئ چې د الله ﷻ د ایتونو څخه انکار کیږي او ملنډې وریاندې وهلې کیږي نو تاسو د هغه مجلس څخه پورته کیږئ او هلته مه کښېنئ ترڅو چې د مجلس خلک په بله خبره باندې پیل وکړي او د استهزاء په بحث باندې دبره کیږدي. که تاسو په ذکر شوي غونډه کښې ساکت پاتې شئ او بخپله په استهزاء کښې برخه وانخلئ هم تاسو استهزاء کوونکي ګڼل کیږئ او د الله ﷻ غضب تاسو ته هم متوجه کیږي.

الله ﷻ ذکر شوی حکم د نبي کریم ﷺ په احادیثو کښې نه، بلکې د زیات اهتمام د کبله یې په قرآن کریم کښې نازل کړی دی، مګر منافقان وریاندې عمل نه کوي او د کافرانو د انډیوالۍ د کبله یې دا حکم د پښو لاندې کړی دی.

۴ـ ای مومنانو! که څه هم په دنیا کښې د کافرانو سره منافقان په پټه انډیوالي کوي مګر دا

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انډیوالي به یې الله ﷻ د قیامت په ورځ په ډاګه کړي او دواړه به په دوزخ کښې ورواچوي چې هلته به همېشه انډیوالان وي.

## منافقان او دوه مخي

۵ـ ای مؤمنانو! منافقان هغه خلک دي چې په تاسو باندې د بلاء او آفت نازلېدلو ته منتظر ناست دي چې کله به تاسو ماتې خورئ او کله به د مالي او ځاني نقصان سره مخامخ کېږئ. خو د دې سره-سره که چېرته تاسو ته د الله ﷻ د پلوه فتحه درپېرزو کړی شي او د غنیمت څه مالونه مو په لاس کښې پرېوزي، نو نوموړي منافقان تاسو ته په ډېر جرئت سره وايي چې: ایا مونږ ستاسو سره نه وو؟ ایا مونږ ستاسو غوندې کلمه طیبه نه ویلې؟ او داسې نور ډېر دلیلونه درته وړاندې کوي او په غنیمت کښې درځخه برخې غواړي. ته به وايي چې دوی ستاسو نقصان ته نه، بلکې ستاسو فتحې ته منتظر وه.

۶ـ بالمقابل که کافرانو ته په تاسو باندې څه بری ترلاسه شي نو بیا د کافرانو څخه برخه غواړي چې مونږ خو ستاسو ملګري وو. ایا تاسو ته مو د مسلمانانو سره په جنګ کولو باندې جرئت نه وه درکړی چې هلئ ژر شئ حمله وربانديې وکړئ؟ ایا مونږ نه شو کولی چې ستاسو په خلاف وجنګېږو؟ خو دا کار مو ونه کړ. ایا مونږ تاسو د مسلمانانو د حملو څخه بچ نه کړئ؟ چې پښو ته مو ډېرې وراچولې او ستاسو قوت مو ورته تمثیلاوه. ایا مونږ د هغوی په منځکښې خلاف او جګړې نه وې اچولې؟ ترڅو دوی بې زړه شي او ستاسو د جنګ څخه کښېني. بالآخره، ایا مونږ تاسو ته د هغوی جاسوسي نه وه کړې؟.

لنډه دا چې مونږ ستاسو په ګټه د هرې وسیلې څخه کار اخستی دی چې په نتیجه کښې تاسو بریالي شوئ او ګټې وټې لاس ته درغلې، نو زمونږ احسان ومنئ او په همدغو غصب شوو مالونو کښې مونږ ته هم څه برخه راکړئ.

۷ـ ای مؤمنانو! خرنګه چې د منافقانو دوه مخي ډېره قوي ده او څه لرې نه ده چې په دنیا کښې وربانديې تاسو اطلاع ونه مومئ. مګر الله ﷻ به د قیامت په ورځ د دوی په منځکښې په حقه فیصله وکړي او سنګینه جزا به ورکړي او هم به دوی په دنیا کښې خپل مطلب ته ونه رسېږي او د اسلام د رڼا مخه به ونه شي نیولی. او هیڅکله الله ﷻ کافرانو ته په مؤمنانو باندې د تسلط او غلبې لاره نه جوړوي. دا عند الله عمومي قانون دی په دې قانون کښې بدلون نشته. هو! په کوم ځای کښې چې الهي حکمت د ذکرې شوې غلبې غوښتنه په موقته توګه وکړي نو هغه بېله خبره ده.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ په مکه معظمه کښې نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وه چې: ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ﴾ [الأنعام:۶۸] یعني: او کله چې ته هغه کسان

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وګوري چې هغوی زمونږ په ایتونو کښې (د توهین) بحث کوي نو د دوی څخه اعراض وکړه ترڅو چې دوی په بله خبره کښې بحث پیل کړي.

مګر څرنګه چې نبي کریم ﷺ ته توصیه ګول په حقیقت کښې ټول أمت ته توصیه ګڼله کېږي، نو خکه په دې مقام کښې الله ﷻ ټول مؤمنان مخاطب کړه چې د ایتونو د توهین په مجالسو کښې اشتراک مه کوئ او په ذکر شوي ایت شریف باندې یې حواله ورکړه.

## د منکراتو په مجالسو کښې اشتراک

۲_ د منکراتو په مجالسو کښې ګډون کول په لاندې دوه ډولونو وېشل کېږي:

الف: چې هلته سړی د یوه شرعي کار دپاره ورغلی وي خو د منکراتو سره مخامخ شي، مثلاً:

اول: چې سړی جومات ته د لمانځه دپاره لاړ شي خو هلته د قرآن کریم غلط تفسیر او یا بدعتي درس وي.

دوهم: چې د ولیمې (نکاح ډوډۍ) دپاره لاړ شي خو هلته ساز او سرود وي.

دریم: چې د مړي د جنازې دپاره لاړ شي خو هلته نوحه (بې صبره ژړا) وي.

څلورم: بالآخره چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دپاره لاړ شي خو د ده په خوله باندې څوک عمل ونه کړي او خپل د منکراتو مجلس ته ادامه ورکړي.

په ذکرو شوو ټولو صورتونو کښې په دې شرط ګناه نشته چې په زړه کښې ذکر شوي مجالس خوښ نه کړي او په کرکه ورته وګوري[۱].

ب: چې سړی د منکراتو په مجالسو کښې قصداً اشتراک وکړي. د دې ډول حکم دا دی چې ذکر شوی سړی د مجالسو د نورو غړو غوندې ګناهکار دی باید ژر تر ژره ترې اعراض وکړي او خپل خان ترې په څنګ کړي. او که مجالسو ته تغیر ورکړي نو ډېر ښه کار به وکړي.

## سوال جواب

**۳_ که څوک وایي چې: که د منکراتو مجالس د کفریاتو مجالس وي نو ایا سړیورباندې په اشتراک سره کافر کېږي؟**

**مونږ وایو چې: هو! ورباندې کافر کېږي که په دغو کفریاتو باندې راضي وي. او دا خکه چې په کفر باندې راضي کېدل او کفر خوښول کفر دی[۲].**

## خَوض څه معنی؟

**۴_ د ﴿يَخُوضُوا﴾ کلمه د "خَوض" _لکه "جَوز"_ څخه اخستله شوې ده. "خَوض" په اوبو کښې غوټې وهلو او په اوبو کښې تېرېدلو ته ویل کېږي. مګر په قرآن کریم کښې اکثراً په هغو شیانو**

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۸۹

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۸۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې استعمالېږي چې په هغو کښې بحث شروع کول او وړاندې تېرېدل ناجائز وي[۱]. نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د کافرانو سره په غیرو مشروعو مجالسو کښې تر هغه مه کښېنئ ترڅو چې هغوی په بله خبره کښې بحث شروع کړي او د مسخرو په مجالسو باندې تیره کېږدي.

## استحواذ څه معنی؟

۵_ د ﴿ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ ﴾ کلمه د "اسْتِحْوَاذ" څخه اخستله شوې ده، چې مجرد یې "حَوْذ" دی. "حَوْذان" د څارویو کناتیو او غټو ورنونو ته وایي او "حَوْذي" د څارویو بیوونکي ته ویل کېږي. او دا ځکه چې د سوق په وخت کښې د څارویو کوناتي په متروکو او کوتک باندې وهل کېږي چې ګړندی مزل وکړي[۲]، نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای کافرانو! ایا مونږ تاسو جنګ ته نه وئ سوق کړي او مونږ په تاسو باندې مسلط نه وو چې جنګ ته مو بوتلئ او بری مو په برخه شو، نو ایا تاسو لا زمونږ احسان نه منئ؟.

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ ﴾ کښې الله ﷻ د "لَنْ" په توري باندې تاکید کړی چې هیڅکله به الله ﷻ کافرانو ته په مؤمنانو څه لاره جوړه نه کړي چې د هغوی حکم وربانديې وچلېږي او بری وربانديې حاصل کړي. حال دا چې په ډېرو ځایونو کښې د همدې قانون په خلاف حوادث لیدلي شوي دي، لکه د اُحد په غزا کښې، او لا به نور هم ولېدلی شي؟

مونږ وایو چې:

الف: یوه ورځې همدغه پوښتنه علي ؓ ته چا وړاندې کړه، ده ؓ په جواب کښې وفرمایل چې: په ذکر شوي ایت شریف کښې د قیامت د ورځې حکایت دی. یعنې: هلته به هیڅکله کافران برلاسي نه شي[۳].

ب: د کافرانو عدم برلاسي د حجت او استدلال په اعتبار سره په ایت شریف کښې د نظر لاندې نیوله شوې ده او په دې اعتبار سره خو مؤمنان همېشه برلاسي دي[۴].

ج: په ایت کښې مطلب دا دی چې کافران به هیڅکله دومره تسلط ترلاسه نه کړي چې د مؤمنانو لمن بالکل د دنیا څخه ټوله کړي[۵]، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: د الله ﷻ څخه مې د مؤمنانو په باره کښې همدا سوال وکړ او را ته قبول یې کړ چې زه به ستا

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۶۱
(۲) تفسیر المنار ج۵ ص۴۶۵
(۳) تفسیر الطبري ج۴ ص۳۲۳
(۴) زاد المسیر ج۲ ص۲۱۰
(۵) تفسیر القرطبي ج۵ ص۴۱۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په امت باندې دښمنان دومره نه مسلطوم چې د دوی ببخ وباسي «وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا»(۱) اګر که هغه کسان وربانديې ورغوند شی کوم چې د ټولې دنیا په اطرافو کښې شتون لري.

د: په ایت شریف کښې مطلب دا دی چې کافرانو ته الله ﷻ په مؤمنانو باندې شرعًا لاره نه جوړوي چې مسلمانان یې د متابعت مکلفیت ولري، نو دا بېله خبره ده چې په خپلو خایونو کښې د ظلم او ستم د کبله پرې کافران سلطه کلکه کړي(۲).

ه: ځینې مفسرین کرام(۳) وايي چې په ایت شریف کښې دواړه جانبه د مشتقاتو (الْكَافِرِين، الْمُؤْمِنِين) کلمې استعمالې شوې دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: هیڅکله الله ﷻ کافرانو ته د دې حیثه چې کافران دي په مؤمنانو باندې د دې حیثه چې مؤمنان دي غلبه او سلطه نه جوړوي.

## تبصره

۷ـ مونږ وایو چې: که څه هم ذکر شوي څلور اولني جوابونه د واقعیت په اعتبار سره درست دي څه اشتباه پکښې نشته، مګر د ذکر شوي سوال دپاره یې جواب ګرځول چندان نژدې نه ښکاري. او دا ځکه چې په دې تقدیر په ایت شریف کښې بې قانونه تخصیص او یا تقیید واقع کېږي. اما پنځم جواب په قوانینو باندې برابر دی خو متبادر نه دی.

نو ښه دا ده چې د ذکر شوي سوال دپاره داسې جواب وکړو چې په ایت شریف کښې الله ﷻ عمومي قانون بیان کړی دی او د هر عمومي قانون څخه ځینې شاذ او نادر صورتونه اوځي خو چې موجبات (سببونه) ولري.

د همدې کبله په کومو ځایونو کښې چې د ذکر شوي قانون څخه تخلف واقع شوی دی نو هلته یې الله ﷻ موجبه بیانه کړې ده. لاندې دوه مثالونه یې ولولئ:

الف: د اُحد په غزا کښې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم ﴾ [آل عمران: ۱۵۲] او یقینًا الله ﷻ تاسو ته خپله وعده په هغه وخت کښې رښتیا کړه کله چې تاسو د الله ﷻ په حکم باندې کافران وژل تردې چې تاسو بې زړه شوئ او په خپل کار کښې مو اختلاف وکړ او نافرماني مو وکړه. یعنې: د کنډو ځینو مجاهدینو اختلاف او عصیان وکړ.

ب: د حنین په غزا کښې الله ﷻ د شکست موجبه داسې بیان کړې ده چې: ﴿ لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ﴾ [التوبة: ۲۵] یقینًا الله ﷻ تاسو ته په ډېرو ځایونو کښې (د ذکر شوي قانون

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۰
(۲) اضواء البیان ج۱ ص۳۷۸
(۳) تفسیر المنار ج۵ ص۴۶۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په اساس) نصرت درکړی دی او د حنین په ورځ کښې هم، کله چې تاسو خپل ډېروالی په تعجب کښې اچولی (خیال مو کاوه چې مغلوب به نه شئ) نو ستاسو څخه ډېروالي هیڅ شی دفعه نه کړ او ځمکه دریاندې د پراخوالي سره-سره تنګه شوه. یعنې: په حنین کښې مو یو ځل د حکمت په بنا ماتې درکړه، او بیا مو دلته هم بریالیتوب دربه نصیب کړ.

لنډه دا چې هر کله د عمومي قانون څخه د څه موجباتو او حکمتونو له امله څه صورتونه بېل شي نو دا د قانون په کلیت باندې څه اثر نه غورځوي او د اعتراض سبب نه شي جوړېدلی لکه چې الله ﷻ د نصرت او ماتې اسباب په لاندې ایتونو کښې ښه مشرح بیان کړي دي چې:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ [الانفال ۴۵، ۴۶] یعنې: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! کله چې تاسو د یوه ټولګي سره (په غزا کښې) مخامخ شئ نو خپل ثبات وساتئ او الله ﷻ ډېر یادوئ. شاید چې فلاح (کامیابي) ومومئ او د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ اطاعت کوئ او خپل منځي جګړې مه کوئ، نو تاسو به بې زړه شئ او قوت به مو لاړ شي، او صبر کوئ یقیناً الله ﷻ د صبر کوونکو سره دی.

﴿ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلٗا ۝ مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينًا ۝ ﴾

[۱۴۲] بې شکه منافقان د الله ﷻ سره (په خپل خیال) ټګي کوي، حال دا چې الله ﷻ دوی ته د ټګۍ جزا ورکوونکی دی (دوی ته مهلت ورکوونکی دی چې دوی پرې غولېږي).

او کله چې منافقان لمانځه ته پورته کېږي نو په داسې حال کښې پورته کېږي چې مراوي (سستي کوونکي) وي. دوی خلکو ته (ځان) ښودانه کوي او الله ﷻ نه یادوي مګر لږ.

[۱۴۳] د ذکرو شوو ډلو (مسلمانانو او مجاهرو کافرانو) په منځکښې ټیل وهل شوي (ډېر ډه کړی شوي) دي، نه هاغې ډلې (مسلمانانو) ته (په یقیني توګه منسوب دي) او نه هاغې ډلې (مجاهرو کافرانو) ته (په یقیني توګه منسوب دي). او الله ﷻ چې هر څوک بې لارې کړي نو هېڅکله به ته هغوی ته (سمه) لاره مونده نه کړې.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۴۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! (تاسو د منافقانو غوندې) د مؤمنانو څخه په غیر کافران په دوستۍ سره مه نیسئ: ایا تاسو (په همدې صورت کښې) غواړئ چې خاص الله ﷻ لره د خپلو ځانونو (په ملامتۍ) باندې څرګند دلیل جوړ کړئ؟.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د منافقانو د خلکو سره چال چلند بیان کړی شوی وه، او په دې ایتونو کښې د شرعي اُمورو سره د دوی کړه وړه بیان شوي دي، چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! کله چې تاسو د منافقانو رویه واورېدله چې د خلکو سره په څه رویه عمل کوي، نو اوس د دوی هغه رویه ولولئ چې په شرعي اُمورو کښې یې غوره کوي هغه دا چې:

۱ـ منافقان د الله ﷻ عبادت نه بالکل پرېږدي او نه پکښې اخلاص کوي، ته به وایې چې دوی د الله ﷻ سره تګي کوي او بې اخلاصه عبادت ورباندې د اخلاص په عبادت باندې مني. مګر د دوی دغه خیال دوی ته څه ګټه نه شي رسولی، الله ﷻ ته د دوی د زړونو ټول حالات پوره واضحه او څرګند دي. دېر ژر به دوی پوه شي چې الله ﷻ په دنیا او آخرت کښې د تګۍ جزا په کومه پیمانه باندې ورکوي؟ مهلت ورکول د مغفرت معنی نه ده.

۲ـ د منافقانو بل عادت دا دی چې په لمانځه کښې سستي کوي او په جدیت سره نه ورپورته کېږي او دا ځکه چې اصلاً دوی په زړه کښې په لمانځه باندې عقیده نه لري.

۳ـ دوی چې کوم یوه عبادت باندې پیل هم وکړي اصلي نظر یې په دې کښې وي چې خلک یې وګوري او خصوصاً چې مسلمانان یې وګوري، ترڅو دوی د درستو مسلمانانو په قطار کښې ودروي، که بالفرض څه د غنیمت مال وېشل کېږي چې برخه پکښې واخلي.

۴ـ منافقان دېر لږ وخت الله ﷻ یادوي، دا هم کله چې ریاکاري یې مطلب وي، د دوی اکثره وختونه په دنیاوي امورو کښې تېرېږي او خصوصاً په دې کښې چې مسلمانانو ته په څه طریقه ضرر ورسوي، په کوم ځای کښې چې ریاکاري لاس ته نه ورځي هلته ذکر هم نه کوي.

۵ـ منافقان په خپلو ټولو حالاتو کښې متردد او مضطرب دي، نه سوچه په ایمان باندې کلک دي او نه سوچه په کفر باندې ولاړ دي، نه په ټوله معنی د مؤمنانو سره دي او نه په ټوله معنی د مجاهرو (ښکاره) کافرانو په قطار کښې ولاړ دي. دوی د هغه سړي مثال لري چې لاره ترې ورکه وي او هیڅ په سر بسر باندې نه پوهېږي چې کومې خوا ته لاړ شي، د دغه کیفیت بله وجه نه ده بې د دې چې الله ﷻ دوی ګمراه کړی دي او الله ﷻ چې هر څوک ګمراه کړي نو هغه ته به هیڅوک لاره ورمونده نه کړي، که څه هم ای پیغمبره ته پخپله ورته د لارې موندلو هڅه وکړې.

۶ـ بالآخره ای مؤمنانو! پام کوئ چې تاسو د منافقانو په شان د مؤمنانو څخه په غیر مجاهر کافران په دوستۍ سره ونه نیسئ، که نه نو تاسو به هم د منافقانو په قطار کښې وشمېرل شئ، حال

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا چې الله ﷻ تاسو ته د منافقانو ټوله کړنلاره پوره شرحه کړه، نو که بالفرض د دې شرحې سره سره تاسو د هغوی په قدم باندې قدم کېږدئ نو د الله ﷻ په حضور کښې به خپل ځانونه په لوی لاس ملامته کړئ. په دغه وخت کښې ایا تاسو غواړئ چې د الله ﷻ دپاره په خپلو ځانونو باندې ښکاره حجت جوړ کړئ؟ په دې تقدیر به مو د اعتذار په باره کښې خوله سوچه ماته شي.

## توضیحات

۱ـ د منافقانو په باره کښې د [البقرة:۸ـ۲۰] ایتونو لاندې پوره شرحه تېره شوې ده، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو. هیله ده چې محترم لوستونکي یو ځل هلته مراجعه وکړي.

## قلیل ذکر څه معنی؟

۲ـ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د "قلیل ذکر" لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: د منافقانو ذکر ځکه قلیل دی چې دوی الله ﷻ صرف د ریاکارۍ دپاره یادوي او بس، که بالفرض په هغه وخت کښې یې هم یادولی چې د خلکو د نظر لاندې نه راتلاې نو بیا به کثیر وی[۱].

ب: دوی که په لمانځه باندې ولاړ وي هم زړه یې غافل وي او ټول فکر او ذکر یې په دنیا کښې وي، نه به وایې چې بالکل په لمانځه باندې مشغول نه دي[۲]، لکه چې نبي کریم ﷺ د منافق لمونځ داسې تعریف کړی دی چې: «تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيْ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا»[۳] دا د منافق لمونځ دی چې ناست وي د لمر ځارنه کوي تر دې چې لمر د شیطان په دوه ښکرونو کښې واقع شي (غروب ته نژدې شي)، نو پورته شي څلور ټونګې وکړي الله ﷻ پکښې نه یادوي مګر لږ. یعنې: په هغه مواردو کښې الله ﷻ په ژبه باندې پکښې یادوي چې خلک یې اوري، لکه "الله اکبر" او "سمع الله لمن حمده" او داسې نور.

ج: ځینې مفسرین کرام وایې چې د ذکر څخه لمونځ مطلب دی. یعنې منافقان ډېر لږ لمونځونه کوي چې خلک یې وګوري[۴]، د همدې کبله د سهار او ماسخوتن په لمونځونو کښې ډېر سست وي چې د تیارې کبله بهانې جوړولی شي چې مونږ خو لمونځ وکړ خو د تیارې د وجې څخه تاسو ونه لیدو.

څه لرې نه ده چې په منافقانو کښې ذکر شوي ټول عادتونه راټول وګڼل شي چې دوی په ذکر شوو ټولو معناوو باندې د قلیل ذکر خاوندان دي.

---

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۲۱۰

(۲) روح المعاني ج۱ ص۱۷۶

(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۴۲

(۴) تفسیر القاسمي ج۵ ص۵۳۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## نن ورځ د منافقت پټول اسان کار دي

٣_ په ایت شریف کښې د نبي کریم ﷺ د زمانې د منافقانو حال بیان شوی دی چې د ریاکارۍ دپاره به یې لمونځونه کول ترڅو په مجاهرو کافرانو کښې شمېر نه شي او د مؤمنانو د مستقیمو حملو لاندې رانه شي. او دا ځکه چې په هغې زمانه کښې به چې هرڅوک جومات ته پنځه وخته حاضر نه شو نو د هغه ایمان به د شک لاندې راته.

اما زمونږ په زمانه کښې منافقان نه لمونځ کوي، نه جماعت ته حاضرېږي او نه الله ﷻ یادوي؛ نو په دې زمانه کښې د منافقت پټول ډېر اسان دي ځکه چې د مسلمانانو اکثریت د شریعت تعمیل پروا نه لري، فإنا لله وإنا الیه راجعون.

## مذبذب څه معنی؟

۴_ د ﴿ مُذَبْذَبِينَ ﴾ کلمه د "ذَبْذَبَة" څخه اخستله شوې ده، "ذَبْذَبَة" هغه اواز ته ویل کېږي چې یوه زوړند شي ته د حرکت ورکولو څخه پورته کېږي[1]، لکه چې په یوه ښوونځي کښې د تعلیمي ساتونو د بدلون دپاره زوړند فلزي شی په ډېره وهل کېږي او اواز ترې پورته کېږي. شاید چې د منافق دپاره به د "ذَبْذَبَة" څخه ځکه د اسم مفعول صیغه (صفت) اشتقاق کړی شوی وي چې:

الف: منافقان نه د مسلمانانو سره ضمیمه دي او نه د کافرانو سره، بلکې د هرې ډلې پورې زوړند کړی شوي دي، او یا د دواړو په منځکښې تالی وهي.

ب: د منافقانو کړه وړه په همدوی باندې لاربښوونه کوي، ته به وایې چې د هغوی هر یو کار او عمل اواز کوي او خلکو ته ناري وهي چې منافق دغه دی ویې پېژنئ؛

په هر تقدیر نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف ډېر ښه تفسیر کړی دی چې: «مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً»[2] یعني: د منافق مثال د داسې مېږې دی چې د دوه وو رمو په منځکښې متحیره (سرګردانه) ګرځي. چې دغې رمې ته یو ځل ورځي او دغې (بلې) رمې ته بل ځل ورځغلي.

## یادونه

۵_ که څه هم په راتلونکو ایتونو کښې د منافقانو ټګلاره ښه مشخصه شوې ده چې دوی د کافرانو د ډلې څخه دي او بلکې په کفر کښې ډېر شدید دي چې د کفر سره یې په اسلام باندې مسخرې او ملنډې هم ملګرې کړې دي، مګر دوی د لاندې وجوهو د کبله مذبذب ګڼل کېږي:

الف: څرنګه چې منافقان کله خپل ځانونه د یوې ډلې پورې نښلوي او کله د بلې ډلې پورې، نو ته به وایې چې دوی پخپله خپل ځانونه زوړند کړي دي.

---

(١) مفردات الراغب ص١٧٩

(٢) صحیح مسلم ج٢ ص٣٧٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: څرنګه چې د الله ﷻ څخه په غیر هیڅوک په زړونو باندې نه پوهېږي او د منافقانو متضاد کارونه کله یوه طرف ته او کله بل طرف ته میلان کوي، نو دوی د خلکو په نزد داسې ګڼل کېږي لکه چې زوړند کړی شوي وي او په یوه طرف پورې هم نه وي نښتي.

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې: د پورتنۍ توضیح څخه څرګندېږي چې په دې مقام کښې د "ذَٰلِكَ" دپاره مثنی (مؤمنان او کافران) مُشار إلیه واقع شوی دی. نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بناء اسم اشاره هم مثنی (ذَانِكَ) نازله نه کړی شوه؟

مونږ وایو: قاعده دا ده چې د ابهام څخه وروسته تفصیل په ذهن کښې ښه کښېني، نو دلته یو خل دواړه ډلې (مؤمنان او کافران) د مذکور په اعتبار سره (چې مفرد مذکر دی) مبهمې کړی شوې او په "ذَٰلِكَ" سره ورته اشاره وکړی شوه او بیا د ابهام څخه وروسته په دغو کلماتو ﴿ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ سره تفصیل ورکړی شو، ترڅو د خلکو په زړونو کښې د منافقانو دوه مخې ښه ځای ونیسي.

﴿ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ وَأَصْلَحُوا۟ وَٱعْتَصَمُوا۟ بِٱللَّهِ وَأَخْلَصُوا۟ دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَسَوْفَ يُؤْتِ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾ مَّا يَفْعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِن شَكَرْتُمْ وَءَامَنتُمْ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾ ﴾

[۱۴۵] بې شکه منافقان به د دوزخ د طبقاتو څخه په ډېره ټیټه طبقه کښې وي، او هیڅکله به ته دوی ته کومک کوونکی مونده نه کړې.

[۱۴۶] مګر هغه کسان (به هلته نه وي) چې توبه وباسي او (خپل خانونه) اصلاح کړي او (د) الله ﷻ (په شریعت) باندې منګولې ښخې کړي او خپل دین خاص الله ﷻ ته سوچه جوړ کړي؛ نو دغه کسان د مؤمنانو سره دي. او ډېر ژر به الله ﷻ مؤمنانو ته (د همدغو کسانو په شمول) لوی اجر (جنت) ورکړي.

[۱۴۷] (ای منافقانو او کافرانو) الله ﷻ ستاسو په عذابونو باندې څه کوي؟ که چېرې تاسو شکر وکړئ او ایمان راوړئ.

او الله ﷻ قدردان (منونکی او) پوه دی (چې پرېمانه اجرونه ورکوي او مستحق یې ښه پېژني).

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د منافقانو عاقبت بیان شوی دی چې:
الف: ایا د منافقانو توبه قبلېږي او که څنګه؟

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د دوی توبه قبلېدل څه‌څه شرطونه لري؟

ج: که دوی توبه ونه باسي نو أخروي عذاب به يې په کومه اندازه وي؟

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای پيغمبره! په ذکر شوو ايتونو کښې الله ﷻ تا ته د منافقانو حالات ښه مشرح درنازل کړه ترڅو د يوه پلوه ستا أمت وربانديې اعتماد ونه کړي او د دسيسو څخه يې خانونه وساتي او د بله پلوه منافقان خپلې ناکاره کړنلارې ته متوجه کړی شي چې د منافقت څخه توبه تائب شي او د سوچه مؤمنانو په قطار کښې ودرېږي، که نه نو دوی ته به په آخرت کښې د اور په ټيټه طبقه کښې عذاب ورکړی شي، چې په کفر بانديې د پاسه يې په اسلام بانديې ملنډې هم وهلې دي.

۲ـ ای پيغمبره! ته به دوی ته په دغې ورځ کښې نه هيڅ کومک کوونکی مونده کړې او نه به کومک کوونکی ولري چې د ذکر شوي عذاب څخه يې بچ کړي او يا خاتمه ورکړي.

هو! هغه منافقان به د ذکر شوي عذاب څخه بچ پاتې شي چې هغوی په دنيا کښې د منافقت څخه توبه تائب شي او خپل خانونه د دوه مخی څخه اصلاح کړي، او يوازې د الله ﷻ په دين بانديې منګولې ښخې کړي او خپل دين صرف د الله ﷻ د رضا دپاره د منافقت او شرکياتو څخه سوچه جوړ کړي. او دا څکه چې الله ﷻ د سوچه دين څخه په غير بل دين د هيچا څخه نه قبلوي.

نو کوم منافقان چې د خپلو خانونو دپاره ذکره شوې کړنلاره غوره کړي نو هغوی د مذبذبتوب څخه خلاصېږي او د مؤمنانو د ډلې څخه شمېرل کېږي. نو تاسو ته په کار دي چې د خپلو خانونو يوه برخه يې وبولئ؛ بلکې خپل ورونه يې وګڼئ؛ او ډېر ژر دی چې الله ﷻ په آخرت کښې ټولو مؤمنانو ته (که څه هم د منافقت دوره يې تېره کړې وي او بيا توبه تائب شوی وي) لوی اجرونه ورکړي.

۳ـ بالآخره، ای منافقانو! الله ﷻ نه د چا سره د بندګانو په شان حسد او کينه کوي او نه ورسره دا کار مناسب دی، ستاسو په تعذيب بانديې الله ﷻ څه کوي؟ خو په دې شرط چې تاسو شاکران شئ؛ او په الله ﷻ بانديې سوچه ايمان راوړئ.

الله ﷻ منونکی دی، ستاسو د سوچه ايمان او په اخلاص سره د توبه تائب کېدلو او بالآخره ستاسو د ټولو نېکو اعمالو قدرداني کوي، او د توبې څخه وراندېنيو جنايتونو بانديې مو نه نيسي. خو د دې سره‌سره پوه هم دی، هر څه ورته څرګند دي، چې څوک سوچه ايماندار دی او څوک په اخلاص بانديې توبه تائب دی.

## توضيحات

۱ـ "دَرْك" او "دَرَج" سره يو ترېله اعتباري فرق لري، مثلاً د يوې زينې پټو ته د ختلو په اعتبار سره "دَرَجات" ويل کېږي او د ښکته کېدلو په لحاظ ورته "دَرَکات" وايي[۱]. نو څومره چې څوک په

(۱) مفردات الراغب ص ۱۷۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نېکیو کښې وړاندې وي په هماغې اندازه به يې په جنت کښې درجات پورته وي، بالمقابل څومره چې څوک په بدیو کښې وړاندې وي په هماغې اندازه به يې په دوزخ کښې درکات ښکته وي.

## "الدَّرْك الأسفل" څه معنی؟

۲_ دوزخ اوه (۷) طبقې لري چې لاندنۍ طبقه يې د "الدَّرْك الأسفل" په نامه يادېږي چې د ټولو طبقاتو څخه لاندې ده. د ټولو طبقاتو نومونه دا دي[۱]:

۱_ جهنّم ۲_ لَظَی ۳_ الحُطَمة ۴_ السَّعِير ۵_ سَقر ۶_ الجَحِيم ۷_ الهَاوِيَة.

هو! د جهنم اطلاق په هره یوه طبقه باندې کله-کله کېږي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الصَّخْرَةَ الْعَظِيمَةَ لَتُلْقَى مِنْ شَفِيرِ جَهَنَّمَ فَتَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا وَمَا تُفْضِي إِلَى قَرَارِهَا»[۲] يعني: يقيناً لويه ډبره چې د دوزخ د غاړې څخه ښکته واچوله شي نو اويا کاله به پکښې ښکته مزل کوي حال دا چې ېېخ ته به يې نه وي رسېدلې.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د منافقانو عذاب د نورو کافرانو څخه درونډ دی؟

مونږ وايو: دا څکه چې د کفر سره يې نور جنايات هم ضميمه کړي دي، لکه د مسلمانانو سره ټګي او جاسوسي او يا لکه په اسلام باندې مسخرې او خندنې. نو اګر که ټول کافران د کفر د حيثه په عذاب کښې يو برابر دي مګر د نورو جنايتونو په سبب باندې سره څه تفاوتونه لري. نبي کريم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَتَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَيَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ»[۳] يعني: او د ټولو خلکو بدترين سړی به تاسو (د قيامت په ورځ) دوه مخې سړی مونده کړئ، هغه دوه مخی چې دغې ډلې ته په يوه مخ باندې ورځي او دغې بلې ډلې ته په بل مخ سره ورځي.

## يادونه

۵_ ظاهره دا ده چې په ﴿ مَّا يَفْعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمْ ﴾ کښې منافقان او کافران مخاطب کړی شوي دي[۴] ترڅو دوی ايمان راوړلو ته وهڅول شي چې الله ﷻ څو د مجازي پاچاهانو په شان نه د حسد او کينې د کبله تاسو معذبوي او نه يې ستاسو په تعذيب کښې څه ګټه او يا د ضرر مخنيوی د نظر لاندې نيولی دی، بلکې ای کافرانو! دا تاسو ياست چې په لوی لاس خپل ځانونه د الله ﷻ د تعذيب سره مخامخ کوئ. او دا څکه چې د مجرمانو تعذيب د حکمت غوښتنه ده او الله ﷻ حکيم دی،

---

(۱) روح المعاني ج۵ ص۱۷۷؛ تفسير القرطبي ج۵ ص۴۲۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۹۶
(۴) البحر المحيط ج۴ ص۱۱۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله ستاسو توبه قبلوي او په پخوانيو جنايتونو باندې مو نه نيسي، نو تاسو هم بايد د حسد او کينې څخه راښکته شئ او په سمه طريقه باندې ايمان راوړئ او د الله ﷻ رضا وګټئ.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې د شکر رتبه خو د ايمان څخه وروسته ده نو په کار وه چې "إِنْ آمَنْتُمْ وَشَكَرْتُمْ" نازل شوی وی، نو د څه حکمت په بناء ذکر شوی ترتيب په نزول کښې مراعات نه شو؟

مونږ وايو چې:

الف: شُکر په درې ډوله دی:

اول: يو قلبي شکر دی چې اقلا سړی دومره پوه شي چې يوه حقيقي مُنعم ماته نعمتونه راکړي دي. دې ته مبهم شکر هم ويل کېږي چې د ايمان راوړلو څخه وړاندې دی او په حقيقت کښې د ايمان د راوړلو سبب دی، چې په دې مقام کښې همدغه شکر مراد دی[1].

دوهم: بل د ارکانو شکر دی چې حقيقي مُنعم وپېژني چې الله ﷻ واحد لا شريک دی.

دريم: بل لساني شکر دی چې د ارکانو (جوارحو) سره ژبه هم ملګرې کړي او د شکر چيغه پورته کړي. دغه وروستني دواړه ډولونه د ايمان څخه وروسته تحقق مومي او بس.

ب: مونږ ته داسې برېښي چې په دې مقام کښې د ﴿ وَءَامَنتُمْ ﴾ جمله د ﴿ شَكَرْتُمْ ﴾ د جملې دپاره عطف تفسير واقع شوې ده. او دا خکه چې دلته مخاطبه د کافرانو او منافقانو سره ده.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای کافرانو! که تاسو شکرګزاري وکړئ. يعنې ايمان راوړئ.

لنډه دا چې د مؤمنانو شکر خو د ايمان څخه وروسته دی خو هغه دلته مطلب نه دی، دلته د کافرانو شکر مراد دی چې د ايمان راوړلو په بنه کښې څرګندېدلی شي او بس. نو ذکر شوی ترتيب د مقام سره ډېر ښه مناسب دی او سوال جواب ته هيڅ موقع نشته.

د الله ﷻ په توفيق پنځمه سپاره ختمه شوه، والحمد لله ﷻ.

۱۳۷۳/۳/۴ هـ ش.

(۱) روح المعاني ج۵ ص۱۷۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾ إِن تُبْدُوا۟ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا۟ عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾﴾

[۱۴۸] الله ﷻ په بدی سره څرګندونه (اظهار) نه خوښوي (اجازه نه ورکوي په داسې حال کښې چې بدي) د وینا څخه عبارت ده، مګر هغه څوک چې په هغه باندې ظلم شوی وي (نو هغه ته د اظهار اجازه شته)، او الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی.

[۱۴۹] که تاسو نیکي ښکاره کړئ او یا یې پټه کړئ او (بالآخره) یا د بدی (ظلم) څخه عفوه وکړئ (نو دا ډېر ښه کار دی) ځکه چې یقیناً الله ﷻ عفوه کوونکی (او) قدرت درلودونکی دی (د کامل قدرت سره-سره عفوه کوي).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د منافقانو تول کړه وړه ښه پوره مشرح بیان کړه مګر هیڅوک یې مشخص نه کړل چې فلانی منافق دی او یا دا کارونه په فلاني سړي کښې شته.

په دې ایتونو کښې یې په عین کړنلاره باندې مونږ ته توصیه وکړه چې تاسو هم اشخاصو ته ګوته مه نیسئ چې هاغه منافق دی او دغه منافق دی، ترڅو د یو پلوه تاسو په غیبت کښې واقع نه شئ او د بله پلوه د هغوی عناد قوي نه شي او په علني توګه د کافرانو پورې ونه نښلي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! که څه هم الله ﷻ تاسو ته د منافقانو د پېژاندني په باره کښې پوره معلومات درکړه، مګر تاسو ته مناسبه نه ده چې په څرګنده توګه کله یوه ته ګوته ونیسئ چې هغه منافق دی او کله بل ته، او په خلکو کښې یې ډنډوره کړئ.

او دا ځکه چې الله ﷻ د بدې خبرې شهرت نه خوښوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي چې شهرت ورکړي مګر هغه چا ته اجازه شته چې هغه مظلوم واقع شي او صرف په دې غرض چې د ظالم بدې خبرې د حاکم او قاضي په حضور کښې افشاء کړي ترڅو د ظلم مخه یې ونیسي.

نو څرنګه چې منافقان په تاسو باندې نه، بلکې په خپلو خانونو باندې ظلم کوي نو تاسو ته جائزه نه ده چې د هغوی منافقت ته شهرت ورکړئ.

هو! دا بېله خبره ده چې عند الموقع درته الله ﷻ د منافقانو د افشاء کولو امر درکړي د الله ﷻ څخه ووېرېږئ! بدې خبرې ته مه په چل ول شهرت ورکوئ او مه یې تشهیر ته بهانې تراشئ: ځکه چې الله ﷻ اورېدونکی دی او هم پوه دی.

۲ـ اما که تاسو یو ښه کار په څرګنده توګه وکړئ یا د نورو احسانات د شکر په توګه بیان کړئ، یا د خیر خبرې ته شهرت ورکړئ او یا ښه کار یا ښه خبره په پټه کښې د اجراء لاندې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ونيسئ او بالآخره يا تاسو ظلم تشهير نه کړئ او په ښکاره يا پټه کښې ورته عفوه وکړئ نو دا ټول ډېر ښه عادتونه دي او الله ﷻ يې خوښوي.

الله ﷻ د لوی قدرت سره-سره عفوه کوي، نو که تاسو د قدرت سره-سره د تشهير (په ډاګه کولو) څخه صرف نظر شئ او يا لا ورته په ټوله معنی عفوه کړئ نو دا کار د الله ﷻ په نزد ډېر مقبول دی.

## توضيحات

۱_ په بدې خبرې باندې جهر کول د هغې د شهرت څخه عبارت دی، برابره خبره ده چې په لوړ اواز سره وي يا په ټيټ اواز سره، او يا حتی د راديو په اعلان سره وي. همدارنګه په دې کښې کتابت (ليکنې)، ډرامې، مجلې، او نورې خورونې او اشارات ټول شامل دي. نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1] يعنې: هرڅوک چې په يوه مسلمان باندې پرده واچوي الله ﷻ به په هغه باندې د قيامت په ورځ پرده واچوي.

## د بد کار تشهيرول هم جائز نه دي

۲_ لکه څنګه چې چاته جائزه نه ده چې بده خبره په څرګنده توګه وکړي همدارنګه دا هم جواز نه لري چې څوک غير مشروع کار په ډاګه وکړي. يعنې د بدکار کول يوه ګناه ده او علني کول يې بله ګناه ده، او الله ﷻ ورباندې په غضب کېږي.

عمر بن عبد العزيز رحمه الله فرمايلي دي چې: الله ﷻ عام خلک د خاصو خلکو په ګناه باندې نه نيسي مګر کله چې بدکار په څرګنده توګه وکړی شي نو بيا ټول (عام او خاص) د عقوبت او جزا مستحق جوړېږي[2].

لکه څنګه چې د مظلوم څخه په غير هيڅا ته د بدو خبرو د خورولو اجازه نشته، همدارنګه پخپله جنايتکار ته هم روا نه ده چې د خپلو جنايتونو قيصې وکړي او خپله لمن پخپله په سر باندې ورواړوي، ترڅو نورو خلکو ته عمومًا او ماشومانو ته خصوصًا د ګناه کولو جرئت ورکړي او د ګناهونو سره يې اسلامي حساسيت کمزوری کړي.

## بده خبره يعنې څه؟

۳_ مفسرينو کرامو په دې مقام کښې د بدې خبرې ډېر تفسيرونه کړي دي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: ځينې مفسرين کرام وايي چې بده خبره دا ده چې يو سړی د قاضي يا حاکم په حضور کښې خپل مظلوميت وړاندې کړي چې فلانی سړي راباندې دا ډول ظلم کړی دی[3].

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص ۳۳۰

(۲) موطا الإمام مالک ص۷۳۳

(۳) تفسير القرطبي ج۶ ص۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې بده خبره په دې مقام كښې د ښېراوو څخه عبارت ده چې ظالم ته ښېراوې وكړې هر ډول ښېرا چې وي. هو! كه صبر وكړي نو صبر بهتر دی[1].

بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې يوه ورځې زما مخنقه (غاړكۍ) غلا كړى شوې وه نو ما غله ته ښېراوې وكړې، نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: «لَا تُسَبِّخِي عَلَيْهِ دُعِيهِ بِذَنْبِهِ»[2] په ده باندې (په ښېراوو سره عذاب) مه تخفيفوه، د گناه سره يې پرېږده (چې الله ﷻ جزا وركړي).

ج. بده خبره دلته د كنځلو څخه عبارت ده چې يو سړى د چا د پلوه په كنځلو سره مظلوم واقع شي او نوموړى يې بالمثل وكنځي. نبي كريم ﷺ فرمايي: «الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِي مِنْهُمَا مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ»[3] يعني: دوه كنځل كوونكي چې څه دواړه وايي نو (گناه يې) د دواړو څخه په پيل كوونكي باندې واقع كېږي ترڅو چې مظلوم د حد څخه تجاوز نه وي كړى (زياتې كنځلې يې ورته ونه كړې).

يوه ورځې د نبي كريم ﷺ په حضور كښې ابو بكر الصديق ﷺ ته چا كنځلې وكړې څو تر درې خلو پورې نوموړى چپ وه او جواب يې ورنه كړ، مگر په څلورم خل يې د كنځلو جواب وركړ نو نبي كريم ﷺ د مجلس څخه پورته شو، ابو بكر ﷺ ووېلې چې: ايا په ماباندې په غُصه شوې اى د الله رسوله! چې د مجلس څخه پورته شوې؟. نبي كريم ﷺ وفرمايل: چې كله تاته كنځل كوونكي كنځلې پيل كړې نو الله ﷻ د اسمانه يوه پرښته نازله كړه چې د هرې كنځلې سره به يې كنځل كوونكي ته جواب وركاوه چې ته دروغ وايې، ابو بكر ﷺ دغسې نه دى لكه چې ته ورته نسبت كوې. مگر تا چې كله جواب وركړ نو شيطان په منځكښې پرېووت (ترڅو دواړو ته شيطاني وكړي) «فَلَمْ أَكُنْ لِأَجْلِسَ إِذْ وَقَعَ الشَّيْطَانُ»[4] يعني: نو نه ومه زه چې هلته كښېنم چرته چې شيطان واقع كېږي (كېني).

د. دلته د بدې خبرې څخه د كفر خبره مطلب ده چې مظلوم ته يې لوستل او ښكاره كول جائز دي، البته كله چې د مرگ د خطر سره مخامخ شي. لكه چې الله ﷻ ورته په [النحل:١٠٦] كښې اشاره كړې ده[5].

## تبصره

۴_ مونږ ته داسې ښكارې چې ذكر شوي صورتونه ټول پكښې شامل دي او د صورتونو ذكر د حصر دپاره نه دى، هر مظلوم ته جواز لري چې د ظالم په باره كښې بده خبره وكړي. بلكې

(١) زاد المسير ج٢ ص٢١٣
(٢) مسند احمد بن حنبل ج١٠ ص٣٦
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٩
(٤) سنن ابي داؤد ج٢ ص٣٦٥
(٥) تفسير القاسمي ج٥ ص٥٢٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سختې خبرې هم پکښې شاملې دي چې يو سړی يې خپل پوروړي ته کوي. لاندې دوه حديثونه د مثال په توګه ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ»[1] يعنې: د غني (پوروړي) د قرض ټالول ظلم دی.

دوهم: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يو سړی (يهودي) ورغی چې خپل پور يې ترې په غليظه او سخته لهجه وغوښت، نو صحابه وو کرامو ﷺ هغه ته څه اراده وکړه (چې خپه يې کړي)، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «دَعُوهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا»[2] پرې يې ږدئ! ځکه چې د حق خاوند ته خبره شته. يعنې د سختو خبرو حق لري.

که څه هم نوموړي يهودي د سختو خبرو حق نه درلود، ځکه چې نبي کريم ﷺ يې پرته له عذره پور نه وه ټال کړی، مګر د تواضع په توګه يې ذکره شوې خبره وکړه.

## سوال جواب

٥_ که څوک وايي چې په خير کښې خو عفوه هم شامله ده نو په مستقل ذکر کښې يې څه حکمت وه؟

مونږ وايو چې: د دې دپاره وربانديې الله ﷻ صراحت وکړ _والله ﷻ اعلم_ ترڅو مظلوم عفوه کولو ته وهڅول شي. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: په هر خير باندې الله ﷻ اجر ورکوي خصوصاً په عفوه کولو باندې الله ﷻ زښت ډېر اجر ورکوي چې يو مظلوم د انتقام څخه کار وانخلي او د ظالم ظلم په ډاګه نه کړي. لکه چې فرمايي: ﴿ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [الشورى: ٤٠] يعنې: نو هرڅوک چې (انتقام وانخلي او) عفوه وکړي او اصلاح وکړي نو د هغه اجر په الله ﷻ باندې دی، يقيناً الله ﷻ ظالمان نه خوښوي (او په غچ اخستلو کښې د دې خبرې خطره شته چې سړی ظالم واقع شي او خپل انتقام کنټرول نه شي کړی).

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا۟ بَيْنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ
نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا۟ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْكَٰفِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمْ
يُفَرِّقُوا۟ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُو۟لَٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾ ﴾

(١) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٣٥٦
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٣٢٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۵۰] یقیناً هغه کسان چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبرانو باندې کافر کېږي او غواړي چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبرانو په منځکښې جدایي وکړي او (داسې جدایي چې) وایي: مونږ په ځینو پیغمبرانو باندې ایمان راوړو او په ځینو باندې کافر کېږو، او غواړي چې د دې (اسلام او کفر) په منځکښې لاره ونیسي.

[۱۵۱] دغه ډله خلک همدوی کافران دي په حقه سره، او مونږ د کافرانو دپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی.

[۱۵۲] او هغه کسان چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبرانو باندې یې ایمان راوړی دی او د دوی (پیغمبرانو) څخه یې د یوه پیغمبر په منځکښې هم (په ایمان راوړلو کښې) فرق نه وي کړی؛ نو دغه ډله به (الله ﷻ) دوی ته ډېر ژر خپل اجرونه ورکړي، او الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د منافقانو خواص او عادتونه بیان کړه خو د دې دپاره چې د دوی کینه او عداوت زیات نه شي او د اسلام سره جبهه ګري ونه کړي نو مونږ ته یې توصیه وکړه چې ترڅو پورې چې هغوی خپل منافقت پټ ساتي تاسو هم ورته ګوته مه نیسئ چې دا منافق دی. په دې ایتونو کښې د یهودانو بلکې د اهل الکتابو څه حالات بیان شوي دي. او دا ځکه چې:

۱_ په هغې زمانه کښې اکثره منافقان د یهودو څخه وه، او که کوم یو به د هغوی څخه نه وه نو د هغوی سره به یې پخې اړیکې درلودې، بلکې د کار نقشه به یې د همغوی څخه اخسته.

۲_ د منافقانو کړنلاره بالکل یهودو ته ورته ده چې هغوی ځینې پیغمبران مني او ځینې نه مني، همدارنګه منافقان هم ځینې اسلامي کارونه کوي او ځینې کفري کارونه ترسره کوي.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: الله ﷻ د هغو خلکو ایمان نه قبلوي کوم چې د پیغمبرانو په منځکښې په تفریق قائل وي چې ځینې مني او ځینې نه مني لکه یهودان چې موسی ﷺ مني، خو د محمد ﷺ څخه انکار کوي، او دا ځکه چې د هر یوه پیغمبر څخه انکار کول په حقیقت کښې الله ﷻ ته د کذب او دروغو نسبت کول دي چې ته دروغ وایې، دا پیغمبر تا نه دی استولی، او هرڅوک چې الله ﷻ ته د دروغو نسبت وکړي نو هغه سوچه کافر دی، که څه هم الله ﷻ واحد او لا شریک وګڼي.

د الله ﷻ په نزد د اسلام او کفر لارې پوره څرګندې دي چې:

الف: اسلام: یعنې الله ﷻ واحد او لا شریک ګڼل او په ټولو پیغمبرانو باندې ایمان راوړل.

ب: کفر: یعنې د الله ﷻ سره په یوه وجه شریک درول او یا پیغمبران نه منل، برابره خبره ده چې ځینې ومني او یا یې ونه مني.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ لیو، دا چې د الله ﷻ په نزد دواړه لارې بالکل مشخصې دي او دریمه لار یې په منځکښې نشته، مګر لکه څنګه چې منافقانو د خپلو ځانونو دپاره دریمه لاره جوړه کړې ده او مذبذبه لاره یې نیولې ده، همدارنګه اهل الکتاب هم غواړي چې د مسلمانېدلو دپاره یوه دریمه لاره جوړه کړي چې د الله ﷻ پیغمبران په انتخابي توګه باندې ومني او بس.

د دوی په خیال دا کار د دوی دپاره عزت او وقار دی، مګر دغسې نه ده، دا کار د دوی توهین او سپکاوی دی، ډېر ژر به دوی ته دغه سپکاوی په دوزخ کښې ورڅرګند شي.

۲ـ په مقابل هغه کسان چې د الله ﷻ په ښودله شوې طریقه باندې ایمان راوړي نو د دوی ایمان د الله په نزد مقبول دی، ډېر ژر به اجرونه ورکړي، او که په عمل کښې ترې نیمګړتیا واقع شي هغه به ورته وبښي او د لا زیات توفیق عنایت به ورباندې وکړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ حَقًّا ﴾ کلمه په دې مقام کښې د باطل په مقابل کښې نه ده بلکې د محقق او ثابت په معنی سره ده[1]، یعنې سوچه کفر او نیمګله کفر د الله ﷻ په نزد یو برابر دي. نو اهل الکتابو ته په ټولو پیغمبرانو ښه باندې عقیده کول هیڅ ګټه نه شي رسولی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ بَيْنَ ﴾ کلمه خو دوه وو او یا ډېرو شیانو ته مضافېږي، حال دا چې دلته ﴿ أَحَدٍ ﴾ ته مضافه شوې ده چې مفرد دی؟

موږ وایو چې: د "أحد" کلمه په مفرد، مثنی او جمعه درېواړو کښې استعمالېږي[2]، نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: مومنان نه د دوه وو پیغمبرانو په منځکښې فرق کوي، چې یو منو او بل نه منو، او نه د ډېرو په فرق باندې قائل دي.

﴿ يَسْـَٔلُكَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَٰبًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ فَقَدْ سَأَلُوا۟ مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن
ذَٰلِكَ فَقَالُوٓا۟ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ
مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ
ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا۟ فِى ٱلسَّبْتِ وَأَخَذْنَا
مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴿١٥٤﴾ ﴾

---

(۱) روح المعاني ج ۶ ص ۵
(۲) تفسیر الکشاف ج ۱ ص ۵۸۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۵۳] (ای پیغمبره!) اهل الکتاب ستا څخه غوښتنه کوي چې په دوی باندې د اسمان څخه (فرمایشي) کتاب ورنازل کړې، نو دوی خو د موسی ﷺ څخه د دې څخه لویه غوښتنه کړې وه نو (ورته) ویلي یې وه چې مونږ ته الله ﷻ په ښکاره توګه راولید کړه، نو دوی د خپل ظلم په سبب تندر ونیول.

بیا دوی خوسکی (په الوهیت سره) ونیوه، (البته) د هغه څخه وروسته چې دوی ته ښکاره معجزې ورغلې وې، نو مونږ د دې څخه هم عفوه کړه (او د دوی توبه مو قبوله کړه). او مونږ خو موسی ﷺ ته ښکاره غلبه ورکړې وه (هم په معجزاتو او هم په دلایلو سره).

[۱۵۴] او د دوی د پاسه مو د طور غر پورته کړ (البته) د دوی د عهد د کلکولو په سبب، او دوی ته مو ویلي وه چې د (مفتوحه ښار) دروازې ته په داسې حال کښې ورداخل شئ چې سجده کوونکي یاست، او (هم) مو دوی ته ویلي وه چې د خالي (شنبې) په ورځ کښې تجاوز مه کوئ، او (په هر حل) مو د دوی څخه کلک عهد اخستی وه.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د اهل الکتابو (یهودو) حال بیان کړی وه چې دوی د لجاجت څخه کار اخلي او په پیغمبرانو باندې په انتخابي توګه ایمان راوړي، په دې ایتونو کښې ښکاره شوې ده چې لجاجت د دوی مستمر عادت دی او د تاریخ په اوږدو کښې یې د هر مثالونه تېر شوي دي. او بالآخره هلته د بدو وېناوو او بدو کارونو په تشهیر باندې سانسور لګولی شوی وه چې الله ﷻ ورباندې په غضب کېږي، او دلته واضحه کېږي چې اهل الکتابو او خصوصاً یهودو په همدغه ممنوعه عمل باندې اصرار کړی دی او لا کوي یې. نو ای مسلمانانو! تاسو د دوی غوندې مه کېږئ.

## شان نزول

د ذکر شوو ایتونو په شان نزول کښې مختلف واقعات روایت شوي دي چې اهل الکتابو د نبي کریم ﷺ څخه د ایمان راوړلو دپاره په لاندې کیفیتونو سره کتاب غوښتی وه[١]:

الف: د اسمان څخه داسې کتاب راوړه لکه موسی ﷺ چې لیکل شوی کتاب راوړی وه.

ب: یوازې زمونږ (یهودو) دپاره خاص کتاب رانازل کړه.

ج: زمونږ د مشرانو په نومونو باندې خاص- خاص لیکونه راوړه، چې ای فلانیه! ته خبر اوسه چې محمد ﷺ مې د پیغمبر په صفت باندې دروستاوه.

د ځینو مفسرینو کرامو همدا روایت خوښ دی[٢]، مګر مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي تول سوالونه به د یهودانو مختلفو خلکو کړي وي او بیا به الله ﷻ ذکر شوي ایتونه د نبي کریم ﷺ د تسلی دپاره نازل کړي وي.

---

(١) المحرر الوجیز ج۴ ص۲۹۷؛ الدر المنثور ج۲ ص۷۲۶

(٢) تفسیر الطبري ج۶ ص۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ ـ یعني: ای پیغمبره! اهل الکتاب خو ستا څخه د تعنت او عناد د کبله غواړي چې په دوی باندې د اسمان څخه یو خاص لیکلی شوی کتاب او یا خاص ـ خاص لیکونه ورنازل کړې نو بیا به درباندې ایمان راوړي او پیغمبري به دې تسلیم کړي.

مګر ته به دغسې تعنتي غوښتنو باندې مه غمژن کیږه، د دوی اسلافو هم په خپلو وختونو کښې د پیغمبرانو ـ ـ څخه ډېرې سختې غوښتنې کړې دي او ډېر لوی ـ لوی جنایات یې کړي وه، څو مثالونه یې دا دي:

الف: دوی په یو وخت کښې د موسی علیه السلام څخه ډېره عظیم الشانه غوښتنه کړې وه چې مونږ به درباندې تر هغه ایمان رانه وړو ترڅو چې مونږ ته په ښکاره توګه الله ﷻ را ونه ښایې.

نو الله ﷻ د همدغه ظلم (ګناه) په سبب په دوی باندې اسماني تندر نازل کړ او ټول ورباندې مړه شوه. خو الله ﷻ بېرته راژوندي کړه، شاید چې د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړي.

ب: ای پیغمبره! د دوی په سوانحو کښې بیا دا خبره ذکره کړه چې دوی په یو وخت کښې د خوسي عبادت پیل کړ او په یوه رنباره باندې یې د خپلو ځانونو دپاره معبود وګرځاوه، سره د دې چې دوی واضحه معجزې لیدلې وې او تازه د فرعون د قبضې څخه خلاص شوي وه، چې د دوی د نظر لاندې الله ﷻ په معجزانه توګه هلاک کړه. مګر الله ﷻ د دې سره ـ سره دوی ته عفوه وکړه او توبه یې ترې قبوله کړه.

ای پیغمبره! لکه چې تاته مو واضحه او قوي دلایل درکړي دي همدارنګه مو موسی علیه السلام ته د دوی د هدایت دپاره پوره دلایل ورکړي وه چې د قناعت دپاره یې پوره کفایت کاوه، مګر دوی قناعت ونه کړ.

ج: یهودانو د موسی علیه السلام څخه په خپل وخت کښې د یوه کتاب غوښتنه وکړه لکه څنګه چې نن ورځ ستا څخه د کتاب غوښتنه کوي، مګر کله چې موسی علیه السلام هغوی ته غوښتلی شوی کتاب ورووړ نو دوی یې د منلو څخه انکار وکړ او مونږ ورباندې د طور غر ورپورته کړ ترڅو دوی خپل عهد تجدید او تقویه کړي.

د: یهودانو ته مو د فتحه کړی شوي ښار په باره کښې امر کړی وه چې په تواضع (سجده کوونکي) به ورداخلیږئ مګر دوی مسخره کوونکي ورننوتل چې په کوناتو باندې ورخښېدل.

هـ: دوی باندې مو د داوُد علیه السلام په زمانه کښې حکم کړی وه چې د خالي په ورځ به د ماهیانو ښکار نه کوئ مګر دوی زمونږ حکم په چل ول سره د پښو لاندې کړ، داسې چې د خالي (شنبې) په ورځ به یې ماهیان د اوبو په داخل کښې محاصره کول او د یکشنبې په ورځ به یې ښکار کول.

لنډه دا چې په هر ځل مو د دوی څخه کلک عهد اخستی دی خو دوی به هر ځل باندې خپل عهد مات کړی دی او الهي احکام یې د پښو لاندې کړي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ نو ای پیغمبره! ستا د زماني یهودان د پخوانیو یهودانو حلالي اولاده ده او د هغوی وفادار شاګردان دي؛ که بالفرض دوی ته مونږ فرمایښتي کتاب ورنازل کړو او کلک عهد ترې واخلو هم دوی به خپل عهد مات کړي، په تا باندې به ایمان رانه وړي او د خپلو اسلافو په قدم باندې به لاړ شي. بالآخره که دوی ذکره شوي غوښتنه د حقیقت غوښتنلو دپاره کولې، نو مونږ به یې دا غوښتنه هم منلې وی، خو دغسې نه ده، دوی صرف او صرف تعنتي غوښتنه کوي او بس.

## توضیحات

۱ـ د ذکر شوو ایتونو څخه نیولې آن تر ﴿ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ پورې نهه (۹) ایتونو د یهودانو د جنایتونو تقریبًا شپاړس (۱۶) نمونه په اجمالي توګه بیان کړي دي چې تفصیلات یې په نورو سورتونو کښې یا تېر شوي او یا راروان دي. خو د دغو شپاړسو جنایتونو څخه په ذکرو شوو ایتونو کښې د پنځو جنایتونو ذکر نازل شوی دی. هغه دا دي:

الف. په دنیا کښې یې د الله ﷻ د لیدلو غوښتنه په [البقرة:۵۵] ایت کښې تېره شوې ده.

ب: د خوسي د عبادت قیصه یې په مفصله توګه د [طه:۸۷] ایت څخه پیل کېږي.

ج: د "طور" د غره د پورته کېدلو قیصې ته یې په [البقرة:۶۳] ایت کښې اشاره شوې ده.

د: ښار ته په تواضع سره د ننوتلو قیصه یې په [البقرة:۵۸] ایت کښې تېره شوې ده.

ه: د خالي د ورځې د ماهیانو ښکار کول یې د [الأعراف:۱۶۳] ایت څخه تفصیلواره پیل کېږي.

د جنایتونو او عهدماتونې د نوملیک څخه په دې مقام کښې مطلب دا دی چې د یو پلوه نبي کریم ﷺ متسلي شي چې یهودانو د نورو پیغمبرانو سره هم لوی لوی جنایات کړي دي؛ لکه څنګه چې د هغوی حوصله پرې نه ده خرابه شوې، نو باید چې ستا حوصله هم خرابه نه شي. او د بله پلوه یهودان په غوږ ووهلی شي چې د الله ﷻ څخه ووار شي؛ چې چېرې درڅخه د اسلافو غوندې خنزیران او بیزوګان جوړ نه کړي.

۲ـ ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴾ څخه الهي شریعت مراد کړی دی چې موسی ﷺ ته شریعت ورکړی شوی وه او د خلکو په زړونو باندې یې اثر درلود[۱]. مګر مونږ نه داسې برېښي چې دلته به ترې ـ والله ﷻ اعلم ـ هغه ټول معجزات مراد وي چې موسی ﷺ ته په مختلفو وختونو کښې ورکړی شوي وه خو په یهودانو باندې یې چندان اثر نه کاوه او که څه اثر به یې وکړ هم چندان دوامدار به نه وه.

﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ۝ وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ

---

(۱) في ظلال القرآن ج۲ ص ۸۰۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَـٰنًا عَظِيمًا ﴿١٥٦﴾ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا ٱلْمَسِيحَ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا
قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَـٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِۦ
مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا
حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكُونُ
عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾

[۱۵۵] نو د دوی د خپل کلک عهد د ماتولو په سبب او (په سبب) د کفر د دوی د الله ﷻ په ایتونو باندې او (په سبب) د وژلو د دوی پیغمبرانو لره په ناحقه سره (چې دوی ته هم ناحقه ښکارېده) او (په سبب) د وینا د دوی چې زمونږ زړونه په غلاف (پوښ) کښې دي؛ (مونږ په دوی باندې لعنت نازل کړ او د رحمت څخه مو لرې کړه)، بلکې الله ﷻ د دوی په زړونو باندې د دوی د کفر په سبب مهر وهلی دی، نو دوی ایمان نه راوړي مګر لږ وخت (یا لږ خلک).

[۱۵۶] او (همدارنګه) د دوی د کفر په سبب او په بي بي مریمې باندې د دوی د لوی بهتان ویلو (ترلو په سبب مونږ په دوی لعنت وکړ).

[۱۵۷] او (بالآخره) د دوی د دې وینا (په سبب) چې یقینًا مونږ المسیح عیسی علیه السلام د بي بي مریمې رضي الله عنها زوی د الله ﷻ پیغمبر وژلی دی.

(اما حقیقت دا دی چې) نوموړی نه دوی وژلی دی او نه یې په دار باندې زوړند کړی دی، مګر (وژل شوی سړی) دوی ته (د عیسی علیه السلام سره) یو رنګ کړی شوی وه (چې دوی یې تشخیص نه شو کولی).

او (د همدې کبله) یقینًا هغه کسان چې د عیسی علیه السلام په باره کښې په جګړه اخته وو (دوی ټول) د همده (د حالت څخه) په شک کښې واقع شوي وه.

(لکه څنګه چې پرې دوی لره ښخوا علم نه وه، همدارنګه نن هم) دوی لرهورباندې علم (یقین) نشته، دوی د بل هیڅ شي پیروي نه کوي مګر د ګومان (چې څه دلایل ورته وتراشي) او دوی په یقین سره عیسی علیه السلام وژلی نه دی (واقعیت همدا دی).

[۱۵۸] بلکې الله ﷻ نوموړی خپل ځان (اسمانونو) ته پورته کړی دی (چې هلته د چا مجازي تصرف هم نشته) او الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی (او هم) د حکمت څښتن دی.

[۱۵۹] د اهل الکتابو څخه هیڅوک نه دی مګر هغه به ضرور خامخا د خپل مرګ څخه وړاندې په عیسی باندې ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به (عیسی علیه السلام) په دوی باندې شاهدي ورکوونکي وي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ په دې ایتونو کښې هم د اهل الکتابو د جنایتونو نوملیک تعقیب شوی دی. یعنې اهل الکتاب مونږ د خپل رحمت څخه لرې کړه، بیزوګان او خنزیران مو ترې جوړ کړه او د تاریخ په اوږدو کښې مو دوی د نورو د تسلط لاندې واقع کړه تردې چې د جزیې په ورکړه باندې به یې ژوند کاوه. او دا څکه چې:

الف: دوی خپلې کلکې وعدې ماتې کړې او په خپلو عهدونو باندې ونه دریده.

ب: د الله ﷻ په ایتونو او معجزاتو باندې کافر شوه او انکار یې ترې وکړ.

ج: په ناحقه یې پیغمبران علیهم السلام شهیدان کړه، او په ناحق توب باندې به یې اقرار کاوه.

د: دوی به ویلې چې زمونږ زړونه د علم جوالونه دي، د بل چا علم ته ضرورت نه لرو او یا هیڅوک نه شي کولی چې زمونږ په زړونو کښې څه خبره ننباسي، زمونږ زړونه قلف دي څوک یې نه شي بېرته کولی؛ چې د [البقرة:۸۸] ایت لاندې یې بحث تېر شوی دی.

خبره دغسې نه ده لکه چې دوی خیال کوي، بلکې د خیر خبره یې څکه په زړونو کښې ځای نه شي نیولی چې الله ﷻ د کفر په سبب د دوی په زړونو باندې مهر وهلی دی، نو د همدې کبله د دوی څخه ډېر لږ خلک ایمان راوړي، لکه عبد الله بن سلام ﷺ او نور.

هـ: دوی برسېره په دې چې په عیسی ﷺ باندې کافر شوه په مریمې رضی الله عنها باندې یې لوی بهتان هم وتاړه چې هغې ته یې د زناکارۍ نسبت وکړ.

و: دوی به په ډېر افتخار سره ویلې چې مونږ عیسی ﷺ وژلی دی او په دار کړی مو دی، هغه څوک چې د الله ﷻ پیغمبر دی. یعنې مونږ دومره باتور او معزز یاستو چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ وژنو خو مونږ درباندې نه نیسي، او یا مو پرې نه شي نیولی،العیاذ بالله.

۲_ خبره داسې نه ده لکه چې دوی یې مدعیان دي، عیسی ﷺ دوی نه وژلی دی او نه یې په دار کړی دی، مګر دوی ته وژل شوی سړی د عیسی ﷺ سره ورته او مشابه کړی شوی وه، دوی خیال کاوه چې دا وژل شوی عیسی ﷺ دی، خو حقیقت هغسې نه وه.

د همدې کبله دوی د همدغه مشابه سړي د وژلو څخه وروسته په ډېر اختلاف کښې واقع شوه، او ټول اختلاف کوونکي د عیسی ﷺ د وژلو څخه په شک کښې پراته وه او د یوه سره هم علم نه وه چې ربنتیا یې عیسی ﷺ وژلی دی او که نه.

د همدې کبله ټولو د ګومان څخه په غیر د بل شي متابعت نه کاوه او ټول په ګومان پسې روان وه، حتی د وژلو په وخت کښې یې هم نه یقین نه درلود چې کوم سړی مونږ وژنو دا به عیسی ﷺ وي، همدارنګه دوی نن ورځ هم په ګومان کښې پراته دي.

۳_ لنډه دا چې خبره دغسې نه ده لکه چې دوی ګومان کوي، بلکې واقعیت دا دی چې الله ﷻ عیسی ﷺ داسې ځای (اسمانونو) ته پورته کړ چې هلته د جبارو ... حکومت هم نشته.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د الله ﷻ د ارادې مخه هیڅوک نه شي نیولی، کولی یې شو چې په څمکه باندې یې هم نجات ورکړی وی، مګر دا د حکمت غوښتنه وه چې په معجزانه توګه یې نجات ورکړ، او چا چې د ده وژل غوښتل د همغوی دپاره ترې بلا جوړه شوه او یو تربله سره په جګړو اخته شوه.

۴ـ مګر په یاد ولرئ چې هر یو اهل کتاب (یهودي وي او که نصراني) د عناد سره- سره به ضرور په عیسی ؑ باندې ایمان راوړي او ټول به ورباندې متفق کېږي چې نه مونږ وژلی دی او نه مو په دار کړی دی، بلکې الله ﷻ په معجزانه توګه نجات ورکړی دی. خو دا به هغه وخت وي چې مرګ ورته حاضر شي او پوه شي چې نور پاتې کېدونکي نه دي، خو د دغه وخت ایمان د الله ﷻ په نزد باندې منظور نه دی، د همدې کبله یې د فرعون ایمان منظور او مقبول نه کړ؛ او یا به هغه وخت وي چې عیسی ؑ د اسمانه راښکته شي.

۵ـ په دې باندې علاوه عیسی ؑ به د قیامت ورځ په دوی باندې خپله حقه شاهدي هم ورکړي چې زه د الله ﷻ بنده یم او بنده وم، همدې خبرې ته مې دعوت چلاوه، مګر خلکو زما په باره کښې اختلافات او جګړې کولې چې د یوه سره هم یقیني علم نه وه، بلکې ټولو د ګومانونو پیروي کوله.

۶ـ لنډه دا چې اهل الکتابو ته په کار دي چې نننی فرصت د لاسه ونه باسي، په محمدي شریعت باندې منګولې ښخې کړي او د چټیاتو څخه لاس واخلي، که نه نو یو وخت به ورباندې پښېمانه شي، خو د هغه وخت پښېماني چاته څه ګټه نه شي رسولی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم ﴾ کلمه په څه شي پورې تعلق نیسي؟

مونږ وایو چې: د "لَعَنَّا" کلمې پورې یې تعلق نیولی دی. دغه کلمه که څه هم په دې مقام کښې ذکره نه ده مګر د اهل الکتابو په باره کښې ورباندې الله ﷻ په بل ځای کښې صراحت کړی دی چې: ﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ﴾ [المائدة: ۱۳] یعنې: نو د خپلې کلکې وعدې د ماتولو په سبب باندې مونږ دوی د خپل رحمت څخه لرې کړه، او هم مو د دوی زړونه کلک کړه.

## یادونه

۲ـ که څه هم عیسی ؑ د خپلې زېږېدنې په اولنیو وختونو کښې ټولو خلکو ته قناعت ورکړی وه او د خپلې مور پاک لمنې یې ورته په معجزانه توګه په اثبات رسولې وه لکه چې په [مریم: ۱۵ـ ۳۳] ایتونو کښې یې بحث راروان دی، مګر کله چې عیسی ؑ د خلکو په دعوت باندې پیل وکړ نو دوی د بدنامۍ دپاره یو ځل بیا ذکره شوې خبره مطرحه کړه او په هغو ټولو معجزانه بیاناتو باندې یې غوږونه کانه کړه چې عیسی ؑ د طفولیت په دوره کښې پرې خلک قانع کړي وه، دا د ټولو اسلام دښمنو ټولنو عادت دی چې د اسلام داعیان په رنګارنګ تومتونو باندې بدناموي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: یهودانو خو د عیسی ﷺ په نبوت باندې اقرار نه کاوه د همدې کبله بې د هغه د وژلو بندوبس نیولی وه، نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې الله ﷻ څنګه د هغوی د خولو څخه د عیسی ﷺ په هکله د رسول الله کلمه حکایته کړه؟.

مونږ وایو چې:

الف: د هغوی حکایت په ﴿ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ﴾ باندې تمام شوی دی مګر الله ﷻ د ﴿ رَسُولَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه ورسره د دې دپاره ضمیمه کړه چې د یهودو په زیات قباحت باندې دلالت وکړي(۱). یعنې دوی هغه خلک دي چې د بل چا په باره کښې نه، بلکې د الله ﷻ د پیغمبر په باره کښې په افتخار سره د وژلو قیصه کوي.

ب: د "رَسُولَ الله" لقب دوی د استهزاء په توګه ورکاوه(۲).

ج: مګر مونږ ته داسې برېښي چې دوی عیسی ﷺ پېژانده چې د الله ﷻ پیغمبر دی، خو د دې سره-سره یې د رسالت څخه منکر وه، لکه چې نبي کریم ﷺ یې هم د خپلو زامنو په شان پېژانده خو ایمان یې ورباندې نه راووړ. همدې مضمون ته الله ﷻ په [البقرة:۱۴۶] ایت کښې اشاره کړې ده.

لنډه دا چې په دې ایت کښې د ﴿ رَسُولَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه د "بِغَيْرِ الْحَقِّ" معنی ورکوي، چې په نورو ایتونو کښې د پیغمبرانو د وژلو سره ضمیمه کېږي لکه په تېر شوي آیت کښې چې: ﴿ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ نازل شوی دی.

## د وژلو دسیسه

۴_ ځینو مفسرینو کرامو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت لیکلي دي چې یوه ورځې د یهودو یوه ټولګي عیسی ﷺ او د ده مور (بي بي مریمې رضي الله عنها) ته پوچ پاش ویناوې وکړې چې په نتیجه کښې الله ﷻ ذکر شوی ټولګی د عیسی ﷺ په ښېراوو سره بیزوګان او خنزیران جوړ کړه، نو دوی په غُصه شوه او د ده ﷺ د وژلو نیت یې وکړ(۳).

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د ذکر شوي ناوړه قصد اصلي وجه به د عیسی ﷺ دعوت وي لکه چې نور پیغمبران هم د دعوت په دوران کښې یا وژلي شوي دي، لکه زکریا ﷺ او یحیی ﷺ، او یا په مرګ باندې تهدید شوي دي. لاندې دوه مثالونه ولولی:

الف: نوح ﷺ ته خپل قوم ویلي وه چې: ﴿ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴾ [الشعراء: ۱۱۶] یعنې: ای نوحه! که چېرې ته د دعوت څخه منعه نه شې نو ضرور خامخا به د سنګسار کړی شوو څخه شې.

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۱۰
(۲) تفسیر القاسمي ج۵ ص۵۴۹
(۳) روح المعاني ج۶ ص۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یو خل یهودانو د مېږې (ګډې) په غوښه کښې زهریات اچولي وه ترڅو نبي کریم ﷺ شهید کړي، خو په معجزانه توګه افشاء شوه[١].

په هر تقدیر، کله چې عیسی ﷺ په ذکره شوې ناوړه دسیسه پوه شو، نو د خپلو ملګرو (حوارینو) سره چې شمېر یې دولس (١٢)[٢] یا اولسو (١٧) تنو[٣] ته رسېده، په یوه کوټه کښې غلی شو، مګر د همدغو ملګرو څخه یې یو کس دېرش (٣٠) درهمه رشوت واخست[٤] او د پولیسو دلالي یې وکړه، تردې چې د سهار (چرګ بانګ) په وخت یې په تیاره کښې ورباندې پولیس وردرول[٥]، نو پولیسو په همدغه وخت کښې یو سړی په دې ګومان باندې وواژه او په دار یې زوړند کړ چې دا عیسی ﷺ دی، حال دا چې هغه عیسی ﷺ نه وه.

## وژل شوی سړی څوک وه؟

۵ـ ځینې وایي چې وژل شوی سړی د عیسی ﷺ د ملګرو څخه ذکر شوی جاسوس وه، چې د پولیسو د لارښوونې دپاره پناه ګاه ته ورداخل شو، خو چې کله رابهر شو نو پولیسو په دې ګومان چې همدا عیسی ﷺ دی او غواړي چې وتښتي، وواژه[٦].

ځینې وایي چې د عیسی ﷺ د ملګرو څخه یوه کس همدغې وژنې ته خپل خان کاندید کړی وه، چې پولیسو ته وربهر شو هغوی پرې اشتباه وکړه او ویې واژه[٧].

ځینې وایي چې ذکر شوی مقتول د پولیسو مشر وه چې "طیطایوس" نومېده، نوموړی د عیسی ﷺ د پلټنې پسې پناه ګاه ته ورداخل شو، خو مجردې چې رابهر شو نورو پولیسو پرې اشتباه وکړه او مړ یې کړ[٨].

## د اشتباه کیفیت

۶ـ د اشتباه کیفیت مفسرینو کرامو په لاندې دولونو باندې بیان کړی دی:

الف: کله چې الله ﷻ عیسی ﷺ ته په معجزانه توګه نجات ورکړ، نو د دې دپاره چې د یهودانو مشران په خپله ناکامۍ باندې پرده واچوي، یو سړی یې وواژه او په دار یې کړ او په عوامو کښې ډنډوره کړه چې مونږ عیسی ﷺ په دار کړی دی[٩].

---

(١) صحیح البخاري ج١ ص٤٤٩؛ سنن الدارمي ج١ ص٣٤
(٢) الدر المنثور ج٢ ص٧٢٧
(٣) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٥٧٤
(٤) تفسیر الطبري ج٤ ص١٥
(٥) المحرر الوجیز ج٤ ص٣٠٢
(٦) تفسیر ابي السعود ج٢ ص٢٥١
(٧) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٥٧٤
(٨) زاد المسیر ج٢ ص٢١٧
(٩) روح المعاني ج٦ ص١٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

ب: الله ﷻ د یوه بل سړي څېره د عیسی ﷺ په څېره باندې وګرځوله چې قاتلینو ته عیسی ﷺ ښکاره شو او ویې واژه، خو حقیقت یې هغسې نه وه.

په ذکر شوي مقتول کېدو متعدد روایتونه نقل شوي دي چې په وړاندې پنځمه توضیح کېږي ورته اشاره شوې ده.

ج: د عیسی ﷺ ټول ملګري د عیسی ﷺ په څېره باندې واړولی شوه حتی چې پولیسو پکېږي عیسی ﷺ ورک کړ، بالآخره یو کس یې په دې خیال شهید کړ چې دا عیسی ﷺ دی[1].

د: د عیسی ﷺ نور ملګري متفرق شوه، یوازې یو کس ورسره پاتې شو چې هغه د عیسی ﷺ په څېره باندې واړولی شو او د پولیسو لخوا شهید کړی شو[2].

## تبصره

۷ـ په ذکره شوي موضوع کښې مونږ تقریباً درې ورځې پلټنه وکړه، د نبي کریم ﷺ څخه مو پکښې هیڅ حدیث مونده نه کړ، څه چې مفسرینو کرامو په دې باره کښې لیکلي دي د هغه څه خلاصه مو د محترمو لوستونکو حضور ته وړاندې کړه. مګر داسې معلومېږي چې مفسرینو کرامو به هم ذکر شوي معلومات په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د اهل الکتابو د تحریف شوو کتابونو څخه اخستي وي، حتی خینو خو لا عین د همغوی د کتابونو عبارتونه رانقل کړي دي[3]، او خینو د رانقل کولو څخه وروسته رد کړي دي[4].

هوا څه چې مونږ ته په دې مقام کښې د اوږدې پلټنې څخه وروسته ذهن ته راغلي دي هغه دا دي:

الف: عیسی ﷺ او د ده ملګري، هرڅومره چې وه، د وخت د پولیسو لخوا تعقیب شوي دي.

ب: په نتیجه کښې په رشوت یا غیر رشوت سره دوی په محاصره کښې واقع شوي دي.

ج: پولیسو په توره شپه کښې په پنا ګاه باندې حمله وروړې ده.

د: کافرو پولیسو په پناه ګاه باندې ډېره کلکه محاصره اچولې وه چې څوک به ورڅخه نجات ونه شي موندلی، او په معجزانه نجات باندې هغوی یقین نه درلود.

هـ: نو څرنګه چې الله ﷻ عیسی ﷺ ته په معجزانه توګه نجات ورکړ او په محاصره شوو کسانو کښې پولیسو مونده نه کړ، نو پولیس به حېران شوي وي نو کله به یې یوه ته ګوته نیولې وې چې عیسی ﷺ یې او کله به یې په بل باندې همدا نوم اېښی وي.

د دې دپاره چې خپله ناکامي د خلکو څخه پټه کړي او هم کافر پاچا ته خپل فعالیت وښایي او بالآخره ترڅو هغه انعام ترلاسه کړي چې پاچا د عیسی ﷺ په وژلو باندې اعلان کړی وه، نو د

(۱) تفسیر الطبري ج۴ ص۱۵
(۲) المحرر الوجیز ج۴ ص۲۰۳
(۳) تفسیر المنار ج۶ ص۲۳_۵۹
(۴) تفسیر القاسمي ج۵ ص۵۵۱_۶۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حاضرينو ښځه به يې يو سړى (برابره خبره ده چې د عيسى ﷺ د ملګرو ښځه وي او يا د پوليسو د ملګرو ښځه) اعدام کړى وي او په دار به يې ځړولى وي.

مونږ ښکه ذکره شوې خبره وکړه چې د تعقيب کوونکو پوليسو عادت دا وي چې بندي د استنطاق دپاره يو ځل بنديخانې ته رسوي او د نيولو سره سم يې نه اعداموي.

خو دوى داسې کار ونه کړ، ترڅو په استنطاق سره ځرګنده نه شي چې عيسى ﷺ نجات موندلى او د دوى شيريني ونه سوزي، د همدې کبله چې پوليسو ذکر شوى مقتول د عيسى ﷺ په دار زوړند کړ نو تر درې ورځو پورې يې څوک نژدې نه ورپرېښوده ترڅو چې د مړي څېره واوښتله او د پېژاندلو ښځه ووت[1].

## د اختلاف ډول

۸ـ مفسرينو کرامو ليکلي دي چې د عيسى ﷺ د پورته ختلو ښځه وروسته هم د ده پيروان (نصارا) او هم يې دښمنان (يهود) په اختلاف او جګړه کښې شوه، ځينو نصاراوو به ويلې چې عيسى ﷺ اله (معبود) وه، او ځينو به ويلې چې د اله (معبود) زوى وه ـ العياذ بالله ـ او داسې نورې ګډې وډې خبرې به يې کولې؛ او يهودو (د عيسى ﷺ دښمنانو) به ځينو ويلې چې مونږ وژلى دى او ځينو به ويلې چې نجات يې مونده کړ[2].

مګر مونږ ته ذهن ته راځي چې ﴿ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ ﴾ به د هغو پوليسو ښځه عبارت وي چې د عيسى ﷺ د نيولو او وژلو پسې استولي شوي وه. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې: هغه کسان چې د عيسى ﷺ د وژلو دعوه يې کوله هغوى په خپل منځکښې سره اختلاف درلود.

او دا ښکه چې دوى ته خو د محاصره شوو کسانو شمېره معلومه وه خو د يو نفر د پانسي کولو ښځه وروسته د همدغې شمېرې ښځه يوه نفر کمبود کاوه، نو دوى ټول په حيرت او اختلاف کښې ولوېده چې دغه کمبود په څه شي باندې ډک کړي، حال دا چې کمبود د دې کبله واقع شوى وه چې عيسى ﷺ اسمانونو ته خېژولى شوى وه.

## يادونه

۹ـ مونږ د [آل عمران:۵۵] ايت لاندې د عيسى ﷺ په هکله پخه عقيده ليکلې ده چې عيسى ﷺ ژوندى اسمانونو ته خېژولى شوى دى او قيامت ته په نژدې وخت کښې به رابکته شي او ښکه به په عدل او انصاف باندې ډکه کړي؛ دلته يې بيا ليکلو ته اړتيا نه ګورو، فقط همدومره اضافه کوو چې ځينو مفسرينو کرامو ذکرې شوې عقيدې د اثبات دپاره زښت ډېر نصوص (ايتونه او احاديث) راغونډ کړي دي[3]. که څوک يې د لوستلو شوق لري نو همل‌ته دې مراجعه وکړي.

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۱۰

(۲) البحر المحيط ج۴ ص۱۲۶

(۳) تفسير ابن کثير ج۱ ص۵۷۸ـ ۵۸۴؛ الدر المنثور ج۲ ص۷۳۳ـ ۷۴۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: په همدغه ایت کښې الله ﷻ وفرمایل چې اختلاف کوونکي په شک کښې وه او بیا فرمایي چې دوی د ظن پیروي کوي، حال دا چې د شک کلمه په هغې پوهه کښې استعمالېږي چې د موضوع دوه طرفونه سره مساوي وي او د ظن کلمه هلته استعمال مومي چې یو طرف راجح وي، نو په کار وه چې "إنْ يَتَّبِعُونَ إلا الشَّكَّ" نازل شوی وی؟!

مونږ وایو چې:

الف: شک د لغت په اعتبار سره هغه حالت ته وايي چې د سړي په ذهن کښې یو شی ګرځي خو حقیقت یې نه شي تشخیص کولی، دا معنی ظن ته هم شامله ده ځکه چې دلته هم حقیقت مشخص نه وي[۱].

ب: مونږ ته داسې برېښي چې د اصلي حقیقت څخه دوی ټول په شک او حیرت کښې واقع دي، خو کله چې کومه یوه ډله د ځان دپاره په همدې موضوع کښې تګلاره ټاکي چې پیروي یې وکړي، نو په خپل خیال سره څه قرینې او علامې تراشي او ټاکل شوي هدف ته ترجیح ورکوي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې دوی اصلاً په شک کښې واقع دي مګر د پیروۍ په لحاظ سره د ګومان (ظن) متابعت کوي. په هر تقدیر، د حقیقت څخه یا ټول رانده دي او یا یې پرې ځانونه رانده اچولي دي.

### یادونه

۱۱_ مفسرینو کرامو د دې جملې ﴿ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ﴾ د ضمائرو د مراجعو په اعتبار سره څلور ډوله تفسیرونه کړي دي، چې مونږ یوازې په لاندې دوه تفسیرونو باندې اکتفاء کوو او حاصل یې لیکو:

الف: د اهل الکتابو هر یو نفر به ضرور په عیسی علیه السلام باندې د هُغه د مرګ څخه وړاندې ایمان راوړي. یعنې کله چې عیسی علیه السلام د اسمان څخه رابښکته شي نو د هغه وخت ټول اهل الکتاب به _یهود وي او که نصارا_ په ایمان باندې مشرف شي[۲].

لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې همدا مضمون بیان کړی دی چې کله عیسی علیه السلام رابښکته شي «فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ»[۳] یعنې نو صلیب به مات کړي، هغه چې نصارا یې د عیسی علیه السلام په دار باندې د ځړولو یادګار ګڼي.

ب: د اهل الکتابو هر یو کس به د خپل مرګ څخه وړاندې ضرور په عیسی علیه السلام باندې ایمان راوړي.

---

(۱) تفسیر المنار ج۶ ص۱۸

(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۰

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۹۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هو! که دغه د ایمان راوړل په داسې وخت کښې وه چې روح یې مرۍ ته نه وه رسېدلی او د مقبولیت شروط یې پوره وه، نو د الله ﷻ په نزد مقبول ایمان دی. لکه د عیسی ﷺ د نزول په وخت کښې چې ټول په ایمان باندې مشرف کېږي. او که د غرغرې حالت وه نو ایمان به راوړي خو د الله ﷻ په نزد باندې به مقبول ایمان نه وی، لکه څنګه چې د فرعون ایمان په همدغسې حالت کښې رد شو چې: ﴿ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴾ [یونس: ۹۱] یعنې: ایا اوس (ایمان راوړې) حال دا چې مخکښې دې عصیان کاوه او د مفسدانو څخه وې.

که څه هم شیخ المفسرین (العلامه الطبري) اول تفسیر خوښ کړی دی مګر مونږ ته دوهم تفسیر په زړه پورې ښکاري او دا څکه چې:

اول: ایت شریف ته د عیسی ﷺ د زمانې پورې تخصیص ورکول هیڅ قانوني دلیل نه لري.

دوهم: ذکر شوې جمله خو په دې مقام کښې د تهدید دپاره نازله شوې ده چې ایمان راوړئ او فرصت د لاسه مه ورکوئ، داسې وخت درباندې راتلونکی دی چې ضرور به ایمان راوړئ خو د الله ﷻ په نزد به مقبول نه وي. حال دا چې په اول تفسیر کښې د تهدید مطلب فوتېږي او د وخت اهل الکتاب د عتاب لاندې نه واقع کېږي.

علاوه په دې، په ذکر شوي حدیث شریف کښې هم مونږ ته داسې برېښي چې صرف یوه واقعه یې بیانه کړې ده او حصر یې مطلب نه دی.

دریم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: د ځنکدن په حالت کښې هرکافر ته د الله ﷻ په عذاب باندې خبر ورکول کېږي[1]، یعنې پوهولی کېږي چې په دنیا کښې دې عقیده باطله وه.

## هېر مو نه شي!

۱۲ـ هېر مو نه شي چې په دې ایتونو کښې د یهودانو د شپاړسو (۱۶) جنایتونو څخه د شپږو جنایتونو نومونه نازل شوي دي چې د همدې ایتونو د "مطلب خلاصه" د عنوان لاندې ورته د الله ﷻ په توفیق اشاره شوې ده، نو تردې ځایه پورې د هغوی ټول جنایات یوولسو (۱۱) ته ورسېده.

﴿ فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ وَبِصَدِّهِمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرٗا ١٦٠ وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٦١ ﴾

[۱۶۰] نو د هغو کسانو د ظلم په سبب باندې چې دوی یهودان دي مونږ په دوی باندې داسې حلال شیان حرام کړي وه چې (د ظلم څخه وړاندې) ورته حلال کړی شوي وه.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (په دوی باندې مو) د الله ﷻ د لارې څخه د دوی د ډېرو خلکو د اړولو په سبب (باندې هم لعنت کړی وه).

[۱۶۱] او د دوی د سود اخستلو (په سبب هم مونږ په دوی لعنت کړی وه)، حال دا چې دوی ترې منعه کړی شوي وه، او د دوی په ناحقه سره د خلکو د مالونو په خوړولو (سره هم مونږ د رحمت څخه لرې کړي وه). او د دوی (اهل الکتابو) څخه مو کافرانو ته دردناک عذاب تیار کړی دی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ مونږ ته داسې ښکاري چې دغو ایتونو لاندې تکي په نظر کښې نیولي دي:

الف: د یهودانو په ذکر شوو جنایتونو باندې دلیل او برهان تېرول.

ب: او د دوی د څه نورو جنایتونو اشارتاً یا قصداً نومونه ښودل. یعني یهودان خو خپل ځانونه ډېر معزز ګڼي او د خلکو په خیال کښې دا وراچوي چې مونږ د الله ﷻ په نزد د زیات عزت درلودونکي یاستو حتی چې مونږ په ګناه باندې نه نیسي او دوزخ یې د نورو خلکو دپاره جوړ کړی دی.

مګر همدغه یهودان د یو پلوه افتخار کوي چې: ﴿ إِنَّا هُدْنَآ إِلَيْكَ ﴾ [الأعراف:۱۵۶] یعنې ای الله! مونږ تاته رجوع کړې ده (او توبه تائب شوي یاستو). او د بل پلوه ډېر لوی ظلمونه کوي چې د ځینو ظلمونو نومونه یې وړاندې واخستل شوه او د څه نورو نومونو ذکر یې راروان دی.

د همدې کبله مونږ څه داسې پاکیزه شیان په دوی باندې د ظلم د وجې حرام کړي دي چې هغه ورته د ظلم څخه وړاندې حلال کړی شوي وه. نو دغه تحریم د دوی په ظلم باندې پوره برهان او دلیل دی چې باید انکار ترې ونه کړي.

۲ـ خو د دې سره- سره یهودان خپل ځانونه بري الذمه ګڼي او څه نور جنایات هم کوي چې د دوی د لا زیات لعنتي کېدلو سبب جوړ شوي دي. لکه:

الف: دوی په الله ﷻ باندې افتراء کوي چې خاص مونږ ته یې جنت جوړ کړی دی.

ب: الله ﷻ په مونږ باندې د ګناهونو د کبله څه شی نه دی حرام کړی؛ ترڅو په خپلو جنایتونو باندې پرده واچوي.

ج: یهودان د الله ﷻ د لارې څخه ډېر خلک اړوي. یعنې پخپله خو ګمراهان دي مګر نور خلک هم ګمراه کوي.

د: دوی د سودخورۍ څخه منعه کړی شوي دي خو دوی سودخورۍ ته ادامه ورکوي.

هـ: دوی د خلکو مالونه، خصوصاً د بې کتابه خلکو مالونه، په ناحقه سره خوري، په هره طریقه باندې چې لاس ته ورشي.

که څه هم دوی اصلاً مسلمانان وه مګر د تاریخ په اوږدو کښې یې مسلماني پرېښې ده او کفر یې اختیار کړی، اګر که په خولو باندې اوس هم ځانونو ته مسلمانان وایي. او مونږ د کافرانو دپاره دردناک عذاب تیار کړی دی، هسې نه چې دوی ته جنت منتظر دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ هغه شیان چې په یهودانو باندې د ظلم په سبب باندې حرام کړی شوه د هغو پوره شرحه د [الأنعام:۱۴۶] لاندې راروانه ده چې د نوکانو والا ځارویو غوښې او د پسونو ځینې وازدې دي.

لنډه دا چې کله به یهودانو د الله ﷻ د احکامو څخه سرغړونه وکړه نو د دنیایي جزا د کبله به ورباندې ځینې حلال شیان حرام وګرځول شوه، خو د دې سره- سره دوی دعوه کوي چې دغه شیان په مونږ باندې د جنایتونو په سبب نه دي حرام کړی شوي بلکې دا لا زمونږ څخه وړاندې په نورو خلکو باندې هم حرام کړی شوي وه[۱]، لکه چې څه لنډ بحث یې د [آل عمران:۹۳] ایت لاندې تېر شوی دی.

## د تحریم ډولونه

۲ـ تحریم په لاندې دوه ډولونو باندې وېشلی کېږي:

الف: تشریعي تحریم، لکه چې په اوله توضیح کښې یې مثالونه تېر شوه.

ب: تکویني تحریم، چې د ګناه په سبب باندې الله ﷻ څوک د نعمت د استفادې څخه بې برخې کړي چې یا ترې نعمت واخلي او یا ورباندې داسې مرض کېږدي چې د نعمت څخه استفاده نه شي کولی او یا ورته بل څه مانع ایجاد کړي.

نبي کریم ﷺ همدې مضمون ته په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې وه چې: «وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِخَطِيئَةٍ يَعْمَلُهَا»[۲] یعني: او یقینًا خامخا سړی د یوه روزي کړی شوي (نعمت) څخه د خطاکارۍ په سبب محروم ګرځي چې هغه وکړي.

مونږ ته داسې برېښي چې په ﴿حَرَّمْنَا﴾ کښې به دلته مطلق تحریم مراد وي دا ځکه لکه څنګه چې الله ﷻ په یهودانو تشریعًا ځینې نعمتونه حرام کړي وه، همدارنګه یې د ډېرو نعمتونو د استفادې څخه هم بې برخې کړي وه حتی چې د جنایتونو په سبب باندې یې ترې د نبوت سلسله هم پرې کړه.

## ارشاد

۳ـ ایت شریف مونږ ته ارشاد کوي چې د جنایتونو څخه خانونه وساتئ چې الله ﷻ درباندې په تکویني توګه څه نعمتونه حرام نه کړي، که څه هم تشریعي تحریم خو د نبي کریم ﷺ په وفات سره پای ته رسېدلی دی.

زمونږ په ګومان همدا اوس چې مونږ د امنیت د نعمت څخه محروم یاستو او په افغانستان کښې جګړې دوام لري دا هم زمونږ د ګناهونو ناکاره نتائج دي چې په نړیوا کښې ورسره مخامخ یو او د امنیت د لوی نعمت څخه یې محروم ګرځولي یاستو.

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۱۳

(۲) سنن ابن ماجه ص ۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## په یاد ولرئ!

۴_ په یاد ولرئ چې په دې ایتونو کښې د یهودانو متباقي پنځه جنایات ذکر شوي دي چې د "مطلب خلاصه" عنوان لاندې ورته د الله ﷻ په توفیق اشاره شوې ده. نو په دغو پنځو جنایتونو سره د هغوی د جنایتونو شمېره شپاړسو ته ورسېده، کومه چې د [النساء:۱۵۳] ایت په اولنی توضیح کښې د اجمال په توګه ذکره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

﴿لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَۚ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾﴾

[۱۶۲] مګر د دوی (اهل الکتابو) څخه په علم کښې پاخه خلک او (د دوی څخه) ایمان راوړونکي چې په هغه کتاب باندې هم ایمان راوړي چې تاته نازل شوی دی او په هغو کتابونو باندې هم چې ستا څخه وړاندې نازل کړی شوي دي، او (د دوی څخه) لمونځونو لره ودرونکي او (د دوی څخه) زکاتونو لره ورکوونکي او (بالآخره د دوی څخه) په الله ﷻ او په وروستنی ورځې باندې (په رښتیانو معناوو کښې) ایمان راوړونکي، دغو (ټولو) ته به مونږ ډېر ژر لوی اجر ورکړو.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د کافرانو اهل الکتابو د خینې جنایتونو نومونه د مثال په توګه واخستل، چې د هر چا ورڅخه کرکه او نفرت راځي. نو د دې دپاره چې ټولو اهل الکتابو ته څوک په نفرت سره ونه ګوري، دا دی په دې ایت کښې د مسلمانانو اهل الکتابو څه حالات بیان شوي دي چې کټ مټ د اسلام سره موافق دي.

## د مطلب خلاصه

یعني: ټول اهل الکتاب هغسې نه دي لکه څنګه چې وړاندې د هغوی حالات بیان شوه او مونږ ورته دردناک عذاب تیار کړي دي، بلکې په دوی کښې داسې ډله هم شته چې لاندې اسلامي صفات لري:

۱_ دوی د پاخه علم خاوندان دي چې نه یې په چا باندې افتراء کړې ده او نه یې د الله ﷻ په کتاب کښې تحریف کړی دی.

۲_ د همدې کبله دوی د نورو مؤمنانو په څېر په هغه کتاب باندې هم ایمان راوړی دی چې تاته درنازل شوی دی او په هغه کتاب باندې هم معتقد دي چې ستا څخه وړاندې په نورو پیغمبرانو باندې ورنازل کړی شوی وه.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ دوی لکه څنګه چې د اسماني کتابونو په تفريق باندې قائل نه دي همدارنګه په ايمان راوړلو کښې د يوه پيغمبر فرق هم نه کوي.

۴ـ دوی په بدني عبادت، او په تېره بيا په لمانځه باندې همېشه والی کوي چې د ګناهونو څخه بې مخه نيسي او لا زيات توفيق يې په برخه کوي.

۵ـ دوی د نورو مؤمنانو په شان زکاتونه ورکوي چې د دوی حرص يې مات کړی دی، نه سود خوري او نه په ناحقه باندې د چا مال ته لاسونه ورغځوي.

۶ـدوی په درستو معناوو کښې په الله ﷻ باندې معتقد دي چې نه ورباندې دروغ تړي، نه ورته ولد (زوی) ثابتوي او بالآخره نه ورته نور غير مناسب نسبتونه کوي.

۷ـ دوی د آخرت په ورځ باندې هم پخه عقيده لري چې هلته به هرڅوک د محاسبې سره مخامخ کېږي، هلته نه څوک په نسب سره نجات موندلی شي او نه هلته د الله ﷻ د اجازې څخه په غير شفاعت شته دی.

نو ای مؤمنانو! د اهل الکتابو څخه چې څوک ذکر شوي صفات ولري هغوی ته مونږ لوی اجر ورکوو او مونږ ته ربښتيانی قدر لري، نو تاسو ته هم په کار دي چې په سپک نظر ورته ونه ګورئ او د کافرو اهل الکتابو نظر ورته ونه کړئ.

لنډه دا چې ذکر شوو اهل الکتابو ته مو د دوزخ په عوض جنت تيار کړي.

## توضيحات

۱ـ دا ايت شريف تقريبًا د تېر شوي [۱۴۷] ايت مضمون تائيدوي چې الله ﷻ منونکی دی، د هر نسب خاوند کولی شي چې په نېکه عقيده او نېکو اعمالو باندې خپل ځان ورنژدې کړي. همدارنګه په پخوانيو جنايتونو باندې هم څوک نه نيسي، خو په دې شرط چې توبه تائب شي، لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه او د ده ملګري، چې په ربښتيانيو معناوو کښې يې ايمان راووړ او د لوی اجر خاوندان جوړ شوه.

## د عربيت يوه قاعده

۲ـ مونږ د [البقرة:۱۷۷] ايت لاندې ليکلي دي چې په عربي ژبه کښې دا قانون شته چې په معطوفاتو کښې کله-کله د يوه معطوف اعراب ته تغير ورکول کېږي ترڅو لوستونکی د هغه زيات اهميت ته متوجه شي خکه چې که اعراب يې تغير نه کړی شي نو اهميت ته به يې د چا پام نه شي. نو په دې تقدير باندې د معطوفاتو په ترجمه کښې تغير نه واقع کېږي صرف لفظي تفاوت لري او بس.

د همدې کبله مونږ د ﴿ وَٱلْمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ په کلمه کښې معنی تغيره نه کړه خکه چې مونږ ته دغه کلمه د همدې جملې څخه ښکاري چې منصوبه نازله شوې ده، حال دا چې وړاندې او ورپسې ټول معطوفات يې مرفوع نازل شوي دي، ترڅو د لمانځه زيات اهميت ته مسلمانان متوجه کړی شي چې:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ﴾ [العنکبوت: ۴۵] یعنې: یقیناً لمونځ د بې شرمه او بدو کارونو څخه (لمونځ کوونکې) منعه کوي.

## د دې قانون څه نظائر

۳ـ د ذکر شوي قانون لاندې نظائر ولولې:

الف. په خطابه کښې خطابه ورکوونکی د مهمو ټکو په بیانولو کښې لاندې طریقې غوره کوي:

اول. چې په مهم ټکي باندې اواز پورته یا ښکته کړي، ترڅو د اوریدونکو ورته فکر شي.

دوهم. چې د خبرو لهجه ورته واړوي.

دریم. چې د خپل کوم اندام اشاره ورسره ملګري کړي، لکه سر، لاس، سترګې او داسې نور.

ب. په لیکنه کښې هم لیکونکی د مهمو ټکو لیکنې ته څه اشارې کوي:

اول. چې مهم ټکی په غټ لیک سره لیکي.

دوهم. چې په بدل رنګ سره یې ولیکي، لکه سور، شین او داسې نور.

دریم. چې د خط نوعه ورته بدله کړي، لکه کوفي او یا نور خطونه.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د ذکرو شوو نظایرو خو جنس بدل دی، د ذکر شوي قانون په ثبوت کښې څه اثر نه لري، که بالفرض په عربیت کښې داسې نظیر ونښودل شي چې د اعراب په تغیر سره د معنی تغیر نه وي راغلی، نو بیا به ذکر شوی قانون درست او د منلو وړ وی؟.

مونږ وایو چې: په اعراب کښې د ذکر شوي قانون نظیر جرجوار دی چې د معنی تغیر وربانديې نه واقع کیږي صرف د یوه لفظ د اندیوالی د کبله اعراب مغایر لوستل کیږي، لکه چې عرب وايي: "جُحْرُ ضَبٍّ خَرِبٍ" د سمساري سوړه (کوټه) خرابه ده. چې اصل یې داسې دی: "جُحْرُ ضَبٍّ خَرِبٌ".

لنډه دا چې کوم شی چې مونږ ولیکه د یوه پلوه بې تکلفه دی او د بل پلوه په یوه غټ مطلب باندې هم دلالت کوي لکه چې وړاندې ذکر شو.

اما مفسرینو کرامو یې د اعراب دپاره شپږ وجوه لیکلي دي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي[1]، مګر چې سړی ورته دقیق نظر وکړي په هرې وجې سره د ایت شریف د جملو لړی پرې کړې ښکاري او چندان مزه نه کوي.

﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ
عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ﴿١٦٤﴾ رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى
ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٦٥﴾ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ ۖ
أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَشْهَدُونَ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿١٦٦﴾ ﴾

[۱۶۳] یقیناً مونږ تاته داسې وحې کړې ده لکه نوح ﷺ او د ده څخه وروسته نورو پیغمبرانو ته مو چې کړې وه. او (داسې وحې لکه چې) ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ او د ده د زوزات پیغمبرانو او عیسی ﷺ او ایوب ﷺ او یونس ﷺ او هارون ﷺ او سلیمان ﷺ ته مو چې وحې کړې وه.

او مونږ داود ﷺ ته زبور ورکړی وه (وحې کړی وه).

[۱۶۴] او (مونږ استولي دي) ډېر پیغمبران چې د دوی (څه حالات) مو په تاباندې وراندې بیان کړي دي او نور ډېر پیغمبران چې د دوی (حالات) مو درباندې نه دي بیان کړي.

او الله ﷻ د موسی ﷺ سره خبرې کړې وې خبرې کول.

[۱۶۵] (استولي مو وه) پیغمبران په داسې حال چې زیری ورکوونکي او داروونکي وه، (دا) د دې دپاره چې خلکو ته په الله ﷻ باندې د پیغمبرانو (د استولو څخه) وروسته څه حجت (اعتذار) موجود نه شي (او عذر ونه کړی شي).

او الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

[۱۶۶] (کافران په قرآن کریم باندې شاهدي نه وایي) مګر الله ﷻ په هغه کتاب باندې شاهدي وایي چې تاته یې درنازل کړی دی، (او حقانیت یې ښکاره کوي) په خپل کامل علم سره یې نازل کړی دی (چې حقانیت پکښې د ورایه ښکاري)، او ملائک هم (درباندې) شاهدي وایي، او د شاهدي ورکوونکي د حیثه (یوازې) الله ﷻ بس دی.

## ارتباط او شان نزول

ځینو مفسرینو کرامو د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې لیکلي دي چې یوه ورځې د یهودانو دوه کسه ملایان (چې سُکین او عدي نومېده) نبي کریم ﷺ ته ورغله او وې ویلې چې ای محمده! مونږ علم نه لرو چې د موسی ﷺ څخه وروسته به الله ﷻ په کوم یو بشر باندې څه شی نازل کړی وي او یا به یې ورته وحې کړې وي. نو الله ﷻ د دوی تکذیب دپاره ذکر شوي ایتونه نازل کړه[1].

(۱) المحرر الوجیز ج۲ ص۲۰۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته داسې ښکارې چې د ایتونو د نزول په وخت کښې به ذکره شوې قیصه هم پېښه شوې وي، خو اصلاً دغه ایتونه د یهودانو د هغې غوښتنې جواب دی چې په تېر شوي [۱۵۳] ایت کښې الله ﷻ د هغوی د خولو څخه حکایت کړې وه، چې که ته رښتینی پیغمبر یې نو مونږ ته د اسمان څخه یو خاص کتاب رانازل کړه.

هو! د جواب څخه مخکښې الله ﷻ په نهو ایتونو کښې د یهودانو د جنایتونو او د دوی د لعنتي کېدلو د سببونو فهرست بیان کړ، ترڅو د یو پلوه نبي کریم ﷺ متسلي شي او د بله پلوه یهودان په غوږ ووهلی شي چې ستاسو غوښتنه د حقیقت د پلټنې په غرض نه ده، که نه نو په معجزاتو کښې فرمایش ورکول او د یوې خاصې معجزې پورې د ایمان موقوفول څه معنی لري؟! چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! څرنګه چې د معجزاتو په بدلون او هم د کتاب د ورکړې د نوعیت په بدلون سره پیغمبري (رسالت) نه بدلېږي، نو ټول پیغمبران په دې کښې یو برابر دي چې الله ﷻ هر یوه ته وحې کړې وه، نو کومه وحې چې تاته کړی شوې ده کټ مټ د نوح ﷺ او د نورو پیغمبرانو په څېر ده چې یهودان یې د نومونو سره اشنا دي، لکه ابراهیم ﷺ، اسماعیل ﷺ، اسحاق ﷺ، یعقوب ﷺ، او د یعقوب ﷺ په زوزات کښې چې څوک پیغمبران تېر شوي دي لکه عیسی ﷺ، ایوب ﷺ، یونس ﷺ، هارون ﷺ، سلیمان ﷺ او حتی داود ﷺ. که څه هم یهودان په ځینو باندې عقیده لري او د ځینو څخه انکار کوي، مګر نومونه یې دوی اورېدلي دي.

۲ـ همدارنګه لکه څنګه چې د معجزاتو په تبدیل سره د نبوت حقیقت نه بدلېږي، همدارنګه د کتابونو د نوعیت بدلون هم په نبوت باندې تاثیر نه اچوي. لکه چې داوُد ﷺ ته مونږ د زبور په نامه کتاب ورکړی وه او بل چا ته مو په همدې نوم او همدې کم او کیف باندې کتاب نه دی ورکړی، او نه مو د هر یوه نوم او مکمل شهرت دراستولی دی.

هو! که په اجمالي توګه د ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام شمېره یا درنازله کړو او یا یې په خفي وحې باندې درزده کړو نو هغه بېله خبره ده.

لنډه دا چې تاته د پیغمبرانو هغه څرنګوالی او کوائف څرګند دي چې مونږ درباندې پوه کړی یې او بس. که بالفرض تاته مو وحې نه وی کړې چې الله ﷻ د موسی ﷺ سره مستقیماً خبرې کړې دي نو ته به ترې هیڅ خبر نه وې.

۳ـ د تېر شوي بیان څخه واضحه شوه چې ټول پیغمبران علیهم‌السلام چې الله ﷻ استولي دي د خوارقو او نورو کوائفو د حیثه یو برابر نه دي، نو باید چې د کوائفو فرق د منلو او نه منلو دپاره پلمه جوړه نه کړی شي. او دا خکه چې دوی ټول، په هر کیفیت سره چې دي، د یوه هدف دپاره الله ﷻ استولي دي چې نیکانو ته زېری ورکړي او بدان د الله ﷻ د عذاب څخه ودار کړي، ترڅو د قیامت په ورځ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هیچا ته د اعتذار موقع په لاس ورنه شي چې ای الله! کاشکې مونږ ته دې پیغمبران را استولي وی چې مونږ ته یې مستقیمه لاره رانبودلې وی.

۴_ که څه هم د الله ﷻ د ارادې مخه دغسې اعتذارونو نه شوه نیولی او نه د پیغمبرانو علیهم السلام دا دنده ده چې په زور باندې خلک سمې لارې ته واړوي، خو الله ﷻ د حکمت غښتنن هم دی، چې د پیغمبرانو استول یې د حکمت غوښتنه هم ده.

۵_ نو ای پیغمبره! تردې ځایه په ثبوت ورسېده چې یهودان ستا څخه د تعصب د کبله فرمایښي معجزې غواړي، که نه نو ته هم د نورو پیغمبرانو په شان یو پیغمبر یې، ستا سره هم د ایمان راوړلو دپاره کافي معجزات شته دي.

۶_ ای پیغمبره! یهودان خو ستا د کتاب (قرآن کریم) د حقانیت څخه منکر دي ځکه ستا څخه فرمایښي معجزې او فرمایښي کتاب غواړي مګر الله ﷻ د همدې کتاب (قرآن کریم) په حقانیت شاهدي وایي چې په حقه یې درنازل کړی دی، او د خپلو علومو څخه یې پکښې ښه لویه پانګه ځای په ځای کړې ده، تردې چې د قیامت د ورځې پورې ټولو خلکو ته خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي، نه فرمایښي معجزو ته اړتیا شته او نه فرمایښي کتاب ته.

که څه هم د الله ﷻ شاهدي کفایت کوي خو د دې سره سره د اهل الکتابو څخه د پاخه علم خاوندان او د الله ﷻ ټول ملائک هم د قرآن کریم په حقانیت شاهدي وايي، نو که یهودان ترې منکر دي منکر دې وي، ته پرې هیڅ مه غمژن کېږه او خپله حوصله پرې هیڅ مه خرابوه.

## توضیحات

۱_ د ﴿ أَوْحَيْنَا ﴾ کلمه اصلاً د "وَحْي" څخه اشتقاقه شوې ده، "وحي" هغې اشارې (پوهولو) ته وایي چې ډېر په سرعت سره ترسره شي، برابره خبره ده چې په وینا سره وي یا په لیکنې سره او بالآخره یا د یوه اندام په حرکت سره، لکه سر، سترګې او داسې نور[1]. مګر په قرآن کریم کښې په لاندې معناوو باندې هم استعماله شوې ده:

اول: د الهام په معنی سره، چې یوه د خیر خبره د چا زړه ته ورواچوله شي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ ﴾ [القصص: ۷] یعنې: او مونږ د موسی علیه السلام مور ته الهام وکړ چې کله په ده باندې وداره شوې نو دریاب ته یې ورواچوه.

دوهم: د تکویني تسخیر په معنی سره، چې د یوه شي جوړښت داسې ترتیب شوی وي چې د وحې کړی شوې خبرې مضمون یې طبیعت ګرځېدلی وي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ ﴾ [النحل: ۶۸] او ستا رب د شاتو مچیو ته وحې کړې ده چې په غرونو او نورو ځایونو کښې به کورونه جوړوي او شات به راغونډوي. یعنې د شاتو د مچیو جوړښت مو همداسې ترتیب کړی دی.

---

[1] مفردات الراغب ص۵۵۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دربېم: د وسوسې په معنی سره. لکه چې الله ﷻ د شیطانانو د حالت څخه حکایت کوي چې: ﴿يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا﴾ [الأنعام: ١١٢] یعني: شیطانان د وسوسې په توګه د باطلو خبرو د غولونې په غرض یو تربله ښودانه کوي.

## د وحې شرعي معنی او ډولونه

٢_ په شریعت کښې د الله ﷻ کلام د "وحي" په نامه یادېږي، خو په دې اعتبار سره چې د لاندې طریقو څخه په یوه طریقه باندې یوه پیغمبر ته ورواستول شي:

الف: چې مستقیمًا په بلاکیفه توګه د الله ﷻ کلام واوري، لکه موسی ﷺ چې اورېدلی وه.

ب: چې یوه پرښته په خپله اصلي څېره پیغمبر ته ورڅرګنده شي او الهي کلام ورته ورسوي، لکه د عبد الله بن مسعود ﵁ په روایت نبي کریم ﷺ په یوه خاص مقام کښې جبرائیل امین ﷺ په خپله اصلي څېره باندې لیدلی وه چې: «وَلَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ»[١] شپږ سوه وزرونه یې درلوده.

ج: چې پرښته د یوه سړي په څېره ورته د الله ﷻ کلام ورسوي، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ»[٢] یعني: او کله راته یوه پرښته خپل ځان د سړي په څېره اړوي نو خبرې راسره کوي نو زه هغه څه حفظ کوم چې هغه یې وايي.

د: چې اواز اوري خو پرښته په سترګو باندې نه ګوري، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ»[٣] یعني: کله راته وحې په داسې اواز سره راځي لکه د زنګ اواز او دا ډول راباندې ډېره درنه تمامېږي.

هـ: چې نه پرښته وګوري او نه یې اواز واوري خو د دې سره-سره پیغمبر ﷺ قلبًا پوه کړی شي، لکه نبي کریم ﷺ چې فرمایي: «وَإِنَّ رُوحَ الْأَمِينَ قَدْ نَفَثَ فِي رَوْعِي»[٤] یعني: یقینًا جبرائیل امین ﷺ زما په زړه کښې پوکی وکړ (قلبًا یې پوه کړم).

و: چې په خوب کښې یو پیغمبر ته الله ﷻ خپل هدایات ورزده کړي، لکه الله ﷻ چې د ابراهیم ﷺ د خولې څخه حکایت کوي چې خپل زوی اسماعیل (ذبیح الله) ﷺ ته یې وویلې چې: ﴿يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ﴾ [الصافات: ١٠٢] یعني: ای زویکوتیه! یقینًا زه په خوب کښې ګورم چې بې شکه همدا زه تا ذبحه کوم نو ته نظر وکړه هغه څه شي دی چې ته یې ګورې؟ (ذبحه کولو ته غاړه ږدې او که څنګه)؟.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٦٣
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٢
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٢
(٤) شعب الإيمان للبيهقي ج٢ ص٦٧؛ مصنف ابن ابي شيبه ج٧ ص٧٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د نبي کريم ﷺ وحې د نوح ﷺ (د بشر دوهم پلار) او د ده څخه د وروسته پیغمبرانو د وحې سره تشبیه کړې شوه او د آدم ﷺ (د بشر لومړي پلار) سره تشبیه نه کړې شوه؟.

مونږ وایو دا څکه چې:

الف: ترڅو نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکړي چې تاته هم په کار دي چې د نوح ﷺ په شان تکالیف وګالي، نوموړي ﷺ صرف په دعوت کښې نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله تېر کړي وه: ﴿ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴾ [العنکبوت: ۱۴] يعني: نو نوح ﷺ په دوی (قوم) کښې یو زر کاله درنګ وکړ مګر پنځوس کاله، نو دوی (قوم) لره طوفان ونیوه حال دا چې دوی ظالمان وه.

او د بلې خوا کافران په غوږ ووهي چې که تاسو ایمان رانه وړئ نو د هلاکوونکي عذاب څخه وډار شئ لکه څنګه چې د نوح ﷺ قوم پرې هلاک کړې شو.

یادونه: نوح ﷺ په ټولو پیغمبرانو عليهم السلام کښې اوږد عمرې پیغمبر وه چې د عمر د پایه پورې یې نه په ږيره کښې سپین ویښته پیدا شوی وه او نه یې خوله کنډاسه شوې وه[1].

ب: د نوح ﷺ څخه وړاندې پیغمبرانو صرف تعلیمي حیثیت درلود او په مخالفت سره یې په چا باندې په دنیا کښې عذاب نه دی نازل شوی، لومړنی پیغمبر چې علاوه په تعلیم د کفر د مخنیوي دپاره استولی شوی دی او هم یې په مخالفت سره قوم هلاک شوی دی هغه نوح ﷺ وه[2] او د همده ﷺ څخه د معاندو کافرانو د هلاکولو سلسله پیل شوې ده.

ج: د نبي کريم ﷺ دعوت د ځمکې د مخ ټولو انسانانو ته عام دی لکه څنګه چې د نوح ﷺ دعوت د هغه وخت ټولو انسانانو ته عام وه[3].

نو څرنګه چې د نبي کريم ﷺ رسالت هم علاوه په تعلیم د کفر د مخنیوي دپاره صورت نیولی وه نو د نوح ﷺ او د ده څخه د وروسته پیغمبرانو عليهم السلام د رسالت سره یې تشبیه کول ډېر خوندور واقع کېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د نبي کريم ﷺ وحې یې د ډېرو پیغمبرانو د وحې سره تشبیه کړه، او حتی د څینو یې لا نومونه هم ذکر کړه؟.

---

(۱) تفسیر الخازن
(۲) المحرر الوجيز ج۴ ص۳۱۰
(۳) البحر المحیط ج۴ ص۱۳۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې:

الف: ذکرو شوو پیغمبرانو علیهم السلام عالمي شهرت درلود او اهل الکتاب يې د نومونو سره آشنا وه، که څه هم په ټولو باندې يې د حقانیت عقیده نه درلوده.

ب: لکه څنګه چې په دوهمه توضیح کښې ذکر شوه، الهي وحې په ډېرو ډولونو باندې تحقق موندلی دی، نو د څو پیغمبرانو نومونه د دې دپاره خاص کړی شوه چې د وحې ټول ډولونه په دغو پیغمبرانو کښې کلاً یا بعضًا متحقق شوي دي، مګر په اصل نبوت کښې ورباندې څه فرق نه دی پرېوتلی، نو تاسو ته په کار دي ای اهل الکتابو! چې ایمان راوړل په فرمایشي وحې پورې موقوف نه کړئ.

## زبور د کوم کتاب نوم دی؟

۵ـ که څه هم د زبور کلمه اصلاً د مکتوب (لیکل شوي) په معنی سره ده[۱]، خو د هغه کتاب دپاره عَلم ګرځېدلې ده کوم چې په داؤد علیه السلام باندې د قرآن کریم غوندې په متعددو وارونو سره نازل شوی وه. دغه کتاب یو سلو پنځوس (۱۵۰) سورتونه درلوده چې ټول په تحمید، تمجید او بالآخره په مواعظو او ثناګانو باندې مشتمل وه، په دې کښې د احکامو څخه هیڅ شی موجودیت نه درلود[۲].

## ټول پیغمبران څو دي؟

۶ـ مونږ د [البقرة:۲۱۳] ایت لاندې لیکلي دي چې د ټولو پیغمبرانو شمېر د یو لکو څلېرشتو زرو (۱۲۴۰۰۰) تنو په شاوخوا کښې ذي، مګر دلته دومره زیاتوو چې:

ذکرشوی شمېر د ابو ذر الغفاري رضی الله عنه په روایت سره د نبي کریم ﷺ څخه رانقل شوی دی[۳]، اما ځینې مفسرین کرام ورته د صحیح حدیث په نظر نه ګوري[۴] نو څکه په ذکر شوي شمېر کښې اشتباه واقع کېږي، نو په کار دي چې یا ورسره د (شاوخوا) کلمه او یا د (کم او زیات) کلمه اضافه کړی شي ترڅو یا غیر پیغمبر په پیغمبرانو کښې ونه شمېرل شي؛ که په واقع کښې پیغمبران د ذکر شوي شمېر څخه لږ وي، او یا کوم یو پیغمبر د پیغمبرانو د ډلې څخه ونه ویستلی شي؛ که واقعًا د پیغمبرانو شمېر د ذکر شوي عدد څخه زیات وي.

## د عربیت یوه قاعده

۷ـ په عربي ژبه کښې قاعده ده چې په کوم وخت کښې یو فعل په مفعول مطلق سره تاکید شي نو د مجاز احتمال د منځه وړي او حقیقي فعل مرادېږي[۵].

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۱۵
(۲) روح المعاني ج۶ ص۱۷
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۰۱
(۴) المحرر الوجیز ج۴ ص۳۱۱
(۵) تفسیر القاسمي ج۵ ص۶۳۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله د مجاز په توګه دېوال ته اراده ثابتولی شي چې: "أَرَادَ الْحَائِطُ أَنْ يَسْقُطَ" دېوال اراده کړې ده چې ولوېږي، مګر داسې نه شي ویلی چې: "أَرَادَ الْحَائِطُ أَنْ يَسْقُطَ إِرَادَةً". یعني په مفعول مطلق سره نه تاکید کېږي.

نو په دې مقام کښې چې ﴿ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمًا ﴾ د ﴿ تَكۡلِيمًا ﴾ په تاکید سره نازل دی، نو معلومېږي چې الله ﷻ د موسی ﷺ سره مستقیمًا پرته د واسطې حقیقتاً خبرې کړې دي.

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: د شریعت عقیدوي احکام په دوه ډوله دي، یو هغه دی چې عقل یې د درک څخه عاجز وي لکه جنت او دوزخ بلکې د آخرت عمومي حالات، او بل هغه دي چې په عقل سره هم پېژاندل کېږي لکه د الله ﷻ وجود او وحدانیت. د همدې کبله ابو حنیفه علیه الرحمة وایي چې که بالفرض یو سړی په داسې ځای کښې بالغ شي چې اسلامي دعوت ورته بالکل نه وي رسېدلی او دومره فرصت ولري چې د الله ﷻ په وحدانیت کښې فکر وکړي نو نوموړی سړی په ایمان باندې مکلف دی او په کفر باندې نیولی کېږي[1].

نو پوښتنه دا ده چې د دې ایت شریف: ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِ ﴾ څخه معلومېږي چې که بالفرض الله ﷻ پیغمبران نه وی را استولي نو د الله ﷻ په وحدانیت باندې به څوک مکلف نه وی؟!

مونږ وایو چې: د همدغه ایت څخه هم مکلفیت معلومېږي. او دا ځکه چې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: که مونږ پیغمبران نه وی استولي هم د توحید منکران به مو معذب کړي وی: مګر په دې تقدیر به یې د اعتذار چانس درلودی چې ای الله! کاشکې چې مونږ ته دې پیغمبران را استولي وی چې زمونږ د عقل لاس نیوی یې کړی وي او د غفلت د خوبه یې راویښ کړي وی.

نو که په ذکر شوي صورت کښې په توحید باندې چا مکلفیت نه درلودی نو نه به تعذیب وی او نه اعتذار.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې خو د ﴿ حُجَّةٌ ﴾ کلمه ذکره ده او د الله ﷻ په مقابل کښې احتجاج کول خو د اعتراض معنی ورکوي او د اهل السنة والجماعة عقیده دا ده چې په الله ﷻ باندې څوک اعتراض نه شي کولی، الله ﷻ "فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ" دی، هر څه یې چې اراده وي هغه کوي؟.

مونږ وایو چې: الله ﷻ ته د بنده اعتذار (د رحمت د کبله) ډېر محبوب دی نو مجازاً یې د اعتذار څخه په حجت سره تعبیر وکړ.

---

[1] نور الانوار ص۲۸۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدا مضمون نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې داسې بيان کړى دى چې: «وليس احد احب إليه العذر من الله من أجل ذلك أنزل الكتاب وأرسل الرسل»[1] داسې هيڅوک نشته چې اعتذار قبلول ورته د الله ﷻ څخه ډېر محبوب وي، د همدې کبله يې کتابونه نازل کړي دي او پيغمبران يې را استولي دي. يعني الله ﷻ د خپل لطف او مهرباني د کبله اعتذار داسې ګڼي ته به وايي چې دا بې قوي حجت دى، که نه نو د الله ﷻ په مقابل کښې نه څوک جګړه کولى شي او نه وربانديې د چا اعتراض شته.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدْ ضَلُّواْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١٦٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ﴿١٦٨﴾ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٦٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَـَٔامِنُواْ خَيْرًا لَّكُمْۚ وَإِن تَكْفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧٠﴾ ﴾

[۱۶۷] يقيناً هغه کسان چې کفر يې اختيار کړى دى او (نور خلک) هم د الله ﷻ د لارې څخه اړوي، بې شکه دوى (د حقې لارې څخه) بې لارې شوه، لرې بې لارې کېدل.

[۱۶۸] يقيناً هغه کسان چې کافر شوي دي او (متعدي) ظلم يې هم کړى دى، الله ﷻ (د دوى په هکله) داسې نه دى چې دوى ته مغفرت وکړي او نه داسې دي چې دوى ته څه لاره وښايي.

[۱۶۹] مګر د دوزخ لار، دوى به پکښې همېشه وي د تل لپاره، او دغه کار په الله ﷻ باندې اسان دى. (يعني دوى د الله په نزد حقير دي).

[۱۷۰] اى خلکو! بې شکه تاسو ته د خپل رب د پلوه په حقه پيغمبر درغلى دى (چې بريمانه معجزات ورسره دي) نو تاسو (وربانديې) ايمان راوړئ (چې ايمان راوړل) درته (د دې څخه) بهتر دي (چې د اهل الکتابو د شبهاتو متابعت وکړئ).

او که تاسو کفر غوره کړئ (نو الله ﷻ ستاسو د ايمان څخه بې پروا دى خکه چې) نو يقيناً خاص الله ﷻ ته هغه شيان دي کوم چې په اسمانونو او په ځمکو کښې دي. او (همدارنګه) الله ﷻ پوه او د حکمت څښتن دى.

## ارتباط

په تېر شوو ايتونو کښې د اهل الکتابو مشهوره پلمه جوابه کړى شوه چې که نبي کريم ﷺ موږ ته فرمايشي کتاب رانازل کړي، نو موږ به پرې ايمان راوړو.

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۵۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې ايتونو کښې د يو پلوه د هغوى جزا ياګله شوې ده البته په کوم وخت کښې چې هغوى په نومورې پلمه باندې کلک شي او د بله پلوه نورو خلکو ته توصيه شوې ده چې د هغوى په دروغجنه پلمه باندې ونه غولېږي او خپل خير او شر وسنجوي؛ چې حاصل يې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ هر څوک چې په کفر باندې کلک وي او قناعت ښونکو دلايلو ته اعتناء نه کوي، برسېره پر دې د نورو خلکو په بې لارې کولو او کافر کولو کښې هم تاند وهي او حتى خپله کړنلاره ورته بهتره برېښي، يقيناً دغسې کسان روزمره د هدايت موندلو څخه لرې کېږي او د حق موندلو څخه يې فاصله زياتېږي.

د فاصلې د زياتېدلو معنى يې دا ده چې په يقين سره دغسې خلکو ته به نه الله ﷻ د دوى جنايات وبښي او نه به ورته د سمې لارې د موندلو توفيق ورکړي. او دا ځکه چې دوى د سمې لارې د موندلو استعداد د خاورو سره برابر کړى دى.

۲_ نو د الله ﷻ د سنت په مطابق به دوى د دوزخ د لارې څخه په غير په بله لاره باندې لار نه شي او نه به ورته د بلې لارې د تللو توفيق په نصيب شي، د همدې کبله به دوى په دوزخ کښې همېشه وي.

۳_ نومورې کافران (اهل الکتاب) خو په دې باندې غره شوي دي چې پلرونه يې پيغمبران تېر شوي دي او په خيال کښې يې ګرځي چې په الله ﷻ باندې به د دوى تعذيب دروند تمام شي او په آخرت کښې به يې د جنت په لاره باندې روان کړي ترڅو جنت ته داخل شي: مګر دغسې نه ده. په الله ﷻ باندې د نومړو دائمي تعذيبول ډېر اسان دي چې دوى د الله ﷻ په نزد هيڅ قدر او عزت نه لري.

۴_ نو اى خلکو! (هرڅوک چې ياست) تاسو ته د الله ﷻ د پلوه پيغمبر درغلى دى او ښې ښکاره معجزې يې د خانه سره درورې دي چې حقانيت يې پکښې د ورايه برېښي نو تاسو د اهل الکتابو افتراګانو ته التفات مه کوئ او خپله ټوله توجه ذکرو شوو معجزاتو ته ورواړوئ ترڅو د جنت په لاره باندې برابر شئ: دا کار ستاسو دپاره بهتر دى، که نه نو الله ﷻ ستاسو ايمان راوړلو او عبادت ته څه ارتيا نه لري چې د ټولې دنيا مالک او خالق دى، انعام ورکول او يا عذاب ورکول يې هر يو په کامل علم او کامل حکمت باندې بناء دى، نه يې د چا په انعام باندې پروا شته او نه د چا په تعذيب باندې څه پروا لري.

## توضيحات

۱_ په دې مقام کښې د ﴿ كَفَرُوا ﴾ د کلمې څخه وروسته د ﴿ ظَلَمُوا ﴾ کلمه هم نازله شوې ده. نو د دواړو معنى داسې کېږي چې يهودانو په خپلو ځانونو باندې ظلم کړى دى چې کفر يې اختيار کړى دى او دوى متعدي ظالمان هم دي چې خلک د حقې لارې څخه اړوي او د مسلمانېدلو مخه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې نيسي، او هم دوی په نبي کريم ﷺ باندې ظلم کوي چې د نبوت څخه يې انکار کوي او حق صفاتو ته يې تغير ورکوي. خو د دې سره-سره خپل خانونه حق په جانب ګڼي نو ځکه دوی روزمره د هدايت څخه لرې وځي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په دې مقام کښې د ﴿ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ ﴾ څخه کومه يوه لاره مطلب ده؟.

مونږ وايو چې:

الف: ځينې مفسرين کرام وايي چې دلته د قيامت په ورځ د دوزخ لاره مطلب ده. يعني ذکرشوو کسانو ته به الله ﷻ د قيامت په ورځ د دوزخ د لارې څخه په غير د جنت لاره قدرې هم ونه ښايي، پاتې خو لا داخلول[1]. په همدې تفسير باندې د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ کلمات دلالت کوي چې د قيامت د ورځې پورې اړين ـ لري.

ب: ځينې نور وايي چې دلته په دنيا کښې هغه لاره مطلب ده چې هغه برابره دوزخ ته تللې ده[2]. يعني ذکر شوي کسانو ته به الله ﷻ د جنتيانو د لارې توفيق ورنه کړي، چې استعداد يې ضائع کړی دی؛ او په تکويني توګه به ورته د دوزخيانو لاره اسانه کړي.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره يو ترېله څه منافات نه لري. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: ذکرو شوو کسانو ته به الله ﷻ په دنيا کښې توفيق ورنه کړي او په آخرت کښې به د دوزخ د لارې څخه په غير د جنت لاره قدرې هم ور ونه ښيي، ځکه چې دوی د الله په وړاندې مهان (سپک) او حقير دي.

﴿ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ ۚ إِنَّمَا ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۖ وَلَا تَقُولُوا۟ ثَلَٰثَةٌ ۚ ٱنتَهُوا۟ خَيْرًا لَّكُمْ ۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ سُبْحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٌ ۘ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٧١﴾ لَّن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ۚ وَمَن يَسْتَنكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا ﴿١٧٢﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟

(۱) التفسير الكبير ج۱۱ ص۱۱۳
(۲) روح المعاني ج۶ ص۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسْتَنكَفُوا۟ وَٱسْتَكْبَرُوا۟ فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧٣﴾

[۱۷۱] ای د کتاب خاوندانو! په خپل دین کښې د (شرعي) حد څخه مه تېرېږئ او په الله ﷻ باندې مه وایاست مګر حقه خبره، (هغه دا چې) بې شکه المسیح عیسی علیه السلام د مریمې رضي الله عنها زوی د الله ﷻ لېږلی شوی دی او د ده ﷻ فرمان دی چې مریمې رضي الله عنها ته یې وراچولی دی (ورکړی دی) او (هم عیسی علیه السلام) د ده (الله ﷻ) د پلوه یو روح دی. نو په الله ﷻ او د ده ﷻ په ټولو پیغمبرانو باندې (په حقه توګه) ایمان راوړئ، او (داسې) مه وایاست چې (معبودان) درې دي، (د همدغې وینا څخه منعه شئ؛ (چې منعه کېدل) درته بهتر دي.

یقیناً الله ﷻ یکې یو معبود دی، ده ﷻ ته د دې څخه پاکې ده چې ورته دې زوی وي، (څکه چې) خاص همده ﷻ لره هغه څه دي چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه دي چې په ځمکو کښې دي. او الله ﷻ کار سازی بس دی.

[۱۷۲] هیڅکله المسیح (عیسی علیه السلام) د دې څخه ډډه نه کوي چې خاص د الله ﷻ بنده دې وي، او نه مقربې ملائکې (د دې څخه ډډه کوي چې دوی دې د الله ﷻ بندګان وي). او هغه څوک چې د ده ﷻ د عبادت څخه څنګ وکړي او خپل ځان لوی وګڼي نو دوی به الله ﷻ ډېر ژر خپل ځان ته ټول ورغونډ کړي.

[۱۷۳] نو هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي نو دوی ته به خپل اجرونه (ثوابونه) پوره ورکړي، او د خپل فضل څخه به زیادت هم ورکړي. او هغه کسان چې (د الله ﷻ د عبادت څخه) څنګ کوي او خپل ځانونه لوی ګڼي نو دوی به معذب کړي په دردناک عذاب سره، او دوی به خپلو ځانونو ته د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست موندلی کړي او نه مددګار.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د اهل الکتابو څخه یهودانو ته توصیه شوې ده چې د عیسی علیه السلام په شان کښې د تفریط (تنقیص) څخه لاس واخلئ. او په دې ایتونو کښې د دوی څخه نصاراوو ته توصیه کېږي چې د عیسی علیه السلام او د ده د مور (مریمې رضي الله عنها) په شان کښې افراط (بې موجبه تعظیم) مه کوئ چې د بندګۍ څخه یې د الوهیت درجې ته ورسوئ.

## د مطلب خلاصه

بعنې: ای اهل الکتابو (نصاراوو)! تاسو ته الله ﷻ لاندې توصیې کوي:

۱ـ په خپل دین کښې د شرعي حد څخه تجاوز مه کوئ، په کومه طریقه چې الله ﷻ درنازل کړې دې په همغه شان سره وربانديې عمل او عقیده وکړئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ په الله ﷻ باندې ناحقه دروغ مه تړئ چې تاسو ته هم ناحقه ښکاري خو د خپلو دنیاوي اغراضو د کبله وربانديې قائل یاست.

٣_ د عیسی ؈ په باره کښې لاندې عقائد د ځانو سره وساتئ:

الف: عیسی ؈ یوازې د بي بي مریمې زوی دی او پلار نه لري.

ب: نوموړی ؈ د الله ﷻ پیغمبر دی چې د خلکو د هدایت دپاره یې درلېږلی دی مګر په الوهیت کښې د الله ﷻ سره نه په خپله شریک دی او نه یې ورسره مور (بي بي مریمه رضي الله عنها) شریکه ده.

ج: په فوق العاده توګه په الهي فرمان (کُن) سره خلق کړی شوی دی، داسې فرمان چې یوازې د ده مور (بي بي مریمې رضي الله عنها) پورې یې تعلق نیولی وه، او د هغې په رحم کښې پرې عیسی ؈ جوړ شوی وه. دا الهي فرمان یا تکویني امر د نورو تکویني اوامرو په شان نه وه چې د ماشوم د مور او پلار دواړو پورې تعلق نیسي.

د: په نوموړي کښې د الله ﷻ د جانبه یو امتیازي روح اچولی شوی دی چې د خپل جسد څخه یې آن د قیامت د قرب پورې ترې نه جدا کېږي.

٤_ نو ای نصاراوو! په الله ﷻ باندې د وحدانیت عقیده وکړئ او یوازې د همده ﷻ عبادت ته سرونه ټیټ کړئ چې د عیسی ؈ غوندې پیغمبر یې په معجزانه توګه تاسو ته دراستولی وه.

٥_ همدارنګه د الله ﷻ په ټولو پیغمبرانو باندې، د عیسی ؈ په شمول، د حقانیت عقیده وکړئ او خصوصًا په نني عصر کښې د محمد ﷺ په رسالت باندې معتقد شئ.

٦_ دا خبره مه کوئ چې معبودان درې دي چې الله ﷻ دی، عیسی ؈ دی او د ده مور بي بي مریمه رضي الله عنها ده. بلکې دا خبره هم مه کوئ چې معبود د ذکر شوو درېواړو څخه مرکب دي.

٧_ د دغه ډول وینا څخه منعه شئ او د دغه ډول عقیدې څخه لاس واخلئ:

دا کړنلاره تاسو ته په دنیا او آخرت دواړو کښې ګټوره ده چې د الله ﷻ د عذاب څخه مو ژغوري او د ده ﷻ رضا ته مو وربلي، او دا ځکه چې:

الف: یقینًا الله ﷻ واحد لا شریک دی، په الوهیت کښې ورسره نه عیسی ؈ شریک دی او نه بل څوک.

ب: الله ﷻ ته د ولد (زوی) درلودلو څخه پوره پاکي ده.

ج: ولې به الله ﷻ لره د ولدیت څخه پاکي نه وي چې ټول مخلوقات د ده ﷻ ملک او مخلوق دي او ټول یې عبادت کوونکي دي حال دا چې بندګي او ولدیت دواړه یو تربله منافات لري.

او علاوه پر دې، په ذکر شوي صفت کښې ټول مخلوقات یو برابر اشتراک لري، نو یوه مخلوق ته د ولدیت نسبت کول او بل ته نه کول پوره بې انصافي، او د مرجح څخه پرته ترجیح ورکول دي.

د: برسېره پر دې، د ولد درلودلو سره احتیاج تړلی دی چې د والد سره د کمزورۍ په وخت کښې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاس وکړي، حال دا چې الله ﷻ د هر څه کارساز دی او د ده ﷻ کارسازي کفایت کوي، چې هم خپل کارونه او هم د نورو کارونه یوازې او یوازې جوړوي او د هیڅ مرستې ته اړتیا نه لري.

۸ـ ای نصاراوو! تاسو ته هیڅ مناسبه نه ده چې په عیسی ﷺ باندې د بندګۍ څخه پورته عقیده وکړئ حال دا چې پخپله عیسی ﷺ د الله ﷻ په بندګۍ باندې افتخار کوي او د ده ﷻ د عبادت څخه غاړه نه غړوي. که بالفرض نوموړی د الله ﷻ سره په الوهیت کښې شریک وي نو بیا خو به ورسره سمسکی وی.

۹ـ بلکې څومره چې الله ﷻ ته د یوه بنده قرب او مقبولیت زیاتېږي په هماغې اندازه د هغه عبادت او بندګي لا اضافه کېږي.

نو د الله ﷻ مقبولیت د الوهیت معنی نه ورکوي، د همدې کبله مقرب ملائک هم د الله ﷻ په عبادت باندې افتخار کوي او د ده ﷻ څخه په ډار کښې دي، پاتې خو لا دا چې د ده ﷻ د عبادت څخه غاړه وغړوي.

۱۰ـ او دا ځکه چې د الله ﷻ د عبادت څخه غاړه غړول د تکبر او لويي معنی ورکوي او هرڅوک چې تکبر وکړي، که څه هم هغه بالفرض پیغمبر یا یوه پرښته وي، نو الله ﷻ به دوی ټول ـ د نورو خلکو په شمول ـ په خپل حضور کښې د قیامت په ورځ راغونډ کړي او په لاندې ډول فیصله به یې په منځکښې وکړي:

الف: د نېک عمل خاوندانو مؤمنانو ته به پوره اجرونه ورکړي او هم به ورباندې خپل فضل وراضافه کړي.

ب: متکبرانو ته به دردناک عذاب ورکړي چې نه به یې ترې څوک په شفاعت سره خلاص کړی شي او نه په زور سره، او حتی نه به دوی ته شفاعت کوونکی دوست او یا دغسې قوي انډیوال مونده شي، چې یا یې شفاعت وکړی شي او یا یې نصرت ورکړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿لَا تَغْلُوا﴾ کلمه د "غُلُوْ" څخه اخستله شوې ده، "غُلُوْ" دې ته وايي چې څوک د یوه شي د رتبې په لوړلو کښې د حد څخه تجاوز وکړي او د استحقاق څخه ورپورته رتبه ورته ورکړي[1].

د همدغه تجاوز څخه کله-کله په افراط سره تعبیر کېږي چې په مقابل کښې یې د تفریط کلمه استعمالېږي، یعنې تفریط دېته وايي چې څوک د یوه شي د رتبې په ښکته کولو کښې د حد څخه تجاوز وکړي. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه مثالونه ولولئ:

الف: نصارا د عیسی ﷺ په باره کښې افراط کوي حتی چې د ده رتبه د عبدیت څخه پورته کوي او د الوهیت درجې ته یې رسوي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: يهودان د عيسى ﷺ په هکله تفريط کوي حتى چې د نبوت د رتبې څخه يې ښکته کوي او د يوه عادي بلکې د يوه جنايتکار بنده رتبې ته يې رسوي حتى چې په خپل وخت کښې يې ورباندې د وژلو صرفه هم ونه کړه خو کامياب نه شوه.

نو نصارا د عيسى ﷺ په افراطي محبت باندې کافر شوي دي او يهود يې په عداوت باندې کفر ته رسېدلي دي. د همدې کبله نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتْ النَّصَارَى عِيسَى بْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ فَقُولُوا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ»[1] يعني: زما په مدحه (ستاينه) کښې ناجائزه مبالغه مه کوئ لکه چې نصاراوو د عيسى بن مريم ﷺ په مدحه کښې ناجائزه مبالغه کوله، يقيناً زه د الله ﷻ بنده يم نو تاسو ما د عبد الله او رسول الله په نامه يادوئ (د دې څخه وړاندې مه تېرېږئ).

همدارنګه نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّينِ فَإِنَّهُ اهلكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ الْغُلُوُّ فِي الدِّينِ»[2] اى خلکو! په دين کښې د افراط څخه ځانونه وساتئ، يقيناً هغه خلک چې ستاسو څخه وړاندې وه په دين کښې افراط هلاک کړي دي.

## په اسلام کښې افراط او تفريط نشته

۲ـ د اسلام په دين کښې نه افراط شته او نه تفريط، بلکې اسلام په اعتدال او عدل باندې ولاړ دی، نو بايد چې استحبابي احکام د فرضيت مقام ته پورته نه کړی شي، او همدارنګه بايد چې حرام د مکروه مرتبې ته راښکته نه کړی شي.

لنډه دا چې په اسلام کښې د هر شي دپاره شرعي حد ټاکلی شوی دی چې په هغه حد کښې بايد نه افراط وکړی شي او نه تفريط، که څه هم يا محبت وي او يا عداوت.

## يادونه

۳ـ مونږ د [آل عمران:۴۵] ايت لاندې د عيسى ﷺ د نومونو په باره کښې څه ګټور مسائل ليکلي دي ـ والحمد لله ـ بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## روح الله څه معنی؟

۴ـ د "رُوح الله" يا "روحٌ مِّن الله" بالآخره يا د "روحٌ مِّنه" کلمې د عيسى ﷺ لقبونه دي. که څه هم د "رُوح" کلمه اصلاً د هغه شي دپاره وضعه شوې ده په کوم شي باندې چې ژوند تحقق مومي او سرې پرې د ښېګڼو جلب او د اضرارو مخنيوی کولی شي[3]، مګر څرنګه چې د روح په اصلي حقيقت باندې د الله ﷻ څخه پرته څوک نه پوهېږي نو الله ﷻ د روح اضافت فقط خپل ځان ته کوي،

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۹۰
(۲) سنن ابن ماجه ج۲ ص۲۱۷
(۳) مفردات الراغب ص۲۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه چې ملائکو ته یې توصیه وکړه چې: ﴿ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴾ [ص: ۷۲] یعنې: نو کله چې ما د ده (آدم ﷺ) هیکل برابر کړ او د خپل روح څخه مې پکښې پو کړ، نو تاسو ورته سجده کوونکي پرېوزئ.

## د نومولو وجې

۵_ مفسرینو کرامو د دې دپاره چې څنګه عیسی ﷺ ته د "رُوحُ الله" لقب ورکړی شوی دی، ډېرې وجې ذکرې کړې دي چې تقریباً آتو وجو ته رسېږي[۱]، مګر مونږ ته یې د نومولو وجه دا برېښي چې د عیسی ﷺ مبارک روح د نورو روحونو څخه پوره د امتیاز درلودونکی دی نو د مبالغې په توګه عیسی ﷺ داسې وګڼل شو لکه چې ټول روح وي. او یا په بل عبارت، ته به وایې چې عیسی ﷺ ټول روح دی او مادي برخه پکښې بالکل نشته.

## د عیسوي روح امتیازات

۶_ د عیسی ﷺ د مبارک روح لاندې امتیازات ولولئ:

الف: نور روحونه په هغو بدنونو کښې حلول کوي چې اصل یې د بل ژوندي څخه اخستلی شوی وي، لکه چې د ژوندي پلار د نطفې څخه د مور په رحم کښې بدن جوړ شي او بیا پکښې روح پو کړی شي؛ مګر د عیسی ﷺ مبارک روح په داسې بدن کښې ورننووت کوم چې اصل یې د بل ژوندي څخه نه وه اخستلی شوی.

ب: د عیسی ﷺ د مبارک روح په برکت سره د ختې مرغۍ څخه ژوندۍ مرغۍ جوړېده. لکه چې د [المائدة: ۱۱۰] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: څومره اوږده زمانه چې د عیسی ﷺ مبارک روح د مربوط بدن سره تعلقه ساتي بل روح دومره زمانه د مربوط بدن سره تعلقه نه شي ساتلی، حتی چې عیسی ﷺ نن ورځ هم ژوندی دی او قیامت ته د نژدې وخته پورې به ژوندی وي.

د: د عیسی ﷺ د مبارک روح څخه په غیر بل داسې روح نشته چې په تنفس سره یې د بل ژوندي شي څخه روح والوزي، یوازې عیسی ﷺ دی چې کله د اسمانه رابښکته شي نو په تنفس سره به یې کافران وژل کېږي او تنفس به یې هغه ځای ته رسېږي په کوم ځای باندې یې چې نظر نښلي[۲].

## باطل استدلال

۷_ نصارا د ډېر جهالت د کبله د "رُوحُ الله" په لقب کښې اضافت د جزئیت په معنی اخلي او په

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۲؛ روح المعاني ج۶ ص۲۵؛ زاد المسیر ج۲ ص۲۲۵
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"رُوحُ مِنَ الله" یا "رُوحٌ مِنهُ" کښې د "مِن" توری د بعضیت دپاره گڼي، د همدې کبله عیسی علیه السلام کله د الله ﷻ ولد (زوی) وایي او کله ورته د معبود لقب ورکوي.

حال دا چې نه اضافت د جزئیت معنی ورکوي او نه د "من" توری د بعضیت دپاره دی بلکې اضافت د تشریف دپاره دی، لکه چې په "بَیتُ الله" کښې په تشریف او تعظیم باندې دلالت کوي او د "من" توری د ابتداء دپاره دی[1]. یعنې عیسی علیه السلام د پل جا نه پیدا کې د الله ﷻ د پلوه د مبارک روح خاوند جوړ شوی دی. د نه وضاحت دپاره لاندې عجیبه قیصه ولولئ:

## عجیبه قیصه

۸ـ یوه ورځې یوه نصراني طبیب د ایت شریف په ﴿رُوحٌ مِّنْهُ﴾ کښې د "من" په توري باندې استدلال وکړو چې عیسی علیه السلام د الله ﷻ جزء (ولد) دی، العیاذ بالله. مګر د سلفو صالحینو څخه یوه عالم جواب ورکړ که بالفرض ذکر شوی د "من" توری په جزئیت باندې دلالت وکړي نو بیا چې ټولو ټوله دنیا د الله ﷻ جزء وګڼئ؛ ځکه چې په ټوله دنیا کښې هم الله ﷻ همدغه شان د "من" توری استعمال کړی دی چې ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ﴾ [الجاثیة ۱۳] یعنې او الله ﷻ تاسو ته هغه ټول شیان مسخر ګرځولي دي چې په اسمانونو کښې دي او هغه ټول شیان هم چې په ځمکو کښې دي، ټول د الله ﷻ د پلوه دي.

نو ذکر شوی نصراني قناعت وکړ او مسلمان شو[2]. والحمد لله ﷻ.

## د تثلیث مشکله عقیده

۹ـ د عیسویت دین د نورو اسماني ادیانو په شان اصلاً د توحید دین دی او د عیسی علیه السلام اسمان ته د پورته کېدلو څخه وروسته هم تر یو اتیا (۸۱) کالو پورې نصارا په توحید باندې معتقد وه[3]. او حتی تن ورځ هم دوی ځېل ځانونه موحدین ګڼي او د مشرکانو نوم ورته بد ښکاري د تثلیث عقیده دوی ته ځینو مشرکانو (بوت پرستانو) ور انتقال کړه. البته کله چې دوی د نصرانیت دین قبول کړ او ځانونه یې نصارا معرفي کړه[4].

نو اوس سړی پوهېږي چې د تثلیث عقیده څومره مشکله عقیده ده چې د هیچا سر ورباندې تر اوسه پورې نه خلاص شوی دی او نه به د قیامت د ورځې پورې ورباندې خلاص شي. او څومره اختلافات چې په نصاراوو کښې شته په دې پیمانه اختلافات په ټوله دنیا کښې په بله یوه عقیده کښې هم نه موندل کېږي.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۲۵۹
(۲) روح المعاني ج۶ ص۲۵
(۳) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۴
(۴) تفسیر المنار ج۶ ص۸۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم د تثلیث عقیده په ټولو نصاراوو کښې عامه ده مګر دوی په همدغې عقیده کښې هم سره اختلاف لري، چې ځینو مفسرینو کرامو یې تفصیل ذکر کړی دی[١]، که څوک غواړي چې د نصاراوو د مذاهبو په تفصیل او رد باندې خبل خان پوه کړي نو هملته دې مراجعه وکړي.

لنډه دا چې د نصاراوو اختلافات دومره ډېر دي چې ځینې علماء کرام د مبالغې په توګه وایي چې که بالفرض لس کسه نصارا په یو ځای کښې راغونډ شي نو په مذهبي بحث کښې به دوی په یوولسو مختلفو عقیدو باندې قول وکړي[٢].

د دې شدید اختلاف مهمه وجه مونږ ته دا ښکاري چې د تثلیث عقیده مشکله عقیده ده چې د یو پلوه الله ﷻ واحد او لا شریک ګڼي چې د شرک څخه خانونه بچ ساتي، او د بله پلوه هم عیسی ؑ او هم د ده مور (بي بي مریمه رضی الله عنها) ورسره په الوهیت کښې شریکان جوړوي، العیاذ بالله.

نو د تثلیث معنی دا ده چې الله ﷻ ته د دریم معبود نسبت وکړی شي چې معبودان درې دي: یو معبود عیسی ؑ، دوهم بي بي مریمه رضی الله عنها او دریم معبود الله ﷻ دی.

د تثلیث په ذکرې شوې معنی باندې لاندې دوه ایتونه دلالت کوي چې:

الف. ﴿لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ﴾ [المائدة: ٧٣] یقینًا هغه کسان کافر شوي دي چې دوی وایي چې بې شکه الله ﷻ د درېوو معبودانو څخه دریم معبود دی. یعنې الله ﷻ د درې معبودانو څخه یو معبود دی.

ب. ﴿وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى وَأُمِّىَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [المائدة: ١١٦] یعنې: او هغه وخت (وریاد کړه) چې الله ﷻ (د نصاراوو د تخجیل دپاره عیسی ؑ ته) ووایي چې ای عیسی د بي بي مریمې زویه! ایا تا خلکو ته ویلي وه چې ما او مور مې د الله ﷻ څخه په غیر دوه معبودان ونیسی؟.

## استنکاف څه معنی؟

١٠ـ د ﴿لَّن يَسْتَنكِفَ﴾ کلمه اصلاً د "نکف" څخه اخستله شوې ده، نکف دې ته وایي چې سړی د خپل مخ څخه په ګوتو باندې اوښکې پاکې کړي[٣]. مګر په محاوراتو کښې استنکاف دې ته وایي چې سړی د یوې خبرې څخه خپل خان پورته وګڼي حتی چې اقلاً د "هو" یا "نه" ویلو ته هم پکښې حاضر نه شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف. په انتخاباتو کښې مستنکفه رایه دې ته وایي چې سړی نه "هو" ووایي او نه "نه"، بلکې په انتخاباتي صندوق کښې سپینه رایه واچوي.

ب. موافقه رایه دا ده چې "هو" ووایي.

---

(١) روح المعاني ج۶ ص٢٧ـ ٣۶
(٢) تفسیر ابن کثیر ج١ ص۵٩١
(٣) مفردات الراغب ص۵٢٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مخالفه رایه دې ته وايي چې انکار وکړي او "نه" ووايي.

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: اې نصاراووا که بالفرض عیسی ﷺ ستاسو د عقیدې موافق د درېوو معبودانو څخه یو معبود وی، نو د الله ﷻ د عبدیت څخه به یې انکار کړی وی، او که نه نو اقلاً استنکاف خو به یې ضرور کړی وی، حال دا چې نوموړي د الله ﷻ د بندګۍ څخه نه پخوا استنکاف کړی او نه به یې هیڅکله وکړي، بلکې هغه سمدستي هم په اسمانونو کښې د الله ﷻ په عبادت باندې مشغول دی، نه ترې استنکاف کوي او نه انکار، بلکې د الله ﷻ په عبادت باندې افتخار کوي.

ربښتیا ده چې عیسی ﷺ د روحي قوت خاوند وه او د الله ﷻ په اجازه باندې یې خارق العاده کارونه کول مګر د خوارقو صدور خو د بندګۍ مخه نه نیسي بلکې بندګي لاقوي کوي.

نه ګورئ چې مقرب ملائک (لکه جبرائیل امین ﷺ) په خوارقو او روحي قوت کښې د عیسی ﷺ څخه زیات دی خو د دې سره‌سره د الله ﷻ د بندګۍ څخه نه انکار کوي او نه استنکاف، بلکې لا افتخار پرې کوي.

## سوال جواب

۱۱ـ که څوک وايي چې: استنکاف د استکبار څخه څه فرق لري؟

مونږ وایو چې: که څه هم ذکرې شوې دواړه کلمې یو تربله سره د لغت په اعتبار څه تفاوت لري، مګر په دې مقام کښې د ﴿ وَيَسْتَكْبِرْ ﴾ جمله د ﴿ يَسْتَنكِفَ ﴾ د جملې دپاره عطف التفسیر واقع شوې ده. لکه چې همدا معنی د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوې ده[۱].

## یادونه

۱۲ـ په ذکر شوي ایت شریف باندې معتزله استدلال کوي چې ملائک د پیغمبرانو څخه بهتر دي[۲]:

مونږ وایو چې:

الف: په دې مقام کښې د الله په نزد بهترې هیڅ مطرحه نه ده، لکه چې په لسمه توضیح کښې ورته اشاره وشوه.

ب: دا مسئله توقیفي ده، په اورېدلو پورې اړه لري او د عربیت په قواعدو باندې یې ثبوت نه شي موندلی او الزمخشري، چې معتزلي وه، صرف په عربیت باندې استدلال کړی دی.

ج: په دې ټولو باندې علاوه ذکره شوې موضوع د عمل په لحاظ چندان اهمیت هم نه لري او مونږ ته پکښې څه مکلفیت متوجه نه دی نو ډېره ښه دا ده چې سړی پکښې توقف وکړي او په بحث

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۹۱
(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۵۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې بې تېره کېږدي. لکه چې همدا نظر ځینو مفسرینو کرامو خوښ کړی دی، البته د نبي کریم ﷺ آخر الزمان پیغمبر ځکه په غیر په نورو پیغمبرانو کېږي(۱).

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱعْتَصَمُوا۟ بِهِۦ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِى رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿١٧٥﴾﴾

[۱۷۴] ای خلکو! په تحقیق سره تاسو ته ستاسو د رب د پلوه برهان (پیغمبر ﷺ) درغلی دی (چې خپل ځان یې په رسالت باندې شاهدي وایي) او مونږ تاسو ته ځرګنده رڼا (قرآن کریم) درنازل کړی دی.

[۱۷۵] نو هغه کسان چې په الله ﷻ باندې ایمان راوړي او د ده ﷻ (په دین) باندې منګولې ولګوي، نو ژر به یې د خپل جانبه په لوی رحمت (جنت) او فضل کښې داخل کړي او هم به دوی لره خپل پلو ته برابره لاره ور وښايي (توفیق به ورکړي).

## ارتباط

تردې ځایه په دې سورت کښې مختلفو غیر اسلامي فرقو ته اسلامي دعوت ورکړی شو او د هغوی د مزخرفو عقائدو د اصلاح طریقه وښودلی شوه، خصوصاً د اهل الکتابو مزخرفات بیل-بیل ځرګند کړی شوه. نو په دې ایتونو کښې یو ځل بیا په ځرګنده توګه د نړی ټول اقشار او مختلفې ډلې د اسلام دین ته دعوت کړی شوې ترڅو د قیامت په ورځ هیڅا ته د اعتذار موقع په لاس ورنه شي چې مونږ پوه شوي نه وو او په اسلامي دعوت باندې مو سرونه نه وه خلاص شوي.

## د مطلب خلاصه

یعني ای خلکو! (هره طائفه چې یاست، مشرکان یاست یا منافقان، یهود یاست یا نصارا او یا بله غیر اسلامي ډله) که تاسو خپل عقائد سم نه کړئ نو د قیامت په ورځ به تاسو په هیڅ قسم سره بهانې او پلمې ونه شئ تراشلی. او دا ځکه چې:

۱ـ د یو پلوه تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه داسې پیغمبر ﷺ دراستول شوی دی چې د پیغمبرۍ د اثبات دپاره یې یوازې د هغه خپل موجودیت کفایت کوي او حاجت نشته چې نورې معجزې ترې وغوښتلی شي. مثلاً:

الف: ذکر شوي پیغمبر ﷺ تر څلوېښتو کالو پورې په داسې چاپیریال کښې عمر تېر کړی دی چې د جنایتونو او خیانتونو ځانګې یې په هر طرف باندې خورې ورې وې حتی چې د خپلو لورګانو په

(۱) روح المعاني ج۶ ص۴۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

ژوند یو شحولو باندې يې هم صرفه نه کوله. مګر نوموړی پیغمبر په یوه ډول جنایت باندې هم ملوث نه شو او حتی د عامو خلکو په منځکښې يې د امين لقب وګاټه.

ب ـ ذکر شوي پيغمبر ﷺ ليک او لوست نه درلود او نه يې د کوم استاذ څخه څه شی زده کړی وه. مګر کله چې څلوېښت کلنۍ ته ورسېده او په نبوت باندې سرلوړی شو نو تېر شوي واقعات يې کټ مټ بیان کړه. ته به وايې چې د واقع کېدلو په وخت کښې نوموړی هلته حاضر وه او واقعات يې په خپلو سترګو لیدلي دي؛ او هم يې راتلونکي واقعات هو بهو بيان کړه. ته به وايې چې واقع کېدل يې د همده په لاس دي.

۲ ـ او د بله پلوه د داسې کتاب درلودونکی دی چې د ټولو حوادثو او شخړو فیصله کوونکی دی. په هیڅ عقیدوي یا عملي حکم کښې يې تعقید او اشکال نشته. د تثلیث د عقیدې په شان د مشکلو عقائدو څخه پاک دی چې د چا سر وریاندې خلاص نه شي. ته به وايې چې دا کتاب یوه لويه رڼا ده چې ټول ماحول يې روښانه کړی دی.

۳ ـ ای خلکو! کله چې تاسو ته په ذکر شوي صفت سره پيغمبر او په ذکر شوي صفت سره کتاب دراستول شوی دی، نو تاسو یو هم د ایمان د نه راوړلو دپاره څه بهانه جویي نه شئ کولی.

نو هغه کسان چې په الله ﷻ باندې په حقيقي معناوو کښې ايمان راوړي او د ده ﷻ په دين باندې منګولې ښخې کړي. نو الله ﷻ به يې په خپل رحمت سره جنت ته داخل کړي او د استحقاق څخه اضافه پېرزوینه به پرې وکړي چې په خپل دیدار باندې به يې سر لوری کړي او څه يې چې زړه غواړي هغه ټول به ورکړي.

علاوه پر دې، په دنيا کښې به ورته هدايت وکړي او په سمې لارې باندې د تللو توفيق به هم ورکړي.

﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِى ٱلْكَلَٰلَةِ ۚ إِنِ ٱمْرُؤٌا۟ هَلَكَ لَيْسَ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَهُۥٓ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ۚ وَإِن كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿١٧٦﴾﴾

[۱۷۶] (ای پيغمبره!) ستا څخه (د کلاله په باره کښې) دفتوی غوښتنه کوي، ورته ووايه چې (زه نه بلکې) الله ﷻ تاسو ته د کلاله په هکله (داسې) فتوی درکوي. که داسې يو سړی هلاک (مړ) شي چې هغه لره ولد (زوی یا لور) نه وي او ده لره خور وي نو دې لره د هغه مال نیمايي برخه (رسېدلې شوې) ده کوم چې هلاک (مړ) شوي سړي پرېښی دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او مړی د خپلې خور (ټول) میراث اخلي (مګر په دې شرط چې) که (هغه مړه شي او) نه وي هغې لره ولد (زوی یا لور)

نو که (په اول صورت کښې) دوه خویندې (فقط) دوه وي (په هر صفت چې وي) نو دوی دواړو لره د هغه مال څخه چې مړي پرېښی دی دوه ثلثه (۲/۳) دي

او که (مړی مړ شي یا ښځه مړه شي او) وارثان یې وروڼه (او خویندې) وي (یعنې مړي او ښځې ګډ وو وي)، نو نارینه لره یې د دوه وو زنانه وو (د برخو په مثل برخه) ده.

الله ﷻ تاسو ته (خپل احکام) بیانوي (د دې کبله چې) تاسو به بې لارې شئ؛ او الله ﷻ په هر شي پاندې پوه دی.

## شان نزول

۱ـ جابر بن عبد الله رضي الله عنه وایي دي چې زه مریض وم او نبي کریم ﷺ مې د ابو بکر رضي الله عنه په شمول پیاده پوښتنې ته راغلی وه، خو په ماباندې بې هوشي راغلې وه، نو نبي کریم ﷺ اودس کړی وه او د اوداسه څخه پاتې اوبه یې په ماباندې راتوی کړې وې، نو زه د بې خودۍ څخه راپه سد شوم. ګورم چې نبي کریم ﷺ زما په کور کښې دی، نو ما ورته وویل چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! كَيْفَ أَصْنَعُ فِي مَالِي كَيْفَ أَقْضِي فِي مَالِي فَلَمْ يُجِبْنِي بِشَيْءٍ حَتَّى نَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ»[1] ای د الله رسوله! زه په خپل مال کښې څه وکړم؟ په خپل مال کښې څه فیصله وکړم؟، خو نبي کریم ﷺ هیڅ جواب رانه کړ ترڅو چې د میراث ایت نازل شو.

د ذکر شوي حدیث په ترجمة الباب کښې امام البخاري رحمه الله داسې لیکلي دي چې: "باب قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: ﴿يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ﴾ الآيَتَيْنِ" یعنې: په ذکره شوې واقعه کښې د [النساء: ۱۱، ۱۲] ایتونه نازل شوي دي.

مګر ځینو مفسرینو کرامو او ځینو محدثینو کرامو ذکره شوې واقعه په لږ تغیر سره لیکلې ده او بیا یې د نوموړي صحابي رضي الله عنه د خولې څخه روایت کړی دی چې «نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِيَّ ﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ﴾»[2] یعنې: دغه ایت شریف زما په باره کښې نازل شوی دی.

## تبصره

۲ـ مونږ ته همدغه دوهم روایت په زړه پورې ښکاري، او دا ځکه چې په یوه بل روایت کښې نوموړي صحابي (جابر بن عبد الله رضي الله عنه) د نبي کریم ﷺ سره په لاندې ډول سوال جواب کړی دی.

نبي کریم ﷺ: ایا واده دې کړی دی؟

جابر رضي الله عنه: هو.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۹۵

(۲) صحیح المسلم ج۲ ص۳۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۳۰؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ: کومه يوه دې په نکاح کړې ده، پېغله (انجلۍ) که کونډه؟

جابر ﷺ: بلکې کونډه.

نبي کريم ﷺ: ولې دې انجلۍ نه په نکاح کوله چې د مينې خخه ډک ژوند يې درسره کولی؟

جابر ﷺ: ای د الله رسوله! زما پلار (عبد الله ﷺ) د أحد په غزا کښې شهيد شو. او نهه لورګانې يې پرېښې وې چې زما دپاره نهه خوېندې کېږي. نو ما دا ښه ونه ګڼله چې د همدوی غوندې بې تجربه انجلۍ ورسره يو خای کړم. ماته دا ښه ښکاره شوه چې يوه باتجربه ښځه په نکاح کړم چې ترڅو زما د خويندو سرونه ګومنځ کړی شي، او په نورو خدمتونو باندې يې ودرېدلی شي

نبي کريم ﷺ: «أصبْتَ»[1] حقيقت ته رسېدلی يې. يعنې ښه دې کړي دي

نو د ذکر شوي روايت څخه څرګندېږي چې جابر ﷺ نهه خويندې درلودې او همدوی ته د وصيت په باره کښې يې د نبي کريم ﷺ څخه فتوی غوښتې وه، حال دا چې د دې مسئلې جواب د [النساء ۱۱_ ۱۲] ايتونو کښې نشته.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په همدغو ايتونو کښې هم د نومورې صحابي ﷺ جواب شته چې: ﴿ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَٰلَةً ﴾ الآية [النساء ۱۲]. يعنې هلته هم د جابر ﷺ غوندې سړي د ميراث وېشل نازل شوي دي چې اولاد نه لري او خويندې او وروڼه ترې پاتې وي؟

مونږ وايو چې: ټولو فقهاوو اجماع کړې ده چې هلته د ﴿ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ ﴾ څخه اخيافي (موريني) ورور او خور مطلب دي[2]. حال دا چې د جابر ﷺ نهه خويندې خو اخيافي نه وې بلکې اعياني يا علاتي خويندې وې چې يا يې د مور او پلار څخه وې او يا يوازې د پلار څخه او بس.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: دا مو ولې خوښه نه کړه چې د "كَلَٰلَة" مربوط دواړه ايتونه دې د جابر بن عبد الله ﷺ په باره کښې نازل شوي وي ترڅو ذکر شوي دواړه روايتونه سره توافق ومومي؟

مونږ وايو چې: د "كَلَٰلَة" مربوط اولنی [النساء ۱۲] ايت په ژمي کښې نازل شوی دی او دوهم ايت _چې سمدستي د بحث لاندې دی_ په اوړي (دوبي) کښې نازل شوی دی چې «آيَةُ الصَّيْفِ» نومېږي[3] نو سړي ته ډېره بعيده ښکاري چې دواړه ايتونه په يوه واقعه کښې نازل وګڼي. مګر هله چې د نومورې صحابي ناروغي دوه کرته پېښه شوې وي او نبي کريم ﷺ دوه کرته پوښتنې ته ورغلی وي؛ مګر دا راته ثابته نه ښکاري

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۸۰۰

(۲) تفسير المظهري ج۲ ص۳۲، تفسير القرطبي ج۵ ص۷۸

(۳) سنن ابن ماجه ص۱۹۶، تفسير القرطبي ج۶ ص۲۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

د ـ که څوک وایي چې په ﴿ يَسْتَفْتُونَكَ ﴾ کښې د جمعې جمله نازله شوې ده نو که بالفرض ذکر شوی ایت د جابر بن عبد الله ﷛ په باره کښې نازل شوی وي، نو باید چې "يَسْتَفْتِيكَ" مفرده جمله نازله شوې وی؟

موږ وایو چې د [النساء ١٢] ایت لاندې د کلاله په تعریف کښې واضحه شوې ده چې کلاله هغه مړی ته وایي چې نه یې پلار ژوندی وي او نه اولاد ولري او د کمزورې خپلوۍ وارثان ترې پاتې وي، چې خویندې او وروڼه دي.

نو څرنګه چې هلته صرف د هغو وروڼو او خویندو برخه ټاکله شوې ده کوم چې صرف مور پورې اړه ولري، یعنې اخيافي وي: نو څه لرې نه ده چې د ذکر شوي صحابي ﷛ څخه په غیر هم څینو نورو صحابه وو کرامو ﷛ پوښتنه کړې وي چې ای د الله رسوله! د کلاله په وارثانو کښې د اعياني (سکه) او علاتي (پلارنی) خویندو او وروڼو برخې په څه ډول دي؟

نو که بالفرض دغسې پوښتنه د جابر بن عبد الله ﷛ څخه په غیر بل چا د قال په ژبه نه وي کړې، نو د حال په ژبه خو به د ټولو صحابه وو ﷛ پوښتنه وي، نو ځکه ترې الله ﷻ په جمعي سره تعبیر وکړ.

## ارتباطونه

١ ـ په تیرو شوو ایتونو کښې د مزخرفو عقائدو حالات او د هغوی سره د مباحثې طرز ته اشاره شوې وه. په دې ایت کښې د مسلمانانو توجه د خپلمنځي شخړو حل کولو ته اړولې شوې ده، د دې دپاره چې هسې نه چې زمونږ ټول فکر او ذکر په پردیو خلکو کښې مصروف شي او د خپلو خانونو څخه په غفلت کښې واقع شو، چې په نتیجه کښې د پردیو خلکو په شان په جګړو او دنګلو باندې اخته شو.

٢ ـ په نژدې ایت کښې الله ﷻ قرآن کریم د ﴿ نُورًا مُّبِينًا ﴾ په لقب سره یاد کړی دی او په دې ایت کښې یې د همدغه لقب یو مصداق را څرګند کړ او د لانجو د هوارولو دپاره یې سمه لاره راوښودله. ترڅو لاره ورکه نه کړو او په تورو تیارو کښې ونه لوېږو.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! مسلمانان خو ستا څخه د خپلو مشکلاتو د حل کولو په باره کښې پوښتنه کوي او فتوی درڅخه غواړي ځکه چې تاته روښانه کتاب درنازل شوی دی، د نبوت څخه وړاندې تا په څه حادثه کښې فتوی نه شوه ورکولی، او نه درڅخه چا تمه درلوده.

نو اوس چې درڅخه د کلاله په هکله فتوی غواړي نو دوی ته ووایه چې زه نه بلکې الله ﷻ په لاندې ډول فتوی درکوي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ چې که یو سړی مړ شي او اولاد او پلار ونه لري خو یوه خور ولري، نو همدغې یوې خور ته الله ﷻ د ټول مال نیمایي برخه ټاکلې ده، البته په هغه صورت کښې چې ذکره شوې خور سکه خور او یا میرېیزه خور وي.

۲ـ همدارنګه د هغې زنانه حکم هم دی چې مړه شي او خور ولري مګر پلار او اولاد ونه لري، خو دا هلهٔ چې ژوندۍ خور یکې یوه وي، او که دوه یا د دوه وو څخه اضافه وې نو دوی لره د ټول مال دوه دریمې (۲/۳) برخې ټاکلې شوې دي.

۳ـ او که بالعکس یوه ښځه مړه شوه چې پلار او زوی یې نه درلوده خو سکه ورور او یا میریز ورور یې درلوده، نو همدغه ورور یې عصبه جوړېږي چې د برخو خاوندانو ته د خپلو برخو د ورکولو څخه وروسته، پاتې مال ټول همده ته پاتې کېږي.

۴ـ هو! ذکر شوی حکم په هغه صورت کښې تغیر نه خوري چې د زنانه په ځای یو ورور مړ شي او په مېنه باندې یې سکه ورور او یا مریز ورور پاتې شي.

۵ـ که په ذکر شوو څلور واړو صورتونو کښې ورونه او خویندې ګډوډ پاتې شوي وه نو هلته د الله ﷻ فتوی دا ده چې دوی ټول عصبه جوړېږي، او یوه نارینه ته د دوه وو زنانه وو د برخو په مثل برخه ټاکلې شوې ده. یا په بل عبارت، دوه زنانه په یوه نارینه باندې محاسبه کېږي.

الله ﷻ څکه تاسو ته شرعي احکام بیانوي چې لاره به ورکه کړئ او ګمراه به شئ، البته په هغه صورت کښې چې الله ﷻ تاسو ته یا احکام درنازل نه کړي او یا یې درنازل کړي خو تاسو یې د پښو لاندې کړئ.

او الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی، ستاسو کم علمي ورته ښه معلومه ده او په ټولو حالاتو باندې مو علم لري.

## توضیحات

۱ـ که څه هم مونږ د [النساء:۱۲] ایت شریف لاندې د کلاله په باره کښې څه معلومات لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، مګر دلته یوازې همدومره اضافه کوو چې په دې مقام کښې الله ﷻ د کلاله د میراث په باره کښې داسې فتوی ورکړه چې د کلاله تعریف ترې هم معلومېږي، یعنې کلاله هغه څوک دی چې مړ شي او په مېنه باندې پلار او اولاد پرې نه ږدي، برابره خبره ده چې نارینه وي او که ښځینه، او یا هغه وارثان دي چې د پلار او زامنو څخه په غیر وي.

### سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د کلاله په تعریف کښې خو ایت شریف یوازې د اولاد په نشتوالي باندې اکتفاء کړې ده، نو تاسو د پلار نشتوالی د کوم ځای څخه واخست؟

مونږ وایو چې: د پلار نشتوالی د نص په مقتضی سره ثابت دی او دا څکه چې دلته خویندو او ورونو ته په میراث کښې برخه ښودلې شوې ده. حال دا چې د پلار په موجودیت کښې خویندې او

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورونه د برخو څخه محروم کرځي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُ ﴾ [النساء:١١]
يعنې: نو که مړي لره (د مور او پلار د موجوديت په صورت کښې) ورونه وه نو مور لره يې شپږمه ده. يعنې نور ټول ميراث د پلار دی او ورونه يې محروم کرځي، لکه چې امام مالک رحمه الله همدا خبره اجماعي کڼلې ده[1]. نو معلومه شوه چې د کلاله په ميراث کښې د پلار عدم موجوديت شرط دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: کله د کلاله په تعريف کښې د پلار او اولاد عدم موجوديت شرط شو، نو بايد چې خويندې او ورونه د مړي په لور سره هم ساقط شي لکه څنګه چې د مړي په پلار او زوی سره ساقطېږي، حال دا چې خبره داسې نه ده، بلکې د لور د موجوديت په صورت کښې د مړي خور عصبه جوړېږي، لکه څنګه چې د مړي ورونه عصبه دي.

مونږ وايو چې: د ايت شريف حکم خو دا دی چې د پلار او اولاد د عدم موجوديت په صورت کښې يوه خور نيمايي ترکه اخلي، او د يوې څخه اضافه د ترکې دوه دريمې اخلي، نو که بالفرض مړی لور ولري نو يوه خور وي او که ډېرې، د فرضيت څخه ساقطېږي.

اما دا بيله خبره ده چې د ترکې څخه په عصوبت سره نيمايي ترکه واخلي، لکه چې د چا څخه يوه لور او يوه خور پاتې شي، او يا د نيمايي څخه څه کمه برخه واخلي، لکه چې د چا څخه يوه لور يوه د زوی لور او يوه خور پاتې شي، نو په دې صورت کښې لور نيمايي اخلي او لمسۍ (د زوی لور) شپږمه اخلي چې ثلثان پوره شي، او متباقي دوه شپږمې (يوه دريمه) خور اخلي مګر په فرضيت سره نه، بلکې په عصوبت سره.

هو! په ذکر شوو صورتونو کښې يې که د لور په عوض د مړي زوی ژوندی وي نو خورګانې ټولې ساقطېږي، يوه وي او که ډېرې، لکه څنګه چې د مړي ورونه سقوط مومي، او دا ځکه چې د زامنو عصوبت د خويندو او ورونو د عصوبت څخه وړاندې دی.

## يادونه

۴_ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په نزد د مړي په لور باندې خور يا خورګانې ساقطېږي لکه څنګه چې په پلار باندې سقوط مومي[2]، مګر مونږ په دې مقام کښې د لاندې وجوهو د کبله د جمهورو علماوو نظر ته ترجيح ورکړه:

الف: يوه ورځې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه چې که د چا څخه يوه لور، يوه د زوی لور (لمسۍ) او يوه خور پاتې شي نو مال يې څنګه وېشل کېږي؟

---

(١) موطا الامام مالک ص۶۵۷؛ تفسير ابن کثير ج۱ ص۵۹۵
(٢) تفسير روح المعاني ج۶ ص۴۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوموړي صحابي ﷺ وويلې چې: زه په دې مسئله كښې داسې فيصله كوم لكه څنګه چې پكښې نبي كريم ﷺ فيصله كړې وه چې: «لِلْابْنَةِ النِّصْفُ وَلِابْنَةِ ابْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ»[١] لور ته نيمايي (نصف) دی او لمسۍ ته شپږمه ده چې د لور دوه ثلثه پوره شي، او پاتې د خور دی، يعنې په عصوبت سره.

ب: زيد بن ثابت ﷺ هم خورګانې د لورګانو سره عصبه ګرځولې[٢]. كه څه هم دا حديث موقوف دی، مګر حكمًا مرفوع ګڼل كېږي چې موضوع عقلي نه ده.

د ښه وضاحت دپاره مونږ د خويندو حالات په لنډه توګه وړاندې كوو.

## د اعياني خويندو حالات

۵_ اعياني (سكه) خويندې لاندې پنځه حالته لري:

الف: يوه خور نصف (نيمايي) اخلي.

ب: دوه يا زياتې دوه دريمې (دوه ثلثه) اخلي.

ج: د اعياني ورور سره عصبه ګرځي، چې دوه خويندې د يو ورور سره په برخه كښې برابرې دي.

د: د مړي په لور او همدارنګه د مړي په لمسۍ (بنت الابن) سره عصبه ګرځي.

ه: د مړي په زوی او پلار سره ساقطېږي.

## د علاتي خوياندو حالات

۶_ علاتي (ناسكه) خويندې ټول اوه حالتونه لري چې پنځه حالته يې د اعياني خوياندو په شان دي او دوه نور حالتونه يې لاندې لوستلی شئ:

و: يوه علاتي خور، كه يوه اعياني خور ورسره ملګري وه، شپږمه برخه اخلي، ترڅو دوه ثلثه پوره شي. په دې باندې د علماوو كرامو اجماع ده[٣].

ز: په دوه اعياني خويندو باندې دوی ټولې ساقطېږي.

## سوال جواب

۷_ كه څوك وايي چې: په ايت شريف كښې دوه خويندو ته ثلثين (دوه دريمې) ښودل شوي دي، حال دا چې تاسو د دوه وو څخه اضافه هم د ثلثينو مستحقې وګڼلې؟

مونږ وايو چې: د [النساء:۱۱] ايت لاندې واضحه شوې ده چې په ميراث كښې دوه وارثان او د دوه وو څخه اضافه يو حكم لري. مګر الله ﷻ هلته د لورګانو د برخو په بيان كښې د دوه وو څخه د اضافه وو ﴿ فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ﴾ په برخو باندې صراحت كړی دی، او دلته يې د خورګانو

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٩٧

(٢) سنن الدارمي ج٢ ص٢٥١

(٣) تفسير المظهري ج٢ ص٢٦٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هکله صرف په دوه وو باندې ﴿ فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ﴾ تصریح وکړه ترڅو د هرې بوې دلې مسکوت عنه څنډه د بلې دلې په منطوق باندې قیاس کړی شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وایي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ فَإِن كَانَتَا ﴾ جمله په دوه وو باندې دلالت کوي، نو د ﴿ ٱثۡنَتَيۡنِ ﴾ کلمې په نزول کښې څه حکمت دی؟

موږ وایو چې: د ﴿ ٱثۡنَتَيۡنِ ﴾ کلمه د دې دپاره نازله شوې ده_ والله ﷻ اعلم_ چې په وراثت کښې صرف عدد معتبر دی، او د اوصافو تفاوت ورباندې څه اثر نه شي اچولی. د همدې کبله وړه، غټه، روغه، لیونۍ، جاهله، عالمه او نور صفات پکښې هیڅ اعتبار نه لري.

## د عربیت یو قانون

۹_ د ﴿ أَن تَضِلُّواْ ﴾ په جمله کښې مفسرین کرام لاندې نظرونه لري:

الف: چې حرف جر (ل) او د (لا) توری ورسره مقدر دی. نو تقدیر یې "لِئَلَّا تَضِلُّوا" کېږي، یعنې د دې دپاره درته الله ﷻ خپل احکام بیانوي چې تاسو بې لارې نه شئ[1].

ب: چې مضاف (کراهیة) پکښې مقدر دی. نو تقدیر یې داسې کېږي: "كَرَاهِيَةَ أَنْ تَضِلُّوا". یعنې ځکه درته الله ﷻ خپل احکام بیانوي چې ستاسو بې لارې کېدل نه خوښوي[2].

ج: هیڅ تقدیر نشته، او د ﴿ أَن تَضِلُّواْ ﴾ جمله د ﴿ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده. یعنې الله ﷻ تاسو ته ستاسو بې لارې کېدل بیانوي چې ځانونه ترې وساتئ[3].

مګر په اولو دوارو نظرونو کښې خلاف الاصل (تقدیر) واقع شوی دی، او دریم نظر د یو پلوه متبادر نه دی او د بله پلوه دا معنی ورکوي چې په شریعت کښې د احکامو بیانول قصدي نه دي.

اما په کوم ډول باندې چې ذکره شوې جمله موږ ترجمه کړې ده، نه پکښې خلاف الاصل واقع کېږي او نه غیر متبادر دی. هغه دا چې الله ﷻ تاسو ته د دې کبله خپل احکام بیانوي چې تاسو به بې لارې شئ که بالفرض احکام درته بیان نه کړي.

په همدې ځای د "النساء" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى

۱۳۷۳/۴/۱ هـ ش

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۹

(۲) روح المعاني ج۶ ص۴۵

(۳) البحر المحیط ج۳ ص۱۵۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

# المائدة (٥)



Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

د دې څخه مخکښې چې د سورت په توضيح باندې پيل وکړو لازمه ګڼو چې لاندې مطالب محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو ترڅو د سورت په توضيحاتو کښې ورسره لاس وکړي:

١ـ د دې سورت (المائدة) نوم د يو سلو دولسم ايت څخه اخستل شوي دي چې د ﴿ مَآئِدَةً ﴾ کلمه پکښې نازله شوې ده.

د سورتونو نومونه د دې دپاره اينبودلې شوي دي چې د مطالبو په ژر موندلو، او هم د قاريانو سره د قرآن کريم په حفظ کښې کومک وکړي، او دغسې نورې ګټې او فائدې هم لري.

په هر تقدير، د قرآن کريم د سورتونو عناوين د بشري کتابونو د عناوينو په څېر نه دي چې د هر عنوان لاندې مربوط مضامين ذکر کيږي او بس.

٢ـ دا سورت مدني سورت دی چې د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی. که څه هم د دې سورت ځينې ايتونه په مکه معظمه کښې نازل شوي دي[١] لکه چې په راتلونکي درېم ايت کښې به إن شاء الله ـ واضحه شي.

٣ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ايتونه يې يو سلو شل (١٢٠) دي[٢] چې ځينې د حديبيې د صلحې څخه د بېرته راستنېدلو په وخت او ځينې د مکې د فتحې په موقع او حتی ځينې د حجة الوداع په وخت کښې نازل شوي دي[٣].

ب: د کلماتو شمېر يې دوه زره اته سوه څلور (٢٨٠٤) دی، د حرفونو شمېر يې يوولس زره نهه سوه او دېرش (١١٩٣٠) دي[٤].

٤ـ په دې سورت کښې الله ﷻ اتلس (١٨) داسې فرضي احکام نازل کړي دي چې په بل سورت کښې نشته، چې مونږ يې دلته محض نومونه اخلو او د هر يوه حکم بيان خپل ځای ته ټالوو:

١ـ المُنْخَنِقة. ٢ـ والموقوذة. ٣ـ والمُتَرَدِّية. ٤ـ والنَّطيحَة. ٥ـ وما أكَلَ السَّبُع. ٦ـ وما ذُبِحَ على النُّصُب. ٧ـ وأنْ تَستَقسِموا بالأزلام. ٨ـ وَمَا عَلَّمْتُم مِن الجَوارِح. ٩ـ وطَعامُ الّذين أوتُوا الكِتابَ حِلٌّ لَكُم. ١٠ـ إذا قُمتُم إلى الصَّلاة (بيان الوضوء). ١١ـ والمُحْصَنَاتُ مِن الّذين أوتُوا الكِتاب. ١٢ـ والسَّارِق والسَّارِقةُ فاقطَعُوا أيدِيَهما. ١٣ـ لا تَقتُلوا الصَّيدَ وأنتُم حُرُم. ١٤ـ ما جَعَل الله مِنْ بَحِيرة. ١٥ـ ولا سائِبة. ١٦ـ ولا وصيلة. ١٧ـ ولا حام. ١٨ـ شهادةُ بينِكم إذا حَضَر أحدَكم الموت.

---

(١) أسباب النزول للواحدي ص١٢٩
(٢) تفسير البغوي ج١ ص٥
(٣) البحر المحيط ج٣ ص١٥٦
(٤) اللباب في علوم الكتاب ج٧ ص١٦٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه، الله ﷻ د دې سورت په [٥٨] ايت کښې د آذان ذکر هم کړی دی چې د قرآن کريم په بل سورت کښې نه دي راغلي[١].

## سوال جواب

٥ـ که څوک وايي چې: د آذان ذکر خو الله ﷻ د [الجمعة: ٩] ايت کښې هم کړی دی نو تاسو څنګه وويلې چې د آذان ذکر په بل سورت کښې نشته؟

مونږ وايو چې: د آذان څخه زمونږ د لمانځه آذان مطلب دی او په دغه ايت کښې خو د خطبې آذان ذکر دی، نه د لمانځه آذان.

## د دې سورت محتويات

٦ـ که څه هم دا سورت په ډېرو مطالبو باندې مشتمل دی خو مونږ دلته فقط د لاندې مطالبو نومونه اخلو:

الف: په عهدونو باندې وفا کول.
ب: د شعائر الله احترام کول.
ج: حلال څاروي او مردار څاروي بيانول.
د: د اهل الکتابو د زنانه وو د نکاح جواز.
هـ: د اوداسه او تيمم بيان.
و: عدل ټينګول.
ز: د اهل الکتابو د منحرفو عقايدو اصلاح.
ح: جهاد ته ترغيب.
ط: د قابيل او هابيل قيصه.
ي: د باغيانو جزا.
يا: د غلو جزا.
يب: د قصاص فرضيت.
يج: د يمين کفاره.
يد: څلور شيطاني کارونه.
يه: د جاهليت څلور حرام کړی شوي څاروي.
يو: د عيسى عليه السلام معجزات؛ او داسې نور.

## د سورتونو ارتباط

٧ـ دغه دواړه سورتونه (النساء، المائدة) ډېر کلک ارتباط لري خو لاندې څو ارتباطونه يې د بېلګې په توګه ولولئ:

---

(١) تفسير القرطبي ج ٦ ص ٣٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هلته تولو عقدونو ته اشاره شوې وه چې ځينې صراحتاً بيان شوي وه لکه نکاح، مهر، عقد الموالاة او داسې نور، او په نورو تولو عقدونو باندې دا ايت شريف ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا۟ ٱلْأَمَـٰنَـٰتِ إِلَىٰٓ أَهْلِهَا ﴾ [النساء: ۵۸] مشتمل وه؛ او دلته د تولو عقدونو د پوره کولو په فرضيت باندې امر کړی شوی دی.

ب: هلته د شرابو د تحريم دپاره تمهيدي بيان وه چې: ﴿ لَا تَقْرَبُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَـٰرَىٰ ﴾ [النساء: ۴۳]، او دلته د شرابو قطعي حکم نازل شوی دی.

ج: هلته د اهل الکتابو (يهودو او نصاراوو) او بالآخره د منافقانو او مشرکانو بيان وه، او دلته هم همدغه موضوعګانې تعقيب شوې دي خو د نصاراوو بيان لږ څه اوږد دی.

د: ذکر شوې دواړه سورتونه د فرعي (عملي) احکامو په بيان باندې مشتمل دي لکه څنګه چې "البقرة" او "آل عمران" په عقيدوي احکامو باندې مشتمل وه.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَوْفُوا۟ بِٱلْعُقُودِ ۚ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَـٰمِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّى ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴿١﴾ ﴾

د الله ﷻ په نامه چې بې اندازې مهربان (او) بې اندازې با رحمه دی.

[۱] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! په خپلو تولو عقدونو باندې وفا وکړئ (خيانت پکښې مه کوئ). تاسو ته د څارويو چارپايان حلال کړی شوي دي مګر هغه چې (وروسته به) درباندې ولوستلی شي، چې تاسو په داسې حال کښې چې احرام مو تړلی وي د ښکار نه حلالوونکي ياست. يقيناً الله ﷻ هغه حکم کوي چې اراده يې وشي.

## ارتباط

وړاندېنی ايت شريف په دې تمام شوی وه چې الله ﷻ تاسو ته د دې کبله احکام بيانوي چې تاسو به د عدم بيان په صورت کښې ګمراهان شئ: په دې ايت کښې يې د ګمراهيو څخه د بچ کېدلو د پر مهم حکم بيان کړ، چې په عقدونو باندې وفا وکړئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني ای مؤمنانو! د ايمان غوښتنه دا ده چې په خپلو تولو عقدونو باندې وفا کړئ، په عقد باندې وفا نه کول د ايمان د کمزورۍ لويه نښه ده.

دا هم په ياد ولرئ چې ايمان راوړل د الله ﷻ سره په تولو احکامو باندې نور څه نه دي فقط د ده ﷻ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ټولو هدایتونو باندې عهد کول دي. د دې هدایتونو څخه یو دا دی چې تاسو ته بې ژبې ټول څاروي حلال کړی شوي دي مګر هغه چې تاسو ته یې تحریم په راتلونکي درېم ایت کښې واضحه کېږي.

۲ـ ای مؤمنانو! د همدغه تحلیل شکریه وکړئ او په ډېر اخلاص سره یې عملي کړئ، که په تاسو باندې د الله ﷻ فضل او مهرباني نه وی نو د څارویو غوښې به یې درباندې داسې حرامې کړې وی لکه څنګه یې چې درباندې د احرام په حالت او یا په حرم شریف کښې ښکار کول او د سارانیو څارویو غوښې حرامې کړې دي.

الله ﷻ هر څه کولی شي، هر څه د ده ﷻ په اختیار کښې دي، نه ورته څوک څنګه او ولې ویلی شي او نه یې څوک حق لري، هر یو حکم یې د اسرارو او حکمتونو څخه ډک دی، ستاسو علم قاصر دی په ټولو حکمتونو باندې نه شئ پوهېدلی.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ أَوْفُوا ﴾ کلمه اصلاً د "وفاء" څخه اخستله شوې ده، د وفاء په مقابل کښې غدر (خیانت) استعمالېږي، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای مؤمنانو! په ټولو عقدونو باندې وفاء (ساتنه) وکړئ او خیانت پکښې مه کوئ.

## عقد څه معنی؟

۲ـ د "عُقُود" کلمه د "عَقْد" جمعه ده، عقد په اصل کښې مصدر دی چې د ګنډه (غوټه) کولو معنی ورکوي مګر دلته ترې د یو پلوه پخپله ګنډه (غوټه) مطلب ده، نه ګنډه کول، د همدې کبله په عقود سره جمعه شوې ده، که نه نو مصدر خو نه جمعه کېږي او نه مثنی کېږي؛ او د بله پلوه دلته په غیر محسوساتو کښې استعماله شوې ده که څه هم اصل وضعه یې د محسوساتو دپاره ده، لکه چې د دوه پړو څنډې د قوت او وحدت دپاره یو تربله سره تاوې کړی شي او غوټه ترې جوړه شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په شریعت کښې "عهود" او "عقود" څه فرق لري؟

مونږ وایو چې: په عقودو کښې دا ضرور ده چې دوه طرفه دې ولري لکه بائع او مشتري، یا لکه خاوند او ماندینه.

اما په عهودو کښې دوه طرفه ضرور نه دي بلکې کله-کله په یو طرف باندې هم تمامېږي[۱]، لکه چې سړی په خپل ځان باندې څه شی نذر کړي.

په هر تقدیر، د "عقود" کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په لاندې معناوو سره تفسیره کړې ده[۲]:

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۴۸

(۲) زاد المسیر ج۲ ص۲۳۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې دلته د الله ﷻ هغه احكام مراد دي چې تحليل او تحريم پورې اړه لري چې دا خورئ او دا مه خورئ[1]، لكه چې د ﴿ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ تعقيب وروانديې دلالت كوي.

ب. دلته د جاهليت عهود مراد دي، يعني هغه عهدونه چې د شريعت سره منافات ونه لري.

ج. دلته د خلكو خپل منځي عهدونه مطلب دي، لكه نكاح، بيعه او داسې نور.

د. مگر بهتره دا ده چې د "عقود" كلمه هغو ټولو عقدونو ته شامله وگڼله شي په كومو باندې چې په راتلونكې زمانه كښې وفا كول مربوط وي، لكه عقد الأيمان، عقد الشركة، عقد الاجاره، عقد البيع، عقود التحليل و التحريم؛ چې په ايمان راوړلو سره هر يو مؤمن په حقيقت كښې د الله ﷻ سره د ټولو احكامو د منلو عهد كوي او يو ځل بيا د عالم الذر عهد تازه كوي.

## يادونه

۴ـ په اسلام كښې په خپلو عهدونو او عقدونو باندې وفا كول مهم ركن دى، څكه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ»[2] يعني هغه څوک ايمان نه لري چې هغه امانت نه لري (خيانت كوي)، او هغه چا ته دين نشته چې هغه ته عهد نه وي (په عهد باندې وفا نه كوي).

په هر تقدير، د عقود په مفهوم كښې د راتلونكې زمانې مراعات شته دى[3]، د همدې كېله پوازې د راتلونكې زمانې قسم ته يمين المنعقد وايي او بس. لكه چې د [البقرة:۲۲۵] ايت لاندې يې بيان تېر شوى دى او د [المائدة:۸۹] ايت لاندې راروان دى.

## "بهيمة" څه معنى؟

۵ـ د "الْبَهِيمَة" كلمه د "بَهْمَةٌ" څخه اخستله شوې ده، "بهمة" كلكې ډبرې ته وايي، نو څكه هغه شي ته چې په محسوساتو كښې يې په حواسو باندې پوهېدل سخت وي او په معقولاتو كښې يې په عقل باندې تميز درونډ وي، مبهم وايي.

د همدې كېله څارويو ته "بهيمة" وايي چې په اواز كښې يې ابهام دى، سړى نه پوهېږي چې د څه دپاره رمبارې وهي، مگر په عام عرف كښې د "بَهِيمَة" كلمه هغو څارويو پورې مختصه گرځولې شوې ده چې د مرغانو او ځيرونكو څناورو څخه په غير وي[4]، نور نو كه په وچه كښې وي او كه په لمده كښې وي خو چې څلور پښې ولري[5].

---

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۴۹
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۳۰۹
(۳) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۲۹۴
(۴) مفردات الراغب ص۶۳
(۵) تفسير الكشاف ج۱ ص۶۰۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په ﴿ بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ کښې کوم اضافت دی؟

مونږ وايو چې: دلته بياني اضافت دی[1]. نو معنی يې داسې کيږي چې: تاسو ته څلور پښې څاروي حلال کړی شوي دي چې د "انعام" څخه عبارت دی، يعني مېږه، اوزه، غوا، اوښه: نو په خپلو خانونو باندې يې مه حراموئ او سائبه، بحيره او نور نومونه وربانديې مه ږدئ.

## يادونه

۷_ زمونږ په خيال که په دې مقام کښې د ﴿ بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ څخه مطلق څاروي واخستلی شي چې کورنيو څارويو او سارنيو څارويو حتی خنزير ته هم شامل شي نو ډېره په زړه پورې معنی به ورکړي، او دا ځکه چې د ﴿ بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ څخه د اجمال په توګه ﴿ مَا يُتْلَىٰ ﴾ ويستلی شوی دی چې په راتلونکي دريم ايت کښې يې اجمال پورته شوی دی. نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې "أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ..." تر آخره پورې.

که څه هم وينه څاروی نه دی مګر د څاروي جزء خو دی، نو مبالغةً داسې ګڼله شوې ده لکه چې وينه هم يو څاروی وي او په ﴿ بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ کښې شامل وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وايي چې: همدغه مطلب خو په ﴿ أُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ ﴾ سره هم ترلاسه کېده نو په دې کښې څه حکمت دی چې بدون د اضافت څخه نازل نه شو لکه چې په بل ځای کښې بدون د اضافت څخه نازل شوی دی، چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ ﴾ [الحج: ٣٠] يعني: او تاسو ته انعام (څلور دوله څاروي) حلال کړی شوي دي.

مونږ وايو چې: ځينې علماء کرام د همدې اعتراض څخه تښتېدلي او لاندې غير متبادر جوابونو ته يې لاس اچولی دی:

الف: دلته د ﴿ بَهِيمَةُ ﴾ څخه جنين مراد دی، په جنين باندې د ﴿ بَهِيمَةُ ﴾ اطلاق ډېر په ځای دی چې هر چا ته مبهم دی او دا ځکه چې په ما في الأرحام پاندې يوازې الله ﷻ پوهيږي او بس. يعنې تاسو ته د څارويو د ګېډو بچيان حلال کړی شوي دي[2]، البته کله چې د هغو مورګانې ذبحه کړی او مستقلې ذبحې ته ضرورت نشته.

ب: دلته د ﴿ بَهِيمَةُ ﴾ څخه سارانې څاروي مطلب دي او "الأنعام" ته د تشبيه دپاره مضافه شوې ده.

---

(١) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٢ ص٨٩
(٢) التفسير الكبير ج١١ ص١٢٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې تاسو ته هغه خاروي حلال کړی شوي دي چې هغه د کورنیو خارویو غونډې وابنه خوري او د کېډې څخه د میده کولو دپاره وابنه راپورته کوي، یا په بل عبارت: چې شخوند ماتوي لکه هوسی، غرڅه او داسې نور[1].

په همدې جواب باندې د ﴿ غَيْرَ مُحِلِّي ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ﴾ جمله دلالت کوي، چې تاسو ته سارانې خاروي حلال کړی شوي دي چې ښکار یې کړئ او غوښه یې وخورئ مگر د احرام په حال کښې به نه ښکار کوئ او نه به یې غوښه حلاله گڼئ.

موږ ته ذکر شوي دواړه جوابونه د لاندې وجوهو د کبله په زړه پوري ونه برېښېده:

اول: دغه دواړه جوابونه متبادر نه دي او په تفسیر کښې باید حتی الامکان غیر متبادره معنی وانخستلی شي.

دوهم: مفسرین کرام وايي[2]، لکه چې موږ وړاندې ذکره کړه، چې راتلونکی دریم آیت د مستثنی ﴿ مَا يُتْلَىٰ ﴾ دپاره بیان او تفسیر دی، نو د دې څخه لازمېږي چې د دریم ایت ټول اجناس په ﴿ بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ کښې شامل وي او په ﴿ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ ﴾ سره ترې ویستلی شوي وي، حال دا چې هرڅوک پوهېږي چې هلته ذکر شوي اجناس نه ټول په جنین کښې داخلېدلی شي او نه ټول په سارانې خاروي کښې شمولیت موندلی شي.

دریم: دلته خو د جاهلیت د زمانې جاهلي دستور د منځه وړل مطلب دي چې خلکو به د بوتانو په نامه باندې د ځینو خارویو څخه استفاده په خانونو باندې حراموله او پوره خرګنده ده چې دغه انحرافي دستور نه په جنین کښې رواج وه او نه په به سارانې خاروي کښې. لکه چې پوره بیان یې د همدې سورت په یو سلو دریم [۱۰۳] ایت کښې راروان دی.

څلورم: علاوه پر دې که بالفرض د ﴿ بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ څخه سارانې خاروي مطلب وی نو په کار وه چې د ﴿ غَيْرَ مُحِلِّي ٱلصَّيْدِ ﴾ په عوض (غَيْرَ مُحِلِّيه) په ضمیر سره نازل شوی وی. څکه چې دوهم خل ذکر کول په ضمیر سره کېږي، نه په اسم ظاهر سره.

نو ښه دا ده چې د ذکر شوي اعتراض دپاره لاندې جوابونه وکړی شي:

ج: دلته اضافت د تاکید دپاره دی، لکه چې په "عين الشيء" او "نفس الشيء" کښې اضافت د تاکید معنی ورکوي.

د: څه لرې نه ده چې د ﴿ بَهِيمَةُ ﴾ کلمې په زیادت کښې دې ته اشاره وي چې خاروي خو ستاسو دپاره پیدا کړی شوي دي، دوی خو بهانم دي، خطاب ورته متوجه نه دی، ستاسو غونډې نطق نه شي کولی: نو تاسو ته په کار دي چې د الله ﷻ د هدایت سره سمه ترې استفاده وکړئ او په خانونو باندې یې حرام ونه گرځوئ.

---

[1] زاد المسير ج٢ ص٢٣١

[2] اضواء البيان ج٢ ص٣، البحر المحيط ج٣ ص١٥٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه عجيبه قيصه

۹ـ يوه ورځې د فيلسوف (الكندي) ملګرو ده ته وويلې چې لږ څه وليکه چې موږ يې د قرآن کريم مقابله وکړی شو. نو نوموړي د همدې مطلب د لاس ته ور وړلو دپاره د مجالسو څخه غائب (ګوښه) شو او خپل ځان ته يې کافي فرصت ورکړ.

مګر د ډېرې ورځې وروسته د فراغت ځای څخه بهر شو او اقرار يې وکړ چې: "والله ما أقدر عليه ولا يُطيق هذا أحد"[۱] په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې وسه مې پرې ونه شوه او په دې باندې به د هيچا وسه ونه شي، دا څکه چې ما قرآن کريم بېرته کړ ګورم چې د المائده سورت په اولني يوه ايت کښې يې دومره مطالب راغونډ کړي دي چې بل څوک به يې په ډېرو جلدونو کښې راغونډ نه کړی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ وَرِضۡوَٰنٗاۚ وَإِذَا حَلَلۡتُمۡ فَٱصۡطَادُواْۚ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ أَن صَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ أَن تَعۡتَدُواْۘ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٢ ﴾

[۲] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د الله ﷻ (د عزت) نښې مه پرانېزئ (سپکاوی يې مه کوئ) او نه د محترمې مياشتې او نه د قرباني د څاروي او نه د قربانيو د غاړکيو او نه بيت الله لره د قصد کوونکو (زيارت کوونکو)، چې دوی د خپل رب ﷻ څخه فضل (حلال مال) غواړي او (هم د ده ﷻ) رضايت (غواړي).

او کله چې تاسو احرام پرانېزئ نو تاسو ښکار وکړئ (درته اجازه ده اما د ذکرو شوو شيانو پرانستل درته په هيڅ حالت کښې جواز نه لري).

او په تاسو باندې دې د يو قوم سره دښمني د دې کبله چې تاسو يې د مسجد الحرام څخه منعه کړي وئ د دې باعثه نه شي چې تجاوز ورباندې وکړئ (او هغوی د مسجد حرام څخه منعه کړئ). او تاسو يو تربله په نيکۍ او پرهېزګارۍ باندې مدد وکړئ. او په ګناه او ظلم باندې يو تربله کومک مه کوئ. او د الله ﷻ څخه ووېرېږئ. يقيناً الله ﷻ سخت عذاب ورکوونکی دی.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۵ ص۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ اشاره کړې وه چې د حج د شعائرو احترام وکړئ او د سپکاوي څخه یې خانونه بچ وساتئ. په دې ایت کښې د څینو هغو شعائرو نومونه اخستل شوي دي چې د سپکاوي احتمال یې زیات وه

علاوه پر دې هلته محرم سړي ته ښکار کول حرام ښودلی شوی وه او دلته د همدغه تحریم انتهاء بیانه شوې ده چې بایذ تر احرام پرانستلو پورې وي.

## د مطلب خلاصه

یعني ای مومنانو! په تاسو باندې یوازې د احرام په حالت کښې د ښکار کول نه دي حرام کړی شوي بلکې په تاسو باندې د ټولو شعائر الله احترام واجب دی چې سپکاوی به یې نه کوئ او په درنه سترګه به ورته ګورئ. نو د همدغه هدایت په مطابق باید لاندې لارښوونې په نظر کښې ونیسئ:

۱ـ د څلورو معززو میاشتو څخه د یوې میاشتې هم بې احترامي مه کوئ چې یا پکښې په چا باندې تعرض وکړئ او یا پکښې وینې تویې کړئ. البته که بل څوک درباندې تعرض وکړي او تاسو خپلې دفاع ته مجبور شئ نو هغه بیله خبره ده.

څلور محترمې میاشتې دا دي: ذو القعده، ذو الحجه، محرم، رجب.

۲ـ همدارنګه د هغو هدایاوو احترام هم وکړئ چې خلکو د بیت الله ﷻ شریف د درناوي دپاره مکې معظمې ته روانې کړې وي، برابره خبره ده چې اوښان وي او که غوایان او یا ګډې او اوزې؛ د ټولو مخه یې مه نیسئ او لار یې مه بندوئ.

۳ـ خصوصاً د هغو څارویو چې د بیت الله شریف د احترام دپاره بېول کېږي، د غاړکیو احترام هم وکړئ چې د نښې دپاره یې ورته په غاړو کښې راځړولې وي ترڅو د لرې څخه وپېژاندلی شي چې دا عادي څاروي نه دي بلکې د حرم شریف هدایا او قرباني دي. یعنې د هدایاوو دومره زیات احترام وکړئ حتی چې په غاړکیو باندې یې هم غرض مه کوئ چې یا یې د غاړې څخه پرانېزئ او یا ترې څه برخه رابېل کړئ.

۴ـ د بیت الله زیارت کوونکي مه ازاروئ او بې حرمتي یې مه کوئ چې دوی د یو پلوه د خپل رب فضل غواړي (د حلال مال تجارت کوي)، او د بله پلوه د الله ﷻ رضامندي غواړي. یا حقیقتاً دوی په همدې هڅه کښې دي، که زیارت کوونکي مسلمانان وي؛ او یا په خپل خیال کښې د الله ﷻ د رضاء په حاصلولو کښې تاند وهي، که بالفرض هغوی کافران وي

په هر تقدیر تاسو ته مناسبه نه ده چې د دوی په لار کښې خنډ واقع شئ او یا یې سپکاوی وکړئ.

۵ـ ذکر شوي شعائر الله د ښکار کولو په شان نه دي چې صرف په احرام یا حرم شریف کښې په تاسو باندې محترم ګرځولی شوي دي، تاسو ته په کار دي چې هم د احرام او هم د بې احرامی په حالت کښې او بالآخره هم په حرم شریف او هم په غیر د حرم شریف څخه د هغو احترام وکړئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ حتی تاسو د شعائر الله احترام په هغه وخت کښې هم وکړئ چې تاسو د خپلو دښمنانو سره مخامخ شئ، هغه دښمنان چې ستاسو دښمني ورسره بالکل خرگنده وي او د دښمنۍ پړه هم په هغوی باندې داسې پرېوتلې وي چې څه وخت يې تاسو د حرم شريف څخه منعه کړي باست او ستاسو د عمرې مخه يې نيولې وي.

نو په دغه وخت کښې هم تاسو د شعائر الله سپکاوی مه کوئ، انتقام ترې مه اخلئ او د شرعي حد څخه تجاوز مه کوئ. د شعائر الله سپکاوی د شرعي حد څخه تجاوز دی.

۷_ ای مؤمنانو! برسېره پر دې چې د شعائر الله په احترام باندې مکلف یاست، په دې باندې هم مکلف یاست چې د بيت الله زيارت کوونکو سره کومک وکړئ او که په لار کښې يې څه خنډ واقع شوی وي د هغه په لرې کولو کښې ورسره مرسته وکړئ. او دا څکه چې ستاسو دائمي وظيفه دا ده چې په نيکۍ او ديندارۍ کښې د هر چا ملاتړ شئ.

۸_ بالفرض که د مو د وسې ونه شي چې په نيکۍ او ديندارۍ کښې تعاون وکړئ، نو لږ تر لږه دومره خو وکړئ چې په گناه او تجاوز کښې تعاون مه کوئ، نو که د ذکر شوو شعائر الله په توهين کښې بل څوک تاند وهي، تاسو ورسره په توهين کښې همکاري مه کوئ بلکې د توهين څخه يې لاس ونيسئ او سپکاوي ته يې مه پرېږدئ.

۹_ د الله ﷻ په ټولو هدايتونو کښې صرف د همده ﷻ څخه وډار شئ، که د بل چا زور درباندې بر نه وي نو الله ﷻ خو په هر چا باندې زوروور دی او عذاب يې ډېر سخت او کلک دی چې هيڅوک ترې نه شي تښتېدلی.

## توضيحات

۱_ د ﴿لَا تُحِلُّوا﴾ جمله اصلاً د "حَلّ" څخه اخستله شوې ده، "حل" د گنډې (غوټې) پرانستلو ته وايي چې په مقابل کښې يې گنډه کول (عقد) استعمالېږي. الله ﷻ د موسى ؑ د خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي﴾ [طه: ۲۷] او د ژبې څخه مې غوټه پرانېزې (چې په خبرو کښې نه نښلي).

په دې مقام کښې د شعائر الله پرانستل د سپکاوي او بې احترامۍ څخه عبارت دي. يعنې ای مؤمنانو! د شعائر الله ﷻ بې احترامي او سپکاوی مه کوئ، چې احترام يې د پښو لاندې کړئ.

۲_ که څه هم څينو مفسرينو کرامو په دې مقام کښې د ﴿شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ﴾ د کلمې اوه دوله تفسيرونه کړي دي[۱]، مگر مونږ ته همغه تفسير ښه ښکاري کوم مو چې د [البقرة:۱۵۸] لاندې ذکر کړی دی: چې د اسلام تعبدي احکام عموماً او د حج او عمرې احکام خصوصاً د شعائر الله په نامه يادېږي.

---

(۱) زاد المسير ج۲ ص۲۳۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۳_ مونږ د [البقرة:۱۹۴] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق د محترمو میاشتو ښه بیان لیکلی دی او هم مو د [البقرة:۲۱۷] ایت په توضیحاتو کښې دا واضحه کړې ده چې د محترمو میاشتو احترام باقي دی او که نسخه شوی دی؟ بیا لیکلو ته یې حاجت نه ګورو، هیله ده چې لوستونکي هلته یو ځل مراجعه وکړي.

## قلائد څه معنی؟

۴_ د ﴿ ٱلْقَلَٰٓئِدَ ﴾ کلمه د "قِلَادَة" جمعه ده، "قلادة" غاړکۍ ته وایي چې د مزو او یا د بل شي څخه جوړه کړی شوې وي او په غاړه کښې اچولی شوې وي[1].

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې خو د ﴿ ٱلْقَلَٰٓئِدَ ﴾ د کلمې څخه د کنایې په توګه غاړکۍ لرونکې هدایا مطلب دي، یعنې د کعبې شریفې د هدایاوو د غاړکیو بې احترامي مه کوئ، پاتې خو پخپله هدایا. نو پوښتنه دا ده چې هدایا خو یو ځل مطلقًا ذکر کړې دي: ﴿ وَلَا ٱلْهَدْىَ ﴾، چې بې غاړکیو والا وو ته هم شاملېږي، نو په دوهم ذکر کښې یې څه حکمت دی؟
مونږ وایو چې: په هغه وخت کښې غاړکیو لاندې ډولونه درلوده[2]:
الف: هغه غاړکۍ چې د کعبې شریفې هدایاوو (قربانیو) ته به ورپه غاړه کولی شوې ترڅو خلک پوه شي چې دغه څاروي د هدیې په توګه روان کړی شوي دي.
ب: ځینو خلکو به د کېږو مېږو څخه داسې غاړکۍ جوړوله چې د هغه وخت خلکو به پېژانده او په خپلو غاړو کښې به یې اچوله ترڅو خلک پوه شي چې دوی د کعبې شریفې ته روان دي.
ج: په ځینو وختونو کښې به د هدایاوو څخه په غیر نورو څارویو ته همدغسې غاړکۍ ورپه غاړه کولی شوې ترڅو څرګنده شي چې دا د کعبې شریفې کاروان دی.
د: د غاړکیو دود او دستور د کعبې شریفې څخه د بېرته راستنېدلو په وخت کښې هم رواج وه ترڅو داره ماران پوه شي چې دا کاروان د کعبې شریفې څخه راستون شوی دی.
البته دغسې نښو او علانمو ته په هغه وخت کښې ډېر ضرورت وه چې د محترمو میاشتو څخه په غیر په نورو میاشتو کښې به سفر صورت ونیوه.
لنډه دا چې الله ﷻ د ﴿ ٱلْقَلَٰٓئِدَ ﴾ کلمه ددې دپاره نازله کړه ترڅو ذکر شوي ټول صورتونه پکښې شامل شي او د یوه صورت هم بې احترامي ونه کړی شي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۷
(۲) زاد المسیر ج۲ ص۲۳۳: تفسیر الطبري ج۴ ص۵۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# "آمين البيت الحرام" څه معنى؟

۶_ د ﴿ ءَآمِّينَ ﴾ كلمه د "أمّ" څخه اخستله شوې ده او "أمّ" قصد ته وايي. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: تاسو د هغو خلكو سپكاوى مه كوئ چې هغوى بيت الله شريف ته د ورتللو قصد كړى وي او هلته د حج يا عمرې دپاره ورروان يا راروان وي[1].

پاتې شوه دا خبره چې دلته د قصد كوونكو (زيارت كوونكو) څخه څوک مطلب دي، نو په دې كښې علماء كرامو په لاندې ډول سره توجيهات كړي دي:

الف: ځيني وايي چې دلته مسلمانان زيارت كوونكي مراد دي ځكه چې الله ﷻ د دوى په صفاتو كښې فرمايي: ﴿ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ﴾ يعني: دوى د الله ﷻ فضل (حلال مال) او د ده ﷻ رضايت غواړي؛ حال دا چې د الله ﷻ رضايت خو كافران مشركان نه غواړي كه نه نو ايمان به يې راوړى وى[2].

په دې توجيه كښې ترې بايد هغه مسلمانان (مؤمنان) مراد كړى شي كوم چې د حديبيې د سولې په وخت كښې مشركان وه او د صحابه وو كرامو ؓ د عمرې كولو په وړاندې خنډ واقع شوي او بيا وروسته په ايمان باندې مشرف شوي وه.

كه بالفرض دغه جديد الايمان مسلمانان اراده نه كړى شي نو ذكره شوې توجيه به د ﴿ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ د كلماتو سره مناقضه واقع شي. چې دغه كار خو مسلمانانو نه وه كړى بلكې مشركانو كړى وه.

ب: ځيني وايي چې دلته مشركان زيارت كوونكي مراد دي، او مشركان هم په خپل گومان سره د الله ﷻ د رضايت په حاصلولو كښې تاند وهي، اگر كه لاره يې خطا كړې ده[3].

د دې توجيه مطلب دا دى چې تاسو مشركان زيارت كوونكي د انتقام اخستلو په بنياد د زيارت كولو څخه مه منعه كوئ چې په حديبيه كښې يې تاسو د زيارت كولو څخه منعه كړي وئ.

كه بالفرض دغه تاويل ورسره ضميمه نه كړى شي نو ذكره شوې توجيه صحت نه شي موندلى. او دا ځكه چې الله ﷻ د مشركانو په هكله فرمايلي دي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُواْ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ﴾ [التوبة: ۲۸] يعني: اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! يقيناً مشركان پليتان دي نو د خپل دغه سږني كال څخه وروسته دې المسجد الحرام ته نه نژدې كېږي (تاسو يې مه پرېږدئ چې ورنژدې شي، مخه يې ونيسئ)؛ نو په دې مقام كښې به د مشركانو د زيارت مخه نيول د انتقام اخستلو په موخه ممنوع گرځول شوي وي، نه د دې كبله چې هغوى پليتان دي. نو د دواړو ايتونو مطالب سره منافات نه لري.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۳۰
(۲) تفسير ابي السعود ج۳ ص۴
(۳) تفسير المراغي ج۶ ص۴۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ځینې وایي چې دلته خاص کافر (شُرَيح) او د ده ملګري مطلب دي چې د دوی مخه مه بندوئ. د "شُرَيح" قیصه داسې وه چې:

یوه ورځې نوموړی نبي کریم ﷺ ته ددې دپاره ورغی چې ایمان راوړي، د څه جروبحث څخه وروسته یې د ایمان راوړل د خپلو ملګرو د مشورې پورې تړال کړه او د مدینې منورې څخه یې حرکت وکړ، خو په لاره کښې یې د صحابه وو کرامو څه مالونه لوټ کړه او د ځانه سره یې بوتلل، صحابه وو کرامو ﷺ وریسې پلټنه وکړه خو لاس ته ورنغی.

بل کال چې نبي کریم ﷺ د عُمرې قضایې راوړه نو نوموړي شُرَيح هم د کعبې شریفې د زیارت په نیت ورروان شوی وه چې ښه ډېر تجارتي مالونه ورسره وه او ښه ګڼ شمېر ملګري یې هم درلوده. کله چې د صحابه وو کرامو د نظر لاندې راغی نو قصد یې وکړ ترڅو د دوی مخه ونیسئ او اقلاً خپل مالونه خو ترې بېرته واخلي، مګر نبي کریم ﷺ اجازه ورنه کړه او ذکر شوی ایت شریف نازل شو[1].

نو په دې تفسیر سره به ـ والله أعلم ـ د مخې د نیولو وجه ﴿أَن صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ﴾ د مثال په توګه ذکره شوې وی. یعنې د زیارت کوونکو مخه مه بندوئ که څه هم یا یې په یو وخت کښې ستاسو مخه بنده کړې وي، یا یې ستاسو مالونه لوټ کړي وي او بالآخره یا یې په بل ډول سره زورولي یاست، مګر د الله ﷻ هدایت ته سترګې په لار اوسئ چې هر ډول هدایت یې درته وکړ په هماغه باندې تګ وکړئ.

## تبصره

۷ـ مونږ ته دا بهتره ښکاري چې په ﴿ءَآمِّينَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ﴾ کښې مطلق زیارت کوونکي مراد شي، برابره خبره ده چې مشرکان وي او که مسلمانان؛ ځکه چې د تخصیص دپاره هیڅ وجه په نظر رانغله.

## يادونه

۸ـ په لاندې درېوو شیانو کښې الله ﷻ د ښکو کار سړي او بد کار سړي فرق نه دی کړی او د دواړو په باره کښې یې په عمل باندې امر کړی دی:

الف: باید په امانت کښې د هیچا سره خیانت ونه کړی شي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ»[2] یعنې: هغه چا ته خپل امانت ورکړه چې تاته یې امانت ایښی وي او د هغه چا سره خیانت مه کوه چې ستا سره یې خیانت کړی وي.

ب: باید د هر چا سره سړی په عقد (عهد) باندې ودرېږي. لکه د دې سورت په لومړني ایت کښې چې په وفا بالعقود باندې امر شوی دی.

ج: په تقوی او ښکو کارونو کښې تعاون کول او د ګناه او تجاوزي کارونو مخه نیول او یا اقلاً عدم تعاون کول. لکه چې همدا ایت چې، اوس د بحث لاندې دی، ورباندې دلالت کوي.

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۶؛ تفسیر القرطبي ج۶ ص۴۳
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۱۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحْمُ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلْمُنْخَنِقَةُ وَٱلْمَوْقُوذَةُ وَٱلْمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُوا۟ بِٱلْأَزْلَـٰمِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ۗ ٱلْيَوْمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِ ۚ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَـٰمَ دِينًا ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ فِى مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾ ﴾

[۳] (ای مؤمنانو!) په تاسو باندې مرداره حرامه کړې شوې ده، او وینه هم، او د خنزیر غوښه هم، او هغه څاروی هم چې (د ذبحې په وخت کښې) وریاندې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر (د بل چا یا بل شي) د نامه اواز پورته کړی شوی وي، او زندۍ شوی څاروی هم، او موقوذه (چې په داسې شي باندې وژلی شوی وي چې وینه بهوونکی نه وي) هم، او ښکته غورزولی شوی هم، او په ښکرو باندې وژلی شوی هم، او هغه څاروی هم چې درنده (تږې) څه خوړلې وي مګر هغه چې تاسو (په مشروعه طریقه باندې) ذبحه کړی وي، او هغه څاروی هم چې په بوتانو باندې ذبحه کړی شوی وي، او دا خبره هم چې د خپلو برخو پېژندل په غشو باندې وکړئ.

دغه (ذکر شوي) ټول شیان فسق دي (د الله ﷻ د اطاعت څخه وتل دي خانونه ترې بچ وساتئ).

نن ورځ هغه کسان چې کافر شوي دي ستاسو د دین څخه مایوسه (نااُمیده) شوي دي (چې د منځه به یې یوسي)، نو د دوی څخه مه دارېږئ او زما څخه وډار شئ.

نن ورځ مې ستاسو دپاره دین کامل (پوره) کړ او خپل نعمت مې درباندې تمام کړ، او اسلام مې ستاسو دپاره د دین په حیث غوره کړ.

نو هغه څوک چې د لوږې په حالت کښې مضطر (مجبور) شي په داسې حال چې ګناه ته مېلان کوونکی نه وي، نو (په هغه باندې د ذکرو شوو محرماتو په خوراک سره نیونه نشته، ځکه چې) الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ په عقدونو باندې د وفا کولو څخه وروسته مونږ ته په یوې استثناء سره د څارویو د تحلیل خبر رانازل کړ او هم یې د احرام په حالت کښې د ښکار کولو څخه منعه کړو او د احرام په مناسبت باندې یې د حرم شریف مربوطه څه نور حکمونه راته واضحه کړه.

نو په دې ایت کښې یې د ذکرې شوې مجملې استثناء تفصیل رانازل کړی دی، چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني ای مؤمنانو! اوس د دې خبرې وخت رارسېدلی دی چې په تاسو باندې د ﴿ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ ﴾ تفصیل درنازل کړو، هغه دا چې:

الف: په تاسو باندې مرداره (چې بدون د ذبحې څخه کوم څاروی مړ شي) حرامه کړی شوې ده.

ب: همدارنګه د رګونو وینه هم درباندې حرامه ده چې بهېدونکې وي او د مسفوحې وینې په نامه یادېږي.

ج: د خنزیر غوښه او هم د ده وازده او اجزاء درباندې حرام دي.

د: هغه څاروي هم درته حلال نه دی چې د ذبحې په وخت کښې پرې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل چا نوم یاد شوی وي، لکه بوت او یا بل شی.

هـ: د هغه څاروي غوښه هم حرامه ده کوم چې په زندۍ سره وژل شوی وي، چې یا د ښکاري په لومه کښې مړ او یا یې مرۍ خپه کړی شي.

و: د هغه څاروي غوښه هم حلاله نه ده چې په وهلو سره وژل شوی وي او یا پر داسې آلې ښکار کړی شي چې زخمي کول نه کوي، لکه پویک او داسې نور.

ز: د کمره یا لوړ ځای څخه په رالوېدلو سره وژل شوی څاروی هم درباندې حرام دی.

ح: د ښکرورو څارویو په جنګ کښې چې کوم یو مړ شي هم غوښه یې حرامېږي.

ط: کوم یو څاروی چې د لیوه یا بل درنده په داړلو سره مړ شي هم غوښه یې حلاله نه ده.

ذکر شوي وروستني پنځه ډوله حرام کړی شوي څاروي په یوه شرط سره حلالېږي چې د مړه کېدلو څخه وړاندې تاسو هغه ذبحه کړئ او د الله ﷻ نوم ورباندې واخلئ؛ نو په دغه صورت کښې د کمره څخه لوېدل او یا نور قاتله کارونه حراموونکي نه ګڼل کېږي.

ي: د هغه څاروي غوښه هم حرامه ده چې په نصبو باندې ذبحه کړی شوی وي، که څه هم د الله ﷻ نوم ورباندې واخستلی شي؛ نصب هغه نېغې نېغې ډبرې دي چې مشرکانو ورته د بوتانو په نظر کتل او د کعبې شریفې په شاوخوا کښې ودرولې شوې وې.

یا: او دا خبره هم جائزه نه ده چې د ذبحه کړی شوي څاروي غوښه د قمار بازانو په غشو باندې ووېشئ، او یا د فالګرو په غشو باندې فال ونیسئ او یا پرې فیصلې وکړئ.

۲ـ ذکر شوي ټول حرام کړی شوي څاروي د فسق څخه په غیر بل شی نه دی او الله ﷻ غواړي چې تاسو د فاسق کېدلو د نامه څخه په څنګ وساتي.

که څه هم د ذکر شوو څارویو د غوښې خوراک په مشرکانو کښې رواج دی او کله چې تاسو ورته د هغو د تحریم حکم بیان کړئ نو ډېره سخته ته به ورباندې تمامه شي او کینه او عداوت به یې درسره څو چنده اضافه شي، مګر باید چې تاسو پرې هیڅ فکرمند نه شئ؛ ځکه چې نن ورځ تاسو په

Downloaded: bawarketabtoon.com

هغوی باندې برلاسي یاست او د هغوی زور مات شوی دی. هغوی د دې خبرې څخه نا امیده دي چې ستاسو دین به د منځه یوسي او بیا به بوت پرستي رواج شي او د مردارو په خوراک به پیل وکړي شي.

نو تاسو ته په کار دي چې صرف زما څخه وډار شئ او د هغوی څخه ونه ډار شئ او په جرئت سره زما د احکامو دعوت جاري وساتئ او پخپله یې پرې هم عمل وکړئ.

۳ـ نن ورځ مو ستاسو دپاره دین کامل کړی دی؛ چې د قیامت د ورځې پورې د ټولو حوادثو او مسائلو فیصلې او قوانین مو پکښې ځای په ځای کړي دي او هم مو د نبي کریم ﷺ په مبارکه خوله درته بیان کړي دي (تاسو نن ورځ نه د شرقیانو قانون ته اړ یاست او نه د غربیانو قانون ته، بلکې دوی به ستاسو څخه په غیر مستقیمه توګه استفاده کوي او خوله به پرې پټوي).

نو د همدې کبله مونږ په تاسو باندې نن ورځ خپل نعمت تمام کړ او څه چې تاسو ورته ضرورت درلوده هغه مو درنازل کړه، البته چې دا دنیاوي نعمتونه دي، اما اخروي نعمتونه به په جنتونو کښې درباندې په کامله توګه درپېرزو کړو چې هلته د رسېدلو لاره یې همدا یکې یوه ده چې اسلام دی، زه ستاسو څخه فقط په همدې لارې باندې راضي کېږم او بس.

۴ـ ای مؤمنانو! دا خبره درسره په ذکرو شوو محرماتو کښې په یاد ولرئ چې ستاسو ناچاري او مجبوریت مو پکښې د نظره نه دی غورزولی، نو هرڅوک چې د لوږې د کبله مجبور شي چې د ذکرو شوو محرماتو ځارویو څخه په کوم یوه باندې خپل مجبوریت لرې کړي، څه باک یې نشته، په دې شرط چې تاسو د ګناه طرف ته میلان نه وی کړی چې یا یې د مجبوریت څخه په غیر وخورئ او یا د مجبوریت د پورته کولو څخه اضافه استفاده وکړئ.

هو! که تاسو د ذکر شوي شرط په اندازه کښې خطا شئ چې خپل مجبوریت پوره تشخیص نه کړی شئ او یا په اندازه کښې سهوه شئ چې کومه یوه لمړۍ د مجبوریت څخه اضافه وخورئ نو په دې باندې مو هم الله ﷻ نه نیسي او دا ځکه چې الله ﷻ هم بښونکی دی، د دغه تجاوز څخه به درتېر شي، او مهربان دی چې د ضرورت په وخت کښې یې تاسو ته محرمات ځاروي هم حلال ګرځولي دي.

## توضیحات

۱ـ د [البقرة:۱۷۳] ایت لاندې د ذکرو شوو محرماتو څخه د لومړنیو څلورو (مردارې، وینې، د خنزیر د غوښې، د هغې مذبوحې چې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل چا په نامه ذبحه شوې وي) په باره کښې پوره بیان تېر شوی دی، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## د ځو لغاتو معناوې

۲ـ د لاندې ځو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: ﴿ٱلْمُنْخَنِقَةُ﴾ هغه ځاروي یا ساکښ ته ویل کېږي چې په سابندي سره ووژل شي، برابره

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبره ده چې دا کار قصدي وي لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې د جاهليت په زمانه کښې دا هم رواج وه چې ځاروي به يې سابندي کول او بيا به يې خواره[1]، ترڅو ـ د هغوی په نزد ـ د ځاروي عمده برخه يعنې وينه ضائع نشي؛ او يا ذکر شوې سابندي په طبعي توګه منځ ته راشي لکه چې د کوم يو ښکاري په دام کښې ساکښ د مرۍ څخه ونښلي او مړ شي.

ب: ﴿ الْمَوْقُوذَةُ ﴾ دا د هغه ځاروي يا ساکښ نوم دی چې په داسې آله باندې ووژل شي چې زخمي کوونکې (وينه بهوونکې) نه وي لکه پوپک، لکړه، ډبره، د تبره څټ، څټک او داسې نور.

د قتاده رحمه الله څخه روايت دی چې د جاهليت په زمانه کښې د موقوذې خوراک هم رواج وه چې ځاروي به يې مثلاً په کوتک باندې وژل او بيا به يې خوړل[2].

"مَوْقُوذَةٌ" په يوه حديث کښې ډبره ښه تفسيره شوې ده چې يوه ورځې عدي بن حاتم رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه د معراض[3] په باره کښې پوښتنه وکړه چې په معراض باندې ښکار شوی ساکښ حلال دی او که څنګه؟ نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: «إِذَا أَصَابَ بِحَدِّهِ فَكُلْ وَإِذَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ»[4] يعنې: په کوم وخت کښې چې معراض په خپلو تېرو باندې ساکښ ته ور ورسېده نو هغه خوره، او په کوم وخت کښې چې په خپلو پلنو باندې وروورسېده او ويې واژه نو هغه مه خوره خکه چې يقيناً دا وقيذ دی. يعنې په "الْمَوْقُوذَةُ" کښې شامل دی.

ج: ﴿ الْمُتَرَدِّيَةُ ﴾ هغه ځاروي يا ساکښ ته ويل کېږي چې د لوړ ځای څخه ژور ځای ته يا وغورزېږي او يا وروغورزولی شي لکه چې د کمره د سر څخه ښکته خطا شي او يا په څا کښې ولوېږي او مړ شي، د جاهليت په زمانه کښې به دغه ډول ځاروي هم خوړل کېده.

د: ﴿ النَّطِيحَةُ ﴾ هغه ځاروي ته وايي چې د بل ښکرور ځاروي په ډغرو باندې مړ شي، برابره خبره ده چې پخپله بې ښکرو وي او يا ښکرور وي؛ خو په جنګ کښې ووژلی شي.

هـ: د ﴿ مَا ذَكَّيْتُمْ ﴾ جمله اصلاً د "ذ، ک، و" يعنې د "ذكاة" څخه اخستله شوې ده، "ذكاة" د اور بلېدلو او رڼا کولو ته وايي[5]. ذکاوت (د فکر تيزي) هم د همدغې مادې څخه ده، خلک وايي چې د فلانې په خوله کښې اور دی يعنې مشکل مسائل ډېر ژر حل کوي.

هو! کله چې ذکر شوي اصلي حروف (ذ، ک، و) د تفعيل د باب لاندې راشي نو بيا ترې د حرارت د منځه وړل او د اور مړ کول مرادېږي.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۶ ص۳۴
(۲) المحرر الوجيز ج۵ ص۲۲
(۳) معراض هغه غشي ته وايي چې دوه تېرې (نرۍ) خوکې لري. او منځ يې پېړ وي. مګر په تېرو باندې ته ويشتل کېږي بلکې په پلنو باندې ويشتل کېږي
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۲۷۶
(۵) مفردات الراغب ص۱۸۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د څارویو (ساکښو) ذبحه کولو ته ځکه تذکیه وايي چې غریزي (طبعي) حرارت پرې د منځه ځي او ذبحه کړی شوي څاروی یخ پخ مړ پرېوزي.
نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: څاروي او ساکښان تاسو ته یوازې په تذکیه (ذبحه) باندې حلال جوړېږي چې د الله ﷻ نوم ورباندې یاد کړئ.

## شرعي تذکیه (ذبحه)

۳_ په شرعي تذکیه (ذبحه) کښې لاندې شرطونه ضرور دي:
الف: ذبحه باید د ستوني څخه لاندې او د سینې څخه په ورپورته خای کښې واقع شي.
ب: باید په وینې بهونکې آلې سره وي، مثلاً په نوکانو باندې نه حلالېږي.
ج: باید ذبحه کوونکی یا مسلمان وي او یا اهل الکتاب.
د: باید د الله ﷻ نوم ورباندې یاد کړی شي.
که څوک د زیات تفصیل شوق لري نو اوږدو کتابونو ته د رجوع وکړي[1].

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ذکر شوي محرمات څاروي ﴿ٱلْمُنْخَنِقَةُ وَٱلْمَوْقُوذَةُ﴾ او داسې نور ټول په ﴿ٱلْمَيْتَةُ﴾ کښې شامل دي، نو په جدا- جدا ذکر کولو کښې یې څه حکمت دی؟
مونږ وایو: څرنګه چې د جاهلیت په زمانه کښې "الْمَيْتَة" صرف هغې مردارې ته ویل کېده چې هغه به په کوم مرض باندې مړه شوې وه او بس، او ذکر شوي محرمات څاروي ټول حلال ګڼل کېده[2]، نو ځکه الله ﷻ ورباندې صراحت وکړ ترڅو د جاهلیت رواج د منځه لاړ شي.

## نصب څه معنی؟

۵_ د ﴿ٱلنُّصُبِ﴾ کلمه مفرده ده او جمعه یې "انصاب" راځي. او ځینې وايي چې جمعه ده او مفرد یې "نصاب" دی، لکه "کتب" او "کتاب"[3].
په هر تقدیر، "نُصُب" د هغو ډبرو څخه عبارت دی چې شمېر یې درې سوو او شپېتو ته رسېده او د جاهلیت په زمانه کښې د کعبې شریفې په شاوخوا کښې ودرولی شوې وې، په دغو ډبرو باندې به جاهلانو خپل څاروي ذبحه کول چې ترڅو به ذکرې شوې ډبرې په وینو باندې ککړې شوې. او بیا به یې د همدغو څارویو غوښې ورباندې ایښودې چې فقیران یې ترې واخلې. دوی دغه کار د الله ﷻ په نزد باندې د تقرب او نژدېکت ذریعه ګڼله او د خپلو بوتانو دپاره یې تعظیم ګاڼه[4].

---

(١) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۰۶
(٢) تفسیر القرطبي ج۶ ص۴۹؛ المحرر الوجیز ج۵ ص۲۳؛ البحر المحیط ج۴ ص۱۷۲
(٣) تفسیر الکشاف ج۱ ص۶۰۳
(۴) المحرر الوجیز ج۵ ص۲۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "وثن"، "نصب" او "صنم" فرقونه

۶ـ اوثان او انصاب (وثن او نصب) سره څه فرق نه لري، دواړه هغه شي ته ویل کېږي چې د عبادت دپاره نېغ درولی شوی وي، خو دا پکښې شرط ده چې په خپل اصلي خلقت باندې پاتې وي لکه ډبرې او یا نور شیان چې په مصنوعي توګه ورباندې نقش او سنګار نه وي کړی شوی.

او صنم یا اصنام هغو مجسمو ته وایي چې انسانانو په نقش او ډول اوسنګار باندې جوړ کړی وي، برابره خبره ده چې د هر جنس څخه وي، لکه سره زر، سپین زر، ډبرې، ختې او داسې نور[١].

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په بوتانو باندې ذبحه کول خو په ﴿ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ﴾ کښې شامل دي نو په جدا نزول کښې یې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: دلته هغه ځاروی مطلب دی چې د الله ﷻ نوم ورباندې اخستلی شوی وي[٢] مګر په داسې مقام کښې ذبحه کړی شي چې هلته د بوتانو تعظیم رواج وي. لکه چې لاندې حدیث شریف یې ښه پوره تفسیروي:

ثابت بن الضحاک ﵁ وایي چې یوه سړي په ځان باندې نذر کړی وه چې په "بوانه" نومې ځای کښې یوه اوښه نحر (حلاله) کړي، نو د نبي کریم ﷺ څخه یې په دې باره کښې پوښتنه وکړه، نبي کریم ﷺ د جواب څخه وړاندې لاندې دوه پوښتنې وکړې:

الف: «هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟» ایا هلته د جاهلیت د بوتانو څخه کوم یو بوت وه چې عبادت به یې کېده؟. صحابه وو کرامو ﷺ وویلې چې: نه.

ب: «هَلْ كَانَ فِيهَا عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟» ایا هلته د هغوی د مذهبي مېلو څخه کومه یوه مېله تېره شوې ده؟. نو دوی وویلې چې: نه.

نو بیا نبي کریم ﷺ نوموړي سړي ته اجازه ورکړه او ورته یې وویل چې: «أَوْفِ بِنَذْرِكَ فَإِنَّهُ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ»[٣] یعني: په نذر دې وفا وکړه (څکه مې ذکرې شوې پوښتنې وکړې) یقیناً شان دا دی چې د الله ﷻ څخه په نافرمانۍ کښې د نذر وفا بالکل نشته.

## أزلام څه معنی؟

۸ـ د "أزلام" کلمه د "زَلَم" ـ لکه "جَمَل" ـ یا د "زُلَم" ـ لکه "صُرَد" ـ جمعه ده[٤]. "أزلام" هغو غشو ته ویل کېږي چې پَرې او تېرې څوکې ونه لري یعني د ښکار دپاره نوي جوړ شوی. نو نه پکښې د

---

(١) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٣١٠
(٢) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص١١
(٣) سنن ابي داود ج٢ ص١١٣
(٤) لسان العرب ج١٢ ص٢٦٩؛ روح المعاني ج۶ ص٥٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

اوسپنې تېره څوکه وي چې ښکار زخمي کړي او نه پرې ولړې چې هدف ته پرې اصابت وکړي[١].

ذکر شوی غشی به د وېشتلو دپاره نه، بلکې د نورو اغراضو دپاره د لرګي څخه جوړېده، دغو غشو په عربي جاهلي ټولنه کښې په لاندې درې ډولو مجموعو باندې رواج درلود[٢]:

الف: د غشو يوه مجموعه درې غشي وه چې په يوه باندې به يې ليکلي وه چې "اِفْعَلْ" يعنې دا وکړه. او په بل به ليکلي وه چې "لا تَفْعَلْ" يعنې دا کار مه کوه. بالآخره په درېم غشي باندې هيڅ نه وه ليکل شوي.

کله به چې چا غوښتل چې د يوه کار په کولو يا نه کولو باندې د خپل خان دپاره فيصله واخلي، نو ذکر شوي درېواړه غشي به يې په يوه خلته کښې سره ګډوډ کړه او بيا به يې خپل کار په زړه کښې ونيوه او يو غشی به يې رابهر کړ؛ نو د اول غشي په مقتضی به يې کار ته اقدام کاوه، او د دوهم غشي په صورت کښې به يې د کار څخه صرف نظر کاوه، اما د درېم غشي د بهر وتلو په صورت کښې به يې ذکره شوې عمليه بيا تکراروله ترڅو به يې چې ـ په خپل خيال ـ د "هو" يا "نه" جواب (په پټه خوله) ترلاسه کړ.

د غشو ذکره شوې مجموعه هر چا درلودلی شوه او هر چا وربانديې د خپل کار تګلاره ټاکلې شوه، حاجت نه وه چې يا کاهن ته لاړ شي او يا د کوم بوت په وړاندې ودرېږي.

ب: د غشو بله مجموعه اوه غشي وه چې په هر يوه باندې يوه- يوه خبره ليکلې شوې وه. دوی به په دغسې مجموعې باندې د خپلو قضاياوو فيصلې کولې، چې قضيه به يې شرحه کړه او بيا به يې د دغې مجموعې څخه، چې په يوه خلته يا پرده کښې به پټ وه، يو غشی رابهر کړ نو په غشي باندې به چې هر څه خبره ليکلې وه همغه به د دوی فيصله وه.

دغه مجموعه به د هر کاهن او هر حاکم سره وه او روزمره به خلک د فيصلو دپاره ورتلل او د څه شيريني د ورکولو څخه وروسته به يې ترې فيصلې اخستې.

مګر د دغې مجموعې اصلي مرکز د "هُبَل"، لکه "صُرَد"، بوت وه چې د مشرکانو په نزد د ټولو بوتانو څخه لوړ رتبه بوت وه، او د کعبې شريفې په داخل کښې يې موقعيت درلود.

ج: د غشو بله مجموعه لس غشي وه چې د قماربازۍ دپاره به ترې کار اخستل کېده چې مونږ د [البقرة: ٢١٩] لاندې ښه مشرح ليکلي دي.

که د "الْأَزْلَامُ" څخه همدغه درې ګونې مجموعه واخستله شي نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! په تاسو باندې حرامه کړی شوې ده چې د يو کار په کولو او يا نه کولو کښې خپله کړنلاره د غشو په درېګونې مجموعې سره وټاکئ.

---

(١) تفسير المراغي ج۶ ص۵۱

(٢) البحر المحيط ج۴ ص۱۷۲؛ المحرر الوجيز ج۵ ص۲۷؛ تفسير القرطبي ج۶ ص۵۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض تاسو ضرور د دې کار کوونکي یاست نو د مسنونې استخارې څخه کار واخلئ، چې د احادیثو په کتابونو کښې د نبي کریم ﷺ څخه روایت شوې ده.

او که د "الْأَزْلَام" څخه دوهمه مجموعه اراده کړی شي نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! پام کوئ چې د مسلمانېدلو څخه وروسته په کفري او شرکي لاره باندې لاړ نه شئ، تاسو ته په کار دي چې د خپلو قضایاوو فیصلې د شریعت څخه ترلاسه کړئ، هسې نه چې شریعت د پښو لاندې کړئ او فال بینانو پسې لاړ شئ، ستاسو شریعت نن ورځ د هره حیثه کمال ته رسېدلی دی او د ذکرو شوو مزخرفاتو دپاره پکښې ځای نشته.

او که درېمه مجموعه ترې مراده کړی شي نو حاصل یې داسې کېږي چې مه قمار کوئ او مه د جاهلیت د رسم او رواج په شان د قمار (جواری) په غشو باندې خپلې برخې ځرګندوئ.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې د ذکرو شوو درې معناوو څخه کومه یوه مراده ده؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو همدغې درېمې معنی ته ترجیح ورکړې ده ځکه چې وراندې د حرام کړی شوو ځارویو بحث دی چې همدغه درېمه معنی ورسره ښه تناسب لري او دا ځکه چې په هغه وخت کښې به قماربازانو د اوښانو په غوښو کښې په ذکره شوې طریقه باندې جواري کوله[1].

مګر بهتره دا ده چې دلته عامه معنی واخستله شي چې درېواړو ډولونو ته شامله شي، او دا ځکه چې ایت شریف د جاهلیت عادات تحریم کړي دي، برابره خبره ده چې په ځارویو کښې وي او که د ځارویو څخه په غیر وي، او شک نشته چې په همدې حیث کښې ټول مضامین یو تربله سره بې تناسبه نه دي.

## یادونه

۱۰_ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[2] د کهانت او کوډګرۍ په باره کښې ډېر ښه معلومات لیکلي دي خو مونږ د اوږدوالي د کبله ځای په ځای پرېښوده.

## د "الیوم" څخه کومه ورځ مطلب ده؟

۱۱_ په دې ایت شریف کښې د ﴿ ٱلْيَوْمَ ﴾ کلمه دوه ځله استعماله شوې ده، چې لاندې مهم کارونه پکښې ترسره شوي دي:

الف: دین پکښې پوره او کامل شوی دی.

ب: نعمتونه پکښې تمام شوي دي.

(۱) في ظلال القرآن ج۲ ص۸۴۱

(۲) روح المعاني ج۶ ص۵۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د اسلام دين يکښې مونږ ته شريره کړي شوي دي.

د: بالآخره کافران يکښې د دې څخه نااميده شوي دي چې بيا به خپلو پوتانو ته ورګرځي او بيت پرستي به پيل کړي او يا به د اسلام دين د منځه يوسي.

باتي شوه دا خبره چې په ﴿ٱلْيَوْمَ﴾ سره کومه يوه ورځ مراده ده؟. نو

الف: ځيني مفسرين کرام وايي چې دلته د ﴿ٱلْيَوْمَ﴾ څخه اوږد وخت مراد دی او معينه ورځ نوی مراده نه ده. لکه چې عرب وايي "كُنْتُ بِالْأَمْسِ شَابًا وَالْيَوْمَ قَدْ صِرْتُ شَيْخًا" يعني زه پرون ځوان وم او يقيناً نن بوډا وګرځېدم[1].

دوی ترې ځکه اوږد وخت مرادوي چې د همدې ايت د نزول څخه وروسته نبي کريم ﷺ يو اتيا (۸۱) ورځې نور هم حيات وه او وحي نه وه قطعه شوي. نو که بالفرض معينه ورځ مراده کړې شي نو په کار وه چې وحي هم قطعه شوې وی.

ب: ځيني وايي چې دلته د مکې معظمې د فتحې ورځ مطلب ده[2]. چې د کافرانو قوت مات شو او د اسلام غلبه په سترګو وليده شوه.

ج: ځيني نور مفسرين کرام د ﴿ٱلْيَوْمَ﴾ څخه همدغه معينه ورځ مرادوي چې ذکر شوی ايت شريف يکښې نازل شوی دی. ذکر شوی ايت شريف د هجرت په لسم کال د حجة الوداع په موقع د عرفات د غونډۍ ترڅنګ د عرفې په ورځ د جمعې د ورځې د مازديګر په وخت کښې په نبي کريم ﷺ باندې په داسې حال کښې نازل شوی دی چې په خپله "العضباء" نومې اوښې باندې سور وه[3].

همدا مضمون په يوه حديث کښې ښه شرحه شوی دی، هغه دا چې يوه ورځې امير المؤمنين عمر ؓ ته يوه يهودي وويلې چې ستاسو په کتاب کښې يو آيت دی که بالفرض همدغه ايت په مونږ (يهودو) باندې نازل شوی وی نو مونږ به هغه ورځ د اختر په توګه نيولې وی، هغه ايت دا دی: ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ﴾ الآية. نو خليفه ؓ ورته وويلې چې: مونږ هغه ورځ هم پېژنو او هغه ځای هم پېژنو چې ذکر شوی ايت په نبي کريم ﷺ باندې نازل شوی دی «وَهُوَ قَائِمٌ بِعَرَفَةَ يَوْمَ جُمُعَةٍ»[4] په داسې حال کښې پرې نازل شوی دی چې په عرفات باندې ولاړ وه او د جمعې ورځ وه. يعني همدغه ورځ زمونږ دپاره د دوه اخترونو ورځ ده چې يو لوی اختر دی چې د عرفات ورځ يې اوله ورځ ده، او بل ذکر شوې ورځ د جمعې ورځ وه چې هغه هم زمونږ د مسلمانانو دپاره د اختر ورځ ده.

مونږ ته همدغه تفسير ښه ښکاري، خو دومره ورسره اضافه کوو چې د اسلام کمال او د کافرانو نااميدي د همدغې ورځې څخه پيل شوې ده، او دا مراد نه دی چې صرف همدغه يوه ورځ وه او بس

---

(۱) التفسير الكبير ج۱۱ ص۱۳۷
(۲) البحر المحيط ج۴ ص۱۷۴
(۳) أسباب النزول للواحدي ص۱۲۶
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۱۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مکې معظمې د فتحې ورځ څکه مطلب نه شي کېدلی چې کافران په هغه وخت کښې لا نااميده شوي نه وه د همدې کبله يې د حنين په مقام کښې د مسلمانانو مقابله وکړه. اما د حجة الوداع څخه وروسته نه کافرانو مقابله وکړی شوه او نه يې ورته تياري ونيوه.

همدې خبرې ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې فرمايلي يې دي: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ»[١] يعنې: يقينًا شيطان د دې څخه مايوس دی چې لمونځ کوونکي به يې (بيا) په جزيرة العرب کښې عبادت وکړي (نو څکه پکښې زيار نه باسي) مګر د دوی ترمنځ (اوس) په جنګ اچولو باندې بوخت دي (څکه چې همدې ته يې اميد شته).

هو! د دين د کمال معنی دا نه ده چې وحې قطعه شوه، بلکې معنی يې دا ده چې معظم اساسات نازل شوه، د احاديثو، اجماع او بالآخره د قياس حجيت په قرآن کريم باندې په اثبات ورسېد او هغه څه چې نبي کريم ﷺ د هغو د رسونې دپاره را استولی شوی وه هغه پوره ترسره شوه.

## اهل التشيع څه وايي؟

۱۲ـ اهل التشيع وايي چې د ﴿ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ ﴾ څخه د "غديرخم" ورځ مراده ده[٢]. غديرخم د مکې او مدينې ترمنځ د يو ځای نوم دی، په دغه ځای کښې نبي کريم ﷺ د خپلې اوښې څخه ښکته شو، البته په کوم وخت کښې چې د حجة الوداع څخه بېرته مدينې منورې ته روان وه او علي ﷺ يې د لاسه ونيوه او ويې فرمايل چې: «فَهَذَا وَلِيُّ مَنْ أَنَا مَوْلَاهُ اللَّهُمَّ وَالِ مَنْ وَالَاهُ اللَّهُمَّ عَادِ مَنْ عَادَاهُ»[٣] يعنې: دا (علي ﷺ) د هغه چا دوست دی چې زه د هغه دوست يم، ای الله! ته د هغه چا سره دوستي وکړې چې د ده سره دوستي کوي، ای الله! د هغه چا سره دښمني وکړې چې د ده سره دښمني کوي.

دوی وايي چې په ذکره شوې ورځ کښې دين څکه کمال ته ورسېد چې نبي کريم ﷺ خپل خليفه وټاکه، دوی د "ولي" او "مولی" څخه د خليفه معنی اخلي، او دې ته نه ګوري چې د "مَوْلى" او "وَلِيّ" دواړه کلمې د هغې مادې (و، ل، ي) څخه جوړې شوي دي د کومې څخه چې "وَالِ، وَالاه" دواړه کلمې جوړې شوې دي. نو که بالفرض د ذکرې شوې مادې معنی خلافت وی نو بايد چې د حديث شريف دوهمې ټکړې معنی داسې شوې وی چې: ای الله! ته هغه څوک خليفه کړې چې علي ﷺ خليفه کوي. حال دا چې دغه معنی خو د يو طرفه د «عَادِ مَنْ عَادَاهُ» سره څه تناسب نه لري، او د بل طرفه پخپله اهل التشيع هم دغسې معنی نه اخلي. نو معلومه شوه چې د اهل التشيع نظر غلط دی.

## د دين کمال څه معنی؟

۱۳ـ مفسرينو کرامو د ﴿أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ ﴾ دپاره لاندې تفسيرونه کړي دي[۴]:

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۷۶
(۲) تفسير نمونه ج۴ ص۲۶۴
(۳) سنن ابن ماجه ج۱ ص۱۲
(۴) زادالمسير ج۲ ص۲۳۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د دین فرائض او حدود پوره او بشپړ شوه، چې د ذکر شوي ایت شریف څخه وروسته هیڅ تحلیل او تحریم نه دی نازل شوی. دا د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما تفسیر دی.

ب: سعید بن جبیر رحمه الله وایي چې د دین کمال د دې څخه عبارت دی چې سلطه یې بالکل څرګنده شوه او دښمنان یې د ذلت سره مخامخ شوه.

ج: د همدغه تابعي رحمه الله څخه دا هم روایت شوی دی چې د دین کمال د عدم نسخ څخه عبارت دی، چې د همغه وخت څخه وروسته که څه هم نبي کریم ﷺ یو اتیا (۸۱) ورځې حیات وه مګر یو حکم هم نسخه نه شو.

د: الزجاج رحمه الله وایي چې د دین کمال د دې څخه عبارت دی چې د مسلمانانو څخه د دښمنانو ډار د منځه لاړ، نو ځکه الله ﷻ وفرمایل چې ﴿ فَلَا تَخْشَوْهُمْ ﴾ یعني د دوی څخه مه ډارېږئ.

هـ: د کمال معنی دا ده چې دغه شریعت به په بل شریعت باندې نه منسوخ کېږي.

و: دین په پنځو اساساتو باندې ولاړ دی (چې کلمه طیبه، لمونځ، روژه، زکات او حج دی)، په ذکر شوې ورځ کښې د اسلام پنځم اساس (حج) په پوره استقلال سره اداء کړی شو چې په دغه کال باندې یو مشرک هم موقف ته نه وه راغلی او نه راتلی شو[١].

## تبصره

۱۴ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي شپږ واړه وجوه یو تر بله څه منافات نه لري او ټولې د دین په کمال کښې نغښتې دي، نو څه ارتیا نه ګورو چې ځینو ته په ځینو نورو باندې ترجیح ورکړو.

## سوال جواب

۱۵ـ که څوک وایي چې: ایا د همدغه وخت څخه وړاندې دین ناقص وه؟ که داسې وی نو ډېر صحابه کرام رضي الله عنهم به په ناقص دین باندې وفات شوي وي؟

مونږ وایو چې: د هغه وخت څخه وړاندې که څه هم دین د کمیت او کیفیت له حیثه ناقص وه مګر د الله ﷻ په نزد او د اجر له حیثه ناقص نه وه. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: د مسافر لمونځ د کمیت د لحاظه ناقص دی چې د څلورو رکعتونو په عوض دوه رکعتونه دي، مګر په اجر کښې د الله ﷻ په نزد د څلور رکعتیز څخه کم نه دی.

ب: د مریض لمونځ د کیفیت د لحاظه ناقص دی چې د قیام وسه یې نه وي په ناسته باندې یې کوي، مګر په ثواب کښې د روغ سړي د لمانځه څخه کم نه دی.

علاوه پر دې، د هغه وخت څخه وړاندې دین د هغه معیار څخه ناقص وه چې محمدي ﷺ امت ته په نظر کښې نیولی شوی وه ترڅو چې په تدریج سره په نظر کښې نیولی شوې درجې ته ورسېږي.

---

(١) تفسیر القرطبي ج۶ ص۶۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې تقدير يې نظير کتې مټ د يوه ښوونځي دی چې د هر يوه ټولګي دپاره يې بېل- بېل نصاب تاکلی شوی وي هر يو په خپل ذات کښې کامل دی مګر نظر ورپورته ټولګي ته ناقص دی، ترڅو چې نهايي ټولګي ته ورسېږي او نصاب کامل شي.

په ذکر شوي تحليل سره هغه اشکال هم جواب شو چې ايا الله ﷻ په همدغې ورځ باندې زمونږ دپاره اسلامي شريعت د دين په حيث غوره کړ؟، حال دا چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَٰمُ ﴾ [آل عمران: ١٩] يعنې يقينًا د الله ﷻ په نزد غوره (مقبول) دين اسلام دی. او هم فرمايي چې: ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ ﴾ [آل عمران: ٨٥] يعنې: او هرڅوک چې د اسلام څخه په غير بل دين ولټوي نو هيڅکله به ترې قبول نه کړی شي.

نو د جواب حاصل دا دی چې د هغه وخت څخه را په دېخوا چې الله ﷻ په آدم ﷺ باندې ځمکه اباده کړه او انسانان يې په ځمکه کښې خواره کړه په تدريج سره يې دوی ته هغه لاره هم رانازلوله چې الله ﷻ وربانديې راضي کېږي او د الله ﷻ په نزد غوره او بهتره لاره ده، آن ترديې چې نن ورځ کمال ته ورسېده، چې نه نسخه کېږي او نه يې کومه کړی پاتې ده چې نازله شوې نه وي.

يا په بل عبارت: د دين مدرسه نهايي ټولګي ته ورسېده چې وروسته بل ټولګی پاتې نه دی.

## يادونه

١٦ـ په دې باره کښې چې الله ﷻ د دين په هکله د ﴿ أَكْمَلْتُ ﴾ کلمه او د نعمتونو په هکله د ﴿ أَتْمَمْتُ ﴾ کلمه نازله کړې ده، مونږ د [البقرة:٢٣٣] ايت لاندې څه فرق ليکلی دی چې کتل يې ضرور دي، ځکه چې دين په دنيا کښې کامل شوی دی خو نعمتونه به په جنت کښې کمال ته رسېږي.

## حجة الوداع څه معنی؟

١٧ـ څرنګه چې د ذکر شوي ايت شريف څخه د اشارې په توګه د نبي کريم ﷺ وفات معلومېده، ترديې چې کله دغه ايت نازل شو، صحابه کرام ﷺ ډېر خوشاله شوه چې دين مو کمال ته ورسېده مګر ابو بکر الصديق ﷺ په ژړا شو چې نور نو د نبي کريم ﷺ د حيات وخت لږ پاتې دی، نن دی او که سبا نبي کريم ﷺ به وفات شي چې ټاکلې شوې وظيفه يې ترسره شوه[1]؛ نو ځکه همدغه حج ته د حجة الوداع لقب ورکړی شو. يعنې هغه حج چې نبي کريم ﷺ پکښې د خپل امت څخه خدای پاماني واخستله او وداع يې ورسره وکړه.

## د "جَنَف" دکلمې معنی

١٨ـ د ﴿ مُتَجَانِفٍ ﴾ کلمه اصلاً د "جَنَف" ـ لکه "جَمَل" ـ څخه اخستله شوې ده او "جَنَف" ميلان ته وايي[2].

(١) التفسير الكبير ج١١ ص١٣٩
(٢) مفردات الراغب ص٩٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د مرداري خوراک تاسو ته رخصت دی خو په دې شرط سره چې ګناه ته میلان کوونکي نه یاست چې یا یې د ضرورت څخه په غیر وخورئ او یا ترې د ضرورت څخه اضافه استفاده وکړئ.

همدغه مطلب د [البقرة:۱۷۳] ایت کښې د ﴿ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ ﴾ په کلماتو سره بیان شوی دی، نو د زیات تفصیل دپاره باید هملته مراجعه وکړی شي.

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُۖ فَكُلُوا۟ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهِۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤﴾ ﴾

[۴] (ای پیغمبره!) ستا څخه پوښتنه کوي چې هغه څه شیان دي چې دوی ته حلال کړی شوي دي؟ ورته ووایه چې تاسو ته پاکیزه څیزونه حلال کړی شوي دي.

او د هغو شیانو (ښکار کړی شوی هم درته حلال دی) چې تاسو هغو ته ښودانه کړې وي، (چې هغه) د زخمي کوونکو حیواناتو څخه عبارت دی (په داسې حال کښې چې تاسو د هغو ورخوشې کوونکي یاست (او په داسې حال کښې چې) تاسو هغو ته (په دوامداره توګه) د هغو لارو چارو څخه ناڅه ورزده کوئ چې تاسو ته الله ﷻ درښودلې دی.

نو د هغه ښکار کړی شوي څخه خورئ (تاسو ته اجازه ده) کوم چې (ذکر شوي تعلیم یافته حیوانات يې تاسو ته ساتي. او د (ورخوشې کولو په وخت کښې) پرې د الله ﷻ نوم یاد کړئ. او د الله ﷻ څخه وډار شئ. یقینًا الله ﷻ تېز حسابی دی.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېني ایت کښې الله ﷻ حرام کړی شوي څاروي بیان کړي وه، او په دې ایت کښې حلال کړی شوو څارویو ته اشاره کېږي.

۲ـ هلته د هغه څاروي خوړل حرام کړی شوي وه کوم چې درنده ګانو وژلی وي او ذبحه شوی نه وي، او دلته ترې یو صورت ویستل شوی دی چې درنده تعلیم یافته وي او د ورخوشې کولو په وخت کښې ورباندې د الله ﷻ نوم یاد کړی شي.

## شان نزول

د ذکر شوي ایت شریف په شان نزول کښې لاندې روایتونه شته:

۱ـ یوه ورځې دوه کسه صحابه کرام نبي کریم ﷺ ته ورغله او پوښتنه يې ترې وکړه چې یا رسول الله! مونږ داسې قوم یاستو چې په سپیو او نورو شیانو باندې ښکار کوو، نو مونږ ته د ښکار شود

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ساکښانو څخه کوم یو حلال دی؟. نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو[1].

۲ـ ابو رافع ﷺ وايي چې ماته نبي کريم ﷺ امر وکړ چې سپي ووژنم، زه په همدې کار مصروف وم چې، صحابه کرام ﷺ نبي کريم ﷺ ته ورغله او پوښتنه یې تري وکړه چې: «مَا أُحِلَّ لَنَا مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ الَّتِي أَمَرْتَ بِقَتْلِهَا»[2] يعني د دغه ټولګي څخه چې تا يې په وژلو باندې امر کړی دی کوم یو مونږ ته حلال کړی شوی دی (چې په کور کښې يې وساتو)؟، نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو او د ښکاري سپيو ساتنه جائزه شوه.

۳ـ يوه ورځې دوه صحابه کرام (عدي بن حاتم ﷺ، زيد بن المهلل ﷺ) نبي کريم ﷺ ته ورغله او عرض يې وکړ چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! قَدْ حَرَّمَ اللهُ الْمَيْتَةَ فَمَاذَا يَحِلُّ لَنَا»[3] يعني: ای د الله رسوله! بې شکه الله ﷻ خو مرداره حرامه کړې ده نو کوم شي مونږ ته حلال دي؟. نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو.

## د مطلب خلاصه

يعني: ای پیغمبره! مسلمانان ستا څخه پوښتنه کوي چې:

۱ـ لکه څنګه چې دې راته د حرامو څارويو او ساکښانو فهرست بيان کړی دی همدارنګه مونږ ته د حلالو څارويو نوملیک هم بيان کړه.

نو دوی ته ووایه چې ستاسو دين کامل دی، د همدغې پوښتنې جواب مو هم د وړاندېني ايت څخه څرګندېږي هغه دا چې د هغو څارويو (ساکښانو) څخه په غير چې په تاسو باندې حرام کړی شوي دي نور ټول تاسو ته حلال دي چې په مشروعه توګه یې ذبحه کړئ او استفاده تري وکړئ.

يا په بل عبارت: د مردارو او خبائثو څخه په غير ټول پاکيزه ساکښان درته حلال کړی شوي دي. نو دې ته اړتيا نشته چې تاسو ته یې فهرس درنازل شي.

۲ـ مونږ ته د ښکار کړی شوو ساکښانو څخه کوم-کوم حلال دي، حال دا چې وحشي ساکښانو خو مونږ په مشروعه توګه نه شو ذبحه کولی؟

نو دوی ته جواب ورکړه چې ښکار کړی شوي ساکښان تاسو ته حلال دي، خو کله چې تاسو په ښکاري درندګانو باندې ښکار کوئ نو دغه مواد بايد په پام کښې ونيسئ:

الف: چې ښکاري درندګان (لکه سپی، زمری، باز، باښه او داسې نور) تعليم يافته وي او ستاسو ښودانې پکښې اثر کړی وي.

ب: چې وحشي ساکښ يې د پښو په نوکانو يا په مښوکه او يا په دارو باندې زخمي کړی وي.

ج: چې تاسو د تعليم يافته ښکاري درنده په وحشي ساکښ باندې ورخوشې کوونکي ياست. که بالفرض په خپله خوښه په وحشي حيوان پسې ورځغلي او مړ يې کړي نو هغه درته حلال نه دی.

---

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۱۱؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۲۸

(۲) سنن الكبرى للبيهقي ج۹ ص۳۹۳؛ مستدرک الحاکم ج۲ ص۳۴۰

(۳) الدر المنثور ج۳ ص۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که پورتني شرطونه پوره وه نو طبعي ده چې ښکاري درندګان چې څه شی ښکار کړي هغه به تاسو ته ساتي، نو د دغه ساتل شوي وحشي ساکښ غوښه تاسو ته حلاله ده. مګر د ورخوشي کولو په وخت کښې وربانديې د الله ﷻ نوم واخلئ.

او د الله ﷻ څخه وډار شئ، هسې نه چې یا ذکر شوي شرطونه پوره نه کړئ او یا د الله ﷻ نوم وربانديې یاد نه کړئ او سره د دې حلال یې وګڼئ؛ یقینًا د الله ﷻ محاسبه چالاکه درروانه ده او هیڅکله به ترې بچ پاتې نه شئ.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ د حلال کړی شوو ساکښانو نوملیک نازل نه کړ او د حرام کړی شوو فهرس یې نازل کړ، او دا ځکه چې حلال کړی شوي ساکښان زښت ډېر دي او حرام کړی شوي لږ دي، او په دغسې مواقعو کښې د بیان همدغه طریقه بلیغه او موثره ده لکه چې په همدغې طریقې باندې الله ﷻ د هغو ښځو فهرس ته هم اشاره کړې ده چې په نکاح اخستل یې سړي ته جائز دي چې: ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ﴾ [النساء: ۲۴] یعنې او تاسو ته د ذکر شوو محرماتو ښځو څخه په غیر نورې ټولې ښځې حلالې کړی شوې دي. او دا ځکه چې حلالې ښځې ډېرې دي.

## طیبات څه معنی؟

۲ـ ﴿ٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ د "طَیِّب" جمعه ده چې په مقابل کښې یې "خبائث" استعمالېږي. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ﴾ [الأعراف:۱۵۷] یعنې: انسانانو ته داسې پیغمبر استولی شوی دی چې دوی ته پاکیزه شیان حلالوي او ناپاکه شیان وربانديې حراموي.

## یادونه

۳ـ ځومره احادیث چې د طیباتو او خبائثو د بیان په باره کښې روایت شوي دي ټول د ذکر شوو ایتونو تفسیر او بیان واقع شوي دي. او دا ځکه چې د ﴿ٱلطَّيِّبَٰت﴾ او ﴿ٱلْخَبَٰٓئِث﴾ دواړه کلمې مجملې دي، او "احاد" احادیث د ایت تفسیر واقع کېدلی شي مګر مخصص نه شي واقع کېدلی.

لاندې څو احادیث د مثال په توګه د نظره تېر کړئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايي چې: هیڅ انسان په ناحقه سره چرچنه او یا د دې څخه وړپورته څه شی نه وژني مګر د قیامت په ورځ به ترې الله ﷻ پوښتنه وکړي؛ مګر په حق سره. ورته وویل شوه چې: ای د الله رسوله! حق یې څه شی دی؟، ده ﷺ وفرمایل چې: «يَذْبَحُهَا فَيَأْكُلُهَا وَلَا يَقْطَعُ رَأْسَهَا يَرْمِي بِهَا»[1] یعنې: (حق یې دا دی چې) ذبحه یې کړي نو ویې خوري او (داسې دې نه کړي چې) سر یې پرې کړي او بیا یې ګوزاره کړي.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۲۰۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ»[1] رسول الله ﷺ منعه کړې ده د درندګانو د هر داړور ښخه او د مرغانو د هر منبوکې والا ښخه (چې غوښنه یې وخوړه شي). یعنې هغه داړور چې په خوله باندې زخمي کول کوي او هغه منبوکې والا چې په منبوکې باندې نور مرغان زخمي کوي، لکه لیوه، ګیدړ، باز، بانښه او داسې نور.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ﴿وَمَا عَلَّمْتُم﴾ خو په ﴿ٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ باندې عطف دی، نو د معنی حاصل یې داسې راوخي چې: تاسو ته هغه ساکښ هم حلال کړی شوي دي چې کوم تاسو په ښکار کولو باندې اموخته کړی دی، لکه سپی، پړانګ او داسې نور؛ حال دا چې د سپي د امثالو خوراک خو آن د جاهلیت په زمانه کښې هم رواج نه وه؟

مونږ وايو چې: دلته د "صَيْد" کلمه محذوفه ده چې تقدیر یې "وَصَيْد مَا عَلَّمْتُمْ" کېږي، یعنې تاسو ته د ښکاري اموخته درندګانو ښکار کړی شوی حلال دی. او په محذوف باندې لاندې دوه دلیلونه شته دي:

اول: د ﴿عَلَّمْتُم﴾ کلمه دلالت کوي چې دلته پخپله درندګان مطلب نه دي، دا ځکه چې د ساکښ په تحلیل او تحریم باندې تعلیم څه اثر نه غورزوي، که بالفرض دلته ښکار کړی شوی مطلب نه وی نو ذکره شوې کلمه به نه وی نازله شوې.

دوهم: همدارنګه ﴿فَكُلُوا مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾ هم په ښکار کړی شوي (صَيْد) باندې دلالت کوي، که بالفرض پخپله درندګان مراد وی نو "فَكُلُوا مِنْهُنَّ" به نازل شوی وی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي ایت شریف باندې خو د شان نزول دوهمه پوښتنه جوابه نه شوه چې د کوم ډول سپي ساتنه مونږ ته روا ده؟

مونږ وايو چې: دوهمه پوښتنه د نص په مقتضی سره جواب شوې ده او دا ځکه چې په ښکار باندې د سپې اموخته کول خو دا غوښتنه کوي چې سپی دې په کور کښې وساتل شي، او هم په سپي باندې د ښکار کولو اجازه کټ مټ په کور کښې د ساتنې اجازه ده. لکه چې نبي کریم ﷺ په لاندې حدیث کښې بالکل په ډاګه کړې ده:

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې: نبي کریم ﷺ د سپیو په وژلو باندې امر وکړ «إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ مَاشِيَةٍ» خو نه د ښکاري سپې په وژلو، یا نه د ګډو د سپي په وژلو، او یا نه د نورو

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۴۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښاروېو د سپي په وژلو (چې یا ګډي ساتي او یا د نورو ښاروېو حفاظت کوي).

نو ذکر شوي صحابي ﷺ ته وویل شوه چې: ابو هریره ﷺ خو په خپل روایت کښې د «أوْ كَلْبَ زَرْعٍ» جمله هم اضافه کوي چې د باغ او کښت ساتونکی سپی هم د وژلو څخه ویستل شوی دی، نو هغه جواب ورکړ چې: «إِنَّ لِأَبِي هُرَيْرَةَ زَرْعًا»[1] یعنې یقینًا ابو هریره ﷺ زراعت درلود. نو څه لرې نه ده چې په همدې باره کښې یې هم د نبي کریم ﷺ څخه د جواز امر اخستی وي. ته به وایې چې فقهاء کرامو د ذکر شوي حدیث شریف څخه دا قاعده استنباط کړې ده چې: (الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ) ضرورتونه ممنوعه شیانو ته اباحت ورکوي.

## په درندګانو باندې ښکار کول

۶ـ د ښکار کولو مربوط بحثونه ډېر دي، چې یو په ښکار کوونکې پورې اړه لري، بل په ښکار کړی شوي پورې او درېم بحث یې د ښکار د آلې پورې اړه لري چې په جارحه آله باندې ښکار ترسره شوی وي لکه توره، غشی او داسې نور، او یا په ژوندۍ آله باندې ښکار صورت نیولی وي لکه سپی، پړانګ، باز، باښه او داسې نور.

څرنګه چې ذکر شوي بحثونه ډېره پراخه لمن لري او د فقهي په کتابونو کښې ښه پوره مشرح بیان شوي دي[2] چې دلته رانقلول یې د دې کتاب د حوصلې څخه وتلې خبره ده، هیله ده لوستونکې هملته مراجعه وکړي؛ نو مونږ دلته فقط دومره بحث لیکلو چې د ایت شریف تفسیر ورپورې کلک نښتی دی. یا په بل عبارت: مونږ یوازې د ښکار کولو د ژوندۍ آلې بحث لیکو او بس.

په ژوندۍ آلې باندې ښکار کول په لاندې شرطونو سره د احنافو علیهم الرحمه په نزد حلال جوړېږي:

اول شرط:

۷ـ باید چې ښکارزن حیوان تعلیم یافته وي، لکه چې ﴿ عَلَّمْتُم ﴾ ورباندې دلالت کوي.

سپی او د ده امثال په هغه وخت کښې شرعًا تعلیم یافته ګڼل کېږي چې ښکار ونیسي او خپل خاوند ته یې وساتي. نو کوم سپی چې دغه عمل (د ښکار ساتنه) تر درې څلو پورې تکرار کړي هغه تعلیم یافته دی او ښکار ورباندې جائز دی.

همدارنګه باز، باښه او نور مرغان په هغه وخت کښې تعلیم یافته ګڼلی شو چې د خپل خاوند (تعلیم ورکوونکي) په وربللو سره ورستنېږي او په ورپارولو سره ورخغلي، یعنې چې د ده د امر تابع شي؛ اما خپل خاوند ته د ښکار ساتنه پکښې شرط نه ده.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: د ﴿ أَمْسَكْنَ ﴾ په جمله کښې خو تولو ښکار کوونکو حیواناتو ته ضمیر

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۲۰

(۲) کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج۲ ص۱۸ ـ ص۳۲؛ الفقه الاسلامي وادلته ج۳ ص۶۹۱ ـ ص۷۲۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راجع دی، نو باید چې د ښکار کوونکو مرغانو په تعلیم یافته جوړېدلو کښې هم دا خبره شرط شي چې خپل خاوند ته ښکار وساتي او پخپله باندې یې ونه خوري؟

مونږ وایو چې: صالحین سلف ټول په دې باندې متفق دي چې په مرغانو کښې د ښکار کړې شوي امساک (ساتنه) شرط نه ده او دا ځکه چې د مرغانو دغه ډول تادیب د چا په وسه کښې نه دی[1]؛ نو که بالفرض په مرغانو کښې هم شرط کړی شي نو معنی به یې دا وي چې په مرغانو باندې ښکار کول جائز نه دي، حال دا چې په جواز کښې یې خو د هیچا اختلاف نشته.

دوهم شرط:

۹ـ باید چې ښکار کوونکی حیوان زخمي کوونکی وي چې ښکار کړی شوی په غاښونو (داړو) یا په نوکانو او منښوکې باندې زخمي کړي ځکه چې الله ﷻ تري په ﴿ مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ ﴾ سره تعبیر کړی دی، او "جوارح" خو د "جارحة" جمعه ده چې د زخمي کوونکې په معنی سره ده. د همدې قبیلې ځخه د "جُرُوح" کلمه هم ده، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ﴾ [المائدة: ۴۵] یعنې: او ټول زخمونه یو برابر دي.

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وایي چې "جارحة" خو د کسب کوونکي په معنی باندې هم استعماله شوې ده، د همدې کبله د انسان لاس او پښو ته جوارح وایي ځکه چې د کسب کولو آلات دي، او همدارنګه الله ﷻ فرمایي: ﴿ أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجْتَرَحُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾ [الجاثیة: ۲۱] یعنې ایا هغه خلک ګومان کوي چې ګناهونه یې کسب کړي دي.

نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْجَوَارِحِ ﴾ کلمه د "الکَوَاسِب" په معنی ولې نه تفسیروئ، حال دا چې ټول ښکاري حیوانات د ښکاریانو دپاره د کسبګرو ځخه په غیر بل شی نه دی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د "زخمي کوونکو" تفسیر بهتر دی ځکه چې ښکاري حیوانات د جارحه آلاتو، لکه چاقو، چاړه او داسې نورو، خلیفه ګان دي.

نو څرنګه چې په اصل (جارحه آلاتو) کښې جرحه (زخم) ضروري دی نو باید چې په خلف (ښکاري حیواناتو) کښې هم جرحه (زخم) ضروري شي، که نه نو ښکار کړی شوی ساکښ به په "الموقوذة" کښې شامل شي چې قطعي حرامه ده او بیان یې تېر شو.

د همدې کبله امام محمد رحمه الله وایي چې که اموخته سپی ښکاري ساکښ په اوږه ووهي او پرته د زخمي کېدلو ځخه یې ووژني، خوراک یې حرام دی[2].

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۱۴

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۱۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درېم شرط:

۱۱_ بايد ښکار کوونکی اموخته سپی يا بل حيوان په قصدي توګه ورخوشي کړي، که بالفرض پخپله وريسې ورغغلي او مړ يې کړي، خوړل يې جائز نه دي[1]. څکه الله ﷻ په دې مقام کښې د ﴿مُكَلِّبِينَ﴾ کلمه نازله کړې ده چې د "تَكْلِيب" څخه اخستله شوې ده. "تكليب" د "تسليط" معنی ورکوي څکه د لغت د علم کتابونه وايي چې: "الْمُكَلِّبَةُ: الْمُسَلَّطَةُ عَلَى الصَّيْدِ"[2] يعنې: مکلبة هغه حيواناتو ته وايي چې په ښکار باندې مسلط کړی شوی وي، برابره خبره ده چې اموخته سپی وي او يا پړانګ او يا نور ښکار کوونکي حيوانات وي، لکه باز، باښه او نور.

## يادونه

۱۲_ که څه هم د ﴿تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ﴾ د جملې مضمون يو خل په ﴿وَمَا عَلَّمْتُم﴾ کښې ذکر شوی وه، خو دوهم خل د دې دپاره ذکر شو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د ښکارې حيواناتو ښودلې ته بايد دوام ورکړی شي، که نه نو ښودل شوي آداب ترې هېرېږي او بېرته عادي حالت ته ورګرځي، د همدې کبله دلته د مضارع په کلمه باندې ذکر شو ترڅو په تجدد باندې دلالت وکړي. او دا څکه چې د علم اصلي مستعد انسان دی. الله ﷻ فرمايي: ﴿عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ [العلق: ۵] انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی ورباندې نه پوهېده. يعنې د انسان فطرت کښې د علم استعداد اغښلی شوی دی، او نور حيوانات اصلي استعداد نه لري، په عارضي توګه څه ناڅه زده کوي چې دوامداره ځارنې ته اړتيا لري.

رښتيا چې په انسان باندې الله ﷻ ډېر لوی فضل کړی دی، او رښتيا چې علم ډېر لوی فضل دی، د همدې علم په برکت باندې انسان د ځمکې په حيواناتو باندې حکومت کوي او د خپلو منافعو په هکله يې څرخوي، فاعتبروا يا أولي الأبصار.

څلورم شرط:

۱۳_ بايد د تسليط (ورخوشي کولو) په وخت کښې تکبير ووايي چې: "بِسْمِ اللهِ، اللهُ أَكْبَرُ" ته په وايې چې ښکاري حيوان يوه چاره ده او ښکاري يې د ښکار په مرۍ باندې راکش کوي. او دا څکه چې الله ﷻ د ﴿وَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ﴾ جمله نازله کړې ده، يعنې د لېږلو په وخت کښې ورباندې د الله ﷻ نوم ياد کړئ.

## سوال جواب

۱۴_ که څوک وايي چې: په ذکره شوې جمله کښې د "عليه" ضمير هغه "اکل" (خوراک) ته راجع

---

(۱) الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۷۰۷

(۲) لسان العرب ج۱ ص۷۲۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دى چې ﴿ فَكُلُوا ﴾ وربانديې دلالت كوي. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې د ښكار كړى شوي په خوراک بانديې د الله ﷻ نوم ياد كړئ، نه د ښكاري حيوان په وزخوشې كولو بانديې؟

مونږ وايو چې: په ذكره شوې جمله كښې د ﴿ وَٱذْكُرُوا ﴾ كلمه امر دى، او امر خو د وجوب دپاره دى، نو كه د "عليه" ضمير "أكْل" ته راجع شي نو په خوراک بانديې به د الله ﷻ نوم يادول واجب شي حال دا چې دا مستحب دى[1].

نو معلومه شوه چې ذكر شوى ضمير ښكاري حيوان ﴿ وَمَا عَلَّمْتُم ﴾ ته راجع دى چې د چرې قائم مقام دى. په همدې مطلب بانديې ډېر دلايل شته خو دا لاندې د مثال په توګه ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ [الأنعام: ١٢١] يعني: او تاسو د هغې ذبيحې څخه مه خورئ چې په هغې بانديې د الله ﷻ نوم نه وي ياد كړى شوى.

ب: عدي بن حاتم ﷺ د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې: يا رسول الله! كه داسې پېښ شي چې زه په خپل ښكاري سپي بانديې د الله ﷻ نوم ياد كړم خو د هغه سره بل سپى ملګرى شي او زه پوه نه شم چې ښكار كوم يوه سپي نيولى دى (نو د دغه ښكار حكم څنګه دى)؟.

نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: «لَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى غَيْرِهِ»[2] يعني دغه ښكار شوى مه خوره، ځكه چې تا خو په خپل سپي بانديې د الله ﷻ نوم ياد كړى دى او د ده څخه په غير په بل (سپي) بانديې خو دې نه دى ياد كړى.

ج: څرنګه چې د مشرک د لاس ذبيحه حرامه ده همدارنګه د ده ښكار كړى شوى هم حرام دى[3]، ځكه چې نوموړى په ذبيحه يا ښكار بانديې د الله ﷻ نوم يوازې نه يادوي.

﴿ ٱلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُوا ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِىٓ أَخْدَانٍ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٥﴾ ﴾

**[٥]** نن ورځ تاسو ته پاكيزه څيزونه حلال كړى شوه، او د هغو خلكو طعام (ذبيحه) چې دوى ته كتاب وركړى شوى دى تاسو ته هم حلاله ده، او هم ستاسو طعام (ذبيحه) هغوى ته حلاله ده.

---

(١) احكام القرآن للجصاص ج٢ ص٣١٨
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٨٢۴
(٣) التفسيرات الأحمدية ص٣٣٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (همدارنگه تاسو ته) داسې پاک لمنې ښځې (هم حلالې کړی شوې دي) چې د مومنانو څخه وي او داسې پاک لمنې ښځې (هم درته حلالې دي) چې د هغو خلکو څخه وي چې هغوی ته ستاسو څخه وړاندې کتاب ورکړی شوی وه، خو په هغه وخت کښې چې هغوی ته خپل مهرونه ورکړئ (په داسې حال کښې تاسو ته حلالې دي چې) تاسو خپله پاک لمنې ساتونکي یاست (چې) نه په ډاګه زنا کوونکي یاست او نه د پټو اندیوالانو نیوونکي یاست.

او هرڅوک چې په ایمان باندې کافر شي (د ایمان څخه تېر شي) نو په تحقیق سره د هغه (نېک) عمل ضائع شو او نوموړی په آخرت کښې د زیانکارانو څخه دی.

## ارتباط

که څه هم د هغو پوښتنو پوره جوابونه په وړاندېنې ایت شریف کښې ورکړی شوي دي کومې چې د نبي کریم ﷺ څخه صحابه وو کرامو ﷺ کړې وې، مګر په دغه ایت شریف کښې یو ځل بیا ذکر شوو جوابونو ته په اجمالي توګه د تاکید په ډول اشاره شوې ده او بیا د جوابونو څخه اضافه څه نور احکام هم رانازل شوي دي، ترڅو د دین په تکمیل باندې لا زیاته رڼا واچوله شي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ای مؤمنانو! لکه څنګه چې نن ورځ ستاسو دین کمال ته رسېدلی دی او پاکیزه شیان درته ټول حلال کړی شوي دي همدارنګه ایمان ستاسو په زړونو کښې ځای نیولی دی حتی چې شیطان د دې خبرې څخه ناامیده دی چې تاسو مخ په شاتې کفر ته واړوي، نو څکه نن ورځ تاسو ته جائزه ده چې د اهل الکتابو کافرانو سره (چې تاسو سره په توحید کښې اصلاً شریک دي) مخالطت او ناسته ولاړه وکړئ.

نو د هغوی مذبوحه تاسو ته جائزه ده، تاسو کولی شئ چې کتابي قصاب څخه د حلالو څاروېو غوښه خریداري کړئ، همدارنګه دا هم څه ممانعت نه لري چې خپله مذبوحه په هغوی باندې خرڅه کړئ.

لکه څنګه چې تاسو ته د مؤمنې پاک لمنې ښځې نکاح کول حلال کړی شوي دي همدارنګه دا هم درته حلاله ده چې کتابي کافرې ښځې هم په نکاح واخلئ، خو دوی ته به هغسې مهر ورکوئ لکه څنګه چې مؤمنو ښځو ته مهر ورکوئ.

۲ـ ای مؤمنانو! تاسو ته تر څلورو ښځو پورې نکاح کول جواز لري برابره خبره ده چې دغه عدد د مؤمنانو څخه وي او یا د اهل الکتابو څخه او یا یې حتی د مختلطو ښځو څخه پوره کړئ، دا د دې دپاره چې تاسو خپله پاک لمنې وساتئ، نه په ډاګیزه زنا باندې اخته شئ او نه په پټو یارانو باندې ککړ شئ. ستاسو دښمنان خو د ښځو په تعدد باندې اعتراض کوي مګر همدغه اعتراض کوونکي څوک په پټه او څوک په ښکاره زناګانو باندې مبتلا دي.

الله ﷻ لکه څنګه چې تاسو په خوراکي شیانو کښې د خبائثو او پلیتو شیانو څخه بچ کړي یاست

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنگه یې په جنسي ارتباط کښې تاسو ته د نجاستونو څخه پاکه لاره مشروعه کړې ده.

مګر دا په یاد ولرئ چې د اهل الکتابو سره ستاسو نکاحي جواز د مذبوحې په څېر دوه اړخیز نه دی بلکې هیڅ مؤمنې ښځې ته کتابي کافر په نکاح باندې اخستل جواز نه لري، او نه تاسو ته جائزه ده چې هغه ته یې په نکاح ورکړئ.

۳ـ ای مؤمنانو! ستاسو څخه چې هرڅوک کتابي زنانه په نکاح باندې واخلي نو هغه دې خپل ایمان د پوره څارنې لاندې وساتي هسې نه چې د خپلې کتابي میرمنې په سبب باندې په لا شعوري توګه مرتد شي او کفر ته واوړي. او هر څوک چې دغه کار وکړي نو د هغه ټول نېک اعمال ضائع کېږي او په آخرت کښې به د غټو تاوانیانو څخه وي.

هو! که بالمقابل خپله کتابي ماندینه په ایمان باندې مشرفه کړي نو دا کار ورته په دنیا او آخرت کښې لویه کامیابي او سرلوړي ده.

علاوه پر دې، اهل الکتاب کافران د نورو کافرانو څخه صرف په دنیا کښې دومره توپیر لري چې د لاس ذبحه یې حلاله ده او هم مسلمان سړي ته روا ده چې کتابیه ښځه په نکاح واخلي؛ پاتې شوه د آخرت خبره، هلته خو اهل الکتاب کافران په نورو باندې بهتري نه لري، ټولو خپل ایمانونه ضائع کړي دي او ټول د زیانکارانو څخه دي.

## توضیحات

۱ـ په دې ایت شریف کښې د ﴿ ٱلْيَوْمَ ﴾ کلمې څخه هغه وخت مطلب دی کوم چې د همدې سورت په دریم ایت شریف کښې مطلب ده.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په تدریج ستاسو دین د خوراکي شیانو د تحلیل د حیثه هم کمال ته ورسېده، آن تردې چې د اهل الکتابو ذبیحې درته حلالې کړی شوې چې اصلاً د توحید خاوندان دي، اما د مشرکانو ذبائح درته حرام کړی شو چې دوی د توحید خاوندان نه دي. همدارنګه د نکاح په هکله هم اهل الکتاب او مشرکان سره فرق لري.

## د "طعام" معنی

۲ـ که څه هم د "طَعام" کلمه د غذاء خوړلو یا پخپله غذاء ته وایي[۱]، مګر په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو لاندې درې تفسیرونه کړي دي[۲]:

الف: ټول خوراکي شیان؛ برابره خبره ده چې ذبائح وي او که نه.

ب: هغه خوراکي شیان چې ذبحې ته حاجت نه لري، لکه حبوبات، میوجات او داسې نور.

ج: دلته صرف ذبائح مطلب دی. او دا خکه چې:

---

[۱] مفردات الراغب ص۳۱۳

[۲] التفسیر الکبیر ج۱۱ ص۱۴۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


اول د کلام سوق د همدې غوښتنه کوي، څکه چې د وړاندې ځای څخه په ذبائحو کښې بحث راروان دی.

دوهم د ذبائحو څخه په غیر نور خوراکي شیان خو الله ﷻ په مطلقه توګه مونږ ته حلال کړي دي برابره خبره ده چې د کافر په لاس کښې وي او که د مسلمان. نو د اهل الکتابو د تخصیص دپاره په دې تقدیر هیڅ وجه نه مونده کېږي.

د همدې کبله رئیس المفسرین عبد الله بن عباس رضي الله عنهما همدغه تفسیر غوره کړی دی[۱].

درېيم: ځینو مفسرینو کرامو اجماع نقل کړې ده چې دلته د طعام څخه ذبائح مراد دي[۲].

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: که بالفرض اهل الکتاب په ذبیحه باندې د غیر الله د نوم اواز پورته کړي، باید چې مونږ ته حلال وګرځي څکه چې دا خو د اهل الکتابو ذبیحه ده؟

مونږ وایو چې: د ایت شریف مطلب دا دی چې تاسو ته حلالې مذبوحې په دې باندې نه حرامېږي چې ذبحه کوونکي يې اهل الکتاب (کافر) دي، او دا يې مطلب نه دی چې اهل الکتاب (کافر) چې هر شی، او په هر ډول باندې ذبحه کړي هغه به حلال وي، ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي.

او دا څکه چې ذکره شوې مذبوحه خو د مسلمان په لاس باندې هم حلاله نه جوړېږي نو د کافر په لاس به څنګه حلاله جوړه شي.

## د اهل الکتابو مذبوحه کله حرامېږي؟

۴ـ په یاد ولرئ چې ذکره شوې مذبوحه په هغه وخت کښې په مونږ باندې حرامه ده چې مونږ په یقین باندې پوه شو چې په دې باندې يې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل چا د نوم اواز پورته کړی وي، اما که په یقین سره راته معلومات نه وي نو خوراک يې نه حرامېږي[۳].

د همدې کبله نبي کریم ﷺ د هغې مذبوحې څخه څه غوښه وخوړه چې اهل الکتابو ذبحه کړې وه او زهریات يې پکښې اچولي وه او نبي کریم ﷺ ته يې د خیبر د فتحې په ورځ باندې د تحفې په شکل وړاندې کړه[۴].

هو! که بالفرض کوم یو مسلمان مرتد شي ـ العیاذ بالله ـ او نصرانیت یا یهودیت ته وړواوړي نو د هغه ذبیحه حرامه ده[۵]، څکه چې نوموړي خو په خوښ کړی شوي دین باندې نه پرېښودل کېږي چې ترڅو د هغوی د جملې څخه وګڼل شي.

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۶۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۶ ص۷۵ نقلاً عن اللباب.
(۳) الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۶۵۱
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۳۵۶
(۵) تفسیر المظهري ج۳ ص۳۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ كه څوک وايي چې: قرآن كريم خو زمونږ د تشريع دپاره رانازل شوی دی حال دا چې دا تكره: ﴿ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ﴾ داسې ښكاري چې د اهل الكتابو لپاره تشريع ده. يعنې اهل الكتابو ته ستاسو ذبائح حلال دي، دوی ورباندې نه ګنهګاريږي؟

مونږ وايو چې: ذكره شوې تكره د هغوی د تشريع دپاره نه ده نازله شوې بلكې مطلب يې دا دی چې: ای مسلمانانو! تاسو ته د اهل الكتابو سره په ذبائحو كښې راكړه وركړه دواړه جائزه ده.

اما د مناكحو په باره كښې درته په نكاح اخستل جائز دي چې كتابيه ښځه په نكاح واخلئ، خو وركول درته جواز نه لري چې مسلمانه ښځه كتابي كافر ته په نكاح باندې وركړئ. د همدې كبله متباقې ايت شريف د اهل الكتابو ښځو په باره كښې په بل عبارت تعقيب شوی دی چې: ﴿ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾.

## د كتابيه كافرې ښځې نكاح كول

۶_ مونږ د [البقرة:۲۲۱] ايت لاندې د كافرې ښځې د نكاح په باره كښې هغه څه ليكلي دي چې مونږ ته يې ليكنه ضروري ښكاريده، چې بيا ليكلو ته يې ضرورت نه وينو، مګر دلته يوازې لاندې څخه معلومات وراضافه كوو[1]:

الف: حذيفه ﷺ يوه كافره يهوديه ښځه په نكاح اخستې وه، عمر (امير المومنين) ﷺ ورته وليكل چې خوشې يې كړه. هغه وويل چې: ايا دا حرامه ده؟. ده وويل چې: نه! حرامه نه ده خو زه داريږم چې چرته بې عفته ښځه په نكاح وانه خلې، يعنې كافران خو د عفت چندان پروا نه لري.

ب: د عثمان بن عفان (امير المومنين) ﷺ يوه ښځه (نائله بنت الفرافصه) نصرانيه وه.

ج: همدارنګه طلحه بن عبيد الله ﷺ يوه يهوديه ښځه په نكاح كړې وه چې د شام څخه وه.

## يادونه

۷_ مونږ د [النساء:۲۴] ايت لاندې د "احصان" متعددې معناوې ليكلې دي چې په دې مقام كښې ترې پاک لمنې مطلب ده. او هم مو د [النساء:۲۵] ايت لاندې د زنا دولونه ليكلي دي چې په ﴿ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ﴾ كښې يوه دول ته اشاره ده او په ﴿ وَلَا مُتَّخِذِىٓ أَخْدَانٍ ﴾ كښې بل دول ته.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُوا۟ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى ٱلْمَرَافِقِ وَٱمْسَحُوا۟ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ۚ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَٱطَّهَّرُوا۟

(۱) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا۟ مَآءً فَتَيَمَّمُوا۟ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُوا۟ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَـٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٦﴾ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَـٰقَهُ ٱلَّذِى وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٧﴾

[۶] ای هغو کسانو! چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو لمانځه ته پورته شئ (او تاسو بې اودسه یاست) نو خپل مخونه ووینځئ او هم د څنګلو پورې خپل لاسونه (ووینځئ)، او په خپلو سرونو باندې مسحه وکړئ او (هم) خپلې پښې د ښنګرو پورې (ووینځئ).

او که تاسو جنبان یاست نو (خپل ځانونه) ښه پاک کړئ (ټول بدن ووینځئ). او که تاسو مریضان یاست او یا په سفر باندې (بوخت) یاست او یا ستاسو کوم یو کس د ژور ځای څخه راشي (اودس مات کړي) او یا خپلې زنانه مسه کړئ (جنسي ارتباط ورسره ونیسئ) نو (بیا) اوبه ونه مومئ (چې ځانونه پرې پاک کړئ) نو د پاکیزه خمکې مخ ته قصد وکړئ (او په لاسونو باندې یې ووهئ) نو (په یو ځل دواړه وهلی شوي لاسونه) په خپلو مخونو باندې مسحه کړئ (پرې راکش یې کړئ)، او (بل ځل یې) په خپلو لاسونو باندې مسحه کړئ (یو لاس په بل لاس باندې) د پاکیزه خمکې څخه.

الله ﷻ د دې اراده نه لري چې (په تشریعي امورو کښې) په تاسو باندې مشقت وګرځوي (واچوي) مګر الله ﷻ د دې اراده لري چې تاسو (د ګناهونو او پلیتیو څخه) پاک کړي او هم (د دې اراده لري) چې خپل نعمتونه په تاسو باندې پوره کړي، شاید چې تاسو (په مستمره توګه) شکر وکړئ.

[۷] (ای مؤمنانو!) په تاسو باندې د الله ﷻ نعمت (یعني اسلام، په عمل سره) یاد کړئ، او هم د الله ﷻ هغه کلک تعهد یاد کړئ (حفاظت یې وکړئ) چې تاسو سره یې پرې ښه کلکوالی کړی دی، کله چې تاسو د (کلکوالي څرګندونه وکړه او) ومو ویلې چې مونږ (ټول اسلامي احکام) واورېده (قبول مو کړ) او اطاعت مو وکړ.

او د الله ﷻ څخه ووېرېږئ، یقیناً الله ﷻ د سینو (زړونو) په حالاتو باندې هم پوه دی (نو هیڅ شی ترې نه پټېږي).

## د ارتباط وجوه

۱ـ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د مادیاتو د پاکیزګۍ توصیه کړې وه، چې دا خورئ او دا مه خورئ، یا دا کوئ او دا مه کوئ. او په دې آیت کښې د اوداسه توصیه بیانه شوې ده چې د یو پلوه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ګناهونو څخه د پاکیزګۍ سبب دی او د بله پلوه د ظاهري نظافت موجب هم دی.

۲ـ هلته د پاکیزه شیانو څخه د استفادې اجازه بیانه شوه، او دلته توصیه شوې ده چې کله ذکر شوي پاکیزه شیان په نجاست باندې تبدیل شي او تاسو یا بولې وکړئ او غائطو ته تېر شئ، او بالآخره یا جنسي ارتباط ونیسئ نو بیا هم خپل نظافت مه هیروئ.

۳ـ هلته دنیاوي نظافت بیان شوی وه او دلته اخروي نظافت بیانېږي.

## شان نزول

۱ـ د بي بي عائشې (أم المؤمنین رضي الله عنها) د یوه اورېده حدیث مضمون دی چې نوموړې بي بي د نبي کریم ﷺ سره د بني المصطلق غزا ته تللې وه، دوی په "البیدآء" مقام کښې وه چې د نوموړې بي بي د غاړې هار پرې شوی او ورک شوی وه، د همدغه هار د موندلو دپاره نبي کریم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته وظیفه ورکړه چې مونده یې کړي او قافله ورته خای په خای تال شوه، خو نه په نوموړي خای کښې اوبه وې او نه په کاروان کښې اوبو موجودیت درلوده.

د همدې کبله ابو بکر الصدیق ﷺ په خپلې لور (عائشې رضي الله عنها) باندې ډېر په غصه شو او وې ویل چې ایا د یوه هار دپاره دې ټول کاروان په وچه کانګړه کښې رابند کړی دی؟!.

په عین وخت کښې الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او تیمم جائز وګرځولی شو[1].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ځینو روایتونو کښې شته چې ذکر شوی ورک شوی هار د بي بي اسماء رضي الله عنها وه، چې د عائشې رضي الله عنها خور وه[2]؛ ایا د هار د ورکېدلو قیصه دوه خله پېښه شوې ده او که څنګه؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی شلېدلی هار اصلاً د اسماء رضي الله عنها وه خو بي بي عائشې رضي الله عنها د عاریه په توګه په غاړه کړی وه، نو څکه یې په ځینو روایتونو کښې خپلې اصلي مالکې ته اضافت شوی دی.

په هر تقدیر، ذکر شوی هار د بي بي عائشې رضي الله عنها د اوښې څخه لاندې وموندہ شو[3].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ذکره شوې واقعه خو ځینو مفسرینو کرامو د [النساء:۴۳] ایت دپاره شان نزول ګڼلې ده[4]، نو ایا یوه واقعه د متعددو ایتونو دپاره شان نزول واقع کېدلی شي؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۳
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۱۶۰
(۳) موطأ الإمام مالک ج۱ ص۴۰
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۰۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو: ځینو مفسرینو کرامو[١] دې ته ترجیح ورکړې ده چې ذکره شوې واقعه یوازې د همدې ایت شریف دپاره، چې سمدستې د بحث لاندې دی، شان نزول دی. مګر مونږ ته داسې ښکاري چې په دې کښې هیڅ باک نشته چې یوه واقعه د متعددو ایتونو دپاره شان نزول وګڼل شي او دا خکه چې سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[٢]، او دا خبره خو یقیني ده چې په دواړو ایتونو کښې د تیمم تشریع شوې ده او ذکره شوې واقعه د دواړو ایتونو دپاره یو ډېر په زړه پورې مصداق جوړېدلې شي.

## د مطلب خلاصه

١ـ یعنې: ای مؤمنانو! څرنګه چې ستاسو دین د هر حیثه تکمیل شوی دی آن د اوداسه پورې، خو د دې دپاره چې اودس مو په قرآن کریم باندې هم تثبیت شي نو دا دی تاسو ته امر کېږي چې کله تاسو لمانځه ته پورته کېږئ او اودس ونه لرئ نو اودس وکړئ او بیا په لمانځه باندې پیل وکړئ.

ستاسو اودس په لاندې څلورو ارکانو باندې ولاړ دی:

الف: چې خپل مخونه ووینځئ. یعنې د سر وېښتانو څخه نیولې آن د زنې څخه د لاندې ځای پورې، او همدارنګه د یوه غوږ څخه نیولې تر بله غوږه پورې.

ب: همدارنګه خپل لاسونه د څنګلو پورې، بلکې د څنګلو په شمول ووینځئ.

ج: په خپلو سرونو باندې مسحه وکړئ.

د: بالآخره خپلې پښې هم ووینځئ آن تر ښنګرو پورې، چې ښنګري مو هم په وینځلو کښې شامل وي.

٢ـ ای مؤمنانو! د ذکرو شوو څلورو ارکانو په تکمیل سره تاسو د ورې بې اودسۍ څخه خلاصېږئ او د لمانځه دپاره جوګه کېږئ.

اما کله چې تاسو په جنابت باندې اخته یاست نو برابره خبره ده چې لمانځه ته پورته کېږئ او که نه، په تاسو باندې لازمه ده چې خپل ځانونه ښه پاک کړئ، او ټول بدن ووینځئ آن تردې چې خولې او پوزې هم بې وینځلو مه پرېږدئ.

## د تیمم د جواز طریقه

٣ـ ای مؤمنانو! الله ﷻ ستاسو ټول حالات په نظر کښې نیولي دي او شریعت یې درنازل کړی دی، خو که چرته تاسو په لاندې کیفیاتو سره یاست:

الف: چې مریضان یاست او د اوبو استعمال درته په ضرر تمامېږي.

ب: چې په سفر باندې یاست او د اوبو د استعمال څه موانع موجود وي.

---

(١) تفسیر المظهري ج٣ ص۴٣

(٢) تفسیر القاسمي ج٦ ص٢٧: تفسیر

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: چې ستاسو کوم یو نفر خپل اودس مات کړي.

د: چې تاسو یا جنب شئ او یا خپل ښځو سره په قصدي توګه جنب کړئ چې د خپلو ماندینو سره جنسي ارتباط ونیسئ.

هـ: بالآخره چې بل څه داسې ضرورت درته پېښ شي چې د هغه په ذریعه یا د جنابت او یا د بې اودسۍ سره مخامخ شئ.

نو په دغو ټولو صورتونو کښې تاسو ته په تیمم وهلو سره پاکوالی لاس ته درځي، چې پاکې ځمکې ته قصد وکړئ او خپله بې اودسي او یا جنابت پرې د ځانونو څخه لرې کړئ.

## د تیمم کیفیت

۴ـ ای مؤمنانو! ستاسو د تیمم وهلو کیفیت فقط همدا ټاکلی شوی دی چې:

اول: یو ځل دواړه لاسونه په ځمکه باندې ووهئ او بیا د لږ څنډوهاـ څخه وروسته ورباندې خپل مخونه مسحه کړئ.

دوهم: بیا خپل لاسونه په پاکه ځمکه باندې ووهئ او د څنډوهلو څخه وروسته پرې خپل لاسونه مسحه کړئ. یعنې خپل کیڼ لاس په ښي لاس باندې راکش کړئ چې هیڅ برخه یې بې راکش کولو پاتې نه شي، او په خپل ښي لاس باندې خپل کیڼ لاس په کامله توګه مسحه کړئ.

دا وه ستاسو تیمم، چې د پاکیزه ځمکې څخه مو استفاده وکړه.

## په یاد ولرئ!

۵ـ خو په یاد ولرئ چې په تیمم کښې وړوکي اودس او لوی اودس هیڅ فرق نه لري، په دواړو کښې په ذکر شوي یوه کیفیت باندې تیمم ترسره کېږي.

او دا هم په یاد ولرئ چې د تیمم پاکیزګي موقته ده چې کله په اوبو باندې قادر شوئ نو تیمم مو د منځه ځي، نو په کار دي چې خپله پاکیزګي په اوبو باندې حاصله کړئ.

۶ـ ای مؤمنانو! د احکامو په تشریع کښې الله ﷻ اراده نه لري چې په تاسو باندې مشقت کېږدي. د همدې کبله یې په تاسو باندې د لمانځه دپاره د ټول بدن وینځل فرض نه کړه او هم یې ستاسو دپاره د تیمم تشریع نازله کړه، مګر د دې اراده لري چې تاسو د ظاهري ناپاکیو (لکه بې اودسي او جنابت) او هم د باطني ناپاکیو (ګناهونو) څخه پاک کړي.

او هم د دې اراده لري چې خپل نعمتونه په تاسو باندې پوره کړي شاید چې تاسو شکر وکړئ او د الله ﷻ د رحمتونو مستحق جوړ شئ. د همدې کبله یې د اوبو د عدم موجودیت په صورت کښې هم د عبادت موقع درکړه.

۷ـ ای مؤمنانو! د الله ﷻ د احکامو په عمل سره درناوی وکړئ، که څه هم ستاسو د ځینو احکامو اسرارو او حکمتونو ته فکر نه رسېږي، هم عملي بنه ورکړئ.

او دا ځکه تشریعي احکام د یو پلوه د الله ﷻ نعمتونه دي او د نعمتونو شکریه دا ده چې په عمل

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې يې پياده کړئ، او د بله پلوه په همدغو احکامو باندې تاسو تعهد کړی دی او په هر ځل باندې مو خپل تعهد په "سمعنا وأطعنا" (اورېدلي مو دي او منلي مو دي) سره تاکید کړی دی.

نو خپل تعهدونه وساتئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ، ظاهرًا او باطنًا ورته منقاد شئ ځکه چې يقينًا الله ﷻ ستاسو په زړونو باندې هم پوه دی پاتې خو لا ظاهري اندامونه.

## توضيحات

۱ـ په ذکر شوي ايت شريف کښې د اوداسه صرف فرائض بيان شوي دي، نو که څوک غواړي چې د اوداسه په سنتو، مستحبو، آدابو او بالآخره په نواقضو باندې خپل ځان پوه کړي، نو د احاديثو کتابونو ته دې رجوع وکړي چې فقهاوو کرامو مشرح بيان کړي دي.

## وُضوء څه معنی؟

۲ـ په عربي ژبه کښې اوداسه ته "وُضُوء" وايي، د واو په پېښ سره؛ او هغو اوبو ته چې په هغو باندې اودس ترسره کېږي هم "وَضوء" وايي، د واو په زوَر سره. په هر تقدير دغه کلمه د "وضاءة" څخه اخستله شوې ده، وضاءة نظافت او ښايست ته وايي[١].

اوداسه ته ځکه دغه نوم اېښودلی شوی دی چې په دې سره په دنيا کښې نظافت او په آخرت کښې ښائست ترلاسه کېږي. لاندې يو حديث شريف د مثال په توګه ولولئ:

نبي کريم ﷺ فرمايلي چې: «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ فَمَنْ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ»[٢] يقينًا زما امت به د قيامت په ورځ په داسې حال کښې وبللی شي چې د اوداسه د آثارو څخه به يې تندې سپينه رڼا کوي او هم به يې پښې او لاسونه سپين ځلېږي، نو د هر چا چې ستاسو څخه وسه کېږي چې خپله رڼا اوږده کړي نو ودې کړي (او د فرضيت څخه اضافه ځايونه دې ووينځي).

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ إِذَا قُمْتُمْ ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې په لمانځه باندې د ودرېدلو څخه وروسته اودس ضرور دی حال دا چې خبره خو داسې نه ده؟

مونږ وايو چې: دلته د ﴿ إِذَا قُمْتُمْ ﴾ معنی دا ده چې کله تاسو په لمانځه باندې د ودرېدلو اراده وکړه نو اودس وکړئ. لکه چې الله ﷻ د استعاذې (اعوذ بالله) په باره کښې فرمايي چې: ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴾ [النحل: ۹۸] يعنې: او کله چې ته قرآن کريم ولولې (اراده يې وکړې) نو په الله ﷻ باندې د رټلي شوي شيطان څخه پنا وغواړه.

(١) لسان العرب ج١ ص١٩٥
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٢٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي: ایا کله چې سړی په لمانځه باندې د ودرېدلو اراده وکړي په هغه باندې اودس کول فرض دي، که څه هم پخوانی اودس ولري؟

موږ وایو چې: په ایت شریف کښې د "مُحْدَثِین" ټکی مراد دی. یعنې په تاسو باندې په هغه وخت کښې اودس فرض دی چې تاسو بې اودسه یاست او لمانځه ته پورته شئ. او دا ځکه چې:

الف: د مکې معظمې د فتحې په ورځ باندې نبي کریم ﷺ ډېر لمونځونه په یوه اوداسه باندې وکړه او په موزو باندې یې مسحه هم کړې وه. نو عمر ﷺ ورته وویلې چې ای د الله ﷻ پیغمبره! تا خو نن داسې شی وکړ چې پخوا به دې نه کاوه!. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عُمَرُ»[1] دا کار مې قصداً وکړ ای عمره!. یعنې ترڅو خلکو ته واضحه شي چې د هر یوه لمانځه دپاره تازه اودس ضرور نه دی.

ب: عبد الرحمن بن زیاد ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: ما د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما سره درې لمونځونه (ماسپښین، مازدیگر، ماښام) وکړه چې هر یوه لمانځه ته یې تازه- تازه اودس وکړ نو ما ترې پوښتنه وکړه چې دا ولې؟، هغه راته وویلې چې: زما یو اودس د ټولو لمونځونو دپاره کفایت کوي، مگر د نبي کریم ﷺ څخه مې اورېدلی دی چې «مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهِ عَشْرَ حَسَنَاتٍ»[2] یعنې څوک چې په اوداسه باندې د پاسه بل اودس وکړي نو الله ﷻ به ورته لس نېکۍ ولیکي؛ نو ما په همدې کښې رغبت وکړ، ای وراره!.

ج: تیمم خو د اوداسه خلف او قائم مقام دی، مگر کله چې د تیمم په امر کښې الله ﷻ بې اودسي شرط کړه، چې ﴿أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ﴾ وریاندې دلالت کوي: نو معلومه شوه چې د اوداسه په امر کښې هم بې اودسي شرط ده. شاید چې د دې کبله به په ذکر شوي شرط باندې دلته صراحت نه وی کړی شوی چې وروسته په تیمم کښې پرې صراحت شوی دی.

## اودس څه وخت فرض شو؟

۵_ لکه څنگه چې د ذکر شوي ایت شریف د شان نزول څخه څرگندېږي چې د دې ایت د نزول څخه لا وړاندې اودس فرض وه، که نه نو نه به ابو بکر ﷺ خپلې لور (عائشې رضی الله عنها) ته په غُصه شوې وی او نه به صحابه کرامو ﷺ شکایت کړی وی.

ټولو اهل المغازي وو ته معلومه ده چې نبي کریم ﷺ هیڅکله بې اودسه لمونځ نه دی کړی[3]، بلکې لمونځ او اودس یو ځای فرض شوي دي. زید بن حارثه ﷺ وایي چې: «أنَّ جِبْرِيلَ ﷺ أتاهُ فِي

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۱۳۵
(۲) شرح معاني الآثار ج۱ ص۳۶
(۳) تفسیر المظهري ج۳ ص۴۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَوَّلَ مَا أُوحِيَ إِلَيْهِ فَعَلَّمَهُ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ»[١] یعنې یقیناً جبرائیل امین ﷺ نبي کریم ﷺ ته په هغه اول وخت کښې ورغی چې وحې ورته شوې وه، نو اودس او لمونځ یې دواړه وروښوده.

## یادونه

۶_ کله چې د اوداسه په فرضیت کښې ایت شریف نازل شو نو لاندې تفاوتونه یې ومونډل:

الف: د اوداسه فرائض مشخص شوه چې څلور دي (د مخ، لاسونو او پښو وینځل او د سر مسحه)، د دغو څلورو څخه په غیر یا سنت دی او یا مستحب، لکه په "بسم الله" سره شروع کول سنت دي او په ترتیب سره یې تر پایه رسول مستحب دي، چې د فقهې په کتابونو کښې مفصل بیان شوي دي.

ب: په یو کرت وینځلو باندې فرض پوره کیږي او دوهم او دریم کرت وینځل سنت دي حتی چې د دریم کرت څخه ورپورته وینځل جائز نه دي، البته په هغه صورت کښې چې څوک یې د اوداسه یوه برخه وګڼي.

هوا که په اوړي کښې د اندامونو د یخولو، او یا د حقیقي نجاست د لرې کولو دپاره په درې کرتو وینځلو باندې اضافه وینځل وکړي باک یې نشته. د ښه وضاحت دپاره لاندې أحادیث ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایي: «إِنَّ لِلْوُضُوءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهُ وَلَهَانُ فَاتَّقُوا وَسْوَاسَ الْمَاءِ»[٢] یعنې: یقیناً اوداسه ته هم یو شیطان شته چې "وَلَهَان" (حیرانوونکی) نومیږي، نو د اوبو د وسواس څخه خانونه وساتئ:

دوهم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یو اعرابي ورغی او د اوداسه پوښتنه یې وکړه، نو اودس یې درې درې خله وروښود او بیا یې ورته وفرمایل چې: «هَذَا الْوُضُوءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدَّى وَظَلَمَ»[٣] یعنې: دا اودس دی، نو څوک چې په دې باندې زیادت وکړي نو هغه بد وکړه او تجاوز یې وکړ او ظلم یې وکړ.

ج: بالآخره د ایت شریف په نزول سره اودس کول په متواتر کلام باندې ثابت شو چې د قیامت د ورځې پورې به یې مسلمانان په لمونځونو کښې لولي.

## د څنګلو وینځل فرض دي

٧_ الله ﷻ د څنګلو په باره کښې دلته د "إلی" توری نازل کړی دی چې ﴿إِلَى الْمَرَافِقِ﴾، او د "إلی" توری په غایه باندې دلالت کوي چې په دې مقام کښې د ذکر شوي توري غوښتنه دا ده چې څنګلې هم په فرضي وینځلو کښې شاملې شي. او دا څکه چې:

---

(١) مسند احمد بن حنبل ج ۶ ص ۱۵۵
(٢) سنن ابن ماجه ص ۳۴
(٣) سنن ابن ماجه ص ۳۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: غايه په دوه ډوله ده چې: يوې ته د امتداد غايه وايي، او بله د إسقاط په غايه باندې نومولې شوې ده[۱].

د امتداد غايه دې ته وايي چې د "إلى" د توري په ذريعه وړاندېنی حکم آن د "إلى" د توري د مدخول پورې کش کړی شي. لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ ثُمَّ أَتِمُّوا۟ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِ ﴾ [البقرة: ۱۸۷] يعنې بيا روژه آن د شپې پورې تمامه کړئ؛ په دې ايت شريف کښې د صيام کلمه إمساک ته وايي[۲]، که څه هم ډېر لږ وخت وي، خو د "إلى" د توري په ذريعه دغه امساک د شپې پورې غزولی شوی دی، اما شپه پکښې شامله نه ده.

د اسقاط غايه دې ته وايي چې وړاندېنی حکم د "إلى" د توري مدخول ته شامل وي مګر د ذکر شوي توري په ذريعه باندې قطعه کړی شي، لکه همدغه ايت شريف (چې اوس د بحث لاندې دی). ځکه چې د ﴿ أَيْدِيَكُمْ ﴾ کلمه آن د اوږو پورې ټول لاس ته شامله ده خو د ذکر شوي توري په ذريعه د څنګلو څخه هغې خوا لاسونه د حکم څخه ووتل چې وينځل يې فرض نه دي. اما پخپله څنګلې پکښې شاملې دي ځکه چې دلته د اسقاط غايه مطلب ده، نه د امتداد غايه.

ب: ځينې علماء کرام وايي چې په دې مقام کښې د "إلى" توری د "مع" په معنی سره دی، يعنې لاسونه د څنګلو سره ووينځئ. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ ﴾ [هود: ۵۲] يعنې: او ستاسو د خپل قوت سره به نور قوت هم در زيات کړي.

ج: په دې ټولو باندې د پاسه، احاديث او د صحابه وو کرامو ﷺ عمل د ايت شريف بيان واقع شوي دي چې هم نبي کريم ﷺ او هم صحابه وو ﷺ څنګلې په دائمي توګه وينځلې دي، او په هيڅ ځای کښې د نه وينځلو روايت نشته[۳].

## د سر مسحه فرض ده

۸ـ "رُءُوس" د "رَأس" جمعه ده، او د رأس په متعارفه معنی کښې د غاړې څخه وړ پورته آن د مخ او سترګو په شمول ټول اجزاء داخل دي[۴].

مګر ځرنګه چې الله ﷻ په دې مقام کښې د مخ په وينځلو باندې امر کړی دی نو معلومه شوه چې د "رأس" متعارفه معنی دلته مراده نه ده، او په همدې باندې علماء کرامو اجماع کړې ده[۵]. د همدې کبله دوی د سر په مسحه کښې يوولس (۱۱) قوله کړي دي چې څومره او په څه کيفيت

---

(۱) نور الانوار ص۱۳۶
(۲) مفردات الراغب ص۲۹۸
(۳) تفسير المظهري ج۳ ص۴۶
(۴) تفسير القرطبي ج۶ ص۸۹
(۵) بدائع الصنائع ج۱ ص۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې فرض ده، مګر په ټولو اقوالو کښې د ابو حنيفه رحمه‌الله‌علیه په نزد يوازې د ناصيې مسحه فرض ده چې په يو ځل باندې تماميږي او تکرار ته يې حاجت نشته. او دا ځکه چې د نبي کريم ﷺ فعل د ايت شريف تفسير واقع شوی دی، چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ اودس کاوه «فَحَسَرَ الْعِمَامَةَ وَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ أَوْ قَالَ نَاصِيَتَهُ بِالْمَاءِ»[1] نو د پګړۍ څخه يې سر لوڅ کړ او د خپل سر په وړاندنۍ برخه باندې يې او يا په خپله ناصيه باندې يې په اوبو سره مسحه وکړه.

## "ناصيه" څه معنی؟

۹ـ "نَاصِية" د سر د وړاندېنۍ برخې د ويښتانو بيخونو ته وايي[2]، چې تقريبًا د څلورو ګوتو په اندازه، يا د سر د ويښتانو څلورمه برخه جوړيږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه که څه هم "الْمَسْح" په عربي ژبه کښې په يو شي باندې لاس راکش کولو ته وايي مګر په شريعت کښې په اندامونو باندې په اوبو سره لوند لاس راکشول د مسحې په نامه يادېږي[3].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: ايا د مسحې په عوض د سر وينځل جواز لري؟

مونږ وايو چې: په جواز کښې خو يې شک نشته چې د مسحې په ځای باندې ودرېږي[4]، مګر هغه ثواب نه ورکول کېږي کوم چې د مسحې دپاره ټاکلی شوی دی[5].

يا په بل عبارت: جواز يې شته خو ثواب يې نشته.

## د پښو وينځل فرض دي

۱۱ـ د ذکر شوي ايت شريف د ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ﴾ په جمله کښې لاندې دوه متواتر قرائتونه دي[6]:

الف: "وَأَرْجُلَكُمْ" د لام په زوَر سره، چې په دې تقدير متبادره دا ده چې په ﴿ وُجُوهَكُمْ ﴾ باندې عطف دی، او د معنی حاصل يې داسې را اوځي چې خپلې پښې د ښنګرو پورې هم ووينځئ.

ب: "وَأَرْجُلِكُمْ" د لام په زېر سره، چې په دې تقدير متبادره دا ده چې په "رُؤُسِكُمْ" باندې عطف دی او د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې په خپلو پښو باندې هم مسحه وکړئ.

---

(۱) اعلاء السنن ج۱ ص۸
(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۳۲۷
(۳) مفردات الراغب ص۴۸۷
(۴) تفسير القرطبي ج۶ ص۹۰
(۵) شرح معاني الآثار ج۱ ص۳۳
(۶) اضواء البيان ج۲ ص۷؛ روح المعاني ج۶ ص۷۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څرنګه چې دوه متواتر قرائتونه په منزله د دوه ایتونو دي، نو ته به وایي چې د پښو په باره کښې دوه ایتونه نازل شوي دي، یو ایت تقاضی کوي چې په اوداسه کښې د ښنګرو پورې خپلې پښې ووینځئ او بل ایت غواړي چې مسحه پرې وکړئ.

او دا غیر معقوله ده چې هم یې وینځل فرض شي او هم پرې مسحه کول فرض وګرځي او دا څکه چې مسحه خو د وینځلو څخه خلف او بدل دی نو د دواړو فرض جوړېدل به داسې مثال ولري چې په سرې باندې هم اودس کول فرض شي او هم پرې تیمم وهل فرض وګرځي، چې په داسې کار باندې هېڅوک قول نه کوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۲ـ که څوک وایي چې: ځینې علماء کرام خو دلته په تخییر باندې قائل دي[1]، یعنې ستاسو خو ښه که په اوداسه کښې خپلې پښې وینځئ او که مسحه پرې کوئ، او یا په بل عبارت: په تاسو باندې یو کار کول فرض دی او بس.

مونږ وایو: لکه څنګه چې د اصل او بدل دواړو فرض ګرځېدل په شریعت کښې مثل نه لري همدارنګه د اصل او بدل په منځکښې تخییر هم شرعي نظیر نه لري نو څکه دغه توجیه د قبول وړ نه ده.

## سوال جواب

۱۳ـ که څوک وایي چې: په ذکر شوي ایت شریف کښې دریم قرائت شته چې شاذ قرائت دی چې "أَرْجُلُكُمْ" د لام په پېښ سره قرائت شوی دی[2]؛ شاذ قرائت که څه هم د متواتر قرائت په مقابله کښې څه اعتبار نه لري مګر دا خو کولی شي چې د دوه متواترو قرائتونو څخه یوه ته ترجیح ورکړي، نو پوښتنه دا ده چې ایا په دې مقام کښې ترجیح نه شي ورکولی؟

مونږ وایو چې: دلته شاذ قرائت څکه مرجح نه شي جوړېدلی چې په دې تقدیر باندې د "وَأَرْجُلُكُمْ" کلمه مبتداء ګرځي او خبر یې محذوف ګڼل کېږي. نو څوک چې اول متواتر قرائت د عمل دپاره خوښوي هغوی ترې په "مَغْسُولَةٌ" سره تعبیر کوي او څوک چې په دوهم متواتر قرائت باندې عمل کوي هغوی ترې په "مَمْسُوحَةٌ" سره تعبیر کوي.

نو په دې مقام کښې شاذ قرائت مُرجح نه شي واقع کېدلی، چې د متواترو قرائتونو څخه د هر یوه دپاره د تائید قابل جوړېدلی شي.

## د احادیثو ترجیح

۱۴ـ څرنګه چې دواړه متواتر قرائتونه یو په بل باندې ترجیح نه لري چې د عمل دپاره غوره

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۱۱۲

(۲) المحرر الوجیز ج۵ ص۴۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړی شي نو ترجیح یې د آحادیثو او د سلفو صالحینو د عمل څخه پرته په بله لاره باندې نه شي ترلاسه کېدلی، چې تفصیل یې دا دی:

په اوداسه کښې د پښو د وینځلو په باره کښې زښت ډېر قولي او فعلي أحادیث روایت شوی دی چې ځینو علماوو کرامو راغونډ کړی دی[۱]. لاندې مثالونه یې د نظره تېر کړئ:

الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ یو سړی ولید چې لمونځ یې کاوه او د پښې په شا باندې یې د یوې سکې (یا ورغوي) په اندازه تکی وه چې اوبه ورته نه وې رسېدلې، یعنې وچ وه. نو نبي کریم ﷺ ورته امر وکړ چې «أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ»[۲] هم دې اودس راوګرځوي او هم لمونځ.

ب: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې مونږ د نبي کریم ﷺ سره په سفر باندې وو تر دې چې د مکې معظمې او مدینې منورې په منځکښې اوبو ته ورسېدو او د مازدیګر وخت وه، نو ځینې خلک زمونږ څخه وړاندې اوبو ته ورغلي وه چې اودسونه یې کړي وه حال دا چې پوندې یې وچې وې او اوبه ورته نه وې رسېدلې نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ»[۳] یعنې: پوندو ته وَیل (هلاکت) دی چې د اور څخه عبارت دی، پوره کړئ اودسونه، یعنې پوندې ووینځئ:

ج: صحابه وو کرامو ﷺ ټولو اجماع کړې ده چې په اوداسه کښې پښې وینځل فرض دي، یوه صحابي هم ترې مخالفت نه دی کړی یوازې درې کسانو (علي ﷺ، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او أنس ﷺ) ترې مخالفت کړی دی، خو دوی هم د خپل مخالفت څخه نورو صحابه وو کرامو ﷺ ته رجوع کړې ده[۴].

د: یوه صحابي ﷺ هم روایت نه دی کړی چې نبي کریم ﷺ په اوداسه کښې په پښو باندې مسحه کړې ده حال دا چې د پښو وینځل یې تقریباً د تواتر درجې ته رسېږي او دومره صحابه وو کرامو ﷺ یې روایتونه کړي دي چې په دروغو باندې یې توافق محال ښکاري[۵].

هـ: ټول علماء کرام متفق دي چې په اوداسه کښې د پښو په وینځلو باندې هغه څه اداء کېږي چې په اودس کوونکي باندې فرض دي (حتی چې اهل التشیع هم پکښې مخالفت نه کوي).

اما په مسحه کښې اتفاق نشته، یوازې اهل التشیع وايي چې فرض یې پوره شو. لنډه دا چې په پښو وینځلو کښې د فرض اداء کېدل یقیني دي او په مسحه کښې شکي دي، نو په کار دی چې په یقین باندې عمل وکړی شي او بس[۶].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۶؛ تفسیر القاسمي ج۶ ص۱۰۵؛ شرح معاني الآثار ج۱ ص۳۰

(۲) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۳

(۳) شرح معاني الآثار ج۱ ص۳۴

(۴) اعلاء السنن ج۱ ص۴

(۵) تفسیر المظهري ج۳ ص۴۸

(۶) تفسیر القرطبي ج۶ ص۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه متواتر قرائتونه او تطبيق

۱۵ـ ځینو علماوو کرامو د ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ ﴾ په دوه قرائتونو کښې په لاندې ډول تطبيق کړی دی:

الف: چې په زوَر سره لوڅې پښې مرادې دي، او په زېر سره هغه پښې مطلبې دي چې موزو کښې وي[۱]، او په دې کښې د هیڅا اختلاف نشته.

ب: چې په زېر سره هم هغه معنی ورکوي کومه چې په زور سره ورکوي ځکه چې ذکر شوی زېر (جر) د "جر الجوار" په نامه يادېږي[۲] چې د "رُؤُسِكُمْ" د زېر سره د انډيوالی په خاطر ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ ﴾ هم په زېر سره لوستلی کېږي مگر معنی يې د زوَر ځخه د زیر خوا ته نه رااوړي.

ج: چې د زير په صورت کښې د مسح ځخه خفيف وينځل مراد دي[۳]، نو مطلب يې داسې رااوځي چې پښې خفيفې ووينځئ، نه دا چې مسحه پرې وکړئ.

د خفيفو وينځلو معنی په لاندې حديث کښې ډېره ښه ځرگندېږي چې:

النزال ﷺ په یوه اوږده حديث کښې وايي چې علي ﷺ مې وليد چې: «أُوتِيَ بِمَاءٍ فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَرِجْلَيْهِ»[۴] يعنې: اوبه ورته راوړی شوې نو په خپل مخ او په لاسونو باندې يې مسحه وکړه او هم يې خپل سر او خپلې پښې مسحه کړې.

نو ځرنگه چې په ذکر شوي حديث کښې په مخ او لاسونو کښې هم د مسحې لفظ روايت شوی دی نو معلومه شوه چې دلته خفيف وينځل مراد دي.

د: چې په زير سره د وينځلو معنی نه ورکوي بلکې معنی يې موږل دي[۵] يعنې: پښې په موږلو سره ووينځئ.

هـ: بالآخره اهل التشيع وايي چې د زور ځخه هم د زير معنی (مسحه) مراده ده، ځکه چې په دې تقدير باندې ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ ﴾ د ﴿ بِرُءُوسِكُمْ ﴾ په محل باندې عطف دي[۶] او مجرورات خو تول محلاً منصوبات دي د همدې کبله مجرور ته "مفعول به غير صريحي" وايي.

## تطبيق بې اعتراضه نه دی

۱۶ـ مونږ ځکه د تطبيق طريقې غوره نه کړي چې يوه طريقه يې هم بې اعتراضه نه ده، که څوک غواړي چې په اعتراضاتو او جوابونو باندې يې خپل ځان ښه پوه کړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۷].

---

(۱) تفسير المنار ج۶ ص۲۳۵
(۲) التفسير الكبير ج۱۱ ص۱۶۱
(۳) تفسير ابن كثير ج۲ ص۲۶؛ احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۴۶
(۴) شرح معاني الآثار ج۱ ص۳۰
(۵) تفسير القاسمي ج۶ ص۱۱۰
(۶) تفسير نمونه ج۴ ص۲۸۷
(۷) التفسير الكبير ج۱۱ ص۱۶۱؛ روح المعاني ج۶ ص۷۳، ۷۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## کعبین څه معنی؟

١٧_ أهل السنة والجماعة وايي چې: د ﴿ ٱلْكَعْبَيْنِ ﴾ څخه هغه دواړه هډوکي مطلب دي چې د هرې يوې پښې په اړخونو کښې نبغ-نبغ ولاړ دي او د لينګي د بند څخه نمايندګي کوي.
همدغه دواړه هډوکي په فرضي وينځلو کښې شامل دي چې د لايل يې د همدې ايت په شپږمه توضيح کښې تېر شوي دي، بيا ليکلو ته اړتيا نه ګورو.

## د اوداسه ډولونه

١٨_ د احنافو عليهم الرحمة په نزد اودس په پنځه ډوله دی چې مونږ يې دلته صرف په يوه مثال باندې اکتفاء کوو او تفصيل يې د فقهي کتابونو[1] ته پرېږدو:

الف: فرض اودس؛ د لمانځه دپاره، د جنازې دپاره او بالآخره د تلاوت د سجدې دپاره دی.

ب: واجب اودس؛ د کعبې شريفې د طواف دپاره دی.

ج: مستحب اودس هغه اودس دی چې د بل اوداسه د پاسه وکړل شي، خو په دې شرط چې په اول اوداسه باندې يې څه عبادت کړی وي.

د: مکروه اودس؛ دوهم اودس دی خو چې په اول اوداسه باندې يې څه عبادت نه وي کړی او د پاسه پرې بل اودس وکړي.

هـ: حرام اودس دا دی چې په حرامو اوبو باندې اودس وکړي، لکه د غصب يا د يتيم اوبه.

## تطهر څه معنی؟

١٩_ د ﴿ فَٱطَّهَّرُوا ﴾ کلمه په اصل کښې "تَطَهَّرُوا" وه چې اصلاً د "طَهَارَة" څخه اخستله شوې ده او قاعده دا ده چې په يوه کلمه کښې څومره حرفونه زياتېږي په هماغې اندازه يې په معنی کښې هم په کم يا کيف کښې زيادت راځي.

د همدغې قاعدې په بناء احنافو عليهم الرحمة په غسل کښې د خولې او پوزې وينځل فرض ګڼلي دي او دا ځکه چې په خوله او پوزه کښې دوه حيثيته دي:

الف: په دې اعتبار سره، چې په وينځلو سره يې روژه نه ماتېږي، د ظاهري بدن څخه شمېرل کېږي.

ب: او په دې اعتبار سره، چې مواجهه ورباندې نه کېږي باطن ګڼل کېږي.

نو څرنګه چې په اوداسه کښې صرف د ﴿ فَٱغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ ﴾ جمله نازله شوې ده چې محض په وينځلو باندې دلالت کوي او مبالغه پکښې نشته، نو خوله او پوزه د مخ څخه ونه ګڼل شوه او په فرضيت او رکنيت کښې شامل نه شوه.

اما په غسل (لوی اودس) کښې د ﴿ فَٱطَّهَّرُواْ ﴾ جمله نازله شوې ده چې په وينځلو باندې دلالت

---

(١) الفقه الإسلامي وادلته ج١ ص٢٠٨_٢١٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوي او مبالغه پکښې ده: نو خوله او پوزه پکښې ارکان وګڼل شوه.

همدغه مضمون په یوه حدیث شریف سره ډېر ښه تفسیر شوی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي «تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ فَبُلُّوا الشَّعْرَ وَأَنْقُوا الْبَشَرَةَ»[١] یعنې: د هر وېښته څخه لاندې جنابت دی نو وېښتان لامده کړئ (که څه هم د پوزې وېښتان وي) او خپله پښره (مخونه) ښه پاک کړئ (د خولو په شمول).

## د اوداسه او غسل حکمتونه

۲۰_ ځرنګه چې په دې مقام کښې زمونږ څخه توضیحات ډېر اوږده شوه نو د اوداسه او غسل د حکمتونو په باره کښې مو څه ونه لیکل چې محترم لوستونکي زړه تنګي نه شي، که څوک يې شوق لري او په عربي ژبه باندې پوهېږي څېنو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[٢].

## د تیمم څېنې مسائل

۲۱_ ځرنګه چې د ایت شریف وروستنی برخه د تیمم په باره کښې نازله شوې ده او څه معلومات چې مونږ يې لیکل لازم ګڼل هغه مو د الله ﷻ په توفیق د [النساء: ۴۳] ایت لاندې لیکلي دي چې بیا لیکلو ته يې څه اړتیا نه ګورو خو دلته صرف لاندې څو معلومات نور هم وراضافه کوو چې:

دلته الله ﷻ د ﴿ صَعِيدًا طَيِّبًا ﴾ سره د ﴿ مِّنْهُ ﴾ ټکی زیات نازل کړی دی چې ضمیر پکښې "صعیداً طیباً" ته راجع دی او د ﴿ فَامْسَحُوا ﴾ پورې تعلق نیسي.

شوافع رحمهم الله وایي چې ذکر شوی د "مِنْ" توری بعضیه دی. نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې: د پاکیزه خمکې په څه برخو سره خپل مخونه او لاسونه مسحه کړئ. نو هغه شی چې د خمکې د جنس څخه وي خو څه بخرکی ترې په لاس پورې نه نښلي لکه ښویه تیږه. نو په هغه شي باندې تیمم جواز نه لري.

احناف رحمهم الله وایي چې ذکر شوی د "مِنْ" توری د ابتداء دپاره دی او د بعضیت دپاره نه دی[٣]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې باید ستاسو مسحه د پاکیزه خمکې څخه پیل شي چې لاسونه ورباندې ووهئ او بیا پرې خپل اندامونه مسحه کړئ، برابره خبره ده چې ستاسو په لاسونو باندې د پاکیزه خمکې څه بخرکي نښتي وي او که نه. لاندې دوه احادیث د احنافو رحمهم الله تائید کوي:

الف: نبي کریم په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا»[٤]

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص٢٩؛ إعلاء السنن ج١ ص١٣٥

(٢) تفسير المنار ج٦ ص٢٦٠_٢٦٩

(٣) تفسير المظهري ج٣ ص٦٠

(٤) صحيح البخاري ج١ ص٤٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني: او ماته تږوله خمکه هم جومات ګرځول شوې ده او هم پاکوونکې (او ښکاره ده چې ښویه وېره هم د خمکې څخه ده).

ب: یوه ورځې نبي کریم ﷺ صحابه کرامو ﵃ ته د تیمم وهل ورزده کول «فَضَرَبَ النَّبِيُّ ﷺ بِكَفَّيْهِ الْأَرْضَ وَنَفَخَ فِيهِمَا ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ»[1] یعني: نو په دواړو ورغوو باندې یې خمکه ووهله او پوکی یې پکښې وکړ (چې ګرد تري والوزي) بیا یې پرې خپل مخ او خپل ورغوي مسحه کړه. (که د خمکې بخرکي ضرور وی نو نبي کریم ﷺ به پکښې پوکی نه کولی).

## حرج څه معنی؟

۲۲_ په ﴿ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ ﴾ جمله کښې د ﴿ حَرَجٍ ﴾ کلمه د هغه مشقت څخه عبارت ده چې د سړي د وسې څخه پورته وي. لکه چې لاندې دوه ایتونه یې ښه تفسیروي:

الف: ﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ ﴾ [البقرة: ۱۸۵] یعني: الله ﷻ تاسو ته (په تشریعي امورو کښې) د اسانی اراده لري او تاسو ته د سختی اراده نه لري.

ب: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة: ۲۸۶] یعني: الله ﷻ هیڅ نفس نه مکلف کوي مګر د هغه د وسې (توان) په اندازه.

نو په همدې بنا باندې مونږ وایو چې تیمم وهل یو مکلفیت دی، خو حرج نه دی چې د سړي د وسې څخه پورته وي.

## فاقد الطهورین باید څه وکړي؟

۲۳_ هغه چا ته، چې نه اوبه ومومي چې اودس پرې وکړي او نه پاکیزه خمکه چې تیمم پرې ووهي، د فقهاء کرامو په اصطلاح کښې فاقد الطهورین ویل کېږي، یعني هغه څوک چې د دوه پاکوونکو (اوبه، خمکه) څخه په یوه باندې هم برلاسي نه وي، لکه[2]:

الف: چې څوک په داسې ځای کښې بندي وي چې هلته پاکه خمکه نه وي او اوداسه ته یې نه پرېږدي.

ب: چې څوک سوټ بوټ تړلی شوی وي.

ج: چې څوک په الوتکه کښې سور وي او نه اوبه وي او نه د خاورې ګرد.

د: چې څوک په بېړۍ کښې سفر کوي او اوبو ته یې لاس نه رسېږي او ګرد هم نه وي.

هـ: چې د چا ټول بدن په جلدي مرض باندې اخته وي چې نه یې په اوبو باندې وینځلی شي او نه یې په لاس باندې مسحه کولی شي او یا داسې نور.

احناف علیهم الرحمة د فاقد الطهورین په باره کښې لاندې دوه نظره لري:

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۸

(۲) الفقه الإسلامي وأدلته ج۱ ص۴۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول باید سږي د لمانځه صورت اداء کړي چې قبلې ته مخ کړي، او سجده او رکوع وکړي، که څه هم په اشاره سره وي؛ او بدون د قرائت او تشهد څخه، مګر د لمانځه نیت دي نه کوي.

په دغه صورتې لمانځه باندې د فرضو څخه نه خلاصیږي او په وخت سره یې ورباندې قضایي لازمه ده[۱].

دوهم د نوموړي سړي په غاړه باندې لمونځ لازمیږي چې باید په وخت سره یې قضایي راوړي او سمدستي ورباندې د صورتي لمانځه کول نشته، نه په اشارې سره او په نه اصلي بڼې سره[۲].

## یو اویا (۷۱) مسائل

۲۴_ د ذکر شوي شپږم ایت څخه فقهاوو کرامو[۳] یو اویا (۷۱) مسائل استنباط کړي دي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هلته دي مراجعه وکړي.

## کوم مواثیق مراد دي؟

۲۵_ مفسرینو کرامو د ﴿ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِى وَاثَقَكُم بِهِۦٓ ﴾ ډېرې معناوې کړې دي[۴]، لکه:

الف هغه بیعت چې صحابه وو کرامو ﷺ د نبي کریم ﷺ سره په مکه کښې د شپې کړی وه چې د همدغه بیعت په اثر مدینې منورې ته هجرت صورت ونیوه.

ب هغه بیعت چې صحابه وو کرامو ﷺ په حدیبیه مقام کښې کړی وه چې د "بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ" په نامه یادیږي او داسې نور.

مګر مونږ ته داسې بریښي چې دلته به د هر مومن هغه معاهده مطلب وي چې د ایمان راوړلو په وخت کښې یې د الله ﷻ سره وکړي، او یا د ایمان د راوړلو څخه وروسته په کومه خاصه موقع کښې یو ځل بیا تعهد تازه کړي.

په دغه حالت کښې که څه هم څوک په خوله باندې ﴿ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ ونه وایي مګر د هر متعهد د حال څخه ذکرې شوې کلمې د ورایه ښکاري یا په بل عبارت معاهده کول په حقیقت کښې د "سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا" څخه په غیر بل شی نه دی.

مونږ ښکه دغه معنی خوښه کړه چې د قیامت د ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته شامله شي. څه لرې نه ده چې مفسرینو کرامو به ذکر شوې صورتونه د مثال په توګه لیکلې وي، نه د حصر په توګه.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُواْۚ ٱعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا

(۱) الفقه على المذاهب الاربعة ج۱ ص۱۶۶
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۸۰
(۳) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۹۲_۳۹۶
(۴) زاد المسير ج۲ ص۲۴۸، البحر المحيط ج۴ ص۱۹۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تَعۡمَلُونَ ۝٨ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٞ ۝٩
وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ۝١٠ ﴾

[۸] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو خاص د الله ﷻ دپاره کلک ودرېدونکي (او) په انصاف سره شاهدي ورکوونکي شئ، او په تاسو باندې دې د یوه قوم سره دښمني د دې باعثه نه شي چې تاسو عدل ونه کړئ.

(ای مؤمنانو!) تاسو عدل وکړئ، دا عدل پرهېزګارۍ ته ډېر نژدې دی (سړی متقي جوړوي)، او د الله ﷻ څخه ووېرېږئ. یقینًا الله ﷻ په هغه شي باندې خبردار دی چې تاسو یې کوئ.

[۹] الله ﷻ د هغو کسانو سره وعده کړې ده چې دوی ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي (دا چې) دوی لره بښنه او لوی أجر دی.

[۱۰] او هغه کسان چې کافر شوي دي او زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي، همدغه کسان د دوزخ اندېوالان دي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه احکام بیان شوي وه چې د مسلمانانو په افرادو پورې یې اړه درلوده، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه اجتماعي احکام بیانېږي چې ذات البیني حیثیت لري او د بله پلوه د شرعي احکامو اخروي ثوابونه او اجرونه ذکر شوي دي.

علاوه پر دې، هلته په تعهداتو باندې د وفاکولو امر شوی وه، او دلته د وفاکولو بنسټ ښودل کېږي چې تاسو په خپلو تعهداتو باندې په هغه وخت کښې کلک ودرېدلی شئ چې په انصاف او عدالت باندې کلک ودرېږئ.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای مؤمنانو! څرنګه چې الله ﷻ ستاسو ضروریات په هره خوا کښې پوره کړي دي، او په هر ځای کښې چې تاسو تشریع ته ضرورت درلود، هلته یې درته احکام نازل کړي دي.

لنډه دا چې اسلام یوازې ستاسو انفرادي اړخونه په نظر کښې نه دي نیولي، بلکې ستاسو اجتماعي قوانینو ته هم شامل دي ترڅو تاسو په ښه خوږه فضاء کښې ژوند وکړئ، او ترڅو تاسو پوه شئ چې د اسلام دین یقینًا چې کامل دین دی.

نو د اجتماعي قوانینو څخه دا هم ده چې تاسو خاص د الله ﷻ دپاره په انصاف سره په شهادت باندې په دوامداره توګه ښه په کلکه ولاړ اوسئ، که څه هم دغه شهادت ستاسو په خپلوانو، دوستانو او یا هم ستاسو د خپلو ځانونو په ضرر باندې تمامېږي، همدارنګه د خپلو دښمنانو په باره کښې هم د انصاف څخه تېر نه شئ چې د هغوی سره کینه درباندې د دې باعثه شي چې عدالت د پښو لاندې کړئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای مؤمنانو! هر شی خپل ځای لري، د خپلوانو سره صله رحمي واجب شی دی خو هسې نه چې په بې انصافه شهادت باندې هم د صله رحمۍ ګومان وکړئ. همدارنګه په ځینو مواقعو کښې تاسو ته د دښمنۍ اجازه شته مګر هسې نه چې بې انصافي هم روا وګڼئ؛

لنډه دا چې په هر حال او هر ځای کښې عدل وکړئ چې همدا عدل، تقوی او دینداری ته نږدې کوونکي دی، ځوک چې په عدل او انصاف باندې همېشه والی کوي هغوی په حقیقت کښې خپل ځانونه په خپله ولکه کښې ساتي او ځانونه ترې نه بې اداري کېږي. نو په نتیجه کښې د دغسې خلکو ټول کارونه په تقوی باندې اتکا کوي او لا زیات توفیق ترلاسه کوي.

۳_ ای مؤمنانو! په پټه او ښکاره د انصاف مراعات وکړئ. که خپله بې انصافي د خلکو څخه پټه کړئ نو الله ﷻ خو ستاسو په ټولو کړو وړو باندې خبردار دی، د ده ﷻ څخه خو یې نه شئ پټولی.

۴_ ای مؤمنانو! د اسلامي قوانینو په تعمیل کښې، لکه څنګه چې تاسو په دنیا کښې د خوشالۍ سره مخ کېږئ همدارنګه په آخرت کښې هم زښتې ډېرې ګټې لري. او دا څکه چې الله ﷻ د مؤمنانو نېکوکارانو سره وعده کړې ده چې هم به ورته ګناهونه وبښي او هم به لوی اجرونه ورکړي.

بالمقابل هغه کسان چې زمونږ په احکامو باندې کافر شي او هم زمونږ د ایتونو تکذیب وکړي، همدغه خلک د اور اندیوالان دي، چې هلته به همېشه وي.

اما ځوک یې چې تکذیب ونه کړي خو عملي یې هم نه کړي، دوی ته هم دوزخ شته خو د دوام په توګه نه، بلکې په موقته توګه.

## توضیحات

۱_ د [النساء:۱۳۵] ایت شریف لاندې مونږ هغه اسباب مفصل لیکلي دي کوم چې په حقه شاهدي ورکولو کښې د سړي د انحراف باعث جوړېږي، بیا لیکلو ته یې حاجت نه وینو، مګر دلته ورباندې لاندې څو مطالب وراضافه کوو:

الف: په دې ایت شریف کښې (چې اوس د بحث لاندې دی) د شهادت د انحراف یوه بله وجه هم ښودلې شوې ده چې ډېر خلک ورباندې مبتلا دي، هغه دا چې شهادت ته د دښمنۍ او عداوت د کبله د عدالت څخه انحراف ورکوي او حقه شاهدي نه وایي، نو باید چې مسلمانان ترې ځانونه وساتي.

ب: د شهادت د انحراف یوه بله وجه هم شته چې په هغې باندې هم ډېر خلک ککړ دي، هغه دا چې د انحراف په مقابل کښې رشوت اخلي او خپل ځانونه د الله ﷻ د غضب لایق جوړوي، العیاذ بالله.

ج: لکه څنګه چې مونږ مکلف یاستو چې د شهادت په ورکولو کښې انحراف ونه کړو همدارنګه باید په شاهد جوړېدلو کښې هم د انصاف او عدالت څخه تېر نه شو. همدا موضوع نبي کریم ﷺ په لاندې حدیث کښې ډېره ښه تمثیله کړې ده چې: یوه ورځې بشیر بن سعید ﷜ د نبي کریم ﷺ سره په لاندې ډول سوال جواب وکړ:

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بشير ﷺ: اې د الله رسوله! ما خپل زوی ته چې زما د عمرة بنت رواحة څخه دی څه شی (غلام) ورکړی دی، مګر میرمنه راته وايي چې په هغه باندې نبي کریم ﷺ شاهد ونیسه، هغه ده چې ته یې شاهد اوسې.

نبي کریم ﷺ: ایا نورو اولادونو ته دې هم همدغسې څه شی (غلام) ورکړی دی؟

بشير ﷺ: نورو اولادونو ته مې نه دی ورکړی.

نبي کریم ﷺ: «فَاتَّقُوا اللهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ»[1] یعنې: تو د الله ﷻ څخه ووېرېږئ او د خپلو اولادونو په منځکښې عدل او انصاف کوئ او نبي کریم ﷺ په بې عدالتۍ باندې د شهادت تحمل ونه کړ چې شاهد جوړ شوی وی.

## د شهادت معناوي

۲ـ شهادت لاندې ډېرې معناوي لري[2]، او ایت شریف ټولو ته شامل دی:

الف: د قاضي په وړاندې په منکر باندې شهادت ورکول د شهادت مشهوره معنی ده چې د [البقرة ۲۸۱] ایت لاندې یې پوره بیان تېر شوی دی.

ب: شهادت په معنی د اقرار سره لکه چې د [النور ۶] ایت کښې د لعان د اقرارونو څخه په شهادتونو باندې تعبیر شوی دی، او یا په بل عبارت: دغه اقرارونه په منکر باندې شهادت نه دی بلکې د خپل ځان د پاره اقرار دی.

ج: شهادت په معنی د اخبار سره لکه چې الله ﷻ کافرانو په حال کښې فرمايي چې: ﴿ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلْكُفْرِ ﴾ [التوبة ۱۷] یعنې په داسې حال کښې چې په خپل کفر باندې شاهدي ویونکي (اقرار کوونکي) وي.

د: شهادت په معنی د حکم سره لکه چې الله ﷻ د یوسف ؏ د برائت په باره کښې فرمايي چې: ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا ﴾ [یوسف ۲۶] یعنې: د هغې ښځې چې یوسف ؏ ورباندې متهم شوی وه، د اهل څخه یوه شاهد شاهدي ورکړه (حکم یې وکړ).

هـ: بالاخره زموږ په نزد په امتحانونو کښې د درجاتو ټاکل او په شوراګانو یا انتخاباتو کښې خپله رایه ښکاره کول هم د شهادتونو څخه ګڼل کېږي، نو باید چې خوک یې کښې د انصاف او عدالت څخه تېر نه شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې د [النساء ۱۳۵] ایت او د همدې ایت چې اوس د بحث لاندې دی، ځینې کلمې وروسته او ځینې وړاندې نازلې شوې دي، د ...

---

(۱) صحيح البخاري ج ۱۲ ص ۳۵۲

(۲) مفردات الراغب ص ۲۶۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوګه دلته ﴿ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ ﴾ نازلې شوي دي او همدغه کلمات دلته ﴿ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ ﴾ نازلې شوي دي؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د کلماتو د ترتيب تغير ته څه وجې ليکلي دي[1]، مګر مونږ ته داسې برېښي چې د دواړو ايتونو د کلماتو په ترتيب کښې به د تفنن في العبارة قانون په نظر کښې نيولی شوی وی چې د بلاغت په علم کښې پوره څېړل شوی دی، په همدې قانون باندې د ﴿ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ٱعْدِلُوا۟ ﴾ کلمات هم قياس کړئ او دا ځکه که تفنن في العبارة مطلب نه وی نو د ﴿ بِٱلْقِسْطِ ﴾ سره خو "أن تقسطوا، اقسطوا" ښه مناسب وه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ معنی داسې کېږي چې عدل کول تقوی ته ښه نژدې دي. حال دا چې عدل په تقوی کښې شامل دی، نه دا چې ورنژدې دی؟

مونږ وايو چې: دلته د تقوی څخه متقي جوړېدل مطلب دی. نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې عدل او انصاف د متقي جوړېدلو دپاره ډېر نژدې سبب دی او هم د نورو نېکو کارونو دپاره د توفيق موندلو ستر عامل دی، هر مسلمان چې عادل وي نو هغه به ضرور د الله ﷻ څخه ډارېږي.

علاوه پر دې، هر يو عدل خو په تقوی کښې شامل نه دی، نه ګورئ چې کافر هم په ځينو شيانو کښې عادل جوړېدلی شي مګر متقي نه شي جوړېدلی.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓا۟ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ ﴾

[۱۱] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! په تاسو باندې د الله ﷻ نعمت درپه زړه کړئ کله چې يوه قوم قصد وکړ چې تاسو ته خپل لاسونه دراوږده کړي خو الله ﷻ د هغوی لاسونه ستاسو څخه منعه (لنډ) کړه (نجات يې درکړ). او د الله ﷻ څخه وډار شئ، او خاص په الله ﷻ باندې دې نو هرو مرو مؤمنان توکل وکړي.

## ارتباط

په وړاندې ايتونو کښې الله ﷻ په عدالت باندې د کلکو ودرېدلو توصيه کړې وه حتی د دښمنانو سره هم، نو څه لرې نه ده چې څوک اشتباه وکړي او ووايي چې د دښمنانو بلکې د کافرانو ذلت او په دوی باندې برلاسي په کار ده که څه هم عدالت او انصاف د پښو لاندې شي. نو الله ﷻ په همدې ايت شريف کښې د ذکر شوي اشتباه جواب ته اشاره وکړه چې خلاصه يې داسې کېږي:

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۸۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ ای مؤمنانو! د الله ﷻ بې شمېره نعمتونه عموماً او د هغه وخت نعمت خصوصاً درپه زړه کړئ چې يوه کافر قوم نيت کړی وه چې تاسو ته لاس دراوږد کړي او د منځه مو يوسي او يا مو د ذلت سره مخامخ کړي، خو الله ﷻ د هغوی د تسلط څخه تاسو ته نجات درکړ او بالمقابل يې تاسو په هغوی باندې مسلط کړئ.

نو کله چې خپل ذکر شوی نجات په ياد کړئ نو پوه به شئ چې د کافرانو ذليله کول او ستاسو برلاسي د الله ﷻ په واک او اختيار کښې ده. په هر حال، د الله ﷻ اطاعت وکړئ او د عدل او انصاف څخه مه تېرېږئ.

يا په بل عبارت: هغه وخت درپه زړه کړئ چې تاسو کمزوري وئ او د نورو خلکو څخه به د عدل او انصاف په تمه ناست وئ، دغه حالت مو الله ﷻ تبديل کړ او داسې نعمت يې درپېرزو کړ چې قوت ستاسو په لاس کښې دی او نور خلک درڅخه د عدل تمه کوي.

نو په هر حال، د الله ﷻ څخه وډار شئ او بې انصافي حتی د دښمن سره هم مه کوئ. په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړئ، په نيرنگ او چل باندې اتکا مه کوئ.

۲_ لنډه دا چې د قيامت د ورځې پورې دې ټول مؤمنان هرو مرو خاص په الله ﷻ باندې توکل وکړي او خامخا دې د الله ﷻ د هدايتونو حفاظت وکړي.

## توضيحات

۱_ په دې خبره کښې، چې په ذکر شوي ايت شريف کښې الله ﷻ مؤمنانو ته د کوم يوه نعمت د يادونې امر کړی دی، مفسرينو کرامو متعددې واقعې لېکلې دي چې لاندې څو واقعې مونږ د بېلگې په توگه، د په لنډ ډول ليکو:

الف: نبي کريم ﷺ چې کله مدينې منورې ته هجرت وکړ نو هلته يې د يهودو سره معاهده وکړه. د معاهدې په موادو کښې دا خبره هم شامله وه چې که په هر طرف باندې ديت راغلی نو بل طرف به يې په خلاصولو کښې برخه اخلي.

بله ورځ په "بير معونه" مقام کښې کافرانو يو صحابي شهيد کړ او دوه تنو صحابه وو ترې نجات وموند، همدغو دواړو صحابه وو ته د کافرانو د قوميانو څخه دوه تنه چرته په لاس ورغله چې په قصاص کښې يې دواړه ووژل حال دا چې دغو دواړو د نبي کريم ﷺ څخه امان اخستی وه خو ذکر شوي دواړه صحابه کرام ﷺ ورباندې خبر نه وه.

نبي کريم ﷺ وغوښتل چې د همدغو دوه تنو وژل شوو ديت ورکړي کوم چې په سهوه کښې وژلې شوي وه. همدا موضوع يې بني نضيرو يهودو ته يووړه، ترڅو ورسره دوی د پخوانې تعهد په بنا په ديت کښې برخه واخلي، هغوی په ښکاره ډېره ښه وضعه وکړه خو يوه نفر ته يې وظيفه ورکړه چې به

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ باندې د بام د سر څخه يوه ډېره درغړي (د مېچن پل) راوغورزوي او شهيد يې کړي. خو الله ﷻ نبي کريم ﷺ د پلان څخه خبر کړ او نجات يې ورکړ؛ چې د مسلمانانو دپاره لوی نعمت وه[1].

ب: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يو کافر ورغی چې "غورث" نومېده او د نبي کريم ﷺ څخه يې توره په دې بهانه واخستله چې زه يې ګورم. سمدستي يې توره د تيکي څخه راوويسته او نبي کريم ﷺ يې مخاطب کړ چې اوس به دې څوک راڅخه خلاص کړي حال دا چې ويستلې توره مې په لاس کښې ده؟.

نبي کريم ﷺ ورته جواب ورکړ چې الله ﷻ به مې درڅخه خلاص کړي. نو "غورث" سمدلاسه توره بېرته په پوښ کښې ننويسته او نبي کريم ﷺ ته يې ورکړه او نبي کريم ﷺ د وژلو څخه نجات ومونده[2].

ج: يوه ورځې نبي کريم ﷺ خپله توره په ونه کښې زوړنده کړې وه او په يو ځای کښې يوازې ويده وه په داسې حال کښې چې صحابه کرام ؓ ترې په ونو کښې خواره واره شوي وه، په عين حال کښې يوه اعرابي ذکره شوې توره واخستله او په نبي کريم ﷺ باندې ورتاو شو او ورته يې وويلې چې اوس به دې څوک راڅخه خلاص کړي؟، درې ځله يې دا جمله تکرار کړه مګر نبي کريم ﷺ به په هر ځل باندې جواب ورکاوه چې الله ﷻ به مې درڅخه خلاص کړي. نو اعرابي توره په تيکي کښې داخله کړه او د نبي کريم ﷺ ترڅنګ ېخ کېناست[3].

د: په يوه غزا کښې کافرانو قصد کړی وه چې کله نبي کريم ﷺ او صحابه کرام ؓ د جماعت په لمانځه باندې ودرېږي نو مونږ به پرې حمله وکړو او ټول به د منځه يوسو. نو الله ﷻ صلاة الخوف نازل کړ، د کافرانو د حملې مخه يې ونيوه او مسلمانانو ته يې نجات ورکړ[4].

۲_ مونږ ته داسې برېښي چې مفسرينو کرامو به د الله ﷻ د نعمتونو يو- يو مثال ښودلی وي او حصر به يې مطلب نه وی، نو بنا په دې، ايت شريف هغو ټولو ځايونو ته شامل دی چې هلته صحابه کرام ؓ د کافرانو د تسلط لاندې راغلي وه خو الله ﷻ قدرت نه وه ورکړی چې د مسلمانانو بېخ او بنياد وباسي، او يا يې په عين وخت کافران مغلوب جوړ کړي وه. لاندې مثالونه يې نور هم ولولئ:

الف: په مکه معظمه کښې صحابه کرام ؓ د کافرانو د تسلط لاندې وه چې استقلال يې نه درلود او کافرانو کوښې شو چې ټول يې پوپنا کړي وی. خو الله ﷻ ترې د دوی لاسونه په شا ووهل، آن تردې چې هجرت يې وکړ او د استقلال خاوندان شوه.

ب: د بدر په غزا کښې هم الله ﷻ د کافرانو لاسونه لنډ کړه او ملاوې يې ورماتې کړې.

---

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۱۴۷ : المحرر الوجيز ج۵ ص۵۴

(۲) أسباب النزول للواحدي ص۱۲۸

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۰۷

(۴) الدر المنثور ج۲ ص۶۵۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د احد په غزا کښې هم الله ﷻ کافرانو ته وسه ورنه کړه چې مسلمانان (صحابه کرام ﵃) پوپنا کړي، که څه هم د مات شوي لښکر پوپنا کول ډېر اسان کار وه.

د: همدارنګه د خندق په غزا کښې هم صحابه کرام ﵃ د کافرانو د محاصرې لاندې راغلي وه، مګر کافران نااميده بېرته ستانه شوه.

ه: داسې نور ځايونه زښت ډېر دي، چې الله ﷻ تولو ته اشاره کوي او فرمايي چې: ﴿ لَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ﴾ [التوبة: ۲۵] يعنې: يقيناً الله ﷻ تاسو سره په زښتو ډېرو ځايونو کښې کومک کړی دی.

## يادونه

۳_ که څه هم مونږ د [النساء: ۷۱] ايت لاندې د توکل په باره کښې ضروري معلومات ليکلي دي، مګر په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو[1] د توکل کلمه ډېره ښه شرحه کړې ده او ډېر مزه ناک بحث يې پکښې کړی دی، هيله ده چې شائقين يې هلته مراجعه وکړي.

﴿ وَلَقَدۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمۡۖ لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٢﴾ فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ لَعَنَّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوبَهُمۡ قَٰسِيَةٗۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٖ مِّنۡهُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱصۡفَحۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣﴾ ﴾

[۱۲] او بې شکه الله ﷻ د بني اسرائيلو څخه کلک تعهد اخستی وه او د همدوی څخه مو (په تعهداتو باندې) دولس تنه څارونکي ټاکلي وه، او (هم) الله ﷻ (دوی ته) ويلي وه چې يقيناً زه تاسو سره يم

(او دا يې هم ورته ويلي وه چې) که تاسو لمونځونه ودروئ، او زکاتونه ورکړئ، او زما په (ټولو) پيغمبرانو باندې (په درستو معناوو کښې) ايمان راوړئ او (په اطاعت سره) د دوی تعظيم وکړئ، او

(۱) تفسير القاسمي ج ۶ ص ۱۲۰_۱۳۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(بالآخره) الله ﷻ ته حسنه قرض ورکړئ (په اخلاص سره خیراتونه وکړئ، بلکې په خپلو تعهداتو باندې ودرېږئ) نو خامخا هرو مرو به ستاسو څخه ګناهونه ورژوم او خامخا هرو مرو به تاسو داسې جنتونو ته ورداخل کړم چې لاندې ترې (څلور) ویالې بهېږي.

نو ستاسو څخه هرڅوک چې د ذکرو شوو (تاکیداتو او ترغیباتو) څخه وروسته هم کافر شي (د خپلو تعهداتو ساتنه ونه کړي)، نو یقیناً هغه سمه لاره ورکه کړه.

[۱۳] نو په سبب د ماتولو د دوی سره خپل کلک عهد لره، مونږ دوی معلونان کړه او د دوی زړونه مو سخت وګرځول (توفیق مو ترې واخست).

(نو د همدې کبله) دوی د الله ﷻ کلمات د خپلو- خپلو ځایونو څخه تغیروي (تر نن ورځې پورې په همدې کار باندې مبتلا دي). او (همدارنګه) دوی د هغه شي څخه خپله برخه هېره کړه چې دوی ته پرې پند ورکړی شوی وه (په شریعت باندې یې عمل ونه کړ). او (همدارنګه) ته به (ای پیغمبره!) په دوامداره توګه د دوی څخه په (تازه تازه) خیانت باندې اطلاع مومې (چې دوی د خیانت څخه لاس نه اخلي) مګر ډېر لږ خلک د دوی (لکه عبد الله بن سلام).

نو دوی ته عفوه وکړه او مخ ترې تاو کړه (ترڅو چې جزیه درکوي. دا کار ستاسو یو احسان دی) یقیناً الله ﷻ احسان کوونکي خوښوي.

## د ارتباط وجوه

۱_ د سورت د اول سر څخه د یوولسم ایت تر آخره پورې الله ﷻ محمدي (ﷺ) امت دې ته متوجه کړ چې په ټولو عهدونو باندې وفا وکړئ او عقیدةً او عملاً د خپل کامل دین احکام پیاده کړئ. په دې ایتونو کښې یې د عهد ماتونکو (یهودو او نصاراوو) حال بیان کړی دی چې په څه غضب باندې ککړ شوه، ترڅو مونږ ترې عبرت واخلو او د هغوی په څېر په بد عاقبت باندې اخته نه شو.

۲_ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د زښتو ډېرو نعمتونو یادونه کړې وه چې ستاسو دین مو درته کامل کړ او ستاسو قوت مو پیاوړی کړ، د کافرانو څخه نن ورخ مه دارېږئ، په راتلونکي کښې هم مونږ تاسو ته د پاکۍ اراده لرو او د دې اراده نه لرو چې تاسو په حرج کښې واچوو؛ او داسې نور فضائل یې څرګند کړه. نو د دې خبرې خطره وه چې په همدې امت کښې هم څوک د احساناتو او نعمتونو څخه معکوسه نتیجه واخلي او د اهل الکتابو په سرنوشت اخته شي، نو ځکه په دې ایتونو کښې د اهل الکتابو څه حالات د عبرت دپاره بیان شوه.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! د اهل الکتابو څخه د کلکو عهدونو اخستل او بیا د هغوی عهد ماتونې د عبرت دپاره په لاندې تفصیل سره ولولئ:

۱_ لکه څنګه مو چې ستاسو څخه کلک تعهدات اخستي وه چې ﴿ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ ﴾

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[المائدة: ۷] یعنې: د الله ﷻ هغه کلکه وعده هم درپه زړه کړئ چې تاسو سره يې پرې ټينګه کلکوالی کړی دی. همدارنګه مو د بني اسرائيلو (اهل الکتابو) څخه هم اخستې وه.

۲_ لکه څنګه چې تاسو ته امر شوی دی چې: ﴿ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِ ﴾ [المائدة: ۱] په ټولو عهدونو باندې وفا وکړئ. همدارنګه هغوی ته هم په عهدونو باندې د وفادارۍ امر شوی وه.

۳_ لکه څنګه مو چې تاسو ته امر کړی دی چې: ﴿ وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ ﴾ [آل عمران: ۱۰۴] یعنې: او هرومرو دې ستاسو څخه یوه ډله (داسې) شي چې خير ته بلل کوي او په معروف باندې امر کوي او د منکر څخه منعه کوي. همدارنګه لکه څنګه چې هغوی دولس قومونه وه نو د تعهداتو د څارنې دپاره مو ترې دولس تنه نقيبان (څارونکي) ټاکلي وه ترڅو څوک تعهدات د پښو لاندې نه کړي.

۴_ لکه مو چې تاسو ته ويلي دي چې: ﴿ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ ﴾ [محمد: ۳۵] یعنې: او الله ﷻ تاسو سره دی. هغوی ته مو هم ويلي وه چې زه په کومک او نصرت سره تاسو سره يم.

۵_ هغوی ته مو هم وعده ورکړې وه چې که تاسو لمونځونه ودروئ، زکاتونه ورکړئ، زما په پيغمبرانو خپلو ايمانونو ته ادامه ورکړئ، د سنتو په پيروۍ سره يې تعظيم وکړئ او بالآخره په اخلاص سره د خپلو حلالو مالونو څخه خيراتونه ورکړئ، نو ګناهونه به درڅخه ورژوم او داسې جنت ته به مو داخل کړم چې لاندې به ترې څلور ويالې بهيږي.

همدارنګه وعده مو تاسو ته هم درکړې ده چې: ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴾ [المائدة: ۹] یعنې: الله ﷻ هغو کسانو ته وعده ورکوي چې ايمان يې راوړی وي او نيک عملونه يې کړي وي (داسې وعده) چې دوی لره مغفرت او لوی اجر دی.

۶_ هغوی مو هم خبر کړي وه چې هرڅوک د خپلو تعهداتو د تاکيد څخه وروسته کفر اختيار کړي نو سمه لاره يې خطا کړه او په هره کنده کښې چې ولوېده هلته به لوېدلی وي.

همداسې خبر مو تاسو ته هم درکړی دی چې: ﴿ وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ﴾ [الإسراء: ۷۲] یعنې: او هر څوک چې په دغې دنيا کښې ړوند وي (تعهدات د پښو لاندې کړي) نو هغه په آخرت کښې هم ړوند دی او د لارې د حيثه ورک شوی دی (ډېر ګمراه دی).

## د تعهداتو نتيجه

۷_ په نتيجه کښې اهل الکتابو خپل تعهدات مات کړه، پيغمبران يې ووژل، سپکې سپورې خبرې يې ورته وکړې. لنډه دا چې عقيدةً او عملاً يې خپل تعهدات د پښو لاندې کړه

۸_ نو مونږ دوی ته د عهد ماتونې سره موافقې جزاګانې ورکړې چې تفصيل يې دا دی:

الف: دوی مو د خپل رحمت څخه لرې کړه او خپل حمايت مو ترې بېرته واخست.

ب: د دوی زړونه مو کلک او سخت وګرځول چې د نېکۍ استعداد يې د خاورو لاندې شو.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د همدې کبله دوی په ګناهونو او جنایتونو کښې زښت زیات جرئت پیدا کړ حتی چې د الله ﷻ کلام ته یې تحریف ورکړ چې نه یې کلمات روغ پرېښوده او نه معنی.

کلمات یې د خپلو خایونو څخه تغیر کړه او په عوض یې نور کلمات کېښوده، چې دا د الله ﷻ کلام دی؛ او خپل فاسد تاویلونه یې د کلام الله د تفسیر په نامه یاد کړه، او لا لګیا دي همدا کار اوس هم کوي.

د: دوی چې په کوم شي باندې مامور شوي وه چې په یاد یې وساتي او د عمل لاندې یې راولي، هغه یې ټول هېر کړه او پښې یې ورباندې کېښودلې، تا به ویل چې نه دوی ته د الله ﷻ احکام نازل شوي وه او نه دوی څه مکلفیت درلوده.

هـ: په دوی کښې د خپلو پخوانیو عادات او خواص په موجوده زمانه کښې هم د ورایه ښکارېږي څکه چې دوی د هغوی وفادار شاګردان او حلالي اولادونه دي.

د همدې کبله دوی په دایمي توګه خیانت کوي او په هیڅ تعهد باندې نه ودرېږي لکه چې د خندق په غزا کښې د خپل تعهد په خلاف ستاسو په مقابل کښې د مشرکانو سره ملګري شوه.

او ای پیغمبره! په راتلونکي کښې به ته او ستا امت د همېشه دپاره د دوی په خیانتونو باندې مطلع کېږئ چې نن یې دا خیانت کړی دی او سبا دا خیانت کوي، مګر د دوی هغه کس به خیانت ونه کړي چې د وخت څخه استفاده وکړي او مسلمان شي، خو په دوی کښې داسې کسان ډېر لږ دی، لکه عبد الله بن سلام ﷺ او څیني نور.

۹_ نو ای پیغمبره! د دوی څخه شخصي انتقام مه اخله او عفوه ورته وکړه، د دوی د سپکو سپورو خبرو په مقابل کښې ورته حوصله وکړه، او له دوی څخه مخ واړوه، خپل وخت ورسره په ناندریو مه ضائع کوه، مګر دا د دې کبله نه چې دوی یې مستحق دي بلکې د دې کبله چې دا د دوی سره یو ډول احسان دی او الله ﷻ احسان کوونکي خوښوي، که نه نو دوی خو په هر وخت کښې د انتقام جوګه دي.

## توضیحات

۱_ څینو مفسرینو کرامو[1] لیکلي دي چې په دې مقام کښې د بني اسرائیلو څخه یوازې یهود مراد دي څکه چې په راتلونکي درېم ایت شریف کښې د نصاراوو مستقل ذکر شوی دی. مګر مونږ ته داسې برېښي چې دلته به د نصاراوو څخه په غیر د بني اسرائیلو ټولې ډلې ټپلې مرادې وي، که څه هم یهود نه وي.

مونږ څکه دا معنی واخستله چې یقیني معلومه نه ده چې په هغوی کښې به د یهودو او نصاراوو څخه په غیر نورې مذهبي ډلې نه وي جوړې شوې. او په بني اسرائیلو سره ترې څکه تعبیر وکړی شو ترڅو څرګنده شي چې د دې سره-سره چې دوی د پیغمبر (یعقوب ﷺ) اولاده ده، د الله ﷻ احکام

[1] تفسیر القرطبي ج۴ ص۱۴۷

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې د پښو لاندې کړه، په کار خو دا وه چې د خپلو اسلافو مناقبو ته يې کتلي وی او دغسې کارونه يې نه وی کړي.

## نقيب څه معنی؟

٢ـ د نقيب کلمه د "نقب" څخه اخستله شوې ده، او "نقب" لاندې دوه معنی درلودلی شي[1]
الف د دېوال يا پوستکي سوري کولو ته وايي، بالمقابل د لرګي سوري کولو ته "ثقب" وايي
ب د تفتيش او پلټنې په معنی باندې هم استعمال شوی دی چې په همدې اعتبار سره ترې د "منقبة" کلمه هم اشتقاقه شوې ده چې جمعه يې مناقب (فضائل) راځي او دا ځکه ترڅو پورې چې سړی د چا په هکله ښه څېړنه ونه کړي د هغه فضائل هم نه شي معلومولی
په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده[2] او دا ځکه چې کله بني اسرائيل د فرعون د تسلط څخه خلاص شوه نو مو ی ﷺ د دوی د ښه انتظام دپاره دولس نفره د څارونکو په شکل د ټاکل ترڅو هر يو څارونکی د نژدې څخه د خپل قوم څارنه وکړي او د عهدماتونې او فسق او فجور مخه يې ونيسي، دوی ټول دولس قومه وه نو څارونکي يې هم دولس نفره شوه.

## يادونه

٣ـ موسی ﷺ دولس نقيبان ټاکلي وه خو يوازې دوه نفرو خپله وظيفه ترسره کړه او نور لس ته ناکام شوه، لکه چې په راتلونکي دروېشتم [٢٣] ايت کښې يې بحث راروان دی.
عيسی ﷺ هم ـد يو روايت په بناـ دولس تنه نقباء غوره کړي وه چې د حواريينو په نامه يادېږي، چې پوره بحث يې د [آل عمران: ٥٢] ايت لاندې تېر شوی دی، خو په دوی کښې يوازې يو نفر بدعهدي وکړه چې د عيسی ﷺ دپاره جاسوس جوړ شو، او نور يوولس تنه وفادار پاتې شوه.
نبي کريم ﷺ هم په ليلة العقبة کښې دولس تنه نقيبان ودرولي وه خو الحمد لله ټولو په ښه مېړانه په عهدونو باندې وفا وکړه او يوه هم خيانت ونه کړ[3].

## سوال جواب

٤ـ که څوک وايي چې: بني اسرائيل خو د عهد اخستنې په وخت کښې مؤمنان وه، نو د ايمان په راوړلو باندې د عهد اخستل ﴿ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي ﴾ څه معنی لري؟
مونږ وايو چې: د همدې جملې معنی دا ده چې تاسو داسې عهد وکړئ چې راتلونکي ټول پيغمبران آن د آخر الزمان پيغمبر پورې ټول به منئ؛ او همدې ډول ايمان ته به ادامه ورکوئ

(١) مفردات الراغب ص٥٢٤
(٢) روح المعاني ج٦ ص٨٥
(٣) تفسير القاسمي ج٦ ص١٣٦

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تعزیر څه معنی؟

۵ـ د ﴿ وَعَزَّرْتُمُوهُمْ ﴾ جمله د تعزیر څخه اشتقاق شوې ده، تعزیر دوه معنی لري چې یوه نصرت (کومک) ده، بله تعظیم او توقیر ده[١].

زمونږ په خیال په دې مقام کښې دواړه معناګانې مرادې دي چې، تاسو به د پیغمبرانو د تعظیم څخه ډک نصرت کوئ، هسې نه چې هغه متل دربانديې صادق شي چې وايي: اوزې پې دې راکړې خو د پچو ډکې.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ خو په دې مقام کښې امر کوي چې ﴿ فَٱعْفُ عَنْهُمْ ﴾ د دوی (اهل الکتابو یهودو) څخه عفوه وکړه او په بل ځای کښې یې ورسره په وسلوال جهاد امر کړی دی لکه چې فرمايي: ﴿ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلْحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُواْ ٱلْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴾ [التوبة:۲۹] یعني: تاسو د هغو خلکو سره وسلوال جهاد وکړئ چې نه په الله ﷻ ایمان راوړي او نه په وروستنۍ ورځې (او بالآخره) نه هغه څه حرام ګڼي چې الله ﷻ او د ده ﷺ پیمغبر ﷺ حرام کړي وي او نه دینداري کوي حقه دینداري، (دغه کسان عبارت دي) د هغه کسانو څخه چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی، ترهغه (ورسره وجنګیږئ) چې دوی په داسې حال کښې جزیه ورکړي چې د ذلت خاوندان وي.

نو پوښتنه دا ده چې په ذکر شوو دواړو حکمونو (عفوه او قتال) کښې کوم یو منسوخ دی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې دواړه حکمونه یو تربله منافي نه دي حتی چې د یوه حکم په منسوخیت باندې قائل شو، بلکې دلته د عفوې معنی داده چې ترهغه اهل الکتاب د وسلوال جهاد څخه معاف کړئ ترڅو چې تاسو ته د ذلت په حال کښې جزیه درکوي. او دا یې مطلب نه دی چې په هر حال هغوی ته معافي وکړئ.

مفسرین کرام وايي چې په لاندې دوه صورتونو کښې باید سړی په نسخه باندې قول وکړي او بس:

الف: چې د شارع د پلوه وربانديې صراحت وکړی شي چې دا حکم منسوخ دی؛ او دلته صراحت نشته.

ب: چې دواړه حکمونه یو تربله منافات ولري؛ او دلته منافات نشته.

علاوه پر دې دا هم څه لرې نه ده چې د ﴿ فَٱعْفُ ﴾ معنی دا وي چې بې ضرورته د اهل الکتابو کره وړه مه بیانوه او خپل وخت ورباندې مه ضائع کوه، لکه چې راتلونکی پنځلسم [١۵] ایت د همدې

---

(١) زاد المسیر ج۲ ص۲۵۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جواب ځکه نه ښکاره کوي چې ﴿ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴾ يعني پيغمبر ﷺ: اهل الکتابو د ډيرو قبائحو د بيان ځکه تيريږي او عفوه ترې کوي.

﴿ وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۴] او د هغو خلکو څخه مو هم (د يهودانو په شان) د دوی کلک تعهد اخستی وه چې وايي: يقيناً موږ نصارا (د الله ﷻ د دين کومکيان) ياستو. نو دوی هم د هغه شي څخه خپله برخه هيره (ترکه) کړه چې دوی ته پرې پند ورکړی شوی وه.

نو موږ د دوی په منځکښې دښمني او بغض د قيامت د ورځې پورې واچاوه (چې ترڅو ژوندي وي پرې به اخته وي) او ژر دی چې الله ﷻ به دوی په هغو عملونو باندې خبر کړي کوم چې دوی به په مستمره توګه کوي.

## د مطلب خلاصه

په دې ايت کښې زموږ د عبرت دپاره د اهل الکتابو د دوهمې ولې (نصاراوو) حال بيانيږي چې څومره کلک عهدونه ترې اخستل شوي وه او د بې وفايۍ په وخت کښې په څه بلاء باندې مبتلا شو، چې حاصل يې داسې راوځي:

د هغو اهل الکتابو څخه مو هم د يهودو په شان کلک تعهدات اخستي وه چې خپلو ځانونو ته نصارا وايي او دعوه کوي چې موږ د عيسى ﷺ انصار او کومکيان يو.

دوی ته په کار وه چې د خپل نامه په مقتضى يې ځانونه رښتياني انصار او کومکيان جوړ کړي وی مګر دوی بالعکس د دين خاينان جوړ شوه.

دوی هم د يهودو په شان خپل تعهدات د پښو لاندې کړه او په کوم شي باندې چې دوی ته توصيه شوي وه چې برخه پکښې واخلي؛ او ځانونه ترې مه بې برخې کوئ هغه يې هېر کړه او په عمل کښې يې پياده نه کړه.

نو دوی ته مو په دنيا کښې دا جزا ورکړه چې د قيامت د ورځې پورې مو د دوی په منځو کښې عداوت او بغض واچاوه چې يو د بل د ښمن جوړ شو چې همېشه يې سره ډبوغب وي. يا په بل عبارت: د اتفاق او اتحاد نعمت مو ترې واخست او يو تربله سره په جګړو او ډنګلو اخته شوه

دا وه د دنيا جزاء. او په آخرت کښې خو به يې الله ﷻ ډېر ژر د هغو اعمالو په نتيجه باندې خبر کړي چې دوی به يې کوي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ فَأَغْرَيْنَا﴾ کلمه اصلاً د "غرآء" څخه اخستله شوې ده، "غرآء" نښلولو او سرېښ کولو ته وايي[۱]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې د دوی په منځکښې مو عداوت او بدبينې داسې کلکه سرېښ کړه چې د قيامت د ورځې پورې به ونه شکېږي، او څو چې ژوندي وي د دښمنۍ په اور کښې به سوزي.

## د نصاراوو د اختلافاتو منشا

۲ـ که څه هم مفسرينو کرامو[۲] ليکلي دي چې د نصاراوو د شديد اختلاف اصلي منشا دا وه چې يوه يهودي دوی ته خپل خان دستوري نصراني جوړ کړ او په دوی کښې يې دومره نفوذ وکړ او اعتبار يې وموند چې د پاپ درجې ته ورسېد او دېر خاص خاص شاګردان يې پکښې پيدا کړه، مګر هر يوه شاګرد ته يې په خصوصي توګه بېله-بېله عقيده ورزده کړه او سپاربښتنه به يې پرې کوله چې بل چا ته حال مه وايه، حقه عقيده همدغه ده او بس.

کله چې ښه متيقن شو چې په هر يوه شاګرد کښې بېلې-بېلې عقيدې ښه ځای ونيوه، نو هر يوه ته يې جدا- جدا توصيه وکړه چې زما د مرګ څخه وروسته همدغه عقيده په خلکو کښې خوروه، او د همدې عقيدې اشاعت ستا وظيفه شوه.

بيا نوموړي يهودي چې په دستوري توګه نصراني شوی وه او زمونږ په اصطلاح پير ترې جوړ شوی وه او اصلي نوم يې "بولس" وه، انتحار وکړ او خپل خان يې وواژه.

د ده د مرګ څخه وروسته هر يوه شاګرد خپلې زده کړې عقيدې ته خلک وروبلل چې همدغه عقيده حقه ده او هر يوه خپل خان ته دلکۍ برابره کړه چې په نتيجه کښې په نصاراوو کښې اختلافات او عداوتونه راپورته شوه او ضد او نقيض عقائدو ظهور وکړ چې د نن ورځې پورې په همدغه اختلافاتو باندې اخته دي.

## تبصره

۳ـ مګر مونږ ته داسې برېښي چې ـ والله ﷻ أعلم ـ د نصاراوو د اختلافاتو اصلي سرچينه ذکره شوې قيصه نه شي کېدلی او زمونږ يقين نه دی چې دا قيصه به په هغه تفصيل سره پيښه شوې وي چې ځينو مفسرينو کرامو ليکلې ده، او دا ځکه چې:

الف: د يهودو او نصاراوو اختلاف دېر زوړ او ريښه دار دي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَىٰ عَلَىٰ شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَىٰ لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَىٰ شَيْءٍ ﴾ [البقرة: ۱۱۳] يعني:

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۳

(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او يهود وايي چې نصارا په هيڅ (معتمد) شي باندې نه دي (دين يې باطل دي) او نصارا وايي چې يهود په هيڅ (معتمد) شي باندې نه دي (دين يې باطل دی).

ب: په ﴿فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ﴾ جمله کښې خينو مفسرينو کړامو د ﴿بَيۡنَهُمُ﴾ ضمير يهودو او نصاراوو د دواړو ډلو مجموعې ته راجع کړی دی[1]، چې د معنی حاصل يې داسې راوخي چې د دغو دواړو ډلو په منځکښې مو دائمي عداوت او دښمني واچوله.

نو کله چې د دغو دواړو ډلو دښمني ډېره پخه ده نو سړی ګومان نه شي کولی چې نصاراوو به په بولس يهودي باندې دومره اعتماد کړی وي چې د پاپ درجې ته يې خېژولی وي.

ج: الله ﷻ فرمايي چې يهودان په ژوند باندې زيات حارص دي حتی چې د مشرکانو څخه يې هم په ژوند باندې حرص ډېر دی: ﴿يَوَدُّ أَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ أَلۡفَ سَنَةٖ﴾ [البقرة:۹۶] يعنې د دوی هر يو نفر دا خبره خوښوي چې يو زر کاله اوږد عمر ورکړی شي.

نو د همدې کبله سړی ګومان نه شي کولی چې بولس يهودي به خپل ځان وژلی وي او خپل ژوند ته به يې خاتمه ورکړې وي.

نو بنا په دې، زمونږ نظر دا دی چې د نصاراوو د شديد اختلاف دوه سببونه دي، چې يو ظاهري سبب دی او بل حقيقي سبب. لاندې تفصيل يې ولولئ:

اول: ظاهري سبب يې مونږ د [النساء:۱۷۱] ايت لاندې ليکلي دي چې د نصاراوو د اختلاف اصلي منشا د تثليث مشکله عقيده وه، او دوی د دغه اختلاف د ورکولو دپاره د تاريخ په اوږدو کښې زښتې ډېرې غونډې کړې دي خو د هرې غونډې په نتيجه کښې اختلاف لا زيات شوی دی او کم شوی نه دی.

دوی په ذکره شوې عقيده کښې په دومره جګړو او دنګلو کښې واقع دي چې په (۳۲۵) ميلادي کال د همدې معضلې د حل کولو دپاره اته څلوېښت زره (۴۸۰۰۰) تنه پاپان او ديني مشران په قسطنطينيه کښې راغونډ شوي وه. خو په نتيجه کښې همدغه لويه اجتماع په دومره وړو-وړو ډلګيو ووېشله شوه چې د ټولو ډلګيو څخه د غټې ډلګۍ غړي ايله درې سوه او اتلس (۳۱۸) تنو ته ورسېده چې د وخت پاچا د همدې ډلګۍ نظر غوره کړ او نور خلک يې مکلف کړه چې د همدوی نظر ومني، نو څکه په نتيجه کښې همدغه اجتماع د ډېرو جګړو او دنګلو سبب جوړه شوه[2].

دوهم: حقيقي سبب: په ﴿فَأَغۡرَيۡنَا﴾ جمله کښې د "ف" توری د تفريع معنی ورکوي چې ما قبل يې د مدخول دپاره حقيقي سبب جوړېږي.

نو حاصل يې داسې راوخي چې: د نصاراوو په منځکښې مو څکه دښمني واچوله چې دوی خپل

---

(۱) التفسير الكبير ج۱۱ ص۱۸۹
(۲) في ظلال القرآن ج۲ ص۸۶۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تعهدات مات کړه کوم چې د اتفاق او يووالي موجبات وه، نو د جنګونو او جګړو په اور کښې مو واچول.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې په موجوده زمانه کښې خو د نصاراوو په منځکښې بې اتفاقي نه برېښي او حکومتونه يې سره په جګړه اخته نه دي؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د جنګونو او جګړو څخه يوازې وسلوال جنګونه مطلب نه دي او نه ترې دا مطلب دی چې دوی به په هر شي کښې اختلاف او جګړې ولري، بلکې دلته د اختلاف څخه مذهبي اختلاف مراد دی برابره خبره ده چې وسلوال جنګ ته ورسېږي او که نه.

او ښکاره ده چې د دوی مذهبي اختلاف په موجوده زمانه کښې هم بې اندازې زيات دي او د تثليث مشکله عقيده لا تر اوسه د جګړې لاندې ده.

که مطلق اختلاف مراد وي نو نصارا بلکې اهل الکتاب به په لاندې شيانو باندې متفق او متحد نه وي:

الف: د اسلام د تخريب او د مسلمانانو بدنامي د ټولو آرزو ده.

ب: په شراب خوری کښې ټول متفق دي.

ج: په فحاشی کښې هيڅوک اختلاف نه کوي.

د: د خوګ (خنزير) غوښه هر چا ته محبوبه ده او داسې نور.

## بې اتفاقي د عهد ماتونې نتيجه ده

۴ـ مونږ (افغان مجاهدينو) په سترګو وليده چې بې اتفاقي او جنګونه د عهد ماتونې نتيجه ده، او دا څکه چې ـ الحمد لله ـ تقريبًا څوارلس کاله مجاهدينو د روسانو او افغاني کمونستانو په مقابل کښې وسلوال جهاد وکړ چې بالآخره د الله ﷻ په فضل په (۱۳۷۱/۲/۵ هـ ش) کال د کابل ښار ته فاتحانه ورداخل شوه.

مګر د همدغه تاريخ څخه، چې تقريبًا اته ويشت مياشتې تېرې شوې دي، تر نن تاريخه[۱] پورې مجاهدين په خپلو منځو کښې سره په جګړه او خونړي جنګ اخته دي، د سولې دېرې دلې يې په منځو کښې لاړې او راغلې خو هيڅ ګټه يې ونه کړه.

په يوه اصلاحي ډله کښې زه (د دې کتاب مولف سلطان عزيز "عزيز") هم شامل وم، مونږ هم د دواړو متخاصمو ګروپونو د مشرانو سره وکاته، ډزبندۍ او اصلاح ته مو دعوت کړه، خو بالمقابل د ېېرته راستنېدلو په حال کښې د دواړو جانبو څخه د ماشيندارو او توپونو په فيرونو سره رارخصت

(۱) ۱۳۷۳/۶/۲۰ هـ ش

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوو، مګر د الله ﷻ فضل وه زمونږ په ملګرو کښې د چا سره مرمۍ اصابت ونه وکړ، يوازې يو لاروی سړی وو ژل شو.

د دې ټولو بدبختيو حقيقي سبب دا دی چې مجاهدينو څوارلس کاله جهاد وکړ خو واحد قيادت يې نه درلود، ډلې ټپلې دومره ډېرې تشکيل شوې وې چې تقريبًا په يوه وخت کښې شپږ پنځوسو (۵۶) ډلو ته ورسېدلې، مګر بالآخره د خپنو عواملو د کبله آن تر نهو يا اوو ډلو ته رابښکته کړی شوې.

د جهاد په اوږدو کښې ذکر شوو ډلو په يووالي باندې ګڼ شمېر تعهدونه وکړل، کله به دوه ګونی اتحاد راغی او کله درې ګونی او څلور ګونی، کله به پنځه ګونی اتحاد تشکيل شو او کله اوه ګونی، بالآخره کله به په حقيقي اتحاد باندې تعهد وشو چې مشرانو به استعفاګانې وکړې او خپل-خپل مربوط تنظيمونه به يې منحل اعلان کړه، کله به يې په محض ايتلاف او ګډ عمل باندې تعهدونه وکړه.

ذکرې شوې معاهدې مونږ ټولې د نژدې څخه ليدلې دي او مونږ پکښې د هر چا څخه زيات معلومات لرو، ځکه چې مونږ په خپنو اتحادونو کښې د عالي شورى او هم د اجرائيه شورى عضويت درلود. الله ﷻ پوهېږي چې د افغان مجاهدينو ټول تعهدونه به څو ته رسېږي مګر د نصاراوو د راديو (BBC) په وينا ټول اتحادونه يوولسو ته رسېدلي دي، دوى ځکه په افغان مجاهدينو پسې دقيق حساب نيولی دی ترڅو يې بدنام کړي او د جهاد ثمره خپل کوم يو غرب مشربه ګوډاګي ته ورتبريک کړي.

لنډه دا چې په هر ځل چې افغان مجاهدينو تعهد کړی دی هغه يې مات کړی دی، که څه هم د تحليفنامو په لاسليک کولو سره به يې تائيد کړی وه، او په "وَاللهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ" باندې به يې ختم کړی وه.

همدا سبب دی چې اوس افغان اولس د بې اتفاقۍ په لمبو کښې سوزي او لوګړې يې خېژي، دا ده د عهد ماتونې پايله ده.

## يادونه

۵ـ څرنګه چې د اهل الکتابو تعهد ماتونه جزري او عقيدوي وه او بالآخره دوى هم الهي عهدونه مات کړه او هم پر خپلمنځي تعهداتو ونه درېده، نو الله ﷻ په دوى بې اتفاقي ورنازله کړه، چې څو ژوندي وي ترې خلاص به نه شي (إلى يوم القيامة).

اما د افغان مجاهدينو عهدماتونه صرف عملي بڼه لري نو الله ﷻ ته ډېر اميد دی چې د بې اتفاقۍ اور به ډېر ژر مړ کړي او په افغانستان کښې به يو رښتيانی اسلامي حکومت برقرار کړي. آمين يا رب العالمين، يا ذا الجلال والإكرام، يا حي يا قيوم.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ
مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ
(١٥) يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى
ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ (١٦)﴾

[۱۵] ای اهل الکتابو تاسو ته یقیناً زمونږ داسې پیغمبر درغلی دی چې د هغه شي څخه (چې تاسو یې پټوئ) ډېر درته (د معجزې په توګه) بیانوي چې هغه شی د کتاب څخه عبارت دی او د ډېرو څخه عفوه کوي (نه یې بیانوي).

بې شکه تاسو ته د الله ﷻ د پلوه رڼا (پیغمبر ﷺ) او (داسې) روښانه کتاب درغلی دی (چې:)

[۱۶] په همدې (کتاب) باندې الله ﷻ هغه چا ته چې د ده ﷻ په رضا پسې تاند وهي، د سلامتیـ (نجات) لارې ورښايي او همدوی (پرې) په خپلې ارادې (توفیق) سره د (ګمراهی) د تیارو څخه (د اسلام) رڼا ته وروباسي او (هم) ورته (پرې) مستقیمې لارې ته هدایت کوي (نو په دې کتاب خپل مشکلات حل کړئ).

## ارتباط

په وړاندېنيو ایتونو کښې الله ﷻ د اهل الکتابو عهد شکني او په نتیجه کښې په لعنت او عداوت باندې د دوی مبتلا کېدل بیان کړه، او په دې ایتونو کښې د لعنت او عداوت څخه د خلاصون لاره ښودلې شوې ده چې خلاصه یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای اهل الکتابو! اوس هم سر وخت دی او تاسو کولی شئ چې په سمه لاره باندې برابر شئ او د انحرافي لارې څخه راوګرځئ نو هم به د الله ﷻ د لعنت څخه خلاص شئ او هم به په خپلو منځو کښې سره یو تربله خواږه وروڼه جوړ شئ.

هغه لاره دا ده چې د نبي کریم ﷺ پیروي وکړئ، داسې پیغمبر تاسو ته درغلی دی چې بې شمېره معجزې د خانه سره لري، د ټولو څخه ډېره نژدې معجزه یې دا ده چې ستاسو د اسلافو پخواني حالات ورته الله ﷻ وحي کوي.

کوم شی چې تاسو یې بالکل پټوئ چې څوک پرې خبرې نه شي هغه شی هم تاسو ته بیانوي چې تاسو یې ډېر مثالونه په خپلو سترګو ګورئ، او د ډېرو حالاتو څخه مو تېرېږي او د بیان څخه یې عفوه کوي، که وغواړي چې ستاسو ټول حالت بیان کړي نو هو بهو به یې بیان کړي او تاسو به د لا زیات خجالت سره مخامخ شئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

۲_لنډه دا چې ای اهل الکتابو! یو خل بیا واورئ چې تاسو ته رڼا درغلې ده او د تورې تیارې وخت تېر شوی دی، آخر الزمان پیغمبر ﷺ ستاسو دپاره د یوې ډېرې لویې رڼا مثال لري، د ده څخه استفاده وکړئ او دښمني ورسره مه کوئ. برسېره پر دې همدغه پیغمبر ﷺ د خانه سره ډېر روښانه کتاب هم راوړی دی چې هرڅوک د الله ﷻ د رضا پسې تاند وهي د هغه دپاره پرې الله ﷻ د سلامتیا لارې چارې ورزده کوي، په همدغه کتاب باندې الله ﷻ خلک د تیارو څخه په خپل توفیق سره د اسلام رڼا ته راوباسي، او برابرې لارې ته وریاندې لارښوونه کوي.

## توضیحات

۱_ اهل الکتابو به د خپلو کتابونو ځینې حکمونه د دې دپاره پټول چې عوام خلک حق ونه پېژني هسې نه چې په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راوړي او زمونږ قلنگونه د منځه لاړ شي، ځینې احکام به یې د رشوتونو دپاره او ځینې یې د نورو اغراضو دپاره خلکو ته نه ښکاره کول لکه د نبي کریم ﷺ صفات، د زاني دپاره د رجم حکم او بالآخره د أصحاب السبت قیصه (چې دوی پکښې بیزوګان جوړ شوي وه) او داسې نور.

په دې ایت کښې په غور ووهل شوه چې که نبي کریم ﷺ بالفرض په حقه پیغمبر نه وی نو ستاسو پټ کړی شوي حالات به یې نه وی بیان کړي کوم چې تاسو، حتی د خپلو پیروانو څخه هم پټ ساتلي دي.

همدارنګه پوه کړی شوه چې نبي کریم ﷺ په حقه پیغمبر دی، هغه څه بیانوي چې الله ﷻ ورته اجازه ورکړې، که نه نو ده ته خو ستاسو ډېر پټ‌پټ قبائح معلوم دي، که بالفرض غیر پیغمبر ته دا معلومات وی نو تاسو به یې ډېر زیات رسوا کړي وی.

ځینې مفسرین کرام وایي چې یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه د یهودانو یوه دیني مشر پوښتنه وکړه چې څه شی دی چې تا مونږ ته د هغه بیان عفوه کړی دی؟

نبي کریم ﷺ ورته ساکت پاتې شو او د بیان څخه یې ډډه وکړه، نو نوموړي مشر د خپلو ملګرو سره وویلې چې ګومان کوم چې دا په حقه پیغمبر دی، د الله ﷻ د اجازې څخه په غیر څه شی نه بیانوي یعنې که عفوه شوي شیان یې راته بیان کړي وی نو دا جمله ﴿ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴾ به دروغ شوي وی.(۱)

## یادونه

۲_ د اسماني کتاب د ځینو احکامو په پټونه باندې نه یهودو دریغ کړی دی او نه نصاراوو، اما دا کار د نصاراوو په پرتله یهودانو ډېر کړی دی چې دوی د یو پلوه ډېر حیله ګر دي، او د بله پلوه یې د مسلمانانو سره کینه او عداوت هم زیات دی.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۱۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



علاوه په دې، دوی په مدينه منوره کښې د نبي کريم ﷺ په شاوخوا کښې اوسېدل، نو ځکه د يهودانو د حق پټونې صورتونه په روايتونو کښې زيات رانقل شوي دي.

## نُور څه معنی؟

۳ـ د نُور کلمه درې معنی درلودلی شي: نبي کريم ﷺ، قرآن او اسلام. څرنګه چې په دې مقام کښې قرآن کريم ﴿ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾ پخپله ذکر دی نو موږ وايو چې په لومړني ايت کښې د "نُور" څخه نبي کريم ﷺ مراد دی او په دوهم ايت کښې د "نُور" څخه اسلام.

## يادونه

۴ـ په ﴿ يَهْدِى بِهِ ٱللَّهُ ﴾ کښې د "به" د ضمير مرجع لاندې احتمالات لري:

الف: چې نبي کريم ﷺ يې مرجع شي، چې د ﴿ نُورٌ ﴾ څخه عبارت دی.

ب: چې مرجع يې ﴿ كِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾ شي.

ج: چې دواړه يې مرجع شي، او کله چې په غرض کښې اختلاف نه واقع کېږي مثنی ته هم د مفرد ضمير راجع کېږي. لکه چې په دې ايت شريف: ﴿ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ ﴾ [التوبة: ۶۲] کښې د ﴿ يُرْضُوهُ ﴾ بارز ضمير الله ﷻ او پيغمبر ﷺ دواړو ته راجع دی.

مګر موږ ته دا غوره ښکاري چې ﴿ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾ ته راجع شي، چې قريب ذکر دی.

﴿ لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۚ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ ٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ۗ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ ۚ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ۖ بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۷] بې شکه هغه کسان چې کافر شوي دي وايي: يقيناً الله ﷻ همدغه المسيح بن مريم (عيسی ﷺ) دی.

ورته ووايه نو که (بالفرض) الله ﷻ اراده وکړي چې المسيح بن مريم او د ده مور (مريم) او ټول هغه خلک چې په ځمکه کښې دي هلاک کړي، څوک به وي چې په يوه شي کښې د الله ﷻ څخه واکداري وکړی شي (او د هلاکت څخه نجات ورکړي)؟

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو او د هغه شي واکداري ده چې د دواړو (ځمکو او اسمانونو) په منځکښې دي. الله ﷻ هغه څه پیدا کوي چې اراده یې وشي، او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت خاوند دی.

[١٨] او یهود او نصارا (ماڼکي) د دوی هره یوه ډله وایي چې موږ د الله ﷻ زامن او د ده (ﷻ) دوستان یاستو. ورته ووایه چې: نو په څه لوګناهونو باندې مو ولې په دنیا او آخرت کښې (ولې معذبوي)؟ (دعیسی ته داده کله چې تاسو یې دعوه کوئ) بلکې تاسو د هغو مخلوقاتو څخه چې الله ﷻ پیدا کړي دي (یو مخلوق) بنیادمان یاست.

الله ﷻ هغه چا ته بښنه کوي چې اراده یې ورته وشي او هغه څوک معذبوي چې اراده یې ورته وشي. او (دا ځکه چې) خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو او د هغه شي واکداري ده چې د دغو دواړو (اسمانونو او ځمکو) په منځکښې دي. او خاص همده ﷻ ته بېرته ورستنېدل دي.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ اهل الکتاب متوجه کړي وه چې د قرآن کریم څخه چې په پیغمبر ﷺ باندې په حقه نازل شوی دی، په لاندې درې ډوله استفاده وکړئ:

۱_ د الله ﷻ رضا پرې حاصله کړئ، چې په پله لاره باندې ستاسو څخه الله ﷻ ته راضي کیږي.

۲_ خپل اشتباهات پرې پوره کړئ او منحرفې عقیدې پرې اصلاح کړئ.

۳_ د دنیا او آخرت نېکمرغیو ته د رسېدلو لارې چارې پرې تر لاسه کړئ.

نو امکان لري چې اهل الکتابو دعوه کړې وي چې زموږ څخه الله ﷻ راضي دی او عقائد مو اصلاح ته اړتیا نه لري او د نېکمرغیو لاره همدغه یوه لاره ده چې موږ ورباندې روان یاستو.

الله ﷻ د دوی د ذکرې شوې باطلې دعوې د رد دپاره دغه ایتونه نازل کړه، چې خلاصه یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! د اهل الکتابو ذکره شوې دعوه باطله ده، د دوی عقائد منحرف او اصلاح غوښتونکي دي، ایا د نصاراوو د کفر دپاره همدا یوه خبره کفایت نه کوي چې الله ﷻ بل څوک نه دی مګر المسیح بن مریم دی، حال دا چې المسیح بن مریم بل څوک نه دی مګر د الله ﷻ بنده او پیغمبر دی.

۲_ نو ای پیغمبره! د نصاراوو څخه د دوی د تخجیل دپاره پوښتنه وکړه چې: که بالفرض الله ﷻ اراده وکړي چې د ځمکې د مخ انسانان د عیسی ﷺ او د ده د مور (بی بی مریمې رضی الله عنها) په شمول ټول په یو ځل باندې هلاک کړي، نو ایا داسې څوک شته چې یا خپل ځان او یا بل څوک د مرګ خلاص کړي؟

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که ستاسو خیال حقیقت درلودی نو عیسی ﷺ خو به په ذکر شوي صورت کښې خپله مور او یا اقلاً خپل خان د مرګه خلاص کړی وی، حال دا چې الله ﷻ خو ابدي او ازلي دی هیڅکله ورباندي پنا نه شي ورتلای، نو عیسی ﷺ الله ﷻ نه شي کیدلی.

۳ـ برسیره پر دې الله ﷻ خو د ځمکې او اسمانونو او د هغه څه چې په دې دواړو کښې دي مطلق مالک دی چې د عیسی ﷺ په شمول ټول یې مملوک دي، نو ایا مملوک هم مالک جوړېدلی شي؟.

که تاسو د عیسی ﷺ په الوهیت باندې د هغه خارق العاده پیدائښت دلیل نیسئ، نو دا دلیل مو باطل دی، ځکه چې د دغه دلیل غوښتنه خو دا ده چې عیسی ﷺ یو خارق العاده مخلوق جوړ شي، نه دا چې په الوهیت کښې برخوال وګڼل شي.

لنډه دا چې عیسی ﷺ د الله ﷻ د کامل قدرت یو مثال دی چې بې پلاره یې خلق کړ، او الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، کولی شي چې داسې مخلوق هم پیدا کړي چې نه پلار لري او نه مور.

که بالفرض ستاسو دلیل د الوهیت غوښتنه کولی شوی نو باید چې د عیسی ﷺ دپاره نه بلکې د آدم ﷺ دپاره په الوهیت قائل شوي وی.

دا وه د نصاراوو د کفر یوه ځانګړې عقیده، اوس نو د یهودو او نصاراوو د کفر یوه مشترکه عقیده دا ده چې:

۴ـ د دوی هره یوه ډله په الله ﷻ باندې په لاندې تفصیل سره دروغ تړي:

الف: یهودان وایي چې عُزَیر ﷺ ابن الله دی، نو مونږ ټول ابناء الله یاستو، همدارنګه یوازې همدا مونږ په الله ﷻ باندې ګران او معزز یو او جنت یې همدا مونږ ته جوړ کړی دی، نور ټول خلک د نصاراوو په شمول په الله ﷻ باندې مهان او سپک دی او دوزخ یې همدوی ته جوړ کړی دی.

ب: په عین وخت کښې د ذکر شوي عقیدې غوندې عقیده نصارا هم لري چې وایي عیسی ﷺ د الله ﷻ زوی دی او مونږ ټول د الله زامن یاستو، مونږ ته الله ﷻ جنت تیار کړی دی او زمونږ څخه په غیر د یهودانو په شمول نور ټول خلک دوزخیان دي.

۵ـ نو ای پیغمبره! ذکرې شوې هرې ډلې ته ووایه که بالفرض ستاسو عقیدې صحت درلودی نو الله ﷻ به تاسو په ګناهو باندې نه وی معذب کړي. ایا خپل محبوب چا معذب کړی دی؟.

حال دا چې ستاسو یوه ډله (نصارا) په دنیا کښې الله ﷻ د بې اتفاقۍ په عذاب باندې اخته کړې دي او د بلې ډلې (یهودو) څخه یې د ګناه په سبب بیزوګان جوړ کړي دي.

او د آخرت عذاب خو مو بالکل یقیني دی چې تاسو هره ډله په الله ﷻ باندې دروغ تړئ او الله ﷻ خو هغه څوک په دوامداره توګه په دوزخ کښې اچوي چې هغوی په بل چا باندې نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ تړي.

که بالفرض تاسو په الله ﷻ باندې افتراء نه کوئ نو ﴿ هَاتُوا بُرْهَٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ [البقرة: ۱۱۱] راوړئ یو برهان (دلیل) که تاسو رښتیني یاست.

۶ـ نو خبره دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ، بلکې خبره داسې ده چې تاسو هم د انسانانو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د جملې څخه يوه ډله انسانان ياست چې ټول الله ﷻ پيدا کړي ياست او د همدوی د قانون څخه تاسو وتلي نه ياست، د دوی قانون دا دی چې الله ﷻ هغه چا ته مغفرت کوي چې اراده يې ورته وشي او هغه څوک معذبوي چې خوښه يې شي نو تاسو په نورو انسانانو هيڅ ذاتي فضيلت نه لرئ بلکې د الله په نزد فضيلت په تقوی سره دی او بس، او مفتريان خو تقوی نه لري.

٧ـ ورته ووايه چې ای يهودو او نصاراوو! تاسو هره يوه ډله د دنيا څخه ياست او ټوله دنيا ستاسو دواړو ډلو په شمول د الله ﷻ ملکيت دی، هيڅوک يې د تصرف څخه خپل ځان نه شي ګوښه کولی، او بالآخره ستاسو ټولو آخرنی ورګرځېدنه الله ﷻ ته ده او هيڅوک ترې خلاصون نه شي موندلی.

## توضيحات

١ـ که څوک وايي چې الله ﷻ خو د نصاراوو څخه په دې مقام کښې داسې حکايت کړی دی: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ﴾ يعني الله ﷻ فقط او فقط عيسی ﷺ دی. او همدارنګه د هغوی څخه يې دا عقيده هم حکايت کړې ده چې الله ﷻ د درې معبودانو څخه يو معبود دی: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٖ ﴾ [المائدة: ٧٣]، نو پوښتنه دا ده چې ذکر شوي دواړه حکايتونه بايد څنګه تطبيق شي؟

مونږ وايو چې: د [المائدة:١٤] ايت لاندې واضحه شوې ده چې نصاراوو ته د تثليث د عقيدې څخه يوه غټ مشکل او غټه بلا جوړه شوې ده چې نه يې پرې سرونه خلاصېږي او نه پرې سترګې پټولی شي چې ځينې ترې په يو ډول سره تعبير کوي او ځينې يې بل ډول معنی کوي، نو څه لرې نه ده چې الله ﷻ په يوه ځای کښې د يوې ډلې خبره راحکايت کړې وي او په بل ځای کښې به يې د بلې ډلې عقيدې ته اشاره کړې وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٢ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ خو د يهودو څخه حکايت کوي چې دوی عُزير ﷺ ته د ابن الله لقب ورکړی وه، او نصاراوو عيسی ﷺ په همدې لقب باندې ياداوه. لکه چې فرمايي: ﴿ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِ ﴾ [التوبة: ٣٠] يعنې: او يهود وايي چې عُزير ابن الله دی او نصارا وايي چې عيسی ﷺ ابن الله دی. نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې څنګه الله ﷻ د هرې ډلې څخه د ابناء الله لقب د خپلو ځانونو دپاره حکايت کړ؟

مفسرين کرام په جواب کښې وايي چې:

الف: په عبارت کښې مضاف مقدر دی، نو تقدير يې داسې کېږي چې: "نَحۡنُ أَبۡنَاءُ رُسُلِ الله" يعنې مونږ د الله ﷻ د پيغمبرانو زامن ياستو[١].

---

(١) التفسير الكبير ج١١ ص١٩٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. او یا یې تقدیر داسې کېږي چې: "نحنُ اشیاعُ ابْناء اللهِ" یعنې یهود وایي چې مونږ د ابن الله (عُزیر ﷺ) تابعان یاستو او نصارا وایي چې مونږ د ابن الله (عیسی ﷺ) أمتیان او تابعان یو[1].

ج. مونږ وایو چې اهل الکتابو د "ابنُ الله" څخه د خپلو خانونو دپاره هغه معنی نه مرادوله کومه چې ترې د عُزیر ﷺ او عیسی ﷺ دپاره اراده کوله، بلکې دوی د ﴿أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ﴾ څخه دا معنی اخستله چې مونږ په الله ﷻ باندې داسې ګران یاستو لکه څنګه چې په پلار باندې خپل اولادونه ګران وي.

د همدې کبله دوی د ﴿أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ﴾ کلمه د خپلو خانونو دپاره د ﴿وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ﴾ په کلمې سره تعقیب کړه، چې مطلب یې مشخص کړي.

دا ځکه چې "أحِبَّاء" د "حَبِيبٌ" جمعه ده، او "حبیب" یا د "محبوب" په معنی سره دی او یا د "مُحِبٌ" په معنی سره[2]. په هر تقدیر د ﴿وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ﴾ کلمه د ﴿أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ﴾ دپاره تفسیر واقع شوې ده.

هو! د ﴿نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ﴾ جمله ځکه د اهل الکتابو د کفریاتو څخه وشمېرله شوه چې په دې جمله کښې په الله ﷻ باندې إفتراء (دروغ تړل) نغښتي دي چې دوی هیڅ برهان او دلیل نه درلود، بلکې ذکره شوې جمله دوی د خپله خانه اختراع کړې وه.

﴿يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلَىٰ فَتْرَةٍ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ فَقَدْ جَآءَكُم بَشِيرٌ وَنَذِيرٌ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٩﴾﴾

[١٩] ای اهل الکتابو! بې شکه تاسو ته زمونږ پیغمبر په داسې حال کښې درغی چې د پیغمبرانو څخه په خالي زمانه کښې درته (زمونږ احکام) بیانوي، (دا د دې کبله) چې (د قیامت په ورځ به) تاسو ووایئ: چې مونږ ته نه کوم زیری ورکوونکی راغلی وه او نه کوم ډاروونکی. نو (د اعتذار مخه مو ونیوله شوه ځکه چې) تاسو ته یقیناً زیری درکوونکی او ډاروونکی درغی.

او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت والا دی (چې ستاسو د اعتذار مخه یې هم بنده کړه).

## ارتباط

په وړاندېنې نژدې ایت کښې الله ﷻ د خپلو خواصو څخه دا هم ښودلې وه چې ﴿يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ﴾ چا ته یې چې اراده وشي هغه ته مغفرت کوي، څه لرې نه ده چې د اهل الکتابو تمه به پیدا شوې وي چې الله ﷻ به راته د قیامت په ورځ مغفرت وکړي، نو الله ﷻ د ذکر شوي ایت شریف په نزول سره د دوی تمه وشکوله چې حاصل یې دا دی:

---

(١) تفسیر الکشاف ج١ ص٦١٧

(٢) روح المعاني ج٦ ص١٠٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ ای اهل الکتابو! د مغفرت تمه به ستاسو په هغه وخت کښې په ځای وی چې مونږ تاسو ته کوم پیغمبر نه وی درلیږلی او د پیغمبرانو د لیږنې سلسله مو نه وی تعقیب کړې نو د قیامت په ورځ به تاسو اعتذار وړاندې کولی چې ای ربه! مونږ ته مغفرت وکړې، مونږ په نادانۍ سره شریعت د پښو لاندې کړی وه، پیغمبر دې نه وه را استولی چې ستا د عذابه یې ډارولي وی او ستا په نعمتونو باندې یې زیری راکړی وی.

۲ـ ای اهل الکتابو! د نبي کریم ﷺ په دراستولو سره ستاسو ذکر شوی اعتذار د منځه لاړ، ځکه چې د پیغمبرانو څخه خالي فضا مو ډکه کړه او زمونږ لیږلی شوی تاسو ته د بشیر او نذیر په صفت باندې درغی چې په همدغې زمانه کښې تاسو ته شرائع بیان کړې، او الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی د همدې کبله یې ستاسو د غیر مقبول اعتذار خوله درماته کړه.

## توضیحات

۱ـ مونږ د [النساء:۱۶۵] ایت لاندې د قیامت په ورځ د کافرانو د اعتذار په باره کښې څه تحقیق کړی دی چې په دې مقام کښې یې د نظره تېرول ضرور دي.

## فَتْرَة څه معنی؟

۲ـ د ﴿ فَتْرَة ﴾ کلمه د فتور د اصلي حرفونو (ف، ت، ر) څخه اخستله شوې ده، "فُتُور" لکه "قُصُور" هغه سکون ته چې د تېز حرکت څخه وروسته، او هغه نرموالي ته چې د شدت څخه وروسته او بالآخره هغې کمزرۍ ته وایي چې د قوت څخه وروسته واقع شي[۱]. په هر تقدیر د ﴿ فَتْرَة ﴾ څخه په دې مقام کښې هغه زمانه مطلب ده چې اسمان ته د عیسی ؑ د پورته کېدلو څخه پیل کېږي او د نبي کریم ﷺ د بعثت پورې را اوږدېږي.

د دغې زمانې په اندازه کښې مفسرینو کرامو څلور قوله کړي دي[۲]، مګر مشهور قول پکښې دا دی چې ذکره شوې زمانه پوره شپږ سوه (۶۰۰) کاله وه[۳].

د "فَتْرَة" په زمانه کښې پیغمبر نه دی مبعوث شوی که څه هم ځینو مفسرینو لیکلي دي چې څلور پیغمبران پکښې تېر شوي دي چې یو یې عرب وه[۴]، مګر په نصوصو سره یې ثبوت نه دی شوی، او یقیني خبره نه ده[۵].

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۴
(۲) زاد المسیر ج۲ ص۲۵۶
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۵
(۴) تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۲۲
(۵) روح المعاني ج۶ ص۱۰۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

٣ـ د موسى ﷺ او د عيسى ﷺ تر منځ ـ د مشهور روايت په بناء ـ يو زر او اوه سوه (١٧٠٠) کاله فاصله وه خو د فترة زمانه نه وه او د پيغمبرۍ سلسله پکښې نه وه قطعه شوې[١].

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٠﴾ يَٰقَوْمِ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْأَرْضَ ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ فَتَنقَلِبُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿٢١﴾﴾

[٢٠] او هغه وخت (وریاد کړه) چې موسى ﷺ خپل قوم (بني اسرائيلو) ته وويلې چې: اى زما قومه! په تاسو باندې د الله ﷻ نعمت درپه زړه کړئ کله یې چې په تاسو کښې پیغمبران وګرځول (مبعوث کړه) او (کله یې چې) تاسو پاچایان وګرځولئ او (درېم دا چې) تاسو ته یې هغه څه درکړه چې د ټولو عالمونو څخه یوه کس (هيچا) ته یې نه دي ورکړي (لکه مَن او سَلوى او داسې نور).

[٢١] اى زما قومه! هغې مقدسې ځمکې ته (په جهاد سره) ورداخل شئ چې الله ﷻ ستاسو دپاره (په علم کښې) مقرره کړې ده (وعده یې درکړې ده)، او بېرته په شاګانو باندې مه تاوېږئ (که نه) نو تاسو به تاوانیان جوړ شئ.

## د ارتباط وجوه

د ذکرو شوو ایتونو څخه نیولې آن د راتلونکي [٢٦] ایت تر آخره پورې الله ﷻ د بني اسرائيلو یوه قیصه بیانه کړې ده چې د موسى ﷺ په زمانه کښې تېره شوې وه ترڅو په لاندې مطلبونو باندې دلالت وکړي:

١ـ ترڅو واضحه شي چې عهدشکني یوازې د دوی د عوامو خاصه نه ده بلکې د دوی خواص هم په همدې مرض باندې اخته وه آن تردې چې د دولسو نقیبانو څخه هم ایله دوه کسه په خپل عهد وفادار پاتې شوه.

٢ـ ترڅو نبي کریم ﷺ متسلي شي چې د ده د عصر یهودان د هغو پلرونو اولاده او د هغو استاذانو شاګردان دي چې آن د موسى ﷺ سره یې په خپلو تعهداتو باندې وفا نه وه کړې، نو لکه څنګه چې ورته هغه حوصله وکړه همدارنګه باید ته هم خپله حوصله ورته خرابه نه کړې.

٣ـ ترڅو د نبي کریم ﷺ د معجزاتو یوه ډېره غټه مجموعه دوی ته وروښودله شي، ته به وایې چې نبي کریم ﷺ د نقیبانو د لېږلو په وخت کښې حاضر وه او ټول سوال جواب یې په خپلو غوږونو باندې اورېدلي دي او ټول حالات یې په سترګو باندې لیدلي دي.

[١] روح المعاني ج٦ ص١٠٤

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! بني اسرائیلو ته علاوه په ذکر شوو نصائحو باندې هغه وخت هم وریه زړه کړه چې موسی ﷺ دوی جهاد ته ترغیبول او د الله ﷻ نعمتونو ته یې متوجه کول چې په ډېره خوږه لهجه یې دوی مخاطب کړه چې: ای عزیزانو! د الله ﷻ دغه نعمتونه یو ځل دریه زړه کړئ چې:

١ـ په تاسو کښې یې زښت ډېر پیغمبران ټاکلي دي چې د یعقوب ﷺ (ستاسو د نیکه) څخه پیل کېږي او آن په عیسی ﷺ باندې به ختم شي.

د دغو پیغمبرانو یوه غټه مجموعه زما څخه پخوا وار په وار تېره شوې ده او في الحال هم زما په شمول هارون ﷺ ستاسو د قوم څخه دی، او د نورو پیغمبرانو لړۍ لا را روانه ده چې وار په وار به په دنیا کښې مبعوثېږي.

لنډه دا چې د یعقوب ﷺ څخه نیولې د عیسی ﷺ پورې په تاسو کښې د فترة زمانه نه ده تېره شوې، او نه به تېره شي.

٢ـ تاسو الله ﷻ پاچایان جوړ کړئ چې د یوه پلوه د پیغمبرۍ سره‌-سره په تاسو کښې لوی‌-لوی پاچایان تېر شوي دي لکه یوسف ﷺ چې د مصر په سیمه کښې یې تر ډېرې زمانې پورې سکه چلېدله. یا لکه سلیمان ﷺ چې آن په مرغانو او جنیاتو باندې یې پاچاهي کوله او د بله پلوه یې تاسو د فرعون د غلامۍ څخه خلاص کړئ او خپلواکي یې درکړه، ته به وایې چې ستاسو هر یو نفر بېل‌-بېل پاچا دی.

علاوه په دې په راتلونکې کښې هم الله ﷻ تاسو ته استقلال او خپلواکي ټاکلې ده چې په تاسو کښې به لوی‌-لوی پاچایان تېر شي، د همدې کبله تاسو ته توصیه کوي چې د جبارینو بنارونه ونیسئ او هلته پکښې خپل مستقل حکومت اعلان کړئ.

٣ـ لنډه دا چې د خپلې زمانې په خلکو کښې یې دومره نعمتونه درکړي دي چې ستاسو څخه په غیر یې بل چا ته نه دی ورکړ، نو د دغو نعمتونو شکریه وکړئ او د الله ﷻ په لار کښې خپل خانونه وسلوال جهاد ته چمتو کړئ.

٤ـ نو ای عزیزانو! ښه په نره او مېړانه باندې مقدسې ځمکې ته ورننوزئ او په جهاد سره یې فتحه کړئ، دغه ځمکه الله ﷻ تاسو ته درکوي او په لوح محفوظ کښې یې لیکلې ده، چې تاسو به د هغې ځمکې مالکان یاست.

د جهاد څخه بېرته په شا مه ځئ؛ که نه نو غټ تاوان به وکړئ، ځکه چې ذکره شوې ځمکه به ستاسو په لاس باندې فتحه نه شي بلکې ستاسو زوزات ته به وریاتې شي او دا فتخار به د هغوی په نصیب شي، څه چې الله ﷻ لیکلې وي هغه ضرور کېدونکې وي. نو د یو پلوه به مو دغه لویه کامیابي د لاسه اووځي او د بله پلوه به د غازیانو په ډله کښې ونه شمېرل شئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ مونږ د [البقرة:۸۷] ایت لاندې لیکلي دي چې په بني اسرائیلو کښې څلور زره (۴۰۰۰) یا اویا زره (۷۰۰۰۰) پیغمبران تېر شوي دي[۱]، موسی ﷺ دوی ته څکه په دوی کښې د پیغمبرانو تېرېدنه وریه زړه کړه ترڅو دوی د همدغو پیغمبرانو تګلاره تعقیب کړي او جهاد ته ملاوې وتړي.

## مُلوک څه معنی؟

۲ـ "مُلُوكٌ" د "مَلِكٌ" جمعه ده او "مَلِكٌ" هغه چا ته وایي چې د انسانانو پاچا وي او یا پکښې دا استعداد وي چې په انسانانو پاچاهي وکړي، که څه هم سمدستي او یا بالفعل پاچا نه وي[۲].

اما په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو زښتې ډېرې معناوې کړې دي چې ټولې اتو ته رسېږي[۳]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ تاسو ازاد جوړ کړئ چې هرڅوک د خپل ځان مالک شو او د فرعونیانو د غلامۍ څخه یې ازاد کړئ[۴].

ب: څرنګه چې الله ﷻ بني اسرائیلو ته بدون د کسبه خوراک څښاک ورکړ او من او سلوی یې ورباندې نازله کړه، نو په هر یوه باندې دومره پراخي ورغله تا به ویل چې هر یو پاچا دی[۵]. په همدې معنی باندې دغه حدیث شریف ډېره ښه رڼا اچوي چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا»[۶] یعنې: هر څوک چې ستاسو څخه سهار کړي حال دا چې په خپل چاپیریال کښې د امن خاوند وي او په خپل جسد کښې عافیت لري (مریض نه وي)، د ده په وړاندې د همدغې ورځې روزي هم وي، نو یقیناً دا داسې دی لکه چې ده ته ټوله دنیا ورټوله کړی شوې وي (د ټولې دنیا پاچا وي).

ج: په انسانانو کښې مروجه ده چې په کسبي شیانو کښې د یوه مشر کسب ټول قوم ته نسبت کېږي نو څرنګه چې په بني اسرائیلو کښې الله ﷻ ځینو-ځینو ته پاچایي ورکړه نو داسې وګڼل شوه لکه چې دوی ټول یې پاچایان جوړ کړې وي[۷].

شاید چې د ذکر شوي رواج وجه به دا وي چې په کسبي شیانو کښې ټول قوم څه ناڅه اشتراک کولی شي، مثلاً ترڅو پورې چې په عادي حالاتو کښې عوام خلک چا ته په انتخابي حوزو کښې رایه ورنه کړي هغه د مملکت مشر نه ګڼل کېږي.

---

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۱۶
(۲) مفردات الراغب ص۴۹۳
(۳) البحر المحیط ج۴ ص۲۱۵؛ زاد المسیر ج۲ ص۲۵۷
(۴) تفسیر القاسمي ج۶ ص۱۴۹
(۵) روح المعاني ج۶ ص۱۰۵
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۶۰
(۷) التفسیر الکبیر ج۱۱ ص۱۹۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما په تفصیلي ښه ئې بیان کړی. او د کوم ځای (مکان) ذکر ئې چې په قرآن کې راغلی د هغه پوهه په موږ نه لورېږي. په دې اړه مفسرانو هم ځینې ړو کړي دي چې په دې بیان کې د ځایونو ذکر په دې ډول هم هغه وخت چې الله جل شأنه موږ ته د ځایونو بیان کوي نو بیا په هغو ځایونو باندې د هغه یو ډول ښه عبارت نازل نه کړي بلکې داسې یې وفرمایل چې ﴿إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنبِيَاءَ﴾.

موږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي ټولې معناوې سره یو ترېله څه منافات نه لري نو کېدای شي چې د "مُلُوكًا" د کلمې داسې جامعه معنی وکړی شي چې ټولو معناوو ته شامله شي چې د هغې څخه به "مَا يَنْطَبِقُ عَلَيْهِ الْمُلُوكَ" یو څه شي چې د پاچایانو اطلاق کیږي سره تعبیر کولی شو.

## یادونه

۳ـ په دې خبره کښې چې الله ﷻ بني اسرائیلو ته په عالمونو باندې بهتري ورکړې ده، موږ د [البقرة: ۴۷] آیت لاندې څه تحقیق کړی دی هیله ده چې دلته یو ځل بیا وکتل شي.

## مقدسه ځمکه کومه یوه ده

۴ـ د ﴿الْمُقَدَّسَةَ﴾ کلمه د "تَقْدِيس" څخه اشتقاق شوې ده او "تَقْدِيس" د تطهیر په معنی سره دی یعني هغه ځمکه چې د هغې اوسېدونکي د لوږې او قحطۍ څخه پاک ساتلي شوي دي چې حاصلات او میوجات پکښې ډېر دي او یا هغه ځمکه چې په داسې مکان باندې مشتمله ده چې د مسلمانان پکښې د ګناهونو څخه پاکیږي، هغه مکان د بیت المقدس څخه عبارت دی.

په هر تقدیر په دې مقام کښې د مقدسې ځمکې ځلور تفسیرونه کړی شوي دي[1]. مګر موږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوې ځمکه چې په هر تفسیر باندې واخستله شي لاندې دوه لحاظونه پکښې د نظر نه دي غورځول شوي:

الف: ذکر شوې ځمکه بني اسرائیلو پېژانده چې په فلاني ځمکه کښې موږ په جهاد باندې مکلف کړی شوي یاستو چې د مادي او معنوي دواړو برکتونو څخه ډکه ده، مګر الله ﷻ په هغې باندې موږ ته صراحت ونه کړ څکه چې دلته د قیصې څخه د بني اسرائیلو د بې همتۍ بیان مطلب دی او په خصوص د ځمکې پورې کوم خاص مطلب تعلق نه لري.

ب: ذکر شوې ځمکه چې هره یوه ځمکه وه خو زموږ په ګومان بیت المقدس به پکښې شامل وه چې د ﴿الْمُقَدَّسَةَ﴾ تکی تري څه اندازه نمایندګي کوي.

## یادونه

۵ـ کله چې موسی ﷺ بني ته په ډېره بلیغه لهجه باندې د جهاد دعوت ورکړ او د ذکرې شوې مقدسې ځمکې مادي او معنوي منافعو ته یې اشاره وکړه، نو لږ څه د جهاد مینه یې راولپارېده او لوظ یې وکړ چې جهاد کوو.

---

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۲۵۸؛ روح المعاني ج۶ ص۱۰۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله دوی د خپل ځای څخه د غزا وطن ته څو مزله ورنژدې شوه او هلته په کوم ځای کښې تم شوه، څرنګه چې په نابلده وطن کښې غزا کول ډېر مشکلات لري چې نه یې غازیانو ته د ځمکې شکل معلوم وي، نه یې په سیندونو او غرونو باندې خبر وي، نه ورته د مقابل طرف د قوت اندازه څرګنده وي او بالآخره نه یې د لارو او ګودرو څخه معلومات وي؛ نو د همدې کبله موسی ﷺ د ترصد او کشف دپاره د هر قوم څخه یو-یو نفر هلته واستاوه چې ټول دولس کسه شوه، البته هغه دولس کسه چې د [المائدة ١٢] ایت کښې ورته اشاره شوې ده[1].

مګر دغو دولس کسانو تعهد کړی وه چې خپل کشفیات به عوامو ته نه په ډاګه کوو، ترڅو دوی بې زړه نه شي او د جهاد تعهد مات نه کړي، او په خاصه توګه به پرې موسی ﷺ ته اطلاع ورکوو.

خو کله چې دولس کسه ترصدچیان بېرته راستانه شوه، لسو کسانو خپل تعهد مات کړ او په عوامو کښې یې د ذکرې شوې ځمکې د اوسېدونکو زیات قوت بیان کړ[2]، تردې چې بني اسرائیل د خپلې ژمنې څخه وګرځېده او موسی ﷺ ته یې لاندې جواب ورکړ:

﴿قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوۡمٗا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَا حَتَّىٰ يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾﴾

[٢٢] دوی (د موسی ﷺ قوم) وویلې چې: ای موسی! یقینًا په دغې (مقدسه ځمکه) کښې زورور قوم پروت دی (چې مونږ یې د مقابلې توان نه لرو) او بې شکه مونږ به هلته هیڅکله ورداخل نه شو، ترڅو چې دوی (زورور قوم) ترې (په خپله خوښه) ووځي، نو که دوی ترې (بدون د جهاده) خارج شي نو یقینًا مونږ ورداخلېدونکي یاستو (بیا به دې خبر ومنو).

## د مطلب خلاصه

یعني: کله چې ترصدچیان بېرته راستانه شوه او لسو کسانو د خپل تعهد په خلاف عوامو ته د مقابل طرف زیات قوت بیان کړ چې دومره قوي دي او دومره غټ دي او وطن یې د هر ډول مېوو څخه ډک دی او پراخي او ارزاني پکښې زښته ډېره ده، نو د بني اسرائیلو د یو پلوه هغې برکتناکې ځمکې ته د ورننوتلو مینه زیاته شوه او د بل پلوه د مقابل طرف څخه وډار شوه.

نو دوی موسی ﷺ مخاطب کړ (ته به وایې چې د یوه عادي سړي سره خبرې کوي) چې: ای موسی! مونږ خو د مقابل طرف د قوت څخه خبر شوو، د هغوی سره مقابله کول د خپل ځان وژنې څخه په غیر بل شی نه دی، رښتیا چې وطن یې ډېر برکتناک دی مګر خلک وایي چې توره چې د سرو زرو شي هم خوک پرې خپله ګېډه نه څیروي. نو مونږ به هیڅکله د غازیانو په حیث هلته ورداخل نه شو.

---

(١) تفسیر الطبري ج٤ ص١٧٤

(٢) المحرر الوجیز ج٥ ص٥٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هو! كه په هغوى باندې كومه اسماني بلا نازله شي او يا د جنګ څخه په غير مونږ ته وطن خوشې كړې نو بيا به ورداخل شو او خبره به دې ومنو او بس.

## توضيحات

١ـ د ﴿ جَبَّارِينَ ﴾ كلمه د "جَبَّار" جمعه ده، او "جَبَّار" ـ لكه "عَلَّام" ـ د مبالغې صيغه ده، چې د "جبر" (مجرد) څخه اخستله شوې ده، "جبر" دې ته وايي چې څوک په بل چا باندې په زور سره خپله خوښه په هر ډول چې وي، تحميلولى شي. د الله ﷻ د نومونو څخه يو نوم "جَبَّار" دى چې په هر چا باندې خپله اراده اجراء كولى شي، مګر دا بېله خبره ده چې په ځينو ځايونو كښې يې نه اجراء كوي[1].

ځينې مفسرين كرام وايي چې د مبالغې صيغه ده خو خلاف القياس د "إِجْبَار" څخه اشتقاق شوې ده لكه څنګه چې د شذوذ په توګه د "حَسَّاس، دَرَّاك" دوه كلمې د "إِحْسَاس، إِدْرَاك" (مزيد فيه) څخه اشتقاقې شوې دي، اصل دا وه چې بايد "حِسْ، دَرْك" مجردو څخه اخستلى شوي وى[2].

مګر مونږ ته داسې برېښي چې دلته به د "جَبَّار" كلمه د مبالغې صيغه نه وي، بلكې د "جَبَّارَة" څخه به اخستله شوې وي، "جَبَّارَة" د خرما هغې لوړې ونې ته وايي چې د چا لاس نه ورسېږي[3].

مونږ څكه دا معنى غوره كړه چې ذكر شوي خلك ډېر لوړ او ډېر جسيم خلك وه چې د عاديانو د نسل څخه وه، هغه عاديان چې د هغوى په باره كښې الله ﷻ فرمايي: ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُنْقَعِرٍ ﴾ [القمر: ٢٠] يعنې: لكه چې دوى (عاديان) د خرما د ونو ډډونه وي، چې د بېخه راويستلى شوي وي.

## عجيبې قيصې

٢ـ په دې مقام كښې ځينو مفسرينو كرامو د ذكر شوو جبارينو په باره كښې عجيبې قيصې ليكلې دي[4] مثلاً چې دوى څومره لوړ وه، حتى چې يو نفر يې چې عوج بن عنق نومېده ( ٣٣٣٣) ګزه لوړ وه او آن د نوح ﷺ د طوفان څخه يې نجات موندلى وه هغه طوفان چې د هغه په باره كښې الله ﷻ د نوح ﷺ د خولې څخه حكايت كوي چې: ﴿ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ [نوح: ٢٦] يعنې: اى ربه! په ځمكه باندې د كافرانو څخه هيڅوک اوسېدونكي مه پرېږده.

كه څوک يې د لوستلو شوق لري هلته دې مراجعه وكړي، مونږ څكه دلته رانقلې نه كړې چې مونږ ته تولې دروغ ښكاري او مونږ نه غواړو چې دا تفسير په اكاذيبو او اسرائيلياتو باندې اوږد كړو.

٣ـ لنډه دا چې بني اسرائيل د جبارينو څخه دومره وډار شوه چې ګيدړې څخه ورته زمرى جوړ شو او په چرمښكيو باندې يې د مارانو ګومان وكړ، او په چغوچغو يې ژړاګانې پيل كړې، چې

---

(١) روح المعاني ج٦ ص١٠٦
(٢) تفسير القرطبي ج٦ ص١٢٦
(٣) لسان العرب ج٤ ص١١٤
(٤) تفسير البغوي ج٢ ص٢٠؛ المحرر الوجيز ج٥ ص٧٤

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کاشکي چې په مصر کښې تول مړه شوي وی او د جبارینو مقابلې ته نه وی دعوت شوي، حتی چې ځینو غوښتل چې راشئ د ځپل خان دپاره یو مشر وټاکو او د هغه د بیرغ لاندې بېرته مصر ته لاړ شو (موسی ﷺ یوځېږي او کار یې).

﴿ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا۟ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾ ﴾

[٢٣] د هغو کسانو څخه چې (د الله ﷻ څخه) دارېدل دوه سړیو وویل چې الله ﷻ په هغوی باندې انعام کړی وه (او په خپل عهد باندې کلک ولاړ وه داسې چې) په جبارینو باندې (ښار ته) په دروازه باندې ورداخل شئ (او مه دارېږئ ځکه) نو چې کله تاسو ورداخل شئ (نو سمدستي به) په یقین سره تاسو غالب یاست او خاص په الله ﷻ باندې توکل وکړئ که تاسو (ریښتیا) ایمان درلودونکي یاست.

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې د بني اسرائیلو ژړا او فریاد ډېر زیات شو، نو د ترصد چیانو د جملې څخه دوه سړیو (چې سړیتوب یې درلود) او الله ﷻ ورباندې انعام کړی وه او ایمان یې قوي وه او په خپل تعهد باندې کلک ولاړ وه او بالآخره خاص د الله ﷻ څخه دارېدل او د جبارینو څخه یې په زړه کښې څه ویره نه وه.

دغو دوارو سړیو وویل چې ای خلکو! مه یې زړه کېږئ او په مستقیمه توګه په جبارینو باندې ورننوځئ نو د یو پلوه به تاسو په دیوالونو باندې د اوښتلو څخه بې غمه یاست او د بله پلوه به هغوی دومره حرکت موندلی نه کړي چې ستاسو په مقابل کښې لې تر لږه د ښار څخه رابیرون شي. یا په بل عبارت تاسو به هغوی په خپل ښار کښې محاصره کړئ او د تېښتې توان به هم ونه لري غلبه ستاسو به برخه وي. الله ﷻ ستاسو ملګری دی، چې پرون یې ستاسو غټ دښمن ستاسو د سترګو لاندې غرق کړ هغه دښمن چې په جباریت کښې د دغو جبارینو څخه ډېر زیات وه حتی چې د الوهیت دعوه یې کوله. په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړئ که ریښتیا ایمان درلودونکي یاست. هغه الله ﷻ چې هلته نصرت درکړ نن ورځ به یې هم درکړي، چې په هر ځای باندې زورور دی.

## توضیحات

۱ ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د ذکر شوو دوه کسانو د یوه نوم یوشع بن نون وه، چې د موسی ﷺ د خور زوی وه او د بل نوم کالب بن یوفنا وه[٢].

---

(١) البحر المحيط ج٣ ص٤٦٨

(٢) التفسير الوسيط ج٤ ص٧٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر دلته د يادولو خبره دا ده چې د دغو دوارو څخه الله ﷻ په ﴿ رَجُلَانِ ﴾ سره تعبير وکړ، ته به وايې چې په دولس نقيبانو کښې همدغه دوه سړي وه چې د سرپټوب خبرې يې وکړې او جهاد ته يې خلک راوهڅول او متباقي لسو کسانو د زنانه وو تکرې په سر کړه.

## د چا څخه خوف؟

٢ـ ځينو مفسرينو کرامو په دې مقام کښې د ﴿يَخَافُونَ﴾ د جملې دپاره متعدد تفسيرونه کړي دي[1]، چې دوی هم د جبارينو څخه ډارېدل خو د ډار سره‌سره په حق باندې يې خوله پټه نه کړه او داسې نور؛ مګر بهتره دا ده چې د ذکرې شوې جملې معنی دا وي چې دوی يوازې د الله ﷻ څخه ډارېدل او د نورو ملکرو په شان د جبارينو څخه نه ډارېدل. په همدې معنی باندې هغه قرائت واضحه دلالت کوي چې: "يَخافُونَ الله" لوستلی شوی دی[2].

﴿ قَالُوا۟ يَـٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُوا۟ فِيهَا ۖ فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَـٰتِلَآ إِنَّا هَـٰهُنَا قَـٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ ﴾

[٢۴] دوی (بني اسرائيلو) وويلې چې: ای موسی! يقينًا مونږ به هيڅکله په ابدي توګه هلته ورداخل نه شو ترڅو چې (جبارين) هلته ميشت وي، نو لاړ شه ته او ستا رب نو دواړه (د جبارينو سره) جنګ وکړئ بې شکه مونږ به همدلته ناست يو (د دې ځای څخه به نه تښتو).

## د مطلب خلاصه

يعنې: کله چې ذکرو شوو دوارو سړيو هم ورته د جهاد دعوت ورکړ او په کلکه باندې يې وروهڅول، نو دوی ډېر په غُصه شوه او د اولنې جواب څخه يې داخل په ډېرو کلکو الفاظو کښې جواب ورکړ چې: ای موسی! ته پوهېږې او که نه؟ مونږ په خپله تګلاره باندې تجديد النظر نه کوو او په ابدي توګه د جبارينو مقابله نه کوو، زمونږ وروستنې جواب دا دی چې مونږ به دلته ناست يو د دې ځای څخه به نه تښتو که څه هم په کار خو دا وه چې بېرته مصر ته تښېدلي وی، ته او خپل رب دې لاړ شئ؛ د جبارينو ښار فتحه کړئ بيا مونږ ته غږ وکړئ نو مونږ به درشو او په ښار کښې به وارووو، د دې خبرې څخه په غير په مونږ باندې خپل خان ته تکليف مه ورکوئ.

## توضيحات

١ـ که څه هم د بني اسرائيلو ذکر شوي جواب د دوه ناصحانو په مقابل کښې وه مګر د ډېرې غُصې څخه يې د خبرې مخ نبغ په نېغه موسی ؑ ته وروآړاوه، ترڅو د يوه پلوه دې ته اشاره وکړي

(١) زاد المسير ج٢ ص٢۶٠

(٢) تفسير الطبري ج۴ ص١٧٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې موږ د ناصحانو خبرې د سره اورېدلې نه دي. او د بله پلوه موسی ﷺ په غوږ وروهې چې دغه دواړه کسان هم ستا په تحریک باندې موږ جهاد ته هڅوي

## ایا دا د کفر خبره ده؟

٢ـ په ذکر شوي جواب کښې دا جمله ﴿ فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴾ د مفسرینو کرامو تر منځ په لاندې ډول د اختلاف النظر نکته واقع شوې ده.

اول: ځینې مفسرین وايي چې دا د کفر خبره نه ده. او تاویل یکښې کوي چې

الف: د ﴿ فَٱذۡهَبۡ ﴾ څخه د ذهاب (تللو) حقیقت مراد نه دی چې الله ﷻ ته یې نسبت کول کفر دی بلکې د ذهاب څخه مطلب، قصد او اراده ده یعنې ته او ستا رب دواړه د جبارینو سره د جنګ قصد اراده وکړئ[1].

مګر دا تاویل متبادر نه دی او د ﴿ فَقَٰتِلَآ ﴾ سره توافق نه لري چې په جنګ کښې په حقیقتاً اشتراک باندې دلالت کوي.

ب: ځینې په ﴿ وَرَبُّكَ ﴾ کښې تاویل کوي چې د "رب" څخه الله ﷻ مراد نه دی بلکې هارون ﷺ مراد دی چې د موسی ﷺ څخه مشر وه. او د دغې کلمې اطلاق کله-کله په انسان باندې هم د احترام دپاره کېږي[2]. لکه چې الله ﷻ د یوسف ﷺ د خولې څخه حکایت کوي چې ﴿ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَ ﴾ [یوسف: ٢٣] یعنې یقیناً دا (د مصر عزیز) زما رب دی چې ماته یې د اوسېدلو ډېر ښه ځای برابر کړی دی.

مګر دا تاویل په دې مقام کښې د اول تاویل څخه ډېر غیر متبادر دی. ځکه چې الله ﷻ د همدوی د خولو څخه عین کلمه (ربّك) حکایت کړې ده، خو هارون ﷺ نه بلکې الله ﷻ یې ترې مراد کړی دی. یو ځل د بقرې د ذبحې قیصه [البقرة: ٦٨ـ٧٠] ولولئ.

دوهم: ځینې مفسرین کرام وايي چې ذکره شوې جمله د کفر جمله ده او دوی پرې کافر شوي دي[3]. چې الله ﷻ ته یې د تللو (ذهاب) نسبت کړی دی، د همدې کبله دوی د "ذهاب" په مقابل کښې د ځپلو ځانونو دپاره د ﴿ قَٰعِدُونَ ﴾ کلمه استعماله کړې ده.

## تبصره

٣ـ موږ ته همدا دوهم نظر بهتر ښکاري خو دومره خبره وړاندې اضافه کوو چې په دې زمانه او په دې شریعت کښې د بني اسرائیلو د ارتداد موضوع مطرح کول څندان ګټور کار نه دی.

---

(١) تفسیر الکشاف ج١ ص٦٢٩

(٢) البحر المحیط ج٣ ص٢٢٠

(٣) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٤٠٠

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه هغوی خو لا د خوسي عبادت کړی وه او د موسی ﷺ څخه یې د معبود (بوت) د تاکلو غوښتنه کړې وه چې: ﴿ قَالُواْ يَـٰمُوسَى ٱجْعَل لَّنَآ إِلَـٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ﴾ [الأعراف: ۱۳۸] یعنې: دوی وویلې چې ای موسی! مونږ ته هم یو معبود وټاکه لکه څنګه چې دوی (دغه قوم) ته معبودان دي.

لنډه دا چې د هغوی په کوم یوه کفر باندې به سرې پرده واچولی شي، خلک وایي چې: اوښه کوم خای دې برابر دی پاتې دې لا غاړه.

## خو الحمد لله

۴_ خو الحمد لله کله چې نبي کريم ﷺ خپل صحابه کرام ﷺ جهاد ته دعوت کړه نو هغوی یې په څنګ کښې ښه په مېړانه ودرېده او د بني اسرائيلو جواب یې تقبيح کړ. لاندې حديث ولولئ:

عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: کله د بدر د غزا په موقع المقدام بن الأسود (د صحابه وو کرامو ﷺ په استازيتوب) نبي کريم ﷺ ته جواب ورکړ چې مونږ تاته (ای پيغمبره!) داسې جواب نه درکوو لکه څنګه جواب چې موسی ﷺ ته خپل قوم ورکړی وه چې: ﴿ فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَـٰتِلَآ ﴾، بلکې مونږ به ستا چارچاپېره هرې خوا ته جنګېږو «فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ أَشْرَقَ وَجْهُهُ وَسَرَّهُ»[۱] يعنې: نو ما نبي کريم ﷺ وليد چې مبارک مخ یې (ذکر شوي جواب) وخلاوه او خوشاله یې کړ.

﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ ۛ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۛ يَتِيهُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ ﴾

[۲۵] (موسی ﷺ) وویلې چې: ای ربه! یقیناً زه (په هیڅا باندې وسه) نه لرم (چې جهاد ته یې سوق کړم) مګر (په) خپل ځان او (په) خپل ورور (هارون ﷺ باندې).

نو (ای ربه!) زمونږ په منځ او د فاسق قوم په منځکښې فيصله وکړې.

[۲۶] (الله ﷻ) وویلې چې: نو بې شکه دا (مقدسه ځمکه) په دوی باندې څلوېښت کاله حرامه ده (چې دوی هلته ورننوځي)، دوی به په همدغې ځمکه (د "تيه" په ډاګ) کښې سرګردانه ګرځي راګرځي، نو په فاسق (نافرمانه) قوم باندې مه غمژن کېږه.

## د مطلب خلاصه

۱_ يعنې: کله چې موسی ﷺ د خپل قوم څخه د جهاد په نه کولو کښې قاطع جواب واورېده نو ډېر خپه شو او د خپل عجز وړاندې کولو په توګه یې سوال وکړ چې: ای ربه! زه يوازې د خپل ځان او

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۵۶۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خپل ورور (هارون ﷺ) مالک يم، ما چې هر څومره تا ته دواړه هڅولي دي خبره [illegible]
منې، يوازې خپل ځان او ورور مې اطاعت کوي او بس.

نو اى ربه! زموږ او د دغه فاسق قوم ترمنځ فيصله وکړې او هر چا ته لايقه جزا ورکړې.

۳ــ د الله ﷻ د موسى ﷺ دعا قبوله کړه [illegible]

[illegible]

۴ــ د همدغه نافرمانه او باغي قوم جزا ده [illegible]

[illegible]

## توضیحات

[illegible]

[illegible]

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د تفسیر مطابق[1] غیر محسوس جدا کول مطلب دې. یعني اې ربه! زمونږ او د دغه نافرمانه قوم ترمنځ فیصله وکړه او هر چا ته مطابقه جزا ورکړه.

مونږ څکه دا معنی غوره کړه چې موسی ﷺ خو د خپل قوم څخه چرته نه وه جدا شوی او د تحیر په میدان کښې ورسره ملګرې وه، مګر الله ﷻ په ده او د ده په خاصو ملګرو باندې هلته اوسېدانه داسې اسانه کړې وه لکه څنګه چې په ابراهیم ﷺ باندې اور ګلزار جوړ شوی وه[2].

## تحریم څه معنی؟

٣_ د ﴿ مُحَرَّمَةٌ ﴾ کلمه د "تحریم" څخه اشتقاق شوې ده او د "تحریم" نسبت چې الله ﷻ ته وشي لاندې درې معناوې درلودلی شي[3]، چې یو تعبدي تحریم، او بل قهري تحریم دی او بالآخره بل تسخیري تحریم دی:

الف: تعبدي تحریم دې ته وایي چې د سړي د وسې دا پوره وي چې د یوه شي څخه استفاده وکړي اما په استفاده باندې ګنهګاربږي، لکه چې په مونږ باندې د خنزیر غوښه حرامه ده

ب: قهري تحریم دې ته وایي چې الله ﷻ چا ته د جنایتونو د کبله موقع ورنه کړي چې د حرام کړی شوی شي څخه استفاده وکړي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ [الأعراف: ٥٠] یعني: دوی (جنتیان به د دوزخیانو په جواب کښې) ووایي چې: یقیناً الله ﷻ جنتي خوراک او څښاک په کافرانو باندې حرام کړی دی

ج: تسخیري تحریم دې ته وایي چې الله ﷻ د څه حکمتونو په بناء د چا څخه د یوه شي د استفادې وسه واخلي، لکه چې د موسی ﷺ څخه یې د خپلې مور څخه په غیر د تې رودلو وسه اخستې وه. او یا په بل عبارت: هغه یې په خپل تکویني امر سره متوجه کړی وه چې د خپلې مور څخه په غیر د بلې زنانه تی ونه روي. لکه چې فرمایي: ﴿ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ ﴾ [القصص:١٢] یعني: او مونږ په موسی ﷺ باندې د شودو دایي ګانې حرامې کړې وې.

ځینې مفسرین کرام وایي چې په دې مقام کښې د تحریم څخه تعبدي تحریم مطلب دی[4]، چې بني اسرائیل مکلف وه چې تر څلوېښتو کالو پورې هلته تال شي، اما په موسی ﷺ او په خاصو ملګرو باندې دا مکلفیت نه وه.

هو! دا بېله خبره ده چې دوی هم د هغوی د دعوت په خاطر هلته تم شوې وه.

مګر جمهور مفسرین کرام وایي چې دلته تکویني (تسخیري) تحریم مراد دی چې بني اسرائیل په

---

(١) زاد المسیر ج٢ ص٣٦٢

(٢) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٢ ص١٠٧

(٣) تفسیر البغوي ج٢ ص٢٦؛ مفردات الراغب ص١١٣

(٤) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٢ ص١٠٧

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکره شوې موده کښې هلته بند پاتې وه او د وتلو وسه يې نه درلوده[۱]، اما موسی ﷺ او د ده خاصو ملګرو د وتلو وسه درلوده مګر د دوی د دعوت د کبله هلته مېشت وه.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ايا دا خبره عقل ته لوېږي چې يو غټ ټولګی خلک په يوه ميدان کښې را ايسار وي او تر څلوېښتو کالو پورې د وتلو لاره مونده نه کړي؟

مونږ وايو چې: دا کار خارق العاده وه او خوارق خو ټول د عقل د ساحې څخه بېرون وي. ويل کېږي چې دوی به چې هرڅومره مزل وکړ مګر په نتيجه کښې به په خارق العاده توګه او په لاشعوري ډول هغه ځای ته ورستانه شوي وه چې دوی به ترې حرکت کړی وه[۲].

اما مونږ ته د بني اسرائيلو د ايسارېدلو وجه دا هم لرې نه برېښي چې دوی به د وتلو چاره نه مونده کوله او دا ځکه چې مصر ته د فراعنه وو د ډاره نه شو ورتلای، او په مقدسې ځمکه کښې جبابره اوسېدل او په نورو ځمکو کښې به هم جهاد ته ضرورت وه او د دوی خو جهاد ته ملاوې ماتې وې. علاوه په دې داسې وطن به هلته نه مونده کېده چې دوی ورته هجرت کړی وی لکه څنګه چې مونږ (افغانانو) ته د روسيانو سره د جهاد په وخت کښې مونده شوی دی.

لنډه دا چې ټول کارونه الله ﷻ کوي نو د اسبابو نه برابرول د تحريم څخه په غير بل شي نه دی.

## يادونه

۵_ که څه هم د تحير په ميدان کښې (چې اوسنی نوم يې د سينا ډاګ دی) د بني اسرائيلو اوسېدانه د موسی ﷺ د ښېراوو په اثر وه او څه د تعذيب او تاديب شکل يې درلود، مګر هملته الله ﷻ د دوی ټول اولني ضروريات پوره کړي وه او مَن او سَلوی يې ورباندې ورنازله کړې وه، لکه چې پوره بحث يې په اولنی سپاره کښې تېر شوی دی.

## فاتح څوک وه؟

۶_ کله چې بني اسرائيلو موسی ﷺ ته جواب ورکړ چې مونږ د جبارينو سره جهاد ته تيار نه ياستو، نو په دغه وخت کښې چې د دوی څخه هر چا د شلو کالو څخه اضافه عمر درلود هغوی ټول د څلوېښتو کالو په موده کښې مړه شوه[۳]، او د مقدسې ځمکې فتحه يې په نصيب نه شوه، مګر د همدوی د زوزات څخه د ذکرې شوې مودې د تېرېدلو څخه وروسته بنه يوه مجاهده ډله جهاد ته چمتو شوه او د جبارينو ښار يې فتحه کړ.

اما په دې خبره کښې اختلاف دی چې د فتحې په وخت کښې موسی ﷺ ژوندی وه که څنګه؟

---

(۱) روح المعاني ج ۶ ص ۱۰۹

(۲) البحر المحيط ج ۴ ص ۲۲۳

(۳) اللباب في علوم الكتاب ج ۷ ص ۲۷۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځینې علماء کرام وايي چې: موسی علیه السلام وفات شوی وه او ذکره شوې فتحه د ده د نائب (یوشع بن نون) په قوماندانۍ بانديې ترسره شوه[۱].

مګر قوي خبره دا ده چې موسی علیه السلام ژوندی وه او د جبارینو سره یې په جهاد بانديې ځېلې سترګې یخې کړې او دا ارمان یې د ځپله ځانه سره قبر ته یونه وو[۲]. حتی چې د سیرت علماء کرام وايي چې عوق بن عنق (چې د پر قوي کافر وه) پخپله موسی علیه السلام قتل کړ[۳].

## د موسی علیه السلام او هارون علیه السلام د وفات قیصه

۷ـ که څوک غواړي چې د موسی علیه السلام او هارون علیه السلام د وفات په باره کښې عجائب او غرائب ولولي نو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۴]. مونږ ته یې دلته رانقلول چندان ګټور ونه بریښېده.

﴿ وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱبْنَىْ ءَادَمَ بِٱلْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ ٱلْـَٔاخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ ۖ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٢٧﴾ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَىَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِى مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٍ يَدِىَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ إِنِّىٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثْمِى وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَطَوَّعَتْ لَهُۥ نَفْسُهُۥ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٣٠﴾ فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِى ٱلْأَرْضِ لِيُرِيَهُۥ كَيْفَ يُوَٰرِى سَوْءَةَ أَخِيهِ ۚ قَالَ يَٰوَيْلَتَىٰٓ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا ٱلْغُرَابِ فَأُوَٰرِىَ سَوْءَةَ أَخِى ۖ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾ ﴾

[۲۷] او په دوی (بني اسرائیلو) بانديې د آدم علیه السلام د دوه زامنو مهمه قیصه په حقه (ربښتیا) سره ولوله. کله چې دواړو (هر یوه) څه قرباني (د الله جل جلاله حضور ته) وړاندې کړه، نو د یوه کس څخه قبوله کړی شوه او د بل کس څخه قبوله نه کړی شوه

(د غه بل کس اولني کس ته) وویلې چې: خامخا هرو مرو به تا ووژنم. (اولني کس) وویلې چې: یقیناً الله جل جلاله د متقیانو څخه (قرباني) قبلوي.

[۲۸] که چېرې ته ماته خپل لاس رااوږد کړې چې ما ووژنې (تعرض راباندې وکړې نو وبه یې کړې مګر) زه تا لره د خپل لاس دراوږدونکی نه یم چې ودې وژنم.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۱ ص۲۰۱

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۶؛ تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۳۱

(۳) زاد المسیر ج۲ ص۲۶۳

(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۶؛ تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۳۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً زه د الله ﷻ څخه ډارېږم چې د ټولو عالمونو پالونکی دی.

[۲۹] بې شکه زه غواړم چې ته زما په ګناه او په خپله ګناه (دواړو باندې) رجوع وکړې (د دواړو متحمل شې)، نو د اور د اوسېدونکو (دوزخیانو) څخه به جوړ شې، او همدا د ظالمانو جزا ده.

[۳۰] نو ده ته خپل (اماره) نفس د خپل ورور وژل اسان کړه، نو ویې واژه، نو د زیانکارانو څخه شو.

[۳۱] نو الله ﷻ کارغه (ور) واستاوه چې په ځمکه کښې یې کندنه کوله، د دې دپاره چې هغه ته وروښايي چې د خپل ورور لاش څنګه (په ځمکه کښې) پټ کړي.

(کله چې قاتل کارغه ولید) نو ویې ویلې چې: ای زما افسوسه! (راشه همدا دې وخت دی) ایا زه د دې څخه هم عاجز (بې وسه) شوم چې د دغه کارغه په مثل جوړ شم نو د خپل ورور لاش پټ کړم. نو د پښېمانې کوونکو څخه وګرځېده.

## ارتباطونه

په دې مقام کښې د هابیل علیه الرحمة او د قابیل قیصه د لاندې وجوهو د کبله د وړاندېنیو ایتونو سره ارتباط درلودلی شي:

۱ـ دغې قیصې د حسد څخه سرچینه اخستې ده، لکه چې د یهودو لجاجت د حسد څخه سرچینه اخلي او د پوهې سره په نبي کریم ﷺ باندې ایمان نه راوړي.

۲ـ یهودان په حقه مقاتله (جهاد) کښې جبن (بې زړه توب) ته لاس اچوي. د همدې کبله یې د موسی ؑ دعوت قبول نه کړ او د جبارینو سره جهاد ته ملاماتې شوه.

اما په ناحقه وژنه کښې زیات جسارت ښکاره کوي. د همدې کبله یې بې شماره پیغمبران وژلي دي او حتی د صحابه وو کرامو وژلو ته یې هم لاسونه وراوږده وکړه، خو الله ﷻ وسه ورنه کړه. لکه څنګه چې قابیل د خپل ورور (هابیل علیه الرحمة) وژلو ته لاس وراوږد کړ او د هغه وینه یې په ناحقه توی کړه.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! په بني اسرائیلو باندې د آدم ؑ د دوه زامنو قیصه قرائت کړه چې د حسد کبله یو تن په خپل ورور باندې ورپورته شو او په ناحقه یې د هغه وینه توی کړه او د قیامت د ورځې پورې یې د ظالمانه وژلو اساس کېښود.

دا د دې دپاره چې دوی ترې عبرت واخلي او د حسد او کینې څخه لاس په سر شي، د هغوی دواړو په منځکښې هیڅ داسې خبرې موجودیت نه درلود چې د قتل موجبه جوړه شوې وه، مګر صرف حسد او بدنیتي وه چې د قتل سبب شوه.

دا څکه چې د آدم ؑ دواړو زامنو هر یوه د الله ﷻ د رضا دپاره د خپلو مالونو څه برخه د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نژدېکت وسیله وګرځوله، چې الله ﷻ د یوه وسیله او قرباني منظوره کړه او د بل یې منظوره او مقبوله نه کړه. او الله ﷻ هغه څه کوي چې خوښه یې شي.

د نامقبولې قربانۍ خاوند په غوصه شو او په ترهو تندي باندې یې هغه بل مخاطب کړ چې خامخا هرومرو به دې وژنم، زه دا نه شم تحمل کولی چې ستا قرباني قبلېږي او زما قرباني دې قبوله نه شي.

د مقبولې قربانۍ خاوند جواب ورکړ چې ته هیڅ حق نه لرې چې ما ووژنې، د قبول او نه قبول کار خو زما په لاس کښې نه دی، بلکې د الله ﷻ کار دی چې د چا قبلوي او د چا نه قبلوي الله ﷻ ته د هر چا اخلاص او تقوی ښه څرګنده ده او د مستحق غیر مستحق ښه پېژني د ده ﷻ د قربانیو د قبول قانون دا دی چې د متقیانو قرباني قبلوي.

نو ته مهرباني وکړه او په عوض د دې چې ماته غابښ چیچې وکړې خپله تقوی تجدید النظر کړه، که ته ما شهید هم کړې الله ﷻ به درڅخه لا زیات ناراض شي او د قربانۍ د قبول چانس به دې بالکل د لاسه ووځي.

۲ـ زما فیصله دا ده چې زه به هیڅکله ستا د قتل دپاره لاس دراوږد نه کړم که څه هم زه حق لرم چې د خپل قتل څخه وړاندې درباندې وار ړومبی کړم او د منځه دې یوسم، مګر زه دا کار نه کوم، زه د الله ﷻ څخه ډارېږم هسې نه چې راڅخه ناراض شي.

یا په بل عبارت: د قبول او نه قبول وجه اوس سمدستي څرګنده شوه چې ته د الله ﷻ څخه نه ډارېږې بې ګناه قتل ته دې ملا تړلې ده او تقوی دې د پښو لاندې کړې ده، نو قرباني دې د قبول د چوکاټ لاندې نه راځي. اما زه بالعکس د الله ﷻ څخه ډارېږم او هر یو کار مې په تقوی باندې ولاړ دی، نو قرباني مې هم د قبول په چوکاټ کښې داخله ده.

لنډه دا که بالفرض زما قرباني نه وی قبوله شوې هم نو ما به هیڅکله د ورورووژنې نیت نه وی کړی، بلکې په خپله تقوی باندې به مې تجدید النظر کړی وی.

۳ـ نو که ته خپل ضد او حسد ته ادامه ورکړې او زما د وژلو پسې تاند ووهې او زما نصائح د پښو لاندې کړې نو که په دفاعي صورت کښې زما د لاسه ستا په باره کښې څه اقدام وشي د هغه مسئول به هم همدا ته یې. نو د یو پلوه به د خپل عمل ګناه ستا په اوږو باندې بار شي او د بل پلوه به زما د دفاعي عمل ګناه هم تاته متوجه وي. او یا د یوه پلوه به زما د قتل ګناه ستا په غاړه واقع شي او د بله پلوه به دې پخوانۍ هغه ګناه هم په غاړه پاتې شي چې د هغې د کبله دې قرباني نه ده قبوله شوې، په دواړو صورتونو کښې به دوزخي جوړ شې او دا څکه چې دوزخ د ظالمانو دپاره تیار کړی شوی دی او په دې صورت کښې به ستا څخه غټ ظالم بل څوک وي؟، په دنیا کښې خو به په ماباندې زړه یخ کړې او ما به ووژنې (که وسه دې وشي) نو د قیامت په ورځ به د کښې او حسد لمبې په څه شي مړې کړې چې ما الله ﷻ جنت ته بوځي او تا په دوزخ کښې ورواچوي؟ نو ښه دا ده چې د نوموړي سوء قصد څخه لاس په سر شې او د خپل ځان د اصلاح دپاره هڅه وکړې.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ بالآخره د آدم ظالم زوی په مظلوم ورور باندې خپل سوء قصد عملي کړ او خپل خان یې بې ورور کړ او د دنیا او آخرت د زیانکارۍ متحمل شو، چې د قیامت د ورځې پورې د ټولو قاتلانو دپاره یې (چې په اول سر کښې یې یهودان دي) د قتل اساس کېښود، او د شهید ورور نصائح یې ټول د پښو لاندې کړه.

۵ـ مګر د خپل ورور د شهادت څخه وروسته نه پوهېده چې د شهید د تکفین او تدفین بندوبس وکړي او د شهید لاش د سترګو پنا کړي. نو الله ﷻ فضل وکړ او يوه کارغه ته یې وظیفه ورکړه چې ذکر شوي قاتل ته د دفن کولو طریقه ورزده کړي، هغه دا چې کارغه د نوموړي په وړاندې ځمکه وکنوده او څه شی یې پکښې دفن کړ، سمدستي د قاتل خپلې سادګۍ ته فکر شو او په حسرت سره یې وویلې چې کاشکې ما هم د دغه کارغه په شان د قتل نه اول وخت کښې خپل وژل شوی ورور دفن کړی وی، او د هغه لاش مې په جلتۍ سره د خپلو سترګو څخه پنا کړی وی.

لهذا دا چې د پښېمانۍ او حسرت څخه وروسته یې د کارغه شاګردي قبوله کړه او د خپل شهید ورور لاش یې دفن کړ او خپل مټ یې د تل دپاره پرې کړ.

## توضیحات

۱ـ ځینې علماء کرام وایي چې: په دې مقام کښې د آدم ﷺ د دوه زامنو څخه د بني اسرائیلو دوه سړي مراد دي چې دواړه ورونه وو او یو پورته شو، بل یې وواژه[١]. او دا ځکه چې:

الف: په ﴿ عَلَيۡهِمۡ ﴾ کښې ضمیر بني اسرائیلو ته راجع دی چې د ټېر وړاندې څخه په همدوی کښې بحث راروان دی نو معلومه شوه چې ذکر شوي دواړه (قاتل او مقتول) به هم د همدوی څخه وي.

مګر دا وجه کمزورې ده ځکه چې په بني اسرائیلو باندې د ذکرې شوې قیصې لوستل د دې کبله دي چې دوی د ذکر شوي قاتل په شان حاسدان دي، نه د دې کبله چې هغه د دوی د نژاد څخه وه.

ب: دلته د قربانۍ قبول په دې باندې وپېژندل شو چې د آسمانه اور رابښکته شو او د مقتول قرباني یې پورته کړه خو د قاتل قرباني په ځای پاتې شوه[٢]، حال دا چې د قبول دغه علامه په بني اسرائیلو پورې خاصه ده نو معلومه شوه چې ذکره شوې قیصه هم په همدوی کښې واقع شوې ده.

مګر دا وجه هم چندان مزه ناکه نه ده، او دا ځکه چې اول خو دا ثابته نه ده چې د قربانۍ د مقبولیت ذکره شوې نخښه په بني اسرائیلو پورې مختصه ده او بالفرض که مختصه هم وګڼله شي نو بیا دا معلومه نه ده چې ذکره شوې قبوله شوې قرباني په همدغې طریقې سره پېژندله شوې ده.

څه لرې نه ده چې الله ﷻ آدم ﷺ ته د مقبولې قربانۍ په باره کښې وحې کړې وي چې د فلاني قرباني د الله ﷻ په نزد مقبوله ده[٣].

---

(١) زاد المسیر ج۲ ص۲۶۳
(٢) التفسیر الکبیر ج۱۱ ص۲۰۵
(٣) تفسیر المنار ج۶ ص۳۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جمهور علماء کرام وايي چې ذکر شوې قيصه د آدم ﷺ په دوه زامنو کښې پېښه شوې ده چې د قاتل زوی نوم يې قابيل وه او په عمر کښې مشر وه او د مقتول زوی نوم يې هابيل ده ووه چې په عمر کښې د قاتل څخه کشر وه مگر په قوت کښې وړاندې دیاسه وه[1] او دا ځکه چې

اول په ﴿ ابْنَيْ آدَمَ ﴾ کښې د ابن اطلاق په حېلو زامنو باندې حقيقت دی او په لمسيانو او کړوسيانو باندې مجاز دی ترڅو پورې چې حقيقت متعذر شوی نه وي، نو بايد چې مجازي معنی اراده نه کړی شي

دوهم په لاندې حديث شريف کښې قاتل د آدم ﷺ د اولنې زوی په نامه باندې تفسير شوی

عبد الله بن مسعود ﷜ وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې «لا تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ»[2] يعني: هيڅ نفس په ظلم سره نه وژل کېږي مگر د آدم ﷺ په اولنی (مشر) زوی باندې د هغه قتل څه برخه واقع کېږي. ځکه چې يقيناً همدی هغه خوک دی چې د قتل لار يې جوړه کړې ده يعني په هغه باندې د تاسيس گناه شته دی.

## يادونه

۲ـ د "قُرْبَان" د کلمې تفصيل د [آل عمران:۱۸۳] ايت لاندې تېر شوی دی، بيا ليکلو ته يې حاجت نه گورو.

## د "قُرْبَان" وړاندې کولو باعث څه شی وه؟

۳ـ خينو علماوو د قرباني د وړاندې کولو څه اسباب ليکلي دي چې په يوه سبب باندې هم سړی د صحت گومان نه شي کولی[3]. مثلاً يو سبب يې دا بنودلی دی چې بي بي حواء رضي‌الله‌عنها به په هر خل باندې دوه بچې زېږول چې يو به نارينه وه او بل به زنانه وه مگر په هر نارينه باندې همدغه خور حرامه وه چې غبرگه به ورسره تولد شوې وه.

يا په بل عبارت: آدم ﷺ به دوه زامنو ته په دوه خورگانو باندې بدل کاوه او نکاح به يې ورته ترله. په همدې اساس باندې آدم ﷺ وغوښتل چې د قابيل او هابيل ده ووند په منځکښې هم د خويندو بدلون وکړي او دواړو ته کورونه آباد کړي چې مانه الله ﷻ همداسې امر کړی دی، مگر قابيل دا خبره ونه منله او وې ويل چې زما خور ښائسته ده زه يې پخپله نکاح کوم او نه الله ﷻ دغسې امر نه دی کړی بلکې دا کار ستا خپل خاني دی. آن تر دې چې د قابيل د قناعت دپاره د قرباني په وړانديز باندې فيصله وشوه چې که د هر چا قرباني منظوره شوه هغه به دغه ښائسته

---

(۱) المحرر الوجيز ج۵ ص۷۷
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۶۹
(۳) تفسير القرطبي ج۶ ص۱۳۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انجلی (د قابیل غبرګونې) په نکاح اخلي، چې په نتیجه کښې د قابیل قرباني منظوره نه شوه او د هابیل علیه الرحمة منظوره شوه او خبره په قتل تمامه شوه.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې د قربانۍ د وړاندې کولو دپاره د داسې اسبابو جوړولو ته حاجت نشته چې د ورايه پکښې د عدم صحت نښې ځلېږي، مثلاً:

آدم علیه السلام ورته وويلې چې: ماته الله ﷻ همداسې امر کړی دی او په مقابل کښې يې قابيل وويلې چې دغسې نه ده دا ستا خپل انتخاب دی، يعني ته دروغ وايې، العياذ بالله.

نو بهتره دا ده چې ذکرې شوې قربانۍ به څه خاص سبب نه درلود، بلکې د آدم علیه السلام د دوارو زامنو به قربانۍ کولو ته شوق او مينه پيدا شوې وي لکه چې د هر مؤمن په زړه کښې دغسې ولولې ډېرې پرېوځي چې صرف د الله ﷻ د رضاء دپاره څه نذرانه وړاندې کړي.

## يادونه

۴_ که څه هم ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې قابيل د ورور په قتل باندې کافر شو[1]، مګر د ايت شريف څخه د هغه دوزخي ګرځېدل ثابت دي خو د همېشوالي نخښې پکښې نه ښکاري. نو بهتره دا ده چې سړی ورباندې د کفر حکم ونه کړي او دا خکه چې د مسلمان په قتل باندې ترهغه سړی نه کافر کېږي چې ترڅو يې حلال ونه ګڼي چې تحقيق يې د [النساء:۹۳] ايت لاندې تېر شوي دي، او دا معلومه نه ده چې قابيل به د هابيل علیه الرحمة قتل حلال ګڼلی وی او که نه.

د همدې کبله ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې د کافرانو مشر ابليس علیه اللعنة دی، او د خطاکارانو مشر قابيل دی[2]، نه دا چې په کفر کښې دوهم (قابيل) مشر دی.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې په ذکره شوې قيصه کښې قرباني څه شی وه چې د الله ﷻ د رضا دپاره يې وړاندې کړ؟

مونږ وايو چې: د قربانۍ په تشخيص کښې څه ګټه نشته د همدې کبله الله ﷻ مونږ ته مشخصې نه کړې، مګر ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې قابيل د کښت (زراعت) خاوند وه، او په خپلو زراعتي حاصلاتو کښې يې څه خراب حاصلات ولټول او هغه يې د قربانۍ دپاره وړاندې کړه حتی چې هيڅ ښه خنده يې پکښې پرېنښودله[3].

اما هابيل علیه الرحمة د څړېدونکو مالونو خاوند وه او په خپلو مواشي وو کښې ډېر ښه غوره ګډ ولټاوه او هغه يې د الله ﷻ د رضا دپاره وړاندې کړ چې الله ﷻ قبول کړ او په جنت کښې يې تر هغه وساته چې ابراهيم علیه السلام ته يې راښکته کړ او هغه د اسماعيل علیه السلام په عوض ذبحه کړ[4].

---

(۱) تفسير القاسمي ج۶ ص۱۶۲
(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۱۴۲
(۳) تفسير القرطبي ج۶ ص۱۳۳
(۴) تفسير ابن کثير ج۲ ص۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وايي چې: ایا هابیل علیه‌الرحمة ته جائزه نه وه چې د خپل خان څخه یې دفاع کړې وې؟ یا په بل عبارت: نوموړی خو د قابیل (ظالم) جرئت لا زیات کړ، چې ورته یې وویل که ته مې وژنې هم زه د خپل خان دفاع هم نه کوم؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د هغه په شریعت کښې د خپل خان څخه دفاع جائزه نه وه[1] مګر دا جواب چندان د منلو وړ نه دی او دا ځکه چې د یوه ظالم قاتل په مقابل کښې د دفاع څخه لاس اخستل خو د خان وژنې څخه په غیر بل شی نه دی، او خان وژنه خو په هیڅ شریعت کښې جائزه نه وه.

نو په جواب کښې دا ښه ده چې د هابیل علیه‌الرحمة مطلب دا نه وه چې زه به ستا په مقابل کښې لږ تر لږه د خپله خانه دفاع هم ونه کړم، او نه دا خبره د ایت شریف څخه فهمېږي او دا ځکه چې بسط الید (د لاس اوږدونه) په تعرض کښې استعمالېږي نه په دفاع کښې.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: که ته په ما باندې تعرض وکړې نو وبه یې کړې مګر زه په تا باندې تعرض کوونکی نه یم زه د الله ﷻ څخه دارېږم.

په همدې مضمون باندې لاندې احادیث دلالت کوي:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ شَهَرَ سَيْفَهُ ثُمَّ وَضَعَهُ فَدَمُهُ هَدَرٌ»[2] یعني: هر څوک چې خپله توره وباسي بیا یې کېږدي (توره ښکته پورته کړي) نو وینه یې ضائع ده (مرګ یې جائز دی).

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ»[3] یعني: دوه کنځل کوونکي چې دوی دواړه څه وایي نو (ګناه یې) د دواړو څخه د پیل کوونکي په غاړه ده (ځکه چې همدی ظالم دی) ترڅو پورې چې مظلوم (په انتقام کښې) تجاوز نه وي کړی (د انتقام څخه اضافه کنځل یې نه وي کړي).

ج: ابو بکرة رضي الله عنه وايي چې د نبي کریم ﷺ څخه مې اورېدلي دي چې: «إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ» یعني: په هغه وخت کښې چې دوه مسلمانان خپلې دوه توري سره پیوسته کړي (او یو پرې بل ووهي) نو قاتل او مقتول دواړه په اور کښې دي. ما وویلې چې: «يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ» ای د الله رسوله! دا خو قاتل دی، نو د مقتول څه حال دی (ولې په اور کښې دی)؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ»[4] مقتول خو هم د خپل اندیوال په وژلو باندې حارص وه. یعني دواړه یو په بل باندې تعرض کوونکي دي.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۴ ص۱۹۲
(۲) سنن النسائي ج۲ ص۱۷۳
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۲۱
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: الهي قانون دا دی چې هر څوک فقط په خپله ګناه باندې نیولی کېږي، نو ایا د هابیل علیه الرحمه دا خبره صحت لري چې: ﴿ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ ﴾ یعنې: یقینًا زه اراده لرم چې زما په ګناه او په خپله ګناه باندې اخته شې؟

ځینې مفسرین کرام په جواب کښې وايي چې: دا عبارت د مضاف په حذف سره دی چې "بإثم قتلي" یعنې: زه غواړم چې زما د قتل ګناه او ستا خپله ګناه چې ستا د قربانۍ د قبول مخه یې نیولې وه دواړه ستا په اوږو بار شي. مګر دا جواب چندان متبادر نه دی.

مونږ ته داسې برېښي چې مظلوم حق لري چې د خپله ځانه دفاع وکړي اګر که په مقابل کښې یې ظالم مسلمان وي، او ښکاره ده چې دفاع کول کله-کله قتل ته منجر کېږي او د مسلمان قتل خو ګناه ده، مګر دا ګناه هم د متعرض ظالم په غاړه ده، ته به وايي چې ظالم پخپله خپل ځان وژلی دی. نو په دې مقام کښې یې د جواب حاصل دا دی چې: ای قابیله! که بالفرض په دفاع کښې ته ووژل شې نو ته به د خپل ځان قاتل هم وګڼل شې.

په همدې مضمون باندې لاندې حدیث ډېره ښه رڼا اچوي:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: د کبیره ګناهونو څخه دا هم ده چې سړی مور او پلار ته کنځلې وکړي. صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ایا مور او پلار ته هم سړی کنځلې کوي؟، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «نَعَمۡ يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَشۡتِمُ أُمَّهُ فَيَشۡتِمُ أُمَّهُ»[1] یعنې: هو، چې د بل سړي پلار ته کنځل وکړي نو هغه د ده پلار ته کنځل وکړي، او د هغه مور ته سپکې خبرې وکړي نو هغه د ده مور ته سپکې سپورې خبرې وکړي. یعنې نو نوموړی سړی داسې ګڼل کېږي لکه چې پخپله یې مور او پلار ته کنځلې او سپکې سپورې خبرې کړې وي.

او دا هم څه لرې نه ده چې د هابیل علیه الرحمه مطلب دا وي چې: ای قابیله! که ته په ما باندې ظلم وکړې نو د قیامت په ورځ به د ظلم په مقابل کښې زما ګناهونه هم په تا باندې دربار شي البته په هغه وخت کښې چې ستا حسنات د ظلم تکافؤ ونه کړی شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: هر چا چې په خپل ورور باندې څه ظلم کړی وي نو نن ورځ دې ترې ځان خلاص کړي (یا دې ترې عفوه واخلي او یا دې راضي کړي) وړاندې د هغې ورځې څخه چې هلته نه دینار وي او نه درهم وي، که څه نیکي یې درلوده د ظلم په اندازه به ترې واخستلی شي او که څه حسنات یې نه درلوده نو «أُخِذَ مِنۡ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيۡهِ»[2] یعنې: د انډیوال (مظلوم) د ګناهونو څخه به واخستل شي او په ده (ظالم) باندې به وربار کړی شي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۳۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٨_ كه څوك وايي چې: د ذكر شوي تفصيل په بنا بايد چې هابيل عليه الرحمة د خپل ځان دفاع كړې وى؟.

مونږ وايو چې: خينو مفسرينو كړې و ليكلي دي چې نوموړى په خوب باندې ويده وه چې قابيل يې يوه غټه ډبره په سر باندې ورخلاصه كړه او شهيد يې كړه[1]، چې د دفاع هيڅ فرصت لاس ته ورنغى. او كه بالفرض په ويښه باندې يې وژلى وى هم څه لرې نه ده چې دفاع به يې ګټوره نه وى واقع شوې، كه څه هم خپل كوښښ به يې كړى وى، والله ﷻ اعلم.

## كارغه استاذ

٩_ كله چې قابيل خپل كشر ورور (هابيل عليه الرحمة) په شهادت ورساوه نو د لاندې وجوهو د كبله په حيرت كښې ولوېد چې د لاش سره به يې څه ډول چال چلند وكړي:

الف: د ځمكې په مخ اولنى انسان هابيل عليه الرحمة وه چې مړ شو، د ده څخه وړاندې بل څوك نه وه مړ شوى چې د تدفين طريقه يې معلومه وى.

ب: څه لرې نه ده چې د نوموړي لاش تعفن (بد بويي) هم كړې وي او د تعفن د كبله قابيل زړه تنګى شوى وي، او يا وړاندې د ده په وړاندې مرغان راغونډ شوي وي چې ترڅو پرې خپلې خېټې ډكې كړي.

ج: په طبعي توګه انسان نه خوښوي چې په قرب جوار (څنګ ګاونډ) كښې يې د مړي لاش پروت وي، نه به وايي چې ورڅخه دارېږي، كه څه هم د ډېر خواږه انديوال لاش يې وي.

د: احتمال لري چې قابيل به د پلار او مور (آدم عليه السلام، حواء رضي الله عنها) د كبله هم د نوموړي په لاش باندې په حيرت كښې لوېدلى وي چې د هغوى د سترګو څخه يې پټ كړي.

لنډه دا چې قابيل په همدې تحير كښې وه چې يوه كارغه د ده په وړاندې يوه مانوره ترسره كړه او نوموړي ته يې د شهيد ورور تدفين ورزده كړ، او كارغه يې استاذ شو.

## د كارغه مانوره (عمليه)

١٠_ كه څه هم مفسرينو كرامو د كارغه په عمليه كښې ډېر څه ليكلي دي[2]، چې ذكره شوي عمليه دوه كارغانو اجراء كړه او يوه بل ووژاه او بيا يې دفن كړ او داسې نور؛ مګر د ايت شريف څخه فقط لاندې دوه صورتونه ښه څرګندېږي، چې يوازې يوه كارغه اجراء كړې دي[3].

الف: يوه كارغه د قابيل په وړاندې په منوكې او پښو سره ځمكه ژوره كړه، نه به وايي چې د خوراك څه شى لټوي.

---

(١) زاد المسير ج٢ ص٣۶۶

(٢) التفسير الكبير ج١١ ص٢٠٩؛ في ظلال القرآن ج٢ ص٨٧٧

(٣) تفسير المنار ج۶ ص٣۴۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب بوه کارغه ځمکه ژوره کړه او څه شی یې پکښې دفن کړ، لکه چې تدفین د کارغانو عادت دی.

په هر صورت، قابیل ته د کارغه د عملیې څخه د خپل ورور د لاش د تدفین فکر پیدا شو.

## کارغه موظف وه

۱۱ـ ځینې علماء کرام وایي چې ذکر شوی یو کارغه یا دوه کارغان یوه یا دوه ملکې وې چې د الله ﷻ د پلوه د مرغانو په صورت کښې د ذکر شوي عمل د اجراء دپاره توظیف شوې وې[١]، لکه چې د ﴿ فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا ﴾ جمله وربانديې دلالت کوي.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې څه حاجت نشته چې سړی د ایت شریف متبادره معنی پرېږدي ځکه چې الله ﷻ کله-کله حیوانات هم توظیفوي، چې په زړه کښې د یوه کار اجراء کول ورواچوي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ ﴾ [النحل:۶۸] یعنې: او ستا رب د شاتو مچیو ته په زړونو کښې ورواچوله (چې شات جوړ کړي).

## د کارغه ښودانه ساده وه

۱۲ـ څرنګه چې د کارغه ښودانه ډېره ساده وه، په کار خو دا وه چې قابیل پرې پخپله پوه شوی وی او کارغه یې نه وی استاذ شوی نو نوموړی ډېر خپه شو او افسوس یې وکړ چې کاشکې د خپل ورور لاش مې تر اوسه پورې د تدفین څخه نه وی ټال کړی او د وژلو سره سم مې دفن کړی وی.

ایا زه د کارغه څخه هم ساده وم چې د تدفین طریقه مې زده نه وه؟ که د کارغه استاذ ښودانه نه وی نو ترڅه وخته به مې د حیرت شپې تېرولی؟

## سوال جواب

۱۳ـ که څوک وایې چې: ایا د قابیل ندامت او پښیماني د خپل ورور په وژلو باندې نه وه؟

مونږ وایو چې که بالفرض نوموړی د خپل ورور په وژلو باندې نادم شوی وی نو الله ﷻ به د هغه د خولې څخه داسې حکایت کړی وی چې "يَا وَيْلَتَا لِمَ اقْتُلْ" یعنې: کاشکې چې خپل ورور مې نه وی وژلی، څرنګه چې نوموړی فقط د خپل ورور د لاش په عدم تدفین باندې حسرت کړی دی نو معلومه شوه چې په وژلو باندې پښېمانه نه وه.

## سَوْأَةَ څه معنی؟

۱۴ـ که څه هم د "سَوْأَةَ" اطلاق د کنایې په توګه په عورت باندې کېږي چې سړي ته یې پټول ضرور ښکاري[٢]، مګر په دې مقام کښې د "سَوْأَةَ" څخه د هابیل عليه السلام لاش مراد دی ځکه چې

(١) روح المعاني ج۶ ص۱۱۶

(٢) مفردات الراغب ص۲۵۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قابیل ته یې د سترګو څخه پنا کول ډېر ضرور ښکارېده. ته به وایې چې تول لاش عورت وه او په ښکاره کولو باندې یې د خجالت سره مخامخ کېده.

## آدم ﷺ ته د هابیل علیه الرحمة عوضونه

۱۵_ د هابیل علیه الرحمة د وژنې د کبله آدم ﷺ زښت ډېر غمژن شو[۱]، مګر الله ﷻ ورته د آخرت اجرونه ساتلي دي او په دنیا کښې یې هم عوضونه ورکړه.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي په کوم وخت کښې چې آدم ﷺ وفات شو نو اولادونه او لمسیان یې څلوېښتو زرو (۴۰۰۰۰) تنو ته رسېده[۲].

## یادونه

۱۶_ که څوک غواړي چې د هابیل علیه الرحمة په قیصه کښې څه عجائب او غرائب ولولي نو ځینو تفاسیرو[۳] ته دې مراجعه وکړي، مونږ رانقل نه کړه ځکه چې صحت یې راته مزه ناک ښکاره نه شو.

﴿ مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾

[۳۲] د همدې (ذکر شوي قتل) د کبله مونږ په بني اسرائیلو باندې (لیکل شوی) حکم کړی وه چې بې شکه شان دا دی چې هر څوک یو کس بې د بل کس (د قصاص) څخه او بې د فساد څخه په ځمکه کښې ووژني نو دا داسې دی لکه چې یقینًا تول خلک یې وژلي وي، او څوک یې چې ژوندی کړي نو دا داسې دی لکه چې یقینًا تول خلک یې ژوندي کړي وي (نجات یې ورکړی وي).

او بې شکه دوی (بني اسرائیلو) ته زمونږ پیغمبران د معجزاتو سره ورغله (مګر) بیا د دوی څخه ډېر خلک د همدې څخه وروسته (هم) په ځمکه کښې خامخا تجاوز کوونکي دي.

## ارتباط

په دې ایت شریف کښې یو عمومي قانون بیان شوی دی چې د تشریع سبب یې د قابیل او هابیل علیه الرحمة قیصه ده، کومه چې په وړاندېنیو ایتونو کښې تېره شوې ده.

(۱) المحرر الوجیز ج۵ ص۸۰

(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۱۳۵

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۱_ ص۴۶؛ البحر المحیط ج۴ ص۲۳۶؛ تفسیر خازن ج۲ ص۲۶۷؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۳۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

يعنې: د دې کبله چې قابيل خپل ورور شهيد کړ حال دا چې نه يې څوک وژلی وه چې ورباندې قصاص شوی وی او نه يې په ځمکه کښې څه فساد کړی وه چې مباح الدم جوړ شوی وی، مونږ په بني اسرائيلو باندې بلکې په ټوله انساني دنيا باندې دا حکم وکړ چې هر څوک دغسې بې ګناه مسلمان قتل کړي نو دا کار د الله ﷻ په نزد داسې ګڼل کېږي لکه چې ټول خلک يې قتل کړي وي، نو په کار دي چې ورباندې قصاص کړی شي.

او دا ځکه چې د يو کس قاتل او د ټولو خلکو قاتل په لاندې شيانو کښې سره شريک دي که څه هم په کم او کيف کښې به فرق لري.

١ ــ دواړه دوزخيان دي. ٢ ــ دواړه د الله ﷻ د لعنت او غضب مستحق دي. ٣ ــ دواړه په قصاص کېدلی شي. ۴ ــ دواړه د نورو قاتلانو دپاره استاذان ګڼلی شي.

بالمقابل که څوک يوه کس ته نجات ورکړي او ښېګڼه ورسره وکړي داسې دی لکه هغه چې ټولو خلکو ته نجات ورکړی وي او يا يې د ټولو خلکو سره ښېګڼه کړې وي کوم چې د الله ﷻ د رضا په لاس ته راوړلو کښې شريک دي که څه هم په کم او کيف کښې به يې فرق وي.

مګر د ذکر شوي حکم سره‌سره بني اسرائيلو ته زمونږ پيغمبران ورغله، خپلې پيغمبرۍ يې په معجزاتو باندې ثبوت ته هم ورسولې ترڅو دوی ټول خلک ونه وژني بلکې ټول خلک ژوندي او هوسا کړي، خو دوی (زياتره) د همدې څخه وروسته هم مسرفان جوړ شوه او د شرعي حدودو څخه يې په ځمکه کښې تيری وکړ. او دا ځکه چې دوی حاسدان دي او په حاسد باندې معجزات او دلايل څه اثر نه کوي.

## توضيحات

١ ــ کله چې الله ﷻ آدم عليه السلام په ځمکه کښې خليفه وګرځاوه نو شيطان د حسد د کبله د هغه خلافت ونه مانه او خپل خان يې ورباندې کافر کړ حال دا چې خليفه ګرځول د الله ﷻ کار وه آدم عليه السلام پکښې هيڅ مداخله نه درلوده.

همدارنګه کله چې الله ﷻ د هابيل عليه الرحمة قرباني قبوله کړه، نو قابيل ورباندې رخه (حسد) وکړ او د ډېرې لويې خطا مرتکب شو حال دا چې د قربانۍ قبول صرف د الله ﷻ کار وه او د هابيل عليه الرحمة پکښې هيڅ وسه نه وه.

لنډه دا چې حسد د هرې ګناه سر دی او مسلمانانو ته په کار دي چې ځانونه ترې بچ وساتي.

## أجل څه معنی؟

٢ ــ د دغه ماده (ء، ج، ل) چې د "اجل" کلمه ترې جوړه شوې ده اصلاً د کښولو معنی ورکوي[١]، د ښه وضاحت دپاره لاندې څه مثالونه ولولئ:

---

(١) تفسير القرطبي ج۶ ص١٢٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هغې نېټې ته آجل وايي چې په يوه معامله کښې، تر هغې پورې ثمن يا مبيعه ټال شوې وي، ته په وايي چې ذکر شوې معامله هغې نېټې ته ورکشول کېږي چې ترڅو پای ته ورسېږي.

ب: د انسان د مرګ نېټې ته هم ځکه آجل وايي چې هرڅوک هغې نېټې ته په خوښه او ناخوښه ورروان دی، ته به وايي چې زنځیزونه پکښې اچولي شوي دي.

ج: په عربي ژبه کښې د "أجل" کلمه د يوې خبرې د منلو دپاره هم استعمالېږي[1]. او دا ځکه: په کومې خبرې باندې چې سړی مخاطب ګرځي په حقيقت کښې د همغې خبرې منلو ته راکشول کېږي.

په دې مقام کښې ځکه نوموړې کلمه ﴿ أَجْلِ ﴾ استعمال شوه چې د قابيل او هابيل عليه السلام قيصه په بني اسرائيلو باندې د قصاص د فرضيت سبب جوړه شوې ده، او هر يو سبب خپل مسبب خان ته راکاږي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: قصاص خو په ټولو اديانو کښې فرض وه نو په دې کښې څه حکمت دی چې دلته يوازې د بني اسرائيلو نوم واخستلی شو چې په دوی باندې مو قصاص فرض ګرځولی وه؟

مونږ وايو چې:

الف: که څه هم په ټولو اديانو کښې قصاص فرض وه مګر د لومړي ځل دپاره په مکتوبې ډول په بني اسرائيلو باندې نازل شوی وه، د دوی څخه وړاندې فرض وه خو مکتوبي نه وه[2].

ب: مونږ ته دا هم څه لرې نه ښکاري چې د بني اسرائيلو نوم په ځکه ذکر شوی وي چې دوی په ناحقه وژنه کښې د هر چا څخه وړاندې دي حتی چې د پيغمبرانو په وژنه باندې يې هم صرفه نه کوه.

نو د معنی حاصل به داسې شي چې په بني اسرائيلو باندې مستقيماً د قصاص فرضيت ځکه نازل شوی وه چې دوی د بل هر چا څخه په لجاجت او حسد کښې وړاندې دي لکه څنګه چې د هر چا څخه په ناحقه وژنه کښې وړاندې دي.

## ايا د يو کس وژنه د ټولو خلکو وژنه ده؟

۴_ که څه هم په دې مقام کښې مفسرينو کرامو پنځه يا زياتې توجيګانې کړې دي چې د يوه کس وژنه څنګه د ټولو خلکو د وژنې غوندې شمېرله شوې ده[3]، مګر مونږ ته لاندې احاديث د ايت شريف ډېر ښه تفسير په نظر راځي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْمُؤْمِنُونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ إِنْ اشْتَكَى رَأْسُهُ تَدَاعَى سَائِرُ الْجَسَدِ بِالْحُمَّى وَالسَّهَرِ»[4] يعني: ټول مؤمنان د يو سړي غوندې دي که سر يې شکايت وکړي (په درد شي)

---

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۱۲
(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۱۴۶
(۳) زاد المسير ج۲ ص۲۶۸؛ المحرر الوجيز ج۴ ص۸۵
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۳۲۱

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ټول بدن نه په تبې او بې خوبۍ سره دعوت ورکوي. نو کله چې د یو مؤمن دردېدل د ټولو مؤمنانو دردېدل وګڼل شوه نو د یوه وژل به خو د ټولو وژل ګڼل کېږي.

ب- نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[1] يعنې: ستاسو یو تن به تر هغه کامل مؤمن نه شي ترڅو چې د خپل مؤمن ورور دپاره هغه څه خوښ کړي چې خپل ځان ته يې خوښوي.

## سوال جواب

۵- که څوک وايي چې: ناسو ايت شريف يوازې په مؤمنانو باندې تفسير کړه حال دا چې الله ﷻ د يوه کس وژنه د ټولو خلکو غونډې ګڼلې ده چې کافران ته هم شامليږي؟

موږ وايو: کله چې د يوه کس ناحقه وژنه د ټولو مؤمنانو د وژنې غونډې وګڼله شوه نو طبعي ده چې د ټولو خلکو د وژلو غونډې وګڼله شي او دا ځکه چې دنيا خو په مؤمنانو باندې ودانه ده، که ټول مؤمنان بالفرض ووژل شي نو داسې ګڼل کېږي لکه چې کافران يې هم وژلي وي. نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ اللَّهُ اللَّهُ»[2] يعنې: قيامت به د هغه وخت پورې قائم نه شي (دنيا به ورانه نه شي) څو چې په ځمکه کښې "الله، الله" ونه ويل شي، يعنې ترڅو چې داسې وخت رانشي چې هيڅوک د ځمکې په مخ د الله ﷻ نوم نه يادوي او ټول کافر وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶- که څوک وايي: ايا د يو کس وژونکی او د ټولو خلکو وژونکی يو برابر دي؟، هيڅ فرق نه لري؟

موږ وايو چې: د تشبيه وجه په "مشبه به" کښې حقيقي وي او په مشبه کښې ادعايي وي چې مبالغةً حقيقي ګڼله کېږي او دا ځکه چې د هغو دوه شيانو په منځکښې تشبيه صحت نه لري چې دواړه يو ترېله په ټولو وجوهو سره متغاير وي. الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ﴾ [الفرقان ۴۴] يعنې: نه دي دوی (کافران) مګر په (ګمراهۍ کښې) د چارپايانو غونډې دي. دلته د چارپايانو ضلالت حقيقي دی چې بالکل د هدايت استعداد نه لري، خو د کافرانو ضلالت د مبالغې په توګه د هغوی ضلالت ته رسولی شوی دی، که نه نو کافران خو اصلاً د هدايت استعداد لري.

نو د ټولو خلکو وژونکی (که بالفرض موجود شي) نو حقيقي قاتل به وي، او د يوه کس په ناحقه باندې وژنکی مبالغةً او حکماً د ټولو خلکو وژونکی ګڼل کېږي، د حقيقي قاتل او د ادعايي قاتل ترمنځ خو د ځمکې او اسمان فرق دی.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۶

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يو نظير

۷_د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث ولولئ چې د ذکر شوي بيان دپاره يو نظير ګڼل کېږي:

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې: «أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ ثُلُثَ الْقُرْآنِ فِي لَيْلَةٍ» يعنې: ايا ستاسو يو کس (عاجزېږي) نه شي کولی چې په يوه شپه کښې د قرآن دريمه برخه قرائت کړي، نو په صحابه وو کرامو ﷺ باندې ډېره درنه تمامه شوه او عرض يې وکړ چې: اې د الله رسوله! ايا دا کار څوک کولی شي؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «اللهُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ ثُلُثُ الْقُرْآنِ»[۱] يعنې: د اخلاص سورت د قرآن کريم د يوه ثلث (دريمې برخې) سره برابر دی.

نو مونږ وايو چې: د ټول قرآن کريم قرائت حقيقي ختم دی او د اخلاص سورت درې ځله لوستل حکمي ختم دی چې مبالغةً او تشبيهاً ورسره برابر ګڼل شوی دی.

## ايا انسان چا ته ژوند ورکولی شي؟

۸_ په دې مقام کښې د ﴿ وَمَنْ أَحْيَاهَا ﴾ معنی حقيقي ژوند ورکول نه دي بلکې علماوو کرامو يې لاندې تفسيرونه کړي دي[۲]:

الف: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې د هلاکت څخه نجات ورکړي داسې ده لکه د اور څخه يې چې وژغوري.

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې د عادل پاچا سره کومک وکړي چې مفسدان د منځه يوسي.

ج: مجاهد عليه الرحمة وايي چې په وژلو باندې يې لاس بر شي خو قتل يې نه کړي.

د: حسن عليه الرحمة وايي چې د مقتول اولياء د قصاص څخه قاتل ته عفوه وکړي.

ه: ابو يعلى عليه الرحمة وايي چې د مقتول د اولياؤ سره د قصاص په اخستلو کښې کومک وکړي ځکه چې په قصاص کښې حيات دی.

و: مونږ وايو چې: ذکر شوي ټول تفسيرونه يو تربله منافات نه لري، څه لرې نه ده چې علماء کرامو هر يوه د حصر په توګه نه وي تفسير کړی، زمونږ په ګومان هغه چا ته به هم ايت شريف شامل وي چې د قتل څخه خلک منعه کوي او په معروف باندې ورته امر کوي.

﴿ إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِي ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوْ يُصَلَّبُوٓاْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۵۰
(۲) زاد المسير ج۲ ص۲۶۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جَزَاءٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۳] بې شکه د هغو کسانو جزا چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر سره جنګ کوي او په ځمکه کښې په فساد سره تاند وهي دا ده چې په پوره قتل کړی شي یا په پوره په دار کړی شي او یا د دوی (ښي) لاسونه او (چپې) پښې ښې پوره پرې کړی شي (بالآخره) یا د ځمکې ځخه نفي کړی شي (او بنديخانې ته واستولی شي)

دا (جزاګانې) د دوی دپاره (د کومکیانو په شمول) په دنیا کښې رسوایي (شرمول) دي، او دوی لره په آخرت کښې لوی عذاب دی.

[۳۴] مګر هغه کسان (د جزاګانو ځخه خلاص دي) چې د هغه ځخه وړاندې توبه تائب شي چې تاسو وړباندې قدرت مونده کړی، نو پوه شئ چې یقیناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی (تاسو هم بښنه او مهرباني وکړئ).

## ارتباط

په وړاندېنی ایت کښې په اجمالي توګه اشاره شوې وه چې د هغه چا وژل جائز دي خوک چې په ځمکه کښې د فساد په نیت تاند وهي، په دغو ایتونو کښې د ذکر شوې اشارې پوره تفصیل بیان شوی دی چې دغسې خلکو ته الله ﷻ دغه-دغه ډول جزاګانې ټاکلي دي چې په وخت سره وړباندې تطبیق شي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې لاندې اختلاف شته دی

۱_ د ځینو علماوو کرامو د بیان د طرز ځخه ځرګندېږي چې دا ایتونه د مرتدانو په باره کښې نازل شوي دی او دا ځکه چې ذکر شوي ایتونه یې د عنوان په ډول لیکلي دي او بیا یې د مرتدانو قیصه بیانه کړې ده[۱].

۲_ ځینې علماء کرام وايي چې د اهل الکتابو په باره کښې نازل شوي دي لکه چې د همدغو ایتونو ځخه وړاندې ایتونه هم د اهل الکتابو حال بیانوي. دوی وايي چې د نبي کريم ﷺ سره ځینو اهل الکتابو معاهده کړې وه خو معاهده یې ماته کړه او لارې یې وشکولې او په ځمکه کښې یې د فساد ځخه وکړه[۲]...

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۲۰۰۵
(۲) تفسیر الطبري ج۲ ص۲۰۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ او ځینې لا وايي چې دا کار مشرکانو کړی وه، چې په ذکرو شوو ایتونو کښې یې حکم نازل شو[۱].

۴_ جمهور علماء کرام وايي چې: ذکر شوي ایتونه د مسلمانانو حکم بیانوي کله چې دوی د الله ﷻ سره محاربه پیل کړي او په ځمکه کښې د فساد هڅه وکړي[۲].

مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې د ایتونو مفهوم ته تخصیص ورنه کړی شي او هر څوک چې ذکر شوی کار وکړي په هغه باندې باید د ایت شریف حکم تطبیق شي، برابره خبره ده چې مرتد وي او که اهل الکتاب، ذمي وي او که مسلمان، چې ځینو علماوو کرامو همدې ډول حکم ته اشاره کړې ده[۳].

## سوال جواب

که څوک وايي چې: ایت شریف حکم کوي چې د قدرت څخه وروسته ذکر شوي محاربین په توبه کولو سره د حد څخه نجات نه شي موندلی، حال دا چې د مرتد توبه خو په هر حال کښې مقبوله ده نو په کار دي چې ایت شریف مرتد ته شامل ونه ګڼلی شي؟

مونږ وایو چې: محارب مرتد ته دوه توبې په کار دي چې یوه د ارتداد توبه ده چې په هر حال باندې مقبوله ده، او بله په ځمکه کښې د فساد توبه ده چې د قدرت څخه وروسته یې د حد مخه نه شي نیوی.

یا په بل عبارت: محارب مرتد ته دوه ډوله حد متوجه دی چې یو د قدرت څخه وروسته په توبې باندې نه ساقطېږي او بل پرې ساقطېږي، او په ایت شریف کښې اولنی ډول حد مطلب دی او بس.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای مؤمنانو! د هغه خلکو دپاره چې عمومي امنیت خرابوي، لارې شکوي او څوک نه پرېږدي چې په ځمکه کښې په ارامۍ سره ژوند وکړي او یو ځای بل ځای د کسب او تجارت په غرض وګرځي راوګرځي، په لاندې ډول دنیاوي جزاګانې ټاکلی شوې دي:

الف: چې تول ووژل شي.

ب: چې یا په دار باندې وځړولی شي او پانسي کړی شي.

ج: چې یا د هر یوه ښی لاس او چپه پښه پرې کړی شي.

د: چې یا د اوسېدانې د وطن څخه لرې کړی شي یعنې تول بندیان کړی شي.

ذکر شوې جزاګانې د دنیا د رسوائۍ او شرمندګۍ دپاره دي چې نور خلک ترې عبرت واخلي او د دوی په څېر عمل ته لاس وانه چوي.

---

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۲۷۰
(۲) عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج۲۳ ص۲۸۴
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۰۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما په آخرت کښې ذکرو شوو قطاع الطريقانو ته ډېر لوی عذاب تاکلی شوی دی چې يوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس.

## يوه استثناء

۲ـ ای مؤمنانو! د ذکرو شوو څلورو وارو دنياوي جزاګانو څخه د داره ماران د ولي څخه صرف هغه کسان وتلي دي چې ستاسو د قدرت څخه وړاندې په خپله خوښه توبه تائب شي او په خپلو کړه باندې پښېمانه شي، نو تاسو ته په کار دي چې د دغو توبه ګارو توبه قبوله کړئ او د تېر شوي عمل ښښنه ورته وکړې او دا ځکه چې الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی، نو په کار دي چې تاسو هم ښښنه ولرئ او هم مهرباني ولرئ.

هو! که ذکر شوي داره ماران ستاسو قبضې ته درغله او د ذکرو شوو جزاګانو دپاره لايق وګرځېده نو بيا د دوی توبه مه قبلوئ او الهي حدود ورباندې جاري کړئ ځکه چې د حدودو ښښنه ستاسو صلاحيت نه دی.

## توضيحات

۱ـ که څه هم موږ د [البقرة: ۲۷۹] ايت لاندې ليکلي دي چې د عمومي امنيت خرابول او د ټولو مسلمانانو منافع د پښو لاندې کول د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ سره محاربه او جګړه ګڼل کېږي، مګر دلته دومره اضافه کوو چې په ذکر شوي ايت شريف کښې د «الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ» څخه د فقهاوو په اتفاق سره قطاع الطريق (لارې شکوونکي) مراد دي[۱]، يعنې هغه کسان چې د هغوی د اذيت د کبله په لاره باندې خوک تګ راتګ نه کوي، نه په واېي چې لاره پرې ګرې شوي ده د همدې کبله ابو حنيفه رحمه الله وايي چې ذکر شوی حکم په هغو داره مارانو باندې تطبيقېږي چې د ښار څخه دباندې وي، ځکه چې د ښار په داخل کښې دوی د خلکو تګ راتګ نه شي بندولی[۲].

## د «أو» توري د حکم د تنويع دپاره دی

۲ـ ځيني علماء کرام د امام مالک رحمه الله په شمول وايي چې په ايت شريف کښې د «أو» توری د تخيير دپاره دی[۳]. لکه په راتلونکي [۸۹] ايت کښې چې د «أو» توری د تخيير دپاره دی نو هغه څوک چې په قسم کښې حانث شي اختيار لري چې په هر ډول باندې خپله کفاره ورکړي.

موږ وايو چې په دې مقام کښې که د «أو» توري د تخيير معنی ورکولی نو اسلامي حکومت ته به جائزه وي چې قاتل لار وهونکي ته په حبس سره جزا ورکړي حال دا چې په اتفاق سره په دې

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۴۰۷
(۲) الفقه الاسلامي وادلته ج ۶ ص ۱۳۲
(۳) تفسير القرطبي ج ۶ ص ۱۵۲



Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صورت کښي په حبس سره جزا ورکول جائز نه دي[١]، نو معلومه شوه چې "أوْ" د تخيير دپاره نه دی احناف علیهم الرحمة وايي چې د "أوْ" توری د حکم د تنويع دپاره دی چې بايد د جنايت کيفيت په نظر کښي ونيول شي او په لاندې تفصيل سره پرې حکم تطبيق کړی شي[٢].

الف: کومو داړه مارانو چې نه قتل کړی وي او نه يې مال اخستی وي خو يوازې خلک يې دارولي وي د دوی دنياوي جزا دا ده چې ترهغه بندي کړی شي چې ترڅو توبه تائب شي[٣].

ب: کوم داړه ماران چې يوازې د لارويو مالونه يې اخستي وي خو قتل يې نه وي کړی د هغوی بايد ښي لاسونه او چپې پښې پرې کړی شي.

ج: کومو چې قتل کړی وي خو مال يې نه وي اخستی هغوی بايد قتل کړی شي.

د: کومو چې هم قتل کړی وي او هم يې مال اخستی وي او طبعي ده چې دارول به يې هم کړې وي، نو د دوی جزا بايد په لاندې څلورو کيفيتونو سره اجراء شي[٤]:

اول: چې لاس او پښې يې پرې کړی شي او بيا په دار کړی شوی ووژل شي.

دوهم: چې لاس او پښې يې پرې کړی شي خو بدون د دار څخه ووژل شي.

دريم: چې بدون د قطعې څخه په دار کړی شوی ووژل شي.

څلورم: چې بدون د قطعې څخه او بدون د دار ځېږولو څخه قتل کړی شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٣ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې جزاګانې د تفعيل د باب په بنياد بيان کړی شوې او ﴿يُقَتَّلُوٓا﴾، ﴿يُصَلَّبُوٓا﴾، ﴿تُقَطَّعَ﴾ نازل شو، حال دا چې همدا مطلب خو په مجردو باندې هم پوره کېدی شو چې "يُقْتَلُوا، يُصْلَبُوا، تُقْطَعَ" بدون د شَد څخه نازل شوی وی؟

مونږ وايو چې: د تفعيل باب دلته د تکثير دپاره دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې قطاع الطريقانو ته ښه ډېره جزا ورکړئ حتی چې د دوی په کومکيانو باندې هم ذکر شوي حدود تطبيق کړئ که څه هم عملاً يې په لار وهنه کښې برخه نه وي اخستي، بلکې د دفاع په شکل ورسره ملګري وي. نو که ذکرې شوې کلمې مجردې (بدون د شد څخه) نازلې شوې وی نو دفاعي ګروپ ته به جزاګانې نه وی شاملې شوې، حال دا چې په نوموړي جنايت کښې کومکيان او مباشران فرق نه لري[٥].

## سوال جواب

٤ـ که څوک وايي چې: د احنافو علیهم الرحمة په نزد خو په ايت شريف کښې د "أوْ" توری د تخيير

---

(١) بدائع الصنائع ج٧ ص٩٣

(٢) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٤٠٩

(٣) کتاب الفقه على المذاهب الأربعة ج٥ ص٤٠٩

(٤) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٤٠٩

(٥) کتاب الفقه على المذاهب الأربعة ج٥ ص٤١٢

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره نه، بلکې د توزيع او تنويع دپاره دی، حال دا چې په څلورم صورت کښې تاسو څلور ډوله جزاگانې جائزې وګڼلې، ایا دا تخییر نه دی؟، ایا دا تناقض نه دی؟

موږ وایو چې: په څلورم صورت کښې ذکر شوي څلور کیفیتونه د تخییر ښځه نمایندګي نه کوي بلکې د شدید جنایت د کبله درې جزونه (قطعه، وژل، په دار ځړول) لري، او اسلامي حکومت اختیار لري چې په هر یوه جز باندې جزا ورکول پیل کړي، نو طبعي ده چې ذکر شوي څلور صورتونه ورته جواز پیدا کوي. ځکه چې: که د هر څه ځخه وړاندې په قطعه پیل وکړي او بیا یې په دار کړي نو دریواړه جزونه متحقق شوه او اولنی کیفیت ترې جوړ شو ځکه چې په دار کولو سره وژل لازم دي.

که په قطعه پیل وکړي او بیا ووژل شي نو دوهم کیفیت ترې جوړېږي او په دارځړولو ته موقع نه پاتې کېږي، او دا ځکه چې په دار ځړول خو د جزا په توګه واجب شوي دي او مړي ته خو جزا نه ورکوله کېږي[1].

همدارنګه که په وژلو یا په دار کولو باندې پیل وکړي نو قطعې ته موقع نه پاتې کېږي چې د مړي لاس او پښې قطعه شي.

## ایا دنیاوي عقوبات د أخروي عقوباتو مخه نیسي؟

۵ـ د همدې ایت شریف ﴿ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ ځخه معلومېږي چې دنیاوي حدود په چا باندې اجراء شي نو د أخروي عذاب ځخه ورباندې نه خلاصېږي. ځکه چې دنیاوي جزاگانې په حقیقت کښې زواجر دي ترڅو څوک جنایتونو ته اقدام ونه کړي، اما اصلي جزاګانې هغه دي چې په آخرت کښې ورباندې ورکول کېږي.

هو! دا بېله خبره ده چې یا ورته الله ﷻ پرته له توبې عفوه وکړي او یا څوک د دنیاوي عقوبت سره‌سره توبه هم وباسي، لکه چې ماعز رضی الله عنه د زنا په جنایت کښې په رجم شو خو توبه تائب او پښېمانه هم شو. نبي کریم ﷺ د نوموړي صحابي رضی الله عنه په باره کښې په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ»[2] یعنې: یقیناً (ماعز رضی الله عنه) داسې توبه وویستله که بالفرض د یو ټولګي په منځکښې ووېشله شي نو ورته به ورسېږي.

همدا د احنافو رحمهم الله نظر دی، مګر اکثره علماء کرام وایي[3] چې دنیاوي عقوبات زواجر نه دي بلکې جوابر دي چې د أخروي تعذیب ځخه پرې مسلمان جنایتکار خلاصېږي او د جنایت جبیره یې جوړېږي. او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «مَنْ أَصَابَ فِي الدُّنْيَا ذَنْبًا فَعُوقِبَ بِهِ فَاللهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عُقُوبَتَهُ عَلَى عَبْدِهِ»[4] یعنې: هرڅوک چې یوې ګناه ته اصابت وکړي نو په همدې ګناه باندې

---

(۱) الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص۱۳۸
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۶۸
(۳) الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص۱۷۷
(۴) سنن ابن ماجه ص۱۸۷، مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۱۳، ۲۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطلب شي، نو الله ﷻ د دې څخه ښه عادل دی چې په خپل بنده باندې خپل عقوبت دوه کرته کړي؛ په همدې مضمون باندې نور احادیث هم روایت کړی شوي دي[1].

## د ایت او د حدیث تطبیق

۶- څوک چې د دنیاوي عقوباتو جوابر بولي چې د آخرت د عذابه پرې جنایتکار خلاصېږي، د ایت او حدیث ترمنځ په لاندې ډول تطبیق کوي

الف- بالکل واضحه ده، چې په حدیث کښې خو مسلمانان جنایتکاران مطلب دي لکه چې په لاندې حدیث کښې ورباندې صراحت شوی دی:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ أَصَابَ مِنْكُمْ حَدًّا فَعُجِّلَتْ لَهُ عُقُوبَتُهُ فَهُوَ كَفَّارَتُهُ»[2] یعني: ستاسو څخه (ای مؤمنانو) هرڅوک چې حد ته اصابت وکړي (محدود شي) نو عقوبت یې په جلتی سره (په دنیا کښې) ورکړی شي، نو همدا ورته کفاره ده. یعني په آخرت کښې پرې نه نیول کېږي.

او په ایت شریف کښې کافران مراد دي[3]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په حدودو باندې مؤمنان د اخروي عذابه خلاصېږي او کافران که محدود کړی شي هم، اخروي عذاب ورپه غاړه دی.

مګر دا تطبیق په زړه پورې نه دی، لکه چې د همدې ایت په شان نزول کښې لیکلي شوي دي چې ایت شریف عام دی ټولو قطاع الطریقانو ته شامل دی، که څه هم یا کافر وي او یا مسلمان وي.

ب- ځینې علماء کرام وایي چې په حدودو کښې یوازې د لارې شکوونکو حدود همداسې دي چې د آخرت د عذابه پرې نه خلاصېږي او په نورو حدودو باندې د اُخروي عذابه خلاصېږي[4]، لکه د زنا حد، د شراب خورۍ حد، د قذف حد، د غلا حد.

مګر دا تطبیق هم زړه ته نه لوېږي ځکه چې په احکامو کښې د مفهوم عموم ته اعتبار وي او د مورد خصوص په تشریع کښې څه اثر نه لري.

ج- ځینې علماء کرام وایي چې په ایت شریف کښې لې څه عبارت مقدر دی[5]، نو تقدیر یې داسې کېږي چې: ﴿وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ إِنْ لَمْ يُخْزَوْا فِي الدُّنْيَا﴾ یعني: قطاع الطریقو لره په هغه وخت کښې اخروي لوی عذاب دی چې په دنیاوي جزا باندې رسوا نه کړی شي او سالم پاتې شي.

مګر دا تطبیق د یو پلوه متبادر نه دی او د بله پلوه په تقدیر باندې بنا دی او تقدیر خلاف الاصل دی، چې دلته ورته ضرورت نشته.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٠٣

(٢) سنن ابن ماجه ص١٨٧

(٣) عمدة القاري على البخاري ج٢٢ ص٢٧٤

(٤) تفسير القرطبي ج٦ ص١٥٧

(٥) البحر المحيط ج٤ ص٢٤١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: ځينې وايي چې قطاع الطريقانو لره أخروي عذاب په حقوق العبادو کښې تاکلى شوى دى[١]، نو کومو داړه مارانو چې مال اخستى وي او يو لاس او يوه پښه يې وربانديې پرې شي خو د مال خاوند ته خپل حق ورنه کړي، نو په دې صورت کښې به أخروي لوى عذاب سره مخامخ شي او بس.

مګر دا تطبيق هم د منلو وړ نه دى ځکه چې په ﴿ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ کښې د "لَهُمْ" ضمير ټولو داړه مارانو ته راجع دى او په دې صورت کښې ټولو ته نه راجع کېږي، بلکې فقط يوې ډلې ته راجع کېږي چې مال يې په غاړو پاتې وي.

مونږ ته داسې برېښي چې د ايت او حديث ترمنځ څه تضاد نشته حتى چې تطبيق ته يې اړتيا وليده شي، او دا ځکه چې په ايت کښې تشريعي عقوبات مراد دي چې د أخروي عذاب څخه پرې جنايتکاران نه خلاصېږي.

د همدې کبله يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يو غل په داسې حال کښې راوستلى شو چې لاس يې پرې کړى شوى وه، نو أمر يې ورته وکړ چې: «قُلْ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ» يعنې: ووايه! چې د الله ﷻ څخه بښنه غواړم او همده ﷻ ته توبه وباسم. کله چې غله ذکرې شوې جملې ولوستلې نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ»[٢] يعنې: اى الله! په ده باندې په رحمت سره رجوع وکړې. يعنې توبه يې قبوله کړې.

اما په حديث شريف کښې تکويني عقوبات او مصائب مطلب دي چې د جنايتکارانو څخه په آخرت کښې د عذاب مخه نيسي او د ګناهونو دپاره کفارات جوړېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې تفصيل ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴾ [الشورى: ٣٠] يعنې: او هغه څه چې تاسو ته رسېږي چې څه مصيبت څخه عبارت دى نو ستاسو د لاسونو په کسب سره دي او الله ﷻ د ډېرو (کسبونو) څخه عفوه (هم) کوي.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «إِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[٣] يعنې: کله چې الله ﷻ خپل بنده ته د خير اراده وکړي نو په دنيا کښې ژرله عقوبت ورکوي او کله چې الله ﷻ خپل بنده ته د شر اراده وکړي نو (عقوبت) ترې د ګناه په سبب بندوي، تر دې چې د قيامت په ورځ پرې پوره (عقوبت) ورکړي.

درېم: نبي کريم ﷺ فرمايي: «مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ الْمُسْلِمَ إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا عَنْهُ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا»[٤]

---

(١) روح المعاني ج۶ ص١٢٠
(٢) سنن النسائي٢ ص٢٥٤
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص۶٥
(۴) صحيح البخاري ج٢ ص٨۴٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني هیڅ یو مصیبت نه دی چې یوه مسلمان ته رسیږي مګر الله ﷻ پرې د هغه څخه (ګناهونه) روږوي. آن تر اغزي پورې چې وربانديې چوخ کړی شي

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې د ذکر شوي توضیح د اولني حدیث شریف څخه ځرګندیږي چې د ایت او حدیث ترمنځ تضاد شته او تطبیق ته ضرورت لري. ځکه چې دلته د حد کلمه روایت شوې ده چې «مَنْ أَصَابَ مِنْکُمْ حَدًّا فَعُجِّلَتْ لَهُ عُقُوبَتُهُ فَهُوَ کَفَّارَتُهُ». او حد خو نه دی مګر تشریعي عقوبت دی؟

موږ وایو چې دلته د حد څخه تشریعي حد مراد نه دی ترڅو سوال وارد شي. بلکې دلته د حد څخه ګناه مراده ده. او د حدودو اطلاق په محارمو (ګناهونو) باندې کیږي[۱] او دا ځکه چې:

الف دلته د اصابت نسبت بنده ته شوی دی یعني چې کوم یو بنده ګناه ته اصابت وکړي. که بالفرض تشریعي عقوبت مطلب وی نو داسې "مَنْ أُصِيبَ مِنْکُمْ حَدًّا" به روایت شوی وی یعني هغه څوک چې هغه ته حد ورسولی شي او په حد کړی شي

ب که د حد څخه تشریعي عقوبت مطلب وی نو د حدیث شریف دوهمه ټکره «فَعُجِّلَتْ لَهُ عُقُوبَتُهُ» به نبي کریم ﷺ نه وی فرمایلې. ځکه چې ارتیا به ورته نه وی پاتې شوې.

## یادونه

۸ـ موږ په دې مقام کښې خبره ځکه اوږده کړه چې ترڅو خلک پوه شي چې ابو حنیفه رح د احکامو په استنباط کښې څومره زیات باریک بین او مدقق وه. او د نصوصو څومره زیات مراعات یې ساتلی دی او بالآخره څومره پراخه علم ورته الله ﷻ ورکړی وه. فلله الحمد والشکر.

## توبه او حقوق العباد

۹ـ د یوه جنایتکار توبه تائب جوړیدل صرف په حقوق الله کښې موثر واقع کیږي. چې الله ﷻ ورته د جنایت څخه تیریږي. اما په حقوق العبادو کښې هیڅ اثر نه لري[۲]. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه مثالونه ولولئ:

الف که د قطاع الطریقانو څخه کوم یو د نیولو څخه وړاندې توبه تائب شي حال دا چې د لارویو مال یې اخستی وي نو اسلامي حکومت یې باید لاس او پښه پرې نه کړي. مګر اخستی مال یې په غاړه باندې پاتې دی چې باید په خاوندانو باندې یې وسپاري

ب او که په همدې حال کښې توبه تائب شو مګر لاروی یې وژلی وه نو اسلامي حکومت به پرې د ذکر شوي ایت ټاکلی عقوبت نه جاري کوي. بلکې د مقتول وارثانو ته به یې سپاري. که دوی قصاص وغوښت نو قصاص به یې کړي او که عفوه یې کړه خوښې به یې کړي

---

(۱) الفقه الاسلامي وادلته ج۷ ص۱۲

(۲) بدائع الصنائع ج۷ ص۹۶

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هو! که په همدغه دوهم صورت کښې د نیولو څخه وروسته توبه تائب شو نو اسلامي حکومت پرې باید د ایت حکم عملي کړي او حد پرې جاري کړي، د وارثانو خبره پکښې هیڅ مطرحه نه ده.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبْتَغُوٓاْ إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ وَجَـٰهِدُواْ فِى سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۳۵] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د الله ﷻ څخه وډار شئ او همده ﷻ ته وسیله (نژدېکت) ولټوئ، او د همده ﷻ په لار کښې جهاد وکړئ، شاید چې تاسو فلاح مونده کړئ (مطلب ته ورسېږئ).

## د ارتباط وجوه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې د لوټماری څخه توبه د تشریعي عقوبت، یعنې حد، مانعه ګڼله شوې وه، او په دې ایت کښې الله ﷻ ته د ښه نژدېکت چانس بیان شوی دی.

۲_ هلته د غیر مشروعې محاربې (جګړې) بیان وه او دلته مشروعې بلکې فرضي محاربې (جهاد) ته اشاره شوې ده.

۳_ بالآخره په دې ایتونو کښې ټولو مسلمانانو ته توصیه شوې ده چې په مفسدانو باندې زړه سوی ونه کړي او د مفاسدو د منځه وړلو دپاره عمومًا او د لوټمارانو د ایل کولو دپاره خصوصًا مجاهده وکړي، او خپل زور (قوت) په لوټماری کښې نه، بلکې په جهاد کښې مصرف کړي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! الله ﷻ په تاسو باندې ډېر مهربان او نرمي کوونکی دی، د همدې کبله یې د لوټمارانو او داړه مارانو د توبې په قبول باندې توصیه کړې ده چې په وخت سره یې وباسي او د تشریعي عقوبت مانعه یې جوړه کړې ده.

نو تاسو ټولو ته په کار دي چې د محارمو څخه ځان وساتئ او په طاعتونو سره الله ﷻ ته خپل ځانونه ورنژدې کړئ، او څوک چې د محارمو څخه ځان ساتنه نه کوي د هغوی سره د الله ﷻ په لار کښې مجاهده وکړئ، ترڅو په دنیا او آخرت دواړو کښې د هوسا ژوند خاوندان شئ.

## توضیحات

۱_ د ﴿ ٱلْوَسِيلَةَ ﴾ کلمه د "وَسْل" څخه اخستله شوې ده او "وَسْل" د "وَصْل" (نژدېکت) په معنی سره دی، مګر دواړه لفظونه (وَسْل، وَصْل) سره فقط دومره فرق لري چې په "وَسْل" کښې د قلبي میلان لحاظ شته او په "وَصْل" کښې نشته[۱]، د همدې کبله الله ﷻ د ﴿ ٱلْوَسِيلَةَ ﴾ په عوض "الْوَصِيلَة" نازل نه کړ ترڅو مونږ پوه کړي چې په مینه او محبت سره د الله ﷻ عبادت وکړئ.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۶۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د وسیلې معناوې

۲ ـ د « اَلْوَسِيلَةَ » کلمه په لاندې معناوو باندې استعمالېږي:

الف: طاعات او عبادات، چې د فرضو څخه نیولې آن تر مستحبو پورې پکښې شامل دي، اما مباحات پکښې شامل نه دي[۱] ځکه چې ثواب پکښې نشته، او د منهیاتو ترک هم پکښې دلته نه شاملېږي ځکه چې د منهیاتو پرهېښودلو ته په « اَتَّقُواْ اَللَّهَ » کښې اشاره شوې ده.

په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده[۲]، د ښه وضاحت دپاره لاندې بیان ولولئ:

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده قدسي حدیث کښې د الله ﷻ څخه حکایت کوي چې: «وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ»[۳] یعنې: او ماته خپل بنده په هیڅ شي سره خپل ځان نه نژدې کوي چې هغه ماته د هغه شي څخه محبوب وي کوم چې ورباندې ما فرض کړی وي یعنې په ټولو وسیلو کښې الله ﷻ ته په فرائضو باندې وسیله کول ډېر محبوب دي.

ب: سوال او شفاعت کول، دا دوه وسیله لاندې صورتونه لري:

اول: چې سړی د خپل ځان څخه د بهتر سړي څخه وغواړي چې زما دپاره الله ﷻ ته سوال وکړه. لکه چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یو ړوند سړی ورغی او ویې ویل چې: یا رسول الله! د الله ﷻ څخه وغواړه چې ماته عافیت راکړي (سترګې مې بینا کړي) نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ وَإِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ»[۴] یعنې: که خوښه دې وي الله ﷻ ته به سوال وکړم او که خوښه دې وي نو ته صبر وکړه خو دا (صبر کول) درته بهتر دي.

دوهم: چې سړی د خپل ځان څخه د ادنی سړي څخه غوښتنه وکړي چې د الله ﷻ څخه زما دپاره سوال وکړه. لکه چې یوه ورځې ابن عمر رضي الله عنه عمرې ته روان وه او نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «يَا أُخَيَّ أَشْرِكْنَا فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِكَ وَلَا تَنْسَنَا»[۵] یعنې: ای ورورکوټیه په خپلو ځینو دعاګانو کښې مونږ هم شریک کړه او مه مو هېروه.

درېیم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ صحابه وو کرامو ته وویلې چې: ماته د الله ﷻ څخه الوسیله وغواړئ، دوی وویلې چې: ای د الله رسوله! الوسیله څه شی دی؟، نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَعْلَى دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ لَا يَنَالُهَا إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ»[۶] یعنې: وسیله په جنت کښې یو لوړ مقام دی چې هغه ته نه رسېږي مګر یو سړی، زه امید کوم چې هغه سړی به همدا زه شم.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۱۸۵

(۲) تفسیر ابو السعود ج۳ ص۳۲

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۳

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۸

(۵) سنن ابن ماجه ص۲۰۸

(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د اذان دعاء

۳ـ نبي کريم ﷺ فرمايي: هر څوک چې أذان واوري او دا دعاء «اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ» ولولي «إِلَّا حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] يعنې: مګر زما شفاعت به يې په نصيب کړی شي.

په دې باره کښې نور ډېر احاديث روايت شوي دي، چې ځينو علماوو کرامو راغونډ کړي دي[۲].

## ايا په فاضله ذواتو باندې توسل جائز دی؟

۴ـ څرنګه چې فاضلو اشخاصو باندې توسل (چې الله ﷻ ته ورباندې قسم ورکړي چې: ای الله! ستا دې په فلاني فاضل باندې قسم وي چې زما حاجت پوره کړې او داسې نور)، نه د نبي کريم ﷺ په حيات کښې صحابه وو کرامو ﷺ کړی دی او نه د ده ﷺ د وفات څخه وروسته د کوم صحابي څخه حکايت شوی او بالآخره نه پکښې د نبي کريم ﷺ څخه کوم يو حديث روايت شوی دی[۳]؛ نو د همدې کبله په دوی باندې توسل کول په اتفاق سره څه بهتري نه لري اما په جواز کښې يې اختلاف دی، ځيني علماء کرام يې حرام بولي او ځيني نور يې صرف جائز ګڼي.

که څوک غواړي چې په دې موضوع کښې زيات تحقيق ولولي نو ځينو کتابونو[۴] ته دې مراجعه وکړي، مونږ پکښې څکه بحث نه اوږدوو چې د دې مقام سره چندان ارتباط نه لري.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفْتَدُواْ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾﴾

[۳۶] بې شکه هغه کسان چې دوی کافران شوي دي که (بالفرض) دوی لره هغه ټول شيان وي چې په ځمکه کښې دي او (يو بل) چند يې هم ورسره شي چې دوی يې د قيامت د ورځې د عذاب (عوض) فديه ورکړي نو ترې به قبول نه کړی شي، او دوی لره دردناک عذاب دی.

[۳۷] دوی به (د قيامت په ورځ) غواړي چې د اور (دوزخ) څخه ووځي (په هره ذريعه چې وي) حال دا چې دوی ترې وتونکي نه دي، او دوی لره دائمي عذاب دی.

(۱) سنن النسائي ۱ ص ۱۱۰

(۲) تفسير ابن کثير ج ۲ ص ۵۲

(۳) تفسير القاسمي ج ۶ ص ۱۸۷

(۴) روح المعاني ج ۶ ص ۱۲۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ارتباط وجوه

۱ـ په وړاندې ایتونو کښې اُخروي عذاب ته د عظیم لقب ورکړی شوی وه او په دې ایتونو کښې د عظمت اندازه وښودله شوه چې په هیڅ شي باندې یې فدیه او عوض نه شي پوره کېدلی.

۲ـ هلته د اُخروي عذاب څخه د نجات ډېره ساده او بسیطه لاره ښودلې شوې وه چې تقوی او اطاعت دی، دلته واضحه کېږي چې د همدغې لارې څخه په غیر د نجات بله لاره نشته، او د دې لارې دروازه هم په مرګ سره تړله کېږي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! تاسو د کافرانو په قدم باندې قدم مه ږدئ چې په ناچیزه دنیا سره خپل ځانونه د آخرت په لوی عذاب باندې اخته کړئ، تاسو اسان چانس د لاسه مه ورکوئ، تقوی او طاعت وکړئ او د قطاع الطریقی څخه ځانونه بچ وساتئ؛

کافران به په آخرت کښې پوه شي چې دوی په څومره ناچیزه دنیا باندې اسان چانس د لاسه ورکړی دی څکه که بالفرض د دنیا ټول شیان د کافرانو وي او د دې دنیا په مثل د یوې فرضي بلې دنیا سازوسامان هم د دوی وي او دوی وغواړي چې د اُخروي عذاب په عوض کښې یې فدیه کړي، نو هم ترې قبول به نه شي کړی، بلکې کافرانو لره داسې دردناک عذاب دی چې بالکل فدیه نه لري او نه ترې د خلاصون لاره شته.

هلته به د دوی زړونه غواړي چې د دوزخ د وتلو څه لاره مونده کړي مګر حقیقت دا دی چې د خلاصون لارې صرف په دنیا کښې موندله کېږي او بس، د همدې کبله به کافران هیڅکله د دوزخ څخه ونه شي وتلی او د دائمي عذاب سره به دوچار شي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د [آل عمران: ۹۱] ایت لاندې د کافرانو د اُخروي عذاب په هکله څه لیکلي دي چې بیا خل بیا کتل یې بې فائدې نه دي، په دې مقام کښې لاندې یو حدیث شریف لیکو چې ایت شریف یې ډېر ښه تفسیر کړی دی، هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ فرمايي چې: «يُقَالُ لِلْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ! فَيُقَالُ لَهُ: قَدْ سُئِلْتَ أَيْسَرَ مِنْ ذَلِكَ»[۱] یعنې: یوه کافر ته به د قیامت په ورځ وویل شي چې خبر راکړه که بالفرض د ځمکې د ډکوالي په اندازه سره زر (نن ورځ) تا درلودی، ایا (د عذاب څخه) به دې فدیه کړې وی؟، نو کافر به ووايي چې: هو، نو ده ته به وویل شي چې ستا څخه خو ډېره اسانه غوښتنه شوې وه (چې ایمان راوړه او په کفر باندې مه کلکېږه، مګر تا ونه منله).

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه عجیبه قیصه

۲ـ په مسلمانانو کښې یوه طائفه شته چې د خوارجو په نامه یادېږي، د دوی دا عقیده ده چې د دوزخ څخه ګناهګاران مسلمانان هم بېرته نه شي وتلی ترڅو جنت ته لاړ شي. یوه ورځې د دغې طائفې یوه سړي چې نافع بن الازرق نومیده عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) ته وویلې چې: ای هغه څوکه چې هم دې د سر سترګې ړندې دي او هم د زړه په سترګو ړوند یې!، ایا ته ګومان کوې چې ځینې خلک (ګناهګاران مسلمانان) به د دوزخ څخه بېرته ووځي (جنت ته به لاړ شي) حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَا﴾ یعنې: او دوزخیان د دوزخ څخه وتونکي نه دي. رئیس المفسرین ﷺ جواب ورکړ چې: «وَيْحَكَ، اقْرَءْ مَا فَوْقَهَا هذِهِ لِلْكُفَّار»[۱] خوار شې!، پاس ایت ولوله ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ الآية، دا ایت په کافرانو کښې نازل شوی دی (او زه خو د مسلمانانو ګناهګارانو په باره کښې د وتلو خبره کوم).

﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓا۟ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ ظُلْمِهِۦ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٠﴾﴾

[۳۸] او غل سړی او غله ښځه (دوی دواړه چې دي) د هغه شي د جزا د کبله چې دوی دواړو کړې دی (او هم) د الله ﷻ د جانبه د عبرتناک عذاب د کبله نو د دوی لاسونه (د هر یوه ښي لاس) پرې کړئ، او الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی (او) د حکمت څښتن دی.

[۳۹] نو هغه څوک چې د خپل ظلم څخه وروسته توبه تائب شي او (خپل خان) اصلاح کړي نو یقیناً الله ﷻ په هغه باندې په رحمت سره رجوع کوي (توبه یې قبلوي). بې شکه الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

[۴۰] ایا ته نه پوهېږې (ای مخاطبه!) چې یقیناً الله ﷻ چې دی خاص همده ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري ده، هغه چا ته عذاب ورکوي چې اراده یې ورته وشي، او هغه چا ته ښننه کوي چې اراده یې ورته وشي او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

## ارتباط

د علماء کرامو په نزد غلا (سرقه) په دوه ډوله ده[۲]، یوې ته لویه غلا وايي او بلې ته وړه غلا وايي.

---

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۲۲۸

(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص۱۲۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په وراندې ایتونو کښې د لویې غلا (لوټماري) احکام او مربوطات بیان شوه او په دې ایتونو کښې د ورې غلا احکام او مربوطات بیانیږي.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای مؤمنانو! د دې دپاره چې ښه هوسا ژوند وکړئ او نارامه نه شئ؛ مونږ د غل سړي او غلې ښځې دپاره د یوه-یوه لاس پرېکول د حد په توګه درنازل کړه نو تاسو په دوی دواړو باندې زړه مه سوزئ او لاسونه یې پرې کړئ ترڅو ستاسو هوسایي د خطر څخه بچ شي.

۲_ د غلو لاس پرېکول د یو پلوه د دوی د خپل عمل دنیاوي جزا ده چې بله ورخ داسې کار ونه کړي او د بله پلوه د الله ﷻ د پلوه د نورو خلکو دپاره د عبرت درس دی چې بل څوک غلا ته زړه ښه نه کړي او د چا په مال باندې تعرض ونه کړي.

الله ﷻ د قوي ارادې خاوند دی، څوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی که اراده یې شوې وی نو په تکویني توګه به یې چا ته د غلا موقع نه وی ورکړې او هرڅوک به یې خود پخوده د غلا کولو څخه عاجز ګرځولی وی، مګر دا کار د حکمت څخه مخالف وه چې ابتلاء او ازمېښت به د منځه تللی وی، او الله ﷻ خو د حکمت خاوند هم دی، نو ځکه یې تشریعي عقوبات (حدود) درنازل کړه.

۳_ هو! د أخروي عذاب څخه د خلاصون په غرض که غل سړی یا غله ښځه وروسته د دې چې هر یوه په خپل-خپل ځان او هم په نورو خلکو باندې ظلم کړی دی، توبه تائب شي او خپل ځان اصلاح کړي چې په نېک نیت توبه وکړي، نو الله ﷻ به په هغه باندې په رحمت سره رجوع وکړي او توبه به یې قبوله کړي. دا ځکه چې الله ﷻ ښښوونکی دی، ګناه به ورته وبښي او مهربان هم دی، لا زیات توفیق به ورکړي.

۴_ نو ای مخاطبه! (هرڅوک چې یې) ایا ته نه پوهېږې چې د اسمانونو او ځمکو پاچاهي یوازې او یوازې د الله ﷻ ده، ایا ته نه پوهېږې چې الله ﷻ د هر چا څخه په خپل مخلوق باندې زیات مهربان دی حتی چې مور په خپل کوچني ماشوم باندې دومره مهرباني نه لري لکه څومره مهرباني چې الله ﷻ په خپل مخلوق باندې لري، مګر د دې سره-سره د نظام په خاطر د خپلې خوښې مطابق چاته تعذیب ورکوي او چا ته ښښنه کوي.

۵_ ای مخاطبه! ایا ته نه پوهېږې چې الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، دا یې هم کولی شو چې غلو ته یې هیڅ تشریعي عقوبت نه وی ټاکلی (لکه څنګه یې چې د اسلام دښمنه ټولنو زړه غوارې) مګر که داسې یې کړي وی نو د دنیا نظام به ګډوډ شوی وی، نو ځکه یې حدود درنازل کړه.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ ﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ ﴾ نازل کړ چې د نارینه ذکر یې په زنانه باندې وړاندې کړ حال دا چې د زنا په حد کښې یې بالعکس د زنانه وو ذکر په نارینه وو باندې وړاندې کړی دی او ﴿ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي ﴾ [النور: ۲] یې نازل کړی دی؟.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې:

الف: غلا كول په جرئت باندې بنا دي او جرئت په نارينه وو كښې زيات دی نو غلا هم په دوی كښې زياته واقع كېږي، او زنا په شهوت باندې بنا ده او شهوت په زنانه وو كښې زيات دی[1]، نو شايد چې د زنا په واقع كېدلو كښې به د زنانه وو كردار زيات موثر وي. مونږ ته دا جواب په زړه پوری نه ښكاري ځكه چې:

اول: يوه ورځې د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې (يو سړی د خوبه وينس شي) او په خپلو جامو باندې څه لوندوالی مونده كړي خو احتلام (خوب ليدنه) يې په ياد نه وي (ايا غسل پرې شته او كه نه)؟ نو نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې غسل دې وكړي.

همدارنګه ترې د يو سړي په باره كښې پوښتنه وشوه چې احتلام (خوب ليدنه) ورپه ياده وي مګر په جامو باندې لوندوالی مونده نه كړي (چې ايا غسل پرې شته او كه څنګه؟) نو نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: غسل ورباندې نشته، نو (أم سلمی رضي الله عنها) ووېلي چې: يا رسول الله! ايا په زنانه وو باندې غسل شته چې ذكر شوی خوب وګوري؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنَّ النِّسَاءَ شَقَائِقُ الرِّجَالِ»[2]

هو! يقيناً زنانه د نارينه وو توټې دي. يعني دوی دواړه يو تربله سره متشابه دي او دواړه جانبه د آدم عليه السلام د بدن څخه راجدا شوي دي، نو معلومه شوه چې نارينتوب او زنانه توب په شهوت باندې څه اثر نه لري، البته چې د هر يوه د بدن د قوت او كمزورۍ پورې مربوط دی.

هو! دا بېله خبره ده چې يوه فاحشه زنانه د ډېرو نارينه وو څخه فاحشان جوړولی شي مګر يو فاحش نارينه د ډېرو زنانه وو څخه فاحشې نه شي جوړولی.

دوهم: كه هر څوک د خپلې زمانې په وګړو كښې دقيق نظر وكړي نو پوه به شي چې په زناكارۍ كښې د نارينه وو تاند وهنه د زنانه وو په نسبت زياته ده.

ب: مونږ ته داسې برېښي چې د زناكارۍ موانع په زنانه وو كښې زيات دي چې حجاب ورباندې فرض دی او بدون د شرعي محرم څخه ورته سفر كول جواز نه لري، او د غلا كولو موانع په نارينه وو كښې زيات دي چې د كار او كسب كامل توان لري، او د جزاګانو اولنی مستحق هغه څوک ګڼلی كېږي چې ډېر موانع د پښو لاندې كړي او جنايت ته اقدام وكړي، نو ځكه د غلا په بيان كښې نارينه لومړی ذكر شو، او د زنا په بيان كښې زنانه وو ته د اول ذكر حق وركړی شو.

## سرقه (غلا) څه ته وايي؟

٢ـ د ﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ﴾ كلمات د "سرقة" څخه اشتقاق شوي دي، "سرقة" مطلق غلا ته وايي چې هر څوک يې پېژني. مګر هغه غلا چې حد ورته ټاكلی شوی دی يا په بل عبارت: هغه غلا چې

---

(١) تفسير القرطبي ج٦ ص١٧٥

(٢) جامع الترمذي ج١ ص٣١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي غلا نه دا دي، معروف کېږي چې، څوک محروز (ساتل شوی) پردی مال په پټه سره واخلي نو دا کار په شرعي کښې د غلا په نامه يادېږي. لاندې وضاحتونو ته لږ څه متوجه شئ:

الف: محروز هغه مال ته وايي چې په "حرز" کښې واقع وي او "حرز" په شريعت کښې د هغه شي نوم دی چې د خلکو په عرف (عادت) کښې په هغه سره يو مال ساتل شوی ګڼل کېږي[1].

د حرز وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: کور، دکان، خېمه او داسې نور ځايونه، شرعًا "حرز" ګڼل کېږي برابره خبره ده چې ساتونکی ولري يا نه، خاوند يې موجود وي يا نه، دروازه ولري او يا نه، بالآخره دروازه يې بنده وي يا پرانستې.

دوهم: جوماتونه، مسافر خانه او داسې نور ځايونه، چې عامه د دخول دپاره عام اذن وي "حرز" نه ګڼل کېږي، ځکه څوک چې پکښې ځي او داګه "حرز" نه ګڼل کېږي.

مګر په هغه عامو ځايونو کښې، که د مال سره خپل خاوند او يا څارونکی موجود وي که څه هم په خوب باندې ويده وي نو بيا "محروز" ګڼل کېږي او په غلا باندې يې لاس قطعه کېږي. لاندې يو واقعه ته نظر مهربانه کړئ:

يو ورځ صفوان بن أمية رض په جومات کښې ويده وه او څادر يې د سر لاندې کړی وه څوچا ترې غلا کړ، په سپيده کښې غله د نبي کريم ﷺ په حضور کښې اعتراف وکړ. نو نبي کريم ﷺ يې د لاس په قطعه کولو باندې امر وکړ صفوان رض زارۍ کړې چې اې د الله رسوله! ما دغه غلا کړی شوی مال ورېښلی دی، لاس يې مه پرې کوه، نبي کريم ﷺ وفرمايل چې «فَهَلَّا قَبْلَ الآنَ»[2] يعني: نو دا خبره دې ولې وړاندې نه کوله يعني ماته به دې د فيصلې دپاره نه راوستلی او د خپله خانه سره به دې ورته بښلی وی.

ب: که څوک د خپل اولاد څخه څه مال غلا کړي هم حد ورباندې نشته. ځکه چې د اولاد مال د پلار دپاره پردی نه ګڼل کېږي. نبي کريم ﷺ يوه صحابي رض ته وفرمايل چې: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ»[3] يعني: ته او ستا مال ستا د پلار دي.

ج: هغه ارزګه په زور يا ټګۍ سره د پردي مال ترلاسه کول سرقه نه ګڼل کېږي بلکې دغه جنايت ته غصب، يا خيانت وايي، د هغې قبيلې څخه د يوه مال تښتول هم د لاس قطعه کولو سبب نه شي جوړېدلی. او دا ځکه چې دغه درېواړه کارونه (غصب، خيانت، تښتول) په ښکاره ډول باندې اجراء کېږي، د هغې کېله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ عَلَى مُخْتَلِسٍ وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا خَائِنٍ قَطْعٌ»[4] يعني: په تښتوونکي، او په زور اخستونکي (بالآخره) په خيانتکار باندې قطعه نشته.

---

(١) کتاب الفقه على مذاهب الأربعة ج٥ ص١٥٥ ، الفقه الإسلامي وأدلته ج٦ ص١٠٧
(٢) سنن النسائي ٢ ص٢٥٢
(٣) سنن ابن ماجه ص١٦٥
(٤) سنن النسائي ٢ ص٢٦١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې په ذکرو شوو درېواړو جنايتونو کښې قطعه نشته؟

موږ وايو چې: د [المائدة:۳۳] ايت لاندې ثابته شوې ده چې تشريعي عقوبات (حدود) زواجر دي چې د يو پلوه د يل خل جنايت مخنيوی کوي او د بلې خوا د نورو خلکو د ورته جنايتونو مخه نيسي نو د همدې کبله ذکر شوي عقوبات په هغو جنايتونو کښې مشروع شوي دي چې د عقوباتو څخه په غير يې مخنيوی کمزوری او ضعيف وي لکه سرقه (غلا)، چې د مال ساتنه ترې مشکله ده.

اما د ذکر شوو درېواړو جنايتونو (غصب، خيانت، اختلاس يا تښتول) مخه په خپل زور او عقل يا د نورو مسلمانانو په زور او عقل باندې په ښه قوت سره نيول کېږي او د واقع کېدلو صورتونه يې نادر دي او د نادر دپاره قوانين نه تشريع کېږي.

د همدې کبله خليفة المسلمين (عمر رض) فرمايلي دي چې په وچکالی کښې بايد د غله لاس قطعه نه کړی شي[1]، او دا ځکه چې دغه حالت اضطرار ته ورته دی او د اضطرار واقع کېدل نادر دي، قوانين د نوادرو دپاره نه وضعه کېږي.

## ايا په غلا شوي مال کښې نصاب شرط دی؟

۴ـ څرنګه چې د وړاندېنۍ توضيح څخه ثابته شوه چې د لاس پرې کولو دپاره په غلا شوي مال کښې محروزيت (ساتنه) شرط ده، او کوم مال چې خلکو ته چندان ارزښت نه لري لکه يوه خرما يا يو پياز هغه نه محروزېږي (نه ساتل کېږي)، په اصطلاح د يوې خرما او يا يوه پياز د ساتنې دپاره څوک شپه نه ويښ کوي؛ نو د ټولو علماوو کرامو په اتفاق سره د ناچيزه شي په غلا کولو کښې لاس نه پرې کېږي بلکې نصاب پکښې شرط دی اما دا خبره چې دغه نصاب څومره مال دی، نو په دې کښې فقهاؤ کرامو زښت ډېر قولونه کړي دي او هر چا د خپل قول دپاره دلايل وړاندې کړي دي[2].

مګر په ټولو قولونو کښې اتفاقي قول دا دی چې د لسو درهمو غلا کولو کښې د لاس قطعه نشته دی، او نور ټول اقوال د لسو درهمو څخه په لږ مقدار کښې دی، نه به وايي چې لس درهمه اتفاقي نصاب دی او نور نصابونه اختلافي دی.

بلکې په همدغه نصاب باندې په يوه حديث کښې صراحت هم شوی دی. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې «لا قطع فيما دون عشرة دراهم»[3] يعنې: د لسو درهمو څخه په کم مقدار کښې د لاس قطعه نشته.

---

(۱) اعلاء السنن ج۱۱ ص۷۱۲

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۱۶

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۲۹

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدې کبله أبو حنيفه رحمه الله د غلا نصاب لس درهمه ټاکلی دی. البته هغه لس درهمه چې د سپينو زرو څخه جوړ وي، او یا د دغو لسو سپينو درهمو قيمت نصاب ګڼل کېږي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: د يوه لاس ارزښت خو په شريعت کښې "نِصْفُ الدِّيَةِ" (يعنې: پنځه زره درهمه) دی[1]، نو په کار وه چې د غلا د حد دپاره لس درهمه نه بلکې پنځه زره درهمه نصاب ټاکلی شوی وی؟

مونږ وايو چې: رښتيا چې د يوه لاس ارزښت "نِصْفُ الدِّيَةِ" دی خو دا هله چې مظلوم واقع شي او څه خيانت يې نه وی کړی، مګر کله چې ظالم او جاني واقع شي او غلا يې وکړه نو ارزښت يې لسو درهمو ته راټيټېږي لکه چې عبد الرحمن مومند په خپل يوه شعر کښې ويلي دي چې:

تاته خدای د ملکو مقام درکړ :: خو تا دا خپل صورت پخپله ګاو خر کړ

## سوال جواب

٦_ که څوک وايي چې په ﴿ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا ﴾ کښې د "أَيْدِيَ" کلمه د "يَدْ" جمعه ده، نو د معنی حاصل به داسې کېږي چې د غله او غلې دواړو ټول لاسونه پرې کړئ، ايا دا معنی صحت لري؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د جمعې څخه مثنی مراده ده لکه څنګه چې په ﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ [التحريم ۴] کښې د جمعې څخه مثنی مطلب ده؛ يعنې: يقيناً ستاسو دواړو دوه زړونه کاږه شوي دي

نو حاصل به داسې کېږي چې: د غله او غلې دواړو دوه لاسونه پرې کړئ؛ څکه چې مثنی بلې مثنی ته مضافه شي نو توزيع فائده کوي يعنې يو لاس د غله سړي او يو لاس د غلې زنانه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وايي چې: په ﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ کښې خو د جمعې معنی صحت نه لري نو د مجبورۍ د کبله د جمعې څخه مثنی مراده کړی شوه دا څکه چې دوه کسان صرف دوه زړونه لري، نه ډېر. اما په ﴿ أَيْدِيَهُمَا ﴾ کښې خو د جمعې معنی سمه ده، چې دوه کسان ډېر (څلور) لاسونه درلودلی شي، نو څه ضرورت دی چې د جمعې څخه مثنی مراده کړی شي؟

مونږ وايو چې د ټول أمت اجماع ده چې په لومړي ځل غلا کښې بايد ښي لاس قطعه شي[2]، او پوره واضحه ده لکه څنګه چې دوه انسانان صرف دوه زړونه لري، همدارنګه دوی دواړه صرف دوه ښي لاسونه لري او بس.

---

(۱) الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص۳۰۲

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۱۴؛ البحر المحيط ج۴ ص۲۵۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې معنی باندې د عبد الله بن مسعود ﷺ قرائت هم دلالت کوي چې د ﴿ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا ﴾ په عوض يې "فَاقْطَعُوا أَيْمَانَهُمَا" لوستی دی[1].

## سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: مسئله خو دا ده چې څوک دوهم ځل غلا وکړي او همدارنګه که يو غل ومونده شي چې اصلاً ښی لاس ونه لري نو بايد چې په دغو دواړو صورتونو کښې د غله چپه پښه پرې کړی شي، نو پوښتنه دا ده چې په ايت شريف کښې خو پښه باکل نه ده ذکره شوې نو په څه دليل باندې په چپه پښه باندې حد اجراء شو؟

مونږ وايو چې: په ذکرو شوو دواړو صورتونو کښې د پښې پرې کول په اجماع سره ثابت دی او بس[2].

## بايد لاس د مړوند څخه پرې کړی شي

۹_ څرنګه چې د "يَدْ" اطلاق د ګوتو د څوکو څخه نيولې آن د اوږې پورې په ټول لاس باندې کېږي نو د همدې کبله خوارج وايي چې بايد لاس د اوږې څخه قطعه کړی شي[3]، او اهل التشيع وايي چې بايد څلور ګوتې پرې کړی شي[4].

مګر د جمهورو علماوو کرامو نظر دا دی چې بايد لاس د مړوند څخه پرې کړی شي. څکه چې:

الف: د ګوتو پرېکولو ته په عربي ژبه کښې "قَطْعُ الأَصَابِعْ" وايي، نه "قَطْعُ الْيَدْ"، او په ايت شريف کښې "قَطْعُ الْيَدْ" واجب کړی شوی دی.

هو! د "قَطْعُ الْيَدْ" اطلاق په درې بندونو باندې کېږي چې د مړوند څخه پرې شي او يا د څنګلې څخه پرې شي، او بالآخره يا د اوږې څخه پرې کړی شي، نو څرنګه چې په حدودو کښې احتياط په کار دی نو جمهور علماوو کرامو په لومړي اطلاق باندې اکتفاء کړې ده چې مړوند دی.

ب: برسېره په دې د نبي کريم ﷺ په فعل او د درې تنو خلفاء الراشدينو (أبو بکر ﷺ، عمر ﷺ، عثمان ﷺ) په افعالو باندې هم د ايت شريف اجمال پورته شوی دی، چې دوی ټولو د غلو لاسونو د مړوندونو څخه پرې کړي دي[5].

## په حدودو کښې شفاعت نه منل کېږي

۱۰_ ترڅو پورې چې د غلا واقعه د حاکم حضور ته نه وي وروړاندې شوې او په ثبوت باندې نه وي رسېدلې نو د مال خاوند کولی شي چې غله ته عفوه وکړي او همدارنګه شفات کوونکی هم د

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۲۲۸

(۲) تفسير المظهري ج۳ ص۱۰۳

(۳) بدائع الصنائع ج۷ ص۸۸

(۴) تفسير نمونه ج۴ ص۳۷۶

(۵) اعلاء السنن ج۱۱ ص۷۱۲



Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شفاعت کولو حق لري، مګر کله چې غلا په ثبوت ورسېده او حد وربانديې ثابت شو نو بيا نه په عفوه ساقطېږي او نه څوک حق لري چې د سقوط دپاره يې شفاعت وکړي.

د عفوې د عدم قبول په هکله وړانديې په دوهمه توضيح کښې د صفوان بن أميه ﷺ حديث تېر شوی دی، او د عدم شفاعت په باره کښې لاندې حديث شريف ولولئ:

یوه ورځې يوې ښځې چې فاطمه نومېده او د مخزوم د قبيلې څخه وه، غلا کړې وه او د ثبوت څخه وروسته پرې نبي کريم ﷺ د لاس د پرېکولو امر وکړ، مګر د ښځې خپلوان اسامه ﷺ ته ورغله ترڅو د نبي کريم ﷺ سره د نوموړې ښځې په باره کښې خبرې وکړي چې حد وربانديې جاري نه کړي.

نو نبي کريم ﷺ د اسامه ﷺ په شفاعت بانديې ډېر خپه شو او څېره مبارکه يې تغيره شوه او وې فرمايل چې: «لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا ثُمَّ قَطَعَ تِلْكَ الْمَرْأَةَ»[1] يعني: قسم دی که (بالفرض) يقيناً بي بي فاطمه رضي الله عنها د حضرت محمد ﷺ لور غلا وکړي هم نو ضرور به يې لاس پرې کړم. بيا يې د همغې غلې ښځې (لاس) پرې کړ.

## اولنی لاس پرې کړی څه نومېده؟

١١ـ که څه هم د غله لاس پرېکونه په جاهليت کښې هم رواج وه، د همدې کبله قريشو د هغه غله لاس پرې کړ چې د کعبې شريفې خزانه يې غلا کړې وه او "دُوَيْك" نومېده[2]؛ مګر په اسلام کښې اولنی سړی چې نبي کريم ﷺ يې په غلا کښې لاس پرې کړ "الخيار بن عَدي" نومېده او اولنۍ زنانه د مخزوم د قبيلې وه چې "فاطمه" نومېده او نبي کريم ﷺ د دې په باره کښې د اسامه ﷺ شفاعت ونه مانه[3]، لکه چې قيصه يې دستې تېره شوه.

## يوه عجيبه قيصه

١٢ـ د علماوو کرامو څخه يو عالم چې "اصمعي" نومېده، وايي چې يوه ورځې ما قرآن کريم لوست او ترڅوا مې يو اعرابي سړی ناست وه مګر سهواً مې په ذکر شوي [٣٨] ايت کښې د ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ په عوض "وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ" ولوست، نو نوموړي اعرابي راسره لاندې سوال جواب وکړ:

اعرابي: "كَلَامُ مَنْ هذَا؟!" دا د چا کلام وه؟

اصمعي: "كَلَامُ اللهِ" دا د الله ﷻ کلام دی.

اعرابي: "أَعِدْ" ته يې بيا ووايه!.

اصمعي: ﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ ﴾ (تر آخره پورې) وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ.

اعرابي: "لَيْسَ هذَا كَلَامُ اللهِ" دا د الله کلام نه دی.

---

(١) سنن النسائي ٢ ص ٢٥٦

(٢) کتاب الفقه على مذاهب الأربعة ج٥ ص١٥٣

(٣) تفسير القرطبي ج٦ ص١٦١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اصمعي: زه په خپله سهوه باندې پوه شوم او ايت شريف مې تصحيح كړ چې: ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾.

اعرابي: "أَصَبْتَ هٰذَا كَلَامُ اللهِ" حق ته ورسېدې همدا د الله ﷻ كلام دى.

اصمعي: "أَتَقْرَؤُ الْقُرْآنَ؟" ايا ته قرآن كريم لولې يعنې ايا ته قاري يې چې زما غلطي دې ونيوله؟.

اعرابي: نه زه قاري نه يم.

اصمعي: "فَمِنْ أَيْنَ عَلِمْتَ أَنِّي أَخْطَأْتُ؟" نو څه پوه شوې چې ما قرآن كريم خطا ولوست؟.

اعرابي: "يَا هٰذَا عَزَّ فَحَكَمَ فَقَطَعَ وَلَوْ غَفَرَ وَرَحِمَ لَمَا قَطَعَ"[1] يعنې اى ساده سړيه! الله ﷻ عزيز او حكيم دى څكه يې د لاس په پرېكولو امر وكړ، كه بالفرض خپل خان يې په غفور او رحيم سره توصيف كړى وى نو د لاس په پرېكولو باندې به يې امر نه وى كړى.

## يادونه

١٣ـ څرنګه چې د غلا بحث د فقهي په كتابونو كښې[2] د هر بنه مفصل ليكلى شوى دى، مونږ دلته د همغو څنډو په بحث باندې اكتفاء وكړه چې د ايتونو تفسير ورپورې شديد ارتباط درلود، نو هيله ده چې د زيات تفصيل دپاره همهلته مراجعه وكړى شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِأَفْوَٰهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ ۛ سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ ۖ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَٱحْذَرُوا۟ ۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتْنَتَهُۥ فَلَن تَمْلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمْ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۚ لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٤١﴾ سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾ وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوْرَىٰةُ فِيهَا حُكْمُ ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٣﴾ ﴾

---

[1] زاد المسير ج٢ ص٢٣٧

[2] بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج٧ ص٦٥ـ ٩٠؛ احكام القرآن للجصاص ج٢ ص٤١٣ـ ٤٣٢؛ الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص٩٢ـ ١٣٥؛ كتاب الفقه على المذاهب الأربعة ج٥ ص١٥٣ـ ٢٠٨

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۱] ای پیغمبره! تا دې هغه کسان غمژن نه کړي چې هغوی په کفر کښې تاند وهي (دوی) د هغو کسانو څخه عبارت دي چې په خپلو خولو باندې وايي چې مونږ ايمان راوړی دی او حال دا چې زړونه يې معتقد نه دي (ايمان يې نه دی راوړی).

او هم (دوی) د هغو کسانو څخه عبارت دي چې په يهوديت کښې داخل دي. (دوی دواړه ډلې) دروغو ته ښه غوږ اېښودونکي (او هم دوی) يو بل قوم ته ښه غوږ اېښودونکي وي چې هغوی تاته نه دي درغلي (يا دوی د دروغو دپاره او د جاسوسۍ دپاره ښه غوږ اېښودونکي دي).

(ای پیغمبره! ذکرې شوې ټولې ډلې) کلماتو ته د هغه څخه وروسته تغير ورکوي چې په خپلو ځايونو کښې (بې ثبوت موندلې) وي، دوی (يو تربله) وايي چې: که چرته دغه (تحريف شوی حکم د نبي کريم ﷺ د پلوه) درکړی شو نو قبول يې کړئ، او که درنه کړی شو (بلکې بل حکم درکړی شو) نو ځانونه ترې وساتئ.

او (ای پیغمبره!) هرڅوک چې الله ﷻ يې په فتنه (ګمراهۍ) کښې د اچولو اراده وکړي نو هيڅکله به (حتی) ته هم هغه لره (د هدايت څخه) په هيڅ شي باندې ونه توانېږې (پاتې خو لا نور خلک).

دغه (درې واړه ډلې) هغه کسان دي چې الله ﷻ اراده نه کړې چې زړونه يې (د خيرې څخه) پاک کړي، دوی لره په دنيا کښې رسوايي ده او دوی لره په آخرت کښې لوی عذاب دی.

[۴۲] (دوی) دروغو لره ښه اورېدونکي دي (او) ښه حرام خواره دي، نو که چرته دوی تا ته (د فيصلې دپاره) درشي نو د دوی په منځکښې حکم (فيصله) وکړه او يا ترې اعراض وکړه (تاته اختيار دی). او که ته د دوی (د فيصلې) څخه اعراض وکړې (مخ ترې واړوې) نو هيڅکله به دوی تا ته څه ضرور ونه شي رسولی، او که ته (د دوی په منځکښې) فيصله وکړې (اولنی اختيار غوره کړې) نو د دوی په منځکښې په انصاف سره فيصله وکړه. يقيناً الله ﷻ انصاف کوونکي خوښوي.

[۴۳] او دوی به تا (په واقعي توګه) څنګه حَکَم (منصف) وټاکي او حال دا چې د دوی سره تورات دی چې د الله ﷻ حکم پکښې دی (او دوی ته ښه معلوم دی) بيا ترې دوی د همدې (علم او ثبوت) څخه وروسته مخونه اړوي او (که د دوی په رښتيا سره د الله ﷻ حکم مطلب وی نو تاته يې څه حاجت وه خو خبره دا ده چې) همدغه کسان (په خپل کتاب تورات باندې هم) مؤمنان (يقين کوونکي) نه دي.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ايتونو کښې د ډاکوانو احکام بيان شوي وه، چې د خلکو مالونه لوټ کوي او په دې ايتونو کښې د هغو لوټمارانو احکام بيانېږي کوم چې د الله ﷻ کتاب لوټ کوي (تحريفوي).

۲ـ هلته د هغو کسانو بحث وه چې په مالونو باندې خلک زوروي او ژوند يې نا ارامه کوي او دلته د هغو کسانو بحث دی چې په تحريف او منافقت او هم په جاسوسۍ او حرامخورۍ باندې د خلکو خوشالي او ارامي د منځه وړي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٣_ بالآخره د تشریعي حدودو په تعقیب دلته د اهل الکتابو د تشریعي حدودو حال واضحه شو چې څرنګه یې تحریف او څنګه یې د منځه یووړه، ترڅو مونږ د هغوی په قدم باندې قدم کېښږدو او د هغوی چال چلند اختیار نه کړو. نو د دې ایتونو څخه نیولې آن تر [٥٠] ایت پورې په لسو ایتونو کښې په همدغې موضوع باندې هر اړخیز بحث شوی دی.

## شان نزول

که څه هم د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې تقریبًا پنځه واقعات روایت کړی شوي دي[١]، مګر مونږ دلته یوازې د یوه روایت په لنډیز باندې اکتفاء کوو، چې د ایتونو د تفسیر سره راته ډېر نږدې ښکاره شو. هغه دا چې:

ابو هریره ﷺ وایي چې الله ﷻ په تورات کښې د زناکارانو دپاره د رجم حکم ناز کړی وه، مګر یهودانو د پښو لاندې کړي وه خو د خپلو ځانونو سره یې څه تشویش درلود چې د الله ﷻ په حضور کښې په مونږ څه جواب ووایو؟.

یوه ورځې یوه نارینه یهودي د یوې زنانه یهودۍ سره په زنا باندې مبتلا شو، نو دوی مشوره وکړه چې راشئ د موقع څخه استفاده وکړو او دا حادثه نبي کریم ﷺ ته وړاندې کړو، څه لرې نه ده چې د رجم څخه پرته بله څه اسانه جزا وټاکي، نوموړی نبي الرحمة دی او په دین کښې یې اساني ډېره ده. نو که د نبي الرحمة څخه مو اسان حکم ترلاسه کړ د قیامت په ورځ به مو د الله ﷻ په حضور کښې جواب جوړ شي چې: ای الله! مونږ خکه د رجم د حکم څخه تېر شوي یاستو چې ستا یوه پیغمبر (محمد ﷺ) مونږ ته همداسې هدایت کړی دی.

هو! دوی د ذکر شوي مشورې سره-سره دا خبره هم د ځانونو سره غوټه کړه که بالفرض نبي الرحمة درنه فیصله درکړه او د رجم حکم یې وکړ نو بیا به یې نه منو او په خپل دریځ باندې به کلکېږو.

کله چې واقعه نبي کریم ﷺ ته وړاندې کړی شوه نو نبي کریم ﷺ د یهودو څخه پوښتنه وکړه چې په تورات کښې د زناکارۍ جزا په څه ډول ده؟، دوی جواب ورکړ چې: د تورات جزا دا ده چې مونږ دواړه زناکاران په خره باندې شا په شا سوروو او په داسې حال کښې چې مخونه مو ورتور کړي وي په کلي او کوڅو کښې یې ګرځوو راګرځوو ترڅو شرمنده او خجالت شي. اما د رجم په جزا باندې په ټپه منکر شوه.

نبي کریم ﷺ دوی ته په ډېره کلکه لهجه باندې قسم ورکړ چې ستاسو دې قسم وي چې په تورات کښې د رجم حکم نشته؟ دوی ټولو انکار وکړ یوازې یوه سړي چې "ابن صوریا" نومېده اقرار وکړ چې هو دا حکم شته.

نبي کریم ﷺ د ابن صوریا څخه پوښتنه وکړه چې: په تاسو باندې څه باعث وه چې ذکر شوی حکم مو د پښو لاندې کړی دی؟ هغه وویلې چې د شاهي کورنۍ څخه یوه سړي زنا وکړه او د خپل رسوخ

---

(١) زاد المسیر ج٢ ص٢٧٥

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کبله وربانديې رجم اجراء نه شو، بلکه ورځ د عوامو څخه يو سړى په ذکر شوي جنايت اخته شو مګر خپلوان يې کلک ودرېده چې که په دغه سړي باندې رجم اجراء کېږي نو بايد چې د شاهي کورنى په سړي باندې هم اجراء شي. په نتيجه کښې مونږ د رجم د حکم څخه د ټولو خلکو په هکله صرف نظر شوو او په عوض کښې مو يوازې د خره په شا باندې په سرچپه سورولو اکتفاء وکړه ترڅو مونږ وکولى شو چې په شاه او ګدا دواړو باندې يې تطبيق کړو.

نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «فَإِنِّي أَحْكُمُ بِمَا فِي التَّوْرَاةِ فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا»(١) نو زه په همغه حکم باندې فيصله کوم چې په تورات کښې دى، نو په دواړو باندې يې امر وکړ نو دواړه رجم کړى شو. نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه(٢).

## يادونه

ذکره شوې واقعه په مختلفو روايتونو باندې روايت شوې ده چې په ځينو روايتونو کښې يې لاندې ټکي هم روايت شوي دي:

١ـ څرنګه چې د يهودانو همغې ډلې چې د رجم د حکم څخه منکران وه، په خپل انکار باندې زيات ټينګار وکړ نو نبي کريم ﷺ تورات راوغوښت، مګر د قرائت په وخت کښې يوه يهودي وراندې بيرته ولوست خو د رجم په ايت باندې يې لاس کېښود ترڅو يې د نبي کريم ﷺ څخه پټ وساتي نو عبد الله بن سلام ؓ ورته وويلې چې: ته لاس پورته کړه!، چې لاس يې پورته کړ د رجم ايت ښکاره شو، نو بيا يهودانو د مجبورۍ د کبله اقرار وکړ(٣).

٢ـ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَحْيَا أَمْرَكَ إِذْ أَمَاتُوهُ»(٤) يعني: اى الله! زه همغه اولنى سړى يم چې ستا حکم مې په داسې وخت کښې راژوندى کړ چې هغوى وژلى وه (او د پښو يې لاندې کړى وه).

## د مطلب خلاصه

١ـ يعني: اى پيغمبره! د منافقانو او يهودانو په چال چلند باندې مه غمژن کېږه، چې دوى په کفرياتو کښې په ډېر سرعت سره وړاندې روان دي او په هر ډول خيانت باندې يې چې لاس بر شي ورته نشته، دا خکه چې:

الف: دوى دروغمژنه خبره ډېره ښه اوري او عقيده ورباندې کوي او په ربښتيا خبرو باندې کانه دي. علاوه په دې، اى پيغمبره! ستا خبرو ته د دې دپاره غوږ نيسي چې دروغ دريوري وترې او په وينا کښې ادلون بدلون راولي.

(١) سنن ابي داؤد ج٢ ص٢٥٥
(٢) اسباب النزول للواحدي ص١٣١
(٣) موطا ابن مالک ص٦٨٣
(٤) سنن ابن ماجه ص١٨۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: او هم ستا حضور ته د دې دپاره درځي چې د نورو جنايتکارانو دپاره جاسوسي وکړي کوم چې د دوی څخه په تخريبکارۍ کښې وړاندې دي او ستا حضور ته لا نه دي درغلي، چې د زياتې کينې د کبله ستا مبارک مخ ته نه شي کتلی. يا په بل عبارت، چې ستا رنګ ورباندې بد لګي.

۲ـ ای پيغمبره! ذکر شوي دوه مخي کسان لاندې صفات لري:

الف: دوی هر ډول حقو خبرو ته تحريف ورکوي برسيره په دې چې خپل اسماني کتاب (تورات) يې تحريف کړی دی، مثلاً د رجم ثابت حکم يې د خپله ځايه بې ځايه کړی دی او په عوض کښې يې د زناکارانو دپاره په خره باندې سورول د جزا په حيث ټاکلي دي.

ب: دوی خپلو جاسوسانو ته وايي البته کله يې چې ستا حضور ته دراستوي چې د زناکارانو په هکله درڅخه فيصله واخلي، چې که دغه حکم يې درکړ کوم چې مونږ اختراع کړی دی او يا د دې څخه په اسان حکم باندې يې فيصله وکړه نو ويې منئ او که نه نو خپل خانونه ترې وساتئ. يا په بل عبارت، که ربنتيانی حکم يې درکړ نو مه يې قبلوئ او که دروغين حکم يې درکړ نو قبول يې کړئ، او شاباس هم ورباندې ووايا ست چې آفرين.

۳ـ ای پيغمبره! ته څکه مه غمژن کېږه چې ته په تکويني شيانو کښې واک او اختيار نه لري دا صرف د الله ﷻ کار دی چې څه شی يا موجودوي او يا يې معدوموي، يا چا ته هدايت کوي او څوک په فتنه کښې اچوي (ګمراه کوي يې)، ستا وظيفه صرف د شريعت بيانول او رسول دی او په دې کښې خو تا په هيڅ ډول باندې قصور نه دی کړی ترڅو ستا د غمژن کېدلو سبب شي.

۴ـ ای پيغمبره! ذکرو شوو کسانو (چې برسېره په کفر باندې د منافقت مرتکب شوي هم دي) د هدايت استعداد د لاسه ورکړی دی او الله ﷻ اراده نه لري چې د دوی زړونه د کفرياتو او منافقتونو څخه پاک کړي، نو همدوی لره په دنيا کښې رسوايي ده چې په نن سبا کښې به ورباندې الله ﷻ عذاب ورنازل کړي او د جهاد په نتيجه کښې به يا وشړل شي او يا به ووژل شي، او د آخرت عذاب خو يې بالکل څرګند دی چې په لوی دائمي عذاب باندې به اخته شي.

۵ـ ای پيغمبره! ذکر شوي کسان برسېره په دې چې دروغژنه خبره ډېره ښه اوري او په دروغين حکم باندې ډېر ښه عمل کوي، ډېر غټ حرام خواره هم دي چې توله وينه او غوښه يې د حرامو څخه جوړه ده نو په دوی کښې به د هدايت استعداد د کومه شي؟

دوی تاته د حق پلټنې دپاره نه درځي بلکې په دې غرض درځي چې خپلو باطلو حکمونو ته د حقانيت رنګ ورکړي. يا په بل عبارت: چې خلکو ته ښکاره کړي چې د زناکارانو دپاره په خره باندې شا په شا سورول د محمد ﷺ حکم دی، او په همدې طريقې باندې تا هم د خپلو خانو په شان بې لارې کړي.

د دوی غرض ستا بې لارې کول دي، نو که چرته د کومې فيصلې د اخستلو دپاره درغله، نو ته اختيار لرې چې فيصله ورکوې او که مخ ترې اړوې.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که ترې مخ واړوې او فیصله ورنه کړې چې ناسو د حق پلټنې دپاره راغلي نه یاست، نو په هیڅ ډول ضرر به درته ونه شي رسولی، په ښه جرئت سره ترې مخ واړوه.

او که خوښه دې شوه چې فیصله ورکړې نو د فیصلې په وخت کښې د دوی جنایتونو او تخریبکاریو ته مه ګوره او په انصاف سره فیصله وکړه. ځکه چې الله ﷻ په فیصله کښې عادلان او منصفان خوښوي. که څه هم فیصله د دښمنانو په باره کښې وي.

۶_ ای پیغمبره! دوی به څنګه تاته د حقې فیصلې غوښتلو دپاره درشي او په خپلو قضایاوو کښې به تا په ریښتیانی توګه د قاضي په حیث ومني حال دا چې د دوی سره تورات شته چې د الله ﷻ په احکامو باندې مشتمل دی او دوی پرې ښه پوهیږي چې دا حقې فیصلې دي مګر د پوهې سره-سره، ورنه شا کوي او تاته درځي چې مونږ ته د زانیانو په باره کښې فیصله راکړه.

که بالفرض دوی ریښتیا حق غوښتونکي وی نو تاته درتګ ته به يې حاجت نه وی او مطلب به يې په خپل کور کښې ترلاسه شوی وی خو اصلاً دوی د حقې فیصلې غوښتونکي نه دي.

## توضیحات

۱_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ﴾ باندې وقف کړی دی چې په دې تقدیر راتلونکی ټول بیان په یهودو پورې تعلق نیسي[١]، مګر مونږ ته دا ښه ښکاره شوه چې په ﴿ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ ﴾ باندې وقف وکړو، چې په دې تقدیر په راتلونکي ټول بیان کښې منافقان هم شاملیږي، او دا نظر ځکه بهتر دی چې د دنیا په رسوائۍ او د آخرت په لوی عذاب کښې د یهودو غوندې منافقان هم ښه پوره دونه برخه لري.

## یادونه

۲_ مونږ د اهل الکتابو د تحریف ډولونه د [آل عمران:۷۸] ایت لاندې لیکلي دي چې بیا لیکلو ته يې څه اړتیا نه ګورو، مګر دلته فقط همدومره اضافه کوو چې الله ﷻ د دوی د تحریفاتو ځخه په [النساء:۴۶] ایت کښې په ﴿ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ ﴾ سره تعبیر کړی دی، او په دغو ایتونو کښې، چې سمدستي د بحث لاندې دی، په ﴿ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ ﴾ سره ترې تعبیر کوي چې هلته د "عَنْ" توری او دلته د "مِنْ" توری نازل شوی دی، او همدارنګه هلته د "بَعْدِ" کلمه نشته او دلته شته.

نو مونږ وایو -وبالله التوفیق- چې د "مِنْ" او "عَنْ" توري دواړه د جر ورکوونکو حرفونو څخه دي او یو د بل په ځای باندې استعمالیږي، نو څه لرې نه ده چې په دواړو ایتونو کښې تفنن في العبارة په نظر کښې نیول شوی وي.

اما لکه چې د ذکر شوو ایتونو په شان نزول کښې واضحه شوې ده چې اهل الکتابو د رجم ایت

(١) تفسیر الکشاف ج١ ص٦٣٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په تورات کښې د خپله خایه نه وه بنوروولی خو د دې سره-سره په حکایت او انتقال کښې یې تحریف ورکړ او بالکل وړباندې تېر منکر شوه، نو ځکه ورسره دلته د ﴿ بَعْدِ ﴾ کلمه زیاته نازله شوه.

نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: دوی الهي کلماتو ته د هغه ځخه وروسته تحریف ورکوي چې هغه په خپلو ځایونو کښې ثابت پاتې وي. او هلته یې حاصل داسې را اوځي چې: دوی الهي کلمات د خپلو-خپلو ځایونو ځخه په محوه کولو یا په تبدیلولو بالآخره یا په تاویل ورکولو او نورو طریقو باندې تحریفوي نو هغه ایت ته نظر دې ایت ته عام دی، والله ﷻ اعلم.

## سُحت څه معنی؟

٣_ د "السُّحْت" کلمه خو اصلاً د یو شي بېخ ویستلو یا هلاکولو ته وایي[١]، مګر په دې مقام کښې ترې حرام مالونه عموماً او د رشوت مالونه خصوصاً مراد دي. ځکه چې د حرامو مالونو خوړل د برکت بېخ اوباسي او د نیکیو توفیق د منځه وړي چې په نتیجه کښې حرام خور د معنوي هلاکت سره مخامخ کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې قیصه ولولئ:

نبي کریم ﷺ د خیبر د یهودو سره صلحه کړې وه چې د خرماګانو د حاصلاتو نیمایي برخه به اسلامي حکومت ته ورکوئ او متباقي نیمایي برخه به ستاسو وي.

یو کال نبي کریم ﷺ عبد الله بن رواحه ؓ ورواستاوه چې خپله برخه خرماګانې مدینې منورې ته انتقال کړي، مګر یهودانو نوموړي صحابي ؓ ته څه د رشوت وړاندیز وکړ چې دا واخله خو مونږ ته د نیمایي برخې ځخه څه زیاتې خرما پرېږده.

هغه جواب ورکړ چې قسم دی چې په ټول مخلوق کښې ماته تاسو مبغوض یاست خو د دې سره-سره نه غواړم چې په تاسو باندې ظلم وکړم او د انصاف ځخه تېر شم. او هر چې ستاسو د رشوت وړاندیز دی «فإنها سُحتٌ وإنَّا لا نأكلُها»[٢] نو یقیناً هغه حرام دی او مونږ حرام نه خورو، نو هغوی وویل چې په همدې انصاف باندې دنیا ودانه ده.

﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلرَّبَّـٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَـٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟ عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا۟ ٱلنَّاسَ وَٱخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ وَٱلْأَنفَ

---

(١) البحر المحیط ج٣ ص٢٥٨

(٢) موطا الإمام مالک ص٤٢٩

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِٱلْأَنفِ وَٱلْأُذُنَ بِٱلْأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾

[۴۴] يقينًا مونږ تورات نازل کړی وه چې په دې کښې هدايت او رڼا وه، په دې باندې به هغو پيغمبرانو فيصلې کولې چې غاړه ايښودونکي وه، (البته) د هغو خلکو دپاره چې دوی په يهوديت کښې داخل وه، او (هم به) الله پرستانو او علماوو په هغه شي سره (فيصلې کولې چې) د دوی څخه يې ساتنه غوښتلې شوې وه چې هغه شی د کتاب الله څخه عبارت وه حال دا چې دوی پرې شاهدان وه (چې دا کتاب الله دی او مونږ څارونکي ياستو).

نو (دوی ته‌ولو ته مو دا هم ويلي وه چې) د خلکو څخه مه ډارېږئ او زما څخه وډار شئ او زما په ايتونو باندې بې ارزښته (ناچيزه) پيسې مه اخلئ، او هرڅوک چې په هغه څه باندې فيصله ونه کړي چې الله ﷻ نازل کړی دی (او په عوض کښې يې تحريف شوی حکم عملي کړي) دغه ډله همدوی کافران دي.

[۴۵] او په دوی باندې مو په دغه (تورات) کښې (دا حکم) هم فرض کړی وه چې يقينًا يو شخص (به وژل کېږي) په بل شخص سره او سترګه به (ويستله کېږي) په سترګې سره او پوزه به (پرېکول کېږي) په پوزې سره او غوږ به (غوڅېږي) په غوږ سره او غاښ به (ماتېږي) په غاښ سره او (بلکې ټول) زخمونه يو برابر دي.

نو هر څوک چې په دغه (فرض کړی شوي حکم باندې) خيرات وکړي (عفوه وکړي) نو دا د ده دپاره د (ګناهونو) کفاره ده، او هرڅوک چې په هغه څه باندې فيصله ونه کړي چې الله ﷻ نازل کړي وي نو همدغوی ظالمان دي.

## ارتباط

په دې ايتونو کښې هم د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی چې نبي کريم ﷺ ته يهودان خپل قضايا د دې دپاره نه وړاندې کوي چې په ربښتيانی توګه د شرعي حکم مطالبه کوي بلکې د دوی مطلب دا دی چې خپل تحريف شوي حکم ته څه د حقانيت لباس ورواغوندي.

علاوه په دې دلته دې خبرې ته هم اشاره شوې ده چې اهل الکتابو يوازې د زناکارانو شرعي عقوبت ته تحريف نه وه ورکړی بلکې د ناحقه قاتلانو عقوبت يې هم د خپل محور څخه اړولی وه، چې د زنانه وو نارينه قاتل يې نه قصاص کاوه او داسې نور.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای پيغمبره! مونږ د قرآن کريم څخه وړاندې تورات نازل کړی دی چې په خپل وخت کښې د ټولو حوادثو او قضاياوو دپاره جواب ورکوونکی وه او دې ته اړتيا نه وه چې تابعان يې د

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قضایاوو حل بل چرته ولټوي، په دې کتاب کښې د ټولو حل لارو هدایتونه شته او د مشکلاتو څخه د خلاصون دپاره د یوه چراغ حیثیت لري.

د همدې کبله نوموړی کتاب د موسی ﷺ څخه نیولې آن د عیسی ﷺ پورې د ټولو پیغمبرانو دستور العمل وه او همدې کتاب ته دوی غاړه ایښودونکي وه چې د یهودانو موضوعات به یې وړباندې حل کول.

۲ـ همدارنګه په همدغه تورات باندې ډېرو مشانخو، پوهانو او جیدو علماوو عمل کړی دی چې د دوی د جملې څخه ابن صوريا هم دی، چا چې د زانیانو د رجم حکم پټ نه کړ.

څکه چې د دوی څخه دا مطالبه کړی شوې وه چې د نوموړي کتاب د تحریف څخه ساتنه کوئ او په همدې کار باندې پوره څارونکي اوسئ، د خلکو څخه به نه ډارېږئ او یوازې زما څخه به ډارېږئ، او هم زما ایتونه به نه خرڅوئ، او هرڅوک چې په هغه شي باندې حکم ونه کړي چې الله ﷻ نازل کړی دی او په عوض کښې یې د خپله خانه په جوړ کړی شوي حکم فیصلې وکړې نو هغوی کافران دي. مګر د وخت په مرور سره یهودانو نه د خپل کتاب حفاظت وکړ او نه یې د تحریف څخه وساته بلکې پخپله یې پکښې ګوتې ووهلې، او حقائق یې پټ کړه او د خلکو د ډاره یې (چې قلنګونه به راباندې ودروي) د نبي کریم ﷺ صفات ردوبدل کړه او په ناچیزه پیسو یې خرڅ کړ، چې په نتیجه کښې یې وړباندې خپل خانونه کفر ته ورسول.

۳ـ ای پیغمبره! په تورات کښې موږ په یهودانو باندې د قتل په باره کښې قصاص هم واجب کړی وه، چې یو شخص به په بل شخص باندې وژل کېږي که څه هم دواړه اشخاص سره یو تریله په فقر، غنا او نورو صفاتو کښې فرق ولري چې یو شخص د شاهي کورنیو څخه وي او بل شخص د عام رعیت څخه وي.

همدارنګه مو په دوی باندې د انسان د هر یوه اندام په بدله کښې د جنایتکار د اندام او هم د ټولو زخمونو په عوض کښې قصاص واجب کړی وه.

۴ـ او په تورات کښې مو هغوی ته دا توصیه هم کړې ده چې هرڅوک خپل جنایتکار ته عفوه وکړي او د خپل زخم بدله ترې وانه خلي نو دا کار د هغه دپاره د ګناهونو کفاره جوړېږي.

بالآخره څوک چې په هغه شي باندې حکم ونه کړي چې الله ﷻ نازل کړی دی او په عوض کښې خپل جوړ کړی شوي حکمونه اجراءاتو ته وړاندې کړي، چې دا د الله ﷻ نازل کړی شوي دي نو یقیناً همدغه ډله خلک ظالمان دي داسې ظالمان چې د دوی په سویه بل ظالم په دنیا کښې نشته.

## توضیحات

۱ـ موږ د [البقرة: ۹۱] ایت لاندې لیکلي دي چې د بلاغت په علم کښې کله-کله یو تېر شوی کار داسې ګڼل کېږي لکه د سره چې تېر شوی نه وي، ته به وایې چې هغه دی حاضر دی او سمدستي د سترګو لاندې دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې د ﴿ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ﴾ جمله په همدې قانون باندې بنا ده، ته به وايې چې سمدستي پيغمبران او نور حاکمان د تورات په مقتضی لګيا دي فيصلې کوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: ﴿ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ ﴾ خو د ﴿ ٱلنَّبِيُّونَ ﴾ دپاره صفت واقع شوي دي، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې هغو پيغمبرانو به په تورات باندې حکم کاوه چې هغوی به مسلمانان وه، نو پوښتنه دا ده چې: اسلام خو د نبوت دپاره نه بېلېدونکی او لازم صفت دی نو په ذکر کښې يې څه حکمت دی؟

موږ وايو چې:

الف: په دې تکي کښې په يهودانو باندې د ملامتيا تعريض نغښتی دی چې دوی به پيغمبران عمومًا او ابراهيم ﷺ خصوصًا يهودي مسلکه ګڼله، نو الله ﷻ ورته وفرمايل چې هغوی مسلمانان وه، د يهوديت محرف مسلک خو دوی د خپله ځانه اختراع کړی دی.

ب: لکه څنګه چې په صفاتو باندې د موصوف عظمت څرګندول کېږي همدارنګه کله-کله د صفاتو تعظيم ته هم اشاره کېږي چې دغه صفات دومره لوی شان لري چې حتی فلانی وړاندې موصوف شوی دی. يا په بل عبارت: د ﴿ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ ﴾ ذکر په دې مقام کښې د اسلام د تعظيم دپاره شوی دی، چې يهودان ورته په سپک نظر باندې ګوري.

د دې نظير په هغه ايت شريف کښې ښه څرګندېږي چې الله ﷻ ملائک په ايمان باندې موصوف کړي دي که څه هم په دوی کښې د ايمان نه راوړلو استعداد نشته، ترڅو څرګنده شي چې ايمان ډېر عظيم الشان صفت دی. الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ ﴾ [غافر:۷] يعنې: هغه ملائک چې عرش العظيم حمل (په اوږو) کوي او هغه ملائک چې د عرش العظيم څخه چارچاپېر دي (دوی ټول) د خپل رب ﷻ تسبيحات وايي او همده ﷻ باندې ايمان راوړي.

## استحفاظ څه معنی؟

۳ـ د ﴿ ٱسۡتُحۡفِظُواْ ﴾ جمله د "استحفاظ" څخه اشتقاق شوې ده. "استحفاظ" د حفاظت او ساتنې غوښتلو ته وايي. په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې کېږي چې د بني اسرائيلو څخه آن د پيغمبرانو په شمول د تورات په باره کښې د الله ﷻ د جانبه دوه شيان غوښتل شوي وه چې يو يې د تحريف څخه ساتنه ده او بل په همدې کتاب باندې مراقبت او څارنه ده، چې نور څوک پکښې ګوتې ونه وهي.

پيغمبرانو او ربانيونو او بالآخره واقعي علماوو هر چا په خپل خپل وخت کښې ورسپارلی شوی کار ترسره کړ او ښه په کلکه ورباندې ودرېده، مګر په دائمي توګه يې ونه شو کړی چې د دنيا پرستانو د تحريفونو څخه يې بچ وساتي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما د قرآن کریم حفاظت الله ﷻ زمونږ څخه نه دی غوښتی بلکې په خپله یې د تحریف څخه ساتي لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ [الحجر: ٩] يعني: يقيناً همدا مونږ ذکر (قرآن کریم) نازل کړی دی او یقیناً مونږ یې ساتونکي یاستو. د همدې کبله هیڅوک توان نه لري چې د قیامت د ورځې پورې په قرآن کریم کښې څه تحریف وکړي.

## رباني او حبر څه فرق لري؟

۴ـ د "الرَّبَّانِيُّون" کلمه د "رَبَّانِيٌّ" جمعه ده چې مونږ يې لفظي تحقيق د [آل عمران: ۷۹] ایت لاندي لیکلي دي، او "الْأَحْبَار" د "حَبْر" جمعه ده چې د "حِبْر" څخه اخستله شوې ده، "حَبْر" په معنی د ښائست سره دی، عالم ته ځکه "حَبْر" وايي چې د ده علم ښائسته اثار د خلکو په زړونو کښې تر ډېره وخته پورې پاتې کېږي[١]. هوا په ځینو استعمالاتو کښې "حِبْر" د "ح" په زیر سره هم اورېدلی کېږي، اما په دې مقام کښې د ذکرو شوو دواړو کلمو په معناوو کښې مفسرین کرام ډېر نظریات لري. مثلاً:

الف: اکثره علماء وايي چې دواړه کلمې په مصداق کښې څه فرق نه لري[٢]، چې دینداره عالمان ترې مطلب دی ځکه چې دوی هم الله پرستان دي او هم د دوی په علم سره خلک ښائسته کېږي.

ب: ځینې وايي چې د "الرَّبَّانِيُّون" څخه واليان (سیاستمداران) مطلب دي او د "الْأَحْبَار" څخه عالمان مراد دي[٣].

ج: ځینې وايي چې اوله کلمه د عبادت کوونکو (مشائخو) څخه عبارت ده او دوهمه کلمه د علماوو څخه عبارت ده[۴].

مونږ ته همدغه دریم تفسیر ښه ښکاري، که څه هم علم او عبادت سره تقریباً لازم او ملزوم دی او یو د بل څخه نه جدا کېږي.

## ايا په کتاب الله باندې فيصله نه کول کفر دی؟

۵ـ خوارج وايي چې په هره یوه ګناه باندې سړی کافر کېږي[۵]، د همدې کبله الله ﷻ هغه کسان کافران معرفي کړه او د اسلام څخه یې وویستل ځوک چې کتاب الله د خپلو قضاياوو دپاره فيصله کوونکي جوړ نه کړي که څه هم عقيده وربانډې ولري.

اما د أهل السنة والجماعة عقیده دا ده چې په ګناه باندې څوک نه کافر کېږي خو په دې شرط چې ګناه حلاله ونه ګڼي، په کتاب الله فيصله نه کول یوه ګناه ده، کفر نه دی، او ذکر شوی ایت د یهودانو په باره کښې نازل شوی دی.

---

(١) مفردات الراغب ص۱۰۴

(٢) زاد المسير ج٢ ص٢٨١

(٣) البحر المحيط ج۴ ص٢٦٧

(۴) روح المعاني ج٦ ص١۴۴

(۵) روح المعاني ج٦ ص١۴۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: د احکامو په استنباط کښې خو د شان نزول خصوص ته اعتبار نشته بلکې صرف د کلام مفهوم ته کتل کېږي، نو څرنګه چې د "مَنْ" د کلمې مفهوم عام دی، کافرانو او مسلمانانو ټولو ته شامل دی نو په کار دی چې د خوارجو نظر صحت ولري؟

مونږ وايو چې: رښتيا ده چې په نصوصو کښې د مفهوم عموم ته کتل کېږي خو چې موانع ونه لري او دلته يې موانع شته دي چې د عقيدې د صحت سره-سره په عملي ګناه باندې هيڅوک نه کافر کېږي او دلائل يې د [آل عمران:۲۵] ايت لاندې تېر شوي دي. که بالفرض کافر کېدلی نو د پيغمبرانو څخه په غير به د خوارجو په شمول هيڅوک مسلمان نه وی پاتې شوی. لاندې وضاحت ولولی:

الف: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي کله چې دا ايت نازل شو چې: ﴿ وَلَمْ يَلْبِسُوٓاْ إِيمَـٰنَهُم بِظُلْمٍ ﴾ [الأنعام: ۸۲] يعنې: هغه خلک د دوزخ د اور څخه په امن کښې دي چې د خپلو ايمانونو سره ظلم نه خلط ملط کوي؛ نو صحابه کرامو ﷺ ووېلې چې: «أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ»[۱] زمونږ کوم يوه ظلم نه دی کړی بلکې ټول ګناهګاران ياستو. نو دا ايت شريف نازل شو چې: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ [لقمان: ۱۳] يقيناً شرک لوی ظلم دی، يعني د ظلم څخه شرک مطلب دی او عملي ګناه مطلبه نه ده.

ب: د همدې کبله البراء بن عازب ﷺ وايي چې: د دې مقام درېواړه ايتونه د کافرانو په باره کښې دي او بس[۲]، چې ﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾، ﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴾، ﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴾ چې راتلونکی ايت پرې ختم شوی دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وايي چې: حذيفه ﷺ ته چا ووېلې چې ذکر شوي درېواړه ايتونه په بني اسرائيلو کښې نازل شوي دي، نو نوموړي صحابي ﷺ جواب ورکړ چې: «نِعْمَ الْإِخْوَةُ لَكُمْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِنْ كَانَتْ لَهُمْ كُلُّ مُرَّةٍ، وَلَكُمْ كُلُّ حُلْوَةٍ، كَلَّا وَاللهِ لَتَسْلُكُنَّ طَرِيقَهُمْ قَدْرَ الشِّرَاكِ»[۳] يعني: عجيبه ده، بني اسرائيل خو ستاسو ډېر ښه ورونه دي چې هره ترخه د هغوی ده، او هره خوږه ستاسو ده، دغسې نه ده لکه چې تاسو اټکل کوئ قسم دی چې تاسو به هم د هغوی په لاره باندې لاړ شئ که څه هم د هغوی لاره د څپلی د وندني په اندازه نرۍ وي. نو پوښتنه دا ده چې: نوموړي صحابي ﷺ درېواړه ايتونه آن مسلمانانو ته هم شامل ګڼلي دي؟

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۶۶
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۷۰
(۳) تفسير الطبري ج۴ ص۲۵۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې د نوموړي صحابي ﷺ مطلب دا نه دی چې (تاسو) مسلمانانو ته ایتونه هم شامل دي بلکې مطلب یې دا دی چې که څه هم ایتونه تاسو ته شامل نه دي مگر تاسو به د بني اسرائیلو په لاره باندې رفتار غوره کړئ که څه هم ډېره تنگه لاره وي او په لوی لاس به د ایتونو په عموم کښې خپل خانونه شامل کړئ او د الله ﷻ د احکامو څخه به انکار وکړئ، نو په دې خبره باندې مه غولېږئ چې سمدستي پکښې شامل نه یاست.

همدا مضمون نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې ډېر ښه بیان کړی دی چې: زما دې قسم وي چې تاسو به د پخوانیو په قدم باندې لاړ شئ، وازه په وازه، او گز په گز او بالآخره لوښت په لوښت، تردې چې که هغوی د سمساري په سوړه کښې ننوزي نو تاسو به هم پکښې ننوزئ. چا ورته وویلې چې: ای د الله رسوله! د پخوانیو څخه یهود او نصارا مراد دي؟ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فمَنْ إذا»[1] یعنې: چې دوی مراد نه دي نو څوک مراد دي؟ بلکې همدوی مې مطلب دي.

## یادونې

۸ـ په دې مقام کښې لاندې یادونې په ذهن کښې ساتل په کار دي

الف: مونږ د [النساء ۹۲، ۹۳] ایتونو او هم د [البقرة ۱۷۸، ۱۷۹] ایتونو لاندې د قتل په باره کښې ښه پوره معلومات لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه گورو.

ب: همدارنگه د فقهي کتابونو د زخمونو د قصاص په باره کښې ښه مفصل او گټور بحثونه کړي دي[2]. هیله ده چې همغته مراجعه وکړی شي. دلته رانقلول یې ډېر اوږدوالی پیدا کوي.

## تصدق څه معنی؟

۹ـ د ﴿ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ ﴾ کلمهٔ "تصدّق" څخه اشتقاقه شوې ده، که څه هم "تصدّق" د مال په خیراتولو کښې استعمالېږي مگر په دې مقام کښې د عفوې څخه څکه په ﴿ تَصَدَّقَ ﴾ باندې تعبیر کړی شوی دی ترڅو بني اسرائیل وهخول شي چې د قصاص څخه عفوه بهتره ده او د سرې د گناه کفاره جوړېږي، ته به وایې چې د خپلې گناه په بدل کښې یې ښه پوره فدیه ورکړې ده.

همدا مضمون په لاندې حدیث کښې په ډېره ښه توگه منعکس شوی دی:

ابو الدرداء ﷺ وایي چې د نبي کریم ﷺ څخه مې اورېدلي دي چې «مَا مِنْ رَجُلٍ يُصَابُ بِشَيْءٍ مِنْ جَسَدِهِ فَيَتَصَدَّقُ بِهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ بِهِ دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ بِهِ خَطِيئَةً سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي»[3] یعنې: هیڅ یو سړی نه وي چې په بدن کښې ورته څه مصیبت ورسولی شي نو په هغه باندې تصدق (عفوه) وکړي مگر الله ﷻ به یې پرې لوړې درجې نه پورته کړي او لویه گناه به یې پرې ورژوي، (دا حدیث) زما غوږونو اورېدلی دی او زړه مې ساتلی دی.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص ۲۸۷

(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج ۶ ص ۳۳۱ـ۳۴۲

(۳) سنن ابن ماجه ص ۱۹۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: تاسو خو د [البقرة:۱۷۸] ايت لاندې ليکلي دي چې په يهودانو باندې قصاص فرض وه او عفوې ورته جواز نه درلود، حال دا چې په دې مقام کښې واضحه څرګنده شوه چې عفوه جائزه لا څه چې ورته د قصاص ښخه بهتره هم وه؟

مونږ وايو چې: هلته مطلب دا دی چې هغوی ته داسې عفوې جواز نه درلود چې ديت واخلي او داسې مو مطلب نه دی چې هغوی ته په هيڅ صورت باندې د عفوې جواز نه وه، ترڅو تناقض لازم شي.

لنډه دا چې په يهودانو باندې فرض وه چې يا قصاص واخلي او يا مفته عفوه وکړي مګر هغوی دغه حکم ته تغير ورکړ او په ديت سره يې عفوه د الله ﷻ حکم وګڼله او په ديت کښې يې هم تول خلک يو برابر نه ګڼل، د کمزورو او (د دوی په اصطلاح) د رذيلو خلکو نيم ديت او د زورورو او شريفو خلکو دپاره پوره ديت ټاکلی وه.

څرنګه چې بني نضيرو خپل قوميان (بني قريظه) سيالان نه ګڼل، نو په خپل وژل شوي کښې به يې پوره ديت اخست او د هغوی په وژل شوي کښې به يې نيم ديت ورکاوه[۱]. دا وو د اهل کتابو په قصاص کښې د تحريف يو مثال.

﴿ وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾ ﴾.

[۴۶] او د دوی (پيغمبرانو) په قدمونو باندې مو وروسته د بي بي مريمې رضي الله عنها زوی عيسی عليه السلام ورولېږه، په داسې حال کښې چې د هغه شي تصديق کوونکی وه چې د ده (عيسی عليه السلام) څخه وړاندې وه چې د تورات څخه عبارت دی، او ده (عيسی عليه السلام) ته مو انجيل ورکړی وه چې په دې (کتاب) کښې هدايت او رڼا وه، او دا (کتاب مو هم په داسې حال کښې ورکړی وه چې) دا د هغه شي تصديق کوونکی وه چې د ده څخه وړاندې وه چې د تورات څخه عبارت دی، او هم (د خلکو دپاره) هدايت وه او هم د متقيانو دپاره پند (او نصيحت) وه.

[۴۷] او (دا توصيه مو هم ورته کړې وه چې) د انجيل اهل (خاوندان) دې هم په هغه باندې فيصله وکړي چې الله ﷻ پکښې نازل کړی دی، او هرڅوک چې په هغه شي باندې فيصله ونه کړي چې الله ﷻ نازل کړی دی (او د خانه جوړ کړی شوی حکم يې عوض کړي) نو همدغوی فاسقان دي.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۵ ص۱۱۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې بني اسرائیل مونږ په یوه وخت کښې هم بې هدایته نه دي پرېښې، خو د دې سره-سره د الله ﷻ هدایتونو ته یې شا کړې ده او احکامو ته یې تحریف ورکړی دی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: مونږ بني اسرائیلو ته هم یو په بل پسې پیغمبران وراستولي دي تردې چې آخرنی پیغمبر مو عیسی ﷺ ورواستاوه، او هم مو د تورات پسې انجیل ورنازل کړی وه، ترڅو هغه انوار او هدایتونه ژوندي وساتل شي چې دوی ته آن د موسی ﷺ د زمانې څخه ورکړی شوی وه.

مګر دوی ټولو نه د پیغمبرانو احترام وکړ چې خبره یې د دوی منلې وی او د وژلو اقدام یې ورته نه وی کړی او نه یې د کوم کتاب احترام وساته چې په تحریف باندې یې د ده سپکاوی نه وی کړی، حال دا چې هر یوه پیغمبر د سابقه کتاب او پیغمبر تصدیق کاوه.

یا په بل عبارت: نه په پیغمبرانو کښې څه اختلاف وه او نه په تورات او انجیل کښې چې د دوی د غُصې باعث جوړ شوی وی، مګر دوی بلا باعثه نه د پیغمبرانو د عداوت څخه لاس واخست او نه د کتاب د تحریف څخه.

۲ـ اصلي خبره دا ده چې بني اسرائیلو د تقوی استعداد د لاسه ورکړی وه، که نه نو دوی هیڅکله بې هدایته او بې رڼا او بالآخره بې پنده نه دي پرېښودل شوي.

لنډه دا چې دوی ته په انجیل کښې هم د تورات غوندې توصیه شوې وه چې خپلې فیصلې په هغه شي باندې وکړئ چې الله ﷻ نازل کړی دی او اختراعي احکام یې مه عوض کوئ، که څوک دا کار وکړي نو هغه به فاسق (د شرعي چوکاټ څخه وتلی) جوړ شي، مګر دوی خپل خانونه فاسقان جوړ کړه او د هغه شي د تحریف څخه یې لاس وانه اخست چې الله ﷻ نازل کړی دی، آن تردې چې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ بشارت یې هم پټ کړ، چې په نامه سره ښودلی شوی وه چې احمد نومېږي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَقَفَّيْنَا ﴾ کلمه اصلاً د "قَفَا" (څټ) څخه اخستله شوې ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په بني اسرائیلو کښې مو پیغمبران یو په بل پسې استولي وه. نو پوښتنه دا ده چې همدغه معنی خو د ﴿ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم ﴾ څخه هم معلومېږي، نو د څه حکمت په بنا د "قَفَّيْنَا" په عوض "أَرْسَلْنَا" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: په ﴿ وَقَفَّيْنَا ﴾ کښې د اتصال معنی پرته ده، ته به وایې چې یو پیغمبر به په بل پسې دومره نژدې استولی کېده چې په اصطلاح څټ به یې ورته ښکارېده، او د دوارو په منځکښې د فترت زمانه نه وه چې د پیغمبرانو څخه خالي شوې وي لکه څنګه چې د عیسی ﷺ او

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د نبي كريم ﷺ په منځكښې زمانه ترې خالي وه، نو كه د "قَفَّيْنَا" په عوض "أَرْسَلْنَا" نازل شوى وى نو ذكر شوى مطلب به فوت شوى وى.

٢ـ كه څه هم د تورات دپاره د انجيل تصديق هو بهو د عيسى ؑ تصديق دى، مګر الله ﷻ هم د انجيل سره او هم د عيسى ؑ سره د ﴿ مُصَدِّقًا ﴾ كلمه مستقله ذكره كړه ترڅو د بني اسرائيلو (لجوجو خلكو) دپاره د ګوتې د اېښودلو خاى پاتې نه شي او د اعتراض توان ونه لري.

## محمدي بشارت په انجيل كښې

٣ـ الله ﷻ د عيسى ؑ د خولې څخه حكايت كوي چې ده بني اسرائيلو ته ويلي وه چې زه په داسې حال تاسو ته دراستولى شوى يم چې: ﴿ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ﴾ [الصف:۶]

يعنې: زېرى دركوونكى يم په يو پيغمبر سره چې زما څخه وروسته به راشي او نوم به يې احمد وي. مګر نصاراوو په دغه بشارت باندې حكم ونه كړ او خولې يې پرې پټې كړې.

## يوه عجيبه قيصه

۴ـ يوه ورځې يو نصراني زمونږ د سلفو صالحينو څخه د يوه عالم سره په لاندې ډول سوال جواب وكړ[١]:

نصراني: ايا د اتفاقي پيغمبر اتباع بهتره ده كه د اختلافي پيغمبر؟

عالم: د اتفاقي اتباع بهتره ده.

نصراني: نو تاسو ته په كار دي چې د محمد ﷺ اتباع پرېږدئ او زمونږ نصرانيت ته راواوړئ، ځكه چې عيسى ؑ زمونږ او ستاسو په منځكښې اتفاقي پيغمبر دى او محمد ﷺ اختلافي دى ځكه چې مونږ يې نه منو.

عالم: محمد ﷺ هم اتفاقي پيغمبر دى خو كه تاسو د خپل كتاب (انجيل) متابعت وكړئ، افسوس چې تاسو خپل كتاب هم نه منئ.

نو نصراني متحير او ملامته شو.

## كفر، ظلم، فسق څه فرق لري؟

۵ـ كه څه هم د ذكرو شوو درېواړو كلماتو په مفاهيمو كښې فرق شته، مګر په مصداقاتو كښې سره څه منافات نه لري، يوه د بلې سره مصدقي اتحاد درلودلى شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې تفصيل ولولئ:

الف: كفر خو اصلاً پټولو ته وايي[٢]، نو لكه څرنګه چې د شريعت څخه په انكار باندې د الله ﷻ

---

(١) اضواء البيان ج٢ ص٩۶

(٢) مفردات الراغب ص۴۵١

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نعمتونه پټول کېږي او ناشکري يې کېږي، همدارنګه ګناه کول هم د نعمت د پټولو او ناشکرۍ څخه په غير بل شی نه دی.

ب ظلم خو اصلاً "تياره" ته وايي چې په مقابل کښې يې نور (رڼا) استعمالېږي[١]، نو لکه څنګه چې د اسلامي شريعت نه منل په تياره کښې لوېدل دي همدارنګه ګناه کول هم يو ډول تياره ده.

ج فسق خو اصلا وتلو ته وايي لکه چې خرما د خپل شخولې څخه اوځي[٢]، نو لکه څنګه چې د شريعت نه منل د الله ﷻ د اطاعت څخه وتل دي همدارنګه ګناه کول هم د الله ﷻ د اطاعت څخه غاړه غړول دي.

په دې مقام کښې اهل الکتاب ته په ﴿ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾، ﴿ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴾، ﴿ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴾ درېواړو لقبونو باندې ياد کړې شوه چې دوی هم د الله ﷻ نعمتونه پټ کړه چې پيغمبران يې ونه منل او کتابونه يې تحريف کړه. او هم د رڼا څخه په تورو تيارو کښې ولوېدل، او بالآخره هم د الله ﷻ د اطاعت او بندګۍ څخه بيرون ووتل

﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَـٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ ۖ فَٱسْتَبِقُوا۟ ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ (٤٨) وَأَنِ ٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَٱحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَنۢ بَعْضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَـٰسِقُونَ (٤٩) أَفَحُكْمَ ٱلْجَـٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ (٥٠) ﴾

**[٤٨]** او مونږ تاته (ای پيغمبره!) په حقه کتاب (قرآن کريم) درنازل کړی دی په داسې حال کښې چې د هغه شي تصديق کوونکی دی چې د ده څخه وړاندې وه چې د جنس کتاب (تورات، انجيل، زبور) څخه عبارت دی، او (په داسې حال کښې چې) په جنس کتاب باندې څارونکی دی.

---

(١) مفردات الراغب ص٣٢٥

(٢) مفردات الراغب ص٣٩٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د دوی (اهل الکتابو) په منځکښې په هغه شي باندې حکم (فیصله) وکړه چې الله ﷻ نازل کړی دی او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه چې (د هغه شي څخه) تجاوز وکړې چې تاته درغلی دی چې د حق څخه عبارت دی.

ستاسو (انسانانو) څخه مو د هرې یوې ډلې دپاره (بېل) شریعت او (بېله) لاره ټاکلې ده، او که د الله ﷻ اراده شوې وی نو تاسو ټول به یې ضرور یو اُمت جوړ کړي وی (ټولو ته به یې یو شریعت مقرر کړی وی) مګر (الله ﷻ دا اراده ونه کړه) د دې دپاره چې تاسو په هغه شي کښې امتحان کړي چې تاسو ته یې درکړی دی (چې د بېل-بېل شریعت څخه عبارت دی) نو تاسو ټول خیریه کارونو ته سبقت وکړئ (وروخغلئ).

خاص الله ﷻ ته ستاسو د ټولو بېرته ورتاوېدل دي، نو په هغه شي باندې به مو خبر کړي چې په هغه کښې تاسو یاست چې اختلاف پکښې کوئ.

[۴۹] او (ای پیغمبره! دا خبره مو هم تاته درنازله کړې ده چې) د دوی (اهل الکتابو) په منځکښې په هغه شي سره حکم (فیصله) وکړه چې الله ﷻ نازل کړی دی او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه، او د دوی څخه حذر (ډار) وکړه چې د هغه شي د څه برخې څخه دې په فتنه کښې وانچوي چې الله ﷻ تاته درنازل کړی دی (چې د شریعت ځینې احکام عملي نه کړې).

نو که دوی (د شریعت حکم ته) شا کړه نو پوه شه چې یقیناً الله ﷻ اراده کړې ده چې دوی ته د ځینو ګناهونو په سبب باندې مصیبت ورورسوي. او یقیناً د خلکو څخه ډېر خامخا فاسقان دي (چې دوی هم د همدغې ډلې څخه دي).

[۵۰] ایا دوی د جاهلیت حکم (ستا څخه) غواړي، (حال دا چې) هغه څوک دی چې د الله ﷻ څخه د داسې قوم دپاره چې یقین کوي د حکم د حیثه ښه وي؟ (د الله ﷻ څخه د هغه حکم بهتر وي، هیڅوک نشته).

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای پیغمبره! څرنګه چې اهل الکتابو خپل کتابونه ګډوډ کړي دي او په تحریفاتو سره یې ربښتیاني مضامین په دروغینو مضامینو کښې ورک کړي دي، نو دغه دی تاته مو داسې کتاب درواستاوه چې د یو پلوه په خپل حقانیت باندې پخپله شاهدي وایي او خلک یې د مقابلې څخه عاجز دي، او د بله پلوه د پخوانیو کتابونو واقعي مضامین او حقائق یو ځل بیا په اثبات رسوي او هم یې یو ځل بیا حفاظت او ساتنه کوي چې دا ځل د اهل الکتابو وسه نه کېږي چې تحریف پکښې وکړي. او دا خکه دوی خو خپلو کتابونو ته تحریف ورکړ، مګر د قرآن کریم د تحریف وسه نه په دوی کښې شته او نه په بل چا کښې.

۲_ نو کله چې تا ته الله ﷻ خپل احکام درنازل کړه او حقائق یې درته ټول په ډاګه کړه نو همېشه د ټولو خلکو په منځکښې حتی د اهل الکتابو په منځکښې هم په ما انزل الله سره فیصلې کوه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او پام کوه چې د حق څخه دې د دوی خواهشات منحرف نه کړي.

۳ـ مونږ د هرې زمانې د خلکو دپاره بیل شریعت او بېله سمه سیده لاره ټاکلې ده چې خپل روزمره قضایا وربانديې حل او فصل کړي، نو په نني عصر کښې ستا شریعت د تعمیل وړ او د الله ﷻ په نزد باندې منظور دی، په عملي ساحه کښې پخواني ټول شرائع منسوخ دي او د فیصلې قابلیت نه لري، نن ورځ په اهل الکتابو باندې هم لازمه ده چې په همدې شریعت باندې خپل مشکلات حل کړي او خپلمنځي شخړې پرې د منځه یوسي.

که د الله ﷻ اراده شوې وی چې تاسو ټولو (بني بشرو) ته یو شریعت وټاکي نو همداسې به یې کړي وی، مګر په دې تقدیر به د ازمېښت ساحه تنګه شوې وی او په ښه توګه به نه وی ترسره شوې. نو ځکه یې د زمانو په بدلون سره شرائع هم په عملي ساحه کښې واړول راواړول، ترڅو دا وازمویي چې نوي شریعت ته د پخواني شریعت پیروان غاړه ږدي او که څنګه؟

۴ـ نو ای د دې زمانې خلکو! (چې تاسو ټول د نبي کریم ﷺ په دعوتي امت کښې شامل یاست) او ای اهل الکتابو! تاسو ټول د خیر طرف ته یو د بل څخه وړاندې شئ او د شریعت په قبول کښې یو بل ته مه ټالبږئ او شریعت قبول کړئ.

تاسو چې په هر شریعت باندې یاست الله ﷻ ته به ورټول شئ که نن ورځ قرآني فیصله نه منئ نو د قیامت په ورځ به الله ﷻ ستاسو په منځکښې اختلافي موضوعات په حقه باندې فیصله کړي او هیڅوک به د شکایت حق ونه لري.

۵ـ ای پیغمبره! یو ځل بیا واوره چې د ټولو خلکو په منځکښې حتی د اهل الکتابو په منځکښې هم په هغه شي سره فیصلې کوه چې الله ﷻ نازل کړی دی او د خلکو د خواهشاتو او غوښتنو پسې مه ګرځه، بلکې پام کوه چې دوی دې د ما انزل الله څخه په چل او فریب باندې بل طرف ته تاو نه کړي، دوی ډېر چلیان دي، زیات کوښښ کوي چې که د ټول ما انزل الله څخه دې وانهړوي د خینې څخه خو دې واړوي.

۶ـ ای پیغمبره! که دوی په خپلو خواهشاتو باندې زیات ټینګار وکړ او د ما انزل الله څخه یې مخونه واړول نو پوه شه چې الله ﷻ دوی ته اراده کړې ده چې د خینو ګناهونو په مصیبت باندې یې په دنیا کښې اخته کړي او تا ترې خلاص کړي، ته به ځکه د دوی د مخ اړونې سره دوچار کېږې چې د خلکو څخه زیات فاسقان دي او هر فاسق د الله ﷻ د حکم څخه مخ اړوي.

۷ـ ای پیغمبره! په آخره کښې د دوی عجیبه حالت ته یو ځل ښه په خیر سره وګوره چې دوی خومره سپین سترګي دي چې ستا څخه هم دوی د جاهلیت فیصلې غواړي، د دوی نیت دی چې فریب درکړي او په خپلو باطلو خیالاتو باندې تا هم واړوي، حال دا چې هغه څوک دی چې د الله ﷻ څخه د هغه فیصله ښائسته او په زړه پورې وي؟ مګر په دې باندې هغه څوک پوهېږي چې په الله ﷻ باندې په حقه یقین او باور لري او بس.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ که څه هم مفسرينو کرامو د "الْمُهَيْمِن" کلمې دپاره په دې مقام کښې څلور معناوې کړې دي[١]، مګر مونږ ته په ټولو کښې دا ښه ښکاره شوه چې په معنی د حافظ او مراقب سره شي[٢].

نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې قرآن کريم د پخوانيو کتابونو د مضامينو ساتونکی او تصحيح کوونکی دی چې هلته ضائع شوی او غلط کړی شوی وه، او هم يې مراقب او څارونکی دی چې د غلطۍ څخه يې ساتي او دا څکه کله چې په قرآن کريم کښې د هغه مضامين ځای په ځای ذکر شوه نو هيڅوک تحريف نه شي ورکولی.

### د "شِرْعَة" او "مِنهاج" فرق

٢ـ په ﴿ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ﴾ کښې د "شِرْعَة" او "مِنهاج" فرق اعتباري دی، د ښه وضاحت دپاره لاندې معلومات ولولی:

د احکامو هغه مجموعه کومه چې الله ﷻ د بندګانو دپاره د پيغمبرانو عليهم السلام په سلسله څمکې ته را استولې ده ترڅو ورباندې د دنيا او اخرت سعادت حاصل کړی شي، د اعتباراتو په لحاظ متعدد لقبونه لري[٣] لاندې مثالونه يې ولولی:

الف: همدغه مجموعه د "شِرْعَة" يا "شَرِيْعَة" په نومونو يادېږي، دا څکه چې دغه دواړه نومونه په اصل کښې هغې لارې ته وضعه شوې دي کومه چې تګی سړی اوبه خور (د اوبو څښنکلو ځای) ته رسوي، او پوره واضحه ده چې په ذکره شوې مجموعه باندې معنوي خړوبتيا حاصلېږي او هم ورباندې باطني خيری او پليتی د منځه ځي.

ب: همدغې مجموعې ته په دې اعتبار سره "دِين" ويل کېږي چې اُمتونه ورته انقياد کوي او غاړې ورته ږدي، ترڅو د قيامت په ورځ د نيکي جزا سره مخامخ شي.

ج: همدغې مجموعې ته د "مِنهاج" لقب هم ورکولی کېږي چې دغه لقب په اصل کښې د واضحه لارې لقب دی، او ذکره شوې مجموعه هم معنوي واضحه لاره ده.

د: همدغه مجموعه د "مِلَّة" په لقب هم يادېږي چې پيغمبران عليهم السلام يې خپلو خپلو اُمتونو ته ليکې ترڅو ورباندې په دوامداره توګه عمل وکړي، او د اسماني قانون په نظر ورته وګوري.

همدغه لقب (مِلَّة) د "اَمْلَلْتُ" دپاره اصلي مصدر دی چې د ليکلو معنی ورکوي.

په همدې ارتباط د الله ﷻ په توفيق د [البقرة: ١٢٠] ايت لاندې څه وضاحت تېر شوی دی.

هـ: همدغې مجموعې ته د "هِدَايَة" او "هُدیٰ" لقبونه هم ورکړی شوي دي چې د دنيا او اخرت د دواړو لارښودونکی دی.

---

(١) زاد المسير ج٢ ص٢٨٤

(٢) البحر المحيط ج٣ ص٢٥٩

(٣) روح المعاني ج٦ ص١٥٣

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ په دې مقام کښې فرمايلي دي چې د هرې زمانې د خلکو دپاره بېل بېل شريعت ټاکلی شوی دی حال دا چې په بل ځای کښې فرمايي چې مونږ تاسو ته هغه دين تشريع کړی دی کوم دين مو چې نوح ﷺ او نورو پيغمبرانو ته تشريع کړی وه لکه چې فرمايي: ﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا ﴾ الآية [الشورى:۱۳]. نو پوښتنه دا ده چې دغه دواړه ايتونه څه تناقض نه لري؟

مونږ وايو چې: چرته چې ټول شرايع متحد ښودلي شوي دي هلته يا اساسي (عقيدوي) احکام مراد دي، چې شريعتونه په عقايدو کښې څه اختلاف نه لري، او يا ذاتي اتحاد مراد دی، مثلاً ټول اديان د عبادت په ذات کښې اختلاف نه لري بلکې په کيفيت کښې سره اختلاف درلودلی شي.

او چرته چې يو شريعت د بل څخه جدا ښودلی شوی دی، نو هلته يا فرعي او عملي احکام مطلب دي چې دلته اديان اختلاف لري، او يا صرف مکلفيت ته کتل شوي دي چې هر اُمت په خپل-خپل شريعت باندې مکلف دی او بس، مثلاً په مونږ باندې په وژل شوي کښې قصاص د دې کبله فرض دی چې د قرآن کريم حکم دی او په بني اسرائيلو باندې د دې کبله فرض وه چې د تورات حکم وه، نو دواړه قصاصونه يو تربله جدا-جدا شو.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په وړاندې ايتونو کښې الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته اختيار ورکړی وه چې د اهل الکتابو په قضاياوو فيصله وکړي او يا يې ونه کړي، چې: ﴿ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ [المائدة: ۴۲] يعني: نو که اهل الکتاب تاته د حکم او فيصلې دپاره درغله نو خوښه دې چې فيصله ورکوې او که يې نه ورکوې. اما په دې مقام کښې يې ورته په قطعي توګه امر کړی دی چې د دوی په منځکښې حکم او فيصله وکړه: ﴿ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ ﴾.

مونږ وايو چې: د ځينو مفسرينو کرامو نظر دا دی چې په همدغه ايت باندې تخير نسخه شوی دی لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم نسخه روايت شوې ده[1].

او ځينې وايي چې نبي کريم ﷺ ته په حربيانو کافرانو کښې د فيصلې کولو اختيار ورکړی شوی وه او د اهل الذمه وو کافرانو په باره کښې ورباندې فيصله کول واجب وه[2]، نو هلته حربيان مراد دي او دلته اهل الذمه مطلب دي.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې هلته هغه اهل الکتاب مطلب دي چې اصلاً د فيصلې اخستلو دپاره نه وه ورغلي بلکې د دې دپاره ورغلي وه چې په خپل تحريفي حکم باندې د نبي کريم ﷺ

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۱۴۱

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۳۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مبارکه ژبه وچلوي او بهانه جوړه کړي لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکایت کوي چې ﴿ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا ﴾ [المائدة ۴۱] یعني دوی وايي که دغه حکم ورکړی شو نو وايي خلي او که درنه کړی شو نو پرهيز تري وکړئ

او په دې مقام کښې هغه اهل الکتاب (کافران) مطلب دي چې نبي کريم ﷺ ته د فيصلې دپاره ورغلي وه مګر غوښتل يې چې فيصله په خپل غرض باندې وشي لاندې وضاحت (د شان نزول) ولولئ چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوی دی[۱].

يوه ورځې د اهل الکتابو يوه ډله نبي کريم ﷺ ته ورغله چې يا محمده (پيغمبره!) ته خو پوهيږې چې مونږ په يهودو کښې اشراف او احبار ياستو که مونږ ستا اطاعت وکړو نو ټول يهودان به ستا اطاعت وکړي مطلب دا دی چې زمونږ او د يو بل قوم په منځکښې څه لانجه ده او مونږ دواړه جانبه غواړو چې ته راته لانجه حل کړې. که ته زمونږ په نظر باندې فيصله وکړې نو مونږ در باندې ايمان راوړو. او په نتيجه کښې به ټول يهودان په ايمان باندې مشرف شي. نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ چې په هغه شي باندې فيصله کوه چې الله ﷻ نازل کړی دی او ښه زيات متوجه اوسه چې اهل الکتاب دې تير نه باسي او بې لارې دې نه کړي

په ذکر شوي بيان سره د هغه سوال مخه هم نيوه کيږي چې د څه حکمت په منظور الله ﷻ په دغو دواړو ايتونو کښې چې سمدستي د بحث لاندې دي. دوه ځله نبي کريم ﷺ ته امر کړی دی چې په هغه شي باندې فيصله کوه چې الله ﷻ نازل کړې دي

د مخنيوي حاصل يې دا دی چې ذکره شوې جمله ﴿ وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ ﴾ دوهم ځل په خاصه موضوع کښې نازله شوې ده. چې اهل الکتاب نبي کريم ﷺ ته د چل او فريب دپاره ورغلي وه او د هغوی دسيسه يې شنډه کړه.

## د چنګيز قانون

۵ـ کوم قوانين چې د الهي شريعت څخه په غير د بلې منبع څخه سرچينه اخلي هغه ټول د جاهليت قوانين دي. لکه د چنګيز خان دولتي قانون چې د مختلفو منابعو څخه يې رااخوند کړی وه لکه يهوديت. نصرانيت. اسلام او داسې نور حتی خپل نظريات يې هم پکښې راغوند کړي وه او يو کتاب يې ترې جوړ کړی وه چې د "الْيَاسِق" په نامه به يې ياداوه. دغه کتاب د ده په اولاده کښې د يوه اسماني کتاب په شان عزت درلود. حتی چې په ايت او حديث باندې يې وړاندې ګاڼه[۲].

د الله ﷻ په توفيق دريم توک ختم شو. والحمد لله ﷻ.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۳۲

(۲) تفسير القاسمي ج۶ ص۲۳۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ۷
الله ﷻ ته د فقير لقب ورکول کفر دی ۷
په ګناه باندې راضي کېدل ګناه ده ۸
سوال جواب ۸
الله ﷻ "ظلام" نه دی ۹
"قربان" څه معنی؟ ۹
د بني اسرائيلو قرابين ۱۰
زمونږ نظر ۱۰
د "اجر" د کلمې معنی ۱۳
د کفارو د سپورو خبرو مثالونه ۱۴
د دې زمانې د اذيتونو مثالونه ۱۴
"عزم" څه معنی؟ ۱۵
يادونه ۱۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۵
عجيبه قيصه ۱۶
سوال جواب ۱۸
دلته "اتيان" څه معنی؟ ۱۸
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۸
هېر مو نه شي ۱۸
ماثور تفسير ۱۹
د تفکر نتيجه ۲۳
د سوال اجابت ۲۳
د اعمالو څو نمونې ۲۴
"الباب" څه معنی؟ ۲۴
سوال جواب ۲۵
ذکر څه معنی؟ ۲۵
د "فکر" معنی ۲۶
د دې ايت ارشاد ۲۶
يادونه ۲۷
په قيامت کښې څوک شرمنده دی ۲۷
ايمان ته رابلونکی څوک دی؟ ۲۸
د "غفران" او "تکفير" ترمنځ فرق ۲۹
"ذنوب" او "سيئات" څه فرق لري؟ ۲۹
سوال جواب ۳۰
"إجابة" او "استجابة" څه فرق لري؟ ۳۱
يادونه ۳۱
سوال جواب ۳۱
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۲
کفر د ترقۍ سبب نه دی ۳۴
سوال جواب ۳۴
د حبشې د پاچا لقب ۳۶
يادونه ۳۶
"سريع الحساب" څه معنی؟ ۳۷
د "صبر" ډولونه ۳۸
"مصابره" څه معنی؟ ۳۸
د "مرابطې" معنی ۳۸
په ياد ولرئ ۳۹
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۹

## النساء (٤)

سريزه ۴۲
يادونه ۴۵
سوال جواب ۴۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۵
"ارحام" څه معنی ۴۶
خپلولي ټينګول واجب دي ۴۶
په جاهليت کښې ښځه او ماشوم د ميراث
څخه محروم وه ۴۹
يتيم څوک دی؟ ۴۹
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۹
سوال جواب ۵۰
خوف څه معنی؟ ۵۱
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۱
تبصره ۵۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د ایت شریف ارشاد ۵۲
معجزانه عبارت ۵۳
یوه سړي ته پنځمه نکاح جائزه نه ده ۵۳
سوال جواب ۵۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۴
تبصره ۵۵
د جاهلیت د زماني نکاح ۵۵
د زوجاتو تعدد په اسلام کښې ۵۶
یادونه ۵۶
د زوجاتو په تعدد کښې اسلام مؤسس نه دی ۵۷
د زوجاتو تعدد اجتماعي ضرورت دی ۵۷
د زوجاتو تعدد فطري شی دی ۵۸
نتیجه ۵۹
د کور ریاست د نارینه وو پورې خاص دی ۶۰
د زوجاتو په تعدد کښې عدل واجب دی ۶۰
د بې عدالتۍ مفاسد ۶۱
مهر مو نه شي ۶۱
د عربیت یو بحث ۶۲
سوال جواب ۶۲
په نکاح کښې اجرت جائز دی او رشوت
پکښې حرام دی ۶۴
"صَدُقَات" څه معنی ۶۵
د "نِحْلَة" معنی ۶۵
سوال جواب ۶۵
د عربیت قانون ۶۵
د سختو ناروغانو تداوي ۶۶
"سُفَهَا" څه معنی؟ ۶۸
سوال جواب ۶۹
تبصره ۶۹
حلال مال ته د ژوند قیام ویل شوی دی ۶۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۷۰
معروف قول څه معنی؟ ۷۰
د یتیمانو روزنه ۷۱
د بلوغ علامات ۷۱
سوال جواب ۷۲
یوه مسئله ۷۳
یوه بله مسئله ۷۳
دلته د "رجال" معنی نارینه ده ۷۵
سوال جواب ۷۵
لږ وي او که ډېر وي ۷۵
دلته معروف قول څه معنی؟ ۷۶
یوه مسئله ۷۶
د دې ایت ارشاد ۷۸
سوال جواب ۷۸
په یاد ولرئ ۸۲
د مېرمن او خاوند برخي ۸۲
د جاهلیت په زمانه کښې د میراث اسباب ۸۳
د میراث اسلامي اسباب ۸۴
یوه مسئله ۸۴
د ترکې څلور حقوق ۸۵
د وارثانو عمده ګروپونه ۸۵
د میراث د علم اساسات ۸۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۸۶
یادوني ۸۷
په میراث کښې دوه او درې یو حکم لري ۸۷
الله ﷻ حکیم او علیم دی ۸۷
یادونه ۸۹
سوال جواب ۸۹
کلاله څه معنی ۹۰
د "حُدود" تعریف ۹۱
د حدودو څخه تیری ۹۱
د اسلام په ابتداء کښې د زنا موقت تعزیرات ۹۴


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




تبصره ..... ۹۵
ایذاء دلته څه معنی؟ ..... ۹۵
دائمي حدود څه شی دي؟ ..... ۹۵
یادونه ..... ۹۶
ایا د توبې قبول شراطونه لري ..... ۹۶
"من قریب" څه معنی؟ ..... ۹۶
تبصره ..... ۹۷
د "یاأیُّها الّذینَ آمَنُوا" خطاب عام دی ..... ۱۰۰
"فاحِشَة" څه معنی؟ ..... ۱۰۱
د دې ایت ارشاد ..... ۱۰۱
سوال جواب ..... ۱۰۲
"افضاء" څه معنی؟ ..... ۱۰۲
یوه مسئله ..... ۱۰۲
د پلار منکوحه قطعي حرامه ده ..... ۱۰۵
د حرامو ښځو ډولونه او ګروپونه ..... ۱۰۶
نسبي حرامې ښځې ..... ۱۰۶
رضاعي حرامې ښځې ..... ۱۰۶
سوال جواب ..... ۱۰۶
د رضاع په هکله څو مسائل ..... ۱۰۷
د خپښۍ حرامې ښځې ..... ۱۰۷
سوال جواب ..... ۱۰۸
یادونه ..... ۱۰۸
موقتې حرامې ښځې ..... ۱۰۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۱۰۹
سوال جواب ..... ۱۰۹
د موقتو حرامو ښځو دوهم ګروپ ..... ۱۱۰
"المحصنات" څه معنی؟ ..... ۱۱۲
سوال جواب ..... ۱۱۳
د حرامو ښځو ګروپونه ..... ۱۱۳
مهر شرعي حق دی ..... ۱۱۵
متعه د کومې نکاح نوم دی؟ ..... ۱۱۵
ایا متعه جائزه ده؟ ..... ۱۱۵
یادونه ..... ۱۱۸
"طول" څه معنی ..... ۱۲۱
څو مسائل ..... ۱۲۱
د وینځو په نکاح کولو باندې مه شرمېږئ؟ ۱۲۲
د زنا ډولونه ..... ۱۲۲
په وینځو باندې رجم نشته ..... ۱۲۳
"عنت" څه معنی؟ ..... ۱۲۳
یادونه ..... ۱۲۶
د تخفیفونو څو مثالونه ..... ۱۲۶
انسان کمزوری دی ..... ۱۲۷
سوال جواب ..... ۱۲۹
خان وژنه حرامه ده ..... ۱۲۹
ظلم او عدوان څه فرق لري؟ ..... ۱۳۰
سوال جواب ..... ۱۳۱
د ګناهونو ډولونه ..... ۱۳۲
تبصره ..... ۱۳۴
په لویو ګناهونو کښې هم تفاوت شته ..... ۱۳۴
سوال جواب ..... ۱۳۴
د مغفرت اسباب ..... ۱۳۵
"مَولی" څه معنی؟ ..... ۱۳۹
عقد الموالاة د میراث سبب دی ..... ۱۴۰
تبصره ..... ۱۴۰
د "قَوّام" معنی ..... ۱۴۴
د نارینه وو او زنانه وو جوړښت فرق لري ..... ۱۴۴
د نارینه وو څانګړي وظائف ..... ۱۴۵
صالحه ښځه کومې ته وایي؟ ..... ۱۴۶
د قنوت د کلمې معنی ..... ۱۴۶
"نُشُوز" څه معنی؟ ..... ۱۴۷
په هجران سره تادیب ..... ۱۴۷
سوال جواب ..... ۱۴۷


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د همدي حکم نظایر ........ ۱۴۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۴۸
چې جګړه رسوا شي ........ ۱۴۹
څو نکات ........ ۱۴۹
د ایت شریف ارشاد ........ ۱۵۰
د "نِیَادَة" معنی ........ ۱۵۲
د مور او پلار حقوق ........ ۱۵۳
د ګوانډي حق ........ ۱۵۳
د ګوانډ حقوق تفاوت لري ........ ۱۵۳
سوال جواب ........ ۱۵۴
د بخل ډولونه ........ ۱۵۴
"ذَرَّة" څه ته وایي؟ ........ ۱۵۶
سوال جواب ........ ۱۵۶
محمدي (ﷺ) امت به شاهدي وایي ........ ۱۵۷
دا ډېر هولناک وخت دی ........ ۱۵۷
یادونه ........ ۱۵۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۵۸
سوال جواب ........ ۱۶۱
دلته صلاة په حقیقي معنی سره دی ........ ۱۶۲
سوالونه او جوابونه ........ ۱۶۳
ملامسة څه معنی؟ ........ ۱۶۴
یادونه ........ ۱۶۵
د تیمم سببونه ........ ۱۶۵
سوال جواب ........ ۱۶۶
"صَعِید" څه معنی؟ ........ ۱۶۶
د تیمم کیفیت ........ ۱۶۷
د تیمم حکمتونه ........ ۱۶۷
یادونه ........ ۱۶۸
اهل الکتابو ته لږ کتاب پاتې دی ........ ۱۷۱
یهودانو تحریف کاوه ........ ۱۷۱
یادونه ........ ۱۷۱
"غَیرَ مُسمَع" څه معنی؟ ........ ۱۷۱
"طعن" څه معنی؟ ........ ۱۷۲
د "طمس" معنی؟ ........ ۱۷۴
سوال جواب ........ ۱۷۵
یادونه ........ ۱۷۶
د شرک تعریف او ډولونه ........ ۱۷۶
یادونه ........ ۱۷۷
په دې مقام کښې د شرک معنی ........ ۱۷۷
سوال جواب ........ ۱۷۷
یادونه ........ ۱۷۸
اهل الکتاب خپل ځانونه تزکیه کوي ........ ۱۷۸
د دې ایت ارشاد ........ ۱۷۹
سوال جواب ........ ۱۷۹
تطبیق ........ ۱۷۹
"فَتیل" څه معنی؟ ........ ۱۸۰
د "طاغوت" معنی ........ ۱۸۲
"جبت" څه ته وایي؟ ........ ۱۸۲
د ایت نظایر ........ ۱۸۵
عظیم ملک څه شی دی؟ ........ ۱۸۵
په دوزخ کښې د کافر پوستکی ........ ۱۸۷
سوال جواب ........ ۱۸۷
ایا په جنت کښې سوری شته؟ ........ ۱۸۸
سوال جواب ........ ۱۸۸
د امانت تعریف او ډولونه ........ ۱۹۲
امانت اهل ته سپارل ........ ۱۹۴
عدل څه معنی؟ ........ ۱۹۴
یوه عجیبه قیصه ........ ۱۹۵
یادونه ........ ۱۹۵
اولو الأمر څوک دي؟ ........ ۱۹۵
تبصره ........ ۱۹۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۹۸


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ۱۹۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۹۸
اهل التشیع څه وایي ۱۹۹
سوال جواب ۲۰۰
یو تناقض ۲۰۱
ایا د اختلاف د ورک کولو همدا یوه لاره ده؟ ۲۰۱
یادونه ۲۰۱
"زعم" څه معنی؟ ۲۰۴
د دې ایتونو ارشاد ۲۰۵
د منافقانو مصیبت ۲۰۶
د منافقانو په هکله لارښودانه ۲۰۶
"اذن الله" څه معنی؟ ۲۰۸
سوال جواب ۲۰۸
یوه قیصه ۲۰۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۲۰۹
په "فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ" کښې د عربیت
تحلیل ۲۱۲
تبصره ۲۱۲
د پوخ ایمان شرطونه ۲۱۳
سوال جواب ۲۱۳
سوال جواب ۲۱۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۲۱۵
"صدیق" چا ته وایي؟ ۲۱۸
شهیدان څوک دي؟ ۲۱۹
صالحان څوک دي؟ ۲۲۰
سوال جواب ۲۲۰
د نېکانو اندیوالي هم نعمت دی ۲۲۱
د "حِذر" د کلمې معنی ۲۲۴
د جنګي وسائلو زده کړه ۲۲۵
سوال جواب ۲۲۵
د ثبات د کلمې تحلیل ۲۲۵
یادونه ۲۲۶
"بَطَّؤا" څه معنی؟ ۲۲۶
د "شِری" معنی ۲۲۹
سوال جواب ۲۲۹
سوال جواب ۲۲۹
یادونه ۲۳۰
په مکه کښې د جهاد د نه فرضیت وجوه ۲۳۶
سوال جواب ۲۳۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۲۳۷
دنیا ناچیزه متاع ده ۲۳۸
د "حَسَنَة" او "سَيِّئَة" معناوې ۲۳۸
یادونه ۲۳۸
سوال جواب ۲۳۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۲۳۹
هېر مو نه شي ۲۴۰
"بَيَّتَ" څه معنی؟ ۲۴۲
سوال جواب ۲۴۳
تدبر څه معنی؟ ۲۴۳
د اعجاز یو بل برهان ۲۴۳
یادونه ۲۴۴
د خبرونو پټ ساتل ۲۴۶
بیا هم اولو الأمر څوک دي؟ ۲۴۷
یادونه ۲۴۸
د دې ایت ارشاد ۲۴۸
یادوني ۲۴۹
"تحریض" څه معنی؟ ۲۵۱
شفاعت څه معنی؟ ۲۵۱
نېک شفاعت کول اجر لري ۲۵۲
"نصیب" او "کفل" څه فرق لري؟ ۲۵۳
"مُقيت" څه معنی؟ ۲۵۳
"تَحِيَّة" څه معنی؟ ۲۵۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




| | |
|---|---|
| دا ډېر غوره سوغات دی | ۲۵۵ |
| په یاد ولرئ | ۲۵۶ |
| سلام سنت دی او جواب یې واجب دی | ۲۵۶ |
| د سلام کلمات | ۲۵۷ |
| د سلام جواب په درې ډوله دی | ۲۵۷ |
| سوال جواب | ۲۵۷ |
| تبصره | ۲۵۸ |
| ایا د لاس پورته کول سلام دی | ۲۵۸ |
| هغه وختونه چې سلام اچول پکښې نشته | ۲۵۹ |
| چې د سلام سره مصافحه ملګرې شي | ۲۵۹ |
| یادونه | ۲۵۹ |
| تبصره | ۲۶۲ |
| سوال جواب | ۲۶۲ |
| یوه پوښتنه او د هغې جواب | ۲۶۳ |
| سوال جواب | ۲۶۳ |
| په یاد ولرئ | ۲۶۶ |
| "رکس" څه معنی؟ | ۲۶۶ |
| ایا د کافرو سره سوله جائزه ده؟ | ۲۶۶ |
| یادونه | ۲۶۷ |
| کفر ته وربلل | ۲۶۹ |
| د عربیت یو قانون | ۲۶۹ |
| "ثقف" څه معنی؟ | ۲۶۹ |
| د "قتل" ډولونه او حکمونه | ۲۷۲ |
| قتل عمد | ۲۷۲ |
| قتل شبه عمد | ۲۷۳ |
| قتل خطا في الاراده | ۲۷۳ |
| قتل خطا في الفعل | ۲۷۳ |
| قتل شبه خطا | ۲۷۴ |
| سوال جواب | ۲۷۴ |
| قتل بالتسبیب | ۲۷۴ |
| دیت څه معنی؟ | ۲۷۴ |
| د دیت اندازه څومره ده؟ | ۲۷۵ |
| عاقله څوک دی؟ | ۲۷۵ |
| سوال جواب | ۲۷۶ |
| د معاهد کافر هم دیت شته | ۲۷۷ |
| د مؤمن د قصدي قاتل جزا | ۲۷۸ |
| د قتل عمد په باره کښې احادیث | ۲۷۹ |
| ایا په قتل عمد سره قاتل کافر کېږي | ۲۷۹ |
| د اول مشکل حل لاره | ۲۸۰ |
| سوال جواب | ۲۸۳ |
| یوه قیصه | ۲۸۳ |
| د دوهم مشکل حل لاره | ۲۸۳ |
| سوال جواب | ۲۸۴ |
| ایا د مقتول حق پاتې دی | ۲۸۴ |
| دلته د "السّلام" کلمه څه معنی؟ | ۲۸۷ |
| پخوا تاسو هم همداسې وئ | ۲۸۸ |
| سوال جواب | ۲۸۸ |
| د "أولي الضرر" کلمه څه معنی؟ | ۲۹۰ |
| یادونه | ۲۹۱ |
| سوال جواب | ۲۹۱ |
| د مجاهدینو درجات تفاوت لري | ۲۹۲ |
| سوال جواب | ۲۹۲ |
| د ځنکدن حالت | ۲۹۵ |
| سوال جواب | ۲۹۵ |
| د هجرت فرضیت باقي دی | ۲۹۶ |
| یادونه | ۲۹۶ |
| سوال جواب | ۲۹۷ |
| "مُرَاغمًا" څه معنی؟ | ۲۹۸ |
| د الله ﷻ وعدې رښتیا دي | ۲۹۹ |
| د صحابه وو د هجرت د وعدو مثالونه | ۲۹۹ |
| د افغان مهاجرینو د وعدو مثالونه | ۳۰۰ |
| زمونږ امید | ۳۰۱ |


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




ولې "ضرب" څه معنی؟ ۳۰۴
قصر څه ته وايي؟ ۳۰۵
قصر د کمیت په لحاظ ۳۰۵
سوال جواب ۳۰۵
یادونه ۳۰۶
سوال جواب ۳۰۶
قصر د کیفیت په اعتبار سره ۳۰۷
یادونه ۳۰۷
سوال جواب ۳۰۷
تبصره ۳۰۷
د صلاة الخوف صورتونه ۳۰۸
د صلاة الخوف کیفیتونه ۳۰۸
صلاة الخوف په کابل کښې ۳۰۹
تیرموله شي ۳۱۰
اباد وسلې اخستل واجب دي ۳۱۱
د خیانت قیصه ۳۱۲
سوال جواب ۳۱۳
د غلا قیصه ۳۱۳
تبصره ۳۱۴
د توجه وړ شرحه ۳۱۴
نبوي اجتهاد ۳۱۷
سوال جواب ۳۱۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۱۷
الله ته د "کسب" نسبت صحت نه لري ۳۱۹
د ګناه نومونه ۳۲۰
تبصره ۳۲۰
د عربیت یو قانون ۳۲۱
سوال جواب ۳۲۳
حکمت څه معنی؟ ۳۲۳
"النجوی" څه معنی؟ ۳۲۵
سوال جواب ۳۲۵
د ایمان ارکان ۳۲۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۲۶
تجزیه قیصه ۳۲۷
یادونه ۳۲۷
چرته چې ناسته نشي هلته به سپرلي لمونځ کوي ۳۲۷
د شمال تړول د جنګ پر مهال ۳۲۸
تبصره ۳۲۸
سوال جواب ۳۲۹
"اثاثا" څه معنی؟ ۳۳۳
تبصره ۳۳۳
سوال جواب ۳۳۳
"مرید" څه معنی؟ ۳۳۴
پنځه قسمونه ۳۳۴
سوال جواب ۳۳۴
څوک د شیطان برخه ده؟ ۳۳۵
"تمنی" څه ته وايي؟ ۳۳۵
د خاروېو غوږونه پرې کول ۳۳۶
د "خلق الله" تغیر څه معنی؟ ۳۳۶
تبصره ۳۳۷
سوال جواب ۳۳۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۳۸
تبصره ۳۴۰
شیطاني هیلې کومې هیلې دي؟ ۳۴۲
یادونه ۳۴۲
سوال جواب ۳۴۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۴۴
یادونه ۳۴۵
"خلیل" څه معنی؟ ۳۴۶
د پوښتنو جوابونه نازل شوه ۳۴۹
فتوی څه معنی؟ ۳۵۰
د عربیت یو قانون ۳۵۰


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ۳۵۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۵۱
يادونه ۳۵۱
د نارينه وو نُشوز ۳۵۵
نُشوز او إعراض څه فرق لري؟ ۳۵۵
يادونه ۳۵۶
د سولې تعريف او ډولونه ۳۵۶
سوال جواب ۳۵۷
سوال جواب ۳۵۷
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۵۷
الله ﷻ ربښتيا ويلې دي ۳۵۸
يوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۵۸
سوله د احاديثو په رڼا کښې ۳۵۹
سوال جواب ۳۶۰
ځو عجيب او ګټور حکايتونه ۳۶۱
د بې عدالتۍ څخه طلاق بهتر دی ۳۶۲
د "آخرين" کلمه د چا څخه عبارت ده ۳۶۴
يادونه ۳۶۵
په شهادة کښې د انحراف باعث ۳۶۷
سوال جواب ۳۶۸
"لَيْ" څه معنی. ۳۶۸
دا ايت عام دی ۳۷۰
بيا بيا مرتد کېدونکی څوک دي؟ ۳۷۱
سوال جواب ۳۷۱
د منکراتو په مجالسو کښې اشتراک ۳۷۵
سوال جواب ۳۷۵
"خوض" څه معنی؟ ۳۷۵
استحواذ څه معنی؟ ۳۷۶
سوال جواب ۳۷۶
تبصره ۳۷۷
قليل ذکر څه معنی؟ ۳۸۰
نن ورځ د منافقت پټول اسان کار دی ۳۸۱
مذبذب څه معنی؟ ۳۸۱
سوال جواب ۳۸۲
"دَرک" او "دَرج" څه فرق لري؟ ۳۸۳
الدرک الأسفل څه معنی؟ ۳۸۴
سوال جواب ۳۸۴
يادونه ۳۸۴
سوال جواب ۳۸۵
په خبره باندې جهر کول څه معنی؟ ۳۸۷
د بد کار تشهير هم جائز نه دی ۳۸۷
بده خبره يعنې څه؟ ۳۸۷
تبصره ۳۸۸
سوال جواب ۳۸۹
"حَقًّا" څه معنی؟ ۳۹۱
سوال جواب ۳۹۱
د يهودانو د جنايتونو نوملېک ۳۹۴
سوال جواب ۳۹۷
يادونه ۳۹۷
سوال جواب ۳۹۸
د وژلو دسيسه ۳۹۸
وژل شوی سړی څوک وه؟ ۳۹۹
د اشتباه کيفيت ۳۹۹
تبصره ۴۰۰
د اختلاف ډولونه ۴۰۱
يادونه ۴۰۱
سوال جواب ۴۰۲
يادونه ۴۰۲
هير مو نه شي ۴۰۳
په يهودانو باندې څه شی حرام شوی وه؟ ۴۰۵
د تحريم ډولونه ۴۰۵
د ايت ارشاد ۴۰۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

په یاد ولرئ ........................ ۴۰۶
د عربیت یو قانون ........................ ۴۰۷
د دې قانون نظائر ........................ ۴۰۸
سوال جواب ........................ ۴۰۸
د "وحې" لغوي تعریف ........................ ۴۱۱
د وحې شرعي تعریف او ډولونه ........................ ۴۱۲
سوال جواب ........................ ۴۱۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۴۱۳
زبور د کوم کتاب نوم دی؟ ........................ ۴۱۴
ټول پیغمبران څوک دي؟ ........................ ۴۱۴
د عربیت یوه قاعده ........................ ۴۱۴
سوال جواب ........................ ۴۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۴۱۵
سوال جواب ........................ ۴۱۸
"غلو" څه معنی؟ ........................ ۴۲۱
په اسلام کښې افراط او تفریط نشته ........................ ۴۲۲
یادونه ........................ ۴۲۲
روح الله څه معنی؟ ........................ ۴۲۲
په روح الله سره د نومولو وجهې ........................ ۴۲۳
د عیسوي روح امتیازات ........................ ۴۲۳
باطل استدلال ........................ ۴۲۳
یوه عجیبه قیصه ........................ ۴۲۴
د تثلیث مشکله عقیده ........................ ۴۲۴
استنکاف څه معنی؟ ........................ ۴۲۵
سوال جواب ........................ ۴۲۶
یادونه ........................ ۴۲۶
تبصره ........................ ۴۲۹
سوال جواب ........................ ۴۳۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۴۳۰
سوال جواب ........................ ۴۳۱
د کلاله تعریف ........................ ۴۳۲
سوال جواب ........................ ۴۳۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۴۳۳
یادونه ........................ ۴۳۳
د اعیاني خویندو حالات ........................ ۴۳۴
د علاتي خویندو حالات ........................ ۴۳۴
سوال جواب ........................ ۴۳۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۴۳۵
د عربیت یو قانون ........................ ۴۳۵

## المائدة (۵)

سریزه ........................ ۴۳۷
سوال جواب ........................ ۴۳۸
د دې سورت محتویات ........................ ۴۳۸
د "وَفا" او "عقد" معناوي ........................ ۴۴۰
سوال جواب ........................ ۴۴۰
یادونه ........................ ۴۴۱
"بَهِیمَة" څه معنی؟ ........................ ۴۴۱
سوال جواب ........................ ۴۴۲
یادونه ........................ ۴۴۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۴۴۲
یوه عجیبه قیصه ........................ ۴۴۴
"حَلّ" څه معنی؟ ........................ ۴۴۶
یادونه ........................ ۴۴۷
"قلائد" څه معنی؟ ........................ ۴۴۷
سوال جواب ........................ ۴۴۷
"آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ" څه معنی؟ ........................ ۴۴۸
یادونه ........................ ۴۴۹
"الْمُنْخَنِقَة" څه معنی؟ ........................ ۴۵۲
"الْمَوْقُوذَة" څه معنی؟ ........................ ۴۵۳
د "الْمُتَرَدِّيَة" معنی ........................ ۴۵۳
"النَّطِيحَة" د کوم خاروي نوم دی؟ ........................ ۴۵۳

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د تذکیه معنی ۴۵۳
شرعي تذکیه (ذبحه) ۴۵۴
سوال جواب ۴۵۴
نُصُب څه معنی؟ ۴۵۴
نُصُب او وثن او صنم څه فرق لري؟ ۴۵۵
سوال جواب ۴۵۵
د أزلام معنی ۴۵۵
سوال جواب ۴۵۷
یادونه ۴۵۷
د "الیوم" څخه کومه یوه ورځ مطلب ده؟ ۴۵۷
اهل التشیع څه وایي؟ ۴۵۹
د دین کمال څه معنی؟ ۴۵۹
تبصره ۴۶۰
سوال جواب ۴۶۰
یادونه ۴۶۱
حَجَّةُ الوداع څه معنی؟ ۴۶۱
د جَنَف د کلمې معنی ۴۶۱
د طَیِّبات څه معنی؟ ۴۶۴
یادونه ۴۶۴
سوال جواب ۴۶۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۶۵
په درندګانو باندې ښکار کول ۴۶۶
سوال جواب ۴۶۶
سوال جواب ۳۶۷
یادونه ۴۶۸
سوال جواب ۴۶۸
طعام څه معنی؟ ۴۷۱
سوال جواب ۴۷۲
د اهل الکتابو مذبوحه څه وخت حرامېږي؟ ۴۷۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۷۳
د کتابیه کافرې نکاح ۴۷۳
یادونه ۴۷۳
سوال جواب ۴۷۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۷۵
د اوداسه فرائض ۴۷۸
وضوء څه معنی؟ ۴۷۸
سوال جواب ۴۷۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۷۹
اودس څه وخت فرض شو؟ ۴۷۹
یادونه ۴۸۰
د څنګلو وینځل فرض دي ۴۸۰
د سر مسحه فرض ده ۴۸۱
ناصیه څه معنی؟ ۴۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۸۲
د پښو وینځل فرض دي ۴۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۸۳
سوال جواب ۴۸۳
د احادیثو ترجیح ۴۸۳
دوه متواتر قرائتونه او تطبیق ۴۸۵
تطبیق بې اعتراضه نه دی ۴۸۵
کَعبَین څه معنی؟ ۴۸۶
د اوداسه دولونه ۴۸۶
تطهر څه معنی؟ ۴۸۶
د اوداسه او غسل حکمتونه ۴۸۷
د تیمم ځینې مسائل ۴۸۷
حرج څه معنی؟ ۴۸۸
فاقد الطهورین باید څه وکړي؟ ۴۸۸
یو اویا (۷۱) مسائل ۴۸۹
دلته کوم مواثیق مراد دي؟ ۴۸۹
په شهادت کښې د انحراف اسباب ۴۹۱
د شهادت معناوې ۴۹۲
سوال جواب ۴۹۲


Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۹۳
الله ﷻ ستاسو څخه د یو قوم لاسونه لنډ کړه ۴۹۴
یادونه ۴۹۶
نقیب څه معنی؟ ۵۰۰
یادونه ۵۰۰
سوال جواب ۵۰۰
تعزیر څه معنی؟ ۵۰۱
سوال جواب ۵۰۱
غراء څه معنی؟ ۵۰۳
د نصاراوو د اختلافاتو منشا ۵۰۳
تبصره ۵۰۳
سوال جواب ۵۰۵
بې اتفاقي د بدعهدۍ نتیجه ده ۵۰۵
یادونه ۵۰۶
د اهل الکتابو قبائح ۵۰۸
یادونه ۵۰۸
نور څه معنی؟ ۵۰۹
یادونه ۵۰۹
سوال جواب ۵۱۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۱۲
فترة څه معنی؟ ۵۱۴
یادونه ۵۱۵
ملوک څه معنی؟ ۵۱۷
یادونه ۵۱۸
مقدسه ځمکه کومه ده؟ ۵۱۸
یادونه ۵۱۸
د جبارین کلمه څه معنی؟ ۵۲۰
عجیبې قیصې ۵۲۰
د چا څخه خوف؟ ۵۲۲
ایا دا د کفر خبره ده؟ ۵۲۳
تبصره ۵۲۳
خو الحمد لله ۵۲۴
سوال جواب ۵۲۶
فرق څه معنی؟ ۵۲۶
تحریم درې ډوله دی ۵۲۶
سوال جواب ۵۲۷
یادونه ۵۲۷
فاتح څوک وه؟ ۵۲۷
د موسی ﷺ او هارون ﷺ د وفات قیصه ۵۲۸
د آدم ﷺ دوه زامن ۵۳۱
د قربان د وراندې کولو باعث ۵۳۲
یادونه ۵۳۳
سوال جواب ۵۳۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۳۴
سوال جواب ۵۳۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۳۶
کارغه استاذ ۵۳۶
د کارغه عملیه ۵۳۶
کارغه موظف وه ۵۳۷
د کارغه ښودانه ساده وه ۵۳۷
سوال جواب ۵۳۷
سواة څه معنی؟ ۵۳۷
آدم ﷺ ته د هابیل ﷺ عوضونه ۵۳۸
یادونه ۵۳۸
حسد د هرې ګناه سر دی ۵۳۹
اجل څه معنی؟ ۵۳۹
سوال جواب ۵۴۰
ایا د یوه کس وژنه د ټولو خلکو وژنه ده؟ ۵۴۰
سوال جواب ۵۴۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۴۱
بې نظیر ۵۴۲
ایا انسان چاته ژوند ورکولی شي ۵۴۲

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ........................ ۵۴۴
ایا د الله ﷻ سره جنګ؟ ........................ ۵۴۵
د "أوْ" توری د تنویع دپاره دی ........................ ۵۴۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۴۶
سوال جواب ........................ ۵۴۶
ایا دنیاوي عقوبات اخروي کفارات دي ........................ ۵۴۷
د ایت او حدیث تطبیق ........................ ۵۴۸
سوال جواب ........................ ۵۵۰
یادونه ........................ ۵۵۰
توبه او حقوق العباد ........................ ۵۵۰
د "الوسیلة" تعریف ........................ ۵۵۱
د "الوسیلة" معناوي ........................ ۵۵۲
د "اذان" دعاء ........................ ۵۵۳
ایا په فاصله ذواتو باندې توسل جائز دی؟ ........................ ۵۵۳
د قیامت د ورځې فدیه ........................ ۵۵۴
یوه عجیبه قیصه ........................ ۵۵۵
د نارینه وو د غلا جرنت ډېر دی ........................ ۵۵۶
سرقه (غلا) څه ته وایي؟ ........................ ۵۵۷
سوال جواب ........................ ۵۵۹
ایا په غلا شوي مال کښې نصاب شته؟ ........................ ۵۵۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۶۰
سوال جواب ........................ ۵۶۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۶۰
سوال جواب ........................ ۵۶۱
باید لاس د مروند څخه پرې کړی شي ........................ ۵۶۱
په حدودو کښې شفاعت نه منل کېږي ........................ ۵۶۱
لومړی لاس پرېکړی غل ........................ ۵۶۲
یوه عجیبه قیصه ........................ ۵۶۲
یادونه ........................ ۵۶۳
یادونه ........................ ۵۶۸
"سُحت" څه معنی؟ ........................ ۵۶۹
سوال جواب ........................ ۵۷۲
استحفاظ څه معنی؟ ........................ ۵۷۲
رباني او حبر څه فرق لري؟ ........................ ۵۷۳
ایا په کتاب الله فیصله نه کول کفر دی؟ ........................ ۵۷۳
سوال جواب ........................ ۵۷۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۷۴
یادوني ........................ ۵۷۵
"تَصَدَّقَ" څه ته وایي؟ ........................ ۵۷۵
سوال جواب ........................ ۵۷۶
"قَفَّیْنَا" څه معنی؟ ........................ ۵۷۷
محمدي بشارت په انجیل کښې ........................ ۵۷۸
یوه عجیبه قیصه ........................ ۵۷۸
کفر، ظلم، فسق څه فرق لري؟ ........................ ۵۷۸
"الْمُهَیْمِن" څه معنی؟ ........................ ۵۸۲
"شِرْعَة" او "مِنْهَاج" څه فرق لري؟ ........................ ۵۸۲
سوال جواب ........................ ۵۸۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۸۳
د چنګیز قانون ........................ ۵۸۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

Downloaded: bawarketabtoon.com